# جګړه او سوله

## دویم ټوک

لیف نیکولایوویچ تولستوی
ژباړن:
دوکتور لطیف بهاند

مسکو
۲۰۱۲

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

**کتاب پیژندنه**:

د کتاب نوم: جګړه او سوله
لیکوال: لیف نیکولایوویچ تولستوی
ژباړن: دوکتور لطیف بهاند
ټوک: دویم
طرحه او ډیزاین: سپین سهار
خپرندوی او مالي لګښت: د میدان وردګو ولایت والي محمد حلیم فدایي
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپکال: ۱۳۹۱ل/ ۲۰۱۲ز
د خپرونو لړ: (۳۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

د ۱۸۰۶ کال پیل و چې نیکولای رستوف، په رخصتیو کې کورته راستون شو. دینیسوف چې د ورونژ دښار او سېدونکی و، هم خپل کورته روان و، مګر رستوف هغه په دې قانع کړ چې، له ده سره ځو ورځې په مسکو کې مېلمه او ددوی په کور کې پاتې شي.مسکو ته لا دوه تم ځایه پاتې وچې، دینیسوف له خپل یوملګري سره مخامخ شو او له هغه سره یې دری بوتله شراب وڅښل.

سره له هغه چې مسکو ته نېږدې کېدل او دلارې د لوړې ژورې سره بیا به هم هغه د سورتمه پر پوست چې پر څوکۍ پرته و، وېده و او له خوبه نه راوېښېده.

رستوف، چې څومره مسکو ته نېږدې کېده، په هماغه اندازه یې نا آرامي لا پسې زیاتېده.

وروسته له هغه چې هغوی د رخصتۍ پاڼې د ښار په دروازو کې ثبت کړې، رستوف له ځان سره وویل:

- هېڅ نه رسېږو !دا ولې دا سې وخت په څنډ تېرېږي؟دا څه اوږدې لارې دي، دا دوکانونه او غرفې، دا دځراغونو بې ډوله ستنې او دا کږې وږې کراچۍ !

هغه همدا سې مخې ته زور واهه، ګواکې په دې توګه یې غوښتل چې د ګاډۍ تګ لا پسې چټک کړي، هغه ویل:

- دینسوفه راورسېدو !هه !وېده یئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دينيسوف ځواب نه ورکاوه.

-اوهو !دا دي،دادي دهغې ګرځني ګوښه چې زاخار به هلته خپله کراچۍ دروله، او دادی خپله زاخار،هماغه زاخار او هماغه آس ! دا هم هغه دوکانګوټی چې پتيرې به مو ترې اخېستې ! نو څه وخت به ورسېږو ؟

ګاډيوان وپوښتل:

-کورمو کوم يو دی؟

-هغه دی،ايله په ايله،هغه لوی کور،نه وينئ، که څنګه؟هغه لوی،هماغه زموږ کور دی،څنګه ته زموږ کور نه پېژنئ؟دينيسوف ! وا دينيسوفه ! پاڅه،پاڅه چې راورسېدو !

دينيسوف،سر را هسک ،غاړې يې خلاصې،خو هېڅ يې ونه ويل.

دينيسوف،د ګاډيوان څنګ ته ناست،چوپړ ته مخ وروااړاوه او وې ويل:

-ديمتري !ګوره !دا زموږ د کور څراغونه،نه دي؟

-رښتيا هم،هماغه دي،د پلار جان د کوټې څراغ دې هم لګېږي.

-څه فکر کوئ؟،چې لا ويده شوي نه دي،وييښ دي کنه؟

هغه چې، پر خپلو نريو او تاندو بريتونو منګولې تېرولې،وويل:

-ګوره،زما هغه واسکټ دې له ياده ونه وزي،ژر کوه،هغه راکړه.

بيا يې پر ګاډيوان ور چيغه کړه:

-تاته وايم،خوځېږه،ژر،ژر ځه !

بيا يې پر دينيسوف چې له خوبه لېونی و او سر يې نه شو هسکولی، غږ وکړ:

-پاڅېږه !راويښېږه !واسکا !

دهغوی د کور تر دهليزه پورې درې نور کورونه پاتې وو ،هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاډيوان ته وويل:

- ژر کوه ! که ژر لاړې درې روبله انعام لرې، تلوار کوه !

هغه ته داسې بربښېده چې، آسونه نه خوځېږي او ځای پر ځای ولاړ دي، خو په پای کې ګاډی د دوی د کور د دهليز ښی خوا ته ورتاو شوه او رستوف، خپل سرپوړي، په خپلو سترګو، ده ته آشنا د بام د څنډې لوېدلې برخه وليدله، خپل دهليز او د کور پلو ته نری اوږده لاره. ګاډی لا دربدلې نه وه، چې ده ترې ګام او د کور د دهيلز خوا ته يې هی کړل. پرته له هغه چې چا ته يې پام شي، همداسې روان و، د کور ودانی، هماغه شان په چوپتيا کې ډوبه وه او د دې څرګندونه يې کوله چې، د چا په تګ راتګ چور خبره نه ده. کورته په تلونکې نری لاره کې هېڅوک نه ليدل کېدل. د هغه په زړه کې تېره شوه:

-پاکه پروردګاره ! انشاءالله، خير خيريت به وي؟ په رپېدونکې او نا ارامه زړه، يوه شېبه ځای پر ځای ودرېد، خو سمدلاسه يې منډه کړه، کورته نری لاره يې ووهله او ده ته پر آشنا زينو وروخوت. دروازې ته ودرېد، د دروازې هماغه آشنا لاستی او هماغه آشنا قفل چې ګرافينې به تل د هغه له ککړوالي نه ګيله لرله. قفل هماغه شان په اسانی خلاصېده. په دالان کې د غوړو ډيوه لګېدله.

زاړه چوپړ ميخائيل، پر صندوق وېده و، پراکافي، هماغه زورور، چوپړ چې په يوازې ځان به يې ګاډی په منګولو کې او چتوله، په يوه کنج کې يوازې ناست او څه شي يې ګنډل. هغه راخلاصېدونکې دروازې ته وکتل او په يوه شېبه کې يې پر ويرلړلې او بې پرواخېرې، د تعجب، لېوالتيا او ګڼې څپه راخوره شوه، ځوان ګراف يې وپېژاند او چيغه يې کړه:

- نه يې منو ! ځوان ګراف ! داڅه وايئ؟ قربان دې شم !

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کې چې له خوښۍ او ګبښۍ نه رپېده، د مېلمستون خواته يې منډې کړې، ګواکې د خپل عادت له مخې يې غوښتل، د مېلمه د راتګ زېرى وکړي، خو ناڅاپه تم شو، ښکارېده چې څه يې په زړه کې ور وګرځېدل، بېرته راستون شه او له ځوان ګراف نه يې غېږ تاو کړه او وې ويل:

-د خداى شکر !د خداى شکر !

رستوف، ځان د هغه له غېږې را خوشې کړ او وې وپوښتل:

-ټول رک او روغ دي؟

--د خداى شکر ! د خداى شکر دى !همدا شېبه يې ماښامنۍ وخوړه، پرېږده چې لږ دې وګورم عاليجنابه !

-رښتيا ووايه، خير خيريت دى؟

-د خداى رضاده، ټول رک او روغ دي.

رستوف، خپل ملګرى دينيسوف، بېخې هېر کړ، هغه غوښتل چې له زېري او خبر نه پرته کورته ننوزي. هغه خپل پوستين وارتېږه او د پښو په څوکو، خو په چټکو ګامونو د کور لوى تياره مېلمستون ته ورننوت. هر څه د پخوا په شان وو، د لوبو هماغه ميزونه، د شمعو هماغه چلچراغ، خو ځوان ګراف چا ليدلى و او هغه د دې وخت پيدا نه کړ چې بې خبره ځان د هرکليو کوټې ته ورسوي. په همدې شېبه کې يو څوک لکه د تالندې په شان، د څنګ له کوټې نه راودانګل، د رستوف په غاړه کې يې ځان وځړاوه او څه مچې او ښکلول.

تر هغه وروسته، له دويمې، دريېمې او له بلې دروازې نه هر چا راودانګل، له هغه نه يې غېږې تاوولې، اوښکې، خوښۍ او د خوښۍ چيغې او سورې. رستوف داسې سرسام شوى و، چې نه پوهېده، څوک پيتيا دى، کوم يو يې پلار او کومه ناتاشا ده. ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



همهاله، چغېدل، غرېدل او په ګډه يې ښکلاوه، خو د هغه يوځه ته ښه پام شو، چې ددې ټولو په منځ کې يې مور نه ليدله.

-نيکولای جانه !زه خو هېڅ خبر نه وم، ان اروا مې هم دتا دراتګ تصور نه شو کولای !

-ورته ګورئ !دا خو زموږ خپل د زړه سر کوليا دی (په روسي ژبه کې نيکولای ته له نازه کوليا وايي) رښتيا څومره بدل شوی دی !

او خلکو ! ولې داسې تياره ده، لاړ شي يوه شمعه راوړي ! چای !چای راوړي !

-پرېږده چې مچو دې کړم...

-د زړه سره ! ما هم مچو کړه.

سونيا، ناتاشا، آناميخايلوفنا، ويرا او مشرګراف، ټولو له هغه نه غېږې تاوولې، چوپړان هم ټول راټول شوي وو، ټول غرېدل او په حيرانتيا کې ډوب وو.

پيتيا دهغه په لينګيو پورې ځان ځړولی و او چيغې يې وهلې:

- ما ولې نه مچوئ؟

ناتاشې، دهغه تندی ځان خواته راخم کړ او وروسته له هغه يې چې پر هغه د مچکو باران جوړکړ، په داسې حال کې چې هغه يې له واسکټ نه نيولی و، له هغه نه لرې لرې شوه، خو بيا يې هم لکه ورغومی داسې ټوپونه او چيغې وهلې.

له هرې خوانه، دخوښۍ له اوښکو نه ډکو ځلېدونکو او مينه ناکو سترګو هغه ته کتل او له هر پلوه مچو غوښتونکې شونډې دده خواته په رپېدو وې.

سونيا چې دالوان په څېر تکه سره ځلېدله، دهغه لاس يې رانيولی و او په خورا لېوالتيا او مينه ناکو کتو، دهغه کتو ته په تمه وه.سونيا نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو شپاړس کلنۍ ته ور اوښتې، ډښکلا غوټۍ یې په غوړېدو وه او په تېره بیا د نیکمرغۍ او مینه ناکۍ له تلوسې، په دې شېبه کې سخته ښکلې برېښېده. پرله پسې یې هغه ته کتل، هغه ته موسېده او یوه شېبه یې هم له هغه نه بل پلو سترګې نه غړولې، خو ساه یې په ګوګل کې بنده کړې وه. هغه هم هغې ته دمننې او پېیرزوینې په غلچک ورکتل، خو دده سترګې لاتراوسه هم دیوبل چاپه تمه او کوم څوک یې لټول. مشره ګرافینه لا نه وه راغلې. په همدې شېبه کې د دروازې لا شا نه د پښو ګامونه واورېدل شول، خو دا ګامونه داسې چټک و، چې د هغې د مور ګاموته هېڅ ورته نه وو.

خو دا د هغه مور وه، هغې ده ته نا اشنا، نوې او دده ترتګ نه وروسته ګنډل شوې جامې اغوستې وې. ټولو هغه پرېښود او ده د مور پلو ورودانګل. کله چې سره یوځای شول، مور د هغه پر ټټر سر ولګاوه او په ساندو شوه.. هغې نه شو کولای سر را اوچت کړي او یوازې یې خپل مخ د هغه پر پوځي واسکټ او پر هغه د سرو تمبل اوکتار شویو کارتوسو ورسولاوه. بې له هغه چې دچا ورته پام شي، دینیسوف، هم رانوتلی و، هلته ولاړ و، خپلې خوبولې سترګې یې سولولې او ددې ننداري په ننداره و. هغه ځان ګراف ته چې ده ته یې په پوښتنیز غلچ ورکتل، ورو پېژاند:

- زه واسیلي دینیسوف نومېږم او ستاسو د زوی ملګری یم.

ګراف له هغه نه غېږ تاو کړه، پرخپل ټټر یې کېښکود .له هغه سره یې ښکل کړل او وې ویل:

-ښښه غواړم، زه تاسو پېژنم، پوهېږم، نیکولای جان په خپل لیک کې ستاسو په اړه راته لیکلي و. ناتاشې، ویرې، راشئ، دې خو اته راشئ، دا هم دینیسوف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمدلاسه ټول، د نیکمرغه او له حیرته ډکې څېرې، څښتور او د تورو بریتو خاوند ، دینیسوف خوا ته ورواوښتل او پر هغه ور ټول شول.

ناتاشا چې له خوښۍ نه یې ځان هم هېر کړی و ، چغه کړل:

- دزړه سره !دینیسوفه !قربان دې شمه !

هغه ته یې ور و دانګل، غېږ یې ترې تاو او په کلکه کلکه یې مچ کړ. دناتاشې په دې کړو ټول هک حیران شول. دینیسوف خپله هم له شرمه تک سور شو ،خو وموسېد ، دناتاشې لاس یې راونیو او ښکل یې کړ.

دینیسوف هغې کوټې ته چې د هغه لپاره یې ټاکل شوې وه ،بدرګه او درستوف کورنۍ غړي، بېرته له نیکولای نه راتاو شول.

مشره ګرافینه، دهغه ترڅنګه ناسته وه ،دهغه لاسونه یې کلک نیولي او هره شېبه یې مچول.نور ټول ترې تاوراتاو و او دهغه هر غلچک، هره خوځېدا او غږېدا یې په ځیر سره څارل او په مینه ناکو ،ځلېدونکو او حیرانتیا یې هغه ته کتل.خویندو ،ورور او پلار هر یوه هڅه کوله چې ترټولو نېږدې هغه ته کېني او دچایو یا دستمال په راوړلو کې ،سره ناندرۍ جوړې کړې.

رستوف دهغې مینې له کبله چې په ده پیرزو شوې وه، خورا نیکمرغه و ،خو د راتګ له لومړې شېبې او له خپلوانو سره دکتنې خوند ،دهغه داوسنۍ خوښۍ او نیکمرغۍ په پرتله داسې پرتمین وو ،چې اوسنۍ هغه هسې بې خونده ورته بریښېدل،نوځکه دی هره شېبه دیوه نوي زېري او خوند په تمه و.

نوې را رسېدونکې بله ورځ ،سهار تر لسو بجو پورې ویده وو.

دهغوی دخوب دکوټې ترڅنګ په کوټې کې، تورې، پنډونه، خورجینې او پرانستې کڅوړې ،په ختوککړ بوټونه او موزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



،همدا سې ګډوډ او تیت او پرک پراته وو...چوپړانو دوه لګنه تودې او سړې اوبه او پاکې جامې چمتو کړې وې.دنارینو او تنباکو بوی په کورکې خپور و.

د دینیسوف،مات او ځیږ غږ واورېدل شو:

- ګریشکا !رستوفه تاته وایم پاڅېږه !

رستوف،خپل سره تړلي بانه ومښل،د سر جړې څڼې یې له تاوده بالښته راهسکې او وې ویل:

-څه خبره ده ؟ناوخته شوې ده که څنګه؟

دناتاشا غږ له ګاونډ کوټې نه واورېدل شو ، چې ویل یې:

-اها !الس بجې کېدونکې دي.

دګاونډ له کوټې نه د شغهارکوونکو کمیسونو او دنجونو دشروشور او غږېدا ،غږ راته او دهغې له نیمه پرانتې دروازې نه دشنو جامو او تورو څڼو پڅواک راوځلېد او ناڅاپه ببرته ورک شو.ناتاشا ،سونیا او پیتیا راغلي وو ،چې وګوري،نوي راغلي مېلمانه راپاڅېدلي او کنه؟د دروازې له شا بیا دناتاشې غږ واورېدل شو:

- نیکولای جانه !پاڅېږه !پاڅېږه نور !

- سمدلاسه !همدا اوس !

پیتیا په همدې وخت کې په ګاونډه کوټې کې،تورې لیدلې وې او له هغو نه یې یوه را اخېستې وه ،له مشرجګړه لیدلي ورور سره کتنې، دهغه په زړه کې شور او مینه راتخنولې وه ،بې له هغه چې دې ته پام وکړي چې دا نه ښایي چې پېغلې نجونې دې لغړ او بې جامو ځوانانو ته وګوري،د ناړامۍ یا بې پروایۍ له امله هغه د نویو راغلیو زلمیو دکوټې دروازه پرانسته او په لوړ آوازیې وویل:

- دا ستا توره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دروازې د خلاصېدو سره سم نجونو شاته ودانګل او دینیسوف په حيرانۍ او تعجب، خپل له ويښتو نه ډک لینګي په څادر کې ومروړل او خپل ملګري ته يې وکتل، پیتیا کوټې ته ورننوت او دروازه يې ځان پسې ورپورې کړه. د دروازې له شا نه د خندا د کړسهاري غږ تر غوږه شو.

د ناتاشا غږ پورته شو :

-نیکولای جانه !کمیس واغونده او راووزه !

پیتیا وپوښتل:

-دا ستا توره ده؟او بیا يې په خورا ادب تورځنې او توربریتي دینیسوف ته مخ وروا ړاوه او وې ویل:

- او که ستا سو ده؟

رستوف کمیس واغوست، په تلوار يې ځپلۍ پښو او له کوټې نه ووت.ناتاشا خپلې سګګ لرونکې یوه موزه په پښو کړې او په بله لګیا وه. سونیا تر خپل ځانه تاوېدله ،غوښتل يې لمن راټوله او کښېني. په همدې حال کې رستوف د هغوی کوټې ته راننوت.دواړو نوي شنه شنه، سره ورته کمیسونه اغوستي وو.اننګي يې تک سره او خورا خوښې وې.سونیا له کوټې وتښتېده او ناتاشا ورور تر تخرګ لاندې ونيو او په خبرو خبرو يې هغه واړه مېلمستون ته بوت.

د دوی مرکه شېبه شېبه تودېده او دا مرکه هسې توده وه، چې دوی د هغو نورو زرګونو پوښتنو او ځوابونو لپاره چې یوازې دوی پورې يې اړه لرله د خبرو لپاره وخت نه شو پیدا کولای.ناتاشا په هرې هغې خبرې چې ورور ادا کوله او یا يې خپله ویله، په کړس کړس خندل.د هغې خندا نه له دې کبله وه، چې د دوی خبرې د خندا وړ وې، بلکې له دې کبله وه چې خورا خوشحاله وه او نه يې شو کولای د خپلې خندا او موسکا مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیسي.

د رستوف دهرې خبرې په اورېدو به یې ویل:

-خورا ښه ده، ډېره بې سارې ده !

رستوف داسې وانګېرله، چې د خور د تودې مینې تر اغېز لاندې راغلی دی، تر هغه یو نیم کال نه وروسته چې دی له کوره وتلی دلومړي ځل لپاره، د هغه په ګوګل او پرخپرې هغه ماشوم وزمه موسکا راخورېږي، چې په دې موده کې آن یو وار هم داسې احساس کړې نه وه.

ناتاشا به ویل:

-واه !ګوره ! له تا نه لوی نارینه جوړ دی، پاکه پرودګاره ! څه لویه نیکمرغي، څه لویه نیکمرغي ده چې زما ورور ...هغې د هغه بریتونه ولمسول او وې ویل:

-غواړم په دې پوه شم، چې دا تاسو نارینه څنګه یاستئ؟همداسې لکه موږه ښځې که بل ډول؟

رستوف ځواب ورکړ:

-نه !نه !هو رښتیا سونیا ولې وتښتېده؟

هوکې !

دا یوه بله لویه قصه ده ! ګوره ! ته غواړې له هغې سره وغږېږې ،کنه؟ څنګه په ته به ورسره غږېږې او که په تاسو ؟

رستوف وویل:

-ګورو به، چې څنګه پېښېږي.

-ښه به دا وي چې تاسو ورسره وغږېږي، زه به بیا وروسته درته ووایم چې ولې.

-پوه نه شوم؟دا نو څه خبره ده؟

- ښه ته چې ټینګار کوې، همدا اوس به یې درته ووایم.ته خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږې چې زه او سونیا ډېرې نېږدې خورلنډې یو ،دا سې خورلنډې چې هغـه تـه مـې ددوی ددوستۍ پـه نښـه پـه سکروټه لاس داغلی دی،راشه وې ګوره.

لستونی یې پورته کړ او له څنګلې یې لږ څه بر اوږې ته نېږدې، پر خپل اوږد ،نازک او ښکلي مټ ،هغـه ځای چې دنڅا د اوږده کمیس داغوستو پر وخت پټېږي، یوه سره په اور داغلې نښه ور وښوده.

-ما دا ددې لپاره سوی دی، چې هغې ته دخپلې مینې نښـه څرګنده کړم،هسې خط کش مو په اور وینو او ځان مو پرې وسوځاوه.

هغه چې دخپل ماشومتوب د سبقونو دویلو په کوټه کې پر هغې پستې اوږدې څوکۍ چې بالښت ډولـه لاستیو هغـه ګانله،ناست و ،دخپلې خور ناتاشې ناهیلیو ،خوغړېدونکو سترګو تـه یې کتل،بیا دخپل ماشومتو ب په ښکلې دنیاګۍ کې، دهغې کورنۍ په غېږ کې چې پرته له ده نه بل چا تـه دتصور نه وه،ورډوب شو.هغه دنیاګۍ کې چې په ده کې یې دده لپاره دژوند ترټولو نه ښه خاطرات او یادونه را تازه کول.چاته دمینې دڅرګندونې اوښودنې لپاره پـه سکروټو پـر ځان دنښې ایښودل ددې لپاره هسې دماشونو او بابیزه خبره نه وه،هغه دا حال احساسولی شو او هغه ته دتعجب وړ نه وه.

خو بیا یې هم وپوښتل:

-دا خو ښه ده،تر دې وروسته څنګه کېږې؟

-څنګه؟ دا چې ما او تا هم هغه ته همداسې ګران یو.دتل لپاره ورتـه ګـران یـو.دا خـو څـه حماقـت نـه دی، چې لاس پـه سکروټه داغ کړې او بس !دا په دې معنې چې موږ به یو بل ته ګران یو.هغې ته یوڅوک داسې تـل ګـران دی،لکه دا نښه چې ابدي ده،هغـه ګرانښت بـه هم همداسې ابدي وي.زه په دې نه پوهېږم اوس او سمدلاسه به یې هېره کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نو څنګه؟

-هغې ته زه او ته همداسې ګران يو ، ناتاشا ناڅاپه تکه سره شوه او وې ويل:

- پوځ ته ترتګ نه مخکې دې،هغه وعدې ياد يږي؟هغه وايي چې ته هغه هېروې،خو هغه وايي چې دی به ماته دژوند ترپايه ګران وي،پرېږده چې هغه همداسې ازاد واوسي،خو ماته به ګران وي...ګوره رښتيا هم دا د پيرزوينې او رحم خبره ده،کنه؟لوی روح غواړي،همداسې نه ده؟ناتاشا خپله دا خبر بيا بيا تکرار کړه او وې ويل:

-لوی روح او خورا پيرزوينه غواړي،همداسې ده کنه؟

د هغې د وينا له نښو نه داسې برېښېده ،هغه څه چې هغه يې اوس وايي،تر دې مخکې يې په ژړا ژړا ويلي وي.رستوف په خيالونو کې ډوب شو او وې ويل:

-زه هېڅکله هغه خبره چې مې کړې،نه هېروم،سونيا داسې ښکلې ده چې ،کوم احمق به په داسې نيکمرغۍ سترګې پټوي.

ناتاشا په لوړ او له تلوسې نه په ډک آواز وويل:

- نه !نه ! ما او هغې په دې اړه د زړه خواله کړې وه،ما لا پخوا ويلي و ،چې ته به همدا خبره کوې،خو داسې نه ده،ځکه که ته دا خبره ددې لپاره کوي چې خپله ژبه او وعده پرځای کړې او يوازې دخپلې ژبې دساتنې لپاره ځان دې ته اړوې.دا خبره ددې معنې لري چې ته کوم بل چا واده کولو لپاره اړويستی يې او دا سمه خبره نه ده.

رستوف په دې پوه شو ،چې هغوی دا ټولې خبرې په ښه تکل برابرې کړې دي.سونيا پرون هم د خپلې ښکلا پر زور هغه کوډې کړې وې او نن يې هم د سترګو په رپ کې تر پرونه لا سخت دده پر زړه يرغل کړی و.هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چتېه شپاړلس کلنه زړه راښکوونکې پېغله وه او دا سې يې احساس کړه چې ورته ګرانه ده(په دې کې يې يوه شبېه هم شک نه لاره )رستوف په زړه کې پخوله:

- ولې همدا اوس راته ګرانه نه وي،ولې له هغې سره ژر واده ونه کړم،خو اوس،اوس خو مې د بړې نورې خوږې شپې ورځې او لذتونه تر مخې دي،هو کې هغوی زما د رضا کولو لپاره ښه دوکه جوړه کړې ده.نه !نه !ښه به دا وي چې آزاده پاتې شم او وې ويل:

-ډېره ښه ده،په دې اړه به نو وروسته وغږېږو ،هغه زياته کړه:

-وای وای چې نه پوهېږې،چې څومره دې په ليدو خوشاله يمه.ګوره باريس ته خو به دې خيانت نه وي کړی؟

ناتاشا وخندل او په لوړه آواز يې وويل:

- دا څه اپلتې غږوې ! نه دهغه او نه دبل کوم يوه ،دهېڅچا په خيال کې هم نه يم او نه غواړم په دې اړه وغږېږم.

-عجبه ده،دا ولې،دا په تا څه شوي دي؟

ناتاشا چې دنيکمرغۍ موسکا يې پرشونډو خوره و ،وغوړېده او وې ويل:

-په ما ؟بيا يې له هغه نه وپوښتل،تا :

-تا دوپورت ( فرانسوي نا څګر چې هغه وخت په پترزبورګ کې خورا پېژندل شوی دی ) ليدلی دی؟

-نه !...

هغې زياته کړه:

-زه به هېڅ وخت مېړه ونه کړم،غواړم نڅاګره شم،خو ګوره چاته ونه وايې.

رستوف دا سې د زړه له کومې وخندل،چې دينيسوف په ګاونډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه کې د هغه غږ واورېد او د رستوف په خوښۍ او نیکمرغۍ یې رخه راغله، هغې هم د خندا مخه ونه شو نیولای او وې ویل:

-خورا ښه ده، خورا !

- ښه ده ! ښه ده !نور نه غواړئ چې له باریس سره واده وکړې؟

- ناتاشا له قهره تکه شنه شوه او وې ویل:

- زه نه غواړم د چا ښځه شم، کله چې باریس ووینم ،خپله به ورته ووایم.

رستوف وویل:

- ښه نو داسې؟

ناتاشا وویل چې دا ټولې هسې ملنډې دي، هغې زیاته کړه او له ورور نه یې وپوښتل:

-ښه دا راته ووایه، دینیسوف ښه هلک دی؟

- هو ښه هلک دی.

-ښه ورکه وه یې، ځه جامې دې راوغونده، چې چای وڅکوو.

...رستوف چې په کوټه کې سونیا ولیدله، تک سور شو.نه پوهېدو هغه یې ته څه ووایي او څه وکړي.پرون شپه یې د سترګې مشې او دبېلتون له درده وروسته دوه ځله سره ښکل کړي وو ،خو نن یې داسې انګېرله چې دا کار نورکېدونکی نه دی.رستوف داسې احسا سوله چې مور او خویندې یې ټول ده ته په پوښتنیز کتو ګوري او سترګه په لار دي چې دی له سونیا سره څه کوي، هغه د سونیا لاس ښکل کړ او هغې ته یې (سوني ) او(تاسو )وویل.

((دا په دې معنې چې نه دومره رسمي چې د سونیا له نامه سره د هغه د پلار نوم یاد او نه دومره غیر رسمي چې هغې ته(ته ) ووایي،٠خو د هغو سترګو د یو بل په لیدو یو بل ته (ته )ویل او په خوند یې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکل کړل.سونیا په کتو کتو کې له هغه نه له دې کبله ښېنه غوښته، چې دناتاشا له لارې یې هغه ته خپلې پخوانۍ خبرې او وعدې وریادې کړې او له هغه نه یې له دې کبله مننه کوله چې دا لا هماغه شان ورته ګرانه ده.رستوف بیا په کتوکې له هغې نه له دې کبله مننه کوله چې هغه یې آزاد پرېښی او هغې ته ویل، که ازاد وي او که نه وي،دا به همدا سې ورته ګرانه وي، ځکه دا امکان نه لري ،چې سونیا ده ته ګرانه نه وي.

ویرې د یوې شېبې چوپیتیا نه په ګټه اخېستو ،وویل:

-دا ډېره دتعجب وړ ده، چې سونیا او نیکولای د دوو پردیو په شان یو بل د (تاسو ) په نامه یادوي.

د ویرې دا خبره دهغې دنورو خبرو په شان رښتیا او دتل په شان دټولو دخوابدۍ لامل شوې ده.نه یوازې نیکولای، سونیا او ناتاشا بلکې مشرې ګرافینې هم له سونیا سره دخپل زوی له مینې له دې کبله ویرېده، چې تصورېې کاوه، کېدای دغه مینه ددې زوی له خورا سترو بریو او نیکمرغیو نه بې برخې کړي.مشره ګرافینه هم د پېغلو په څېر تکه سره شوه.رستوف د دینیسوف په لیدو هم حیرت وکړ، ځکه دینیسوف،د عسکرۍ خپلې نوې جامې اغوستې وې،عطر یې وهلي و ،په غوړو ځنو او په داسې شان او پرتم دهرکلیو کوټې ته راننوت، چې هغه ته یې دهغه دجبهې حالت وریادوه او له ښځو سره په داسې ناز او ادا ښورېده او غړېده چې رستوف هېڅکله په دغه شان دهغه دلیدو تمه نه لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

کله چې نیکولای رستوف له جبهې نه مسکو ته راستون شو، د هغه کورنۍ هغه ته د یوه نازولي او اتل زوی په شان هرکلي وو ایه.نیکولای د هغو د زړه سر او په دیدن یې نه مړېدل. خپلو خپلوانو هم هغه ته بې ساری درناوی او ګرانښت څرګنداوه، اشنایانو بیا هغه ته د یوه سواره او زړه راښکوونکي پوځي افسر په سترګه کتل، داسې افسر چې د ښو کړو وړو خاوند او بې سارې ښه نڅا یې کوله.

د رستوف کورنۍ په مسکو کې خورا مخوره، دوستان او آشنایان یې بې شمېره او سرېکال خو د مشر ګراف پیسې او شتمنۍ څکه خورا پریمانه وو، چې یو څه جاید ادونه یې ګرو کړي وو.نو له همدې کبله نیکولای جان ځان ته د ګاډۍ غوره ښه آس، د ورځې د دود سره داسې غوره کالي چې بل چا لا په مسکو کې نه درلوده او ښایسته داوړدو ټونګو موزې، اخېستې وې، شپه او ورځ یې له یارانو دوستانو سره له خوښیو نه په ډکو بنډارونو کې تېرولې.رستوف کور ته د راستنېدو نه لنډه موده وروسته، له پخوانی ژوند سره د بیارږدېدو له امله د خوښۍ احساس کاوه او داسې یې انګېرله چې اوس پوره لوی سړی شوی دی .د دنیات په مضمون کې د ناکامېدو ترخه غمونه، د سورلۍ په ګاډیو کې د سپرېدو لپاره د ګاوریل نه د پور اخېستنې او په غلا غلا له سونیا سره ښکلول، اوس ټول د هغه لپاره د ماشمتوب د زمانې داسې لوبې برېښېدې چې د تېرو وختونو هېر شوي یادونه وو.هغه اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سواره پوځ د اسې یو افسر چې د سورلۍ ښکلې، ځلېدونکې ځانګړې پوځي جامې، چې د ګیورګي په نامه د سپینو زرو مډال پرې تمبول شوی و، اغوستې وې او د ښار لـه خـورا مخورو، نـامتواو مـاهرو سـورو ښـکاریانو سـره دلوبـو او دهغـو دآسـونو پـه پرتلـه یـې خپـل آس جوړاوه. هغه د ښار په ځانګړې کوڅه کې له کومې ښځې سره آشنایي پیدا کړې وه او هرماښام به یې دیدن ته ورته. د ارخاروف په کورکې به یې د مازورکـا نـومې نڅـا دنڅـاګرو لارښـوونه کوله. لـه فیلد مارشـال کامنسکي سره به یې د جګړې په اړه مرکې کولې، انګریزي کلوب ته یې تګ راتګ پیدا شوی و او له یوه څلویښت کلن ډګروال سره یې چې د دینیسوف له لارې پېژندګلوي شوې وه او په (ته) یې له هغه سره خبرې کولې.

په مسکو کې یې له تزار الکساندر سره دمینې اور لړ سوړ شوی و، ځکه په دغه موده کې چې دی دلته راستون شوی و، هغه یې لیدلی نه و، خو ددې تزار خبرو سره سره هغه د تزار او لـه هغـه سره دخپلې لېوالتیا په اړه غږېده. کله ناکله خو به یې لا د اسې هم ښودله چې دی د تزار په اړه خپل زیات رازونه ویلی نه شي، هغـه رازونـه چې د ډېرو نـورو لپـاره د پوهېدو وړ نه دي او د تزار هغو احساساتو سره یې د زړه لـه کومې خواخوږي ښودله چې په مسکو کې یې هغه وخت تزار الکساندر پاولوویچ ((ځمکني فرښته)) ګڼله.

پـه مسـکو کې د اوسېدو او پـوځ تـه د بېرتـه ستنېدو پـه دغـه لنډه موده کې، رستوف نه یوازې له سونیا سره نږدې نه شو، بلکې لږ نور هم سره لرې شول.

سونیا خورا ښکلې، مهربانه او له ورایه څرګنده وه چې پر رستوف یـې سـخت زړه بـایللی و، خـو رسـتوف د ځـوانۍ پـه هغـه منـګ و، چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرځوان تصور کوي، دومره بوخت او په کرکېچونو کې ډوب دی، چې مینتوب ته وخت نه لري.او یا داچې تر واده نه خپله ازادي غوره ګڼي او غواړي یوڅه نور تر سره کړي.هر کله به چې سونیا ور په زړه شوه ویل به یې:

- هه هه، داسې پېغلې ډېرې دي، نورې به هم ډېرې داسې پیدا شي، ډېرې نورې چې زه یې لا نه پېژنم.ددې کار لپاره زه لا ډېر ځوان یم، وخت ډېر دی، هغه وخت چې زما دې کار ته زړه شي او مین شم، خو اوس د مینتوب لپاره هېڅ وخت نه لرم.

له بله پلوه هغه له ښځو سره ناسته ولاړه ځانته یو ډول سپکاوی ګاڼه، که څه هم هغه دنڅاوو بنډارونو ته تګ راتګ درلود او له ښځو سره یې ناسته ولاړه کوله، خو داسې یې ښودله چې دا کارونه د زړه له کومې او بې خونده کوي.انګریزي کلوب ته تګ راتګ، له دینیسوف سره عیاشي، په شرابو کې ډوببدل، هغه پېژندل شوي کورته تګ راتګ ((هلته عیاشانو تګ راتګ درلود)) ،دا او دې ته ورته نور ډېر کارونه یې د یوه سواره پوځي لپاره ورځني چارې ګڼلې.

د مارچ د میاشتې په پیل کې مشر ګراف، ایلیا اندربوویچ رستوف، دهغې مېلمستیا او بنډار په چمتوالي سخت لګیا و، چې په انګریزي کلوب کې یې، د شهزاده باګراتیون په ویاړ دجوړېدو تکل کړی و.

ګراف، چې خپل اوږد کورنی کمیس اغوستی و، په کورکې ګرځېده راګرځېده.او دانګریزي کلوب داشپزانو پېژندل شوی مشر، فئوک تیست، ته یې دمېلمستیا لپاره، دمرچ او مالګې، زرچوبې، بادرنګو، تازه کبانو، دخوسي دغوښې او نورو په اړه ځانګړې سپارښتنې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګراف رستوف د پرانستو له پیل نه د دغه کلوب غړی او د هغه یو له مخورو سپین ږیرو نه ګڼل کېده. نو له دې کبله شهزاده باګراتیون ته د رسمي مېلمستیا د تیارۍ چارې ده ته سپارل شوې وې، ځکه هغه په مېلمه پالنې او خرخ کې لوی لاس او نوم لاره او په دې برخه کې یې سیال نه درلود. د کلوب مشرانو، اشپزانو او چوپړانو په خورا پاملرنې او وریـن تنـدي د هغـه سپارښـتنې اورېدې، ځکـه هغـوی پـه دې ښـه پوهېدل، پرته له هغه نه به بل هېڅ څوک د داسې یوې مېلمستیا خرڅ ته چې څو زره روبله کېږي ملا ټینګه نه کړي او د بل هېڅ چا په مېلمستیا کې به دوی ته داسې ګټې ور په برخه نه شي...

ګراف، وروسته له هغه چې پخوونکو ته وړ سپارښتنې ورکړې، د مېلمستون خواته یې د ستنېدو تکل وکړ... په همدې وخت کې یې د دروازې له شا نه د ټینګو نارینه ګامونو او د بوټو د وسپنیزو ټکهارې غږ واورېد. هغه ځوان ګراف و، هغه د تاندو، نریو بریتو، ښکلې او بې ساري تازه بشرې سره چې خوب یې ښه پوره او ستوماني یې لرې ښکارېده، له ښه مسکوي طبیعت سره راننوت.

بوډا ګواکې له شرمه ډکې موسکا سره زوی ته وویل:

-آه وروركه! چېرې یې؟ چور سرسام شوی یم، که بل څوک نه یې، تا خو به لږ مرسته راسره کړې وای، تر اوسه مې لا سندرغاړي خبر کړي نه دي، سازیان شته، خو سندرغاړي؟ ما وې چې جټان راوغواړم؟ تاسو سپاره پوځیانو خو د جټانو وکوچانیو سندرو لېونۍ یاستئ.

زوی وموسېده او وې ویل:

- که رښتیا راباندې وایې، شهزاده باګراتیون چې کله د شون ګرابن، جګړې ته چمتوالی نیوه، دومره هلې ځلې یې نه کولې، لکه تاسو چې یې د دې مېلمستیا لپاره کوې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګراف، په لوړ او له خوښۍ نه په ډک آواز وويل:

- ...له هغه ځايه به بيا ،راز ګولپای ځي ۳۷۳ ، اپاتکا ګاډيوان هلته بلد دی، هلته به الپوشکای نومی جټ پيدا کوي، هغه، هغه د ارلوف په مېلمستون کې چې ګډېده ،ياد يږدي؟...

نيکولای په خندا وويل:

-جټانې هم ورسره راولو؟

-زړه دې ! ستا زړه !

په دې وخت کې، اناميخايلوفنا ،په نه اوربدونکو ګامونو ،برندې ځېرې او هممهالــه مســيحي وزمــه بشــرې، چې هېڅکلــه يــې نــه بدلولــه، کوټې تــه راننوتــه... سترګې يــې لــه مهربانۍ نــه وتړلــې او وې وويل:

-...ګرانه ګرافه !زه به يو وار د بيېزاوخوف، کورتــه ورشــم، هغه ځــوان بېزاوخــوف راغلی، هــو !هرڅــه مــو چــې لــه بــاغچې نــه پــه کــار دي ګرافــه !همــدا اوس يــې راوړئ، زه بايــد بېزاوخــوف وګورم، هغــه ماتــه دبــاريس ليــک رالېږلــی، دخــدای شــکردی، باريس اوس پــه ســتره قوماندانۍ کې ګمارل شوی دی...

زما له خوا بېزاوخوف ته بلنه ورکړئ، زه به دهغه نوم دمېلمنو په ډلــه کې وليکم، خو دا راته ووايئ چې هغــه يــوازې دی کــه لــه خپلــې مېرمنــې سره راځي؟

اناميخايلوفنا ،خپلې سترګې پورته خواتــه وغړولــې او پــه ځېره يــې دغم لړلې راخورې شوې، خو وې ويل:

- اه زما ګرانه !هغه خورا بدمرغه سوی دی، هغه څه چې مــا اوربدلــې او که رښتيا وي، خدای دې په هېڅ چا نــه راولــي. کله چې مــوږ دهغــه پــه نيکمرغيــو کــې ډوب و ،هــېڅ چــا ددې بــدو ورځــو تصــور هــم نــه شــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای.هغه هم دا د پاک زړه او سپېڅلي روح خاوند.زما خو خورا زړه پرې خوږېږي،څه مې چې له لاسه وشي،هو مره مرسته به ورسره وکړم.

دواړه مشرا وځوان،رستوفانو(پلار او زوی)وپوښتل:

-ولې؟څۀ شوي دي؟...

-خلک دا سې وايي،چې پېښېر،دغم له لاسه لېونی شوی دی.

-ښه !هر څه چې وې ،وې دي.پرېږدي چې مېلمستیا ته راشي،پرتمینه مېلمستیا به وي،طبیعت به یې ښه شي.

بله ورځ چې د مارچ دریېمه نېټه وه،لا د ورځې دوه بجې نه وې چې د انګریزي کلوب دوسوه پنځوس تنه غړو او پنځوس تنو نورو مېلمنو دګران مېلمه او د اتریشي دجګړې اتل شهزاده باګراتیون د راتګ هرکلي ته سترګه په لار وو.مسکو چې تل دخپل پوځ دپرله پسې بری سره رږدی و،د "استرلیخ" د جګړې د خبرونو په رارسېدو سره لومړی هېڅ دا نه منله چې کېدای شي،دوی دا سې ماتې خوړلې وي،ځینو خو دا خبر دروغ او بابیزه ګاڼه او نورو بیا دغه ډول حیرت وړونکې پېښې لپاره چې په خیال کې هم نه راتله،پاخه دلایل غوښتل.انګریزي کلوب،چې دمخورو او له پېښو خبرو او لېوالو ټولنیزو شخصیتونو دتګ راتګ او ټولیدو یوه ټولنه وه،د دسامبر په میاشت کې چې ددغې ماتې دخبرونو رارسېدل پیل شول،ټولو دا سې ددې خبر او جګړې په اړه چوپیتیا غوره کړې وه،چې ګواکې په لوی لاس یې دا سې پرېکړه کړې وي،چې هېڅوک به په دې اړه څه نه وایي.هغه مخور مرکچیان لکه:ګراف راستوپچین،سردار ولادیمیرو ویچ دولګاروکي،والویوف،ګراف کارکوف،سردارفیازیمیسکي،چې تل به یې خبرو دنښې منځ ویشت،یا کلوب ته نه راتلل او یا هم په کورنو او وړو ځانګړو بنډارونو کې راټولېدل او د زړه خواله یې کوله او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکویان چې د نورو له خولې يې خبرې کولې(چې ګراف، ایلیا اندرووېچ هم له هغه ډلې نه و ) دلنډ وخت لپاره بې لارښود او لارښوونې پاتې شول او د جګړې په اړه يې خپل خيال نه څرګنداوه. د مسکو خلکو داسې انګېرله چې داسې کوم ناوړه څه تېرېدونکي دي، چې د هغه په اړه يې تر غزېد ،چوپيتيا غوره ګڼله. خو لا څه موده تېره نه وه، چې مخور مرکچيان بېرته سره رابرالا او په جګړې کې د ماتې دلاملونو په اړه په ډاګه غږېدل او خبرې اترې يې پيل کړې.د همدې ویناوو او مرکو نه روسانو ته د دغې ناشونې ،نه منونکې او نا اورېدل شوې پېښې دلایل څرګند او په ټول مسکو کور په کور خواره شول.لاملونه دا وو:

د اتریشیانو خیانت، پوخ ته د خوړو او کالو نه رسېدل،د پولندي پرژیبفسکي او فرانسوي لانژرون خیانت، او دکوتوزف بې استعدادي (او په ګنګوسه کې دا هم ویل کېده )د ټولواک ځواني ،بې تجربوالی او له هغه نه د ناکسو چاپیر شویو وګړو راتاوېدل او د هغو د خبرو اورېدل.خو روسي پوځ، د پوځ په اړه ټولو دا په ګډه ویل چې هغو د زړورتیا او مېړانې یو ناشونې چاره ترسره کړې ده. د روسي پوځ هر سرتېری،هر افسر او هر جنرال،هر یو ، یو اتل و ،داسې اتلان چې زړورتیا او مېړانو ته یې د معجزې په سترګه کتل کېدل،خو د دغو اتلانو له ډلې نه، بیاد شهزاده باګراتیون نوم ځکه د اتل په نامه یادېده چې،په باتوروالي په شون ګراین کې جنګېدلی،په استرلیخ کې یې په وخت شاته تګ کړی او په یوازې ځان یې تر خپل لاس لاندې پوځ په خورا منظمه بڼه ژغورلی او یوه ټوله ورځ د دوه برابره زیات او پیاوړي دښمن سره په مېړانه جنګېدلی او خپل ځان او خپل پوځ ته یې ستر ویاړ ګټلی دی.د دې علت چې باګراتیون په مسکو کې د اتل نوم ګټلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ،نه یوازې دا وچې هغه له مسکو سره څه ځانګړې اړیکي نه لارل بلکې دا هم و چې هغه یو پردی او غیر روس پوځي و...د باګراتیون دغې راز ستاینې او لمانځنې هممهاله د کوتوزف نه د نه رضایت او کرکې څرګندونه هم کوله..خو د روسي سرتېرو په اړه خبره دا وه چې له هغو نه باید د آرامتیا هیله وشي،ځکه باید دا کار وشي چې مېړانې ته یې د بېر تاوان پېښ نه کړي.له هرې خوانه دا استرلیخ په جګړه کې،د هغه د نویو نویو مېړنو کړو او ویاړونو کیسې مرکې اوربدل کېدې،چا ویل هغه آن د دښمن له منګولو جنډه راوژغورله،بل به بیا ویل چې،پنځه تنه دښمنان یې وژلي،دربیم به بیا یادونه کوله چې هممهاله یې په توپ کې پنځه ګولۍ ځای پر ځای کړي دي او نورې نورې کیسې.د بیرګ مېړانه هم پټه پاتې نه وه،هغه دا چې کله یې ښی لاس شنډ شوی و،توره یې په کین هغه چلوله او همداسې وړاندې تللی و.خو د سردار بالکونسکي په اړه هېڅچا هېڅ نه ویل،یوازې د هغه هغو نېږدې انډیوالانو چې دی یې له نېږدې پېژانده،دا افسوس کاوه چې هغه خورا مخکې او وخته مړ شو او خپله بلاربه امېدواره ښځه یې هسې عجیب پلار ته پرېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

د مارچ په دریمه دانګریزي کلوب په تړلو کوټو کې د مېلمنو د غرېدو او مرکو شروشور جوړ وو. د کلوب غړي او مېلمانه ټوک په پوځي جامو، چانوربښکلي کالي او چا د سرداری جامې اغوستې او ځانګړي پودر یې وهلي او سینګار کړې ځنې لکه د شاتو او انګبینو د پسرلنیو مچیو په شان له هرې خوانه ځپه ځپه په خوځېدا وو، ټوک ډله ډله ولاړ وو او ټوک هم نور ببېلیدل، هسې دې خوا اخوا ګرځېدل. او یا به چېرې ناست او ټوک خو ګوښې ځانته ولاړ وو. سینګار شوي او غوره جامې یې اغوستي وې...لاس په نامه چوپړان د دروازو خواته ولاړ او دې ته سترګه په لارو، چې ټوک دوی ته، د چوپړ وو ایي .د مېلمنو زیاتره برخه غمر خوړلي ،د درناوي، پراخو او په ځان ډاډمن ځېرو خاونده خلک وو، چې ټورېږي منګولی، شدلې خوځېدا وي او درانه درانه غږونه یې لارل. د غه ډله مېلمانه او د کلوب غړي د دود له مخې په ځانګړو ځایو او ځانګړو ډلګیو کې سره ناست وو. یو شمېر لږ او یو واریزه مېلمانه چې زیاتر یې ځوانان وو او دینیسوف، رستوف او دولوخوف چې تر خلع رتبې نه وروسته یې بیا د افسری ویاړ ګټلی او د سیمنوفسکي په غونډ کې ګمارل شوي و، په همدې ډله کې وو. د ځوانانو په تېره بیا د پوځي هغو له ځېرو نه دویاړ تر پردې لاندې مشرانو ته یو ډول سپکاوي ځرګند بده. هغه داسې چې ګواکې ځوان نسل تر ځانه مشرانو ته وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-درناوي او وياړ مو ستر ګې په ليمو ،خو دا هم مه هېروي، چې راتلونکې موږ پورې اړه لري.

نيسيفڅکي ،چې د کلوب له پخوانيو غړو نه و ،هم دلته و. پيير، چې د ښځې د ټينګار له مخې يې ويښته ببر سينګار کړي او عينکې يې لرې کړې وې، او د ورځې له دود سره يې نوې جامې اغوستې وې، په خواشينې او غملړلې څېرې، په بېلا بېلو کوټو ګرځېده. هغه د تل په شان د هغو غوړه مالانو له خوا چاپېر شوی وو ،چې د ده شتمنيو او غوړه ماليو ته په تمه وو ،خو ده د خپل عادت له مخې هغو ته په سپکه ستر ګه کتل.

د عمر له مخې هغه د ځوانانو ،خو د شتميو او اړيکو له مخې هغه د مشرانو ډلې پورې اړه لرله،نو له همدې امله دی د دواړو ډلو تر منځ په تګ راتګ کې و...تر ټولو نه زيات خلک د ګراف راستوپچين، والويف يا ناريشکين ډلو ته ورټول شوي وو. ګراف راستوپچين، کيسې کولې چې څنګه اتريشيانو د تښتې په وخت کې روسان تر مخه کول او روسان دې ته اړ وو ،چې د توري په زور د تښتېدونکو په منځ کې ځانته د پر مختګ لاره پرانيزي. والويف، په خورا محرمانه ډول دا ويل چې ،اوواروف، يې له پترزبورګ نه دې لپاره استولي وو ،چې د اتريشيانو په اړه د مسکو د اوسېدونکو د خيال جاج واخلي. په بله ډله کې ناريشکين، د اتريش په پوځي شورا ملنډې وهلې...خو خپله سردار اندرېوويچ، چې پستې څپلۍ يې په پښو وې، په خورا چټکۍ او بوختيايې د هر کلېو او خوړو د تالارونو ترمنځ تګ راتګ کاوه او ټولو مخورو او لړو مخورو سره يې چې ده ټول په يو ډول نه ډول پېژندل، په يو ډول ستړې مشي خواره مشي او کله هم يوه لنډه مرکه کوله. او کله ناکله خو به يې خپل غلچک خپل نازولی او تاند

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی پسې ولېږه او دهغه په پیدا کولو سره به یې سترګې په هغه ورخښې او یو له نازه ډک سترګک به یې ور ولېږه.رستوف د کړکۍ ترڅنګ له دولو خوف سره ولاړ و ، سره له هغه چې تازه سره آشنا شوي وو ، خو سخت ورته ګران شوی و.بوډا ګراف، هغوی ته ورننېږدې شو ، د ښه راغلاست په نامه یې د دولوخوف لاس ورکېښکود او وې ویل:

- ماته ویاړ راوبښې، تاسو زما له دې زلمي سره پېژني، هلته یو ځای او یوځای موله هغو سره مېړانه کړې ده...اه اه ! او هغه بوډا ته چې له څنګه یې تېرېده،وویل:

- آه !وا سیلي ایګناتیچ،ګرانه ملګریه !څنګه یاستي؟...خو نور یې ددې وخت پیدا نه کړ، چې له دغه بوډا سره خپل دغه روغبړ ته پای ته ورسوي،ځکه ناڅاپه ټولو کې یو شروشور او لېوالتیا ګډه شوه،چوپړانو په ګبنهۍ اخېستو بڼو را وهڅېدل او په لوړ آواز یې غبرګ غږ وکړ:

-له خیره سره راغلل !

زنګونه وشرنګېدل ،مشران او سپین ږیري،تر مخې شول او ټول مېلمانه چې لکه دغنمو د دانو په شان خواره واره و ،ته به وایې چې په پارو چېرته دلي شوي وي،له بېلابېلو کوټو نه په ستر مېلمستون کې راټول شول.

با ګراتیون چې د درناوي په ننبه او دکلوب د دود له مخې خپله توره او خولۍ، ساتونکو ته سپارلي وو ،په وره کې را ښکاره شو.هغه نه پوستین اغوستی و او نه یې دکارتوسو کتار اچولی و ،لکه هغه شان چې رستوف هغه د استرلیخ تر جګړې د مخه یې لیدلی بلکې هغه نوي عسکري دریشي چې روسي، بهرني ننبانونه او دګیورګي ستوري یې پر چپ ټټر تمبولی و ، اغوستې وه.داسې برېښېده چې دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمستيتا ته يې تر راتګ نه مخکې ويښته، ږيره او بريت جوړ کړي و ، چې دغه کار دهغې د څېرې ښکلا په کوم ډول نابښکلې کړې وه.دهغه په بشره کې ،په دغه بنډار کې ،له ګډون نه دساده خوښۍ نښې څرګندې وې،خو کله به چې دده د ځيرتيا او مېړانې نښې ورسره يوځای شوې،لږ دخندا وړ به وبرېښېد.بلکيشوف او فيودرپيتروويچ اوواروف چې دباګراتيون ملګرتيا کوله، ددې لپاره د وره په مخکې لږ ځنډ نې شول،چې هغه داصلي مېلمه په توګه تر ټولو نه وړاندې او يوازې مېلمستون ته ننوزي،خو هغه چې نه غوښتل ځان تر نورو لوړ وګڼي،ځان ځنډ نی ځند نی او له هغو سره همګامه کاوه،نو ځکه داسې برېښېده چې ګواکې ټول د دروازې په مخکې تم شوي وي.خو په پای کې باګراتيون دې ته اړوت او تر نورو نه مخکې شو.په خورا کمينۍ،کرارۍ،داسې چې ګواکې نه پوهېده خپلو لاسونو سره څه وکړي،په مېلميستون کې وړاندې وړاندې لاړ.هغه داسې کرار کرار روان و ، چې ګواکې ته به وايې دجګړې په ډګر کې و اودتوپونو تر ډزو لاندې،لکه هغه شان چې په شوينګراين کې د کورسک د غونډ په وړاندې،ګامونه پورته کوي...د کلوب د مشرۍ ډله دهغه هرکلي او درناوي ته ودرېدل او تر دروازې پورې وړاندې راغلل.هغوی ددغه شان درانه او ګران مېلمانه د درناوي په نښه خپل هرکلی څرګنداوه او بې له هغه چې دهغه ځواب ته ستر ګه په لاره پاتې شي،له هغه نه تاو راتاو شول،هغه يې له مړوندونو نه راونيو او مېلمستون ته يې بدرګه کړ.ګڼه ګوڼې،ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه...تالار ته ننوتل خورا ګران و...ګراف ايليا اندرېوويچ،په خندا او ټينګار تر ټولو نه په زياتې تلوسې،هرڅوک پورې وهل، لاره يې پرانستله او ويل يې:

-چاته وايم،پرېږدې،هيله کوم پرېږدې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګراف همداسې خلک پورې وهل، مېلمه يې له لاسه رانيولی وو ، مېلمستون ته يې بدرګه کړ او دصالون پر منځنۍ لويې څوکۍ کې يې کېناوه.دکلوب لويو مشرانو او مخورو بيا دمېلمه شاوخوا ته ګڼه ګوڼه او اله ګوله جوړه کړه.ګراف ايليا اندرېوويچ،بيا دګڼه ګوڼې په منځ کې،ځانته لار پرانسته او دباندې ووت،لا څوشېبې تېرې نه وې، چې دکلوب له يو مشر سره ګډ ،دسپينو زرو يو قاب په لاس رانوت او قاب يې دشهزاده باګراتيون تر مخې کېښود.په دې قاب کې يو کاغذ چې په ښکلي خط يو شعر پرې ليکل شوی وو ، پروت و.دا ويارنه د دغه پوځي اتل شهزاده باګراتيون په ستاينه کې ليکل شوې وه.باګراتيون د کاغذ په ليدو هک پک او شاوخواته يې داسې وکتل،تا به ويل چې له چا پناه او مرسته غواړي،خو په ټولو سترګو کې يې داسې هيلې لوستې چې دی خپله بايد تسليم شي او دنورو هيلو ته غاړه کېږدي.ده وليدل چې نه کېږي،دسپينو زرو قاب يې راواخيست، په تريو تندي يې ګراف ته چې دغه قاب يې راوړی و ،وکتل.يو تن دغوړومال په شان قاب دهغه له لاسه واخيست(کنه داسې برېښېده چې باګراتيون به هغه له ځانسره تر ماښامه ټينګ ساتي او آن د ډوډۍ په وخت کې به هم هغه ترخوا پورې نيولې ګرځوي )او له هغه نه يې هيله وکړه چې شعر ته غوږ شي.داسې وبرېښېده چې باګراتيون ګواکې وايي:ډېره ښه ده ،لولم يې !په خواشينو سترګو يې کاغذ ته وکتل او په خورا پام يې دشعر لوستل پيل کړل.خو شېبه لا تېره نه وه ،چې دشعر شاعر کاغذ دهغه له لاسه ورواخيست او په لوړ آوازيې دهغه لوستل پيل کړل.شهزاده باګراتيون ،هغه ته سر ښوراوه او په ځير يې هغه ته غوږ نيولی و:

پېړۍ پېړۍ دې،وياړ وی، پر الکساندر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ و یاړ پر تخت ابدي و ساته !
زړور لاربنود او خوا خوږی، خوا خوږی او سه !
خپل هېواد کې ریفه( د ویرژل دا فسانې اتل ) او جګړې ته چمتو او سه !

***

خو اې نیکمرغه بناپارته !چې په خپلو کړو وویاړې !
او ځان دې، دباګراتیون تورې او مېړانې ته ټینګ کړ....
نه دا چې له روسي جنګیالو سره د سیالۍ خیال درپیدا شي.

د شعر لوستل لا پای ته رسېدلي نه و چې، د چوپړانو مشر په لوړ آواز غږ وکړ: ډوډۍ چمتو ده !له دې آواز سره همهاله د خوړنتون دروازې بېرته او له هغه ځایه د دې ترانې غږ چې:
- اې د برۍ چغې لوړه شه او اې زړور هېوادواله !ویاړمن اوسې ! په مېلمستون کې انګازه جوړه کړه او ګراف ایلیا اندرېوویچ، شاعر ته چې د چرګ په شان بې وخته اذان کوي ،لا د شعر په لوستلو بوخت و ، په قهر سره وکتل او دباګراتیون په وړاندې ټیټ شو.ټول ځکه پا څېدل چې پوه شول، تر شعر نه ډوډۍ ښه ده.باګراتیون ترټولو نه مخکې د ډوډۍ میز ته ورنېږدې شو او د میز په سر کې د ددوو الکساندروو ، الکساندر بلکیشوف او الکساندر ناریشکین ترمنځ ،کېناست.دې خبرې له دې کبله هم اغېز درلود ،چې د ټولو اک نوم هم الکساندر و.د هغه تر ناستې وروسته درې سوه تنه ټول، نامه او دریځ ته په پاملرنې سره ټول یو په بل پسې د میز شا او خوا ته کېناستل، دا سې چې هرڅومره مخور او د پام وړ دریځ خاوند و ، هغه ګران مېلمه ته نږدې ځای پر ځای شول او دا ګران کار د هغو اوبو په څېر چې مخ ښکته روانې وي ، په هم دا سې یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چټکۍ ترسره شو .

ګـراف ایلیـا انـدروویچ، خپل زوی د ډوډۍ نـه مخکـې شـهزاده باګراتیون ته ور وپېژاند ، شهزاده هم هغه وپېژاند او لـه سره یې هسې یو څو داسې خبرې چې هغه ورځې یې له ټولو سره کړې وې،له ده سره هم وکـړې.ګـراف دده لـه زوی سـره د شـهزاده بـاګراتیون دمرکـې پـه وخـت کې،ټولو مېلمنو ته په خورا خوښۍ او غرور کتل.

نیکولای رستوف،له خپل ملګري دینیسوف او خپل نوي انډیوال دولوخوف سره،درې واړه پـه ګـډه ،دمیز دمنځنۍ برخې پـه هغـه ځـای کې،کېناسـتل چـې مخـامخ یـې پېیـر او دهغـه ترڅنـګ نیسیفڅکي،ناست وو.ګـراف ایلیـا انـدرېوویچ او دهغـه ملګـري چې دکلوب مشران ګڼل کېدل،مخامخ بـاګراتیون تـه کېناسـتل او ټولـو پـه ګډه ،هڅـه کولـه هغـه تـه، ګـواکې خپلـه مسـکوي مېلمـه پالنـه څرګنده کړي.

دښې ډوډۍ او تـاوده هرکلي دجوړېدو پـه هکلـه د ګـراف هڅـې بې ځایه نه وې پاتې...هغـه دسر پـه خوځېدا او دسترګو پـه اشـارو لـه ټولـو چوپړانو سره اړیکي سـاتل او تـر شـونډولاندې یـې هغـو تـه سپارښـتنې کـولې.هغـه دهـرو خـوړو نـوم ښـه پېژانـده او دهغـو دخونـد انـدازه او دخوړلو وخت ښه ورته څرګند و ،هر څه په ښـه ډول روان وو.خو کلـه چې یې دویم خواړه مېز ته راوړل او پـه لیدو یې ایلیـا انـدرېوویچ لـه خوښۍ نه نـور پـه جامو کې نـه ځایېده ،پـه همدې وخت کې و ،چې د شـرابو دبوتلونو دسرونو دپرانیستو پړقهاري پورته شو او چوپړانو په جامونو کې، ددغو اورنیو سړو انګبینو تویېدل پیـل کـړل.د کبـانو تـر څکـې نـه وروسته چې سخت او دپام وړخوند یې کړی و ،ایلیا اندروویچ د کلـوب مشرانو تـه تر کتنې وروسـتـه ،پـه کراره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دډېرو یاړونو په ویاړ باید وڅکل شي، ښه به دا وي چې پیل یې کړو. خپل جام یې منګولو ته کړ، پاڅېد ، پر مېلمستون چوپیتیا خوره شوه او ټول دې ته سترګه په لار شول، چې څه ویل کېږي.
ګراف په لوړ آواز وویل:
- دټولواک امپراتور په ویاړ !او له دې خبرې سره همماله یې په سترګو کې له خوښۍ ، لېوالتیا او شوق اوښکې راشېوه شوې. په هماغه شېبه کې و چې په مېلمستون کې داسې یوې نغمې انګازې خورې کړې چې، " دبری دتالندې ... " سندره په کې غږېدله. ټول همماله پاڅېدل او همماله یې چغه کړې، چې هورا !او باګراتیون چې هماغه شان د شون ګرابن، دجګړې په ډګر کې چغه کړې وه، داسې هورا کړل، چې ته به وایې ستونی یې څېرې شو. د ځوان رستوف، غږ له خورا شوق او لېوالتیا نه په دغو درې سوو ،آوازونو کې له ورایه جلا او واورېدل شو او دهغه په سترګو کې هم دخوښۍ اوښکو ځان را څرګند کړ.
هغه چغه وهلې:
- دټولواک امپراتور دروغتیا په هیله !هورا !هغه ټول جام یو غړپ کړ او خپل تش جام یې پرځمکه وویشت. خورا نورو مېلمنو ، هغه ته ورته کړه ترسره او پر سر دجامونو تراړولو نه وروسته یې ، خپل جامونه پر ځمکه وویشتل. د جامونو کړنګول او دڅکلو شروشور تر ډېرې پورې اوږده شول. کله چې شروشور پای ته ورسېد ، چوپړانو دماتو شویو جامونو ټوټې راټولې او څکوونکې هم په خورا خوښۍ او له موسکا نه په ډکوشونډو په خپلو ځایو کې کېناستل او بیا مرکې ببرته تودې شوې. ګراف ایلیا اندروویچ ،بیا پاڅېد ،دقاب څنګ ته ایښې یاددښت ته یې وکتل او خپل جام یې د روس د وروستۍ جګړې داتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستر قوماندان ،شهزاده پیتر ایوانوویچ باګراتیون د روغتیا په ویاړ پورته کړ، بیا یې شنې ستر ګې له اوښکو راډکې او بیا د درې سوه دهورا غریو په فضا کې انګازې جوړې کړې.خو دا وار د موسیقۍ او سندرغاړو آوازونو سندریزې انګازې جوړې کړې.دغو سندرغاړو د پاول ایوانوویچ کوتوزوف( دابل کوتوزوف دی ) ،د کانتات په نامه سندره بلله:

دروس د پوځ مخه هېڅوک او هېڅ څه نیولی نه شي،
زمورږ مېړانه زمورږ دبري ضامن دی
که مورږ باګراتیون لرو
دهر یاغي سر دهغه تر پښو لاندې دی.

همدا چې د سندرغاړو د اواز انګازې آرامې شولې جامونه بیا پورته شول،شعارونه ورکړل شول، او تر هغه نه وروسته نور ډېر جامونه،هغه جامونه چې د ګراف رستوف په نازک زړه یې دم په دم اغېزه زیاتېده،جامونه لا ډېر ډېر په ځمکه لړېدل او شور او چغو په ګوګلونو کې نور تالانونه جوړ کړي وو. دبکلشوف، ناریشکین، اوواروف،.دلګـه روکوف،آپراکسین، والویف او نورو مشرانو د روغتیا په ویاړ یو یو جام پورته او په سر واړول شول.دغه راز د کلوب دبنست ایښودونکو ،د بنداړد مېلمنو او په پای کې د بنداړ د جوړونکي ګراف ایلیا اندرووویچ په ویاړ جامونه پورته شول.نور نو ګراف ددغه شعار خوښیو او ویاړونو ته ځان ټینګ نه شو کړای،خپل دستمال یې راوویست،خپل مخ یې پټ کړ او په ربښتیا یې وژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

پيير، پر ميز دولوخوف او نيکولای ته مخامخ ناست و. هغه چې دتل په شان خورا ډېر خوړل او په خورا شوق يې څکل، خو هغو کسانو چې هغه يې له نېږدې نه پېژانده، دې ته پام شو چې نن يې په کړو وړو کې کوم ځانګړی بدلون راغلی دی. د ډوډۍ له پيل نه تر پايه چوپه خوله، سترګې پټې پټې، تندی تريو، شاو خوا يې کتل او سترګې به يې په يو ځای ګنډلې او په سرسامه بڼه يې د پوزې پر برسر د عينکو د ابښودو ځای په ګوته مښه. د هغه پر بشرې د اسې پرېښاني او خواشيني خوره وه، چې ګواکې نه څه ويني او نه څه اوري او د کوم نه اورېدونکي او جړ خيال په خيالونو کې ډوب و.

دا جړ خيال او عذاب ښونکي غوټه د ده د ښځې او دولوخوف ترمنځ د مينه ناکو پټو اړيکو په اړه د شهزادګۍ کنايې او هغه نالاسيک شوی ليک و، چې هماغه سهار يې ترلاسه کړی و. په هغه ليک کې په خورا بده او له ملنډو ډکه ژبه چې د هر نالاسليک شوي ليک ځانګړتيا ده راغلي و، چې دی له خپلو دې عينکو سره هېڅ نه ويني او يوازې دی دی چې د دولوخوف او د خپلې ښځې له ناوړو اړيکو نه خبر نه دی. پيير هېڅکله نه د شهزادګۍ کنايې منلې او نه په ليک کې ليکل شوي تورونه. خو سره له دې ټولو خبرو پر ميز مخامخ دولوخوف ته له ناستې او هغه ته له کتو نه، يې وېره لرله. هر وار به چې ، د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې بې له ارادې، دهغه له زړه راښکونکو او سپين سترګو ، سترګو سره وجنګېدې، داسې يې انګېرله چې کوم وحشتناکه او زورونکې څه يې په ګوګل کې رالمسېدل او مخ به يې بلې خواته اړاوه.بې ارداې به دخپلې ښځې تېره او له دولوخوف سره دهغې اړيکې وريادېدل او دا به يې په زړه کې ورتېره شوه چې په ليک کې ليکل شوې خبرې کېداى شي رښتيا واى او يا به يې تصور کاوه که دا خبرې دده دښځې په اړه نه واى ټولې به رښيا وې.بې ارادې به وريادېدل چې دولوخوف تر جګړې نه وروسته بيا خپله خلعه شوې رتبه ترلاسه کړې، خپل دريځ يې بيا لاس ته راوړى، پترزبورګ ته راستون شوى واو دى ورپه ياد شوى و.دهغه له پخوانۍ دوستۍ، انډيوالۍ،ګډې اشنايې نه يې ګټه اخېستې او مخامخ دده ديدن ته راغلى و.پيېر په ورين تندي دهغه هرکلى کړى و ، په خپل کورکې يې داستوکنې ځاى ورکړې و او هغه ته يې پيسې ورکړې وې..دا به وريادېدل چې څنګه په سپين سترګۍ،دولوخوف، هغه ته دهغې دښځې ښکلا ستايله او څنګه مسکو ته د راستنېدو نه وروسته هېڅکله، هغه دهغې نه، جلا شوى نه و.

پيېر په زړه کې ويل:

-هو کې !هغه ښکلې ځوان دي،زه هغه ښه پېژنم،له همدې کبله وچې ما دهغه لاس ونيو او مرسته مې ورسره وکړه ،دادي اوس ددې په بدل کې هغه ماته رسوايي جوړوي،پرما خاندي او يوخوړغچ رانه اخلي...خو بيا هم زه دا خبرې نه منم، حق نه لرم،هغه ومنم. هغه د دولوخوف ټول هغه ناوړه کړه چې هغه يې د تربګنۍ په شپېو کې ترسره کوي وريادکړل.دا بې پر شا يې د پولېسو دسرمامور ترل ،اوبو ته دهغه ارتېږل، يا دهغه له خوا حق او ناحق دوئل ته دهرچا بلل او يا هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمانچه د ګاډیوان د آس ویشتل، دا ټول او ټول یې وریاد کړل او په زړه کې به یې ویل:

-هغه یو ستر بې رحمه ته ورته دی، د انسان وژنه هغه ته هېڅ ارزښت نه لري. ځو مره چې له ده نه څوک ډارېږي، هو مره دی، له هغه نه خوند اخلي. هغه به فکر کوي چې زه هم ترې ډارېږم، هو کې رښتیا هم زه له هغه وېرېږم. په همدې خیالونو کې و، چې یو وحشتناک او زورونکي احساس یې په زړه کې راولمسېده. د ولو خوف، دینیسوف او رستوف، درې واړه اوس پېیر ته مخامخ ناست او سخت خوشاله او مست وو. رستوف د خپلو دوو اندیوالانو ترمنځ ناست و. د هغو یو تن د سواره پوځ زړور افسر او بل یې پېژندل شوی عیاش او دوکه مار و. دویم هغه به کله ناکله خپل غولوونکی، وژونکی او له ملنډو ډک غلچک، پېیر ته چې په ټول بنډار کې د شډلتوب او ناآرامۍ له امله د پام وړ و، ور ولېږه. رستوف، په خورا ناخوښۍ پېیر ته کتل. لومړي له دې کبله چې هغه د ده د سواره پوځیانو د نظر له مخې خورا بډای و او د یوې ښکلې ښځې مېړه او خپله هم چورښځو ته ورته و. او بل له دې کبله چې پېیر سره له ټول پام او ځیرتیا، دی نه و، پېژندلی او د سترې مشې په نښه یې، دده سر ښورولو ته ځواب نه و ویلي او هغه وخت چې د ټولواک امپراتور د روغتیا په ویاړ، جامونه پورته او ټول پاڅېدل، دی په خپلو خیالو کې ډوب پاتې، نه یې جام پورته کړی و او نه خپله پاڅېدلی و.

رستوف په برند او له قهره په ډک غلچک، پر هغه ورچغه کړې و:

-تاسو !تاسو ته وایم، کوڼ یې که څنګه؟ د ټولواک په ویاړ یې څکي !او پېیر سوړ اسویلي ویستلي و، په خورا اطاعت پاڅېدلی و او خپل جام یې څکلی و، د ټولو تر ناستې وروسته یې په یو خوږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسکا رستوف ته ويلي و:

-وبښي، ما ونه پېژاندي.

خو رستوف نور نو دداسې ښښنو اورېدو ته وخت نه لاره.چغې يې وهلې او هورا يې ويل.

دولوخوف، رستوف ته وويل:

- ولې ؟ پېژند ګلوي ورسره تازه کوې، نه؟

رستوف، ځواب ورکړ:

-لېوني، ساده سړی دی، پرېږده.

دينيسوف زياته کړه:

-دښکلو ښځو له مېړو سره بايد تل په خوږه ژبه خبرې وشي.

پيېر دهغو خبرې نه اورېدې، خو په دې پوهېده چې هغوی دده په اړه غږېږي.تک سور شو او له هغو نه يې مخ واړاوه.

دولوخوف، جام پورته کړ، په خورا زغرده، خو دشونډو په کنج کې له ملنډو سره مل موسکا يې، پيېر ته وويل:

-دښکلو ښځو په وياړ !پيتروشا ،دښکلوښځو او دهغو دلونډانو په وياړ يې څکو !

پيېر، سر ښکته واچوه، پرته له هغه چې هغه ته وګوري او يا ځواب ورکړي، خپل جام يې واخېست او کرار کرار يې له هغه نه غړپ غړپ څکل او خپل غمونه يې پرې وژل.

چوپړ چې د کوتوزف دسندرې ليکل شوی متن په مخورو مېلمنو ويشه، يوه پاڼه يې د پيېر مخې ته ځکه کېښوده، چې هغه هم دمخورو له ډلې نه ګڼل کېده.پيېر لاس وړاندې کړ چې پاڼه واخلي، خو دولوخوف، خم شو او کاغذ يې دهغه له منګولو نه راخپل او دهغه په لوستلو يې پيل وکړ.پيېر دولوخوف ته وکتل او سترګې يې برندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برندې شوې. هغې غوټۍ او غم چې دی يې د ډوډۍ په ټوله موده کې زوراوه، يوځل بيا دده پرزړه راخواره شول، په خپل ټول ځوربوالي پر ميز ورخم شوا و چغه يې کړل:

- اخېستي يې نه شي؟

نيسفيڅکي او هغه بل مېلمه چې د پيير، ښي لاس ته ناست و، ددې چغې په اورېدو، پوه شول چې موخه يې څوک دي، په ډار او ګبنهۍ يې دولوخوف ته مخ وروا ړوه او وې ويل:

-بس مو ده، تاته وايو څه کوې؟

ددولوخوف، سترګې چې له خوښۍ نه ځلېدلې، کرکه په کې له ورايه برېښېده، په موسکا يې پيير ته وويل:

- زه له همدې کارونو نه خوند اخلم. هغه چې رښتيا له دې کاره خوند اخېستنه زياته يې کړه:

-نه يې ورکوم.

د پيير چې رنګ الوتی او شونډې يې رپېدې، کاغذ يې له هغه نه په زوره واخېست ، خپله څوکۍ يې پورې وهله، له ځايه پاڅېد او وې ويل:

-تاسو يو احمق او سپک انسان ياستي...زه تاسو ته د دوئل بلنه درکوم.

دا يې وويل او له هغه نه لرې شو. په هغه شېبه کې چې پيير دا خبره کوله، دا سې يې وانګېرله چې دده پر ښځې تورونو، چې دی يې په تېره يوه شپه ورځ کې زوراوه، نور له شک او ترديد نه راوتلي او په يوې رښتينې خبره بدله شوې ده. هغه، له هغې نه کرکه کوله او د تل لپاره ترې جلا شوی و. رستوف، د دينيسوف د ټول ګوابښ او مخالفت سره سره، بيا هم دامنلې وه چې په دې دوئل کې د دولوخوف شاهد شي او تر ډوډۍ نه وروسته له نيسفيڅکي سره چې د پيير شاهدي يې منلې و، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوئل د شرایط په اړه خبرې پیل کړې. پییر له هغه ځایه کورته لاړ، رستوف او دینیسوف له دولوخوف سره تر ډېرې پورې په کلوب کې پاتې او د جپسانو او نورو سندرغاړو د سندرو په ویلو یې بانډار ته دوام ورکړ.

دولوخوف له رستوف سره د خدای په امانۍ په وخت کې وویل:

- ښه نو! ترسبا پورې چې په سوکولنیکي (د مسکو په شمال ختیځ کې یو ستر پارک و او اوس هم شته، چې هلته سوکول یا بازانو لوبې کېدې) کې به سره ګورو!

رستوف له هغه نه وپوښتل:

- ښه! ارامه یې؟

دولوخوف ودرېد او وې ویل:

-زه به اوس د دوئل ټول راز تا ته په دوو تورو کې رالنډ کړم. که د دوئل مخکې شپه، کېنې، مور او پلار ته دې له مینې نه ډک وصیت لیک ولیکې، که داسې یې وګڼې چې په دوئل کې وژل کېږې، نو په رښتیا چې احمق او خوار وزار یې. خو که ټینګ تکل وکړې چې ځې او د سترګو په رپ کې خپل سیال وژنې، هغه شان چې ماته د "کاسترمې" دښار یوه اوسېدونکي چې د ایږ ښکار کوي، ویلي دي، نو هغه ده چې بری ستا دی. هغه راته ویلي و: ټولو ته څرګنده ده چې له ایږه هرڅوک ډارېږي، څوک دي چې له ایږه نه ډارېږي، خو کله چې دې ایږ تر مخې راشین شي نو وېره بیا خپله تېښتي. نو هغه وخت دې ټول خیال دا وي چې، هغه درنه ونه تښتي. زه هم اوس همداسې یم. ښه نو! ګرانه سبا به سره ګورو!

بله ورځ، سهار په اتو بجو چې پییر او نیسفیشکي د سوکولنیکي ځنګله ته راورسېدل، دولوخوف، رستوف او دینیسوف لا د مخه هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدلي و. پېير داسې خيالونو پسې اخېستي و او دداسې يو چا حالت يې لاره چې ، اوسنۍ پېښې پورې يې هېڅ اړه نه لرله. رنګ يې تک سپين الوتی او ګېڼې اخېستی و. داسې بربښېده چې تېره شپه يې تر سهاره شوګيره کړې وي. هغه د سرسام په شان شاوخوا کتل او بانه يې ته به وايې چې دلمر له ځلېدونکو شغلو سترګې پټوي سره ترل. يوازې دوه خياله دهغه په خيالو کې زنګېدل، يو دهغې دښځې ګناه، چې دتېرې شپې له شوګېرو او چرتونو نه وروسته يې نور هېڅ شک په کې نه لاره او دويم د دولو خوف، بېګناهي چې دده د نوم او عزت دساتنې هېڅ اړتيا يې نه لرله. دهغه په زړه کې په وار وار دا خبره تېره شوه:

- که زه هم دهغه پر ځای وای، همداسې به مې کړي وای لکه دده چې کړي دي. آن په دې ډاډه يم چې پرته له دې بل څه به مې نه وای کړي. نو اوس په دې نه پوهېږم، چې دا دوئل او انسان وژنه دڅه لپاره دي؟ يا به زه هغه ووژنم او يا به دهغه ننبه زما سر ننبه کړي يا به مې په ځنګانه يا ځنګله ولګېږي. يو وار خو يې په زړه کې داهم وګرځېده:

- ښه به دا وي چې له دې ځايه په منډه لاړشم، وتښتم او چېرې په پټه ځان له ټولو نه پټ کړم. خو پوره په همدې شېبه کې چې دې خيالونو يې په زړه کې توپان جوړ کړي و، په تښتېدلي رنګ او ځانګړې آرامتيا چې په هرچا کې يې د درناوي احساس راپاراوه، وپوښتل:

- څه ته ګورو؟ هرڅه چمتو دي او کنه؟

کله چې هرڅه برابر شول، تورې ددې لپاره چې د دواړو سيالانو ترمنځ بربېد وټاکي، په واورو کې ښخې او تومانچې له ګولېو ډکې شوې، نيسفيڅکي پېير ته ورننېږدې شو او په آرامه او مينه ناکه آواز يې وويل:

- ښاغليه ګرافه! که په دې ګواښمنه شېبه کې، په رښتيا ستره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوانښمنه شپه کې، سپینه وینا تا ته په ډاګ نه کړم، خپله هغه دنده چې تاسو زه د خپل وخت شمېرونکي لپاره ټاکلي یم او هغه مسوولیت چې د تاسو په وړاندې یې لرم هغه به مې په رښتینې ډول تر سره کړی نه وای، د ډاډ هغه ویاړ مو چې ماته را ښبنلی دی، هغه به رښتیا شوی نه وای، نو ځکه تاسو ته وایم: د دغه دوئل د سرته رسولو لپاره پوره دلایل نه شته او دا بې معنې او سپکه پېښه د دې ارزښت نه لري چې د هغه له کبله وینه تویې شي. تاسو په دې پېښه کې هسې په قهر شوي او برحقه نه وي.

پییر وویل:

- هو کې تاسو رښتیا وایې، دا زما له خوا خورا سادګي او حماقت و...

نیسفیڅکي (د ټولو هغو کسانو په شان چې په دوئل کې ګډون کوي او د ټولو هغو کسانو په څېر چې دې ته ورته پېښو سره مخامخ کېږي، په دې باور نه لاره، چې خبره دوئل ته ورسېږي ) وویل:

-ګرافه تاسو پوهېږي ! تر ټولو نه د درناوي خبره به دا وي چې تر ډزو نه به ښه دا وي چې خپله تېروتنه ومنې. په دې پېښه کې یوې خوا ته هم نه دې شوي. که دا سې وي، اجازه را کړي، چې ستاسو د پښېمانۍ خبر ستاسو سیال ته ورسوم، له هغه سره وغږېږم، ځکه زه ډاډه یم چې زموږ سیال به هغه ومني.

پییر وویل:

- نه ګرانه ! غږېدا د څه لپاره؟ تر لږ ځنده وروسته یې وویل:

-نور نو پروا نه لري...هر څه چمتو دي؟

هغه په یوې غیر طبیعي او خورا خوږې موسکا وویل:

-یوازې دومره راته ووایې چې ،څنګه؟ تر کوم ځایه لاړ شم او په څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ډزې وکړم؟هغه تومانچه واخېسته، د تومانچې په اړه يې پو ښتنې څکه پيل کړې، چې تراوسه پورې يې په ژوند کې هم تومانچه لاس کې نه وه اخېستې...

دينيسوف، چې ټاکل شوي ځای ته رسېدلی و، لا هڅه يې کوله چې د سيالانو ترمنځ روغه وکړي، خو دولوخوف، هغه ته وويل:

- د روغې نوم به نه راته اخلې، اصلا نه غوارم په دې اړه خبرې وکړم. کومه ښښنه؟

د دوئل، ځای، د ښښترو ديوه ځنګله په منځ کې، د هغې لارې نه اتيا ګامه لرې، چې ګاډي هلته درول شوې وې، ټاکل شوی و. که څه هم ښه واوره پرته وه، خو په دې څو وروستيو ورځو کې د هوا د تودخې له امله ځای ځای اوبه شوې وه. سيالان څلويښت ګامه يو بل نه لرې ولاړ ووشاهدان، نيسفيڅکي او دينيسوف چې په واورو کې يې د ګامونو ژورې ښښې، پر واورو پاتې وې، د سيالانو د درېدو ترمنځ د واټن جاج يې واخېست او خپلې تورې يې يو له بله دلسو ګامونو په واټن لرې، په واورو کې ښخې کړې. هغه تودخه چې واوره يې ويلې کوله، هماغه شان توده وه او د هغه له امله داسې لړلې په فضا کې راخورې وې چې د څلويښتو ګامونو په اوږدو کې د څه ليدل ګران بربښېدل. که څه هم درې دقيقې کېدې، چې هرڅه چمتو شوي وو، خو سره له هغه هم چا د کار په پيلېدو کې تلوار نه کاوه. ټول چوپه خوله ولاړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

دولوخوف غږ وکړ:

-ښه نو !پیل یې کړئ !

پیېر چې لا موسکا یې پرشونډو خوره وه،وویل:

-درځه !

ګواښمن حالت و.داسې برېښېده چې په خورا سادګۍ سره د پیل شوې چارې مخه ،په هېڅ غوره تکل نیول کېدای نه شو.داسې برېښېده چې پېښه نور نو د انسانانو له ارادې نه پرته ،په خپل سر او واک پرمخ روانه او په ډاډ سره پای ته رسېږي.تر هر چا لومړی،دینیسوف،تر هغه ځایه پورې چې د تورې په څښولو په نښه شوی و ،وړاندې ورغی او وې ویل:

- له دې کبله چې سیالانو ،روغې ته غاړه کېښښوده،ښه به دا وي چې کار پیل شي.تومانچې واخلي او د درې په اورېدو ،د سیال پلو ته خوځېدا پیل کړي.

هغه په خورا خواشینۍ شمېرنه پیل کړه :

- یو...دوه...درې او خپله څنګ ته شو.دواړو سیالانو ،په واوره کې له ګامونو نه د جوړه شوې لارې په اوږدو کې،د لړو په تتنه رڼا کې،یو بل ته په کتو کې،سرو خوځېدل.هغوی تورو ته په رسېدو سره،چې د ډزو لپاره د برېد لپاره د نښې په توګه په واورو کې خښې شوې وې،حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود، پر یوبل ډزي پیل کړي.دولوخوف،بې له هغه چې تومانچه پورته کړي، په کراره مخ ته روان او په ځلېدونکو، تکوشنو او له بې رحمۍ نه په ډکو سترګو یې د خپل سیال بشره څارله.د هغه پرشونډو لکه د تل په شان یوه موسکا ډوله څه خواره و.

پېیر د درې، په اورېدو، په چټکو ګامونو مخ ته لاړ، په واوره کې د وهلي لارې نه واوښت او هغه یې وکړه چې په بشپړه لاره کې مخ وړاندې لاړ شي.هغه په خپل ښي لاس کې تمانچه، مخامخ د سیال خواته په ننبه کړې وه، خوداسې یوې وېرې پسې اخېستي و.تا به ویل، اوس به دده له خپلې تمانچې ډزوشي او دي به ووژني.خپل کین لاس یې، په خوارزیار شاته نیولې و، ځکه هغه پر له پسې غوښتل چې، پر هغه دښي لاس ساتنه وکړي.هغه په دې پوهېده چې داکار ناروا نه دی.لا شپږګامه په بشپړه واوره کې وړاندې نه و، تللی، چې ښکته یې په واوره کې خپلو ګامونو او بیا یې سمدلاسه او په چټکۍ دولوخوف ته وکتل او هماغه شان یې چې ده ته ورښودلي و، ماشه کېښکوده او ډز یې وکړ.ده چې د دغه شان یو زورور ډز هیله نه لرله، سخت ورېږدېد، له رېږدېدا سره هممهاله یې وخندل او ځای پر ځای ودرېد.له ډز نه پورته شوي لوګي، سره له هغه چې په لړو کې هومره دلیدو وړ نه و، خو په لومړي سر کې یې، دده سترګې تتې کړې او دلیدو خنډ شوی و. خو ددویم ډز غږ چې دی، ورته سترګه په لاره و، وانه ورېدل شو، یوازې او یوازې ددولوخوف دچټکو ګامونو غږ واورېدل شو او د لړو او لوګي په منځ کې د هغه تته څېره راښکاره شوه.په یوه لاس یې خپل چپ ځنګ نیولې و او په بل ښکته ځوړند لاس یې تومانچه کېښکودله.د هغه رنګ تښتېدلی و.رستوف، هغه ته ورمنډه کړه او هغه ته یې څه وویل.

دولوخوف، د کېښکودل شویو غاښونو له منځ نه وویل:نه...نه...پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته نه ده رسېدلې.

هغه چې ګوډ، ګوډ کېده، د ننبې لپاره یې، تر خښنه شوې تورې پورې، څو نور کاږه واږه ګامونو واخېستل او د هغې تر څنګه پر واوره ولوېد. خپل کین لاس یې چې پر وینو لړل شوی و، پر جامو ومښه او پر هغه یې ډډه ولګوله. د هغه رنګ الوتی، بشره یې ګونځې او ربړېده، هغه وویل:

- هیل...

خو هغه څه چې ده یې د ویلو، هیله لرله ونه شو کولای وو ایي، خو تر ډېرې هڅې نه وروسته یې خپله پیل شوې خبره پوره کړه او وې ویل:

- هیله کوم...

پېیر چې په سختۍ یې د ساندو مخنوی کاوه، د هغه خواته ورمنډې کړې او نېږدې و، چې ددو خښو شویو تورو منځ ته ور ورسېږي، چې دولوخوف، غږ پرې وکړ:

-له تورو نه را وانه وړئ!

پېیر د هغه په موخه، پوه شو او د تورو ترڅنګ په ټاکل شوي برید کې ودرېد. نورنو یوازې لس ګامه له یو بل نه لرې وو. دولوخوف، خپل سر په واوره کې خښ کړ او په خورا حرص یې واوره وچېچله، خو سمدلاسه یې سر بېرته راپورته کړ، خپل ځان یې لږ راجوړ، پښې یې را ټولې او کېناست. هغه هڅه کوله ځان سیالۍ ته جوړ کړي. هغه په سړې واوره کې غاښونو خښول او هغه یې زبېښله. شونډې یې ربړېدې، خو له دې سره سره، هغه پرله پسې موسېده. د کرکې او غچ اور، هغه د بیا ځان جوړولو لپاره لمساوه. تومانچه یې لوړه کړه او د ننبه نیولو هڅه یې وکړه..

پېیر، چې د پښېمانۍ او ننواتو موسکایې پرشونډو خوره وه، مړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس او پښې، او پراخ ټټرېي خپل سیال ته ننبه، مخامخ د هغه مخې ته ودرېد او په خورا خواشینۍ هغه ته ځیر و. دینیسوف، رستوف او نیسفیڅکي د ډزپه اورېدو سترګې پټې او له ډز سره همهاله یې د کرکې نه یوه ډ که چغه واورېده. دا دولوخوف و چې چغه یې کړه:

-خطا لاړ!

او له دې غږ سره ناتوانه پر واورو ولوېد. پېیر، چې خپله ککره یې په دواړو لاسونو کې ټینګه کړه، راستون شو او ځنګله ته یې مخه کړه. په درنه واوره کې روان واو په لوړ غږ له ځانسره بنګېده، څه یې ویل، مګرپوهېدل یې ګران و. خو کله چې نیسفیڅکي ورنېږدې شو، هغه له ځان او ټولو نه په کرکه پرله پسې ویل:

-حماقت دی، حماقت دی، دوکې او دورغ!

نیسفیڅکي، هغه ځنګله ته پرېښود او په خپله ګاډۍ کې کورته ورساوه. رستوف او دینیسوف، ټپي ښوی دولوخوف یوړ. دولوخوف، په ګاډۍ کې پروت، سترګې یې پټې کړې وې او هغو پوښتنو ته چې له ده نه کېدې ځواب نه وایه. خو مسکو ته په رارسېدو، ناڅاپه په سد شو، سترګې یې وغړولې، په سختۍ یې سر راپورته کړ او د رستوف لاس یې چې دده ترڅنګه ناست و، راونیو. بشره یې چور بدله شوې وه او دهغې پخوانۍ خوشالي او ځلا ترې ورکه شوې وه. رستوف هک حیران و، له هغه نه یې وپوښتل:

- څنګه یې؟ حال دې څنګه دی؟

دولوخوف، چې خبرې یې پرې پرې کېدې، وویل:

-بد، خورا بد! خو خبره په دې کې نه ده، غواړم پوه شم، چې چېرې یو؟ اها! پوه شوم، موږ په مسکو کې یو، خو زه خیر، مګر هغه مې ووژله، ومې وژله، هغه ددې زغم نه لري، هغه دا زغملي نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف، له هغه نه وپوښتل:

- څوک یاده وې؟

-مور مې !ادکه مې !ملکه مې !مور مې یادوم.دا یې ویل، د رستوف لاس یې کېښکود او په ژړا یې ژړل.لږ چې نور ښه شو ،رستوف ته یې وویل، چې له مور سره یوځای اوسېږي،نوځکه که هغه خپل زوی په مرګنی حال وویني، هغه به یې دزغم زور ونه لري.هغه رستوف ته زارۍ کولې، چې مورته یې ور شي او هغه آرامه کړي.

رستوف دهغه هیله ومنله او تر ده نه مخکې ،دهغوی کورته ،دده ادې ته ورغي.هلته په رسېدو په خورا حیرانۍ په دې پوه شو، چې دولوخوف،دغه دمسکو نومور داړه مار اوبدماش،له خپلې زړې مور او کوپړې خور سره اوسي او ترټولو مهربانه زوی او تر ټولو نه خوا خوږی ورور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

پیېر په دې وروستیو وختونو کې، ډېر کم له خپلې ښځې سره یوازې پاتې کېده. په مسکو او پترزبورګ کې، به تل ددوی په کورونو کې دمېلمنو ګڼه ګوڼه وه. تېره شپه، له دوئل نه تر راستنېدو وروسته، دتل برخلاف دخوب کوټې ته نه لاړ او دخپل کار په لوی دفتر کې، هماغه ستړې کوټې ته، چې ګراف بیزاو خوف، هلته د ژوند وروستۍ شېبې تېرې او سا یې ورکړې وه، پاتې شو.

هغه پر لوېې څوکۍ په دې هیله، ډېره ولګوله، چې ویده شي، هرڅه هېر کړي او هرڅه چې کېږي، کېږي دې. خو داسې نه کېده. که څه هم پرونۍ شپه یې له ډېرو چرتونو نه، ټوله بې خوبه تېره کړې وه، خوننۍ شپه تر پرونۍ هغه لا له چرتونو، خیالانو، غمونو او له عذابونو ډکه برېښېده او دی یې خوب ته نه پرېښود. دهغه په ګوګل کې دچرتونو توپان جوړ شو، هغه نه شو کولای ویده شي، ناستې هم خوند نه ورکاوه، نوځکه پاڅېد او په چټکو ګامونو یې په کوټه کې ګرځېدل پیل کړل. کله به یې د واده په لومړې ورځو کې ښځه، دهغې نیم بربنډې اوږې، مستې خماري سترګې او شهوتناک غلچکونه وریاد ېدل او کله به ناڅاپه د دولوخوف، ښکلې، سپین سترګې او ملنډو ډکه بشره وریاده شوه، هغه شان کرکجن لکه په انګریزي کلوب کې او یا هغه شان رنګ الوتی، رنځېدلی او له ده مخ اړولی، لکه چې ده پر واورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېدلی، لیدلی و.

هغه خپله له خپل ځانه پوښتنه کوله:

-دامې څه وکړل؟ما لوند وواږه، دخپلې ښځې لوند. هو کې، همداسې، نو ولې داسې وشو؟ما څنګه دا کار وکړای شو؟د زړه آواز يې ځواب ورکړ:

داځکه چې تا له دغې شان یوې ښځې سره واده کړی.

هغه وپوښتل:نو په دې کې زما څه ګناه ده؟

بیا یې ځواب واورېد:

-ستا ګناه خو داده چې تا هغه دوکه کړې ده، تا له هغې ښځې سره واده کړی دی، چې تاته ګرانه نه وه. او بیا لکه پرون چې وې، هغه خبرې وریادې شوې، چې ده د سردار واسیلي په کورکې، بې له ارادې او په شک هغې ته کړې وې، هغه هغې ته ویلي و:

-ماته ګرانه یې !...له ځانسره یې وویل:

-ما هم هغه وخت دا احساس کړه چې، زما دا وینا بې ځایه ده او حق مې نه لاره چې داسې ووایم.وګوره اوس یې پای دغه شو.هغه ته د واده لومړې ورځې وریادېدې...ډېر وخت دهغې په ښکلا ویاړېدلی یم...کله به مې ویل چې هغه دومره ویاړمنه او د رازمني ښکلا خاونده ده، چې زه پرې پوهېدې نه شم...خو دهغې معما حل دهغې دښکلا په رازونو کې نه، بلکې په دې خبره کې وه، چې چا ویلي و:

-دا ښحه له پساته ډکه ده....

خوکله به چې هغه کتل، چې څنګه یې ښځه نارینه څه چې آن ښځې هم په ځان مینوي، له زړو او ځوانانو نه زړه وړي، لنډه دا چې په هېڅ څه یې سر نه خلاصېده، چې ولې دی نه شي کولای، پر هغې زړه بایلي.خپله به یې ځواب ورکړ:له پساته ډکه ده !او همدا خبره به یې څو واره تکرار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه او زياته به يې کړه:
-له پخوا نه په دې پوهېدم، خو د هغې د ويلو زړه مې نه شو کولای. او اوس هلته د ولو خوف، د مرګ په حال پروت دی...

پيير د هغو خلکو په ډله کې راځي، چې ظاهراً د ېر سست عنصره برېښي، خو اصلاً هغوی نه شي کولای د راز ساتونکي پيدا کړي، چې د زړه خواله ورسره وکړي، نو ځکه هر څه په خپل زړه کې ساتي او خپل زړه خوري.

هغه له ځانسره دا هم ويل:
-ټول ګناه دا يلن(د ده ښځه) ده، خو اوس دا اعتراف چا ته ګټه کوي؟ څه درد دوا کوي؟ نو داچې داسې وه، ما ولې له هغې سره واده وکړ؟ولې مې هغې ته وويل:راته ګرانه يې.دا دروغ و، چور دروغ.له دروغ هم لا بده، نو ځکه ګناه زما ده او د هغه ټوله غمونه بايد زغمونه وزغمم...خو څه؟... رسوايي؟بدنامی؟ناوړه ژوند ؟خو دا ټول ننګ او شرافت هسې خبرې دي او زما نامه پورې هېڅ اړه نه لري؟

د پيير په خيال کې دا خبره تېره شوه:
-شپاړلسم لويي يې سره اعدام کړ، ځکه د هغه مخالفين په دې ډاډه وو چې، هغه خائين او جنايتکاره دی.که د هغه د مخالفينو له انده ورته وګوري، هغه برحقه دي.خو هغو کسانو چې هغه يې سپېڅلي ګاڼه او تر هغه نه يې ځان ځار کړ، هغه هم برحقه وو.تر هغه وروسته يې، روبسپيير، هم اعدام کړ، ځکه يې هغه وينزبېښونکي او ظالم ګاڼه.څوک برحقه وه؟ هېڅوک. ګنهګار څوک وو؟هېڅوک.نن چې ژوندي يې، ژوند کوه.سبا به ومري، لکه هغه شان چې يو ساعت مخکې کېدای شول زه مړشم.کله چې ستا ټول ژوند ، د ابديت په وړاندې له يوې شېبې نه زيات نه دی، نو ولې د دغې شېبې له امله دومره عذاب په ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزغمې؟

خو هما غه شېبه چې تصور يې کاوه، روح يې له دغه شان غيبتونو نه آرامه شوی دی، دغه ښځه ايلن په خيالو کې ورزنګېده...او ده پرله پسې ويل:

-آخر ما هغې ته وويل چې راته ګرانه يې؟

وروسته له هغه يې چې دغه خبره په وار وار تکرار کړه، د موليېر دغه خبره ورياده شوله چې ويلي و:

-څه بلا وهلی وم، چې په ډنډ کې مې ځان ور وارتېره؟او په ځان پورې خندېدل يې پيل کړل.

د شپې، هغه خپله چوپړه راوغوښته او له هغې نه يې هيله وکړه چې د هغه جامې او سفري بکس، پترزبورګ ته د تګ لپاره جوړ کړي، ځکه نور يې نو نه شو کولای له خپلې ښځې سره په يوه کور کې ژوند وکړي.نور يې نو ددې تصور نه شو کولای چې، څنګه کولای شي، بيا له هغه سره مخامخ شي.هغه پريکړه کړې وه، چې سبا به پترزبورګ ته ځي او هغې ته به داسې يو ليک پرېږدي، چې د تل لپاره له هغې سره د جدايي، خبر به په کې ليکي.

سهار چې کله چوپړه د قهوې له پطنوس سره د کار کوټې ته راننوته، پيير، پرڅوکۍ پروت او پرانستي کتاب په لاس ،ويده وشوی و.

هغه سترګې وغړولې، راويښ شو ،په وحشت يې شا و خوا وکتل، خو په دې نه پوهېده چې چېرې دی.چوپړ له هغه نه وپوښتل:

-والاحضرتې ګرافينې سپارښتنه وکړه، وګورم چې تاسو په خپله کوټه کې ياستۍ او کنه؟خو پيير لا د ځواب پريکړه نه وه کړې، چې خپله ګرافينه، کوټې ته راننوته.په سپينو زرو ،د سپين اطلس کميس يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغوستي و، په ساده څېره، خو ډګڼو کوځیو او بدل شوې دوه کوځۍ یې، دوه وار ترخپل ښکلي سره تاو کړې وې.بشره یې آرامه او ټولواکه وزمه وه،خویوازې دهغې پر مرمرین،خولږوتلي تندي کې یې لږ تریو والي څرګند و.په خپلې ځانګړې آرامتیا یې، هېڅ نه غوښتل د چوپړې ترمخې څه ووایي.هغې د دوئل په اړه خبر اوربدلی و او راغلی و چې دهغه په اړه وغږېږي.هغې صبر وکړ چې چوپړه قهوه کېږدي او لاړه شي.پېير په خورا کمینۍ، دخپلو عینکو له شانه هغې ته کتل او دهغه سوی(خرګوش) په شان چې دښکاري سپو په ډله کې راګیر، غوږونه ټیټ او دښمن د برید په هیله په ځمکه څنبېږي، هڅه کوله، خپل کتاب ولولي. خو احساس یې کړه چې دا کار، بې معني او ناشوني دي نو بېرته یې خپل غلچک هغې ته ورولېږه.ایلن کېنناسته او په داسې حال کې چې له سپکاوي نه ډکه موسکا یې پرشونډو خوره وه، هغه ته ورکتل او دې ته سترګه په لاره وه چې چوپړه له کوټې نه ووزي.په خورا ترخه ژبه یې ترې وپوښتل:

-دادې څه وکړل؟ دا څه شي و؟ له تاسو نه پوښتنه کوم؟

پېير وویل:

-ما...څه..زما ...

-دا دي زور راته پیدا شو !غیرتي پیدا شو، ځواب راکړئ !دا د څه شي دوئل و؟ تاسو په دې دوئل څه ثابتول؟څه شي؟تاسو پوښتې اورئ او کنه؟ پېير پر څوکۍ کې ډډه لګولې وه، خوله یې وازه، خو ویې نه شو کولای ځواب ورکړي.

ایلن دوام ورکړ:

-ښه اوس چې تاسو ځواب نه ورکوئ، زه به یې ووایم...تاسو هرهغه څه مني، چې تاسو ته یې خلک ووايي.هغه وموسبده او په فرانسوي یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل:

-تاسو ته یې وویل چې دولوخوف، زما لونړ دی، هغې د لونړ کلمه له ملنډو نه په ډکې ځیرتیا اداکړه او زیاته یې کړه: او تاسو ومنله.ښه اوس دا ووایه چې تاسو په دې کړو څه سپینه وي؟تاسو ته وایم، په دوئل مو څه ثابت کړل؟دا مو ثابته کړه چې تاسو یو احمق یاستئ !دا مو ثابته کړه چې په حماقت مو ټول خبرشي !یوهېږئ ددې پایله به څه وي؟ هوکې ! دا چې زه به په ټول مسکو کې، دټولو دملنډو شم.پایله یې دا شوه چې تاسو په خورا مستئ کې، چې له ځانه ناخبره وي، یو نارینه چې بې له کوم لامله له هغه سره رخه لري، دوئل ته وروباله.

ایلن خپل غږ دم په دم لوړاوه او دهغه تریخوالي یې زیاتاوه...له هغه نارینه سره رخه کوئ، چې له هرپلوه تر تاسو نه ښه دی.

پېیر په تریو تندي، بې له هغه چې وخوځېږي، له ځانسره بنګېده.

-تاسو ماته ویلي شي چې، ولې هغه زما لونړ ګڼئ؟تاسو ته وایم؟ ولې؟ دا له دې کبله چې زه دهغه له خبرو او دهغه له مرکو نه خوند اخلم.که تاسو عقل لرلای، خبرو به موخوند لرلای، مابه تر هغه ستاسو مرکه او خبرې غوره ګڼلې وای.

پېیرپه ډډ، خو ټیټ آواز وویل:

- دخدای لپاره، عذر کوم، له ما سره مه غږېږي !

ایلن وویل:

-ولې ونه غږېږم !دا زما حق دی، چې وغږېږم.په ډاګه ویلي شم ووایم، داسې ښځه به پیدا نه شي چې دتا په شان مېړه، په درلودلو سره ځانته لونړ پیدا نه کړي.هغه هم نه یولونړ، نه دوه لونړه...هو لونړ یادوم، خو ما دا کار نه دی کړی.

پېیر، غوښتل چې څه ووایي، سترګې یې له خپل ورځني بڼې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتلې وې، ایلن ته یې په بې ساري، عجیب ښه وکتل. ایلن دهغه په کتو پوه نه شوه، خو پېیر ډېره ولګوله او وغځېد. په دې وخت کې، په یو عجیب روحي عذاب کې ډوب و، داسې بربښېده چې یو دروند پېټی یې په ګوګل پربوتی، هغه کېښکاږي او دهغه سآ بندوي. هغه کولای شو داسې یو کار وکړي، چې له دغه عذاب نه ځان وژغوري، خو هغه کار چې ده یې کول غوښتل، هغه خورا وحشتناکه و. هغه په پرېږ پرېږ آواز وویل:

-ښه به دا وي چې سره جلا شو.

ایلن وویل:

- جلا شو؟ هر څنګه چې ستاسو خوښه وي. کېدای شي، خو یوازې هغه وخت چې په پوره اندازه پیسې راکړئ. ښاغلي ما له جلا والي ډاروي!

پېیر له څوکۍ نه پاڅېد او کوږ کوږ یې دهغې خواته ورودانګل، په ټول قوت سره یې د میز پر سر ایښې مرمري تېږه را واخېسته، هغه یې پورته کړه، یو ګام نور هم وروړاندې شو او چغه یې کړل:

- وژنم دې!

د ایلن پر بشرې وېره خوره شوه، په چغو چغو یې شا خواته هڅه وکړه زد پلار نښې په زوی کې را څرګندې شوې وې. دغضب دپرتم مستي یې په ګوګل کې احساس کړه. د مرمرو تېږه یې پرځمکه وویشته، هغه ټوټه شوه، دې په خلاصه غېږ او په زوره چغه کړل:

-ورکه شه! په داسې وحشتناک او لېونۍ چغې چې په ټول کور کې میشتو کسانو دهغې انګازه واورېدله او له وېرې ورېږد بدل. پاک پرودګار په دې پوهېږي، که ایلن سمدلاسه له کوټې نه، نه وای وتلای، پر هغې به څه راغلي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير، يوه اونۍ وروسته، خپلې ښځې ته داسې وثيقه ورکړه، چې دروسيې د املاکو اداري کولای شو، دغه دومره جايداد ،ايلن ته ورکړي، چې دده د شتمنيو نيمايي کېده او خپله يوازې پترزبورګ ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

دوه میاشتې وتلې وې، چې د اوسترلیڅ د جګړې د ماتې او د سردار اندرې د وژنې خبر، لیسه ګورې(د اندرې د اوسېدو کلي) ته رارسېدلی و.

د ډېرو پوښتنو، ګروېزونو او څېړنو ترڅنګ، خورا ډېر لیکونه د سفارت له لارې لېږل شوي و، خو د سردار اندرې، نه مړی موندل شوی و او نه یې د اسیرانو په ډله کې نوم پیدا کېده. خو تر ټولو نه لا بده خبره دا وه چې د سردار اندرې خپلوانو هیله لرله چې کېدای شي، د جګړې د سیمې اوسېدونکو هغه له ځانسره وړی وي او سردار به یوازې، بې توانه او خوار د پردو ترمنځ هېڅ نه شي کولای او کېدای شي، په جوړېدو وي او خبر به نه شي ورکولای. هغه ورځپانې چې د لومړي ځل لپاره، بوډا سردار(د سردار اندرې پلار) په هغه کې د داوسترلیڅ د جګړې د ماتې خبر لوستلای و، په خورا لنډیز او نا څرګنده بڼه د روسي د پوځیانو د مېړانې او ځانځارۍ په اړه لیکنې کړې وې. په لیکنه کې راغلي و چې څنګه روسي پوځ تر پرتمینو جګړو وروسته شاتګ ته اړ شولو، خو شاتګ په خورا ځیرکتیا او پام سره تر سره کېده. بوډا سردار له دغو لیکنو نه داسې پایله ترلاسه کوله چې د روس پوځ مات او تالا والا شوی دی. په ورځپانو کې د اوسترلیڅ د جګړې د خبر ترخپرېدو نه یوه اونۍ وروسته، زاړه بوډا د کوتوزف نه لیک ترلاسه کړ او په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې د زوی رښتيني حال څرګند و.

کوتوزف، پـه دې ليـک کـې ليکلـي و: "ستاسـو زوی، د غونـډ پـه مخکې، دا تل په څېر، جنډه پـه لاس،لکـه دتاسو د يوه پيـاوړي پـلار د زوی او دهېواد د يوه رښتيني بچي پـه شـان پـه مېړانـه زمـا د ستر ګو پـه وړاندې پرځمکه ولوېد.زه او ټول پوځ په دې خواشيني يو چې لاتراوسه پورې هم په دې نه پـوهېږو چې، هغـه مړ دی کـه ژونـدی.زه پـه دې ويـاړم چې ستاسو پـه شان زه هم هيله مند يـم چې هغـه بـه ژونـدی وي، ځکـه کـه داسې نه وای، دهغه نوم به هم دهغو کسانو پـه ډله کې وای، چې مړي يې د جګړې په ډګر کې پيدا شوي او ددښمن استازو هغه ماتـه را اسـتولي دي. "

بوډا سردار، دا خبر دشپې ناوخته هغـه وخت ترلاسـه کړ چې، دخپـل کـار پـه کـوټې کـې يـوازې و.دهغـې شـپې پـه سـهار هغه خپـل ورځنـۍ ګرځېـدا تـه لاړ، خـو دتـل پـر خـلاف چـوپ و ،لـه مليار، خپـل لاسمل او معمار سره يې خبرې ونه کړې او د قهرجن طبيعت سره سره يې چاتـه څه بد رد ونه ويل.

کله چې شهزادګۍ ماريا ،د مهال ويش سره سم دهغه دکار کوټې تـه راغله، سردار د خپل ماشين تـر شا ولاړ او پـه خراطـۍ لګيـاو ،خو د تـل په شان يې سر راپورته نه کړ او لور ته يې ونه کتل.

ناڅاپـه يې، پـه داسـې يـوه غـږ چـې لـه هـرې ورځـې نـه يـې تـوپير لاره، وويل:

-آه ! شـهزادګۍ ماريـا !هغـه دخراطي ماشـين پـورې واهـه.دماشـين چرخ، دخپلې چټکې ګرځېدا لـه املـه چې چرخېـده ترهغـه وروسـته، څـو واره نور هم تر هغه وڅرخېده، چې په تپه ودرېد....

شهزادګۍ ماريا خپل پلار ته ورنېږدې شوه.دهغه بشـرې تـه يـې چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل، ناڅاپه يې زړه ولوېد ، سترګې يې له لوېدو پاتې شوې. د پلار له خبرې نه چې خواشيني او ماتـه نـه وه ، بلکـې شـيطانۍ نښې پـه کې راڅرګندې وې او هغه نادوده هڅه چې پرځان دلاس بري لپاره پـه کې راخوتېدله ، پـه دې پوه شـوه چې ، کـوم داسـې نـوغي ،زورونکي او بدمرغه ، بدمرغي چې تر هغه ورځې پورې دوی ليدلې نه وه ، د يوه درانه پېټي په شان پر هغه راځوړنده او نېږدې ده چې پر ککرې يې راګوزاره شي. هغه ماتم چې د هغه زغمل به د دوی زغم ونه شي زغملای او دا د هغه چا مرګ دی ، چې دوی ته ګران دی ، رانږدې دی.

شهزادګۍ ، په خورا ګڼې او ناښکلې بڼه وويل:

- پـلار جانـه !د انـدرې نـه کـوم؟خبر...خـو د هغـې رنځ او درد داسې ناښکلې بڼه لرله چې پلار يې د هغې داوربدو زغم ونه شو کړای او پـه ساندو ساندو اوله ژړا نه پـه ډک ستوني يې ، لـه هغـې مـخ واړاوه او وې ويل:

- ليک رارسېدلی دی !د اسيرانو په ډلـه کې يې نوم نه شته !د وژل شويو په ډله کې هم نه شته !دا هغه څه دي چې کوتوزوف ليکلي دي.او پـه خـورا درانـه او ډډ غږ ، چـې ګـواکې غوښـتل يـې ماريـا لـه ځانـه وشړي ، وويل:

-وژل يې دي !

که څه هم د شهزادګۍ رنګ هسې هم الوتی و ، مګر نه بيسده شوه او نه ولوېده. خو د دې خبرو په اورېدو يې بشره بدلـه او د ښکلو سترګو پـه ځلېدو کې يې ، يو بل ډول ځلا وځلېده. داسې بربښېده چې د دې دنيـا لـه خوښيو او غمونو نه آپلو يو ډول خوشي او روحي سپېڅلوالی پـه هغـه کې راولمسېده او يو ژور غم يې پر زړه راخور شو. له پلار نه دايمي وېره يې هېره شوه ، هغه ته ورنږدې او د هغه لاس يې راونيو ، هغه يې ځان تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانېږدې او ترنرۍ اوږدې غاړې نه يې لاسونه ورتاو کړل او وې ويل:
-پلار جانه، ګوره چې مخ رانه وانهړوي، راځه چې ګډې ساندې وکړو او ګډې اوښکې پرې تويې کړو..
بوډا مخ واړاوه او چغه يې کړه:
-سپکو !نامردانو !پوځ موتالا کړ، ځوانانو مو ووژل، نو ولې؟لاړه شه !لاړه شه !ليزا هم خبره کړه !
شهزادګۍ چې نور يې د تګ توان نه لاره او د پلار څنګ ته، پر اوږده څوکۍ کېناسته او ښکې راوخوټېدې.ورور يې ورياد شو چې په خورا مهربانۍ او خواخوږۍ يې له دې او له ليزا سره مخه ښه وکړه.هغه ورياد شو چې څنګه يې په ملنډو وړوکي شمائل په غاړه کې واچوه.له ځانسره يې وويل:
-عقېده يې پيدا کړې وه؟له بې ايمانۍ نه پېښمانه شوی و؟يعني اوس هلته بله دنيا کې يې جنت په برخه شوی او هلته په ابدي نيکمرغۍ او آرامۍ کې ژوند کوئ؟
ماريا چې نور ژړل ،وپوښتل:
-پلارجانه !دا راته ووايه چې دا بده پېښه څنګه پېښه شوه؟
-ځه !ځه ! لاړه شه ! څنګه؟ په جګړه کې يې وواژه.په هغې جګړې کې چې د روس خورا ښکلي ځوانان يې په کې ووژل، په هغې جګړې کې چې دروس پرتمين وياړونه يې په کې تالا کړل، درځه مهرباني وکړه شهزادګۍ ماريا !ورشه او ليزا ته هم ووايه، زه هم اوس درځم.
شهزادګۍ ماريا چې له پلاره راستنه شوه، کمکۍ شهزادګۍ(دهغې ورينداا او د سردار اندرې ښځه) په خپلو اوبدلو ګنډلو لګيا وه او د امېدوارو ښځو په هغه ځانګړي ملالو کتو چې دهغو د سپېڅلي روح او پاک زړه ځرګندونه کوي، ماريا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل. دا ښکاره وه چې هغه یې نه لیدله او هغې د زړه له کومې د خپل روح او روان هغه زوړ تل ګې ډوبه وه، چې یو له اسرارو ډک، خوږ او ښکلي بدلون په کې تېرېدونکی و.

کمکۍ شهزادګۍ خپل ګنډل او بدل یو پلو ته کېښودل، ډډه یې ولګوله او وویل:

-ماریا !ته دې لاس را کړه !

د هغې لاس یې راونیو او پر خپله ګېډه یې کېښود. خپلې ځلېدونکې سترګې یې هغې ته وګنډلې او څه ویلو ته سترګه په لارې شوه، پاسنۍ، پرنرو ویښتو ښکلې شونډه یې پورته وخوځېده او د ماشتو متوب د ساده نیکمرغۍ په نښه همالته پاتې شوه.

شهزادګۍ ماریا چې اوښکې یې له سترګو اورېدلې، د هغې په وړاندې ګونډه ووهله، خپله بشره یې د هغې د جامو په ګونځو کې ومروړله.

لیزا په ځلېدونکو اوله نیکمرغۍ نه په ډکو سترګو، د مېړه خورته ځیر شوه او وې ویل:

-ګوره ! اورې !پو هېږئ ماریا چې څه عجیب حال لرې؟هغه به ډېر را ته ګران وي.خو شهزادګۍ ماریا سر هسکولی نه شو او ژړل یې.

کمکۍ شهزاده وپوښتل:

- ماشا، په تا څه شوئ؟

شهزادګۍ ماریا خپلې اوښکې د هغې په لمن پاکې کړې او وې ویل:

-هېڅ، همداسې غمونو پسې اخېستې یم او زړه مې ډک دی...اندرې پسې خپه شوې یم. هغه ورځ سهار څو ځله راغلې وه او هڅه یې کړې وه، چې کمکۍ شهزادګۍ ته خبر ورکړي، خو هر وار ژړا هغې ته وخت نه و ،ورکړې چې ،د زړه حال ووایي. کمکۍ شهزادګۍ که څه هم ځیرکه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه ،خو د دغو او ښکو ليدو سره چې ،د هغه په علت هم نه پوهېده ،لږ څه پريشانه غوندې شوه.هغې څه نه ويل،خو په خورا خواشينۍ يې دا پلو او آپلو کتل،ته به وايي چې څه شي ګوري...هغې وويل:

-له اندريې نه مو خبر راغلی؟

-نه !نه !تر اوسه لا وخت دی،ته پوهېږئ چې دا سې ژر خبر نه راځي،خو پلار ډېر نا ارامه دی،دهغه نا ارامي ما ،نا آرامه کوي.

-ښه نو کومه پېښه نه ده شوې؟

شهزادګۍ ماريا ،په ډاډمنو ځلېدونکو سترګو ،مخامخ دهغې سترګو ته کتل او ويل يې:

-نه،هېڅ نه دي شوي.

هغې پريکړه کړې وه ،چې په دې اړه له خپلې ورينداريې سره ونه غږېږي او پلار يې هم په دې قانع کړی و ،چې د دې غمجن خبر په اړه ،خپلې بلاربې ناوې ته چې دماشوم زوکړې ته يې زياته موده نه وه پاتې څه ونه وايي.شهزادګۍ ماريا او بوډا سردار هر يو په خپل ډول،د دغه غم پېښې په زړه بار او له کمکۍ شهزادګۍ نه يې پټاوه.

بوډا سردار ،نه غوښتل،هسې زړه تسل کړي.هغه په دې باور و ،چې سردار اندريې وژل شوی دی.که څه هم هغه څوک، اتريش ته دهغه دلټولو پسې استولې و ،چې دهغه زوی پيدا کړي،خو له دې سره سره يې ،په مسکوکې دهغه لپاره دځلی ښنه فرمايش کړې وه او تکل يې کړی و ،چې هغه په خپل باغ کې ودروي.هغه ټولو ته ويلي و ،چې زوی يې وژل شوی دی...خوب او خواړه يې کم شوي و او ورځ تر ورځې يې توان کمېده.خو شهزادګۍ ماريا هيله منده وه.هغه خپل ورو ته داسې دعاوي کولې،چې ته به وايي ژوندی دی او هره شپه به يې راتګ ته سترګه په لارې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

دمارچ دنولسمې نېټې سهار و ،چې کمکۍ شهزادګۍ د سهارنۍ ترخوړلو وروسته،شهزادګۍ ماريا ته وويل:

-ګرانې !داسې برېښي چې سهارنۍ مې د زړه پر سر ولاړه ده او ډاربږم چې په عذاب مې نه کړي.او ددې وينا په ويلو سره،دتل په شان دهغه پاسنۍ په نرو وېښتو ښکله شونډه له خپل عادي حالته،پورته وخوځېده او همالته پاتې شوه.

خو دهغه غملړلي خبر تر رارسېدو نه وروسته،نه يوازې موسکا اوخوښۍ کډه کړې وه،بلکې د کور دغړو غږېدا او کړه هم غملړلي شوي وو.د کمکۍ شهزادګۍ موسکاهم بې له هغه چې د کورنۍ دغړو په خواشينۍ پوه شي،دنور تر اغېز لاندې راغلي او دا هم غمجنه برېښېده.

شهزادګۍ ماريا په ګېنۍ او ډار سره وويل:

- دزړه سره څه در شوي؟رنګ دې ولې داسې الوتي؟آخ ولې داسې تکه ژيړه اوښتې يې؟

ماريا ، په منډه او چټکو ګامو ،ځان د ورور ناوې ته وررساوه.

يوې چوپړې ته،چې هلته وه،وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالیجنابې ! که موخوښه وي، چې مېرمن ماریا باګدانوفا(ماریا بګدانوفنا ، پېژندل شوې دایي وه چې له یوې اونۍ راهیسې، ددوی کلي لیسه ګورې ته راغلې وه ) پسې څوک ولېږو ؟

شهزادګۍ ماریا ،دا خبره ومنله او وې ویل:

-رښتیا وایي، کېدای شي، په رښتیا ددې وخت رارسېدلی وي، چې څوک راشي.زه همدا اوس ځم.خپلې وریندارې ته یې وویل:

-زړوره اوسه !ځان ټینګ کړه !هغې لیزا مچ کړه او غوښتل یې له کوټې نه ووزي.

دکمکۍ شهزادګۍ په څېره کې،له رنګ الوتنې پرته،څه ماشوم ډوله وحشت څرګند و او په ژړا شوه...هغې خپل واړه او ښکلي لاسونه سره مښل او ژړل یې پیل کړل.شهزادګۍ ماریا په خورا تلوار،د ماریا بګدانوفنا ،پسې له کوټې ووته،دشهزادګۍ لیزا غږ یې واورېد:

-وا خدایه !وای خدایه !

دایي،ښځه چې واړه،څورب،سپین لاسونه سره مښل اود څېرې آرامي یې،مرموزه برېښېده،پرمخ ورغله.

شهزادګۍ ماریا له وحشته په ډکو سترګو ،هغې ته وکتل او وې ویل:

- ماریا بګدانوفنا!داسې برېښي چې دردونه یې پیل شوي وي.

ماریا بګدانوفنا ،په خورا آرامۍ او په کراره وویل:

-ښه ده !ښه ده !دخدای شکردی.

هغې زیاته کړه:

- شهزادګۍ تاسو پېغله نجلۍ یاستۍ،دپېغلو یې په دې کارو څه؟درځه لاړه شه !

شهزادګۍ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خو زه پوه نه شوم،باید له مسکو داکتر راغلي وای،چې ولې رانغي؟

د کمکۍ شهزادګۍ او سردرار اندرې په سپارښتنه،دماشوم د زېږېدو مودې ته نېږدې باید له مسکوه،یا داکتر او یا دایي راغلي وای.اوس ټول،هره شېبه هغه ته سترګه په لاره وو،چې راورسېږي.

ماریا بګدانوفنا وویل:

-کومه دپام وړ خبره نه شته،غم مه کوي.له داکتره پرته هم کارونه په خیر تېرېږي او ماریا ووتله...په دې وخت کې ناڅاپه د وره دروازه له کوم غږه پرته بېرته شوه او زړه دایي پراسکوویاساویشنا،چې د مشر سردار په سپارښتنه له ډېرې مودې راهیسې ددوی کورته دهغې راتګ بند شوی و،کوټې ته راننوته.هغې سرپه یوه درانه دستمال تړلی و،اسویلي یې ویستل او وې ویل:

-ماشاراغلم چې یوه شېبه دې ترڅنګه کېنم...دا دې د شهزادګۍ دبولې شمعونه،راوړي مې دي،چې ترشمائلو لاندې یې ولګوم.

- څومره غوره کار دې وکړ،دایي جانې !

دایي شمعونه د سپېڅلي شمائل لاندې ولګول او وې ویل:

-خدای مهربانه دی !ګرانې !...شهزادګۍ ماریا هم خپل کتاب راواخېست او لوستل یې پیل کړل...بوډا سردار،چې په درنو ګامونو دخپل کار په کوټې کې ګرځېده،تیخون یې د خبر اخېستو لپاره،ماریاباګدانوفنا ته ورولېږه او وې ویل:

-یوازې ورته ووایه چې سردار سپارښتنه کړې،وپوښتم،حال څنګه دي؟هرڅه یې چې درته وویل،ماته به یې وایې.

ماریا بګدانوفنا ،په معنې داره غلچک،ریبار ته وکتل او وې ویل:

-سردار ته ووایي چې دزوکړې دردونه پیل شوي دي !تیخون راغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سردار ته يې خبر راوړ.

سردار وويل:

-ډېر ښه !هغه دروازه ځان پسې وتړله او تيخون د سردار له کوټې نه هېڅ ډول غږ وانهورېد. تيخون، د کاږه شويو شمعونو د سمولو او د هغو د پلتو د جوړلو په پلمه کوټې ته ورغي. سردار پر اوږدې څوکۍ غځېدلی و ، د هغه بشرې ته يې وکتل، سر يې وښوراوه او پرته له هغه چې څه وواييي، هغه ته ورنږدې شو ، د هغه اوږه يې مچ کړه ، بې له هغه چې شمعونو ته لاس وروړي او يا څه وواييي چې د څه لپاره راغلی و ، له کوټې نه ووت. هغه څه چې د طبيعت تر ټولو نه ستر پرتمين راز دی، د پېښېدو په درشل کې و. لمرلوېد ، تېرشوی و ، شپه خوره شوې، انتظار او زړه سوی د هغه راز په وړاندې چې سپړېدل يې د عقل په کړۍ کې نه ځائيږي، نه يوازې ګونډه نه شو ، بلکې لا يې قوت اخېست او له ټولو نه خوبونو کډه کړې وه.

***

د مارچ يوه له هغو شپو نه يوه شپه وه چې ګواکې ژمي غوښتل، بيا خپل زور څرګند او داسې وښيي چې لا تر اوسه سبری دی، په خورا قهر يې د خپلو واورو زېرمه پر نرۍ راشېندله او خپل ټول تونـد توفاني بادونه يې پرهغې راشړلي وو.

د الماني داکتر دلارې څارنې ته، اډه په اډه او لار په لاره خورا ښه سپاره ګمارل شوي او د هغه هرکلي ته څراغ په لاس وګړي ورلېږل شوي وو. دا ټول د دې لپاره و ، چې هم د هغه هرکلي وشي او هم له واورو او اوبو نه د سختو ډکو ډنډونو او د واورو د برف کوچونو نه د هغه د راوتلو لارښوونه وشي. هره شېبه د هغه د رارسېدو انتظار کېده.

شهزادګۍ ماريا ډېر وخت کېده ، چې خپل کتاب لرې ابښي و او پټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله ناسته وه، د هغې ځلېدونکې سترګې، د دایې د بشرې ګونځو ته چې د هغې ټولې آن خورا ورې، ګونځې یې دې ته ښې آشنا وې، ګنډل شوې وې...دایه ساویشنا، د خپلو جورابو په اوبدلو لګیا وه.هغې په خوراټیټ غږ، دا سې ټیټ چې خپله یې هم نه اورېد او آن د هغه خبرو په معنې چې دې ویله هم نه پوهېده، دا کیسه کوله چې د کشینوف، په ښارکې، د ماریا دمور، مرحومې مشرې شهزادګۍ ځنګه، تر سلو واره زیاته تکرار شوې کیسه یې، بیاویله. هغې د یوې ملداوۍ بوډۍ په مرسته، د شهزادګۍ ماریا په زوکړه کې د دایې په توګه مرسته کړې وه، کیسه، هغې ویل:

-دانګتر(داکتر)لا پسې څه وې؟ټول کارون د خدای په اراده کېږي.په دې وخت کې ناڅاپه، د باد یوه څپه، د کړکۍ یوه وازه پاتې شوې وړه پله ووهله(د سردار په سپارښتنه، د توتکیو د راتګ په وخت کې به د هرې کړکۍ یوه وړه دربچه وازه پرېښودل کېده)دربچه چې سمه تړل شوې نه وه، را خلاصه شوه، د کړکۍ داخو پرده د باد څپو پسې واخېسته او د سړو او وارو زوروره څپه پر شمعه ولګېده او مړه یې کړه.شهزادګۍ ماریا له ځایه پاځېده او هغې جورابې ګنډونکې دایې جورابې لرې او د کړکۍ خواته یې ورودانګل، دباندې خواته ورخمه شوه او هغه یې وکړه، پرانستې کړکیګوټې په خپل لاس بنده کړی... هغه یې کلکه نیولې وه، د دې په ځای چې کړکیګوټې وتړي، مخ یې راواړاوه او وې ویل:

-ګرانې شهزادګۍ!دباندې څو تنه سواره را روان دي، شمعې یې هم په په لاس کې دي، کېدای شي دانګتر وي.

شهزادګۍ ماریا وویل:

-آه خدایه! دلوی خدای شکر.باید هغه ته لارښوونه وشي، هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسي ژبه هم نه پوهېږي.

شال يې پر سر واچاوه او د نويو رارسېدونکو هر کلي ته ورووتله. کله چې د خپلې کوټې د ګاونډ کوټې له څنګه تېرېده، د کړکۍ نه يې دې ته پام شو چې ګاډی د لګېدلو شمعو سره، کور ته د تلونکي دهليز په مخکې ولاړ ده. هغه زينو ته ورووته. د زينې د لرګين لاسوند، په يوه غوټه کې بليدونکې شمعه، د باد له زوره له ځانه تاوېده او ښکته څڅېده. فليپ نومي چوپړ، تر شمعې لاندې، د زينې په لومړې پته، شمعه په لاس هک حيران ولاړ و او له زينو نه ښکته، د موزه لرونکو ګامونو غږ اورېدل کېده او يو آشنا غږ له هغه ځايه راته چې ويل يې:

-د خدای شکر دی؟نو پلار مې چېرې دی؟

د دِميان نومي چوپړ غږ چې لا په لومړي پوړ کې ولاړ و، واورېدل شو، چې ځواب يې ورکړ:

-ښاغلی ويده دی.

بيا دميان څه وويل او په منډه پر زينو راکوزشول، شهزادګۍ ماريا په خورا آرامه له له ځانسره وويل:

-دا خو اندرې دی !اما نه نه، دا خو ناشونې ده، د منلو وړ نه ده. او په همدې شېبه کې چې ماريا لا په خيالونو کې ډوبه وه، د اندرې د ښځې تتوالي او بيا خپله اندرې، چې پوستين يې سپينو واورو پوښلي و، د هغې شمعې په وړاندې، چې چوپړ فليپ شمعه په لاس کې وه، راڅرګند شو. هو کې دی په خپله و، دی و، خو رنګ يې تښتېدلی، خورا ډنګر، ډېر بدل شوی او سخت ګبښې اخېستی برېښېده. په زينو راوخوت او له خپلې خورنه يې غېږ چاپېره کړه او وې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زما لیک مو نه دی اخیستی؟ هغه، هغه ځواب ته چې هسې یې هم اوربدی نه شو ،انتظار نه شو ځکه ماریا له ډېرې ګبنې نه غربدا ی نه شوه.هغه راستون شو او له دایي سره چې،له هغې سره وه(دزینې په وروستې پټه کې سره مخامخ شول )په ګډه په چټکو ګامونو له زینو پورته شو ، بیا یې خور نه غېږ تاو کړه او وې ویل:

-ګرانې ماشې !څه عجیبه برخلیک دی آه !

خپل پوستین یې وارتېره او د بنحې کوټې ته یې مخه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

کمکۍ شهزادګۍ چې نرۍ خولۍ یې پر سر وه، د سپینو سرو بړدو په منځ کې پر کټ پرته وه (دردونه تازه تازه کمزوري شوي وو) دانه دانه تورې څڼې یې، د سوځېدونکو او له خولو نه ډکو اننګو نه تاو شوې وې. شونډې ، مالګينه ښکلا او ښکلې خوله يې له هغې پاسنۍ ويښـتـه لرونکې شونې سره ، چې توره بربښېده، د موسکا په غوټه غوړېدلې وه. سردار اندرې راننوت او مخامخ د هغه کټ په وړاندې چې دا پرې پرته وه، ودرېد. د شهزادګۍ ځلېدونکې سترګې له ماشوم وزمه وحشي غلچک او ګبنۍ نه ډکې ، مخامخ هغه ته ځير پاتې شوې. د کتو سره سره ، د هغه حالت بدل نه شو. د غه کتل او مړاوی غلچک غږېده:
-تا سو ټول ما ته ګران ياستۍ !ما هېڅ چا ته بد نه دي کړي. ، خو د غه زما زورېدل د څه لپاره دي؟ مرسته را سره وکړئ. هغه خپل مېړه ليده، خو په دې وخت کې ، دلته د هغه په راتګ نه پوهېده. سردار اندرې د هغې له کټه تاراتاو او د هغې تندی يې مچ کړ او وې ويل:
- ګرانې !(دا خبره يې هېڅکله هغې ته نه وه، کړې) خدای خواخوږی او مهربانه دی !
شـهزادګۍ، په پوښتنيز، ماشوم وزمـه او ګلـه مند غلچـک هغـه تـه کتل. د هغې سترګو ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ماتا نه د مرستې هیله لرله، خو تاهم هېڅ و نه کړل، هېڅ !د مېره له راتګ نه یې هېڅ تعجب و نه کړ، اصلاً هغه په دې پوه نه شوه، چې هغه راغی.د هغه راتګ د هغې عذاب او د هغې آرامۍ پورې هېڅ اړه نه لرله.دردونو بیا زور واخېست، ماریا بګدانوفنا، له سردار اندرې نه هیله وکړه، چې له کوټې نه ووزي.

داکتر کوټې ته راننوت او سردار اندرې، له کوټې نه ووت، شهزادګۍ ماریا په مخه ورغله، دې هغې ته ورننېږدې شو، په ساندو او بنګهاري ورسره وغږېد.د هغوی خبرې هره شېبه، بلې کوټې ته په غوږ اېښودو سره بندې بندې کېدې.

شهزادګۍ ماریا وویل:

-ګرانه وروره !درځه !ځه.

سردار اندرې خپلې ښځې ته ورغی او په ګاونډه کوټه کې ورته انتظار شو. یوه ښځه د ناروغې له کوټې نه راووته او د سردار په لیدو یې څېره بدله او سخته ورخطا شوه.هغې مخ په لاسونه پټ کړ او څو دقیقې هماغسې کېناسته.د ناروغې له کوټې نه د سختو ویرونکو، چغو نارو او د مرستې د زاریو آواز راته.سردار پاڅېد، د وره خواته ورغی او غوښتل یې هغه وازه کړي، خو دروازه چا کلکه نیولې وه او د دروازې له شا نه یې نارې وهلې:

-نه !نه ! اجازه نه شته !اندرې بیا په کوټه کې ګرځېدا پیل کړه.چغې او نارې لږ آرامه شوې.لاڅو شېبې نه وې تېرې چې ناڅاپه د غه ساندې، چغې او سورې(دا د هغې د ښځې چغې نه وې، هغې د د غه شان لوړ چغو توان نه لاره )بیا خورې شوې.سردار اندرې، د وره خواته ور ودنګل، چغې ارامې شوې، خو بله ډول چغې واورېدل شوې.دا د ماشوم چغې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې لومړی وویل:

-نو دا ماشوم یې ولې هلته بیولی؟دا دچا ماشوم دی؟ماشوم هلته څه کوي؟وای،دا څه وایم،دا شاله زما ماشوم دی!

کله چې یې ددغو چغو او ژړا ،ژوند ښوونکې خوښي احساس کړه،ساندو یې غاړې کېښکودې،خو ده دهغو دمخنوي هڅه وکړه.دواړه لاسونه یې په کړکۍ تکیه کړل او دماشومانو په څېر یې زار زار وژړل.دروازه راخلاصه شوه،هغه داکتر چې نری چپنه چې ،غاړه یې نه درلوده پرغاړه وه ، بده وهلي لستوني،رنګ الوتي او ژامې یې رېږدېدې،له کوټې نه راووت.سردار اندرې،هغه ته مخ ورواړاوه،ډاکتر په خورا پرېشانۍ او پرته له هغه چې څه ووايي،په ملالو غملړو سترګو یې هغه ته وکتل او له څنګه یې تېر شو.یوې ښځې له کوټې نه رامنډه کړې،خو چې سرداراندرې یې ولید ،په یو ډول شک او تردېد ،د دروازې په خولې کې ځای پر ځای ودرېده.سردار دخپلې ښځې کوټې ته ورننوت.هغه په هماغه حالت او دبشرې په هماغه بڼه چې ده پنځه دقیقې مخکې لیدلې وه،پر کټ مړه پرته وه. سترګې یې نورې نه غړېدې، اننګونه یې رنګ الوتي او تک سپین شوي وو. سره له هغه چې سترګې یې سره ورغلې او رنګ یې الوتی و ،خو دهغې ددغه ماشوم ډوله معصومانه ښکلې څېرې حالت،دهغې ښکلې،په تورو نازکو وېښتو ګاڼل شوې شونډه ،هماغه شان چې وه،هماغه وه.دهغې مرګرژلې،ښکلې او بې روحه بشرې ویل:

-تاسو ټول ماته ګران وئ !ماهېڅ چاته بدنه و رسولې وګورئ ! وګورئ ! تاسو له ماسره څه وکړل؟آخ،تاسو له ماسره څه وکړل؟

دکوټې په کونج کې،دماریا په سپینو رېږدېدونکو منګولو کې یوه سره خیز ژړل او چغې یې وهلې؟

*

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دغې پېښې دوه ساعته وروسته، سردار اندرې په ارامو ګامونو د پلار د کار کوټې ته ورننوت. بوډا لا د وخته په ټولو پېښو خبر و. هغه دروازې ته نېږدې نېږدې ولاړ و او د دروازې د خلاصېدو سره سم يې، خپل وچ او عمرځپلي لاسونه دزوی په غاړه کې هټکرې کړل او د ماشوم په شان يې په ساندو ساندو يې وژړل.

*

د شهزادګۍ تر مړينې درې ورځې وروسته، په کليسا کې د ځنازې مراسم پر ځای شول او سردار اندرې پر زينو وروخوت او هغې صوفې ته ورپورته شو چې، د شهزادګۍ تابوت پرې ايښی و. له هغې سره يې مخه ښه وکړه. په تابوت کې د مړې څېره، که څه هم سترګې يې پټې وې، هماغه شان وه لکه پخوا، هغې هماغه شان ويل:

- وګورئ! وګورئ! تاسو له ما سره څه وکړل؟ آخ، تاسو له ما سره څه وکړل؟ او سردار اندرې په زړه کې داسې وانګېرله چې ګواکې خورا ګنهګار دی. داسې ګناه چې نه يې جبرانولای او نه يې هېرولای شي. د هغې او ښکې وچې شوې وې او ژړل يې نه شول. بوډا هم تابوت ته ورغی او د هغې تک ژېړ لاس يې چې په کراره لوړ پر بل هغه ورپروت و، مچ کړ، خو د هغې بشرې ورته ويل:

- اخ! څه او د څه لپاره مو له ما سره داسې وکړل! آخر ولې. او بوډا د هغې د بشرې په ليدو په خواشينۍ مخ ترې واړاوه.

*

د شهزادګۍ تر خښولو پنځه ورځې وروسته يې د هغه ماشوم سردار نيکولای اندرېوويچ، ته د تعمېد لامبو ورکړه. دايې ماشوم پر ټټر نيولی و او کشيش د هيلۍ په سرو او ژېړو بڼکو د ماشوم لاس او پښې په سپېڅلو غوړو، غوړول....

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰

مشر ګراف، د دې له امله چې د دولوخوف او بېزاوخوف په دوئل کې يې د زوی ونډه اخېستنه ټولو ته برالا نه شي، ډېرو منډو او د ځينو مخورو ليدو کتو ته اړ شو، ځکه ګراف ډېر ډارېده چې په دوئل کې يې د زوی ونډه د دې سبب شي، چې هغه خلع رتبه او په يوه هسې سرتېرې بدل شي او يا لږ تر لږه جزا ونهويني، خو د پلار د دې تصور بر خلاف د هغه د هلوځلو له امله هغه نه يوازې جزا ونه ليده بلکې د مسکو په ستره قوماندانۍ کې، د ياور په توګه وټاکل شو. د هغه د غه نوې دنده د دې لامل شوې وه، چې هغه زياتره وخت په مسکو کې پاتې شي او په کلي کې د کورنۍ ليدلو ته ونه رسېږي. هغه له همدې امله ګرد اوړې په مسکو کې پاتې شو. د دولوخوف، ټپ هم کرار کرار روغ شو او د نارغي په موده کې رستوف هم ورسره ډېر نږدې ملګری شو. ټپي ځوان د ناروغۍ په ټوله موده کې له خپلې مور سره، چې د لېونتوب تر بريده ورته ګران و او سېده. د دولوخوف مور، ماريا ايوانوفنا په دې موده کې له رستوف سره چې د دې له زوی سره يې خورا خواخوږي لرله، ډېره د زړه خواله کوله.

مور به يې ورته ويل:

- ګوره ګرافه! هغه خورا ساده او پاک زړی دی. هغه شان سپېڅلوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پاکزړتوب چې اوس، په نننۍ زمانه کې هېڅ د چانه خوښېږي. اوس دغه شان رښتيتوب د تولو لپاره لکه د سترګو داغزي داسې دی. تاسو خپله قضاوت وکړئ او ماته ووايۍ. دا د ببزا او خوف کار سم و؟ ايا يو ښه سړی دا کار کوئ؟ خو زما زوی ته هغه د زړه له کومې ګران و، آن اوس هم هېڅکله هغه ته سپکې سورې نه وايي، هېڅکله. هغه ملنډې چې دوی د پوليسو له سرمامور سره په پترزبورګ کې وکړې، تولې ټوکې ټکالې دوی په ګډه سره وکړې، خو ببزا او خوف ته چا هېڅ ونه ويل او ټوله رسوايي او بد يې زما د زوی په برخه شول.. فکر نه کوم چې ترهغه نه مېړنی او هېوادپال ځوانان دې زما په پوځ کې ډېر پيدا شي. اوس نو بيا دې دوئل ته ګوره! ايا دا وګړي د کوم ويار او غرور احساس لري؟ ښه پوهېږي، چې هغه زما يوازينی زوی دی او دوی يې بيا دوئل ته وربولي، پر هغه مخامخ ډزې کوي. شکر دی، شکر دی، چې خدای پر موږ رحم وکړ. نو دا ټول د څه لپاره؟ ښه! او بيا څوک او کوم ځوان نه دی، چې زموږ په وخت کې له کومې ښځې سره يو پټ پټونی ونه لري؟ ښه بيا هغه چې دومره رخه کوله، نو زما د زوی ګناه څه ده؟ دی چې دومره غيرتي و، لومړی به يې يو ګوابښ مابښ کړای وای، ځکه دا خبره خو نوې نه وه، يو کال راهيسې ټول پرې خبر و، خو هغه ځان ناګاره اچولې و او هېڅ يې نه ويل. ده زما زوی دوئل ته وروبله او فکر وکړ چې هغه به وډار شي، هغه دا فکر کاوه چې زما زوی د هغه پوروړی دي او د هغه پر سپکاوي به سترګې پټې کړي. ګوره دا څو سپکاوي او څه نامردي ده. هو کې ګرانه زه پوهېږم چې تاسو زما زوی ښه پېژندلی دی، هغه تاسو ته ګران دی، نو له هم دې کبله تاسو ماته د زړه له کومې ګران ياستۍ، باور وکړئ، ډېر لږ کسان دي، چې هغه درک کړای شي، دا يو بې ساری، لوړ آسماني روح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله دولو خوف، دخپلې ناروغۍ په موده کې، رستوف ته داسې خبرې کولې چې له هغه نه چا دهغو دوئيلو تصور هم نه کاوه، هغه ويل:

- زه پوهېږم چې، ډېر خلک ما يوه ظالم سړی ګڼي، ګڼي دې، دا دهغو زړه، پرته له هغو چې ماته ګران دی، زه دهغو ديوه پروا هم نه لرم. هغه کسان چې راته ګران، هغه نو بيا داسې راته ګران دي، چې ځان ترې ځاروم، خو هغه چې مې دلارې خنډ شي، بيا يې نو غم خورم. زه يوه مورلرم، چې له هرڅه او هرچانه راته ګرانه ده، زه دهغې لمانځنه کوم، داسې لمانځنه چې هېڅ اندازه نه لري. دوه درې اندېوالان لرم، چې يو يې ته يې، خو له نورو سره زما ددوستۍ او اندېوالۍ اندازه، له هغو نه زما دګټې او تاوان پورې اړه لري، مګر دغه اړيکي زياتر تاواني دي، په تېره بيا له ښځو سره. له يوه شېبې ځنډ نه وروسته يې وويل:

-هوکې ګرانه !دنارينو په منځ کې خو مې يونيم، ګران، مېړنی او ښه ياران ليدلي، خو دښځو په منځ کې مې، مهمه نه ده چې ګرافينه وي که چوپړه، له خيانته او ځانپلورينې پرته بل څه نه دي ليدلي. تر ننه پورې هغه آسماني سپېڅلتيا او ځانښندنه چې زه يې له يوې ښځې هيله لرم، نه ده ليدلې. که دغه شان يوه ښځه پيدا کړم، خپل ژوند به مې ترې ځار کړای وای، خو دغه !...اوږې يې پورته واچولې او وې ويل:

-ته دا راسره ومنه، تراوسه پورې ځکه ژوند راته ګران دی، چې هيله لرم، يوه ورځ نه يوه ورځ دغه شان يوه اسماني ښاپېيرۍ پيدا کړم، داسې ښاپېيرۍ، چې ماته نوی روح را راوبښي او ما ولمسوي. خو غم دادی چې ته په دې خبرو نه پوهېږې.

رستوف، چې سخت دخپل نوي انډيوال تر اغېز لاندې راغلی و، ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه !نه !برعکس ډېر ښه پوهېږم.

دمني په پیل سره د رستوف کورنۍ مسکو ته راستنه شوه.دژمي پیل و چې دینیسوف مسکو ته راغي او ددوی په کور کې استوګن شو.د همدې ۱۸۰۲ کال دژمي پیل چې نیکولای رستوف په مسکو کې تېر کړ،دهغه په ټول ژوند کې، دهغه او دهغه دکورنۍ لپاره،ترټولـه ښه،خوږ او خاطره زېږونکي وخت و.دنیکولای شته والي ددې لامل و ،چې خورا زیات ځوانان ددوی کره تګ راتګ ولري او دده له مور او پلار سره آشنایي پیدا کړي.وېره شل کلنه چته،ښایسته پېغله وه.شپاړلس کلنه سونیا ،هغه نجلۍ،چې له خپلو ښکلاو سره لکه نوې غوټۍ غوړېدلې وه.ناتاشا چې لا دماشومتوب چمونه کول،خو دپېغلتوب مستي او خمار والی او شیطاني یې هم پیدا کړي وه.
درستوف،په کورنۍ کې،دبل هر هغه کور په څېر چې ځوما لګیني او ښکلې پېغلې ژوند په کې کوي،د میني او مینوتوب یو ځانګړې څپه خوره وه.هر ځوان به چې دې کورته راته او دې موسکاوو هرکلېو او هر یو په خپل ډول نیکمرغه څېرو ته به یې کتل او یا دپېغلو له هیلو ډکې غوره خبرې به یې اورېدې،له هرڅا سره به یې دهغو مهرباني او په خوږه ژبه غږېدا لیدله،هریو به په زړه کې دنیکمرغه کېدو او مینتوب ګوړې ماتولې او هغه هیلې به یې په زړه کې غوړېدلې چې د رستوف دکورنۍ دځوانانو په زړه کې لا دوخته ګل شوې وې.
دولوخوف،یو له هغو ځوانانو نه و ،چې له رستوف سره یې تګ راتګ پیل کړی و او له ناتاشې پرته د کورنۍ دټولو غړو خوښ شوی و.دناتاشا نه یوازې هغه نه خوښېده،ان نېږدې وچې خپل ورور سره دهغه له لاسه شخړه وکړي.هغې به ویل چې دولوخوف یو بد زړی انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، هغې په خپلې دې خبرې نه یوازې تېنګار کاوه بلکې د دوئل په برخه کې یې پېیر برحقه ګاڼه، د هغه ملاتړ یې کاوه او دولوخوف یې ګنهګار، ملامت، ناوړه او ځانښودونکی باله.

ناتاشې، په خورا تېنګار سره یې چغې وهلې:

-دا سپینه خبره ده چې هغه خورا ظالم او بد زړی سړی دی، ته خپله وګوره !په هرحال دا ستا دینیسوف زما خوښېږي. که څه هغه کله ناکله نشئ کوي، خو بیا هم زما خوښېږي. نو دا سې بربښي چې زه پوهېږم، زه نه پوهېږم چې څنګه یې درته ووایم. مګر دولوخوف مې ځکه نه خوښېږي، چې د هغه هر څه مخکې له مخکې تکل شوي. لنډه به یې درته وایم، نه مې خوښېږي.

نیکولای خورته وویل:

-...ته پوهېږې چې دولوخوف څه سپېڅلې زړه لري، هغه باید درک شي، که ته له خپلې مور سره د دولوخوف اړیکو او کړه وګورې، بیا به پوه شې چې دغه ته پاک زړه وایي.

-زه دې په دې خبرو نه پوهېږم، خو یوازې په دې پوهېږم چې کله هغه وینم، نا آرامېږم. رښتیا ته پوهېږې چې هغه په سونیا مین شوی دی؟

-نه پوهېږم دا لا پسې څه حماقت دی؟

خو زه پوره پوهېږم، و به ګورې.

دناتاشا اټکل رښتیا شو. هغه دولوخوف چې تل به یې له ښځو سره په کړو وړو کې ډډه کوله، پرله پسې به یې د رستوفانو کره ته راته. که څه هم هېڅ چا په دې اړه څه نه ویل خوډېر ژر څرګنده او ټول په دې پوه شول چې، د هغه تګ راتګ د سونیا لپاره دی. او سونیا چې هېڅکله دا زړه نه شو کولای چې په دې اړه څه ووایي، خو هر وار چې به یې دولوخوف لیده، لکه پاڼه دا سې به رېږدېده او تکه سره به شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولوخوف، به زیاتره وخت غرمنۍ د رستوفیانو کره خوړه او هرې نندارې ته به چې هغوی تلل، دې به هم هرومرو، هلته و. د یُوګل، د کور دنڅا په بنډارونو کې، چې ترټولو غوره ځای د رستوف د کورنۍ ځوانانو درلود، دده له ګډون نه پرته، نه ترسره کېده. دهغه به ترټولو نه زیات پام سونیا ته و او داسې به یې ورته کتل، چې له دغو کتنو نه به نه یوازې دا تکه سره شوه، بلکې دهغه له دغو غلچکو نه به د ناتاشې او مشرې ګرافینې رنګ هم له شرمه بدلیده.

دا ښکاره خبره وه چې دغه پیاوړی، عجیب سړی. په دغې تورسترګې ښکلې نجلۍ، چې زړه یې پر بل بایللی دی، سخت مین شوی دی.

رستوف، د سونیا او دولوخوف ترمنځ د نویو پیدا شویو اړیکو ته نه پام شوی و، خوپه دې کې یې چرت نه واهه چې دا څه ډول اړیکې دي. هغه به په زړه کې ویل:

-دا نجونې، هریوه په یو چا مینې شوي دي. موخه یې همدا ناتاشا او سونیا وو. خو د دولوخوف او سونیا په لیدو به د پخوا په شان ارامه نه و، نو ځکه زیاتره وخت، په کورکې نه پاتې کېده.

د ۱۸۰۶ کال په منۍ کې له ناپلیون سره د جګړې آوازې بیا هر پلو خورې شوې، خو دا وار دا اوازې او خبرې له پروسږ کال نه خورا زیاتې او تودې وې. ټاکل شوې وه، چې نه یوازې له هرو زرو تنو نه، لس تنه پوځ ته ولېږل شي، نهه هغه به په احتیاط کې راټولېږي. هرچېرې به ناپلیون ته ښېرا کېدې او د مسکو په هرکور او کوڅه کې خو د همدې جګړې نه پرته د بل څه په اړه خبرې نه کېدې. د رستوف په کورنۍ کې، د دغې جګړې لپاره چمتوالې یوازې له دې کبله د پام وړ و، چې د دوی نیکولای جان، په هېڅ ډول په مسکو کې نه پاتې کېده بلکې دې ته سترګه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره و، چې د دينسوف، درخصتيانو د پای ته ورسېدو او دا ختر د تېرېدو نه وروسته به دواړه پوځ ته ستنېږي، خو پوځ ته د رستوف د غه بېرنی تګ نه يوازې د هغه بنداړونو ته خند نه پېښاوه بلکې هغه يې لا ورځ تر ورځې داسې زياتول، چې هغه خپل زياتره وخت له کوره بهر په دغو بندارونو، نڅاوو او مېلمستياوو کې تېراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

نیکولای، د حضرت عیسي د زوکړې د اختر په دریمه غرمنۍ په کورکې وکړه. دا هغه څه و، چې په دې وروستیو وختو کې به ده ډېر کم کول. دا بنډار ځکه د خدای په امانۍ نښه هم ګڼل کېدله چې له ژمنۍ ځلې (د کریشنۍ ساړه) نه وروسته دی او نیکولای پوځ ته روان وو. په دې غرمنۍ مېلمستیا کې، د دولوخوف او دینیسوف په ګډون شلو تنو ګډون درلود.

د رستوف په کورنۍ کې، هغه شان چې د دغه نوي کال د جشن په ورځو کې، د مینې او مینتوب د نیاګۍ احساسېده، پخوا هېڅکله نه لیدل شوې او نه احساس شوې وه. دا سې بربښېده چې تا به ویل: هرڅوک کولای شي دا نیکمرغې شېبې خپلې او خپله مین شي، زړه بایلې او زړه رانښکونکی و اوسي. دا سې انګېرل کېدله او د دغې کورنۍ له حالاتو دا سې ځرګندېده چې د نیک یوازې همدا نیکمرغي ده او هغه دا چې مین شي، نور هرڅه بابیزه او همدا نیکمرغي ده چې ټول پرې اخته دي.

که څه هم د تل په شان نیکولای رستوف دوه جوړه آسونه یې له پښو اچولې وو او په دې بریلی شوی نه و ټولو هغو ځایو ته لاړ شي چې ده ته هلته سترګه به لاره وه او یا یې د ورتګ تکل کړی و، نو بیا یې هم ځان غرمنۍ ته مخکې کورته را ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورته له راستنېدو سره سم يې نه يوازې د کور په مينه ناکه دنياګۍ کې څه نا آرامي او تلوسه احساس کړه، بلکې دا يې هم ليدل چې دځينو حاضرينو خوا هم خټه، خټه او له يو بله خپه برېښي

په ځانګړي توګه دهغه پام شو، چې د سونيا، دولوخوف، دمشرې ګرافينې او لږ څه هم دناتاشې خوا بده برېښي.دا سې يې وانګيرله چې تر غرمې نه مخکې بايد دسونيا او دولوخوف ترمنځ څه تېرشوي وي.هغه دغرمنۍ دخبرو په اوږدو کې، په خورا خواخوږۍ، احتياط او خوږه ژبه هغو دواړو سره غږېده.دنوي کال د جشن په هماغه درېيمه ورځ دتل په شان دنڅا ښوونکې يُوګل، دخپلو ټولو زده کوونکو په وياړ ډوډۍ کړې وه او دنڅا بنډاريې جوړ کړی و.

ناتاشا خپل ورور ته وويل:

-نيکولای جانه ! ته که د يُوګل دنڅا بنډار ته ځې، مهرباني وکړه او راشه.هغه په ځانګړي توګه ستا د راتګ هيله او د ديمتري واسيلېوويچ (هماغه دينيسوف )د راتګ سپارښتنه کړې ده.

دينيسوف چې د رستوف په کورنۍ کې په ټوکو ټوکو ځان دناتاشا د نڅا چوپړ ګاڼه.وويل:

-کله چې شهزادګۍ امر وکړي، ښايې څه کوي چې په سر به هم لاړ شم،آن چمتو يم، چې (( د پادوشال )) وکړم.

نيکولای وويل:

-که مې کولای شول،هرو مرو به راشم، ځکه ما بل ځای له اوخاروف سره هم ژبه کړې چې دهغوی بنډارته به ورځم.

هغه دولوخوف ته مخ ورواړاوه او وې وپوښتل:

-ته څنګه؟ته هم ورځې؟ده لا خبره پای ته نه وه رسولې، چې پام شو، خبره يې بې ځايه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولوخوف، په برنډ غلچک ،هغه شان غلچک چې د کلوب په مېلمستيا کې يې پېير ته کتلي و ،لومړی سونيا او بيا نيکولای ته وکتل او بيا يې په ترخه ژبه وويل:

- هو !کېدای شي لاړ شم.

دنيکولای بيا په زړه کې تېره شوه:

- هرو مرو کومه خبره تېره شوې ده.

تر غرمنۍ وروسته، چې دولوخوف بې له ځنډه پاڅېد او له کوره ووت، نيکولای په دې ډاډمن شو چې رښتيا څه پېښ شوي دي.هغه په همدې شېبه وخت پيدا کړ او ناتاشې ته يې ورغږ کړل.هغه يې وپوښتل:

-څه پېښ شوي دي؟

ناتاشا چې په منډه، هغه ته ځان ورساوه، په خورا ډاډمن آوازيې وويل:

-ماخو تل درته ويل، خو تا نه منله،ودې ليدل له سونيا نه يې د واده هيله وکړه.

که څه هم په دې ټوله موده کې نيکولای، چندان د سونيا په خيال کې نه و ،خو ددې خبرې په اورېدو يې داسې وانګېرله چې ګواکې يوې غوټې يې دزړه تل ورمروړلی او دهغې غوټې د پرانستو تکل يې کړی دی.ده تصور وکړ چې دا دولوخوف، د سونيا په څېر د يوې خوارې او يتيمې پېغلې لپاره يو ښه او غوره ژنی دی.د مشرې شهزادګۍ او خورا نورو په اند ،ددغه شان يوه وړانديز نه منل به،ښه کار نه وي.ددې خبر په اورېدو ،دنيکولای لومړنی غبرګون پر سونيا قهرېدل و ،هغه، وويل:

- خورا ښه دی !بې سارې وړانديز دی.بايد دماشتوب وعدې او ژبې هېرې شي او دغه وړانديز ومنل شي، خو لا خپلې خبرې يې پای ته نه وې رسولې چې ناتاشا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خو سونیا ،هغه ته د نه ځواب ورکړ، خورا سخت او تریخ ځواب.

ناتاشه تر یو شېبې ځنډ نه وروسته زیاته کړه:

- سونیا هغه ته وویل چې، هغې ته بل څوک ګران دی. نیکولای په زړه کې وویل:

-دا ښکاره خبره ده، چې زما سونیا بله خبره نه شوه کولای.

ناتاشې غږ کړ:

- پوهېږئ ! هرڅومره چې مورجانې ټینګار وکړ، چې دغه وړاندیز ومني، خو سونیا په غوڅه د نه منلو ځواب ورکړ. هو کې ته خو پوهېږې، سونیا چې کله یوه خبره وکړي، هغه بیا نه بدلېږي.

نیکولای له ملامتیٔ نه په ډکه ژبه وویل:

-مورجانې هم ټینګار وکړ؟

ناتاشې وویل:

- هو کې !ګوره نیکولای جانه ! په قاریږې به نه او زه ډاډمنه یم چې نه قاریږي.زه ډ اډمنه یم چې له سونیا سره واده نه کوي، خو په دې نه پوهېږم چې ولې؟خو سره له دې هم غواړم په دې اړه له سونیا سره وغږېږم.

هغه لږه وموسېده او زیاته یې کړه:

- دا سونیا بیا څه نازولې نجلې ده؟

ناتاشا ورور مچ کړ، پاڅېده او په منډه کې یې وویل:

-او دا نازولې به زه اوس درته راولېږم.

شېبه لا نه وه تېره، ډارشوي، رنګ الوتې او ملامته ښېره سونیا کوټې ته راننوت.نیکولای ور وړاندې شو ،دهغې لاس یې راونیو او هغه یې ښکل کړ.د پوح نه د نیکولای د راستنېدو نه وروسته دا لومړی ځل و، چې سونیا او نیکولای وخت پیدا کړي و، چې سره یوازې او د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينې په اړه د زړه خواله وکړي.نيکولای لومړی زړه نازړه و ،خو وروسته يې په خورا زړورتيا او ډاډمن آواز وويل:

-سونيا تاسو څه کوئ؟دا رښتيا ده چې ته د واده لپاره د دغه شان يو ځوان وړانديز نه منې.داسې تصور کوم چې له هغه سره به ګډه ژوند نه يوازې نيکمرغي ،بلکې يوه ګټوره چاره وي.هغه خورا ښه او مېړنی ځوان دی.هغه زما ملګری دی.

سونيا د هغه خبرې پرې او په تلوار يې وويل:

-ما هغه ته د نه ځواب ورکړ.هوکې !وخته مې د نه ځواب ورکړ.

-ګوره !که دې زما له کبله ځواب ورکړی وي،زه ډار ېږم چې زه خو...

سونيا بيا د هغه خبرې پرې کړې او بيا په ډار شوي،رنګ الوتي او ملامته غلچک هغه ته ځير شوه ،هغې زياته کړه:

-ګوره نيکولای جانه !ما ته دا خبرې مه کوه.

-نه،نه،بايد درته ووايم.که څه هم کېدای شي زما دا خبرې،د ځانساتنې او غرور نه وي،خوښه به دا وي چې سپينه يې درته ووايم.که د واده په اړه ته د دولو خوف دغه وړانديز نه منې،زه ځان مسوول ګڼم تا ته ووايم:

-که څه هم تصور کوم چې تربل هر چا ما ته ګرانه يې،خو غواړم ووايم...

سونيا چې لکه لمبه داسې اور اخېستې و ،وويل:

-بس دې،زما لپاره ستا همدا خبرې بس دي.

- نه داسې نه ده ،زه لا تر اوسه پورې له زر واره زيات مين شوی يم.که څه هم هغه مينه،احساس او لېوالتيا چې له تا سره يې لرم،له بل هېڅ چاسره مې نه ده احساس کړې،خو زه لا تر اوسه د واده لپاره خورا ځوان يم.هوکې !رښتيا له ټولو نه د پام وړ خبره خو لا داده چې زما مور،له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسره زما د واده خبره اصلا نه غواړي واوري.لنډه به يې درته ووايم،د هېڅ شي ژبه او عده درکولای نه شم.زه هيله لرم چې د واده په اړه...او په خورا سختۍ يې د خپل ملګري(دولوخوف ) نوم ياد کړ... او وې ويل چې،ته بايد د دولوخوف د وړانديز په اړه فکر وکړې.

-ماته هېڅکله داسې خبرې مه کوه !زه اصلا هېڅ نه غواړم او نه يې هيله لرم.ته هم لکه وروردا سې راته ګران يې او تل به همداسې راته ګران واوسې.او نور نو زه هېڅ شي نه غواړم.

نيکولای بيا د هغې لاس ښکل او وې ويل:

-ته ښاپيرۍ يې،ښاپيرۍ !زه ستا د مينې وړتيا نه لرم.خو په دې ډاربږم چې تا تېر نه باسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

د "یُو ګل" د کورنځایز بنډارونو او په هغې کې نڅاوو، د خوښۍ او نڅاوو له پلوه بې سارې نوم درلود. دا خبره نه یوازې هغو میندو کوله چې پېغلو یې خپلې نوې زده کړې نڅاوي په خورا ښکلې بڼه ښودلې، بلکې خپله پېغلو او زلمو هم چې له خوښۍ او ذوق نه تر لوېدو پورې نڅېدل هم یادوله.

له تنکو زلمو او پېغلو نه پرته هغو مشرانو چې د غو شان نڅاوو ته به یې خپل راتګ پرنورو منت ګاڼه، هم همدا اسې ګڼله او په ټولو دغو نڅایزو بنډارونو کې به یې د خوښۍ او نیکمرغۍ خورا ښې شېبې موندلې. هغه کال په همدې بنډارونو کې، څو نڅېدونکو جوړو وادونو سره کړي وو. د کورچاکوف د کورنۍ دوو شهزادګیو د همدې نڅاوو له برکته، ریباران پیدا او واده یې کړی و. د ځوانانو د همدې پېژند ګلوۍ هم د دغه بنډار نامه ته لا ښه نوم ورکړی و.

د دغو بنډارونو ځانګړتیا دا وه چې، هغه کوم مېلمه پال کوربه یا کوربنه نه درلوده او یوازې په خپله "یو ګل" لکه یو وزرې مرغه په خورا پاک زړه هر پلو الوته او هرځای ته به یې په خورا مینې ځان رساوه، د مېلمنو درناوي او مېلمه پالنه یې کوله، هغه د ټولو مېلمنو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زده کړې په بدل کې پیسې اخیستې.

ددې بنډارونو بله ځانګړتیا لا دا وه، چې په هغه کې، هغو دیارلس کلنو، ځلورلس کلنو پېغلو ګډون کاوه چې دلومړي ځل لپاره به یې دنڅا اوږدو کمیسونه اغوستل او دهغوی اصلي موخه نڅېدل، ښه او په خوندونو کې وخت تېرول و.

ټولې نڅېدونکې، له خورا لږ شمېر هغو نه پرته، یا خورا ښکلې وې، یا یې دا ښودله چې ښکلې دي او یا هم دځوانۍ نشې او مستۍ نه دهغو خوځېدا او نڅاوو، هغه لا پسې ښکلې ښودلې. کله کله به ددغو پېغلو له منځه خورا ښې زده کوونکې له دوو شالونو او دستمالونو سره ګډېدلې. ددغو ډول نڅېدونکو په منځ کې ناتاشا دخپلو ښکلو نڅاوو د ځانګړې خوځېدا له برکته، تر نورو نه په غورو کې غوره وه. خو په نننې بنډار کې له "جزاکوسز "(اسکاتلندي نڅا )او "مازروکا "(بالتیکي نڅا )نه پرته دنورو هغو اټکل نه کېده. د مازروکا نڅا په دې وروستیو وختونو کې، نوې دود شوې وه. "یوګل" دخپل دغه بنډار لپاره، د بیزاخوف د ماڼۍ یو ستر مېلمستون نیولی و. ټولو په یوه آواز ویل چې، دغه بنډار په هغه کې نڅاوې، خوښۍ او کړه وړه، ټول بې ساري وو. په هغه کې نه یوازې د ښکلو نجونو، شمېر بې شمېره وو بلکې درستوف دکورنۍ پېغلو خو، خپل دپام وړ او لوړ ځای درلود. په هغه ماښام درستوف د کورنۍ دواړه پېغلې خورا نیکمرغه او په بې ساري توګه خوشاله وې. سونیا په هغه شپه، د دولوخوف له خواهغې ته د واده د وړاندیز او ددې له خوا د نه منلو، له نیکولای سره د پټو خبرو نه سختنه ویاړمنه او مغروره بریښېده. هغه لا دغه بنډاره ته له راتګه دمخه په کورکې له خوښۍ نه په نڅېدو وه، چورلیده، خوځېده او خپلې چوپړې ته یې دا وخت نه ورکاوه چې څنې یې ورجوړې کړي، دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر ګې له خوښۍ او نیکمرغي نه ځلېدلې.

ناتاشا هم دلومړي ځل لپاره، دنځا دا رنګه اوږد کمیس اغوست او د ربنتني نڅا په یوه بنډار کې یې ګډون کاوه.هغه هم تر سونیا نه، نه یوازې څه کم نه ویارېده، بلکې ځان یې تر هغې لا نیکمرغه باله.دواړو ،نازکه، بې ساري سپین اوږده کمیسونه چې په ګلابي چرمو او ریښکیو ګاڼل شوي وو ، اغوستي وو.

ناتاشا بنډار ته د راننوتو سره سم مینه شوه.هو کې هغه مین شوه ،خو نه په یوه ځانګړي چا ،بلکې پر ټولو.هر چا ته یې چې سترګې ور اوښتې، پر هغه به یې زړه بایلود.هغې سونیا ته ورمنډې کړې او وې ویل:

-آخ چې څومره هر څه ښکلي دي !

نیکولای او دینیسوف،دواړو ،دنڅا په دغه تالار کې چکر واهه او نڅېدونکو پېغلو ته یې په خورا ځیر او مینه ناک ډول کتل،داسې چې ګواکې له خورا خواخوږۍ او مهربانۍ نه یې نه غوښتل له هغو نه غېږ تاو کړي.

دینیسوف وویل:

- چې څومره مالګینه ده !څومره ښکلې ده !

-څوک یادوئ؟

-دینیسوف په تلوار ځواب ورکړ:

-شهزادګۍ ناتاشا ،دینیسوف، هر لنډ ځنډ نه وروسته زیاته کړه:

-څه بې سارې ناڅي،څه ښکلې خوځېږي !

-دا څوک د یادې دو دي؟

-دینیسوف په چټکۍ وویل:

-خور دې،نور نو څوک دیاددې دو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رستوف له ځانسره موسکی شو.

"یوګل "چې په ونه ټیټ او کمکی سړی و ،نیکولای ته ورنږدې شو او وې ویل:

- ګرانه !تاسو خوزما یوترټولو غوره زده کوونکی یاست،ښه به دا وي چې لږ ونځېږئ،ګورئ !څه ښکلې دلته ښوري ،څه محشرېې جوړ کړی دی.

"یوګل " له دینیسوف نه هم چې د هغه پخواني زده کوونکی و ،دې ته ورته غوښتنه وکړه.

دینیسوف وویل:

نه !زما مهربانه استاده !ښه به دا وي چې زه هسې د نندارچیانو په ډله کې کېنم.ایا ستا په یاد نه دي چې د زده کړې په وخت کې زه څومره بدغونی وم؟دا سې بدغونی چې ستا له پوهې نه مې هم ګټه نه اخېسته.

"یوګل " سمدلاسه له هغه سره د خواخوږۍ ژبه پرانسته او وې ویل:

-نه !نه !هېڅکله دا سې نه وه.که څه هم لږ بدغونی شانته وې،خو خورا با استعداده او پیاوړی زده کوونکی وې.

د سازیانو ډلې،د سازونو غوږونه تاو کړل او د "مازورکا "نغمه یې،چې په هغو ورځو کې دود شوې وه،وغږوله.نیکولای نه شو کولای،نڅا ته د "یوګل "بلنه ونه مني.هغه سونیا هم نڅېدو ته ورو بلله.دینیسوف،د څو بوډیو ترڅنګ کېناست،خپله توره یې،څنګل ته کېښوده او پر هغه یې څنګل ولګوله.هغه بوډیو ته څه خندوونکې ټوکې،ټکالې پیل کړې.پښې یې د غږېدونکې سندرې د وزن او نغمې سره په ځمکه وهلې او بوډیو ته یې د ټوکو ویلو سره هممهاله،په خور ځیر د ځوانانو نڅېدو ته کتل. "یوګل " له ناتاشې سره،چې ده د زده کوونکو په منځ کې د خپل ویاړ او غرور نښه بلله،د نورو ټولو جوړو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې ګډېدل...دینیسوف په ناتاشې سترګې خښې کړې وې او دخپلې تورې له څوکې نه یې داسې هرڅه څارل، چې تا به ویل، اوس به چغه کړي. دهغه نه نخېدل، له دې کبله و ، چې نه غواړي وناځي، نه داچې نځېدل یې زده نه دي. دنځېدونکو له منځه یې، پر یوچا غږ وکړ چې ده ته ورنږدې شي. هغه، هغه ته وویل:

-دا نځېدل نه دي، چې ته یې کوي، ایا دا پولندي "مازورکای "ده، چې ته یې کوئ؟هلته وګوره !شهزادګۍ ناتاشا څنګه ناځي ،څنګه اوړي، راوړي.

نیکولای په دې خبره ښه پوهېده چې، دینیسوف، ان په پولند کې دخپل مازروکایي نڅا له امله پېژندل شوی اوښه نوم یې ګټلی دی، نوځکه ناتاشې ته ورنږدې شو او هغې ته یې وویل:

- ولاړه شه او له ځانسره دینیسوف جوړه کړه، وګوره چې څنګه ناځي، معجزې کوي.

کله چې وار بیا ناتاشې ته ورسېد ، پاڅېده، ښکلي بوټونه، نازک کالي، په نرمو نرمو ګامونو یوازې له نازاو ادآ نه ډکه په داسې نخرو دتالار له یوې خوانه بلې خواته لاړه، چې تا به ویل، ځمکې ته وایي، له دې نه مننه وکړي، چې دا پرې روانه ده. دې هغه ځای ته چې دینیسوف ناست و ، ځان ورساوه. دهغې دې ته پام شو ، چې ټول مېلمانه دې ته ګوري. نیکولای لیدل، چې ناتاشا او دینیسوف په خندا خندا له یوبل سره غږېږي، خو دناتاشا دینیسوف دناتاشا بلنه ونه منله. دینیسوف دهغوی خواته ورمنډې کړل. ناتاشا وویل:

-هیله کوم، هیله کوم، واسیلي دیمتریوویچ !درځه چې ځو !درځۍ چې وناڅو !

دینیسوف، ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ګرانې شهزادګۍ !اما به وبښې.زه نه شم کولای،هغه نه شم کولای،ما وبښې.

نیکولای وویل:

-واسکا (په روسي کې واسیلي ته له نازه واسکا وایي )نخرې پرېږده،درځه !

دینیسوف وویل:

-داسې بریښي چې په زور یا زاریو ،په هرڅه چې وي،نن واسکا لوبو ته سره لمسوي.

ناتاشا وویل:

-ددې په بدل کې به یوه شپه تر سهاره،درته سندرې ووایم.دینیسوف پاڅېد ،خپله یې توره یې خلاصه او لرې کړه،هغه ویل:

-کوډګره ده،هرڅه چې غواړي،په مایي کوي.

دخوکیو له شا نه راتېر او دنڅا مېدان ته ورګډ شو.دخپلې جوړې لاس یې ټینګ راونیو ،سریې هسک کړ،خپلې دواړه پښې یې ټینګې او برابرې کړې او دنڅا د پیل لپاره رارسېدونکې شېبې ته سترګه په لاره شو.

د رستوف ټیټه ونه،یو د سورلۍ اوبل دنڅا په وخت کې هېڅ نه معلومېده.په دې دواړو وختونو کې هماغه شان ځوان او تاندبریښېده،لکه ده خپله چې ځان ځوان احساسا.په هغه شېبه کې چې دنڅا دنغمې شرنګ ته سترګه په لاره و ،په خورا پرتم یې مخ واړاوه ،په یوې خوږې موسکا یې خپلې جوړې ته وکتل ،ناڅاپه یې دپښو پرڅوکو ځمکه وډبوله او دیوه توپ په شان والوت.هغه دالوتونکي مرغه په څېر په چورلیدونکې بڼه والوت.هغه ده سره خپله نڅېدونکې پېغله جوړه،په لاړښودونکي بڼه او توان له ځانسره خوځوله.هغه نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالار په خورا چوپيتيا ،دا سې چې ګوا کې الـوزي وواهـه.هغـه چورليـده او داسې چورليده چې تا به ويل،څوكۍ نه ويني او مخامخ پـر هغـو ور الوزي.ناڅا په به يې پښې سره جلا کړې او بيا به يې دبوټو د وسپنيزو تلونونه پړق جګ کړ او پـه پونـدو بـه ودرېـد.يـوه شېبه بـه ځاى پـر ځاى ولاړ او بيـا بـه يـې دنغمـې پـه شـرنګ سـره لـه ځمکـې نـه ګـرز پورتـه شـو...ناتاشې بـه يـوازې دتصـورله مخې،دهغـه دبلې خوځېـدا دلـوري اټکـل کـاوه.هغـې پرتـه لـه هغـه چې پـوه شـى،خپله خوځېدا ،دهغـه لـه خوځېـدا سـره برابرولـه او دهغـه لارښـونو او خوځېدا ووتـه بـه يـې ځـان سپاره...په پاى کې هغـه خپله جوړه(ناتاشا )دنڅا دپيل ځاى تـه برابـر کـړه.پـه خورا نـاز،خو پـه چټکۍ يـې هغـه وچورلولـه او پونـدې يـې پـر ځمکه ووهلې.د بوټونه نه يې ګرز جګ کړ او دهغـې پـه وړانـدې يـې مـلا خمـه کـړه.ناتاشـا پـه دې حيـرت کـې تللـې وه،چې دڅـان پـه وړانـدې يـې شوى درناوي هېر کړى و او پرته له هغه چې پـوه شـې،پـه څيـر او حيـرت يې،هغه ته کتل او دهغې له موسکا نه داسې برېښېده چې ګوا کې هغـه پېژني،هغې وويل:

-دا څه شي و؟

کـه څـه هـم "يوګـل" د دينيسـوف،دا ډول نڅا ،اصـيله "مازورکـا "نـه ګڼله،خو بيا هم ټولو نندارچيانو په خورا تلوسې او درناوي،دهغه دهنـر هرکلى وکړ او هرې پېغلې هغه ته دنڅېدو بلنه ورکولـه.هرې بـوډۍ تـه دده دنڅـا او مسـتۍ پـه ليـدو دځـوانۍ شـېبې وريـادې شـوې وې او دلرغوني پولند په يادونو کې ډوبې شوې وې...دينيسوف چې لـه سـتړيا تـک سـور شـوى و ،پـه دسـتمال يـې خـولې پا کولې،دناتاشـا ترڅنـګ کېناست او دبنډار تر پاى ته رسېدو پورې له هغې نه لرې نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

رستوف تر دغي پېښي دوه ورځي وروسته هم دولوخوف، بيا په خپل کور کي ونه ليد او د هغه کورته هم چي ورته، هغه يې پيدا کولی نه شو. دربيمه ورځ وه، چي د هغه يو ليک ده ته راورسېد، د هغه په ليک کي ليکل شوي وو:

"د هغو لاملونه له امله چي خپله پوهېږي، نور ستاسو کورته نه درځم. دامي ښه وګڼله چي پوځ ته ستون شم. له همدې امله مې نن ماښام، د خدای په امانۍ په پلمه خپل نږدې دوستانو او ملګرو ته يوه مېلمستيا جوړه کړې ده، له تاسو نه هم هيله کوم چي نن ماښام به ((انګليس کلوب)) ته راشي".

رستوف، هغه ماښام د خپلي ټولي کورنۍ په ملتيا تياتر ته تللی و. د تياتر د ننداري تر پای ته رسېدو وروسته، په لسو بجو انګليسي کلوب ته ورغي. نيکولای چي هلته ورسېد، د چوپړانو له خوا د هغه کلوب تر ټولو غوره تالار ته، چي په بشپړه توګه د دولوخوف له خوا نيول شوی و، بدرګه شو.

د ميز تر شا د دولوخوف په ګډون، شل تنه ناست وو. د ميز دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرونو ته، دوه شمعې لګېدلې وې. يو شمېر سره زر او پېسې د دولوخوف مخې ته پرتې وې هغه د جوارۍ، هغې جوارۍ لپاره چې کېدونکې وه د بانکوالۍ دنده اخېستې وه. له سونيا نه د کوژدې د هيلې د نه منلو نه وروسته، نور، نو دولوخوف او نيکولای سره ليدلي نه و او له هغه سره د کتنې ليدنې حالت، هغه سخت زوراوه او نه پوهېده چې څنګه به وي.

نيکولای رستوف، چې تاکل شوي مېلمستون ته ورننوت، دولوخوف په خورا ساړه غلچک هغه ته وروکتل، خو داسې بربښېده چې ډېره موده کېږي ده ته سترګه په لاره وي، دولوخوف وويل:

-ډېره موده کېده چې ديدن مو نه و شوی. له راتګ نه دې مننه. دغه لوبه چې پای ته ورسوم، ايلوشکا او سندرغاړي راتلونکي دي. رستوف په تريو تندي وويل:

-څو ځلې دې کورته درغلم، پيدا مې نه کړې.

دولوخوف هېڅ ځواب ورنه کړ، خو څوشېبې وروسته يې وويل:

-کولای شې پيسې کېږدې. له دې خبرې سره سم، رستوف ته د دولوخوف هغه عجيبې خبرې وريادې شوې، چې يو وخت يې ورته ويلې و:

-يوازې احمقان....

دولوخوف، ګواکې چې د هغه په زړه کې دا تېره شوې خبره اورېدلې وي، وموسېد او وې ويل:

-داسې بريښي چې له ډاره ماسره لوبې کوې.

رستوف، د هغه له موسکا نه داسې پوه شو، چې د هغه طبيعت، هغې ورځې ته ورته دی چې، په انګليس کلوب کې يې له پېير سره شخړه رامنځ ته کړه. رستوف دا تصور هم وکړ چې د دولوخف، عجيب او وران

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعت، د هغه چا حالت ته ورته دی، چې غواړي په یو عجیب غریب، په تېره بیا کړکیچنو کړو سره، له هغه نه ځان ژغوري.

د هغه هم طبیعت ختېه شو. په خیال کې په داسې یوې خبرې یا ټوکې پسې ګرځېده، چې د دولوخوف خبرې ته ځواب شي، خو هېڅ څه یې نه موندل. مګر مخکې له هغه چې رستنوف هغه ته ځواب پیدا کړي، هغه مخامخ دده سترګو ته ځیر شو او په خورا نرم او آرام آواز یې ورته وویل:

- یاد بړي دې چې یوه ورځ د جوارۍ په اړه سره غږېدو او ویل مو چې په رښتیا هم جواري د احمقانو کار دی، ځوک یې د نیکمرغۍ په هیله جواري کوي، ښه به دا وي چې دا قمار ووهل شي او غواړم نن دا وآزمایم.

رستوف، وویل:

-دولوخوف چې د قطعې پاڼې نوې خلاصې کړې وې، هغه یې سره ووهلې او زیاته یې کړه:

- خوښه به دا وي چې ته جواري ونه کړئ. ښه ښاغلو ! کېږدئ ! پیسې کېږدئ !

خپلې مخې ته پرتې پیسې یې سره راټولې کړې او دې ته چمتو شو چې د قطعو پاڼې وویشي. رستوف چې دده څنګ ته ناست و، لومړی یې د جوارۍ تکل نه لاره. دولوخوف، بیا هغه ته وکتل او وې ویل:

- ښه !نو ته جواري نه کوئ؟

یوه عجیبه غریبه تلوسه یې په زړه کې راوتوخونېده، یوه پاڼه یې راپورته او یو څه لږ یې پیسې پرې ورکېښودې او وې ویل:

- له ځانسره مې پیسې نه دي راوړي.

- هېڅ پروا نه لرو، بې پیسو دې منو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف، پنځه روبله مېدان ته واچول، هغه يې بايلودل.بيا يې پنځه روبله کېښودل، هغه يې هم بايلودل او دغه کارلس واري هم داسې تکرار شو.

دولوخوف، چې لوبې ته همداسې دوام ورکړ، لږ څه مودې نه وروسته يې وويل:

- ښاغلو !له تاسو نه هيله کوم چې پر قطعو مو نقدي پيسې کېږدئ، کنه وېرېږم چې تېروتنه ونه شي.

دجواګرو نه يوه، وويل:

- ښه به دا وي چې پر ژبه باور وکړو، څه دنقدو خبرې کوئ ؟

دولوخوف، ځواب ورکړ:

-باور دې پر خپل ځای وي، خو زه ويرېږم چې تېروتنه ونه شي.بيا يې مخ رستوف ته ور واړاوه او زياته يې کړه:

- ته يې غم مه خوره !لوبه کوه ! حسابونه به، بيا وروسته کوو.

جواري روانه وه او چوپړانو پرله پسې جامونه ډکول.رستوف همداسې پرله پسې پاڼې بايلودې او پور يې اته سوو روبلونو ته ورسېد.

رستوف پرله پسې هره پاڼه بايلوده او پوره اته سوو روبلو ته ورسېد.هغه غوښتل چې ددغه ټول پورپه اندازه يو وار پيسې کېږدي...خو په لومړۍ شېبه کې يې بيا جام ورته ډک کړ، نو ځکه دخپل دغه تکل نه لاس په سر شو او يوازې شل روبله يې پر قطعې کېښودل.

دولوخوف چې اصلا يې رستوف ته سترګې هم نه اړولې، وويل:

- ګوره !له خپل تکل نه مه تېرېږه، کېږده، څومره چې کولای شې، کېږده.څومره چې ډېرې کېږدئ، هومره به ژر خپل پورنه پوره کړې.ته ښه وينې چې څوک يې ګټي، پيسې سمدلاسه ورکوم، خو ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کتې.ګوره !ته خو به له مانه ډاربږي نه؟

رستوف دهغه ومنله،نو هغه وه چې ویشل شوې قطعه یې راپورته او دهغې پر یوې څنډې یې ولیکل،اته سوه روبله.بیا ئې ددغه شان زیاتو پیسو دلوبې هرڅه او ټولې ځانګړتیاوې،ښې سره یادې کړې،یو ګچې تباشیر یې را واخیست او په لیکنې بڼه یې پر قطعې بیا په څرګنده بڼه ولیکل،اته سوه روبله او لوبه پیل شوه.له هغه سره یې سم ډک شوي جام پر سر واړاوه او د دولوخوف دخبرې ځواب ته یې یوه موسکا ور ولېږله...په خورا ګبنې او چټکۍ یې د دولوخوف لاسونو ته چې قطعې په ځانګړي مهارت ویشلې،کتل.وړل یا بایلل.دا وار په قطعه کې بخت دهغه لپاره خورا دپام وړ و.تېره اونۍ دیکشنبې په ورځ ګراف ایلیا اندروویچ،هغه ته دوه زره روبله ورکړي و.که څه هم هغه ده ته،دمالي ستونزو کومه یادونه نه وه کړې،خو دا وار بې داسې ښودلې وه چې د مي تر میاشتې به نورې پیسې نه ورکوي.هغه له نیکولای نه دا هیله هم کړې وه،چې دا وار د پیسو په خرڅ کې له خورا پاملرنې نه کار واخلي.نیکولای هغه ته ویلي و،چې دا دوه زره روبله هم خورا ډېرې پیسې دي او تر راتلونکي پسرلي به نور له ده نه نورې پیسې نه غواړي. اوس له هغو دوو زره نه،یوزره دوه سوه روبله پاتې و.مګر دا وار دده د قطعې بایلودل دده لپاره یو زرو اته سوه روبله تمامېدل.دې خبرې دا معني لرله،چې پرخپلې هغې وعدې هم سترګې پټې کړي چې ویلي و، تر راتلونکي پسرلي به نورې پیسې نه غواړي.په داسې حال کې چې زړه یې په ګوګل کې درزېده،ددولوخوف لاسونو ته یې کتل او زړه یې ویل:هله ژر کوه !دا دبخت پاڼه ماته راکړه.هله ژر کوه !غواړم وې ګټم،پیسې مې بېرته وګټم او کورته مخه کړم.او هلته له دینیسوف،ناتاشې او سونیا سره په کراره مابنامنې وخورم.هغه په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دا هم ویلي، که دا واریې له جواریو په خیر خلاص شي، بیا به به تول ژوند کې هم قطعو ته لاس ور نه وړي....هغه ته د کورنۍ نیکمرغي تر سترګو کېده، خو هغه پرله پسې او په ګبنۍ د دولوخوف لاسونو ته چې پاڼې یې په مهارت چورلولې، کتل...دولوخوف، بیا وویل:

- ښه نو، ته له ماسره جوارۍ نه ډارېږې؟هغه داسې څرګنده کړه چې ګواکې غواړي کومه خندنۍ ټوکه ووایي، نوځکه یې د قطعو پاڼې وارتېرلې، پرکټ یې ډډه ولګوله، له ملنډو ډکه موسکا یې پرشونډو خوره شوه او وې ویل:

- هوکې ښاغلو! په مسکو کې مې له خوره شوو آوازو نه اورېدلي دي، چې ګواکې زه په قطعو کې دوکې کوم.دا به تاسو ته په ډاګه ووایم، چې زما دوکې به په ځير سره څاریې.رستوف وویل:

-درڅه !پاڼې اړوه.

دولوخوف وویل:

- توبه دې وي، دمسکو له دې بدایانو نه دې توبه وي.

او بیـــا یـــې قطعـــې پورتـــه کړې، هغـــه یـــې وچورلـــولې او پـــه اړولو، رااړولو یې پیل وکړ.د پاڼو د اړولو سره یې چغه کړل:د مسکو لـه دې ښځو نه دې توبه وي.

رستوف نبږدې و، چې چغه کړي، د منګولې یې په څنو کې ننوتلې وې.او هغه پاڼه چې دده په کار وه، لا د وختـه ښکاره شوې وې، چې ده یې د ورکولو توان درلود.

دولوخوف په تند غلچک، رستوف ته ور وکتل او وې ویل:

- اپلتې مه وایه،او لوچکي مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

یـو نیم سـاعت وروسـتـه، د میز تـر شـا ، زیـاترو نـاسـتو مېلمنـو نـور نـو د قطعولوبو تـه هـومره ځکـه پـام نـه کـاوه چې، هغـوی د الـوبـه د دولـو خـوف او نیکـولای ترمنځ خپلمنځي لوبه ګڼله.ټولـه لـوبـه پـه نیکـولای رسـتوف تـوده وه.د هغـه پـور نـور نـو یـوزره او شـپږ سـوه نـه، بلکې آن شمېرنه یې د کاغذ پر مخ له څو پاڼو نـه اوښـتې او انـدازه یې لسـو زرو تـه رسـېدلې وه.هغه داسې تصور کاوه چې نه لس زره بلکې کېداى شي، پنځلس زره وي، خو پـه اصل کې خبره له شلو زرو روبلونـو نـه اوښـتې وه.دولوخوف هم نور نه خپلو خبرو ته پام کاوه ، نه لوبې ته او نـه یې هم څه ویـل.هغـه د رستوف لاسونه ته په خورا ځیر کتل، خو د خپلو پورونـو حسـاب یې هم نـه هېـراوه.رسـتوف پریکـړه کـړې وه، تـر هغـه پـورې جـوارى تـه دوام ورکړي، چـې دده پورونـه، درې څلویښـت زرو روبلونـو تـه ورسـېږي.دا شمېره یې ځکـه خوښـه کـړې وه چې دد ه او سـونیا د عمـر کلونه، پـه ګـډه درې څلویښت کلونه کېدل.

رستوف.سر له دواړو خوانه په منګولـو کـې کلـک نیـولى و او د هغـه میز شاتـه چې سر یې د ګچ لـه لیکلـو تـک سـپین، د شـرابو لـه تـویـېدونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داغ داغ و او ګډې وډې ډېرې قطعې پرې پرتې وې، ناست و. ګډو وډو بې شمېره خیالونو سخت زوراوه... چرتونو او خیالونو پسې اخېستې و، خو په کومه شېبه کې یې وویل:

- شپږ سوه روبله!... توس، درې شاه... نه نه، که دا وارې بایلم، بیا یې پوره کول شوني نه دي... خپل آرام ژوند مې درلود... دارامۍ لپاره یوازې یوه ښه قطعه په کار ده... نه پوهېږم دا لېوني له مانه څه غواړي؟ کله به یې زیاتې روپۍ کېښودې، خو دولوخوف به ونه منله او د پیسو اندازه به یې خپله وټاکله او نیکولای اړ و چې، هغه ته غاړه کېږدي. کله به یې لاس دعا ته پورته کړل او خدای نه به یې مرسته غوښته، هغه شان مرسته چې د جګړې په سختو شېبو کې یې د امشتیتنسکي، د پله پر سر له خدایه نه غوښتلې وه. کله به یې له ځانسره ویل:

که دا واریې وکولای شول کومه قطعه تېره کړي او دی له بایلودو وژغوري... کله به یې نورو جوارګرو ته په نانواتو سترګو کتل، کله به یې د دولوخوف څېرې ته چې تر واورو سره برېښېده، کتل او هڅه یې کوله هغه ولولې او پوه شي د هغه په څېره او سترګو کې څه رازونه نغښتي دي.

- هغه په زړه کې وویل:

- هغه پوهېږي چې د غه بایلود ل، ما ته څومره ګرانه تمامېږي. تصور کوم، هغه زما بربادي نه غواړي؟ هغه خو زما ملګری و، کنه؟ ما ته هم هغه خورا ګران دی. هغه لږ فکره وروسته وویل:

-نه، نه هغه هېڅ ملامت نه دی، هغه په دې کې څه ملامت دی، چې بخت یې یاري کوي، نو د چا ګناه ده. زه هم ملامت نه یم، هېڅ چا ته مې بد په زړه کې نه شته. نه مې څوک زورولي، نه مې څوک وژلي، نه مې چا ته سپکاوی کړی دی. نو دا بده بلا او بد مرغي په ما ولې راغلې ده؟ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بد مرغي څه وخت پیل شوې ده؟هو کې !البته له هغې شېبې نه چې دې میز ته په دې تمه نېږدې شوم چې یو سل روبله وګټم.د خپلې مور د کلیزې په ویاړ هغې ته یوه کڅوړه واخلم او کورته لاړ شم.خدایه چې څومره نیکمرغه،آزاد او خوشاله وم.هغه وخت زه په دې نه پوهېدم چې څومره نیکمرغه وم،څنګه او څه وخت هغه نیکمرغي پای ته ورسېده. او څنګه او څه وخت دغه وحشتناکه بدمرغي پیل شوه؟دغه حالت څنګه راپیل شو؟زه دهمدې میز تر شا کېناستم،همداسې مې د قطعو پـــاڼې را واخېســـتې،هغې مـــې ترمخـــې واچـــولې او دې چټکـــو خوځېدونکو لاسونو ته په کتو شوم.دا بدلون له کومې شېبې رامنځ ته شو؟دا بدلون څه بدلون دی؟زه هماغه شان روغ،پیاوړی او پر هماغه ځای ناست یم.نه،نه دا ناشونې خبره ده،هرو مرو هرڅه په خوښۍ او خیر پای ته رسېږي.

سره له هغه چې د کوټې هوا هومره توده نه وه،خو هغه تک سور او په خولو کې لوند خیشت و.دهغه څېره وحشت او ډار پسې اخېستې وه،په تېره بیا دهغو هڅو له کبله چې ده د ارامۍ او ډاډمنتوب لپاره ښودلې،هغه خورا درحم وړ برېښېده.

دهغه دبایلوده اندازه،بدمرغه شمېرې،یعنې درې څلویښت زرو ته ورسېده...په هغه شېبه کې چې رستوف په یوه قطعه کې درې زره روبله وګټل او هغه یې بیا لوبې ته وروارتېږل...دولوخوف په خورا چټکۍ په شمېرنه پیل وکړ...او وې ویل:

- نور نو ناوخته او ماښام دی،ناوخته ده،دماښامنۍ وخت دی،هغه دې جټان په خپله جټیالۍ ژبه څه سره وایي او له ډېرو سړو نه دننه راننوتل،دا توربخن نارینه او ښځې...

رستوف،پوه شو چې نور نو هیله نه شته،خوبیایې هم په خورا بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروا یې ووېل:

- ځنګه؟نوره نولو به نه کوئ؟

دا سې بربښېده چې په لوبه کې نور نو هېڅ خوند پاتې نه و، هغه زياته کړه:

-افسوس دی، خور افسوس دی، چې سمه لوبه نه کوي، کنه سختې ښې پانې مې تر لاسه شوي دي.

دولوخوف څه ونه ويل، مګر په زړه کې يې تېره شوه:

-هرڅه پای ته ورسېدل، اوس ددې کار يوازنۍ چاره له تندي نه ديوه ګرز جګول دي.

خو په دې شېبه کې يې په دا سې غږ چې له هغه نه، دخوښۍ انګازې خورې وې، ووېل:

-ښه به دا وي چې يوه بله پانه هم را کړئ...

دولوخوف ووېل:

-ګرانه !تاسو زما درې ځلويښت زره روبله پوروړي ياستئ.

دا يې ووېل، ځان يې لږ شاته کړ، پاڅېد او وې ويل:

- پوهېږئ چې سړی له دومره ځای پر ځای ناستې نه څومره ستړی کېږي.

رستوف هم ووېل:

- هو کې زه هم خورا ستومانه شوي يم.

دولوخوف ددې لپاره چې خپل پور بيا ورياد کړي، په ټوکه يې ووېل:

-ځنګه ګرانه، منکرېږې، که پور به دې پرې کړې؟

- رستوف، له قهره تک سور شو، وا يشېد، دولوخوف يې بلې کوټې نه بوت او هغه ته يې ووېل:

- زه نه شم کولای، دا ټول پور يوځای او په يو وار درکړم.ښه به دا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له ما سره يې قسط کړې، چې په وار وار يې در کړم. څنګه منې يې کنه؟

دولوخوف چې مخامخ د نيکولای رستوف سترګو ته ځير و، وويل:

- ګوره رستوفه! هغه متل دې اورېدلی او کنه چې وايي: څوک يې چې مينه کې ګټي، هغه يې جوارۍ کې بايلي. زه خو پوهېږم سونيا په تا مينه ده، نو قمار خو به خود بايلې.

د دې خبرې په اورېدو، د رستوف په سر کې ګړز شو او له ځانسره يې وويل:

- څومره وحشتناکه ده چې سړی، ځان د داسې يو دوکمار په منګولو کې ويني.

نيکولای رستوف په دې ښه پوهېده چې د دغه خبر اورېدل به يې مور او پلار ته په څه بيه تمام شي، هغوی ته به څه يو لوی زورونکی ګوزار وي. هغه په دې ښه پوهېده، چې له دې بدمرغی نه ژغورل به څه لويه نيکمرغي وي. هغه په دې ښه پوهېده چې، دولوخوف، ښه پوهېږي چې څنګه دی له دغه غم او شرم نه وژغوري، خو بيا هم هغه له ده سره د موږک او پيشو لوبه روانه کړې وه.

دولوخوف، وويل:

- ستا د ترور لور... غوښتل يې وو ايي چې سونيا... خو نيکولای د هغه خبره پرې کړه او چغه يې کړل:

- دا خبره د سونيا پورې اړه لري، بيا د هغې نوم ياد نه کړې.

دولوخوف وپوښتل:

- نو پيسې څه وخت راکوئ؟

رستوف ځواب ورکړ:

- سبا ته... او له کوټې نه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

"سباته "سبا ته يې درکوم، همدا يې ويل. ځان ډاډه ښودل او خوږه ژبه ساتل، د نيکولای لپاره ګرانه خبره نه وه، خو کورته يوازې ستنېدل، خور، ورور، مور او پلار ته کتل، هغو ته د خپلې ګناه ويل، له هغو نه تر هغې ژبې وروسته چې بيا به جواري نه کوي، د دغه بې ساري پورپرې کولو لپاره د پيسو غوښتل، خورا وحشتناکه برېښېده.

دی چې کورته ورسېد، د کورنۍ غړي لا ويده نه وو. پېغلې او زلميان له تياتر نه د راستنېدو او د ماښامنۍ ترخوړلو وروسته، له پيانو نه تاوو شوي وو. نيکولای کورته د ننوتو سره سم، په زړه کې هغه مينه او خواخوږي احساس کړل چې سږکال ژمی د دوی د کورنۍ پر ژوند لاسبري وو؟ د غه حالت او س د سونيا نه د دولو خوف د غوښتنې، د "يُوګل "د نڅا د بنډار نه وروسته او سونيا او ناتاشې ته د پاملرنې له امله ديوه توفان نه مخکې کرارۍ ته ورته و. ناتاشا او سونيا چې تياتر ته خپلې اغوستلې شنې بخونې جامې يې لا تر اوسه بدلې کړې نه وې، خپلو ښکلاوو او زړه راښکون ته په پام سره موسکا پرشوڼه و د پيانو ترڅنګ ولاړې وې. ويرې له شيشين سره د هرکلو په تالار کې، په سطرنج بوخت وو. مشرې ګرافينې چې د زوی او مېړه راتګ ته شېبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېرلې، دنوې سيالې کورنۍ له يوې بوډۍ سره چې ددوی په کورکې اوسېده، د قطعو په پانړو کې فالونه ليدل.دينيسوف، چې سترګې يې ځلېدې او ځنې يې جرې وې.د پيانو شاته ناست، يوه پښه يې شاته غځولې او لنډې ګوتې يې د پيانو دغږونکې نغمې درنګينولو لپاره خوځولې.بانه يې نيم ترلې، په خورا ټيټ ناصافه، خوډډ غږ يې، هغه شعر چې خپله ليکلي او "کوډګر "نومېده، زمزمه کاوه.هغه هڅه کوله دغه شعر ته سندره جوړه کړي:

"کوډګره وايه !
دا کومه تلوسه ده چې،
چې مادخپل سُر شوي چنګ بلو ته هڅوي
داځه اور دی چې زما په ګوګل کې دې لګولی
او څه شور او مستي ده چې،
زما له منګولو وړل شوې ده "

د زړه لـه کـومې يـې سـندره بللـه او پـه تـورو ځلېـدونکو سـترګو يې، نيکمرغې او هممهاله ويرې اخېستې ناتاشې ته کتل.

ناتاشا پرله پسې چغې وهلې:

-آفرين !خورا ښه وه ! او پرته له هغه نه چې دنيکولای راتـګ تـه سترګه په لارې شي، دوام ورکړ:

--يو بند بل، يوازې يو بند.

نيکولای په تالار کې ناستو، ويرې، مور او بوډۍ ته وکتل او په زړه کې يې وويل:

- دوی ټول په هماغو خپلو خيالو کې ډوب وو او ډوب دي.

ناتاشا ورور ته ورمنډه کړل او وې ويل:

-دا هم نيکولای جان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکولای وپوښتل:
- پلار مې راغلی دی؟
ناتاشا پرته له هغه چې د ورور پوښتنې ته ځواب ورکړي، وویل:
-څومره خوشاله یم چې ته راغلې، پوهېږې او کنه؟زه څومره خوشاله یم.پوهېږې !دیمیتري واسیلوویچ( دینیسوف ) یوه بله ورځ هم زما په خاطر پاتې شي.
سونیا غږ وکړ:
- نه، پلار جان لا نه دی راغلی.
له هغې بلې کوټې نه دمشرې ګرافینې غږ واورېدل شو چې وې ویل:
-کوکو !هو راغلې،راغلې د زړه سره، دې خواته راشه.
نیکولای مورته ورننېږدې شو ، دهغې لاس یې ښکل کړل او پټه خوله دلوبو دمیز شا ته کېناست او دمور لاس ته یې چې فال یې کوت ځیر شو.له تالار نه د خوښیو نه ډکو هغو زاریو او ننواتو غږ راته، چې دناتاشا دراضي کولو لپاره کېدې.
دینیسوف په لوړ غږ وویل:
- اوس نو ، نه کېږي، باید هرو مرو "باروکالا "نومې سندره وبولې، هیله کوم.
مشرې ګرافینې له خپل زوی نه چې پټه خوله ناست و ، وپوښتل:
-څه درشوي دي؟
نیکولای په داسې حال چې نور نو له دې پوښتنو نه ستړی شوي و ، وویل:
- هېڅ، هېڅ !پلار جان به کله راشي؟
- همدا دمګړی به راشي.
نیکولای خورا نا آرامه و ، هغه په دې هم نه پوهېده ، چې څنګه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې ځان پناه کړي.ځمکې ځای نه ورکاوه او بېرته هغه صالون ته لاړ چې هلته پیانو غږېده، خو په زړه کې یې وویل:

- دوی په خپلو خیالو کې ډوب دي او په هېڅ څه خبر نه دي چې په ما څه تېرېږي.

سونیا د پیانو شاته ناسته وه او دماښو "باروکالا "نومې نغمه یې، چې دینیسوف یې د اورېدو لېونی و، غږوله.دینیسوف په خورا لېوالتیا، په ځلېدونکو سترګو، هغې ته کتل.

نیکولای په صالون کې ښکته پورته ګرځېده او له ځانسره یې ویل:

-ددوی سندرې هم هېڅ خوند نه لري.سونیا چې د سندرې لومړې نغمه غږوله، نیکولای هماغه شان له له ځانسره غږېده:

-پاکه پروردګاره تباه شوم،بې ابرو شوم،یوازینۍ دوا مې په تندی دیوې ګولۍ ویشتل دي.دا سندرې به کوم درد دوا کړي،ښه به دا وي چې لاړ شم او سترګې پناه کړم،خو چېرته؟چاته؟خیر پرېږده، پرېږده، چې خپلې سندرې سره وغږوي...

سونیا چې نیکولای څاره، هغه ته ورنږدې شوه او وې وپوښتل:

-نیکولای جانه !څه درشوي دي؟سونیا دهماغې لومړې شېبې او دهغه دلومړني غلچک نه په دې پوه شوې وه، چې هغه ته څه نوغې وریېښې شوې دي.

نیکولای له هغې مخ واړاوه.ناتاشا هم دخپلې همیشنۍ ځیرکتیا له مخې، د ورور حال احساس او دهغه له درد نه ناخبره نه وه، خو هغه اوس دداسې نیکمرغۍ په تال کې زنګېده، چې...(لکه زیاتره ځوانان چې زنګېږي )له هغه سره یې دخواخوږۍ وخت نه لاره.دهغې احساس ورته ویل:

- نه،نه،اوس زه دلذت په داسې خیالونو کې ډوبه یم،چې نه ارزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه خوند دچا په غم ولړم...نه نه، کېدای شي زه به تېروتلې یم، هغه به هم ما غوندې او دما په اندازه په خوښیو او خوندونو کې ډوب وي.

هغه وویل:

- ښه سونیا !

او دتالار هغې برخې ته چې دهغه په تصور ترټولو نورو برخو، هلته د آواز او موزیک غږ ډېر نه راته، لاړ....نیکولای خپلې خور ته کتل او په زړه کې یې ویل:

- څومره خوشاله ده؟ولې نه ستومانه کېږي او ولې شرم نه لرئ؟

ناتاشا دسندرې لومړی بند وواېه.ستوني یې ښه صاف کړ، ګوګل یې پرانست، وړاندې راغله او سترګې یې برندې برندې کړې.په دې شېبه کې یې دهېڅ شي او هېڅ چا په اړه فکر نه کاوه.له موسکا نه په ډکو شونډو یې داسې یوغږ په راوتو شو، چې هر چا او هریو کولای شو، په دې بڼه او په دې توګه، په زرګونو وارې، هغه وواېي، خو په هېڅ زړه کوم اغېز ونه کړي او بیا په یو زرو لومړی وار کې پر انسان داسې اغېز وکړي چې د هریوه اوښکې راشېوه کړي.

ناتاشا، په سږنی ژمي کې دا لومړی وار و چې دسندرو په ویلو پیل کړي و او هغه هم په ځانګړي توګه له دې کبله چې دهغه آواز د دینیسوف پر زړه اور بلاوه.

دهغې آواز نور نو خپل دماشومتوب ځانګړتیا بایللې وه، خو دهغو کسانو په وینا چې په موسیقۍ او اواز پوهېدل، هغه لا تر اوسه سندرو ویلو ته جوړه نه وه.

دهغه غږ زړه راښکونکی دی، خو پیاوړی نه دی.ددې لپاره چې چمتو شي، ډېر کار ته اړتیا لري.

نیکولای دهغې د آواز په اورېدو سترګې برندولې او په چرت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په زړه کې دا تکراروله.

- دا نو څه شي دي؟دې زما خور ته څه ورپېښ شوي دي؟دا نن شپه، هغه څه غواړي؟خو ناڅاپه دهغه لپاره ټول ژوند ددغې سندرې ددغو وروستيو کرښو د اورېدو تلوسې ته په ګونډو شوي و.دهغه لپاره ټول ژوند ددغې سندرې په دې درې فشارونو کې،راغبرګ شوی و:

- اې زما زورزنکې مينې !...يو...دوه...درې

نيکولای په زړه کې وويل:

- وای چې ژوند څومره باييزه شی دی !

هغه دړام ورکړ:

-دا ټول ،دا بدمرغی،دا پيسې،دا دولوخوف،دا کرکه او عزت...دا ټول اپلتې دي.هغه ټول رښتيا دي...خو ناتاشا ،آه ګرانې !زما ادکې !وګورو چې هغه څنګه دا سرُادا کوي...او ،ادايې کړ،د خدای شکر دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

ډېره موده کېده چې نیکولای رستوف، دا سې له موسیقي او سندرو نه خوند نه و اخېستی،لکه نن. خو همدا چې ناتاشې د بارکارلوو نومې سندره پای ته ورسوله،هغه ته بیا واقعیت وریاد شول. پرته له هغه چې نیکولای څه ووايي، له تالاره ووت او په لومړي پوړ کې خپلې کوټې ته لاړ. له دې شېبې نه پنځلس دقیقې اوښتې نه وې، چې مشرګراف په خوښیو کې ډوب او ډاډمن له کلوب نه راستون شو. نیکولای چې د هغه غږ واورېد ، هغه ته ورغی.

ایلیا اندرېوویچ له موسکا نه په ډکه شونډو ، په خورا ښه طبیعت او خوشالۍ، زوی ته وویل:

ـ نو څنګه؟ ښه ساعت مو تېر شو ؟

نیکولای هڅه وکړه چې ووايي: هو کې، خو ونه یې شو کولای. نږدې و چې وژاړي، او ساندې پیل کړي. مشرګراف، چې خپل پیپ لګاوه، د زوی حالت ته یې هېڅ پام نه شو. نیکولای د لومړي او وروستي ځل لپاره له ځانسره وویل: بله لاره نه شته، څه وکړم؟ ناڅاپه، له هر ډول درناوي سلامتي نه پرته، په داسې ژبه، چې هغه خپله هم ځان لچک وګاڼه، داسې چې ګواکې راغلی وي او ښارته د تګ اجازه غواړي ،وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پلار جانه! زه د يوه کار لپاره تاسو ته راغلی يم، نېږدې و، چې هغه هېر کړم، زما پيسې په کار دي.

پلار چې طبيعت يې خورا ښه او خوشاله و، وويل: ښه داسې! آفرين! مګر ما خو درته ويلي و چې پيسې کمې دي، لږ احتياط کوه، خو په هر حال اوس دې څومره په کار دي؟

رستوف چې تک سور اوښتی و، له ملنډو په ډکه موسکا يې، په داسې ښه، چې وروسته يې تر ډېرې مودې له دې امله ځان نه شو ښښلی، وويل:

- ډېرې زياتې، ما په جوارۍ کې لږ څه بايللي... غواړم ووايم چې ډېرې مې بايللي، هو کې، خورا ډېرې، غواړم ووايم چې خورا ډېرې...درې څلوېښت زره روبله...

ګراف چغه کړه او څټ يې تر اورمېږه پورې داسې سور شو، لکه زاړه چې په کومه پېښه کې سره کېږي، نېږدې و، چې سرسام شي او ولوېږي، هغه لا پسې چغه کړل او وې ويل:

- دا څه وايې؟ چېرته او چاته دې بايلو دي؟ ته کې به کوې؟

نيکولای وويل: ژبه مې کړې ده، چې تر سبا پورې، پور پرې کړم.

مشر ګراف، د بېچارګۍ او تسليمۍ په نښه دواړه لاسونه غبرګ پورته سره خلاص، او بړدې څوکۍ کې يې ځان وارتيږه او وې ويل: ښه، ښه!

زوی په خوار بدسترګۍ او بې پروايۍ وويل:

- وياله چې هر څومره پاکه وي، کله ناکله په کې مرداري او به راځي، څوک دی، چې په ژوند کې يې داسې يوه نيمه تېروتنه نه وي کړې؟

خو په زړه کې يې ځان سپک، ګنهکار، داسې يو ناوړه څوک ګاڼه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ژوند تر پايه به و نه شي کولای، خپله د غه ګناه جبران کړي. زړه يې غوښتل د پلار په وړاندې ګونډه شي، د هغه لاسونه ښکل کړي او ښښنه ترې وغواړي. خو بيا يې هم په سپين سترګۍ او بې پروايي او آن په ترخه ژبه وويل:

- څوک دی، چې په ژوند کې يې داسې يوه تېروتنه نه وي کړې؟

ګراف ايليا اندرېوويچ له زوی نه ددې خبرې په اورېدو، سر داسې ښکته واچاوه، چې ګواکې، څه شی لټوي، خو وې ويل:

- هوکې! هوکې، ګرانه ده، ډېره ګرانه ده. زه وېرېږم، چې د دومره پيسو پيدا کول به خورا ګرانه وي... هوکې، څوک دی چې په ژوند کې يې داسې تېروتنه نه وي کړې. هوکې، څوک دی چې په ژوند کې يې...

بيا يې زوی ته يو ځغلند نظر وکړ او په ښکنځلو، ښکنځلو له کوټې نه ووت..... نيکولای که څه هم ځان هر ډول غندنو او سپکاوي ته چمتو کړی و، خو د پلار له خوا ددغو شان کړو هيله يې نه لرله. په داسې حال کې چې ګبنهې پسې اخېستی و، په ساندو ساندو يې پلار پسې غږ کړ:

- پلارجانه! پلارجانه... ما وبښه. د پلار لاسونه يې راونيول او د هغه لاسونه ښکل کړل او په ژړا شو.

***

د پلار او زوی د ناندرېو سره هم مهاله، د مور او لور ترمنځ هم تر هغو لا په ترخه ژبې ناندرۍ روانې وې. ناتاشا په خورا تلوار او ګبنهې مور ته راغله او وې ويل:

- مورې! مورجانې! هغه ماته....

ناتاشا په چغو چغو وويل:

- تا ته څه؟

- ادکې قربان دې شم، هغه ما ته د واده کولو وړانديز وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشرې ګرافينې غوږونو، دا نه منله، دا يې نه منله چې دينيسوف، د واده کولو وړانديز کړی دی، چاته؟ دغې وړې نجلۍ ناتاشې ته چې تر پرونه پورې يې نانځکو سره لوبې کولې او اوس هم لا په زده کړو لګيا ده. ګرافينه لا هيلمنده وه چې ګوا کې ناتاشې ټوکه کړې ده، هغې وويل:

- ناتاشې، دا څه حماقت دی؟ دا خبرې پرېږده، بيا داسې ونه وايې.

ناتاشا په خواشينې بڼه ځواب ورکړ:

- حماقت؟ د څه شي حماقت؟ زه تا ته د زړه خبره کوم. زه راغلم له تا نه وپوښتم، چې څه ځواب ورکړم او ته وايې حماقت؟

ګرافينې اوږې پورته واچولې او وې ويل:

- باور مې نه راځي، چې ښاغلی دينيسوف دې تا ته د واده وړانديز کړی وي، خو بيا هم که هغه دا کار کړی وي، ورته ووايه، چې هغه احمق دی او بس.

ناتاشا په خورا زغرده ځواب ورکړ: نه، نه، هغه هېڅ احمق نه دی.

ګرافينې په خواشينۍ او له ملنډو نه په ډکه ژبه وويل:

-ښه، چې داسې ده، نو له ما نه څه غواړې؟ اوس تاسو ټول مين شوي ياستۍ، چې مينه شوې يې، ورشه ښځه يې شه، واده ورسره وکړه.

-نه، نه مورجانې، مينه شوې نه يم، ګمان نه کوم چې مينه شوې به يم.

-ډېره ښه ده، چې مينه شوې نه يې، همداسې، هغه ته ووايه.

-مورجانې ! ته خواشينې شوې؟ خواشنې کېږه مه. د زړه سره ته ماته ووايه، په دې کې زه څه ملامته يم.

ګرافينې وموسېده او وې ويل: ښه ده، نو چې داسې ده، څه وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګراني ! که غواړې، زه به ورشم او ځواب به ورکړم.
ناتاشا د مور موسکا سره خپله موسکا مل کړه، او وې ویل:
-نه، نه، زه خپله ځواب ورکوم. یوازې ته رازده کړه، چې څه شی او ځنګه ورته ووایم، تاسو ته خو خورا آسانه ده چې ځواب ورکړې. خو که تا هغه لیدلای وای، چې هغه ما ته دا ځنګه وویل، پوهېږم، هغه نه غوښتل ووایي، هسې د زړه زور پرې زور شو.
-په هر حال، ته باید، هغه ته د نه ځواب ووایې.
-نه، نه کېږي ! ډېر مې زړه پرې خوږېږي، ډېر ښه هلک دی.
ګرافینه په دې خوا بدې وه، چې چا ځنګه زړه کړی، ددې ماشومې لور ته د پېغلې په سترګه وګوري، هغې وویل:
-تا ته نه ښایي، چې څه ووایې، زه خپله یې ځواب وایم.
-نه، نه، هېڅکله ! زه خپله یې ځواب ورکوم. تاسو راشی او د دروازې له شا نه غوږ ونیسی چې څه ورته وایم.
ناتاشا ددې خبرې نه وروسته منډه کړله او په تلوار د کمکي تالار نه تېره او ځان یې لوی تالار ته ورساوه. دینیسوف، هماغه شان پر څوکۍ د پیانو مخې ته ناست او خپل لاسونه یې پر مخ اېښي وو. هغه د هغې د آرامو قدمونو په اورېدو سره له ځایه پاځېد، په چټکو ګامونو د هغې خوا ته ورغی او وې ویل:
-ناتالۍ، زما برخلیک تاسو پورې اړه لري، ژوند مو ستاسو په لاس کې دی، ووایۍ، ووایۍ، یو څه ووایۍ.
-واسیلي دیمتروویچ ! تا سو نه پوهېږئ، چې څومره خواشینی یم... نه، نه، خو تاسو دومره مهربانه یاستی، چې اندازه نه لري... باید ووایم، چې تاسو به د تل لپاره، ما ته همداسې ګران واوسی.
دینیسوف د هغې پر لاسونو ورخم شو او ناتاشې یو څه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپوهېدونکي عجيب غږونه اورېدل، هغه ويل.

هغې، د هغه تور او کړی کړی وېښته مچ کړل. په دې وخت کې و چې د ګرافينې د کميس غژهاری واورېدل شو، هغه په چټکۍ د دوی خواته را روانه وه. هغې لـه ګبنهۍ نـه پـه ډک آواز چې د دينيسوف پـه غـوږو سخت دروند لګېده، وويل:

-واسيلي ديمتـرووېچ ! لـه تاسـو نـه مننـه، چـې مـوږ تـه مـو ويـاړ راوبانبه، خو غواړم ووايم، چې زموږ لور لا خورا کوچنی ده، بله دا چې تاسو زما د زوی نږدې ملګری یاست، ښـه بـه دا وه، چـې لـومړی پـه دې اړه له ما سره غږېدلی وای، کېدای شي بيا به مو دغه راز ځواب نـه وای اورېدلای.

دينيسوف چې سرښکـته اچولی و، پـه خـورا ملامتـه ژبـه يـې وويـل: ګرافينې...غوښتل چې نور څه ووايي، خو په شک کې شو چې وې وايـي او کنه؟

ناتاشا چې په داسې زورېدونکې او ملامتې بڼه هغه ته په آرامـۍ او کرارۍ کتلای نه شو، په چغو چغو او په لوړه په ژړا شوه.

دينيسوف چې پرې پرې غږېده، له ګبنهۍ نـه پـه ډک او رېږدېدونکي آواز يې،وويل:

-ګرافينې ! زه ستاسو په وړاندې ګنهګار او ملامت يم،خو تاسو پـه دې پوهېږئ، چې زه ستا لور او ستاسو ټولې کورنۍ تـه داسې درنـاوی لرم چې که دوه ژوند مې هم لرلای،ما به له... په دې وخت کې يې سترګې د مشرې ګرافينې سترګې سره برابرې شوې او پام يې شو چې د هغې مخ له ګبنهۍ او قهر نه رېږدي، د هغې لاس يې راونيو، هغـه يـې ښـکل کړ او وې ويل:

-د خدای په امان ګرافينې !.. او پرته له هغـه چې ناتاشې تـه وګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



په چټکو ګامونو او تلوار له کوټې ووت.

***

رستوف، بله ورځ خپل ملګرى، چې نور يې يوه ورځ هم په مسکو کې د پاتې کېدو هيله نه لرله، بدرګه کړ. د هغه د مسکو ټولو ملګرو، له هغه سره د خداى په امانۍ په وياړ له جپسي لوبغاړو جټانو سره راټول شوي وو.

د دينيسوف هېڅ په ياد نه و، چې څنګه يې هغه په ګاډۍ کې کېنولى و او څنګه يې درې تم ځايه بدرګه کړى و.

رستوف د دينيسوف تر تګ نه وروسته، دوه اونۍ نور هم په مسکو کې دې ته ناست و، چې مشر ګراف، هغه د پور پيسې، چې پيدا کول يې څه آسانه خبره نه وه، برابرې کړي. په دې ټوله موده هېڅ کله له کور نه د باندې نه وت او زياتره وخت به يې له نجونو سره تېراوه.

سونيا تر پخوا هم له هغه سره مهربانه او خواخوږې وه. داسې بربښېده چې غواړي هغه ته ښکاره کړي، چې د جوارۍ بايلل خپله يوه قرباني ده او له دې کبله، دې ته لا ګران شوى دى. خو نيکولاى، نور نو ځان د هغې د يارۍ وړ نه ګاڼه. پرته له هغه چې له خپل کوم ملګري او دوست سره وګوري يوازې د نجونو د خاطرو په کتابچې او کتابګوټې کې به يې شعرونه او سندرې ليکلې. بالاخره، وروسته له هغه چې د دولوخوف درې څلوېښت زره روبله پور يې پرې کړ، بې له هغه چې د خپل مسکو له کوم ملګري سره خداى په اماني وکړي، د نوامبر د مياشتې په وروستېو ورځو کې، خپل غونډ پسې چې پولنډ ته رسېدلى و، لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم کتاب

# دویمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

پيير له خپلې مېرمنې سره تر ناندريو او شروشور نه وروسته د پېترزبورګ په لور وخوځېد. د تورژيکي په رباط کې د هغه لپاره آس پيدا نه شو او يا څوکيدارنه غوښتل چې هغه ته آس ورکړي. پيير اړ وت چې د آسونو تر رارسېدو پورې انتظار پاتې شي. هغه پرته له هغه جامې وباسي، پر هغه چرمي اوږدې څوکۍ، چې مخې ته يې ګردې ميز ايښی و، ډډه ولګوله او خپلې لويې پښې يې چې غټې تودې موزې يې پښو کړې وې، پر ميز کېښودې او په خيالو کې ډوب شو.

چوپړ وپوښتل: امر کوئ چې بکسونه مو راوړم؟ کټ چمتو کړم؟ چای راوړم؟

پيير ځکه ځواب نه وايه، چې نه يې څه اورېدل او نه يې څه ليدل. هغه لا په تېر تم ځای کې چرتي شوی و او لاتر اوسه پورې په هماغه چرت کې و. په هماغه مهم فکر کې، نو ځکه يې هغه څه ته چې د ده په شاوخوا کې تېرېدل پام نه اړاوه. هغه نه يوازې دا دې لېوالتيا نه لرله چې پوه شي کله، وخته يا ناوخته به پترزبورګ ته رسېږي. له دې سره يې هم مينه نه ښودله، چې په دې رباط کې به ده ته د استراحت او وېدو کېدو ځای پيدا شي او کنه؟....

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوکېدار، د هغه ښځه، د رباط مشر او يوه بوډۍ چې ګنډل شوي شيان يې خرڅول، هر يو په وار راتلل او د خپل خدمت وړانديز يې کاوه. پېير چې هماغه شان پر څوکۍ ډډه لګولې او پښې پر ميز پرتې وې، د خپلو عينکو له شا نه هغو ته کتل او په دې نه پوهېده، چې هغوی له ده نه څه غواړي او څنګه کولای شي، د هغو ستونزو د آواری نه پرته چې د ده خيالونه پرې اخته، ژوند کوي. هغه د هغې ورځې نه وروسته چې د سکولنکي په ځنګله کې له دوئيل نه راستون شوی و، او هغه شپه يې په شوګيرو او سخت عذاب کې تېره کړې وه، پر له پسې، هماغه يو خيال زوراوه او هېڅکله يې ځان د هغه خيال له منګلو ژغورلی نه شو. همدا له عذاب نه ډک خيال اوس د دغه سفر په يوازيتوب کې، په لاپياوړتيا د ده پر خيالونو يرغل کړی و. د هر بل څه په اړه به يې چې فکر کاوه، تل به يې خيال هماغه پوښتنو ته بېرته راګرځېده، چې ده نه شو کولای، هغه ته ځواب پيدا کړي. داسې برېښېده چې د هغه په مغزو کې، هغه پېچ سرچپه شوی دی، چې د ده ټول د ژوند بهېر ترې چورلېږي....

څوکېدار راغی او په خورا کمينې يې له هغه هيله وکړه، چې عاليجناب دې يوازې دوه ساعته صبر وکړي، که آسونه راونه رسېدل، هغه وخت به بيا تاسو عاليجناب ته، د رباط ځانګړي آسونه، ستاسو خدمت ته وګمارل شي. (پخوا به په هر رباط کې، درې درې، آسونه د زېرمې په توګه د بيړني او فوق العاده چارو لپاره ولاړ وو.)

هر څه چې وشول، وشول (دا هسې خبرې وې، ټوله موخه يې دا وه، چې له دغه مسافر نه زياتې پيسې وشکوي) پېير له له ځانسره بنګېده او ويل يې:

-دا ښه وه که بد، چې ما وکړل؟ زما لپاره ښه دی، خو د بل مسافر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره به سپکاوی وي، د هغه لپاره به دا حتمي وي، ځکه پرته له دې به ورېی پاتې شي...ما دولوخوف په ګولۍ وویشت، ځکه مې وویشت چې تصور مې کاوه، زه هغه سپک کړی یم. او فرانسویانو شپاړلسم لویي اعدام کړ، ځکه هغه یې جنایتکاره ګاڼه او یو کال وروسته یې هغه کسان اعدام کړل، چې هغه یې اعدام کړی و، هر یو د یو څه په پلمه، دلته ګناه څه ده؟ ښه والی څه و؟ له کومو شیانو سره باید مینه وشي؟ کوم شیانو نه باید کرکه وشي؟ د څه لپاره ژوند وشي؟ زه څوک یم؟ ژوند څه شی دئ؟ مرګ څه دئ؟ او کوم قوت دی چې ددې ټولو لاربښوونه کوي؟ همداسې یې له ځانه دا پوښتنې کولې. له دغو ټولو پوښتنو نه، د یوې لپاره هم ځواب پیدا کېدای نه شو، خو یوازې یو ځواب و، هغه هم منطقي نه و او هغه ځواب هم ددې د پوښتنو ځواب نه و، ځواب دا و: په پای کې مرې، هرڅه به پای ته ورسېږي. مرې او هلته به هرڅه دربرالا شي، یا به چور پوښتنې نه کوئ. خو مرګ هم وحشتناکه دی.

تارژکې کلبوا اله بوډۍ، په خپل زورونکي آواز، خپلو کالو په تېره بیا د وزې له چرمه جوړو شویو څپلکو، اخښستو ته پلورونکي، وربلل. پېیر په زړه کې وویل:

- زه په سلګونو روبله لرم او نه پوهېږم، څه پرې وکړم، خو دا بوډۍ په څېرې څېرې پوستین کې زما تر مخې ولاړه ده او په سپین سترګۍ ماته ګوري، دا پیسې د څه لپاره، د هغه په کار دی؟ ایا دا پیسې د یوه ویښته په اندازه کولای شي د هغه د نیکمرغۍ یا روحي آرامۍ سبب شي؟ ایا په دې فاني دنیا کې داسې څه شته چې ما او هغه د مرګ او ظلمت له ناوړې کړۍ نه وژغوري؟ مرګ، چې هر څه پای ته رسوي، غواړې که نه غواړې، نن یا سبا رارسېدونکی دی، په څنډ او که ژر خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ژوند ، د ابدیت په وړاندې له یو شېبې زیات، بل څه نه دی...

د هغـه چوپړ، هغـه تـه داسـې یـو کتـاب ورکړ، چـې پـاڼـې ترنیمـایي پورې شکېدلې او سمې نه وې، هغه د مېرمن سوزا ،له خوا د لیکونو پـه بڼـه یـو لیکـل شـوی رومـان و ،.دا د هغـه "املـي دومانسـفلد "لـه خـوا د لیکل شوی، لیکونو یو جونګ و. پېیر، د (املي دومانسفلد ) پـه نامـه د یوې ښځې د رنځونو او له تقوا نه ډکو مبارزو د داستان لوستل پیـل کړل. بیا یې په زړه کې وویل:

-اوس ګـوره ! دې ښـځې چـې د خپـل مـین پـه وړانـدې درېدلې، څـه مبارزه یې کړې ده؟... دا خو ناشونې ده چې خدای دې، لـه خپلې ارادې نه پرته، بل څه غوښتنه د هغه روح ته ورکړې وي. زما پخوانۍ ښځه خو اصلاً د دغو مبارزو سره څه اړیکي نه لرل، هغه برحقه هم وه. له یو شېبې ځنډ نه وروسته یې بیا له ځان سره وویل:

-هېڅ بشر، نه څه موندلي او نه یـې څـه جوړکړي دي، موږ یـوازې پـه دې پوهېدای شو پوه شو ، چې په هېڅ نه پوهېږو. او دا د انسـاني پـوهې تر ټولو لوړه پوله ده.

هغه ته په خپل روح، ځان او له ځانه چاپېیر هرڅه، بې معنـي او پـوچ برېښـېدل، خو پېیر لـه خپـل چاپېریـال سره پـه همدې کرکـې کـې، یـو زورونکی لذت مونده.

څوکېدار بیا کوټې ته راننوت. هغه یو بل تـن مسـافر هم چې د آس د نشـت والـی لـه املـه، ځنډېدو تـه اړ شـوی و ، لـه ځانسـره راوسـت، هغـه وویل:

-جلالتمابه ! ښـنه غواړم چې ځـان تـه د غږېدو اجازه ورکوم، هیلـه لـرم لـږ ځـان سره راټـول کـړئ، چـې دغـه ښـاغلی هـم کېـني. دا یـو بـوډا ، لنډونی، ځیږ اډوکی مسافر و چې ژېړېخنه او ګونځنه څېره یـې درلـوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼې، سپېڼې، پر ځلېدونکو خړو سترګو رالوېدلې وروځې یې لرلې.

پېیر پښې له مېزه راټولې کړې، پاڅېد او پر هغه کټ، چې ده ته یې سره چمتو کړی و، وغځېد. کله ناکله به یې راغلي بوډا مسافر ته وروکتل. مسافر پرته له هغه چې هغه ته پاملرنه وکړي، په ترېو تندي، په داسې خوځېدا چې د سترېا نښې ترې ورېدې، د خپل چوپړ په مرسته، کالي بدلول..... بالاخره په کټ کېناست. د لمڅې موزې یې پښو وې. خپل خرېلي او پراخ شقیقه لرونکی سر یې د کټ شاته، تکیه کړ. پېیر بېزاو خوف یې وڅاره. کتل یې، تند، ځیر او داسې اغېزمن و، چې پېیر یې لږ څه حیران کړ. پېیر غوښتل له هغه نه د پوښتنې په پلمه، څه ووایي، خو همدا چې غوښتل یې شونډې پرانزي او د هغه د حال پوښتنه وکړي، مسافر سترګې وتړلې او خپل ګونځ زاړه لاسونه یې (چې پر یوې ګوته یې د ککرۍ نګین لرونکي ګوته پر ګوتو و) په ټټر صلیب ډوله کېښودل او په کرار کرار کېناست. پېیر داسې وانګېرله، چې هغه خوب وړی دی او یا هم د کوم ژور ژور خیال په خیالونو کې ډوب شوی دی. د هغه چوپړ هم یو ژېړ مخی بوډا و. مخ یې ګونځې ګونځې او بې وېښتو او بې برېته و. هغه رېره خرېلې نه وه، هغه کوسه و. دغه چوپړ بوډا، په خورا چټکۍ مېز برابر او د چاینکو او پیالو تر کېښودو وروسته یې، ایشېدونکی سماوار راوړ. همدا چې هر څه چمتو شول، مسافربوډا سترګې پرانستې، مېز ته وړاندې شو، ځان ته یې یوه پیاله چای واچوه او تر هغه وروسته یې خپل کوسه چوپړ ته هم یوه پیاله ورکړه. پېیر کرار کرار ناآرامه کېده او له دغه مسافر سره یې د مرکې د پیل کېدو هیله لرله، نه یوازې هیله، بلکې هغه یې حتمی ګڼل.

زاړه چوپړ په قاب کې خپله سرچپه اېښودل شوې پیاله، چې د نه شوي قند یوه ټوټه یې هم ترڅنګه ایښې وه لږ شاته راکش او هم مهاله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل:

-نور څه خو به په کار نه وي؟

مسافر ځواب ورکړ:

-نه، نور څه نه غواړم، کتاب مې راکړه.

چوپړ، هغه ته هغه کتاب، چې پيير ته مذهبي وبريښېد ورکړ او مسافر په خورا تلوسه، د هغه په لوستو بوخت شو. پيير همداسې، هغه ته کتل. بوډا مسافر، ناڅاپه، د کتاب د لوستو په پای کې، ښه کېښوده، هغه يې وتاړه، سترګې يې سره وروستې، لاسونه يې سر ته تکيه کړل او د پخوا په شان د کټ پر تکيه ور تکيه شو. پيير لا همداسې هغه ته کتل او سترګې يې بله خوا ته نه وې اړولې، چې بوډا سترګې پرانستې او په برندو او تندو کتو يې، مخامخ د پيير سترګو ته وکتل.

پيير ګبنې واخېست او غوښتل يې چې له دغو کتونه،د ځان د ژغورنې په پلمه مخ واړوي، خو د بوډا د ځلېدونکو سترګو، ځير، هغه داسې تر اغېزې لاندې راوستی و، چې دا کار يې نه شو کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

بوډا مسافر په تند او چټک غږ وویل:

-په خورا خوند به واخلم.

که تېر وتلی نه یم، کولای شم ووایم چې تاسو ښاغلی بېزاوخوف یاست؟

پېییر بې له هغه چې ځواب ورکړي، په پوښتنیز غلچک یې د خپلو عینکو له شا نه هغه ته کتل.

بوډا مسافر خپلو خبروته دوام ورکړ:

-د تاسو په اړه مې اورېدلي دي، له حاله مو خبر یم، له هغې بد مرغۍ نه چې تاسوته درپېښه شوې ده، هم خبر یم.داسې وبرېښېده چې،د بدمرغۍ کلمې ته یې څه زور هم ورکړ. داسې وبرېښېده چې غوښتل یې ووایي، هو کې بدمرغي، تاسو چې هر څه ورته وایيی، وې وایۍ، خو زه پوهېږم، هر هغه څه چې په مسکو کې تاسوته درپېښ شوي دي، یوه بدمرغي ده. هو کې ښاغلیه! زه ډېر افسوس کوم، د تاسو له امله خورا خوا بدی یم او اندېښنه څرګندوم.

پېییر لږ څه سورغوندې شو، پښې یې له کټه کوزې کړې، ځان یې راجوړ کړ او په داسې حال کې چې هڅه یې کوله وموسېږي، د بوډا پلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورخم شو.

- له دې پېښې نه زما د يادولو موخه، دا نه وه چې زما لپاره هغه په زړه پورې ده، بلکې زه د دې خبرې يادولو ته خورا ډېرو نورو دلايلو هڅولی يم.

پرته له هغه چې له هغه نه سترګې وشلوي، تر شېبې څنډ نه وروسته يې په کټ کې ځان را جوړ کړ او په دې توګه يې پيير ته بلنه ورکړه چې دده خوا ته ورننږدې شي. پيير له دغه بوډا سره، د دغه شان يوې مرکې د پېلېدو لېوالـه نـه و، خو لـه خپلې خوښې نه پرته پاڅېد، هغه ته ورنږدې شو او تر څنګ يې کېناست.

بوډا دوام ورکړ:

-زما ګرانه! ښاغليه! تاسو يو بدمرغه ياست! تاسو ځوان او زه غم ځورلی يم او هيله لرم چې د خپل توان په اندازه مرسته درسره وکړم.

پيير، چې پر شونډو يې د لاسي موسکا د خورېدو هڅه کوله وويل:

-آه، هو کې! له تاسو نه ډېره ډېره مننه. جلالتمابه، له کوم ځايه راغلي ياست؟

د بوډا په څېره کې د خواخوږۍ کومه نښه نه برېښېده بلکې سړه او قهرېدلې وه، خو د دې سره سره يې پر پيير خورا اغېزمنه اغېزه لرله.

بوډا ناڅاپه وموسېد او موسکا يې مينه ناک او پلارنۍ وه، هغه وويل:

-زما ښاغليه! خو که په کوم دليل نه غواړئ، له ما سره وغږېږئ، کولای شې په ډاګه او برالايې وواېې.

پيير وويل:

- نه، دا څه وايې، هېڅکله داسې نه ده، برعکس ستاسو له پېژندګلوۍ نه خورا خوشاله يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيا يې د نوي آشنا لاس ته وکتل او له نېږدې نه د هغه د ګوتې غمې ته ځير شو. او د انساني ککرۍ هغه غمي ته چې د (فراماسونانو) نښه وه، په ځير ځير وکتل.

،،د دغه کلمې معنا، رښتني يا رښتيا ويونکی سنګ شکن دی،،

-که اجازه راکړئ، له تاسو نه يوه پوښتنه وکړم؟ تاسو د فراماسون د ډلې ياست؟

بوډا مسافر، چې په هماغه اغېزمن غلچک او برند نظر د پېير سترګو ته کتل ځواب ورکړ:

-هو کې، زه د خپلوا کو سنګ شکنانو د ډلې غړی يم او دا دئ د ځان او خپلو ورونو له خوا تاسو ته د مينې او دوستۍ لاس درغځوم.

پېير د هغه ډاډ او باور تر منځ چې د غه ماسون پر ده کړی و او د هغو ملنډو تر منځ چې د دود له مخې ده پر ماسونيان واهه، حيران پاتې و، چې څه وکړي، ومو سېد او وې ويل:

ډاربېږم چې ووايم، زه ستا له نظرياتو له پوهېدو نه خورا لرې،هو ډاربېږم،غواړم ووايم، ډاربېږم زما خيالات ستاسو له اعتقاداتو سره، دومره تو پير لري چې آن د هغه په اړه خبرې کول هم راته ګران برېښي.

ماسون يعني همدا بوډا مسافر ځواب ورکړ:

-زه ستاسو د خيالاتو سره آشنا يم. دغه خيالات چې ته د هغه په اړه غږېږې او تصور کوئ چې هغه ستاسو د ذهني هڅو پايله ده، د زياترو وګړو، تفکر ته ورته دی. دغه ډول خيالات او تفکرات د يو ډول ځانستاينې، کبر، ناپوهۍ او نادانۍ پايله ده. وبښۍ ښاغليه! که زه ستا له خيالاتو سره آشنا نه وای، ما به د هغه په اړه له تاسو سره مرکه نه وای پيل کړې. ستاسو دغه خيالات د خواشينۍ او د افسوس وړ او بې لارې خيالات دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېير چې نرمه موسکا يې پرشونډو خوره شوه، وويل:
-همدا سې زه کولای شم ستاسو خيالات بې لارې او د خواشينۍ وړ وګڼم.
مسافر چې په خپلو پخو او مدللو خبرو، شيبه په شيبه پر پېير خپل اغېز زياتوه، وويل:
-زه هېڅکله نه شم کولای دا دعوا وکړم، چې حقيقت ته رسېدلی يم، هېڅوک په يوازې ځان نه شي کولای حقيقت ته ورسېږي. هغه معبد چې د خدای د ستاينې او لمانځنې وړتيا پيدا کوي خښته په خښته لوړېږي او ودانېږي، د غه لمانځتون، له آدامه تر دې دمه، د ډېرو انسانانو په هڅو پوړ پر پوړ لوړ شوی او لا اوس هم لوړېږي.
ماسون مسافر د دې خبرو له ويلو سره سمدلاسه سترګې وتړلې.
پېير چې هڅه يې کوله تل رښتيا ووايي، په خورا سختۍ يې وويل:
-غواړم.....ووايم چې زه په خدای ايمان نه لرم.
ماسون مسافر، چې په خورا ځير پېير ته کتل، وموسېد. موسکا يې د داسې يوه بډای موسکا ته ورته وه، چې ګواکې په ميليونو شتمنۍ لري، خو کتل يې، ملال ملال کتل، هغه ګدا ته ورته و، چې پنځه روبله هم نه لري او که هغه ولري، د نړۍ تر ټوله نېکمرغه به وي.
هغه زياته کړه: هوکې ښاغليه! بدمرغی همدلته ده. تاسو ايمان نه لرئ او له همدې امله نه شې کولای هغه وپېژنۍ، خدای نه پېژنۍ او د ټولو بدمرغيو علت هم همدا دی.
پېير دا ومنله او وې ويل: هوکې! هوکې، زه بدمرغه يم، خو څه کولای شم؟
ماسون مسافر، په رېږدېدونکې، لوړ او ځير آواز سره وويل:
-زما ښاغليه! ستاسو بدمرغي په همدې کې نغښتې ده، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ایمان نه لرئ. تاسو په خدای ایمان نه لرئ، حال دا چې هغه همدلته دی، په ما کې دی، زما په خبرو کې دی، هغه په تا کې، آن ستا په هغو خبرو کې، چې کفر دي، هغه شته دی.

شېبه ځنډ شو او یو سوړ اسویلي یې وویست. له ورایه برېښېده چې غواړي خپلځان آرامتیا کړي، مګر بیا یې په کراره وویل:

-که هغه نه وای، موږ به د هغه په اړه خبرې نه کولای زما ښاغلیه !

خو کومه شېبه یې ناڅاپه غږ لوړ شو او په خورا جذبه یې په لوړ او پیاوړتیا سره وویل:

- موږ د چا او څه شي په اړه غږېږو ؟ تاسو له چا انکار کوئ؟ که هغه نه وای چا کولای شو ، هغه را منځ ته کړي؟ چا کولای شو ، هغه ناڅرګند او په تصور کې نه ځایېدونکي موجود ، څنګه د بشر په ذهن کې ځای پیدا کړی دی؟ څنګه انسان دا فرض کړې ده، ټول بشر دا فرض کړې ده ، چې دغه شان نه لیدونکی او په خپلو ټولو ځانګړتیاوو کې مطلق ابدي او پای ته نه رسېدونکی قادر موجود ، شته دی؟

له دې خبرې سره له خبرو پاتې او داوړدې شېبې لپاره چپ شو.

پېیر نه غوښتل او نه یې کولای شو ، دغه چوپتیا ماته کړي.

بوډا ماسون بیا ژبه پرانسته، خو دا وار یې نه پېیر، بلکې مخامخ، کوم ټکي ته کتل. په خپلو زړو او ناکرارو منګلو کې یې د کتاب پاڼې اړولې:

-هغه شته دی خو درک کول یې خورا ګران دی. که کوم انسان وای او تا یې په شته والي کې شک لرلای، کولای مې شو له لاسه یې راونیسم، هغه تا ته راولم او در وېښیم، مګر زه چې د خدای یو فاني عاجز بنده یم، څنګه مطلق قادر، ابدي پرتم، د رحم او مهربانۍ سرچینه، دا سې یو ړانده ته ورڅرګند کړم؟ دا سې یو چا ته چې ړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، یا په لوی لاس خپلې سترګې تړي، چې څه ونه ویني، درک یې نه کړي، آن خپل سپکوالی او رذالت ونه ویني او احساس یې نه کړي.

شېبه ځنډ وروسته یې په سپکاوی او ملنډو وویل:

-ته څوک یې؟ ته څه شی؟ تصور کوئ، چې که کفر ووایې، هوښیار به ښکاره شې؟ خو تر یو هغه ماشوم نه هم بې عقله او ناپوهه یې چې په مهارت جوړ شوي ساعت سره لوبې کوي، او بیا په خورا بې اعتقادۍ وايي: د ساعت پر جوړونکي اعتقاد نه لري، هغه ماشوم ځکه دا خبرې کوي، چې ددې ساعت په قدر او په دې نه پوهېږي، چې هغه څه په کار دی. د هغه پېژندنه خورا ګرانه ده، د آدم له پیدا ښته تر نن پورې پېړۍ پېړۍ د هغه د پېژندنې په هڅه او لټه کې یو. د هدف او آرمان لاره خورا ګرانه او اوږده ده. خو په دې لاره کې تیندکونه او نیمګړتیاوې، د هغه د پرتم او زموږ د ناتوانۍ نښه ده.

پېیر د زړه له کومې، او په ځلانده سترګو د دغه مسافر بوډا خبرې ته ځیر و او پرته له هغه چې د هغه وینا پرې، یا څه ترې وپوښتي، سر تر پښو ورته غوږ و او هر هغه څه چې دغه پردي سړي ده ته ویل، په ورین تندي او د زړه له تله یې اورېدل او منل. ایا هغه، هغه منطقي دلایل، چې ددغه مسافر ماسون په خبرو کې نغښتي و، منل او یا د هغه باور، د ماشومانو باور ته ورته و چې د ماسون د ډاډمن غږ او غوره وینا نه یې سرچینه اخیسته، او د هغه په غږ کې، کله نا کله رېږد بېدا دی یې سکوت ته اړاوه، یا د هغه ځلېدونکو زړو سترګو، چې په دې اعتقاد کې پخې شوې وې پر ده اغېز کاوه، یا د هغه آرامۍ او ژور ایمان و چې د بوډا زړه یې روښانه کړی و او بیا به یې خپلې ناهیلۍ او پریشانۍ ته کتل او د حیرت په څنډو کې به ډوب شو. په هر حال، هرڅه چې و، و، هغه په رښتیا هم د زړه له تله، هیله لرله د هغه بوډا په خبرو باور وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او باور يې کاوه او داسې يې انګېرله چې له ژوند سره د مينې، د خوښۍ او آرامۍ احساس يې زړه ته راستنېږي.

بوډا ماسون وويل: هغه د عقل په مرسته موندی نه شو، هغه بايد په روح او ژوند کې احساس کړو.

پېير چې په شک سره يې، په زړه کې د شک راوېښېدل احساسول، وويل:

-نه پوهېږم..له دې يې وېره لرله نه چې، د هغه د مرکچې دلايل ضعيفه او سر نه خلاصېدونکي وي، هغه ډاربده پر هغه باور وکړي، نو ځکه يې وويل:

-نه پوهېږم، نه پوهېږم، څنګه انساني عقل نه شي کولای، پر هسې پوهې پوه شي، چې موږ پرې غږېږو.

د ماسون پرشونډو، مهربانه پلرنۍ موسکا خوره شوه او وې ويل:

-آسماني حکمت او حقيقت لکه رڼې اوبه داسې دی، چې موږ غواړو خپله تنده پرې ماته کړو، ايا موږ کولای شو، په ناولي کپړي کې دغه شان رڼې اوبه راواخلو او دهغې پر سپېڅلتوب قضاوت وکړو؟ يوازې د خپل ځان او روح د سپېڅلتوب له لارې کولای شو د دغو رڼو اوبو سپېڅلتيا ومنو.

پېير په خوښۍ سره وويل: هو کې، هو کې، همداسې ده.

-آسماني حکمت او پوهه پر هېڅ کوم عقلي بنسټ چې عقلي تحليل لري لکه فزيک ،تاريخ او يا کيميا ولاړ نه دی. لوړه پوهه، مطلق عقل دی او هغه يوه پوهه ده، هغه پوه علم کل دی. هغه علم چې په هغه کې د ټولې نړۍ او انسان ځای ټاکل او سپړل کېږي. ددې پوهې او علم زده کړې او منلو لپاره، انسان بايد خپل زړه هر ډول ناولتيا نه سپېڅلې کړي، هغه نوی کړي او ددې کار لپاره تر پوهې نه مخکې بايد ايمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولړو او د هغه د کمال هڅه وکړو. دغه ارمان ته د رسېدو لپاره، باید د خدای ځلا چې موږ یې وجدان نوموو په ځان کې ځای او ونغاړو.

پېیر د منني په ښنه سر وښوراوه او وې ویل:

-هو کې، هو کې.

-د زړه په سترګو، په خپل ځان کې ناست انسان ته وګوره او ترې نه وپوښته: ایا ته له خپل وجدانه راضي یې؟ هر څه عقل ته سپارنې چېرته رسولی یې؟ ته څوک یې؟ تاسو زما ښاغلیه! تاسو ځوان، تاسو بډای، تاسو هوښیار عاقل، تحصیل کړی... تاسو ته دا ټولې ښېګڼې درکړل شوي دي، تاسو له هغو نه څه ګټه اخېستې؟ ایا له خپل ژوند نه راضي یاستی؟

پېیر تندی تریو کړ او وې ویل: نه، زه له خپله ژونده کرکه لرم.

-چې کرکه ترې لرې، بدل یې کړه، سم یې کړه، ځان سپېڅلی کړه، څومره چې ځان سپېڅلی کړې، په هماغه کچه به پر حکمت لاسبری شې. زما ښاغلیه! خپل ژوند ته لږ ځیر شه، هغه دې څنګه تېر کړی دی؟ په عیش و نوش کې، له ټولنې مو هر څه واخېستل، خو هېڅ څه مو په بدل کې ورکړي نه دي. شتمنی لاس ته درغله، له هغه مو څه ګټه واخېسته؟ خپلو، خپلو خپلوانو ته مو څه وکړل؟ د خپلو لسګونو زرو مرئیانو په اړه مو څه فکر کړی دی؟ ایا له هغو سره مو څه مالي معنوي مرسته کړې ده؟ نه! نه! د هغو له ټول توان او زیار نه مو یوازې د خپل عیش و نوش لپاره ګټه اخېسته ده. هو کې، دا هغه څه دي، چې تاسې کړي دي او بس. ایا تاسو ځان لپاره کوم کار موندلی چې خپلو خپلوانو ته خدمت وکړئ؟ نه، نه، تاسو خپل ژوند هسې په چټیاتو او اپلتو تېر کړی دی او بیا مو واده کړی دی، زما ښاغلیه! واده مو وکړ، د یوې ځوانې ښځې لارښوونه مو په غاړه واخېسته؟ له هغې سره مو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړئ؟ هغې سره مو د ربښتیا د موندلو په برخه کې هېڅ ډول مرسته ونه کړه، ښاغلیه زما ! برعکس هغه مو د دروغو او بدمرغیو په سېلاب کې لاهو کړه. کوم سړي تاسو ته سپکاوی وکړ، تاسو هم د هغه د مرک تکل وکړ، له پښو مو واچاوه او اوس تاسو وایې چې خدای نه شته او له خپل ژوند نه کرکه لری، هو کې دلته هېڅ د حیرانتیا خبره نه شته، زما ښاغلیه !

بوډا ماسون، ګوا کې چې له اوږدو خبرو نه ستومانه شوی وي، پر څوکۍ یې تکیه وکړه او سترګې یې وتړلې. پیېر د هغه برندي، زړې ګونځې، مړي ته ورته څېرې ته ځیر و او پرته له هغه چې سوڼ یې له خولې ووزي، له ځانسره یې څه ویل. داسې بربښېده چې وایي:

-هو کې ! زما ژوند کرکجن، بدمرغه، بې حاصله او له ګناهونو ډک دی، خو زړه یې ونه شو کولای، د بوډا چوپیتیا ماته کړي.

بوډا ماسون په یوه خرپېدلي او ډډ ټوخي سینه صافه کړه او خپل چوپړ ته یې ورغږ کړ.

پرته له هغه چې پیېر ته وګوري، وپوښتل:

-ښه ! آس څه شو ؟

-یو کرایي آس پیدا شوی دی، مګر تاسو وېده کېږی نه؟

-نه، نه وېده کېږمه، درځی، بارونه وتړئ.

پیېر پاڅېد ، په داسې حال کې چې سر یې ټیټ اچولی و ، په کوټې کې یې ګرځېدل پیل کړل، کله ناکله به یې هغه ته ورکتل او له ځانسره به یې وویل:

-دا څه کوئ؟ ربښتیا ځي که څنګه؟ پرته له هغه چې خپلې خبرې پای ته ورسوي اوله ماسره د مرستې کومه ژبه وکړي، غواړئ لاړ شی، ما یوازې پرېږدئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو کې، ما رښتیا ددې شیانو په اړه فکر نه کاوه، ټول ژوند مې ټول ګناه ګناه او سپکاوی و، خو ما له دې ژوند سره نه مینه لرله او نه د هغه لېواله وم. مګر دا سړی چې رښتیا او حقیقت ته رسېدلی دی، که غوښتل یې وای، کولای شو، ما ته هم لارښوونه وکړي.

پېیر غوښتل چې دا خبرې بوډا ماسون ته هم ووايي، خو زړه یې نه شو کولای.

بوډا مسافرله خپلو زړو او ژوند ځپلو منګلو سره، خپل کالي ټول کړل، د خپل پوستین تڼۍ یې وتړلې، د خپلو ټولو چارو تر سرته رسېدونه یې وروسته یې پېیر بیزاوخوف ته مخ ورواړاوه او په خورا آرامۍ او ډاډمن آواز وویل:

-ښه زما ښاغلیه ! اجازه راکړئ، وپوښتم او س کوم پلو ؟

پېیر په نه ډاډمن، ماشوم وزمه ژبه ځواب ورکړ:

-زه، زه د پترزبورګ پلو. زه له تاسو مننه کوم او په ټولو خبرو کې له تاسو سره موافق یم، خو تاسو فکر ونه کړی، چې زه دومره ګناهګار او نادانه یم، زه د زړه له کومې نه غواړم، هغه شان واوسم، چې تاسې یې هیله لرئ. مګر ما هېڅکله له هېڅ چا نه په دې برخه کې مرسته او لارښوونه، لیدلې نه وه... که څه هم پوهېږم، چې له هر چا نه د مخه، زه خپله په دې کې ملامت یم،له تاسو هیله کوم، مرسته راسره وکړئ، لارښوونه راته وکړئ، رازده یې کړئ..... نور یې ونه شو کړای خبرو ته دوام ورکړي، ستونی یې راډک شو او مخ یې واړاوه.

بوډا ماسون ډېر ځنډ چپ و او تصور کېده، چې څه فکر کوي، خو بالاخره یې وویل:

-یوازې خدای دی چې مرستندوی دی، خو هغه څه چې زموږ د ورونو په توان کې وي، له تا نه به ونه سپمول شي زما ښاغلیه ! تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پترزبورګ ته روان یاست، دغه یادښت به ګراف ویلارسکي ته ورکړی (یو کاغذ یې راواخیست، قات یې کړ او د هغه په څلورمه برخه کې یې څه کلمې ولیکلې) که اجازه راکړئ، تاسو ته یوه سپارښتنه او مشوره درکوم. پلا زمېنې ته چې ورسېدئ، تر هر څه لومړی، د ځان پېژندنه پیل او د ځان په اړه فکر پیل کړئ. د ژوند پخواني کړه او لارې پرېږدئ.

خو همدا چې چوپړ یې کوټې ته راننوت، زیاته یې کړه:

-ښه، ښه زما ښاغلیه ! سفر مو په خیر. تاسو ته د برې هیله کوم !

پېیر وروسته په رباط کې د مسافر د نوم لیکنې له دفترنه پوه شو، چې دغه سړی، اؤسیپ الکسي یوویچ بازدایف ( د نولسمې پېړۍ په پیل کې، د روسي فراماسیونانو د ډلې یو ستر غړی ) نومېده. بازدایف د دغه غورځنګ دنوویکف (د روسیې د ستري ټولواکې دویمې ایکاترینې په زمانه کې ستر مبلغ ) له زمانې نه د فراماسیون د ډلې غړی و. پېیر د هغه تر تګه وروسته تر ډېر یې پورې و نه شو کولای ویده شي، د آس د چمتو کېدو خیال یې هم له فکره ووت. له غمه په کوټه کې ګرځېده راګرځېده او د خپل ګناهونو نه تېر ډک ژوند په اړه یې چرتونه وهل. هغه د خپل نوي، راتلونکي او ګناهونو پاک، سپېڅلی، با تقوا او نېکمرغه ژوند تصور هم کاوه، او داسې یې ګڼله چې په خورا آسانۍ به یې پیل کړي. هغه داسې انګېرله چې، یوازې له دې کبله د ګناه غېږ ته لوېدلی، چې بې پروا و او په دې نه پوهېده، چې د پرهېزګارۍ او تقوا ژوند خومره ښکلی او سپېڅلی دی. لویه ګناه لا دا چې دی له دې غفلت او بې پروایۍ نه خبر نه و او نه پوهېده. د هغه په روح او په زړه کې د پخواني شک او تردېد، هېڅ یوه نښه هم پاتې نه وه. هغه په ټینګه ډاډ لاره چې د ورورګلوۍ او خواخوږۍ لاره چې د یو بل نه د ملاتړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـپېڅلوالي لـه لارې رامـنځ تـه کېـږي، جوړېـدی شـي، او هغـه د فراماسيون لاره او جوړښت هم دا سې يوه لاره او جوړښت گانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

پيير چې پترزبورګ ته ورسېد ، هېڅوک يې له خپل راتګ نه خبر نه کړل، هېڅ چېرې نه ته او خپل ټول وخت يې د فوماکمينسکي د کتاب په لوستلو چې کوم نا پېژندل شوی ورته راوړی و ، تېر او ه. پيير د دغه کتاب د لوستلو په وخت کې په يو شي ښه پوهېده او هغه، هغه نا څرګند خوند او لذت و ، چې تر اوسه پورې يې د دغه کتاب له لوستلو اخيست. دغه خوند ،هغه ډاډ او پوهېدنه وه، چې کمال ته د رسېدو او د وګړو ترمنځ د خواخوږۍ او ورورګلوۍ د مينې له پيدا کېدو نه رامنځ ته کېږي. او اؤسيپ الکسيوويچ دی له دغه رازه خبر کړی و. پترزبورګ ته د راستنېدو نه يوه اونۍ وروسته، ګراف ويلارسکي، چې يو پولندي ځوان و ، او پيير له هغه سره د پترزبورګ په بنډارونو کې له لرې آشنايي لرله، د ده ديدن ته راغی. د هغه کړه وړه هماغه شان د درناوي نه ډک و چې د دولوخوف د شاهدۍ په وخت کې يې ليدلی و. هغه وخت چې د دوئيل د شرايطو د ټاکنې لپاره ده ته راغلی و. وروسته له هغه چې د کوټې دروازه يې ځان پسې وتړله او ډاډمن شو چې له پييره پرته، بل هېڅوک په کوټه کې نه شته، پيير ته يې وويل:

-جلالتمابه ګرافه ! زه د يو خورا مهم ماموريت لپاره راغلی يم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو ته وړانديز لرم. زموږ د ورونو د ټولنې يو خورا لوړ غړي هيله او وړانديز کړی دی، چې تاسو ته له ځانګړو شرايطو نه پرته، زموږ د ټولنې غړيتوب ورکړ شي. هغه له ما نه هيله کړې، چې ستاسو د پېژندګلوۍ تضمين وکړم. زه دغه دندې ته په درناوي ګورم او هغه يوه سپېڅلې چاره ګڼم، ايا تاسو هيله لرئ، چې زموږ د خپلواکو معمارانو د ټولنې غړيتوب ومنې؟

پېير د دغه سړي له وچې او سړې ژبې نه، چې پخوا به د نڅا او سندرو په بنډارونوکې د خورا ښکلو ښځو په منځ کې د خوږې ژبې او خوښۍ دهڅولو په نامه پېژندل شوی و، تعجب وکړ، خو بيا يې هم ځواب ورکړ:

-هوکې ! خوښه مې ده.

ويلارسکي، د درناوي په نښه سر ټيټ کړ او وې ويل:

-ښاغليه ګرافه، که اجازه وي يو بله پوښتنه هم لرم. دا پوښتنه له تاسو نه، نه د يو راتلونکي ماسون، بلکې د يو صادق او رښتينې انسان په توګه کوم او هيله لرم، چې د زړه کومې او په رښتينې توګه د هغه ځواب راکړئ: ايا له خپلو پخوانيو عقايدو نه اوښتي يې او کنه؟ ايا په خدای ايمان لری؟

پېير له لږ ځنډ او فکر نه وروسته وويل: هوکې، هوکې، په خدای ايمان لرم.

ويلارسکي وويل: چې داسې ده نور...

پېير يې خبرې ورپرې کړې او وې ويل:

-هوکې ! په خدای ايمان لرم.

ويلارسکي وويل: چې داسې ده درځه، زما ګاډی زما او ستا تګ ته چمتو ولاړ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تولـه لاره کې ویلارسکي چوپه خولـه و. د پېیر ددې پوښتنو پـه ځـواب کـې چـې هغـه بـه هلتـه څـه وکـړي، څنګـه ځوابونـه ووایـي، ویلارسکي یوازې دومره وویل چې:

-تر ده نـه لا پـوه او ښـه ورونـه بـه هغـه وآزمـايي او هغـوی لـه تـا نـه د رښتیا ویلو نه پرته د بل څه هیله نه لري.

د یـوې لـویې ودانـۍ د دروازې لـه تېرېـدو نـه وروسـته، یـوې تیـارې برنډې ته وروختل، یو کوچنی رانېه دهلېز ته ورننوتل او د کـوم چـوپړ لـه مرستې نه پرته یې خپل پوستینونه وویستل. یوې کوټې ته ننوتـل او لـه هغـې نـه بلـې کـوټې تـه لاړل. یـو سـړی چې عجیب او غریبې جامې یې اغوستې وې، د وره په خوله راڅرګند شو. ویلارسکي هغه ته ورنږدې شو او په فرانسوي ژبه یې په کراره هغه ته څه وویـل او بیـا پـه یـو کـونج کې لږ څه لویې الماری ته نږدې شو. د پېیر پام شو چې هلتـه څـه جـامې ځوړندې دي. ویلارسکي د الماری نه یو دستمال راواخېست، هغـه یـې د پېیـر پـه سترګو ورکېښـود او د دستمال دواړه سرونه یـې، د هغـه تـر څټـه غوټـه کـړل. داسې چـې پـه غوټـه کـې یـې وېښـته هـم غوټـه او درد احساس یې وکړ. بیا یې پېیر د ځان خوا ته ورخم کړ، د هغه مخ یې ښـکل کړ، لاس ونیو او یوې خواته یې د هغه لارښوونه پیل کړه. په غوټـه کـې، د هغـه د غوټـه شـویو وېښـتو درد ، هغـه زوراوه، لـه دردبـې تنـدی تریـو شـوی و ، مګـر بیـا هـم هوسـېده او نـه پوهېـده، چـې لـه کـوم شـي نـه شرمېږي... هغه ویلارسکي پسې روان و.

ویلارسکي چې لس دولس ګامه لاړ، ودرېد او وې ویل:

-که رښتیا دې د معمارانو په ټولنه کې د غړیتوب پرېکړه کړې وي، هر کړاو چې په تا راځي، باید په مېړانه یې وزغمي. (پېیر د منلو په نښه سر وخوځاوه) کله چې مو د دروازې د ټکهاري غږ واورېد ، سترګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو تړل شوی دسمال لرې کړي.
ویلارسکي د پيير لاس راونيو، هغه يې کښېنکود او وې ويل:
-تاسو ته مېړانه او بري غواړم او تر دې وروسته لاړ، ووت.
پيير چې کله يوازې پاتې شو، بيا هم موسېده. يو دوه ځله يې اوږې پورته واچولې، لاس يې دستمال ته وروړ، ګوا کې غوښتل يې هغه له سترګو لرې کړي، خو بيا به يې لاسونه ښکته واچول. پنځې سترګې چې پنځه دقيقې انتظار پاتې شو، هغه ته داسې وبرېښېد، لکه يو ساعت. د هغه لاسونه ستومانه او پښې يې درنې درنې شوې، داسې انګېرله چې خورا ستومانه شوی دی. د هغه په زړه کې ډول ډول خيالونه په راويښېدو وو. دی په ژوند کې له راتلونکو پېښو نه په وېره کې و، خو هغه تر دې هم زيات له دې نه وېرېده، چې څوک يې له ډاره خبر شي، هغه په دې لټه کې و، چې څه ورپېښېږي او څه رازونه به ده ته وسپړل شي، خو دی له هر څه نه په دې خوشاله و چې په پای کې هغه شېبه رارسېدلې ده، چې بالاخره دی د رښتيا لارته برابرېږي او دی د زهد او تقوا هغه ژوند پيل کوي، چې له اؤسيپ الکسي يوويچ سره يې له کتنې وروسته هيله لرله. دروازه په سختۍ سره وټکول شوه. پيير دستمال له سترګو لرې کړ او شاوخوا يې وکتل. کوټه تپه تياره وه، يوازې په يو ځای کې يو څراغ چې د کوم سپين کپړي په منځ کې لګېدلی و. پيير څراغ ته ورنږدې شو او وې ليدل، چې څراغ پر يوه تور ميز ايښی دی. پر ميز يو کتاب پروت و، دا سپېڅلی کتاب و. هغه سپين شی چې شمعه په کې بليده د انسان ککره وه. انساني ککره، له خپلو سوريو، اډکو او له غاښو سره. د کتاب لومړنۍ کلمې يې ولوستې:
- په پيل کې کلمه وه او کلمه له خدای سره وه.پيير چې له ميزه ورتاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو ،يو پرانستی لوی صندوق يې وليد ، چې يو شی په کې ابښی و ، هغه يو تابوت و ، چې اډوکې په کې پراته وو. ده له دغو ليدل شويو شيانو نه هېڅ حيرت ونه کړ. هغه هيله لرله چې نوی ژوند ، داسې نوی ژوند ، چې د هغه له پخوانی هغه نه چور بل ډول و پيل کړي. هغه د غير عادي شيانو د ليدو په تمه و ، داسې غيرعادي، چې تر اوسه يې نه و ليدلي. د ککرې، تابوت او سپېڅلي کتاب ليدل هغه نه حيراناوه. ځان ته يې تر دې نه د عجيبو شيانو وعده ورکړې وه. هغه هڅه کوله په زړه کې د مينې او سپېڅلتيا روح راوپاروي. شاوخوا يې وکتل په زړه کې يې ويل:

-خدای، مرګ، مينه د انسانانو وروروګلوی. هغه هڅه کوله چې، ناڅرګند خو په زړه پورې خيالونه او تصويرونه انځور کړي. په دې وخت کې دروازه راخلاصه شوه او څوک رانوتل. تتوالی او تياري، هغه تياري چې د پېير سترګې نورنو ورسره روږدې شوې وې، او هر څه يې ليدل، ښکاره شو چې د يوې منځنی ونې سړی رانوت. هغه سړی له رڼا نه تيارې ته رانوتی و ، نو ځکه ځای پر ځای ودرېد. بيا په خورا احتياط سره د ميز خوا ته ورنږدې شو او خپل ښکلي په چرمي دستکشو کې مروړلي لاسونه يې پر هغه کېښودل.

د منځنۍ ونې دغه سړي چې، سپينه چرمي چپنه يې اغوستې وه، چپنې د هغه يوه برخه ټټر او د پښو يوه برخه پوښلې وه.

نوی رانوتی سړی، د پېير د جامو د شغهاري خوا ته مخ ورواړاوه او وې پوښتل:

-تاسو د څه لپاره دلته راغلي ياست؟ تاسو چې د حقيقت په رڼا ايمان نه لرئ او اصلاً هغه نه ويني، ولې دلته راغلي ياست؟ له موږه ته څه غواړئ؟ حکمت، خواخوږي که رڼايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دروازه پرانستل شوه او ناپېژندل شوی سړی کوټې ته راننوت، په پېير کې يې هماغه وحشت او درناوی راپېښ کړ، چې د ماشومتوب په وخت کې يې د ګناهونو د اعتراف په وخت کې احساس کړی و... زړه او سا يې رېږدېدل. هغه وينا وال (ماسونانو هغه څوک په دې نامه يادول چې د حقيقت لټوونکي يې د فراماسون د ټولنې غړيتوب ته چمتو کول) هغه ته ورننوتې شو او هغه يې وپېژاند. هغه دده پخوانی پېژندګلوی و، هغه سموليانينوف، نومېده. خو دې خبرې، چې نوی لټوونکی دی پېژني، لږ شانته زوراوه. نوی لټونکی يوازې يو لټونکی او زده کوونکی و. پېير تر ډېرې پورې ونه شو کولای، آن يوه خبره هم وکړي، نو ځکه ويانددې ته اړوت، چې خپله پوښتنه تکرار کړي:

بالاخره، پېير تر زيات زيار نه وروسته، وويل:

-هوکې، زه... غواړم بدل شم.

سموليانينوف وويل: ډېر ښه! او زياته يې کړه: ايا د هغه طريقې او لارې نه چې زموږ د وروګلوۍ په سپېڅلي نظام کې نغښتې ده او له تاسو سره به د ارمان په رسولو کې مرسته کوي، کوم تصور لرئ؟

پېير په لړزېدلي آواز چې په خورا سختۍ يې لازمې کلمې موندلې، ځکه ګبنۍ اخېستی و او په دې هم رږدی نه و چې وچې جملې په روسي ووايي، وويل:

-هيله لرم چې لارښوونه مې وکړي، مرسته راسره وکړئ، چې بل انسان شم.

-تاسو د فراماسوني جوړښت نه څه تصور لرئ؟

پېير چې څومره خبرې اورېدولې، د خپلو خبرو له ګډوډۍ او بې اړيکتوب نه لا شرمېده، هغه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه فراماسوني جوړښت، د انسانانو د وروږګلوۍ د ټينګښت ضامن ګڼم، د غه لاره له هغوی سره ښکلو ارمانو ته د رسېدو په برخه کې مرسته کوي، داسې تصور کوم...

ويانډ چې د دې وينا له اورېدو نه په ډاګه خوښ برېښېده، په تلوار وويل:

-ډېر ښه! کله مو دا هڅه کړې ده، چې خپل ارمان ته د رسېدو لپاره، له مذهب نه مرسته وغواړئ؟

-نه، ما مذهب بې لارې ګڼله او د هغه له پوهې نه مې ګټه نه اخېسته.

دا خبرې يې هومره په کرارۍ کولې، چې وينا هغه وا نه اورېدې او وې پوښتل چې څه وايي.

پيير ځواب ورکړ:

-ما په خدای ايمان نه لاره.

ويانډ له لږ ځنډ نه وروسته وويل:

-تاسو د رښتيا په لټه ياستئ، د هغې رښتيا په لټه کې ياستئ چې په ژوند کې د هغو له قوانينو نه ګټه واخلی. تاسو د تقوا او رڼا په لټه کې ياستی؟ همداسې نه دی؟

پيير دا خبره ومنله، او وې ويل: هو، هو.

ويانډ په ټوخېدو سره ستونی صاف کړ او په سپين چرمو کې نغښتل شوی لاسونه يې په ټټر صليب کړل او وې ويل:

-اوس زه دا دنده لرم چې تاسو ته د خپل وروږګلوۍ د نظام د اصلي هدف رازونه راوسپړم، که دغه موخه، ستاسو هدف سره نېږدې وي، تاسو به د وروروۍ له ټولنې سره د يو ځای کېدو لپاره، له هغه نه ګټه واخلی. د هغه لومړی هدف د وروروۍ د نظام بنسټ جوړوي او هېڅ انساني توان د هغه د ناتوانه کولو توان نه لري، دا د يو داسې ستر راز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتنه ده چې له لرغوني زماني او آن د لومړني انسان نه راپاتې دی او کېدای شي وو ایو چې د بشر برخلیک هغه پورې تړلی دی. موږ د دغه راز د ساتنې دنده لرو او هغه باید راتلونکو نسلونو ته وسپارو، خو ددې راز د ساتنې یو راز په دې کې دی، چې د زړه صفایي او ایمان له رڼا نه پرته کېدای نه شي، هر پلټونکی باید د پرله پسې ریاضت له لارې، دغه کار ته چمتو شي. هر څوک نه شي کولای په آسانۍ د دغه مقام د لاس ته راوړنې هیله وکړي. موږ دویم هدف هم لرو او هغه دا دی چې خپلو پیروانو او لټوونکو ته د هغو لاروچارو او دودونو له لارې چې موږ ته زموږ د مشرو لارښوونکو او سپېڅلو سالکانو نه راپاتې دي، د توان تر اندازې ،دوی ته مرسته ورسوو، چې زړونه یې پاک او ذهنونه یې د ایمان په رڼا روښانه شي او په پای کې زموږ درېیم هدف دا دی چې د ورونو د زړونو د سپېڅلتیا او سمې لارې ته د هغو د راوستلو له لارې د ټولې بشري ټولنې نیکمرغۍ لپاره هڅه وکړو. دا په دې معنی چې د خپلو ورونو د زړونو صفایي تقوا او ذهني رڼا، د بېلګې په توګه د هغو مخې ته ږدو او په ټول توان سره د هغه شیطاني تورتم په وړاندې چې په نړۍ واکمن دی، دربرو. اوس به لږ د دغو ټکو په اړه فکر وکړئ، زه به بیا ستاسو دیدن ته راشم. دا یې وویل او له کوټې نه ووت.

پېیر له ځانسره تکراره کړه: د هغه شیطاني تورتم په وړاندې چې پر نړۍ واکمن دی...په دې لاره کې یې، خپلې راتلونکې هلې ځلې تصور کړې.

هغه د هغو کسانو تصور کاوه، لکه دی خپله چې دوې اونۍ وړاندې و. ده تصور کاوه چې دی د هغو مخې ته ولاړ دی او دښوونکي یا ددغې لارې د ویاند په شان د هغود زړه د سپېڅلتیا او ذهني رڼایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره خبرې کوي. هغه د ګناهونو په سین کې لاهو او په تیارو کې د ورک لارو تصور کوي چې دی له هغوی سره د پوهولو مرسته کوي.... هغه د دغه لارې د درې اهدافو، د هغه د وروستی، یعنې د بشر د نیکمرغۍ او سمې لارې ته راوستلو په اړه، چې د ده خیالاتو ته خورا نږدې دی، زیات فکر کاوه. د هغه ستر راز په اړه چې ویاند ده ته ویلي و، ده زیات فکر نه کاوه، که څه هم د ده د لټونې احساس یې لمساوه، خو هومره جوړونکی ورته نه برېښېده. دویم هدف، ریاضت او دزړه سپېڅلوالی هم د هغه پام ورا نه ړاوه، ځکه چې په هغه شېبه کې یې داسې انګېرله، چې دی، نو لارې ته سم شوی دی او هغه ټوله پخوانۍ ناولتیا یې ترې ورکه شوې دي. داسې چې پرته د ښو کارونو، د بل هېڅ کار سر ته رسولو ته چمتو نه دی.

نیم ساعت وروسته، بیا لاربښود ویاند راستون شو او هغه ته یې هغه اوه اصله، چې د سلیمان د معبد د درجو ښه لرله او هر ماسون باید هغه د زړه له کومې وپالی، وشمېرل:

لومړی کمیني، فروتني او د نظام د رازونو ساتنه، دویم د مشرانو اطاعت، دریېیم ښه اخلاق، څلورم انسان دوستي، پنځم مېړانه او زړورتیا، شپږم سخا، او اوم له مرګ سره لېوالتیا.

ویاند وویل: هڅه وکړئ چې د اوم فضلیت په اړه لږ په ځیر فکر وکړی. د مرګ په اړه په فکر کولو کې، باید داسې پایله واخلی چې، مرګ ستاسو لپاره نه یو وحشت، بلکه د یوه مهربانه دوست په ښه وبرېښي چې رنځېدلی او زورېدلی روح له ناولي رنځ او عذاب نه ژغوري او هغه ابدي آرامۍ او ثواب ته لوړوي.

کله چې لاربښود ویاند له دغې وینا وروسته، بیا له کوټې نه ووت او پېیر یې د پرېکړې او فکر لپاره له ځانسره یوازې پرېښود، هغه په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وویل:
-هو کې، باید همداسې وي، خو زه لا تر اوسه پورې دومره ناتوانه یم، چې له دغه ژوند سره مې، چې اوس یې کرار کرار اصل راته برالا کېږي، زړه تړلی دی. ددې سره سره، ده له هغو اوو فضیلتونه چې ده ته ویل شوي، پنځه هغه په ګوتو شمېرل او بیا بیا یې یادول. هغه داسې انګېرله سخاوت، مېړانه، ښه اخلاق او انسان دوستي، تول، تول په تېره بیا د اطاعت هغه، نه فضیلت بلکې نیکمرغه وه. (هغه په دې خورا ډېر خوشاله وه چې له خپلې خپلواکۍ نه، خپلواک شوی و او ځان یې د هغه چا خوښې ته سپاره چې په رښتیا سره یې واقعي حقیقت موندلی و) هغه اوم فضیلت هېر کړی و او هر څه یې چې کول، هغه وریاد بدی نه شو.
لاربنود ویاند، درېیم وار او دا وار هر بل وار نه ژر بېرته راستون شو او له پېیر نه یې وپوښتل:
-ایا لا تر اوسه هم پر خپله ژبه او تکل ولاړ او له تاسو چې هر ډول تسلیمي غواړي، هغه به سر ته رسوئ؟
پېیر وویل:
-دې ټولو کړو ته چمتو دی.
لاربنود ویاند وویل: یو بل ټکی چې باید تاسو ته وویل شي او هغه دا دی چې زموږ په روزنیز جوړښت کې، ښودنه نه د وینا بلکې له نورو لارو هم کېږي. دا په دې معنا چې کله کله پر پلټونکی او د حقیقت په غوښتونکی په خپله حقیقت او تقوا تر وینا او خبرو زیات اغېز کوي. دا زما لاره د لرغونو روزنو په ډلې کې تر ټولو هغو زیاته اغېزمنه ده، چې د هېرو ګلیف له تورو نه ګټه اخلي. هېرو ګلیف د هغو څیزونو د څرګندونې داسې یوه ننداریزه ښه ده، چې د حواسو له لارې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسېږي، په انځوريزه بڼه د څيز د کيفيت ښودنه کوي.
پيير په خورا ښه توګه په دې پوهېده چې هېروګليف څه ته وايي، خو زړه يې ونه کړ چې څه ووايي. د سکوت سره سره وياند ته غوږ و او له ټولو شواهدو نه يې دا احساسوله، چې اوس آزماينښت پيل کېږي.
لارښود وياند پيير ته ورنږدې شو او هغه ته يې وويل:
-که مو د زړه له کومې پرېکړه کړې وي، کولای شم تا حرم ته بدرګه کړم.له تاسو هيله کوم چې د سخاوت په نښه، خپل ټول قيمتي شيان ما ته را کړئ.
پيير چې تصور وکړ، د هغه د ټولې شتمنۍ غوښتونکی دی، وويل:
-ما خو له ځانسره څه نه دي راوړي.
- څه چې لرئ، ساعت، پيسې، ګوتې...
پيير په چټکۍ له جيبې کڅوړې نه پيسې او بيا ساعت وروسپارل خو نه يې شو کولای په آسانۍ د واده کړۍ له خپلې ځوربې ګوتې نه راوباسي. خو کله چې يې دا چارې تر سره کړې، وياند ورته وويل:
-هيله لرم د اطاعت په نښه خپلې جامې هم وباسې.
پيير خپل نرۍ کوټ، واسکټ او چپه موزه راوايستل. وياند د هغه د کميس ګرېوان د هغه د ټټر چپې خوا ته ورخلاص کړ او د هغه د پطلون چپه پايڅه يې تر ځنګانه پورې وربډ وهله. پيير د خپل پطلون د ښي پايڅې د بډوهلو لپاره لږ خم شو خو سړی د هغه ددې کار مخنوی وکړ او وې ويل چې دې ته اړتيا نه شته. هغه د چپې پښې يو څپلکه ورکړه، چې پښو يې کړي. د هغه پرشونډو يو خپل سره ماشومانه موسکا ، چې د شک او پر ځان د ملنډو نښه و ، راخوره شوه. په ځوړندو لاسونو او سره خلاصو پښو د وياند نويو سپارښتنو ته سترګه په لاره و.
وياند وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زما وروستنۍ هیله دا ده چې د خپل ربښتینتوب د اثباتولو په نښه د خپلو نفساني هیلو نه، تا ته تر ټولو غوره یې ماته ووایې.

پیېر وویل: زما نفساني هیلې؟ زما نفساني هیلې یو دوه نه دي....

هغه نفساني هیلې چې تر ټولو نه زیات، د ربښتینتوب او حقیقت لارې ته، خنډ وي.

پیېر په خاموشۍ کې، د خپلو دغو نفساني هیلو شمېرنه کوله:

-شراب؟ ډېر خوړل؟ کبر؟ راحت پالنه؟ قهر؟ بدنیتي؟ ښځې؟ هغه په خیال کې دا ټول شمېرل، تلل او پرېکړه یې کوله، چې کوم یو تر ټولو مخکې دی؟ تر څه ځنډ نه وروسته یې په خورا کرار آواز، چې په سختۍ اورېدل کېده وویل:

-ښځې

ویاند لاربښود، د دغه ځواب تر اورېدلو، لږ وځنډېد خو هېڅ یې ونه ویل. هغه پیېر ته ورنږدې شو او هغه دستمال یې، چې پر مېز پروت و، راواخیست او بیا یې د پیېر سترګې وروتړلې، او وې ویل:

-د وروستي ځل لپاره تا سو نه هیله کوم، خپل ټوله پاملرنه ځانته ورواړوئ. خپل احساسات ایل کړئ او خپله نیکمرغی نه د شهوت په ارضا کولو، بلکې د زړه په صفالی او تقوا کې ولټوئ. د نیکمرغی سرچېنې نه د باندې، بلکې په خپل ځان کې دي.....

پیېر په هغه شېبه کې د نیکمرغۍ هغه ژوند ښوونکې سرچېنې په خپل ځان کې احساسولې، چې د هغه روح یې رڼاوه او زړه د هغو له لېوانتیا نه ډکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

یو څو شېبې وروسته، په پېير پسې هغه تیاره حرم ته یو بل څوک راغی.دا هغه پخوانی ویاند نه و ،بلکې دماسون له ډلې سره دده له پېژند گلوی سړی،ویلارسکي و.که څه هم تیاره و ،خو پېیر هغه له غږه پېژندلی و. پېیر د خپل د ټینگ تکل په اړه د هغه نویو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل:

-هوکې ! هوکې، تکل مې ټینگ دی.پېیر په ورین تندي چې ماشوم وزمه موسکا یې پرشونډو خوره وه، پراخ بربنډ ټټر، یو موزه په پښو او بله پښه بربنډه، گوډ گوډ په داسې حال کې چې ویلارسکي د هغه پر بربنډ ټټر، بربنډه توره ایښې وه، په گډه، هغه سره لاړ.

ویلارسکي هغه له کوټې نه وویست، هغه یې له څو دهلېزونو نه تېر کړ، بیا بېرته شا خواته راوگرځېدل، بیا مخامخ لاړل او په پای کې یوې برنډې ته ورسېدل. ویلارسکي وټوخېد ،د تیږومالتولو د یو ځانگړي سوټک، څو گوزارونه، دهغه ټوخي ته ځواب ورکړ او دهغه په وړاندې ور پرانستل شو. یو شډل ځیږ غږ (د پېیر سترگې هماغه شان تړلې وې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نه د نوم، ځای، دزوکړې دځای او د اسې نورې پوښتنې وکړې. او وروسته يې بيا هماغه شان تړلې سترګې بل چېرته بوته.

بل ځای ته د تګ په اوږدو کې، هغوی د کنايې په په ژبه دوی ته د ترمخې سفر کې، سپېڅلې دوستۍ، د نړۍ د ابدي معمار او د هغې مېړانې په اړه خبرې اترې وشوې چې د دغه ستونزمن او ګواښمن مزل د سرته رسولو په وخت کې ورسره مخامخ شي، وهل به يې له هغه ګران وي. د دغه سفر په لړ کې د پېير دې ته پام شو چې هغه، کله د پلټونکي، کله د زورېدونکي او کله هم د غوښتونکي په نامه نوموي. هر وار د سوټکانو او تورو د ګذارونو ډول او سندريزوالی بدليده. کله چې يې هغه کوم ځای يا کوم چا ته وروست، او دی نه پوهېده، چېرته يا چاته، دې ته يې پام شو، چې د لارښوونکي سرې ګامونه سست شول او د ده د لارښوونکو ترمنځ کوم کړکيچ او شخړه رامنځ ته شوه. هغه واورېدل، چې څنګه د هغه لارښوونکي يوله بل سره په بنګهاري پټ پټ غږېږي. د هغو يوه تن ټينګار کاوه، چې هغه بايد له يوې قالينې تېر شي، د هغه ښۍ لاس يې راونيو او پر کوم څه شي يې کېښود. هغه ته يې سره وويل چې کين لاس، د خپل ټټر په کينه خوا کېږدئ او د هغه نظام د وفادارۍ اصول تکرار کړي، چې دی يې د غړيتوب غوښتونکی دی. بيا يې شمعې مړې او پېير يې له بوی نه پوه شو چې الکول يې سره وسوځول. هغه ته يې سره وويل، چې کمکۍ رڼا ويني. په دې شېبه کې يې د هغه سترګې ورپرانستې، هغه تصور کاوه چې وېده دی، او پېير د الکولو د سوځېدو په تته رڼا کې، څو تنه وليدل. هغوی ټولو د هغه ويانډ په څېر چپنې اغوستې وې. هغوی ټول د ده په وړاندې ولاړ او خپلې بربنډې ځلېدونکې تورې يې د ده د ټټر پلو په نښه کړې وې. د هغوی په منځ کې يو سړی چې په وينو لړلی سپين کميس يې اغوستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. پيير د دغه حال په ليدلو، خپل ټټر د تورو خوا ته وروړاندې کړ او هڅه يې وکړه چې د تورو څوکې د ده په ټټر کې ننوزي، خو تورې دمګړۍ له هغه نه يو پلو ته شوې او هغه سره سم يې د هغه سترګې بېرته وروترلې.

هغه ته يو غږ وويل: تا اوس کمکۍ رڼا وليدله. بيا يې شمعې سره ولګولې او وې ويل: اوس بايد بشپړه رڼا وګورئ. د هغه له سترګو بيا دستمال لرې کړ او له لسو غږونو نه زيات تو هم مهاله غږ وکړ:

- د نړۍ پرتم داسې تېرېدونکی دی.

پيير کرار کرار ګواکې په سد کېږي، کوتې، د هغې ديوالونو او هغه کسانو ته چې هلته وو، کتل.

په کوټه کې د ولاړ ميز تر شاو خوا، چې تور ټوکر پرې غوړېدلی و، دولس تنه ناست وو او ټولو د هغو کسانو په څېر جامې اغوستې وې چې ده څو شپې مخکې ليدلي وو.ده،ددغو کسانو له ډلې نه ځينې د پترزبورګ په بنډارونو کې ليدلي وو. دلته د مشر پر ځای ده ته يو نا پېژندلی ځوان ناست او يو ځانګړی صليب يې په غاړه کې ځوړند و. د هغه کېڼې خوا ته، يو ايتالوی کشيش ناست و. دا هماغه آبات و چې څو کاله مخکې پيير هغه د انا پاولوفنې په کور کې ليدلی و. دغه شان يو لوړپوړی او پېژندل شوی چارواکی او هغه سويسي سړی چې يو وخت يې د کوراګين په کور کې، د هغه د ماشومانو د ښوونکي دنده لرله. ټولو په داسې حال کې چې په سکوت کې ډوب و، په خورا درناوی يې خپل مشر ته غوږ نيولی وو. په ديوال کې يو ځلېدونکی ستوری ټومبل شوی و. د ميز يوې خوا ته، په بېلا بېلا انځورونو انځور شوې يوه قالينګوټې غوړېدلې وه او بلې خوا ته يو قربانځای، يو سپېڅلی کتاب او پر هغه يوه انساني ککره ايښې وه. له ميز نه ګرد چاپېره، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلب شمعونو ته ورته اوو شمعونه کتار شوي و. دوو تنو پېير ته لاربښودنه وکړه چې د قربانځای خوا ته لاړ شي.

يو بل تن وويل:

- ښاغلو ! دا څه خبرې دي، پرېږدئ، هيله کوم دا خبرې پرېږدئ.

پېير پر ته له هغه چې په ځمکه پرېوزي، له خپلو نبږدې ليدونکو سترګو سره، حيران حيران شا و خوا کتل، خو ناڅاپه يې په زړه کې شک پيدا شو او له ځان سره يې وويل:

- چېرې يم؟ څه کوم؟ دا پر ما ملنډې وهي که څنګه؟ وروسته به ددې چارو ياد بدل، ما ته شرم نه وي؟

خو دغه شک د سترګو په رپ کې بېرته ورک شو. له ځانه د چاپېير شويو وګړو برندو څېرو ته ځير ځير و. ټول هغه څه يې ورياد کړل، چې په دې مراسمو کې تېر شوي وو او وويل، چې په نيمه لاره کې به نه درېږي. له شک نه خورا وېرېده، نو ځکه يې د صفا او صداقت د بيا لاس ته راوړلو په هيله د لمانځتون په وړاندې په ګونډو شو او پر ځمکه يې ځان واچاوه. په رښتيا يې هم تر پخوا لا زيات د آرامۍ او خواخوږۍ احساس وکړ. وروسته له هغه چې څو شېبې همداسې په درناوی غځېدلی پاتې شو، سپارښته وشوه، چې پاڅېږي او هغه شان سپينه چرمي چپن واغوندي، لکه چې نورو اغوستې وې. هغه ته يې يو پارو او درې جوړه دستکشه ورکړل. په دې وخت کې مشر استاد، هغه ته مخ وروااړاوه او وې ويل، چې د سپينې چپنې، سپين والی او پاکي ته چې د پرهېزګارۍ او صداقت نښه ده، پوره پاملرنه ولري. بيا يې د پارو په هکله چې لا تر اوسه د هغه د دندې په اړه څه ورته ويل شوي نه و، وويل چې، دا ددې لپاره دی، چې د هغه په وسيله لومړی خپل زړه له ګناهونو او ناولتيانه پاک کړي او بيا په کمينۍ د خپلو خپلوانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو وګړو زړونه او روان پاک او رون کړي. بیا د لومړي نارینه دستکشو په اړه ورته وویل، چې دا راز به ده ته هم داسې ناسپړلی پاتې شي، خو باید د هغه په ساتنه کې ډېره پاملرنه ولري. د دویم جوړه دستکشو په اړه چې هغه هم د نارینو و، ورته وویل شول، چې هغه د برنډې په غونډو کې په لاس کوي او د دریمې جوړې په اړه، چې ښځینه دستکش و، ورته وویل شول، چې:

- ګرانه وروره! دا دستکش هم ستا دي. دا به هغې ښځې ته ورکړې، چې تر نور ټولو هغو نه تا سوته د درناوی وړ وي. په دې ډالۍ سره باید هغې ته د خپل زړه سپېڅلوالی ثرګند کړې او هغه د معمار واده ته وهڅوې.

لږ ځنډه وروسته یې وویل:

- ګرانه وروره! خو پام کوه، چې دا دستکشونه، ناولو لاسونه په لاس نه کړي...

کله چې مشر استاد خپلې دا وروستی خبرې هغه ته اورولې، پیېر د هغه په تندي او څېره کې د خورا ژورې خواشینۍ نښې ولیدې او د هغه په لیدو دی هم لاپسې خواشینی او نېږدې و، چې سترګونه یې اوښکې را وبهېږي. څېره یې د ماشومانو په شان تکه سره شوه. په ګېڼې او نا آرامۍ یې شاوخوا وکتل او یوه زورونکی چوپتیا خوره شوه.

یوه ورور، دغه چوپتیا بیا داسې ماته کړه چې پیېر یې له لاسه ونیو او یوې قالینګوټې ته یې ورنېږدې او د یوې کتابچې له مخې یې پر قالینې د انځورونو په اړه، ویناوې ورته ولوستلې. دا انځورونه د لمر، سپوږمۍ، سوټک، شاقول، پارو او دوه ټوټې تیږې، انځورونه وو. یوه تیږه شډله او بل هغه یې د مکعب په شان تراشل شوې وه. دغه راز یو پایه او درې کړکۍ او ځینې نور شیان هم هلته انځور شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې پېیر ته یو ټاکلی ځای وټاکه، د برنډې ننبې یې وروښودلې، د ننوتلو (د شپې نوم) یا کود یې ورته ووایه او بالاخره یې اجازه ورکړه چې کېني. مشر استاد د دوی د نظام د بنسټیزو اصولو او کړنلارې لوستل پیل کړل. هغه یو خورا اوږد متن و. پېیر له خوښۍ، شرم او ګنهۍ نه، په هغه څه چې لوستل کېدل، سر نه خلاصېده. هغه یوازې د کړنلارې وروستۍ خبرې سمې واورېدې او په یاد یې پاتې شوې:

مشر استاد داسې ولوستل:

- زموږ په لمانځتونو او معابدو کې د تقوا او بې لارېتوب د کچو او درجو نه پرته، بله درجه نه شته. هر چېرته او هر کله چې امتیاز رامنځ ته کېږي، هلته چې د انسانانو تر منځ د برابرۍ زړې او بنسټ ړنګېږي. د ورونو مرستې ته چې هر څوک وي، وردانګه. هر بې لارې ته، چې هر څوک دی، لارښوونه کوه، هر لوېدلي ته لاس ورکوه او هېڅکله دې په زړه کې د ورور په وړاندې کرکه مه اچوه. تل خواخوږی او مهربانه اوسه. په هر زړه کې د مینې او صفایي ډېوه بلوه. په خپلو نیکمرغیو کې دې، خپل خپلوان او ورونه شریک ګڼه او هېڅکله د دغه سپېڅلو الې خوند په رخه او کرکه مه لړه. دښمنان دې ښه او له خواخوږۍ نه پرته، په بله وسیله له هغه نه غچ مه اخله. هر کله چې په دې توګه لوړ آسماني قوانین مراعات کړې، د لرغوني پرتم ورکې شوې ننبې به بیا پیدا کړې.

په همدې وروستیو ټکو یې خپله وینا پای ته ورسوله، پاڅېد ،له پېیر نه یې غېږ تاو او هغه یې ښکل کړ.

پېیر چې سترګې یې د خوښۍ له اوښکو ډکې وې، شاوخوا ته کتل او په دې یې سر نه خلاصېده چې څنګه مبارکیو او د تکلونو بیا تازګۍ ته ځواب ووایي ،له ځان نه راچاپېر شویو کسانو کې یې، څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژند ګلوي نه لیدل، هره خوا ته به یې چې کتل، ټول نوي ورونه و او په دې کې یې، تلوسه کوله، چې له دوی سره به ګډ نوي کارونه پیل کوي.

مشر استاد د سوټک په ګوزار ،له میز له ګړز جګ کړ، ټول پر خپلو ځایو کېناستل او یوه تن د کمینۍ او تواضع په اړه دعا ولوستله.

وروسته د مشر استاد په غوښتنه، د وروستۍ دندې د سر ته رسولو سپارښتنه وشوه، یو لوړپوړي روحاني، چې د (صدقې د راټولولو ) دنده یې لرله، پاڅېد او له یوه پلوه یې په ورونو ګرځېدل پیل کړل. پېیر غوښتل ټولې پیسې صدقه کړي، خو له دې نه وډار شو چې دا به کبر او ځانستاینه وګڼل شي، نو ځکه یې د صدقو په نامه په یوه لیک کې، هغه اندازه ولیکله چې نورو لیکلې وې.

غونډه پای ته ورسېده، خو پېیر کورته د رسېدو سره، داسې انګېرله چې له خورا اوږده سفر نه راستون شوی وي. هغه سفر چې لسګونه کاله یې دوام کړی و او د هغه په لړ کې دی داسې بدل شوی و، چې له پخواني جوړښت، نظام، ژوند او د هغو له عادتونو نه خورا لرې شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

پيير، په لوژ کې تر منلو يوه ورځ وروسته په کور کې ناست و او کتاب يې لوست. هغه هڅه کوله د هغې مربعې په معنا ځان پوه کړي، چې يوه خوا يې خدای، دويمه خوا يې اخلاق، دريمه خوا يې روحاني او جسماني عالمونه او څلورمه هغه يې د هغو اړيکي و.

کله ناکله به د دغې مربعې له خياله وزګار شو، سر به يې له کتاب هسک کړ او تصور کې به يې خپل نوی ژوند نه نکلونه انځورول.

د پرون ماښام په غونډه کې يې ده ته ويلي و، چې د ده د دوئيل آوازې تر ټولو اکه پورې ورسېدلی او ښه به دا وي چې يوه څه موده له پلازمينې پترزبورګ نه چېرته لاړ شي. پيير دا ښه ګڼلې وه، چې خپلو سهيلي جايدادونو ته لاړ شي او يو څو موده له خپلو بزګرانو سره ناسته ولاړه او حسابونه وکړي. هغه د خپل دغه نوی ژوند د خيالونو په خوښۍ کې ډوب و، چې ناڅاپه سردار واسيلي کوټې ته راننوت او سمدلاسه يې وويل:

- ګرانه ملګريه! دا په مسکو کې دې، څه بلا پېښه کړې ده؟ د زړه سره، دا لېوليا سره دې، څه اخ و ډب جوړ کړی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده واسیلي چې لا ناست نه و، زیاته کړه:

- ته هسې لمسول او پارول شوی یې، ته ډېر تېر وتلی یې، زه په هر څه خبر یم، زه کولی شم په ډاګه او د زړه له کومې تا ته ووایم چې ایلن ستا په وړاندې هومره بې ګناه ده، لکه هغه شان چې حضرت مسیح، د یهودانو په وړاندې بې ګناه و.

پېیر غوښتل چې ځواب ورکړي، مګر سردار واسیلي، هغه خبرو ته پرې نښود:

- ته ولې، مخامخ ما ته رانغلې او د یوه دوست او ملګري په څېر دې هر څه را ته ونه ویل؟

هغه زیاته کړه:

- زه په هر څه پوهېږم او له هر څه خبر یم. پوهېږم ستا کړه، د هغه نارینه کړو ته ورته و، چې له خپل ناموس نه دفاع کوي، خو هغه خورا په تلوار و. ښه په دې اړه به قضاوت نه کوو.

هغه خپل آواز لږ ټیټ کړ او دوام یې ورکړ:

- تصور یې کولای شې، ته لږ فکر وکړه، د تا په دې کړو سره، خلک اوس د هغې او زما په اړه څه فکر کوي. خلکو خو لا څه کوې، چې دربار... هغه هلته په مسکو کې پاتې شوه او ته دلته.

هغه د پېیر لاس راونیو، لږ یې ښکته کېښکود او وې ویل:

- ګرانه! دا په یاد لره، هرومرو کومه تېروتنه شوې ده، زه داسې انګېرم، چې ته هم همداسې فکر کوې او پوه شوی یې. وروره! سمدلاسه به، همدا اوس زما په مخ کې هغې ته یو لیک، لیکې.

لیک به لیکې، چې هغه دلته راشي، هر څه به روغه جوړه شي، دا بد مرغي باید پای ته ورسېږي، کنه ګوره! دا ساده او وړه پېښه به لوی جنجالونه جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار واسيلي هغه ته له معنا نه په ډک يو غلچک وکتل او زياته يې کړه:

- زه له خورا ښو خلکو نه خبر يم، چې ټولوا که امپراطوره، چې خپله يوه کونډه ده، له دې خبرې سره يې لېوالتيا پيدا کړې ده، ته خو پوهېږې، چې هغه له ايلن سره ځانګړې مينه لري.

پيير څو ځله هڅه وکړه چې څه ووايي، خو نه سردار واسيلي هغه ته د خبرو وخت نه ورکاوه او نه يې خپله له ډاره خوله پرانسې شوه، خو سره له دې يې هم تکل کړی و چې په خورا غوڅه ژبه له خسر سره خپل مخالفت څرګند او د هغه وړانديز ونه مني. په همدې شېبه کې هغه ته د خواخوږۍ، مهربانۍ او ورورګلوۍ په اړه، د ماسون د ډلې اصول وريـاد شول. مخ يـې سور او ګونځې ګونځې شو. ګېنۍ اخېستی و، همداسې پاڅېده او کېناسته، پاڅېده او کېناسته. هغه د ژوند تر ټولو په کړکېچن کړکېچ کې ځان راګير او لاس په ګريوان ليد... دغه حالت دی يو روحي اخ و ډب سره مخامخ کړی و... هغه د دغه راز تندو خبرو د اورېدو سره رږدی شوی و. هغه د سردار واسيلي له بربنډې او ترخې ژبې او په ځان باور سره هم عادت کړی و، نو ځکه يې داسې انګېرله، چې اوس هم دی ددې توان نه لري، چې د هغه په وړاندې څه ووايي، خو ده دا هم احساسوله، چې د هغه ټول برخليک او راتلونکې هغه ځواب پورې اړه لري، چې اوس يې بايد ووايي:

ايا دی هماغه شان خپل پخوانۍ لارې ته، خپل عـادت شوې لارې ته دوام ورکوي او يا دغې په زړه پورې لارې ته، چې ماسونانو ورته ويلې وه، هغې لارې ته چې ده سخت ايمان پرې پيدا کړی و، هغې لارې ته چې د نوې نړۍ ور يې ورته پرانست راګرځي.

سردار واسيلي په ټوکيزه وينا هغه ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښه ګرانه ! ته یو ازې ماته (هو ) ووایه، زه به هغې ته لیک ولیکم، بیا به په دې ویاړ زه خوسکی درته حلال کړم.

خو شهزاده واسیلي لا خپله ټوکیزه خبره پای ته نه وه رسولې، چې د پېیر پر څېرې د غضب داسې لړې راخورې شوې چې د هغه د پلار د څېرې د غضب یاد کاوه، بې له هغه چې خپل مرکچي ته وګوري، تر شونډو لاندې یېوویل:

- سردار، ما خو ته خپل کورته نه یې رابللی، هیله کوم چې لاړ شي !

پېیر پاڅېد ، هغه ته یې ورپرانست او بیا یې وویل:

- مهرباني وکړئ، څه ته ګورئ؟

هغه هم پر ځان دا باور نه درلود ، چې دغسې وکړي او له هغه وحشت، تلوار او ګبنۍ نه چې د سردار واسیلي په څېره کې راڅرګند شوی و ، خوشاله برېښېده.

سردار واسیلي وویل:

- څه در شوئ؟ نا روغه خو به نه یې؟

پېیر چې غږ یې ربړېدېده، په ګواښمن آواز یې بیا وویل:

- مهرباني وکړئ !

شهزاده واسیلي، پرته له هغه چې د خپلو پوښتنو ځوابونه واوري، دې ته اړ کړل شوی و ، چې باید لاړ شي.

پېیر یوه اونۍ وروسته، د ماسون د ډلې له خپلو نویو ملګرو سره خدای په اماني وکړه، د خیریه چارو لپاره یې ښې غټې پیسې ورکړې او خپله د خپلو جایدادونو د څارنې لپاره لاړ. د ماسون له ډلې نه د هغه نویو ورونو د کیف او ادېسې د ښارونو د ماسون له نامه هغه ته لیکونه ولیکل او په هغه کې یې پېیر ته ډاډ ورکړ چې دی به لیکونه ولیکي او په نوي پیل شوی ژوند او چارو کې به له هغه سره مرسته او لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

سره له هغه چې ټولواک، د دوئيل او دوئيل کوونکو په وړاندې سخت دريځ غوره کړی و، خو نه پيير او دولوخوف او نه د هغو شاهدانو يوه هم کوم ګواښ يا تاوان ونه ليد. او پېښه په خير تېره شوه. مګر د دوئيل له کبله و، چې پيير او مېرمن يې سره جلا شول او د دغې بدنامۍ، ډنډورد ټولو خلکو په تېره بيا د اعيانو په غونډو او بنډارونو کې سختې انګازې ګډې کړې وې. پيير چې تر دې نه پخوا يو ارمونی او نا مشروع سړی ګڼل کېده، اوس يې د ټولو په تېره بيا خير غوښتونکو او غوړمالو له خوا ښه ملاتړ کېده. هغه لا تر ځو موده د مخې، د روسيې تر ټولو بډای ځوان او بې ښځې مجرد زوم ګڼل کېده، د هرې کورنۍ له خوا يې هرکلی کېده، خو تر واده نه وروسته هغو ميندو چې پېغلې لوڼې درلودې او نور يې هيلې، په ناهيلو بدلې شوې، تر زياتې اندازې يې د هغه په وړاندې خپله بايلوده... د دوئيل په پېښه کې هم دی ملامت شمېرل کېده، هغه د يو لېوني او رخه لرونکي مېړه نوم ګټلی و او پسې ويل کېدل چې هغه د خپل پلار په څېر باځاری او عصبي ستونزې لري. کله چې ايلن د پيير ښځه، له پترزبورګ نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د تګ نه وروسته، دې ښارته راستنه شوه، ټولو خپلوانو او آشنایانو نه یوازې په خورا خوښۍ بلکې د هغې بدمرغۍ له کبله چې پر هغې راغلې وه، په ډېر درناوي د هغې هرکلی وکړ. هرکله به چې چا د ایلن د مېړه په اړه خبرې کولې، هغې خورا مظلومه څېره غوره کوله. که څه هم هغه د خپل دې دریځ په معنا نه پوهېده، خو بیا هم د هغه د ځیرکتیا احساس خپل په خپله په هغه کې رالمسېده. ددې دغه دریځ دا راځرګندوله، چې هغې پرېکړه کړې ده، د دغې بدمرغۍ او پېغور ټول پېټی یوازې، پرته له هغه چې چا ته ګیلې او شکایت وکړي، په خپله وزغمي. هغې داسې انګېرله، چې ددې مېړه هغه صلیب (صلیب د شهادت نښه ده، هغه شهادت د ګناهونو د ښنلو په خاطر باید وزغمل شي) و، چې خدای دې ته را لېږلی و. سردار واسیلي بیا په دې اړه لږ په ډاګه خبرې کولې. هر وار به چې د پېیر په اړه خبرې پیل شوې، ده به اوږې پورته واچولې، تندي ته به یې ګوته ونیوه او ویل به یې:

- د هغه ماغزه خراب دي، ما خو له هماغه لومړي ورځې ویل، چې لېوني دی.

انا پاولوفنا د هغه په اړه ویل:

- ما هم د همدې پېښې اټکل کاوه، زه همدا اوس هم وایم او له هماغې لومړۍ شېبې نه، تر ټولو لومړی ما دا اټکل وکړ (دې په دې زیات ټینګار کاوه، چې تر هرچا د مخه یې اټکل کړی و) ما ویل چې دا ځوان لېونی او ماغزه یې د پیړۍ په بې لارې عقایدو لړل شوي دي. ما ویل، ما لا هماغه وخت چې ټول پرې مین و. ویل؟ په یاد مو نه دي؟ هغه وخت چې نوی له بهره راغلی و او یو ماښام یې زما په یوه بنډار کې، ځان د کوم (مارات) په نامه خلکو ته وروپېژاند. (د روسي متن ۴۴۴مخ) اوس نو ورته ټینګ شئ، ګورئ! خبره چېرته ورسېده. زما لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه وخت دي واده ته خوښه نه وه او د دغه شان یو پای اټکل مې کاوه.

انا پاولوفنا د پخوا په شان په خپلو وزګارو ورځو کې، په خپل کور کې مېلمستیاوې جوړولې، هغه شان پرتمینې مېلمستیاوې چې یوازې انا پاولوفنا د هغې د جوړولو توان درلود. په دغو شان بنډارونو کې چې لومړی په هغه کې، د او سنی ټولنې غوره پېیروي (کوچ) د پترزبورګ د روښان اندو ټولنو تر ټولو غوره ګېډۍ، راټولیدل. د انا پاولوفنا په بنډارونو کې په ځیر د مېلمنو د ټاکنې ترځنګ، یوه ځانګړتیا دا هم و چې هر وار به په هغې کې یو ناپېژندل شوی او په زړه پورې څېره مېلمنو ته وړپېژندل کېده او بله ځانګړتیا یې لا دا وه چې هېڅ چېرې، لکه په دې بنډارونو کې، د پترزبورګ د سیاسي حالاتو په هکله اټکلونو او د هغو په اړه شننې نه کېدې.

د ۱۸۰۲ کال په پای کې هم چې په اینوي او اورشتت کې د ناپلیون له خوا د جرمن د پوځ د غمرلې ماتې له ټولو وړو او غټو پېښو او کیسو نه هر څوک خبر و، د جرمن د پوځ د سنګرونو د ړنګېدو کیسه هره خوا خپره وه. د روس پوځ، جرمن ته ننوتلی و او د ناپلیون روس دویمه جګړه پیل شوې وه، انا پاولوفنا یوه لویه مېلمستیا او بنډار جوړ کړ. په دې مېلمستیا کې غوره اعیان او د روښان اندو له ګېډونه، زړه راښکوونکې بد مرغه ایلن چې مېړه (پېیر) پرېښې وه، مورتـه مار، له ویانا نه نوی رارسېدلی، په زړه پورې شهزاده ایپولیت، دوه دیپلماته، ترور، هغه ځوان چې په دې بنډار کې یې د خورا غوره سړي نوم ګټلی و او په همدې نوم نومول کېده او یوې پېغله چې تازه د ښځېتوب ویاړ ور په برخه شوی و، د هغې مور او څو تنه نورو چې هومره پېژند ګلوي او نوم یې نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نوي خبره چې انا پاولوفنا ، د هغې شپې په مېلمستيا کې مېلمنو ته ورپېژندله، باريس دروبتځکوی و ،چې نوی يې د کوم لوړ پوړ چارواکي، ياورتوب رتبه اخېستې وه او په دې وروستيو وختو کې د جرمن د پوځ په ځانګړې استازيتوب راغلی و.

سياسي اړيکلونو او شننو دا ويل، که هرڅومره د اروپايي هېوادونو مشران او پوځيان، د ناپليون د زورزياتي په وړاندې، نرمي او کراري وښيي، زموږ خيال د بناپارت په وړاندې بدليدونکی نه دی. د هغه په وړاندې زموږ په ډاګيز دريځ کې بدلون نه راځي، د جرمن پاچا او نورو ته يوازې وايو چې:

- خپل عمل د لارې مل دی، هر څه چې کوئ، ځواب به يې ګورئ. دا ستا غوښتنه و ،هو کې ښاغليه جورج دا اند ښنه ! (د موليير د يوې ننداري اتل اند ښنه ده )...

کله چې نبږدې ټول مېلمانه راټول او باريس تالار ته راننوت، په همدې شېبو کې د انا پاولوفنا په ځانګړي لاربښوونه، ټولې خبرې له اتريش سره زموږ په سياسي اړيکو او له اروپا سره زموږ په اتحاد را چورليدې.

باريس، چې د ناظرتوب، وريښمينه نوې ښکلې دريشي اغوستې وه، له پخوا نه په مېړانې، تازه، تاند سور او سپين او په ډاډ منو ګامونو تالار ته راننوت او هغه شان چې لاربښوونه ورته شوې وه، بوډۍ ترور ته ورغی او تر ځانګړي درناوی نه وروسته ،له نورو سره يو ځای شو.

انا پاولوفنا خپل وچ لاس هغه ته ور اوږد او هغه ښکل کړ. بيا يې له هغه سره ځيني ناپېژندل شوي کسان، هغه ته وروپېژندل او د هر يوې، نوې پېژندونکې څېرې په اړه به يې په کراره يوه ستاينه کوله، هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل:

- شـهزاده ايپوليـت کـوراګين خـورا مهربـان ځـوان، دا هـم ښـاغلى کروک د دنمارک شـارژدافير، چې د ژورو خيـالاتو خاونـد دى او دا هـم ښاغلى شيتوف چې خورا دروند سړى دى.

بـاريس چې اوس د اناپاولوفنـا ، د هلـو ځلـو او خپلـو ځيرکتيـاو او هڅو له امله ځانته، غوره او د درناوي وړ دنده غوره کړې او د کـوم لـوړ پوړي چارواکي د يـاورتوب دنـده يې تـر لاسه کـړې وه. هغـه د جرمن پـه پـوځ کـې ښـه منصب ګڼلى او دا دي د يـوې خـورا درنـې دنـدې د سـر تـه رسولو لپاره د ځانګړى استازى په نامه پترزبورګ تـه راغلـى و. هغـه پـه الميوخ کې د نظم په اړه له نالیکل شوو قوانينو سره ښه آشنا شوى او له هغوى سره ښـه لېـوال شـوى و. دغـه نظـم او انضبـاط، او د هغـه ځـانګړي کـړه وړه چې کولاى شول يو ساده برېدګى، په خوار نامعقوله ښه، له يـوه جنراله نه، لوړ وښيي. د همدې نالیکل شويو قوانينو لـه مخـې، پـه پـوځ کې د لوړېدو او برى د لاس تـه راوړلـو لپـاره نـه هڅې پـه کـار وې او نـه زيـات کـار، نـه يـې مېړانـې تـه اړتيـا ليدلـه کېـده او نـه يـې زړورتيـاتـه، يوازې څه چې په کار و ، هغه له هغـو کسـانو سـره نږدېوالى او دوستي وه، چې دغه رتبې، مډالونه او نښانو نه يـې ښښـل. بـاريس هـم کلـه کلـه د خپلـو چټکـو رتبـو لـه اخېسـتو نـه تعجب کـاوه او هـم بـه لـه دې کبلـه پـه حيرت کې و چې څنګـه نور د ده لـه دغـه راز برياليتوبونـه، نـه خبرېږي. بـاريس د دغـه نـوي ژونـد لـه کبلـه، لـه ډېـرو پخوانيـو دوسـتانو سـره پخـوانـي کـړه وړه، دودونـه او حتـي آشـنايان او وعـدې هېـرې کـړې وې. خپله هم چور بدل شوى و. که څه هم هغه ښاى نه و ، خـو خپلـه وروسـتۍ ټـنګه يې هم پـه کـالبو او جـامو خرڅولـه او هڅـه کولـه چـې تـر نـور ښـه او ښکلى وبرېښي. هغه له ډېرو لذتونو ځان ددې لپاره بې برخې کـاوه، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پترزبورګ په لارو کوڅو کې، په خورا ښو ګاډيو کې سپور او ښو نويو پوځي جامو کې وګرځي. يوازې له هغو کسانو سره د آشنايي په لټه کې و چې تر ده نه لوړ دريځ ولري او په يو څه نه، يو څه کې دی ګټه ترې واخېستی شي. پترزبورګ ده ته ډېر ګران او مسکو ته يې په سپکه کتل. د رستوف له کورنۍ او له ناتاشې سره يې خپل د تنکي ځوانۍ لېونۍ مينې ته په ملنډو کتل او په پوځ کې د ګډون نه وروسته هېڅکله بيا د هغو کور ته نه وه ورغلی. دا دی اوس، د اناپاولوفنا د مېلمستيا تالار ته رابلل شوی و. دې تالار ته رانوتل يې د خپلې لوړتيا يوه غوره نښه ګڼله.... خپله يې په ډېرې ځيرتيا ټول څارل. هر مېلمه ته يې جلا جلا په ځير ځير کتل او په دې اړه يې فکر کاوه چې له کوم يوه نه کومه ګټه اخېستی شي او په څه ډول له هغه سره ځان نږدې کولی شي. د مېلمه پالې له لارښوونې سره سم د ښکلې ايلن تر څنګ کېناست او د بنډار عمومي خبرو ته غوږ شو.

د دنمارک شارژدافير ويل:

- ويانا د وړانديز شوي تړون په ټکو په ښه توګه پوهېږي. هغوی پوهېږي چې د ډېرو بريو سره سره، بيا هم دغه وړانديز سرته رسېدای نه شي، نو ځکه هغوی د دغه تړون د اهدافو عملي کېدو ته په شک ګوري. او همدا د ويانا د کابينې نظر هم دی.

يو هوښيار او ځيرک سړي وويل:

- همدا شک او تردېد د وياړ وړ خبره ده.

مورتهمار وويل:

- د ويانا د کابينې او د اتريش د امپراطور او ټولواک خبره بايد يوه ونه ګڼله شي، د اتريش ټولواک هېڅکله نه شي کولی داسې خبرې وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انا پاولونا په خبرو راغله او وې ویل:

-ګرانه ګرافه ! اُروپ (خدای خبر چې هغې ولې اوروپا ته اُروپ ویل، تصور کېده چې هغې دا تلفظ د ژبې یو ښه والي ګانه.،دا چې اوس له هغې سره یو فرانسوي غږېده، نو دا یې ښه وګڼله چې دا سې ووایي).

-انا پاولوفنا هم خبره د اترېش د ټولواک د زړورتیا پلو ته ځکه ور اوړده کړه چې باریس په خبرو راولي.

باریس په خورا ځیرتیا د هغو خبرو ته غوږ نیولی و او دې ته سترګه په لاره و چې خپله هم په خپل وار سره څه ووایي، خو له دې سره سره ځو ځله بریالی شوی و، چې خپلې ښکلې او زړه راښکونکې ګاونډۍ ایلن ته وګوري، هغې ښکلا سره چې ښکلې موسکا یې پرشونډو خوره وه، څو ځله یې خپل غلچک له ده سره جنګولی و.

انا پاولوفنا د جرمني په اړه د خبرو په لړ کې څو ځله په نرمه او ناپېیلې ژبه له باریس نه وغوښتل چې (ګلوګاو) د خپل سفر د پاېلو په هکله وغږېږي او د جرمن د پوځ په اړه، لکه هغه شان چې ده لیدلي و، خبرې وکړي. باریس په آرامۍ او بې تلواره، په خورا خواخوږۍ او بې هر ډول تېروتنو په فرانسوي ژبې، د جرمن د پوځ او دربار په هکله هر اړخیزې خبرې پیل او د خبرو په لړ کې یې هڅه کوله چې پېښې له خپل ځانګړي نظره پرته لکه هغه شان چې دی، په رښتیني ډول بیان کړي. د ده دغه بیان او ژبې د څه کم ټولو وګړو پام ځان ته وراړاوه. انا پاولوفنا دا سې احساسوله چې د دې له خوا ټول رابلل شوي مېلمانه، له دغه ځوان سره له آشنایۍ خوند اخېستی او قدر یې کوي. ایلن تر ټولو نه زیات د باریس خبرو ته پام کړی و. څو ځله یې د هغه د سفر په اړه دا سې پوښتنې وکړې چې ګوا کې د جرمن د پوځ د حالاتو سره لېوالتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. همدا چې باریس خپلې خبرې پای ته ورسولې، ایلن له هغې موسکا سره، چې تل به یې پرشونډو خوره وه، هغه ته مخ ور واړاوه او وې ویل:

- تاسو باید هرومرو زما دیدن ته راشئ !

د هغې له ژبې نه داسې څرګنده وه، چې ګواکې دغه لیدنه چې باریس یې په اړتیا نه پوهېده، خورا اړینه ده. ایلن تر لږې شېبې څنډ نه وروسته وویل:

- د سه شنبې په ورځ، د نهو لسو بجو په اوږدو کې، که دا کار وکړئ، تاسو به زما د خاطر، خاطر ویاړ شي.

باریس وعده وکړه، چې ددې هیله به سر ته رسوي او هڅه یې کوله له هغې سره مرکه توده کړي، خو اناپاولوفنا په دې پلمه، چې ګواکې ترور غواړي د ځوان ناظر خبرې واوري، خپلې خوا ته وروغوښت او په دې توګه یې هغه له ایلن نه لرې کړ، هغې اناپاولوفنا د دغې بلنې په ترخ کې، په یوې ملالې او ځانګړې ادا چې له ایلن سره د خواخوږۍ نښې ترې څرګندې وې وویل:

- ګوره تاسې خو، د هغې مېړه پېژنې؟

هغې چې ایلن ته اشاره کوله زیاته کړه:

- اخ ! ایلن داسې یوه بد مرغې ښکلې ښځه ده ! د هغې په مخ کې د هغې د مېړه په اړه مه غږېږئ، هیله لرم چې هغه مه وریادوئ، د هغې لپاره خورا د خواشینۍ وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

کله چې باريس او انا پاولوفنا مېلمنو ته راستانه شول، سردار اېپولیت په خبرو لګیا و. هغه ځان د څوکۍ څنډې ته نېږدې کړ او وې ویل:

- د پروس ټولواک! دا يې وویل او په خندېدو شو. ټولو هغه ته مخ ور واړاوه. هغه بیا په پوښتنیزه ډول وپوښتل:

- د پروس ټولواک؟ بیا يې وخندل، بیا يې ځان د خپلې لاستي لرونکې څوکۍ منځ ته برابر او په خورا ډېره توګه آرام کېناست. انا پاولوفنا يوه شېبه د هغه خبرو ته سترګه په لاره شوه، خو ولیدل چې سردار اېپولیت د خبرو د دوام تکل نه لري، دا خبره يې راونیوه چې دا خدای ناپېژندونکی بناپارت، څنګه په يوتسدام کې د (ستر فردریک) توره غلا کړې ده، دا د ستر فردریک توره وه چې زه ...

خو اېپولیت د هغې خبرې پرې کړې او وې ویل:

- نو څه ووايم، د پروس ټولواک!

خو همدا چې د ټولو پام يې ځانته ور واړاوه، ښښنه يې وغوښته او چپ شو. انا پاولوفنې لږ تندی تریو کړ، خو مورتېمار چې د اېپولیت ملګری و، هغه ته په قهر مخ ور واړاوه او په غوڅه ژبه يې ورته وویل:

- پوه نه شوم، تاسو د پروس له دې ټولواک څه غواړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایپولیت بیا وخندل او خندا یې دې ته ورته وه، چې ګواکې د خپلې خندا له کبله شرمېدلی وي، خو وې ویل:

- نه! هېڅ نه غواړم، یوازې دومره مې غوښتل چې ووایم (هغه د بنډار له پیل نه دې ته سترګه په لاره و، هغه ټوکه چې په ویانا کې یې اورېدلې وه، دلته واوروي)

هغه دوام ورکړ:

- ما غوښتل یوازې دومره ووایم چې موږ هسې د پروس د ټولواک لپاره جنګېږو.

باریس... او نورو ټولو وخندل.

انا پاولوفنا...

هغه په ګواښمنه خو له ملنډو په ډکه ژبه وویل:

- له کلمو سره ستا سو لوبه، ښه پای نه لري، البته چې خورا عاقلانه دی، خو رښتیا نه دی. موږ د ښه نیت لپاره جنګېږو نه د پروس د ټولواک لپاره. او دا سردار ایپولیت خو، هسې شیطانکئ دی.

دا خبرې اترې چې دم په دم تودېدې، ټولې د سیاسي پېښو د خبرونو په شاوخوا راچورلیدې، خو کله چې خبرې د ټولواک له خوا دی او هغه ته د رتبو، نښانونو او مډالونو ورکولو پورې ورسېدې، لا تودې او تودې شوې.

هغه هوښیار او ځیرک سړی وویل:

- پروسږ کال خو، ن.ن. یوه تنباکمروړه، هغه هم په عکس انځور شوې، هغه نو سږ کال ولې هغه س.س. ونه ګټي؟

دیپلمات وویل:

- ښښه غواړم، د ټولواک په تصویر انځور شوی تنباکمروړه، یو سوغات دی، نه رسمي امتیاز، هغه یوازې یوه ډالۍ ده، ډالۍ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ټول کورونو ته د تک لپاره چمتو شول، ایلن چې د بندار په اوږدو کې تر ټولو کمه غږېدلې وه، بیا یې مخ باریس ته ور واړاوه او په هیله یزه خوږه ژبه یې هغه ته وریاده کړه چې د سه شنبې ورځ یې هېره نه شي. هغه چې انا پاولوفنا ته موسېده ،باریس ته وویل:

- دا خورا ضروري ده چې سره وګورو ! او انا پاولوفنا له هماغې خواشینې موسکا سره، چې هر وار د ټولواک، د هغه د پلویانو او د کورنۍ د غړو د نامه په یادېدو سره یې پر شونډو خورېده، دهغې د هیلې تائېد وکړ.

داسې برېښېده چې د پروس د پوځ په اړه د باریس په شویو خبرو کې، ایلن ناڅاپه د ځان لپاره کوم نوی ټکی موندلی دی، نو ځکه یې داسې د دیدن لېواله ده. هغې داسې څرګند وله، چې د سه شنبې په ورځ هغه ته راشي، هغه به دغه ټکی ټول ده ته څرګند کړي.

باریس چې د سه شنبې په ورځ، د ایلن پرتمین مېلمستون ته ورغی، دلته د ده د راتګ د هرومرو والي، هېڅ دلیل ورته ونه ویل شو. که څه هم نور مېلمانه هلته و، خو ایلن له هغو سره خورا لږه غږېده. هغه یوازې د خدای په امانۍ په وخت کې، هغه هم هغه وخت چې باریس د هغې لاس ښکلاوه، له موسکا پرته په خورا برنده بڼه په بنګهاري، هغه ته وویل:

- سبا ماښام ته به راشئ، هرومرو به راځی، هرومرو !

او باریس پترزبورګ ته د دغه سفر په اوږدو کې، د ایلن بیزاوخوف له نېږدې انډیوالانو نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

د جګړې اور دم په دم زياتېده او لمن يې د روسيې پلو ته رانېږدې کېده. هر ځای او هر چېرې د بشري ټولنې دښمن، بناپارت ته د ښېرا او غېږ او رېدل کېده. له کلبو او باندو نه د جګړې لپاره زلميان راټولېدل، احتياط زياتېده، او ډول ډول آوازې او خبرونه له بېلا بېلو جبهو نه رارسېدې، هغه خبرونه چې زياتره وخت به ناسم او خپل تعبيرونه لرل.

د بوډا يا مشر بالکونسکي د سردار اندرې او شهزادګۍ ماريا ژوند له ۱۸۰۵ کال راهيسې له هره پلوه چور بدل شوی و.

په ۱۸۰۶ کال کې، د روسيې د احتياط پوځ لپاره، اته مشر قوماندانان ټاکل شوي وو، چې يو يې مشر بالکونسکي و. سره له هغه چې هغه د زړښت ناتوانيو او د خپل ګواکې وژل شوی زوی د نشت والي په موده کې، لا ژوبل شوی و، دا يې ښه ونه ګڼله چې د ټولواک له خوا ورانډې شوی، ورانديز ونه مني. نو له دې کبله دغې نوې دندې، هغه ته د نويو هلو ځلو او د ځان د ټينګښت نوې لارې پرانستې. خپل زياتره وخت يې په هغو درېو ولايتو کې چې زياتره احتياط پوځونه په کې مېشت شوي وو، تېراوه. هلته په تګ راتګ او څارنې لګيا و. د دندو په سر ته رسولو کې يې ځيرتيا، د هغو تر خورا وړو برخو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلټنه او څارنه به کله خبره پرېښانې او خوا بدی ته ورسوله، نو ځکه يې کله کله خورا کمکي کارو تر خپلې څارنې لاندې سر ته رسول. شهزادګۍ ماريا، نور له پلاره سره د رياضي زده کړې نه کولې.... هغې خپل زياتره وخت، د خپل وراره په روزنه تېراوه. پېغلې بوري ين هم داسې ښودله چې سخته د ماشوم لېواله ده....

د ليسه ګوری د کليسا په قربانځای کې د اېښودل شوي ميز تر څنګ د کمکۍ شهزادګۍ (د اندرې ښځه) د قبر تر څنګ د لمانځنې يو ځای جوړ شوی و. پر قبر د ياد يوه ايتالوي مجسمه چې يوه ښاپېرۍ يې په پرانستو وزرو انځورولې او د آسمان پلو يې الوتو ته ښودله، جوړه شوې وه. د دغې ښاپېرۍ پاسنی شونډه لږ پورته تللې وه، او داسې ګڼله کېدای شوه، چې اوس به يې شونډې په يوې موسکا خورې شي. سردار اندرې او خور يې چې يوه ورځ دلته په ګډه له لمانځتون نه راوتل، دا ومنله چې د دغه ښاپېرۍ څېره خورا د خدای بښلې کمکۍ شهزادګۍ څېرې ته ورته ده. او له ټولو نه د تعجب وړ خو لا دا و چې هغه ناپېژندل شوی مجسمه جوړونکی، هغه حالت چې په دغه ښاپېرۍ کې انځور کړی و، سردار اندرې ته د خدای بښلې کمکۍ شهزادګۍ هغه ګله مندې خبرې وريادولې چې ويلې و:

- ګوره !له ما سره مو څه وکړل؟

خو سردار اندرې، خپل دغه احساس خور ته ونه وايه.

د سردار اندرې د راستنېدو له موده نه وروسته، پلار د هغه ميراث وربېل کړ او د باګوچاروواجايدادونه (ځمکې او باغونه) چې د ليسه ګورۍ په ۴۰ (وروسته) کې پراته و، ده ته ورکړل. سردار اندرې له دې کبله چې د ليسه ګورۍ له چاپېرياله نه يې ښه خاطرات نه لرل، د پلار سخت طبيعت يې هم هر وخت زغملی نه شو، لږ آرام او بې غم ځای ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې اړتیا لرله، له دغه وخت نه یې ګټه واخیسته او په جایدادونو کې یې ځانته یو کور جوړ او خپل زیاتره وخت یې هم هلته تېراوه.

سردار اندرې، د اوسترلیځ تر جګړې وروسته پرېکړه کړې وه، چې هېڅکله به پوځ ته نه ورستنېږي، خو کله چې جګړه پیل شوه، په پوځ کې د مخامخ خدمت نه د مخنوي لپاره، له پلار سره یې د احتیاطو د راټولولو په چارو کې دنده واخیسته. داسې برېښېده چې پلار او زوی ۱۸۰۵ کال تر جګړې وروسته، په جګړه کې خپلې ونډې بدلې کړې وې.

په دې پوځي بهیر کې مشر بالکونسکي، د چټکۍ او فعالې ونډې په اخیستو، بیا په ځان کې خپل پوځي احساسات راویښ کړي و او هیله یې لرله چې جګړه په خورا ښه ډول تر سره شي او پای یې نه هېرېدونکی او بریالی وي. برعکس سردار اندرې چې په جګړې کې یې ګډون نه درلود، که څه هم د زړه په تل کې له دې کبله پښېماني ښودله خو د جګړې پای یې بد مرغي ګڼله.

د ۱۸۰۷ کال د فبروري په شپږویشتمه چې کله مشر سردار په خپله مشرۍ د سرتېرو د راټولولو لپاره یوې سیمې ته د څارنې لپاره تللی و، کشر سردار د تل په شان په لیسه ګورې کې پاتې شوی و.

څلور ورځې کېده، چې کمکی نیکولای ناروغ و. هغه ګاډۍ چې مشر سردار یې ښارته بېولی وو کشر سردار ته له یو شمېر اسنادو او لیکونو سره، بېرته راستنه شوه. هغه چوپړ چې لیکونه یې سردار ته راوړي و، همدا چې سردار اندرې یې خپله کوټه کې پیدا نه کړ، د شهزادګۍ ماریا کوټې ته ورغی، هلته هم نه و. هغه ته یې سره وویل چې هغه د ماشوم په کوټه کې دی. سردار پر یوه وړه څوکۍ ناست و، په رېږدېدونکو لاسونو او برندو وروځو یې، درمل، څاڅکي څاڅکي له یوه بوتل نه په یوه پیالې کې چې تر نیمایي له اوبو ډکه وه، تویول. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت کې يو نجلۍ چې د ماشوم د دايي مرستندويه وه، د ننه راغله او وې ويل:

- جلالتمابه ! وبښئ ! پتروشا ليکونه راوړي دي.

سردار اندرې په تريو تندی او ترخه ژبه وويل:

- څه خبره ده؟

له بې احتياطۍ نه يې لاس وښنډېده او له اندازې نه زيات درمل په گيلاس کې تويې شول. هغه گيلاس پر ځمکه واړاوه او بيا يې اوبه راوغوښتې او نجلۍ نورې راوړې...

دوې شپې کېدې، چې سردار اندرې او خور يې د ماشوم د ناروغتيا له امله ويده شوي نه وو. هغوی د ماشوم د کټ ترڅنگ چې سره تبه يې لرله، په ويښه ناست وو. له دې کبله چې هغوی پر خپل کورنۍ ډاکتر ډاډمن نه وو، له ښار نه يې بل ډاکتر راغوښتی و او دا دوه شپې او ورځې يې، د هغه د ډاکتر د رارسېدو په هيله، هر ډول دارو درمل په ماشوم آزمايل. بې خوبۍ لېوني کړي وو، طبيعتونه يې وران او يو بل ته يې بد رد هم ويل...

چوپړه نجلۍ بيا راغله او وې ويل:

- پتروشا دی، د پلار له خوا دې څه ليکونه راوړي دي.

سردار اندرې... له يوه لنډ شرو شور نه وروسته د پلار نه راغلي ليکونه واخېستل او بېرته د ناروغ ماشوم کوټې ته راستون شو او وې پوښتل:

- ښه، نو څنگه دی؟

شهزادگۍ ماريا يو سوړ اسويلی وکړ او وې ويل:

- هماغسې چې و، هماغسې دی، مگر ته او خدای چې لږ صبر وکړه، کارل ايوانوويچ تل وايي، خوب تر بل هر درمل ښه درمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې ماشوم ته ورنږدې شو ، لاس يې پر تندي ورکېښود ، ماشوم له تبې اور اخېستی و ، هغه وويل:

- ورځه ورکه شه له خپل کارل ايوانوويچ سره دې رنگ ورک که.

هغه بيا گيلاس او په هغه کې اچول شوي څاڅکي او اوبه راواخېستل او ماشوم ته نږدې شو.

شهزادگۍ ماريا وويل:

- اندرې مه کوه !

خو اندرې چې تندی تريو او سترگې برندې کړې، له قهره په ډکې خوځېدا يې خورته وکتل او گيلاس په لاس پر ماشوم ورخم شو ، او وې ويل:

- زه غواړم چې دغه درمل هغه ته ورکړل شي، خو هيله کوم، چې دا کار ته وکړې.

شهزادگۍ ماريا اوږې پورته واچولې، خو وروسته يې د هغه خبره ومنله، گيلاس يې واخېست، دايه يې ته ورغږ کړ او ماشوم ته يې د درملو په ورکولو پيل وکړ. ماشوم راويښ شو ، چغه يې کړې او په گډوډ آواز يې ژړل پيل کړل. سردار اندرې، سترگې برندې او وروځې وويستې، سر يې په لاسونو کې ټينگ کړ ، له کوټې ووت او په گاونډه کوټه کې يې ځان پر اوږده څوکۍ واچاوه. ليکونه يې په لاس کې و ، هغه يې په گډوډۍ او وران طبيعت پرانستل او په لوستلو يې لگيا شو. مشر او بوډا سردار پر شنه کاغذ په ځيږو او لويو کرښو او په ځينو برخو کې په انځوريزه بڼه ليکلي و:

"همدا يوه شېبه مخکې مې له ډاگې نه يو ښه خبر تر لاسه کړ ، هيله لرم چې هسې تشه آوازه نه وي. که دروغ نه وي، د ايلو ښار ته نږدې، بينيگسن په پوره توگه د بناپارت يو خونه لاندې کړې او برې يې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه کړی دی. په پترزبورګ کې ټول ښادي او خوښي کوي او پوځ ته بې شمېره ښنانونه او مډالونه لېږل شوي دي، که څه هم دا برى لږ څه پردی او د جرمنيانو دی، خو بيا هم دمبارکۍ وړ دی.

په دې مې سر نه خلاصېږي، چې دا خاندريوکف، چې د کورچووا، د پوځ مشري کوي، ولې دا سې تېروتنې کوي. هغه احتياط پوځونه خوا ړه او کالي چې بايد ده رالېږلي واى، تر اوسه پورې را رسېدلي نه دي. سمدلاسه به هلته ورشي، او ورته وو ايه که تر يوې بلې اونۍ پورې هغه په بشپړه توګه راونه رسېږي، د هغه سر به پرې کړم. په جرمني کې د ايلو د جګړې په اړه مې د پتنکا (شهزاده بګراتيون) نه ليک تر لاسه کړ، هغه په خپله په دې جګړه کې ګډون لاره. ټولې خبرې رښتيا دي. که غير مسوول کسان په چارو کې لاسوهنه ونه کړي، آن يو پردی هم کولای شي، بناپارت مات او ايل کړي. ويل کېږي چې لښکر يې مات او په تېښته تښتېدلی دی. ګوره په ياد دې وي، چې سمدلاسه به (کورچووا) ته ورځې، او هغه څه به سر ته رسوې چې درته و مې ويل "

سردار اندري سوړ اسويلی وويست او بل ليک يې پرانست. دا ليک دوه مخيزه ليک د (بېليبين) و. په تور مېده خط ليکل شوی و. هغه يې ونه لوست او بېرته يې وتاړه. بېرته يې د پلار ليک راواخيست، هغه يې ولوست. د پلار ليک په دې کرښو پای ته رسېدلی و:

"سمدلاسه به کورچووا ته ورځې او هغه څه به سر ته رسوې، چې درته ويلي مې و. "

هغه په خيالو کې ډوب شو او وې ويل:

- نه! ما به وبښې پلاره! اوس نه ورځم، تر هغه نه ورځم چې ماشوم روغ شوی نه وي. په همدې خيالو کې ډوب و چې د هغې کوټې دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې ماشوم په کې پروت و، ورغی، کوټې ته یې ورو کتل، شهزادګۍ ماریا هماغه شان د کټ ترڅنګ ولاړه وه او ماشوم یې په کراره کراه ځنګاوه.

سردار اندرې د پلار د لیک د کرښو د رایادولو د هڅو په لړ کې له ځانسره ویل:

" یو بل زورونکی خبر دې هم لیکلی و، هغه څه و؟ هو کې، پر بناپارت د بری خبر و. هو کې دا خبر هغه وخت راځي، چې زه په پوځ کې نه یم، هو کې سرنوشت تل پر ما ملنډې وهي، ښه ده، ښه ده، ودې وهي ! " تر دې خبرې وروسته یې د بېلیبین لیک چې په فرانسوي ژبې لیکل شوی و راواخیست او د هغه په لوستلو یې پیل وکړ. لیک یې لوسته، خو دهغه په نیمايي یې سر نه خلاصېده او نه پوهېده، چې څه لیکل شوي دي، خو هغه یې د دې لپاره لوسته، چې له هغو خیالونو نه ځان وژغوري چې د ده خیالونه یې ولکه کړي و او دی یې زوراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

بيليبين اوس په سترې قوماندانۍ کې د سياسي استازي دنده لرله، که څه هم ليک يې د ټوکو، متلونو او ځينو اصطلاحاتو په کارونې په فرانسوي ژبې ليکلی و، په هغه کې يې د جګړې بهير انځور کړی و، خو د هغه ټوله ليکنه پر خپلو کړو مېړنيو ګوت نيوکې او ملنډې وې. دا سې ګوت نيوکې او ملنډې چې د روسانو ځانګړتيا ده. هغه ليکلي و چې د ديپلوماسۍ له راز ساتنې نه خورا په تنګ دی. او اوس ځکه ډېر خوشاله دی چې کولای شي، د خپل زړه خبرې، د سردار په څېر يو رښتيني اوريدونکي ته اوروي، ځکه په دې ډول سره،د زړه هغه غوټې آواريږي، چې د جګړې له سختو شېبو نه دده په زړه کې پاتې شوي او په جړو غوټو بدلې شوې دي.

دا ليک زوړ او د پروس د ايلو د جګړې د پېښېدو نه پخوا ليکل شوی و.

هغه ليکلي و:

"ګرانه سرداره! پوهېږئ، چې د اوسترليځ په جګړه کې د نه هېرېدونکو بريو نه وروسته، نور هېڅکله دا سترې قوماندانۍ نه، نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري کېږم، نور نو له جګړې سره زړېدی شوی یم او په دې حال ډېر خوشاله یم. هغه څه مې چې په دې وروستیو درې میاشتو کې لیدلي، د نه منلو وړ دي.زه یې له اوفو(؟)نه راپیل کوم. هغه شان چې تاسو ته څرګنده ده دبشر ستر دښمن، په پروسیانو یرغل کوي، پروسان زموږ وفادار ملګري دي، چې په تېرو دریو کالونو کې یې یوازې درې واره موږ دوکه کړي یو. موږ د هغو ملاتړ کوو، خو داسې ښکاري چې د بشري دښمن ښاغلی اصلا زموږ دغو کړو ته کومه وړه پاملرنه هم نه کوي او په خورا وحشتناکه بڼه پر هغو تالان جوړوي. داسې تالان چې حتی هغوی ته د پیل شوي پریټ د پای ته رسېدلو وخت نه ورکوي. داسې پرې ورتوېږي چې هغو تالا والا کېږي او دوی مخامخ د پوتسدام په ماڼۍ کې دربار جوړوي.

د پروس ټولواک بناپارت ته داسې لیکي:

" د زړه له کومې هیله لرم چې زما په ماڼۍ کې تاسو ټولواک ته تر ټولو نه په ښه ډول تود هرکلی وویل وشي. په دې اړه مې د توان په اندازه په بې پایه لېوالتیا لازمې سپارښتنې، سپارلي دي، هیله لرم چې په دې برخه کې بریالی واوسم. "

پروسي جنرالان، د فرانسویانو په وړاندې درناوی او غوړه مالي، خپل ویاړ ګڼي او د لومړی ګواښ په اورېدو د هغو په غږ وسله اچوي.

د پروس د "ګلوګا " د قطعې قوماندان، چې لس زره پوځ یې تر قوماندې لاندې دی، د پروس له ټولواک نه پوښتي، که د تسلیمۍ غږ واوري، څه وکړي؟..... دا خبرې ټولې رښتیا دي.

لنډه دا چې موږ هیله لرله، دښمن به زموږ د مېړانې په لیدو، لاره ورکه کړي، شا ته به لاړ شي، خو اوس له موږ هغه سره په جګړه اخته شوي یو. هغه هم داسې جګړه چې زموږ له پولو وتلې جګړه ده. داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه چې د پروس د ټولواک په ملتیا او د هغه لپاره جګړه ده. ټولې چارې سمې شوي دي، یوازې یوه هغه پاتې ده، هغه هم د ستر قوماندان ټاکنه ده. داسې ویل کېږي، که د اوسترولېځه په جګړه کې زموږ ستر قوماندان ځوان نه وای، داسې ماتې به مو نه وای خوړلی. دا دی اوس مشر یې له اتیا نه د پورته عمر جنرالانو ته ورکول کېږي. د پروزوروفسکي او کامنسکي ترمنځ، دویم هغه غوره ګڼل کېږي.....

د میاشتې په څلورمه د پترزبورګ نه لومړنۍ پوسته رارسېږي. داګۍ ټول صندوقونه د مارشال کوټې ته راوړي. د پوځونو ستر قوماندان هیله لرله چې ټولې چارې د ده تر څارنې لاندې تر سره شي. ما هم وربولې چې زموږ په نامه د لیکونو په پیدا کولو کې مرسته ورسره وکړم. مارشال هر څه خپله څاري، سترګې یې هغه لیکونو پسې ګرځي چې د ده په نامه لیکل شوي وي، خو هر څومره لټونه او پلټنه کوو، د ده په نامه کوم لیک پیدا کولای نه شو. مارشال ته تشویش پیدا کېږي، خپله د لیکونو په پلټنې پیل کوي، خو کله چې د (ت)نومی ګراف په نامه د ټولواک لیکونه ویني، له قهره لېونی کېږي. ټولو ته په ښکنځلو پیل کوي. د هغو لیکونو سرونه پرانیزي چې د نورو په نامه لیکل شوي دي، هغه لولې...ښه داسې...دوی له ما سره دوکې کوي... په ما باور نه لري... پر ما پسې جاسوسان اچوي...ډېر ښه... بلا ورپسې او د جنرال بنیګسین په نامه خپل نه هېرېدونکی فرمان لیکي:

"زه ټپي شوی یم، ښور بدلی نه شم، دا په دې معنا چې د قوماندانۍ چارې هم سر ته رسولی نه شم. تاسو تر خپل واک لاندې پوځ له ماتې سره مخامخ کړئ، هغه مو پولتوسک ته ورستون کړی دی، چې نه دفاعي چتر لري، نه اعاشه او نه هم وسلې. باید د ژغورنې لارې ولټول شي، تاسو خپله هم پرون ګراف بوکسګیفدین ته ویل چې باید د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولو، پلو ته د شاتګ په خیال کې واوسو، ښه به دا وي چې د دغه تکل عملي کول همدا نن پیل کړئ "

او ټولواک ته لیکي:

"د اوږدې جګړې په موده کې پر آس د زیاتې سورلۍ له امله مې کوناټې خوږین شوي دي او نورو څو روغتیایي ستونزو، چور هر څه راشنډ کړي دي او پر آس زما سپرېدل خورا ګران دی او د دغه شان یو پرتمین پوځ د قوماندانۍ خنډ ګرځي، نو له دې کبله قوماندانۍ یې یو پخوانی او مشر جنرال بوکسګیفدین ته ورپرېښی، خپل ټول ناظران او ځانګړی ګارد یې د هغه چوپړ ته ورکړی دی او هغه ته یې سپارښتنه کړې ده که د خوړولو له لږوالي سره مخامخ شي، د پروس خاورې ته مخکې لاړ شي، دا خبره مې ځکه درته یاده کړه چې، د هغو خواړه د یوې ورځې لپاره پاتې دي. د ځینو غونډونو قوماندانانو لکه جنرال (اوسترمان) او (سېډرمویشکي) خبر ورکړی دی چې د هغو آن د یوې ورځې لپاره هم خواړه نه بس کېږي. د بزګرو په سپما ځایو کې هم هېڅ پاتې نه دي. دغه راز غواړم د ټولواک دریځ ته وړاندیز وکړم او ووایم که په همدې ډول پنځلس ورځې نور هم زموږ پوځونه په لارو کې پاتې شي، تر پسرلي پورې به یو سر تېری هم موږ ته را پاتې نه شي.

هغه عمر خوړلی بوډا چې تاسو هغه ته د نورو د برخلیک د ټاکلو ستر او ویاړمن کار سپارلی و، ددې چارو د سر ته رسولو توان نه لري، ښه به دا وي چې هغه لرې او خپل کلي ته ورستون شي. زه خپله به په دې روغتون کې د معظم ټولواک ښښنې ته سترګې په لاره شم، چې د پوځي قوماندانۍ پر ځای یو نوم ورکی منشي توب راته وسپاري. له پوځ او قوماندانۍ نه به زما لرې کېدل هېڅ کوم غبرګون ونه لري....زما په شان په روسیه کې په زرګونو نور قوماندانان ژوند کوي. "

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی فیلد مارشال له ټولو اک نه خوا بدی کېږي، خو جزا مونږ ته راکویو دا یې منطقي کار دی....

سردار اندرې، لومړی دې لیک سره چندان لېوالتیا نه لرله، خو وروسته یې بې له هغه چې خپله غوښتنې وي، هغه سره مینه پیدا شوه. (که څه هم په دې پوهېده چې د بېلیبېن له خوا پر ټولو لیکل شویو خبرو باور نه دی په کار.) کله چې د لیک دې برخې ته راورسېد. هغه یې په منګلو کې کېښکود، لرې یې واچوه. د هغه قهر او خوابدی له هغه څه نه چې لوستلي یې و نه و، بلکې له هغو ستاینو نه و (چې اوس په دې لیک کې راغلي دي او ده پورې یې هېڅ اړه نه لرله) سترګې یې وتړلې، لاس یې داسې پر تندي تېر کړ، چې ګواکې غواړي، هغه څه له ذهن نه وباسې چې لوستلي یې و. هغو غږونو ته یې غوږونه تېره کړل، چې د زوی له کوټې یې راتلل. ناڅاپه یې داسې وانګېرله چې یو نه پوهېدونکی غږ د دروازې له شا نه اوري، ګبنې او ویرې پسې واخېست، داسې یې وانګېرله چې د لیک د لوستو په موده کې یې په زوی څه بده بلا نه وي راغلې. په کرار کرار د ماشوم د کوټې شا ته ورغی او هغه یې پرانسته.

کله چې کوټې ته ورننوت، مینځه ته یې پام شو، چې په تلوار سره یې کوم څه تر شا پټ کړل او هم یې ولیدل چې نور نو شهزادګۍ ماریا د ماشوم سر پورې ولاړه نه ده.

د شهزادګۍ له ناهیلو نه ډک غږ یې، د دروازې له شا واورېد چې ویل یې:

- ګرانه !...

ددې غږ په اورېدو سره، لکه هغه شان چې له یوې زورونکې او درنې شوګیرې نه وروسته پېښېږي، یو نامعلوم وحشت او ناآرامۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې اخېستی و.

د هغه په خیال کې راوګرځېدل، چې ماشوم یې مړ شوی دی. هر هغه څه چې ده لیدل او اورېدل، دا ډار یې واقعیت ته نبږدې کاوه.

په زړه کې یې وویل:

- هر څه پای ته رسېدلي دي.

په تندي یې سړې خولې راماتې شوې. په خورا پرېشانۍ د ماشوم کټ ته نږدې شو او په دې ډاډه و چې اوس به کټ خالي وګوري او هر هغه څه چې مینځي ترشا پټ کړي، هغه به د ده د زوی مړی وي. کټ ته پرته پرده یې لرې کړه، یو شېبه یې په سترګو تیاره راوغوړېده او د هېڅ شي تو پیر او پېژندنه یې نه شو کولای خو په پای کې یې ماشوم ولید. ماشوم سره اننګۍ او خلاصې پښې د کټ په پای کې وېده او سر یې له سروېږدې نه لوېدلی و، شونډې یې د کوم شي د زبېښېدو په لړ کې ښورېدې او په ښه توګه یې ساه وېستله.

سردار اندرې د خپل ماشوم په لیدو داسې خوشاله شوی و، چې ګواکې په رښتیا یې خپله کومه ورکه بیا موندلې ده. پرهغه ور خم شو او هغه شان چې خور یې ورښودلې و، په خپلو شونډو یې د هغه تبه وکتله. د ماشوم نازک تندی لوند و. لاس یې پر تندی ورکېښود. داسې خولې یې کړې وې چې آن ځنې یې لمدې شوې وي. نه یوازې مړ شوی نه و، بلکې په ډاګه څرګند و چې د هغه تبه هم ماته او د رغېدو نښې په کې ښکاره وې. سردار غوښتل دغه کمکی او ناتوانه مرغه، راپورته کړي، په لاسونو کې یې واخلي او پر ټټر یې کېښکاږي، مګر زړه نا زړه شو او دغه کار یې ونه کړ... سردار اندرې هماغه شان سر پرې خم کړی و او د هغه د ساه اېستلو آواز ته غوږ نیولی و... چې شهزادګۍ ماریا په خورا آرامو او کرارو ګامونو رانږدې شوه، پرده یې پورته او سر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکته اچولی و. سردار اندرې بې له هغه چې وګوري، د سیورې نه یې هغه وپېژانده او لاس یې هغې ته وروغځاوه، خور یې د هغه لاس کېښکود.

سردار اندرې وویل:

- خولې یې کړې دي !

- راغلې وم، چې تا ته همدا خبر در ورسوم.

ماشوم په خوب کې وربړ دېد ، وموسېد او تندی یې پر بالښت ومښه.

سردار اندرې تر سترګو لاندې خپلې خور ته وکتل، ځلېدونکې سترګې یې د پردې د تتې رڼا لاندې د ښادۍ له اوښکو ډکې او له پخوا نه لا ځلېدونکې بریښېدې. شهزادګۍ ماریا ځان دخپل ورور خوا ورو ځښاوه او هغه یې ښکل کړ. د کټ په پردې کې لږ بنده غوندې شوه. یو بل ته یې سره وویل، دا دې څه وکړل؟ ګوتې یې وښورولې او د یو څو شېبو لپاره د پردې د تتې رڼایي لاندې پاتې شول. دا سې بریښېده چې نشي کولای، د خپلې دغې درې کسیزه دنیاګۍ نه چې دغه پردې له نورې دنیا نه جلا کول، زړه وشکوي. سردار اندرې چې څنې یې د پردې په سخونو کې بندې شوې وې، تر خور نه د مخه یې له هغه ځانه لرې کړ. یو سوړ اسویلی وویست او وې ویل:

- اوس دا یوازینی ځوک دی، چې راپاتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

پـېيـر د ماسونانو د ورورګلوۍ په ټولنه کې تر غږيتوبـه وروسـتـه، لـه هغې نوې کـړنلارې سره چې د خپلو جايـدادونو د چارو پـه اداره کـې د اصلاحاتو لپاره جوړه کړې وه، د کيف ښارته چې د ده زياترې ځمکې او باغونه هلته و، لاړ. همدا چې کيف ته ورسېد، د خپلو چارو ټول مشـران يې خپل دفتر ته راوغوښتل او هغوی ته يې وويـل چې ډېر ژر بـه داسـې پرېکـړه وشـي، چـې لـه مرئيتـوب نـه د بزګـرو د بشـپړې ژغـورنې لاره پرانزي او تر هغه پورې چې دغه پرېکړې وشي، بايـد هغـوی درنـو او لـه کړاونه ډکو کارونو ته اړ نه کړل شي، ماشومان او ښـځې بيګـار تـه ونـه لېږل شي. لـه بزګـرو مرئيـو سره بايـد مرسـته وشـي، کـه هغـوی نـه کومـه تېروتنه کېږي، بايد د نصيحت له لارې راسم شي، هغوی بايـد تـر وهلـو ټکولو لاندې رانه شي، هر لوی جايداد بايـد خپـل روغتـون، ښـوونځی او يتيم تون ولري. او د بزګرو مرئيانو ځيني مشران (چې ځينـي پـه هغـو کې چورنالوستي و) ددې خبرو پـه اوربدو پـه حيرت کې شول او داسـې يې وانګېرله چې د هغوی بادار د دوی په غلا او دوکې خبر او له دوی نه خوابدی شوی دی، له ځينو مرئيو او بزګرو نـه، چې لـومړی حيـرت لـرې شو، د خپل بادار په دغو غير معمولي خبرو کې، څه پـه زړه پـورې ټکـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیـدا کـړل، خـو دغـه خبـرې یـې چـې د لـومړي ځـل لپـاره اوریـدلې وې، ټولې وګڼلې. بلې ډلې، په خورا سادګۍ د بادار له خبرو خونـد اخیـست او په پای کې یوه ډله چې پـه هغـو کـې د چارو مشـران هم وو، د هغـو لـه خبرو نه دا پایله تر لاسه کړه چې څنګـه لـه خپـل بـادار سره جوړ شي او هماغه شان خپل مشرۍ ته دوام ورکړي.

د دغو مشرانو له ډلې نه، تر ټولو مشر هغه،د پـېیر ټـولې خبرې ښـې خوښـې شوې، ځان یـې د هغـه ملګـری، هـم انـدې او هـم لارې وبالـه، خـو دا یـې وویل چې د دغو بنستیزه بدلونونو تر څنګ باید د جایـدادونو بـد حالت ته هم پاملرنه وشي.

د ګراف بېزاو خوف جایدادونه، خـورا بـې پایـه و. لـه هغـه وختـه چـې پـېیر هغه تر لاسه کړي و او لکه څنګه چې ویل کېدل، د هغـو کلنـی عایـد پنځـه سـوه زره روبلـه تـه رسـېده، خـو ده تـر هغـو کلـو نـه چـې لـه خپـل نامشروغ پلار نه په کال کې لس زره روبله تر لاسه کول، اوس ځان خـوار ګاڼه. ده خپل کلنی حاصل او بودجه داسـې حسـابوله: اتیـا زره روبلـه پـه شاوخوا کې یې ښار ته مالیـه ورکولـه، د مسـکو ، د مسـکو پـه څنـډو او پـه هغـو کـې د مېشـتو شـهزادګانو خرڅ دد برش زره روبلـه پـه شـاو خـوا کې، څه کم پنځلس زره روبله یې د تقاعد صندوق ته او په همدې اندازه یې له خیریه موسسو سره مرسته کولـه، د ګرافینـې( ایلـن-دهغـه ښـځه) خرڅ هم تر یو سلو پنځوس زره روبله کېده، په تېرودوو کلونوکې یـې تـر لسو زرو روبلونو پورې یې کلیسا ته وربښلي و... نېـږدې سـل زره روبلـه نور معلوم نه و چې په څه خرڅېږي او دا پتـه نـه لګېـده، چـې هـر کـال څـه پورونه هم اخلي. دغه راز هر کال به د بزګرو یا مرئیو کوم مشر د اورونـو د لګېـدو ، د درومنـدونو د سـوځېدو ، د وچکـالېو لـه املـه د فصـلونو د خرابۍ، د ودانیـو د جوړونې او بیـا جوړونـې او نـور خرڅونـو حسـابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رالېږل. نو له دې کبله تر هر څه د مخه باید د هغه چارې رسمي کړې وای، چې له هر څه نه یې لږ له هغه سره لېوالتیا ښودله او هغه د خپلو جایدادونو د چارو اداره وه.

پیېر هره ورځ د ده د جایدادونو د ادارې د چارو د مشرانو له مشر سره، د غه چارې څېړلې، خو ده داسې انګېرله، چې هېڅ پایله نه لري... له یوه خوا به د غه مشر له خورا وړو ستونزو نه لوی غر جوړ کړ او له بله پلوه به یې په دې قانع کړ چې باید پورونه پرې شي. هغه به نوې لارې جوړولې چې څنګه مرئیان په کار بوخت شي، خو پیېر به دا نه منله او غوښتل یې چې ژر تر ژره مرئیان آزاد کړي. خو د چارو مشر له شورا سره د تړون له مخې، د پورونو د پرې کولو لاملونه وړاندې کول او د مرئیو د سملاسي آزادۍ خنډ کېده. که څه هم د غه چارواکي په ډاګه دا خبره نه کوله، چې د مرئیو آزادای ناشونې ده...

پیېر د کیف په لوی ښار کې بې شمېره آشنایان پیدا کړل او نا آشنایانو هم له هغه چا سره چې د د غه ولایت تر ټولو بډای او د ستر و جایدادونو خاوند و، او اوس دلته راغلي و، د آشنا کېدو لارې چارې لټولې. د ګناه ویرې، د ده د ژوند تر ټولو نه کمزوری ټکی، هغه ټکی چې ده، د ماسونیانو په ټولنه کې،ژبه کړې وه چې نور به هسې نه کوي، هم خورا زوراوه. هغه به شپې،ورځې،اونۍ او میاشتې په همدې چرتونو او د ګناه د ویرې په خیالونو کې تېرول. هغه د نوي ژوند ،د پیل کېدو پر ځای چې ده خپلو نویو ملګرو ته د هغه د پیل وعده ورکړې وه، په هماغه پخواني عیش و نوش، خو یوازې په بله بڼه ژوند تېراوه. هغه د دغو عیشونو او بنډارونو د زیاتوالي له امله، د دې وخت نه شو پیدا کولی چې د نوي ژوند په اړه فکر وکړي.

پیېر د هر ماسون لپاره، د درې اصلي دندونه چې پر ده واجب شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، يوه هم سر ته نه رسوله. په هغو کې لومړنۍ هغه يې، په ورځنی ژوند کې د غوره اخلاقو لرل و. او له ټولو اوو اصولو نه چې هر ماسون يې بايد ولري، دوه خو چور نه لرل، يو ښه معاشرت او بل له مرګ سره مينه...

د ۱۸۰۷ کال په پسرلي کې، هغه بېرته پترزبورګ ته د ستنېدو تکل وکړ. هغه په پام کې لرل چې د ستنېدو په لاره کې، خپل ټول جايدادونه په خپله وګوري او په خپله د هغو سپارښتنو جاج واخلي، چې ده د بزګرو او مرئيانو د ژوند د ښه والي په اړه سپارلې وې.

(مرئيو) بزګرو اود اداري چارو د مشرانو مشر، د ځوان ګراف دغه سپارښتنې د لېونتوب نښې ګڼلې او داسې يې ګڼله چې دغه خبرې نه د ده، نه د رعيت او نه د بادار لپاره، يوه لپاره هم ګټه نه لري. د مرئيو د آزارولو چاره يې هم باخاريتوب باله خو په ټولو جايدادونو کې يې، د روغتونونو، ښوونځيو او د بې وزلو او بې کورو لپاره سترې ستري ودانۍ جوړې او د لوی بادار د راتګ په وياړ جشنونه ترتيب شول. د ده د سپارښتنې له مخې بايد دا جشنونه، پرتمين او لوی نه وي، ځکه هغه پوهېده، چې د پېير دغه راز پرتم نه خوښېږي. بلکه هغه وشي، چې هغه مذهبي پنه ولري، شمايل په کې ډېر وي او د هغه تر مخه وښورول شي او د هغه دهرکلی مراسم د ډوډۍ او مالګې په وړاندېز تر سره شي، ځکه همدا شيان د پېير ډېر خوښېدل او اغېز يې پرې کاوه.

د سهيل آرام پسرلی، په هغه کې چټکه ګرځېدا په ويانايي ګاډۍ کې هلته دا خوا هغه خوا چکر، پر پېير سختې اغېزې کړې وې. هغه سيمې او جادېدادونه چې ده لا نه وې کتلې، يو له بل نه لاپسې ښکلې کېدل. خلک هم ظاهراً خورا هوسا او د هغو کړو او خير نه چې له دوی سره شوي وې، خورا منت باره وو. کله کله به دی له هغه درانه درناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هرکلي نه چې ده ته کېده، خپله شرمېده، خو بيا يې هم د زړه په تل کې، د هغه د خوښۍ او غرور احساس راوينښاوه. د ده د جايدادونو په يوه کلي کې، کلېوالو د روسي د ټولواکانو، پتر او پاول سپېڅلي شمايل د ده هرکلي ته راوړل، او اجازه يې غوښته چې د ده (سن پېير) د نامه په وياړ او له خلکو سره د ده د مينې او ددوستۍ د نښې په توګه، د کليسا په يو کنج کې، په خپل خرڅ د لمانځنې يو ځای جوړ کړي. په يو بل کلي کې، هغه ښځې چې هغوی يې له درانه کار نه معاف کړې وې واړه شود روي (د غېږې ماشوم)ماشومان يې لرل، او ده هغوی له درانه کار نه معاف کړې وې په دې وياړ او د ده د لمانځنې لپاره د ده مخې ته په هرکلي وتلې وې،. يو بل ځای يو صليب په لاس کشيش ولاړ او غوښتل يې د هغو ماشومانو په استازيتوب ده ته هرکلی ووايي، چې د پېير له برکته يې ليک لوست پيل کړی و. پېير په خپلو سترګو ليدل، چې هر چېرې د يوې نقشې له مخې، د روغتونونو، ښوونځيو او کورونو لپاره يا ودانۍ جوړې شوې او يا دجوړېدو په حال کې دي، چې ډېر ژر د پرانستلو لپاره چمتو کېږي. هر چېرې د مرئيانو او بزګرانو د ډلو د مشرانو د حسابونو نه داسې څرګندېدل کېده چې د بادارانو له خوا د بيګارۍ کچه لږ شوې ده او په شنو جامو کې يې د خلکو هغه استازي منل، چې د بيګارۍ د کمېدو له امله ده ته د منننې د څرګندولو لپاره راروان وو.

خو پېير په دې نه پوهېده، په هغه کلي کې چې د ده مخې ته يې د ډوډۍ او مالګې په راوړلو او د پتر او پاول، د شمايلو په راوړلو هرکلی وايي، آن لا د پتر په وخت کې جوړ او د سوداګرۍ ښه بازار و او دبډايو کليوالو او بزګرو له خوا جوړ شوی کلی و. د هغه په دې سر نه خلاصېده، چې د لمانځنې هغه ځای لا کلونه کلونه پخوا د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بزګرو په خرخ جوړ شوي و او هغه څوک چې د ده هرکلي ته راوستل شوي و، هماغه بډای بزګر وو، حال دا چې په سلو کې نوي کلیوالو یوه هم، د یوې ټنګې توان نه لاره. دی په دې نه پوهېده چې هغه میندې چې تې پورې ماشومان لري، او د ده په سپارښتنه ډاګونو ته بېګارۍ ته نه لېږل کېږي، په خپلو جونګړو کې سختو شاقه کاروته ګمارل شوي دي، هغه په دې نه پوهېده چې له ماشومانو سره صلیب په لاس کشیش له کلیوالو نه څه سرسایې او اسقاتونه غواړي او دا ماشومان چې د ښوونځیودزده کوونکو په نامه ورسره هلته راغلي په زور هغو له مور او پلار نه راوستل شوي دي،د مور او پلار ماشومانو پسې سترګې له اوښکو ډکې پاتې شوي دي. دی په دې نه پوهېده چې د دغو ماشومانو مورو پلار بیا خپلو کورونو ته د ماشومانو د ستنېدو لپاره څه غټې پیسې ورکړې دي. هغه له دې نه خبر نه و چې د ده شاوخوا کې له نقشو سره سم دا لوړې د تیږو ماڼۍ او ودانۍ د هغو مرئیانو په متو جوړې شوې دي، چې په زور بېګاري کارونو ته ګمارل شوي او له پخوا نه اوس پر هغوی زورزیاتی زیات شوی دی. په دې توګه د بېګارۍ..... پېیر، خپلو جایدادونو ته د سفر او د هغو تر څارنې نه وروسته خورا خوشاله او پترزبورګ ته د سفر په پیل کې یې، په ګوګل کې یې هغه انسان دوستانه لېوالتیا چې رالمسېدلې وه، لاپسې دی خوشاله او انساني وروګلوۍ ته یې لمسولی و، هغه خپل ماسوني لاربښود ورور (هغه مشر استاد په دې نامه یادوه) ته، په دې اړه لیکنه کړې وه.

پېیر له ځانسره ویل:

ـ د خیر ددې کارونو سرته رسول، څه آسانه کار دی، څومره کمې هلې ځلې غواړي، موږ څومره لږ د خپلو ورونو سره د مرستې تکل کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه که څه هم شرمېده، خو له هغو خوا خوږۍ او درناوی نه چې ده ته کېده، خورا خوشالیده. همدې شکرونو او منتونو هغه ته وریادول چې تر دې نه زیات هم ده کولی شول، دغو ساده او پاک زړو وګړو ته مرسته وکړي.....

که څه هم پېیر په پرله پسې د مرئیانو د آزادۍ ټینګار کاوه او د مرئیانو او بزګرانو مشر هغه ته وعده ورکوله، چې څه توان لري د هغه د ښه نیت په سرته رسولو کې به یې په کار اچوي، خو په دې هم ښه پوه شوی و چې بادار هېڅکله په دې پوه نه شي چې آیا ده په رښتیا د ځنګلونو د خرڅولو ،د جایدادونو د څارنې او د سیمه ایزې شورا د پورونو د پرې کولو لپاره دده سپارښتنې سرته رسولې دي او کنه؟ آن هغه مشر په هم پوهېده چې بادار به یې هېڅکله په دې پوه او خبر نه شي چې نوې یې جوړې شوې ودانۍ همداسې تشې ولاړې دي او مرییان به د پخوا په شان، بادارانو ته جزیه ورکوي او هرڅه چې ورکولای شي ورکوي به یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

پېير چې د روسيې جنوب ته تر سفره وروسته په خورا خوښۍ راستنېده، خپله پخوانۍ هيله يې تر سره او د يوه زاړه انډيوال، اندرې بالکونسکي پوښتنې او ديدن ته چې دوه کاله يې نه و ليدلی، ورغی.

باګوچاروا، چېرې چې اندرې اوسېده، داسې يوه ډاګيزه سيمه وه، چې هومره سترګې نه پرې خوږېدې، دا يوه آواره کرنيزه ځمکه وه او ځای ځای نوې د نښتر او ځېړې ونې په کې اېښودل شوې وې.

په وروستي تمځای کې په دې خبر شو چې سردار اندرې نه د ليسه ګورې په سيمه بلکې په خپل نوي ځای باګوچاررواکې استوګن شوی دی.

د سردار کلا د دغه کلي په وروستۍ برخه کې پرته وه.کلا خپلو دواړو خواوو ته لارې درلودې، هلته يو نوی نهر چې اوس له اوبو ډک و،کېندل شوی و.د دغه نهر په شا و خوا کې شنيلي لا لوی شوي نه وو...

کلا يو داسې انګړ ته ورته وه چې لا تر اوسه پورې يې دروازه نه لرله،هغه پورې اړونده ودانۍ،تبېلې،حمامونه او خپله د سردار لپاره له تېږو جوړه شوې ودانۍ،لا بشپړ شوي نه وو ،...خو هرڅه ديوه نظم څرګندونه کوله...د سردار زاړه چوپړ انتون،له ګراف بېزاوف سره له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاډی، نه په راښکته کېدو کې مرسته وکړه، او هغه ته يې وويل چې سردار په کور کې دی.هغه يې د ورې او پاکې دروازې پلو بدرګه کړ...د دروازې له شا يو شډل او قهرجن آواز واورېدل شو:

- څه خبره ده؟

انتون ځواب ورکړ:

-صاحبه مېلمه دی.

-هيله کوم،يوه شېبه ،زه اوس در وروزم.

دروازه خلاصه شوه او سردار د پېير مخې ته ودرېد.له هغه نه يې غېږ تاو کړه او وې ويل:

_ په ليدو دې ډېر خوشاله شوم، هېڅ د منلو وړ نه دی.

پېير هېڅ نه ويل او په حيرت هغه ته ځيرو ، له هغو بدلونونو په تعجب کې و چې په اندرې کې يې ليدل. خبرې يې ډېرې خوږې، مينه ناکې او پر شونډو يې موسکا لوبه کوله. خو دې خبرو سره سره يې سترګې لوېدلې او مړو ته ورته وې. د ټولو څرګندو هڅو سره يې، نه شو کولای سترګو ته ځلاه راستنه کړي. که څه هم سردار اندرې لږ ډنګر شوی، رنګ يې الوتی او ځېره يې پخو نارينو ته ورته شوې وه، خو د هغه د سترګو دمنډو ، پر تندي ګونځې او په خبرو کې ډېر فکر، د پېير د حيرت سبب شوی وو. د هغه له همدې ځانګړتيا سره د بلدتيا او له هغو سره تر ړړدی کېدو پورې، پېير له هغه نه ځان پردی احساساوه. زياتره وخت د دوو دوستانو تر منځ تر ډېر ځنډ نه وروسته په کتنه کې، مرکه په آسانۍ سره نه خوږه کېږي. له همدې کبله، هغه موضوعات چې د ډېرو خبرو اترو غوښتنه يې کوله، يوازې په پوښتنو او ځوابونو کې پای ته رسېدل. خو کرار کرار او په پای کې، خبرې او مرکې، هغو موضوعاتو ته راوګرځېدې چې تر اوسه پورې دوی پوره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې غږېدل: تېر یادونه او راتلونکي وړاندیزونه، د پېير سفرونه، د هغه کارونه، جګړه او نور نور... پېير کرار کرار داسې احساسوله، چې اندرې ته د هیلو او نیکمرغیو ښودنه، پر عقایدو ایمان او سپېڅلتیا، هغه ته هېڅ زړه راښکون نه لري. هغه له دې نه ډېر شرمېده، چې خپلې ماسوني عقاید، چې ده نوي پیدا کړي و او د خپل وروستي سفر په وخت کې یې د هغه لپاره نوي بڼه پیدا کړې وې، خپل دوست ته بیان کړي. هغه له دې ډاره چې خپل دوست ته ساده ونه برېښي، د دغو عقایدو له ویلو او سپړلو نه یې ډډه وکړه، خو له دې سره سره یوې تلوسې دی دې ته لمسوه، چې ژر تر ژره خپل دوست ته دا څرګنده او ثابته کړي چې په ده کې یو ژور او د پام وړ بدلون راغلی او له هغه څه نه چې په پترزبورګ کې و، ډېر ښه شوی دی. هغه وویل:

ـ نه شم کولای او نه پوهېږم، ټول هغه څه تاسو ته څرګند کړم، چې پر ما او په ما کې راغلي دي. دومره بدل شوی یم، چې زه خپله ځان نه پېژنم.

سردار اندرې وویل:

ـ هو کې، ډېر، ډېر بدل شوي یو، له پخوا نه ډېر بدل شوي یو.

پېير وپوښتل:

ـ ښه، نو تاسو، تاسو څه وړاندیزونه لرئ؟

سردار چې پېغور ډوله یې د هغه پوښتنه تکراروله، وویل:

ـ وړاندیزونه؟...

داسې یې وښودله چې ګوا کې د دې خبرې له اورېدو نه حیران شوی دی، بیا یې وویل:

ـ هو کې، دا ده ګورئ، هر څه وینئ، نوې ودانۍ مې پیل کړئ او غواړم کال ته بالکل همدلته راکډه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پییر چې پر خبره یې د اندرې سره تر وروستي کتنې وروسته د کلونو د ګذارونو نښې له ورایه څرګندې وې، په ځیر ځیر هغه ته کتل، خو وروسته یې وویل:

ـ نه، ما پوښتل... سردار اندرې...

خو سردار اندرې د هغه خبره پرې کړه، ولې زما په اړه خبرې، ښه به دا وي چې د ځان په اړه وغږېږې، د خپل سفر په اړه او د خپلو جایدادونو په اړه.

پییر د هغو چارو په اړه چې ده په خپلو جایدادونو کې تر سره کړي، خبرې وکړې. خو هڅه یې کوله، هغه ونډه پټه کړي چې د اصلاحاتو په سر ته رسولو کې ده تر سره کړې ده. سردار اندرې څو ځله، هغه څه مخکې له مخکې پییر ته وویل، چې هغه یې د ویلو هڅه کوله. داسې بربښېده چې سردار اندرې ته دا خبرې نویوالی نه لري، نو له دې کبله هغه نه یوازې هغه په ځیر او پام نه اورېدو، بلکې داسې یې ښودله چې په دې کارونو دی شرمېږي هم.

پییر نه یوازې نا آرامه شو، بلکې له خپل اندېوالـه سره خبرې اترې ورته ګرانې وبربښېدې. هغه چور چوپ شو. سردار اندرې هم چې له ورایه، نا آرامه بربښېده دغه شان دزړه خوالې خوند نه ورکاوه، اړ وې وویل:

ـ هوکې د زړه سره، ته پوهېږې چې دلته زما ژوند، لکه په ډاګونو کې پاتې شوی پوځي ته پاتېږي، هسې راغلی وم، چې دا ځای وګورم، نن ماښام بېرته روان یم، هوکې بېرته خپلې خور ته ور روان یم، غواړم، چې له هغې سره ستا پېژند ګلوی وکړم.

هغه چې هڅه کوله خپل دوست چې، اوس د دوی تر منځ د ګډ خیال کومه نښه پاتې نه ده، خوشاله او په خبرو بوخت وساتي، وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ له غرمې نه وروسته به د هغې دیدن ته ورشو ، اوس غواړې چې زما د ځمکو نندارې ته ووزو ؟

هغوی د باندې ووتل او تر غرمې پورې دا خوا ، ها خوا وګرځېدل، که څه هم هغو د پخوانیو ګډ آشنایانو یادونه او نویو سیاسي خبرونو په اړه خبرې اترې کولې، خو د دوو نا آشنا کسانو په شان برېښېدل. سردار اندرې یوازې هغه وخت لږ راژوندی کېده او خبرې یې له زړه برېښېدې چې کله به یې د خپلو نویو جوړېدونکو ودانیو او یا باغونو او ځمکې په اړه غږېده، خو هلته هم چې کله د یوې ودانۍ د سرطاق لاندې ورسېد ، ناڅاپه خپلې خبرې پرې او وې ویل:

ـ که رښتیا ووایم، کومه په زړه پورې خبره نه شته، راځه چې ځو ، غرمنی تیاره ده او ډوډۍ وخورو.

د ډوډۍ په ترخ کې، د پېیر د واده خبره هم رایاده شوه. سردار اندرې وویل:

ـ ما چې کله ددې په هکله واورېده ، سخت تعجب مې وکړ.

پېیر تک سور شو. هر وار چې د ده د واده خبرې کېږې، د هغه رنګ تک سور ګرځي، هغه په چټکۍ وویل:

ـ کېدای شي کومه ورځ درته ووایم، چې دا پېښه څنګه وه، خو اوس دومره درته وایم چې هرڅه پای ته رسېدلي، د تل لپاره پای ته رسېدلي دي.

سردار اندرې وویل:

ـ د تل لپاره، د تل لپاره هېڅکله څه پای ته نه رسېږي.

پېیر وویل:

ـ مګر تاسو واورېدل چې دا خبره څنګه پای ته ورسېدله، تاسو زما د دوئیل خبره اورېدلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هو کې، اورېدلي مې ده، ستا خبره دوئیل ته هم ورسېده.
پییر ځواب ورکړ:
ـ هغه یو څه چې له خدایه شکر پرې کوم، دا دی چې ما دا سړی ونه واژه.
سردار اندرې وویل:
ـ ولې؟ دا نو څه خبره ده؟ د یوه خراړي سپي وژنه، ډېر ښه کار دی.
ـ نه، نه د انسان وژل نه ښه کار دی او نه د حق خبره...
سردار اندرې تکرار کړه:
ـ ولې د حق خبره نه ده. انسانان دا حق نه لري چې د حق او ناحق په اړه وغږېږي، هغوی تل ددې په اړه چې څه حق او څه ناحق دي، تر هر څه زیات تېر وتلي او لا به تېروزي.
پییر چې نور په خورا لېوالتیا خبرې کولې، له سردار اندرې سره په دې کتنه کې، د لومړي ځل لپاره خبرې خوند ورکاوه، په مینې او خواخوږۍ یې مرکې ته دوام ورکاوه او غوښتل یې هغه څه ووایي چې دی یې دې حال ته راوستی دی، هغه وویل:
ـ چا تا ته ویلي، چې څه شی نورو ته د شر سبب کېږي؟
پییر وویل:
ـ شر؟ شر؟ موږ ټول پر دې پوهېږو چې زما لپاره شر څه دی؟ او څه شی شرارت ګڼو؟
ـ هو کې، پوهېږو، خو زه هغه څه چې د ځان لپاره ښه نه ګڼم، بل ته یې هم نه غواړم.
سردار اندرې ته خبرو لا خوند ورکاوه او له ورایه څرګندېده، چې غواړي دې خبرو ته له نوي نظره وروګوري، هغه چې په فرانسوي ژبه غږېده، دوام ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه په ژوند کې، یوازې بدمرغۍ پېژنم، یو د وجدان ناآرامۍ او بله ناروغي... او نېکمرغي هغه وخت راځي، چې له دغه دوو دردونو نه لرې و اوسو. انساني مخلوق باید له دغو دوو بلاو نه ځان وژغوري او د ځان لپاره ژوند وکړي. هوکې، زما لپاره د ژوند ټول حکمت او معنا اوس همدا دی.

پېیر زیاته کړه:

ـ له نورو سره مینه او سربښندنه بیا څه؟ نه، زه نه شم کولای له تاسې سره هم انده و اوسم. ځان له شر ددې لپاره ژغورل چې وجدان مو ناآرامه نه شي! نه، نه، دا څه وایې د ژوند لپاره دا پوره نه دی. ما هم همداسې ژوند کاوه، ما هم پرته له ځانه د بل چا په اړه فکر نه کاوه، همدې کار ژوند را برباد کړ. او یوازې اوس، چې زه د نورو لپاره ژوند کوم یا لږ ترلږه هڅه کوم (پېیر خپله کمیني وښودله) چې د نورو لپاره ژوند وکړم، ایله په ایله چې زه د ژوند پر نېکمرغیو پوه شوم. نه له زه تا سره دا نه منم، او خپله هم هغه څه چې وایې، داسې فکر نه کوې.

سردار اندرې پرته له هغه چې څه ووایي، هغه ته کتل او له ملنډو ډکه موسکایې پرشونډو خوره وه، خو لږ وروسته یې وویل:

ـ ښه ده، اوس به دې زما له خور سره پېژند ګلوی وشي او وبه ګورې چې هغه هم همدا ستا خبرې کوي، تاسې ښه سره جوړېږئ.

بیا لږ ځنډنی شو او ترلږ ځنډه او چوپتیا نه وروسته یې وویل:

ـ ښایي د ځان په هکله ته برحقه واوسې، مګر هر څوک د ځان لپاره په خپل ډول ژوند کوي. تا د ځان لپاره ژوند کاوه او وایې چې نېږدې و، د تباهۍ پای ته ورولوېږم، تاسو وایې چې نېکمرغي مو هغه وخت وموندله، چې د نورو لپاره مو ژوند پیل کړ، مګر زما کار چور برعکس و. زما د ژوند موخه د ویاړ ګټل و، ولې نه پوهېږم، ویاړ څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه له نورو سره مینه کول، د هغو لپاره خدمت، د هغو لپاره د دې لپاره چوپړ کول چې د هغو مینه، خواخوږي او ستاینه ترلاسه شي. هوکې، ما د نورو لپاره ژوند کاوه او خپل ژوند مې لکه هغه شان چې ته وایې نبړدې نه، چې په پوره او غوځه توګه تباه کړ، خو له هغې شېبې نه مې چې د ځان لپاره ژوند پیل کړ، لږ آرامه شوی یمه.

پېیر په خورا تنده او ترخه ژبه، وپوښتل:

ـ ځنګه یوازې د ځان لپاره ژوند وشي؟ زوی، خور او پلار؟

سردار اندرې وویل:

ـ هغه ټول زه یم، هغوی له ځانه لرې نه ګڼم، خو نور، هغه کسان چې ته او شهزادګۍ ماریا یې همټوکي (همنوعان) ګڼې، د ټولو بدمرغیو او شر اصلي سرچینې دي، نور هماغه ستا د کیف بزګران او مرئیان دي، چې ته هغو ته د چوپړ او خیر غوښتونکی یې.

هغه له ملنډو نه په ډک او زورونکي غلچک پېیر ته کتل او هغه یې ناندریو ته رابله.

پېیر چې دم په دم یې ژبه تود بده، وویل:

ـ ټوکې خو به نه کوې؟ ځنګه کولې شې، خیر ته زما تکل... که څه هم په نیمګړې بڼه شوی، خو بیا هم یو څه شوی دی... نو ځنګه کولای شي دغه کار، تاسو شر او بې لارتوب وګڼې؟ کله چې دغو بدمرغیو، زموږ دغو بزګرو مرئیو، دغه ما او ستا غوندې وګړو ته چې پیدا کېږي، لوېږي او مري، له ځینو مناسکو ناپوهېدونکو دعاو او ښېراونه پرته له خدایه بله هېڅ ډول پېژندنه نه لري، کله چې ایمان یوازې هغوی ته د ابدي ژوند او د خیر و شر د مکافاتو او جزا ښنه ده، نو ځنګه، نو ځنګه موږ له هغوی سره د شر او خیر په اړه خبرې کولای شو؟ خلک له ناروغیو مري او هېڅوک د هغو په خیال کې هم نه دي، حال دا چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو مرسته کول ځو مره آسانه خبره ده. ګوره زه او س هغو ته داکتران ګمارم، روغتونونه جوړوم او بوډاګانو ته يې کورونه ودانوم. تاسو څنګه کولی شې دې ته بې لاري او بد کار ووايا ست؟...

پيير دوام ورکړ:

ـ ايا دا په ډاګه برالا مرسته نه ده چې خپلو مرئيو بزګرو، د هغو ښځو، ماشومانو، پلارو ميندو ته چې شپه او ورځ په چوپړونو او خواريو کې ډوب دي، لږ څه هوسايي او آرامي برابروم؟ هغه برند برند کتل او پرېکړې پرېکړې خبرې يې کولې....

که څه هم هغه شان چې ښايي نه به وي، خو دغه کارونه مې کړې دي.. دا لاره مې غوره کړې ده، تاسو نه يوازې نه شی‌ کولای ما قانع کړئ چې زما کړه ښه نه دي، بلکې ما په دې هم قانع کولای نه شی‌ چې تاسو هم داسې فکر نه کوئ.

او تر لږ ځنډ نه وروسته يې وويل:

ـ تر ټولو نه لا غوره داده، چې دا دی زه پوهېږم او په دې ډاډه يم، هغه خوند چې خلکو ته له خپل دغه چوپړ نه اخلم، د ژوند يوازنی‌ نيکمرغي ده.

سردار اندرې وويل:

ـ که خبره بل ډول ووايو، هر څه به بل ډول څرګند شي. زه کور جوړوم، باغونه ږدم او ته روغتونونه پرانيزې، دا دواړه کولای شو ښه وخت تېرونه وګڼو، خو د خير او شر څېړل زموږ کار نه دی، دا به بل چاته، هغه چا ته پرېږدو چې پرې پوهېږي.

او بيا يې زياته کړه:

ـ خو ته غواړې نور يې هم وشاربې، مهرباني ! دا ګز او دا مېدان ! له ميزه پاځېدل او د کوټې وتلي ځای ته چې د برنډې ښه يې لرله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووتل او هلته کېناستل.

سردار اندرې وویل:

ـ ښه تا غوښتل چې دا نور هم وشاربو. او په خپلو ګوتو یې شمېرنه پیل کړه او وې ویل:

ـ وایې ښوونځی او روزنه او داسې نور، یعنې غواړې دغه سړی.... او هغه، هغه بزګر مرئي ته چې د دوی له څنګه تېرېده او د درناوي په نښه یې خوله پورته کړه، اشاره وکړ، ته غواړې ،هغه، د هغه له څاروي وزمه ژوند نه وژغورې. د هغه په ژوند کې روحاني ا و اخلاقي احساس راوتخنوې، خو ما ته داسې برېښي چې د هغه یوازنۍ نېکمرغي او خوښي، د هغه په همدې حیواني ژوند کې ده او ته غواړې هغه له دې نېکمرغۍ او خوښۍ نه بې برخې کړې. زه د هغه پر دې نیکمرغۍ رخه کوم او تا تکل کړی دی، پرته له هغه چې هغه ته، زما غوندې نه پوهه، نه زما احساس او نه زما امکانات ورکړې، هغه نه ما غوندې سړی جوړ کړې. بله دا چې ته وایې غواړې هغه د زیار له درانه پېټي وژغورې، خو زما په اند ، هغه جسمي کار ته داسې اړتیا لري، د هغه د ژوند لپاره داسې اړتیا دی لکه ما او تا چې فکري او روحاني هڅو ته اړتیا لرو. ته نه شې کولای خپل ذهن له فکري هڅو وژغورې. زه د شپې په درې بجو وېده کېږم، خو بیا مې هم چرتونه او خیالونه خوب ته نه پرېږدي. اړخ په اړخ اوړم او تر سپېدو پورې ویښ پاتېږم، ځکه فکرونه کوم او نه شم کولای فکر ونه کړم. هغه شان چې هغه نه شي کولای کلبه (یویه) ونه کړي، کرنه ریبېبه ونه کړي او خولې تویې نه کړي. که هغه کار ونه کړي، ځي ساقي خانې ته شراب څکي، یا هم له وزګارۍ نه ناروغه کېږي (آدم بېکار یا غر شود یا بیمار) هغه شان چې زه نه شم کولی، درانه جسمي کارونه وکړم او که یې وکړم، اونۍ وروسته به مړ شم. دغه شان هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو سايي نه شي زغملی، ځکه هغه له اوزګاری نه ځوريږي او مري او دريږم دا چې... دريږم تا څه وويل...؟

سردار خپله دريږمه ګوته تاو کړه او وې ويل:

ـ اخ روغتون، دارو درمل. هغه سړی سکته کړئ، هغه مري او ته هغه ته وينه ورکوې او له مرګه يې ژغورې. هو کې ته يې ژغورې او هغه لس کاله نور ژوندی پاتې کيږي. هغه به ژوندی وي، خو معيوب، بېچاره او د ټولو په اوږو پېټی، خو د هغه لپاره تر ټولو ساده او ښه لاره دا ده چې ومري، پرېږده چې ومري، که هغه ومري، نور پيدا کيږي، هغه هم خورا بې شمېره. که ته له دې کبله چې يو مرئي بزګر دې مري او ته يې له کاره بې برخې کيږې، ستا په موخه به يوه شوی وای، ځکه زه بزګر د کار يوه سرچېنه ګڼم، خو ته، نه ته، ته د يوه همزاتي په بڼه، له هغه سره مينه کوې او غواړې چې د هغه غم وخوړل شي او پالنه يې وشي. ګوره هغه ستا دغه شان مينې او پالنې ته اړتيا نه لري. هو کې، بله خبره دا ده، چې لا تر اوسه پورې تا ليدلي چې طب کوم وخت يا کوم چېرې د چا علاج کړی وي؟ څه تش او بابيزه خيالونه ! هو !که وو ايې چې روغتون جوړوې، هلته داکتران ګمارې چې ناروغان ژر ووژني، دا به درسره ومنم. هغه چې دا خبرې په خورا کرکجنې ژبه وکړې، وروځې يې برندې کړې او له هغه نه يې مخ واړاوه...

پېير وويل:

ـ اخ څومره وحشتناکه، څومره وحشتناکه دی، زه په دې نه پوهيږم څنګه انسان کولای شي ،له دغه شان خيالو سره ژوند وکړي. ما هم دغه حال درلود ، همدا څو مودې د مخه په دې حال وم، لرې نه، دا څو موده د مخه په مسکو کې، سفر ته روان وم. زه په دغه شان حالتو کې داسې خوار يږم، داسې له ځانه ورکيږم، چې نور ژوند را ته ژوند نه بريښي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څه په تېره بیا له خپل ځانه مې خوا شنه کېږي. هغه وخت دی، چې نه ډوډۍ خورم، نه ځان مینځم او نه... او ته څنګه؟

سردار اندرې وویل:

ـ ولې انسان ځان پرې نه مینځي؟ دا سمه نه ده. برعکس باید هڅه وشي چې خپل ژوند لا پسې خوږ کړو. زه ژوند کوم په دې کې زه هېڅ ګنهګار نه یم. باید هر څنګه چې کېږي، کوم ډول نه کوم ډول پرته له هغه چې د نورو د زورېدا او خواشینۍ سبب شو، تر مرګه پورې خپل ژوند لا پسې ښه کړو.

ـ زه نه پوهېږم ته له دې خیالو سره، څنګه ژوند سره لېوالتیا لرې؟ چې داسې ده، ولې نه غواړې یو ځای کرار نه کېنې؟ کرار بې له خوځېدا او کار نه... دا هلې ځلې د څه لپاره؟

ـ زه خو له خدایه غواړم، چې په کرار کېنم، خو ژوند مې په کراره نه پرېږدي، مهرباني وکړئ وګورئ له یوې خوا د اعیانو جرګې ما ته ویاړ رابښلی او زه یې خپل مشر ټاکلی یم، چې ما هغه ویاړ منلی نه دی، هغو په هېڅ ډول په دې نه پوهېدل، هغه څه او ځانګړتیاوې چې د دې مشرۍ لپاره په کار دي، هغه په ما کې نه شته، دغه ځانګړتیاوې، یو ډول له دوکو او پلمو نه ډکې هلې ځلې او کره وره دي. له بلې خوا دغه ودانۍ دي، چې باید جوړې شي، ځکه زه هم خپلې یوې څنډې ته اړتیا لرم چې په کې آرام ژوند وکړم او بیا دغه د احتیاطي سرتېرو د راټولولو خبره.

ـ ولې دې په پوځ کې خدمت پرېښود؟

سردار اندرې په خورا غمجنه ژبه وویل:

ـ د او سترلیخ تر جګړې وروسته نه، نه تا سو خوار مهربانه یاستۍ! تر هغې جګړې نه وروسته مې له ځانسره ژبه کړې ده چې نور به د روس

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پوځ کې فعال خدمت نه کوم، آن که بناپارت سملینسک ته راورسېږي او لیسه ګوري ( د ده پلارني کلي ) هم تر ګواښ لاندې راولي، یوه شېبه به بیا هم پوځ ته لاړ نه شم.

سردار اندري چې د ځان د آرامی هڅه کوله، خپلو خبروته یې دوام ورکړ:

ـ هو کې، او د داوطلبانو او احتیاطو په اړه، پلار مې د درېیمې سیمې ستر قوماندان ټاکل شوی دی، له هغه سره مرسته یوازنۍ لاره ده، چې پوځ ته یې زما د تګ مخنوی هم کړی دی، هو کې زه باید له هغه سره واوسم.

ـ ښه، دا خبره دا معنا لري، چې په پوځ کې خدمت کوئ؟

ـ هو کې خدمت کوم. او تر دې نه وروسته لږ چوپ پاتې شو.

ـ ښه ده، ښه ده، نو ولې خدمت کوئ؟

ـ ولې خدمت کوم؟ زما پلار د خپلې پېړۍ یو له غورو نه غوره شخصیت دی، که څه هم هغه اوس زړېږي، نه غواړم ووایم چې ظالم دی، مګر دخورا ټینګ طبیعت خاوند دی، په هر څه ډېر ولاړ سړی دی. هغه د خپل پخواني عادت له مخې، له بې واکه واک سره ږړدی شوی دی او اوس د نوکیانو او احتیاطو د راټولولو لپاره، ټولواک دغه شان واک هغه ته ورسپارلی دی. همدا دوې اونۍ پخوا که یو دوه ساعته ځنډلی وای او نه وای ورسېدلای،د (یوخونوف) په سیمه کې به یې یو منشي ځړولی وای.

سردار اندري تر دې خبرې وروسته ومو سېد او دوام یې ورکړ:

ـ همدا علت دی چې په پوځ کې خدمت کوم، ځکه له ما نه پرته، بل هېڅوک پر هغه اغېز نه لري. هو کې زه یوازنی څوک یم چې د هغه د هغو چارو مخنوی کوم، چې سر ته رسول یې ورته بیا د عذاب سبب نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه، ښه، خپله په هر څه پوهېږې!

سردار اندرې دوام ورکړ:

ـ خو، نه هغه شان چې ته پرې پوهېږې. زه هېڅکله هغه بدمرغی منشي ته کوم خیر او زړه سوی نه غواړم. هغه منشي ته چې د سرتېرو موزې يې پټې کړې وې، آن زه به خورا خوشاله وای، که هغه مې ځړول شوی لیدلای وای، خو زما په خپل پلار زړه سوځي، یعنې پر خپل ځان مې زړه سوځي.

د سردار اندرې خبرې لا پسې تود بدې، لکه چې هغه غوښتل، پیېر ته دا په ډاګه کړي، چې د هغه په کړو کې، د انسان دوستۍ هېڅ نښه نه ګوري، سترګې يې د تب نیولو ناروغانو په شان ځلېدلې. هغه خپلې خبرې لا پسې اوږدې کړې:

ـ ته غواړې چې مرئیان او بزګران آزاد کړې، دا خورا ښه خبره ده، خو نه ستا لپاره. زه داسې تصورکوم چې تا به هېڅکله خپل بزګران وهلي نه وي او نه به دې سایبریا ته فرار کړي وي، خو هغو ته هم هېڅ پروا نه لري، چې یا وزوربږي، وهل ټکول وخوري او یا سایبرې ته وشړل شي. هغوی به په سایبریا کې هم خپل دغه بدمرغه ځاروي وزمه ژوند ته دوام ورکړي، له وهلو ټکولو نه پیدا شوي ټپونه به يې روغ شي او بیا به د پخوا په شان نېکمرغه شي. د مرئیو آزادي د هغو کسانو لپاره ښه ده، چې روح يې تباه کېږي، هغه کسان چې له خپلو ظلمونو نه پښېمانه کېږي او پښېماني يې یو پر بل کوټ او پر دوی بېرته درونده پېټی جوړوي او زړه نه يې تیږه جوړېږي. بیا پر خپل رعیت، چې ګناه يې کړې وي یا يې نه وي کړې، ظلمونه کوي، هغه لا زوروي. زما په دغو زړه خوږېږي، زه له دې کبله غواړم چې مرئیان آزاد شي، تا ګوا کې نه وي لیدلی، خو ما ډېر لیدلي دي چې څنګه د سپېڅلي زړه خلک د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان بې پایه واک د دودونو په لمن کې روزل شوي او د وخت په اوږدو کې په ژر خواشینی کېدونکو، سخت زړو او لویو ستمګرو بدلېږي. که څه هم هغوی پر خپلو دغو نیمګړتیاوو پوهېږي، خو نه شي کولای، د هغه مخنوی وکړي او ورځ تر ورځې بدمرغه او بدمرغه کېږي.

سردار اندرې په داسې مبالغې او شوق خبرې کولې چې پېیر نا ببره او بې له فکره تصور کاوه چې د اندرې د دغو خبرو او خیالاتو سرچینه د هغه پلار دی، هغه سردار اندرې ته هېڅ ځواب ور نه کړ.

ـ هو کې، په څه شي، او په چا باید زړه خوږ او وسوځي، په انساني کرامت، د وجدان په آرامۍ، په صداقت او ایمان، نه د هغو وګړو پر ملاو او تندي چې څومره یې ووهې، څومره یې سرونه وخرې (په روسیه کې سایبریا ته د شړېدونکو سر پرې خریل کېده) بیا هم هغه شان چې دي، هغه شان پاتېږي.

پېیر وویل: نه، زر واري نه! زه یې هېڅکله نه درسره منم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

ماښــام و چــې ســردار انــدرې او پــیــر پــه ګــاډۍ کــې کــېـنا ســتـل او د سردار کلي لیسه ګوري ته لاړل. سردار چې کله نا کله پییر ته کتـل او پـه څه ویلو به یې چوپیتیا ماتوله، هڅه کوله څرګنده کړي چې طبیعت یې خورا ښه دی.

هغه خپلې ځمکې، کرکیله هغه ته ښودل او د هغـو اصلاحاتو پـه اړه یې هغه ته معلومات ورکول، چې ده تر سره کړي وو.

پییر خواشینی بریښېده، چوپه خوله و، د هغه پوښتنو ته یې هم لنډ لنډ ځوابونه ورکول او داسې ښکارېده، چې په خپلو خیـالونو کـې ډوب دی. پییر په دې فکر کې و چې سردار اندرې بدمرغی دی، هغه بې لارې شوی دی، هغه نه د رښتیا نور ورک شوی دی، نـو ځکـه یـې خپلـه دنـده ګڼله، چې له هغه سره مرسته وکړي، چې زړه ته یې صفایي لاره وکـړي، لاس یې ونیسي او د ظلمت له کندې نه یې راپورته کړي، خو همدا چې له ځانسره به یې خبره راجوړه کړه چې څه وواییي او څنګه یې پیـل کـړي، مخکې لـه مخکې یـې دا احساسوله چې سردار انـدرې بـه د هغـه ټولـه پوهـه او حکمـت پـه یـوه خبـره بـابیزه وګڼـي. هغـه ډارېـده، هغـه لـه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډارېده، چې ده تـه تـر ټولـو د درنـاوي وړ سپېڅلي اندونـه او خيالونـه د ملنډو وړ نه شي. هغه ناڅاپـه سرښـکته واچـاوه او لکـه مست سـخوندر غوندې يې ځان يرغل ته چمتو کړ:

ـ نه، نه! آخر راتـه ووايـه تـه ولـې فکـر کـوې چې.... ولـې داسې فکـر کوې؟ ته بايد داسې فکر و نه کړې.

سردار اندرې په حيرانتيا وويل:

ـ څه فکر؟ د څه په اړه فکر؟

ـ د ژوند پـه اړه د انسان د دريځ پـه اړه، دا شـونې نـه ده. مـا هـم تاسـو غونـدې فکـر کـاوه، ولـې پـوه شـوې څـه شـي وژغـورلم؟ فراماسـوني روزنې، نه، نه، خاندې به نـه. فراماسوني جوړښت، د هغـه څـه بـرخلاف چې مـا هـم فکـر کـاوه يـوه مـذهبي ډلـه او هسـې تـش پـه نامـه کـړه وړه او مناسک نه دي، بلکې د انساني ارمان تر ټولـو غـوره، ابـدي، خـورا ښـه او يوازنی سپېڅلی ارمان دی.

هغه اندرې ته هغه شان چې خپله پوهېده، د فراماسوني جوړښت پـه شننه پيل وکړ. هغه ويل، فراماسوني جوړښت هماغه د حضـرت عيسـی ښوونې دي، چې د دولـت او مـذهب لـه منګلـو ژغـورل شـوی دی، هغـه د برابـری، ورورګلـوی او مينـې جوړښـت. يـوازې زمـوږ د وروږګلـوی سپېڅلی جوړښت دی، چې د ژوند پـه رښتني جاج پوه شـوی دی، لـه دې نه پرته چې هر څه دي، خوب او خيـال دی. پيېـر دوام ورکـړ: زمـا ګرانـه دوستـه، ستـا سر بايد خلاص شي، چې د فراماسوني لـه ټولنې پرتـه، هـر څه دوکه او دروغ دی او زه هم ستـا انـد تـه درنـاوی کـوم او مـنم چې زمـوږ پـه ټولنـه کې د يـو نېـک زړی او سپېڅلی انسـان، يـوازينی لاره دا ده، چې يوازې ژوند وکړي او د نورو د لارې خنډ نه شي. خو همدا چې زمـوږ لاره ومنې، د ورونو کړی ته راننوتې، ځان نه تېـر او لارښـودنه دې منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو یو استازو ته وسپارله، ځان به بیا زما په شان د داسې یو نالیدونکی ځنځیر یوه کړۍ وګڼې چې یو سر یې دلته او بل یې آسمانه نه راپیل کېږي.

سردار اندرې څه نه ویل، مخامخ یې کتل او د پیېر خبرو ته غوږ وه که یو نیم وخت به د ګاډۍ د اربو د شروشور له کبله د هغه خبرې سمې وانه وربدې، بیا به یې پوښتنه ترې وکړه. پیېر د اندرې په سترګو کې د ځانګړي ځلا ، له ځلېدو ، په پټه خوله د هغه له غوږنیولو او پام کولو نه ښه پوهېده چې اندرې به د ده خبرې نه پرې کوي او پر ده به ملنډې نه وهي.

داسې یو سیند ته ورسېدل، چې مست شوی او څپې څپې اوښته. دوی دې ته اړ و چې، له ګاډۍ کوز او په بېړۍ کې سپاره شي. دوی ګاډۍ او آسونه هم په بېړۍ کې سپاره او خپله هم هلته وروختل.

سردار اندرې د بېړۍ پر کتاره څنګل ولګوله، پټه خوله یې د اوبو هغو ځلېدونکو څپو ، چې د سپېده داغ تر سرو شعلو لاندې ځلېدلې کتل.

پیېر وپوښتل: ښه تاسو په دې اړه څه فکر کوئ؟ ولې چوپ شوې؟

سردار اندرې وویل:

ـ څه فکر کوم؟ د تا خبرې ټولې سمې دي، خو ته وایې: راځه زموږ د وروګلوۍ د ټولنې غړیتوب ومنه، موږ به تا ته، د ژوند موخه، د بشر رسالت او پر نړۍ لاسبري قوانین وسپړو ، هوکې ! موږ څوک یو ؟ ای خلکو څنګه تاسو پر هر څه پوهېږئ؟ څنګه یوازې زه نه شم کولی هغه څه ووینم، چې تاسو یې وینئ؟ تاسو پر نړۍ د رښتیا او حقیقت واکمنی وینی، زه هغه لیدی نه شم.

پیېر دلته، د هغه خبرو کې ورننوت او وې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ایا ته په بلې دنیا ایمان لرئ؟

خو پییر د ځواب ورکولو وخت ورنه کړ او د پوښتنې دغه ډول تکرار یې ځکه د انکار نښه وګڼله، چې د اندرې د ملحدوالی عقاید ورته ثرګند و.

ـ تاسو وایي چې پر نړۍ د ریښتیا او حقیقت واکمني نه وینې، ما هم هغه نه لیده او تر هغه پورې چې د خپل ژوند پای ته د هر څه د پای په سترګه وګورو، نه، نه شو کولای هغه ووینو. نه شو کولای حقیقت په دې نړۍ، پر دغې ځمکې (شاوخوا کروندو ته یې وکتل) پیدا کړو. په دې نړۍ کې له دروغو او له شره پرته بل څه نه شته، خو په کیهان او ټوله هستۍ کې حقیقت او ریښتیا واکمن دی. او موږ اوس ددې نړی بچې او که د هستي ابدیت ته ځیر شو، ددې وجود ابدي بچیان یو. ایا زه په خپل روح کې دا نه احساسوم چې د دغې سترې، بې پایه جذبه لرونکی هماهنګې هستۍ یوه برخه یم؟ ایا دا نه احساسوم چې د خدای یا مطلق قوت یا بل هر نوم چې ورکوې، وریې کړه، ددې بې پایه خلقت د بې شمېره مخلوقاتو، په منځ کې یو کوچنی ذره یم، یو داسې کړۍ یم، چې له ټیټو مخلوقاتو نه د لوړتیا په لوردرومي. که دغه پلې، که دغه د پیدا ایښت د لوړتیا او ټیټیا کچې، چې له نبات نه انسان ته رسېږي، په ښه توګه او په خیر وګورم، څنګه کولای شم، داسې وانګېرم چې کله دغه لوړتیا ما ته راورسېږي، پای ته ورسېږي او له ما نه پورته لوړ، ډېر لوړ ته ادامه پیدا نه کړي؟ زه داسې انګېرم، چې نه یوازې زه له مینځه نه ځم، ځکه په دې دنیا کې هېڅ شی له مینځه نه ځي، بلکې تل به وم، هماغه شان چې په پیل کې هم وم. زه داسې انګېرم چې له ما نه پرته پر ما ارواحې ژوند کوي او حقیقت دا دی، چې په دنیا کې حقیقت شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې ځواب ورکړ:

ـ هوکې دا (د جرمن د اتلسمې پېړۍ د متفکر) جان هردر خبرې دي. خو زما د زړه سره، دا خبرې ما نه قانع کوي، ژوند او مرگ قانع کوي. ددې په پایله کې وینم چې ستا زړه ته گران، پر یوې ابدي او همیشنو اړیکو له تاسره پیوند او یو ځای شوي دي، زه د هغه په وړاندې گنهگاریم او هیله لرم چې یوه ورځ نه یوه ورځ وکولای شم پر هغه د خپلو ستمونو پور پرې کړم (په دې شېبه کې د سردار اندرې آواز ورږدېد او مخ یې واړاوه) ناڅاپه ستا زړه دغه گران زړه په عذاب اخته کېږي او په خورا کړاو، خواریو او دردونو کې ستا له څنگه ځي... ولې، ولې؟ هېڅ امکان نه لري، د دغه ولې؟ لپاره ځواب نه وي... زه ایمان لرم، چې ځواب شته او همدا خبره ده، چې ما قانع کوي، او همدا دی چې زه یې قانع کړی یم.

پېیر وویل:

ـ نو ښه ده، ښه ده، ایا دا هماغه څه نه دي چې زه یې وایم؟

ـ نه، زه وایم هغه څه چې ما د ابدي ژوند پر شته والي قانع کوي، دلیل نه دی، هغه بل څه دی، گوره کله چې ته په ژوند کې له یو چا سره اوږه په اوږه، لاس په لاس روان یې، ناڅاپه هغه در نه ورکېږي، ستا زړه ته گران په یو ناڅرگند ځای کې درنه ورکېږي او ته د دغه پاڼ پر غاړه پاتې کېږې، هغه ته گورې او ما د دغه زورونکي پاڼ تل ته ورکتلي...

ـ ښه پایله څه ده؟ ته پوهېږې چې دغه شان ځای شته، هلته څوک شته، ابدي ژوند همالته دی، خدای همالته دی.

سردار اندرې ځواب نه ورکاوه، گاډۍ او آسونه لا د مخه، د رود آغاړه لېږدول شوي وو، آسونو بیا گاډیو پورې تړل شوي وو، لمر تر نیمایي پورې د افق په څنډو کې ډوب شوی و او د ماښامنیو سړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرام د رود پر څنډو د کنګل ځالې جوړې کړې وې، خو پیر او اندرې لا هماغه شان د چوپړانو، جوالیانو او ګاډیوانانو د تعجب نه ډکو سترګو په وړاندې ولاړ وو او غږېدل. پیر وویل:

ـ که خدای شته، ابدي ژوند هم شته، نو حقیقت او خیر هم شته. او د انسان تر ټولو ستره نېکمرغي هم هغو ته د رسېدو په هڅو کې ده. باید ژوند وشي، باید مینه وشي او باید ایمان ولرل شي. موږ باید په دې ایمان ولرو چې موږ یوازې نن په دې یوه لوېشته کې خاورې ژوند نه کوو، بلکې له پیل نه تر ابده پورې به هلته (آسمان ته یې اشاره وکړه) ژوندي یو.

سردار اندرې هماغه شان چې څنګل یې د بېړۍ پر کټارې ایښې او ولاړ و، د پیر خبرو ته یې غوږ نیولی و او د لمر لوېدو سرو شعلو نه، په شنه مست سیند کې د لګېدلې اور د سرو شعلو ننداره یې کوله. پیر چُپ شو، هر څه هر چېرې آرامه وو. بېړۍ لا د وختـه ساحل ته رسېدلې وه، یوازې د څپو سندریز نرم غږ و نه چې اورېدل کېدل. سردار اندرې داسې انګېرله، چې د څپو دغه آوازونه، پیر ته په خوږه ژبه وایي چې: همدا رښتیا دي، باور پرې وکړه. سردار اندرې زګیروی وکړ او په ځلېدونکې، مهربان او ماشوم وزمه غلچک یې د پیر څېرې ته چې د خپل اندیوال له ښه والي نه له شرمه تک سور شوی و، کتل او وې ویل:

ـ هو کې! ای کاشکې رښتیا همداسې وای. اوس درځه چې ځو، ښه به دا وي چې لاړ شو او کېنو. د بېړۍ نه د وتلو په وخت کې پیر آسمان ته چې اشاره یې ورته کوله، وکتل او د اوسترلیخ تر جګړې نه وروسته دا لومړی ځل و چې هغه لوړ هسک ابدي ولاړ آسمان ولید، هغه آسمان چې کله ده د جګړې په ډګر کې د لوېدو په حال کې په خپل سر لیدلی و. په هغه کې ناڅاپه یو تت شوی هېر شوی څه د خوښۍ او ځوانۍ څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هر څه نه ده ته ګران و ، راوتخنېدل. البته په سردار اندرې کې دغه احساس ورځنی ژوند ته تر را ستنېدو وروسته ، له مینځه ولاړ ، خو دا ورته په ډاګه شوه چې هغه پټ احساس ، چې د سپځنکي په شان د ده په ځان کې نغښتی و د ده زړه یې د څرګندولو توان نه لري.له پېیر سره تر کتنې وروسته ، د سردار اندرې د ژوند نوی پړاو چې ظاهراً یې له پخواني هغه نه توپیر نه درلود ، خو په زړه کې یې د بدلون سبب شوی و ، پیل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

کله چې د سردار اندرې او پېير ګاډۍ په ليسه ګوري کې، د سترې ماښې مخې ته ورسېده، هوا تياره شوې وه. هغوی هلته درسېدو سره، سردار اندرې چېموسکا يې پر شونډو خوره و، د پېير پام د هغو چوپړانو لېوالتيا او هلوځلو ته ورواړاوه، چې هلته يې جوړ کړي وو. په ملا کړو پې بوډۍ، چې کوم پېټۍ يې په شا کړې و، او يو لنډه ونې تورځنۍ سړی چې تورې جامې اغوستې وې، د ګاډۍ په ليدلو ځانونه پناه کړل او له دروازې نه ووتل. دوو نورو ښځو هم هغوی پسې منډه کړل. دغو ځلور تنو په وحشتناکو غلچکو ګاډۍ ته کتل او په ګبڼۍ او ډار د ودانۍ د شا له خوا وتښتېدل.

سردار اندرې وويل:

ـ دا خدايي خدمتګاران (هغه خوار مسيحيان، چې د مسيح د ليدو په هيله به هره خوا ګرځېدل او روزګار يې په ګدايي تېراوه) دي چې ماريا مرسته ورسره کوي. هغوی پر موږ زما د پلار ګمان وکړ. دا يوازنی کار دی، چې ماريا د هغو په برخه کې د پلار خبره نه مني او اطاعت يې نه کوي. پلار وايي چې دغه خدايي خدمتګاران کورته مه پرېږدئ، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماريا د هغو هرکلی کوئ.

پېير وپوښتل:

ـ دا د خدای بندګان لا څوک دي؟ او څه کوي؟

سردار اندرېي وخت پيدا نه کړ، چې پېير ته ځواب ورکړي، چوپړان د هغو هرکلي ته رامنډې کړې او ده له هغو نه وپوښتل، چې مشر سردار چېرې دی او څه وخت رارسېږي؟

چوپړانو هغه ته وويل چې مشر سردار لا له ښاره راغلی نه دی او ډېر ژر به راورسېږي.

سردار اندرېي، پېير خپلې کوټې ته چې د پلار په کور کې يې جوړه کړې بدرګه کړ او خپله د خپل ماشوم کوټې ته ورغی.

له لږ ځنډ نه وروسته راستون شو او وې ويل:

ـ راځه چې خور ته مې ورشو، ما لا هغه نه ده ليدلې، هغه چېرې پټه شوې او له خپلو خدايي خدمتګارانو سره اخته ده. زموږ په ليدو به وشرمېږي، خير پروا نه لري، حق لري، ته به هم له دې خدايي خدمتګارانو سره آشنا شې، خورا د ليدو وړ دي، دا ومنه، خورا .

پېير وپوښتل:

ـ دا خدايي خدمتګاران، دا څه معنيٰ لري؟

ـ اوس به يې خپله ووينې.

شهزادګۍ ماريا د هغو په ليدو رښتيا ګېڼې واخېسته، ورخطا شوه او مخ يې تک سور شو، هغه تتې شمعې چې په کوټه کې، تر شمايلو لاندې لګېدې انسان ته يو ډول روحي آرامي وربښله. شهزادګۍ د چای د ميز تر شا پر څوکۍ کې ناسته وه او يو اوږد پزی، اوږد څڼی زلمی، چې د راهبانو جامې يې اغوستې وې، د هغې تر څنګ ناست و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواره او زړه بوږنوونکي وه، هغه یې ماشوم وزمه ښکاره ېږي، هغې ته خوږه او مهربانه ښه ورکړې وه، په لاس لرونکي ځوکۍ کې د هغوی تر څنګه ناسته وه.

شهزادګۍ ماریا لکه د هغې چرګې په شان چې د خپلو چوړګړو د ساتنې لپاره ولاړه وي، د خپلو خدايي خدمتګارانو نه ملاتړ کاوه او د ملامتۍ په نرمه ژبه یې وویل:

ـ اندرې ولې مو مخکې خبر نه کړو، چې راځي؟

او پېير ته یې چې د هغې لاس یې ښکلول، وویل:

ـ مهرباني مو وکړه چې راغلی. ستاسو له لیدو ډېره خوشاله شوم!

شهزادګۍ ماریا له ماشومتوب نه، پېير پېژانده او اوس، له اندرې سره د هغه ملګرتوب، له ښځې سره د هغه د جلاوالي جنجال او له ټولو نه غوره د هغه ساده او مهرباني څېرې، د هغې خواخوږي لا پاروله وه. په ښکلو او زړه راښکونکو سترګو یې هغه ته کتل او داسې بریښېده چې هغه ته وايي:

ـ تاسو ماته ډېر ګران یاستي، خو ګوره، زه هیله کوم چې زما په دوستانو به ملنډې نه وهې. تر لومړنۍ پېژندنې وروسته ټول سره کېناستل. سردار اندرې، خندا پرشونډو، ځوان خدايي خدمتګار ته اشاره وکړه او وې ویل:

ـ آه، ایوانوشکا هم راغلی دی! ستړې مشې!

شهزادګۍ ماریا له ننواتو نه په ډکه خوله وویل:

ـ اندرې!

سردار اندرې، پېير ته مخ وروااړاوه او وې ویل:

ـ دا ایوانوشکا ښځه ده.

شهزادګۍ بیا په هماغه غږ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ اندره، ستا دې په خدای قسم وي !

دا سې برېښېده چې په خدايي خدمتګارانو د سردار اندرې ملنډې او له هغو نه د شهزادګۍ ماريا ملاتړ د هغوی ترمنځ ورځنۍ خبره، خو پخواني ريښې لري.

سردار اندرې وويل:

ـ ګرانې خورې، ولې دې خوا بدېږي، برعکس ته بايد ما نه مننه وکړې چې پېير ته ستا او ددې ځوان خپل منځي اړيکې دا سې برالا کوم...

زړه بوډۍ چې په څوکۍ کې ناسته وه.... سردار اندرې له هغې نه وپوښتل:

ـ ښه له کومې راغلې، وايې چې کيف ته تللې وې؟

بوډۍ چې ډېره غږېدله، وويل:

ـ هوکې پلارجانه ! هوکې هلته تللې وم، سپېڅلو غوښتې وم، دعيسیٰ د زوکړې شپه مې نصيب شوه، د آسماني راز د ليده په شپه هلته وم. او اوس کولېازين ته تللې وم او دا شپه له هغه ځايه راغلم....

ـ اوس ايوانوشکا هم درسره ځي؟

.... په کاليازين کې مې خپله، يوه ستره معجزه وليدله، يوه لويه معجزه.

سردار اندرې وپوښتل:

ـ ښه څه دې وليدل؟ يو بل سپېڅلی موميايي شوی مو پيدا کړې که څنګه؟

شهزادګۍ ماريا وويل:

ـ اندرې ! بس کړه ! هغې بوډۍ ته مخ ورواړاوه او وې ويل:

ـ پلاګي يوشکا ، پرېږده، مه ورسره غږېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه ولې ادکي، ولې يې ونه وايم؟ ډېر ښه ځوان دی، زما خوښېږي، مهربانه دی، هغه د خدای په نامه مرسته کوي، هغه دا وار هم لس روبله راکړل، زما ښه په ياد دي ! په کيف کې وم، هلته کيربوشا ، پوهېږئ د خدای له ښو خدايي خدمتګارانو نه دی، شپه او ورځ لوځې پېښې ګرځي، لنډه به يې درته وايم چې کيربوشا ، راته وويل:

ـ دلته څه لالهانده يې؟ دا ستا ځای نه دی، لاړشه کولپازين ته، هلته شمايل معجزې کوي. خدای ته سپېڅلی، د حضرت مريم سپېڅلی شمايل. دا خبره مې چې واورېده، د هغه ځای له خدايي خدمتګارانو سره مې مخه وکړه او لاړم...

ټول پټه خوله ناست وو او يوازې دغه بوډۍ خورا موزونه غږېده او کله کله به يې ساه هم بندېدله...

ـ هو کې راغلم پلارکه، ټولو خلکو همدا ويل، چې معجزه شوې، يوه لويه معجزه، د حضرت مريم له سپېڅلي شمايل نه د تبرک ځاځکي راڅڅېږي.

شهزادګۍ ماريا چې سره شوې وه، وويل:

ـ ښه ده، ښه ده، نورې به يې بيا وروسته ووايې.

پېير وويل:

ـ اجازه راکړئ له هغې نه يوه پوښتنه وکړم، تا په خپله وليده؟

ـ څه وايې پلاره ! خپله مې دا وياړ په برخه شو ، د حضرت مريم له سپېڅلي شمايل له څېرې نه د خدای نور ورېده او له شونډو يې ځاځکي څڅېدل...

پېير چې د بوډۍ خبرو ته په ځير غوږ نيولی و ، په خورا سادګۍ وويل:

ـهو کې، وګورئ، دا لويه دوکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاګي يوشکا چې سترګو يې د ننواتو غوښتنه کوله، شهزادګۍ ماريا ته مخ وروا ړاوه او په وحشت يې وويل:

ـ توبه، توبه، دا ته څه وايې پلارجانه! داسې مه وايه!

پېير بيا تکرار کړه:

ـ دا د خلکو دوکه کول دي.

بوډۍ خدايي خدمتګارې چې په تېرا او تندي صليب کېښووې ويل:

ـ لوی پروردګاره، حضرت مسيح، توبه وباسه داسې مه وايه پلاره! يو جنرال هم چې د زړه سترګې يې ړندې وې، ايمان يې نه لاره، همداسې ويلي و "د کليسا پاپان دوکې کوي او خلک غولوي "خو دا خبره يې لا پای ته رسولې نه وه، چې په دواړو سترګو ړوند شو، بيا يې ايمان راوړ، زه به دې د سترګو رڼايي ببرته دروښم، جنرال په زاريو زاريو ويل، ما وروليږ، د شمايلو پښو ته وروليږ، ما وروليږ! دا يوه رښتني کيسه ده، زما په مخکې تېره شوې او په خپلو سترګو مې ليدلې ده، ما په خپلو سترګو وليدل چې ړوند جنرال يې شمايل ته وروست، هغه ورو ړاندې شو او د شمايل پښو ته وررولوېد او وې ويل: سترګې مې رڼا کړه، ټول هغه څه چې ځار (پاچا) رابښلي ستا له نامه به يې ځار کړم، ما په خپلو سترګو وليدل، ومې ليدل پلاره، چې د هغه جنرال ستوری يې په شمايل کې کېناوه، څه به دې سر درخوږوم، لنډه به يې درته وايم، د هغه جنرال سترګې رڼې شوې. او بيا يې پېير ته مخ وروا ړاوه، په نصيحت وزمه ژبه يې هغه ته وويل: ګناه ده، پلارجانه ګناه، داسې مه وايه، د خدای له قهره وډار شه!

پېير وپوښتل:

ـ دا دې ونه ويل: چې دا ستوری څنګه په شمايل کې کېناست؟

سردار اندرې چې له خندا نه شينو، وويل:

ـ سپېڅلې حضرت مريم ته يې جنرالي ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناڅاپه د پلاګۍ یوشکا رنګ والوت، لاسونه یې آسمان ته لوړ کړل، بیا یې رنګ تک سور شو او وې ویل:

ـ پلاره ! زما پلاره ! توبه وباسه، ګناه ده، داسې مه وایه، ته خو ماشوم لرې. او بیا یې چې په ټېټر او تندي صلیب وېست، وویل:

ـ پلاره ! دا څه کفر و چې و دې ویل؟ خدای دې تا وبښي. یا خدایه ! د هغه ګناهونه وبښه ! بیا یې شهزادګۍ ماریا ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

ـ ادکې دا خبرې لا پسې څه معنیٰ لري؟ هغه پاڅېده، نېږدې وه، چې له سترګو یې اوښکې راتویې شي، د خپلې کڅوړې په ټولولو پیل وکړ، له ورایه ښکارېده چې هم په حیرت کې ده او هم یې افسوس کاوه، چې چا، څه وویل او له دې نه ډېره شرمېده، چې څنګه په هغه کور چې دا صدقه راټولوي، هلته داسې کفر ویل کېږي.

شهزادګۍ ماریا وویل:

ـ تاسو هم له څه نه خوند اخلی، تاسو ته چا ویلي و چې ما ته راشی؟

پېیر وویل:

ـ نه ادکی ! پلاګۍ یوشکا ! ته مه خوابدې کېږه، ما ټوکه کړه، هغه شهزادګۍ ماریا ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

ـ هیله کوم دا ومنئ، چې ما رښتیا د هغې د خوابدې کېدو تکل نه لاره، هغه چې هڅه کوله، پر خپلو ګناهونو لمن وغوړوي، موسېده او زیاته یې کړه:

ـ هسې یو خبره وه، په دې کې مو هېڅ کوم ځانګړی هدف نه درلود.

پلاګۍ یوشکا په شک او تردید کې ودرېده، خود پېیر څېرې د رښتني پښېماني څرګندونې کولې او سردار اندرې خو په مهربانه ځیرتیا هغې ته داسې کتل، چې کرار کراره بېرته آرامه شوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

بوډۍ خدايي خدمتګاره آرامه شوه او بيا په خبرو راغله.تر ډېرو پورې يې د (امفي لوخي)نومي کشيش ستاينې کولې.هغې ويل چې هغه کشيش دومره سپېڅلی او پاک زړی دی چې د رغوي نه يې د خوشبويۍ بوی راته.هغه په دې غږېده چې د کيف ښارته د وروستي سفر په اوږدو کې يې له يوې کشيشې سره پېژندګلوي وشوه او هغې دې ته د هغو ځمځو د دروازې کلی ورکړه چې هلته د موميايي شوو راهبانو مړي ايښې دي.هغې يادونه وکړه چې هغې په ځمځه کې له نورو خدايي خدمتګارانو سره دوه شپې ورځې تېرې کړې دي او دې هلته له ځانسره وچه ډوډۍ هم وړې وه.دې ويل چې کله به ديوه شهيد قبر ته کېناسته،کله به يې بل ته دعا کوله،کله به يې له يوه نه دعاغوښته او کله به بل ته ورغله....مورجانې نه پوهېږې څه خاموشي،څه سپېڅلتيا،په زړه کې دې داسې روښانايي راخورېږي،چې د بهر د روښانۍ ليدل نه غواړي.

پېير،په خورا ځير او غوځ ټينګارهغې ته غوږ نيولی و.سردار اندرې له کوټې نه ووت او شهزادګۍ ماريا يې خپلو خدايه خدمتګارانو ته پرېښوده چې خپل چای وڅکي،خوهغې پېير د هرکلېو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې ته بدرګه کړ او هغه یې وویل:

-تاسو ډېر مهربانه یاستي !

-اخ !ما رښتیا نه غوښتل دهغې سپکاوي وکړو ،زه دغه احساسات احساسوم او دهغو درناوي کوم.

شهزادګۍ هېڅ ونه ویل،هغه ته یې وکتل،یوه ملاله موسکا یې پرشونډو خوره شوه او وې ویل:

-زه تاسو له ډېر پخوا نه پېژنم او د ورور په شان را ته ګران یاستئ.

ددې خبرې سره سم یې،ناڅاپه،پرته له هغه نه چې پېیر دې ته د مینې او ځواب څرګندولو حق ورکړي،وې ویل:

-څنګه؟اندرې څنګه و؟ دهغه روغتیا ما ډېر زوروي،ژمی یې روغتیا ښه وه،خو پسرلی یې زخمونه تازه شول ،روغتیا یې ژوبله شوه او داکتر سپارښتنه وکړه چې باید لاړ شي او دخپلې روغتیا غم وخوري.روحي حالت یې هم ما زوروي.موږ ښځې خپل ټول غمونه په ژړا او ننواتو سره وو ،خو هغه هرڅه په زړه کې ساتي او غم زیاتوي.نن یې طبیعت ښه دی،ځکه ته راغلي یې.ډېر کم داسې پېښېږي چې داسې خوښ وي.کاشکې ته وکولای شې هغه قانع کړې،چې بهر ته لاړ شي.هغه ډېرې خوځېدا ته اړتیا لري.دلته دا آرام ژوند دی له ژونده باسي.دنورو خو دې ته پام نه شته،ولې زه خو یې وینم.دشپې لس بجې وې چې چوپړان د مشر سردار د ګاډۍ د آسونو دزنګونو په شرنګهاري سره چې له لرې رانېږدې کېدل، د دروازې د زینو خواته ورمندې کړې.سردار اندرې او پېیر هم په ګډه دهغه هرکلي ته ورووانګل.د بوډا سردار د ګاډۍ نه دراښکته کېدو په حال کې ،په پېیر سترګې ولګېدې او وې ویل:

--دا څوک دی؟خو همدا چې نا آشنا ځوان یې ځای ته راوست او وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژاند ،وې ویل:

-اوهو !څومره ښه ده پر خوشاله یم چې وینم دې، راشه مچ مې کړه.

دبوډا سردار طبیعت خورا جوړ او پر پېیر ډېر مهربانه و.

تر ماښامنۍ مخکې چې کله سردار اندرې د پلار دفتر ته راستون شي، پلار یې له پېیر سره په توده مرکه کې بوخت ولید. پېیر غوښتل زوړ بوډا په دې قانع کړي چې داسې وخت را رسېدونکی دی چې جگړه د انسانانو له منځه ورکه شي، خو بوډا سردار په ملنډو ملنډو دې خبرې پورې خندل، هغه ویل:

ـ د انسانانو له مراندونه، وینې راوباسئ او هلته نوې وینې په کې وبهوئ، هغه وخت کېدای شي جگړه پای ته ورسوي. دا ټول ښځینه خیالونه دي، خو سره له دې هم هغه پېیر پر کینې اوږې وواهه او خپل میز ته ورنېږدې شو ،سردار اندرې چې هیله یې نه لرله،د پلار او اندریوال مرکې ته ورګډ شي، ځان یې په هغو کاغذو بوخت وساته چې پلار یې له ځانسره له ښاره راوړی و، بوډا سردار هغه ته ورنېږدې شو او له هغه سره یې،د هغه د ورځنیو کارونو په اړه خبرې پیل کړې:

ـ سردار رستوف د اعیانو د ټولنې مشر لا د هغو وګړو نیمایي هم نه دی، برابر کړی، چې باید راټول کړی یې وای. هغه ښارته راغلی او زه او زه یې مېلمستیا ته رابللی یم..... بیا پېیر په اوږه واهه او زوی ته یې وویل:

ـښه وروره ! ستا دا اندیوال ښه سړی دی، زما خوښېږي !

..... بوډا د کوټې نه د وتلو په وخت کې غږ کړ:

ـ زما له هغې ساده لېونۍ لور سره مینه کوه او له هغې سره مهربانه اوسه !

پېیر لیسه ګورې، ته په دې سفر کې له سردار اندرې سره د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینې په ټینګښت او پرتم پوه شو. له سردار اندرې سره د پییر د دوستۍ پرتم، نه په خپله د اندرې په دوستۍ، بلکې د هغه له خپلوانو سره په دوستۍ کې څرګندېده. که څه هم پییر نه ظالم او زړه سختی مشر سردار پېژانده او نه یې آرامې او مهربانې شهزادګۍ ماریا سره آشنایي لرله، خو داسې یې انګېرله چې له دواړو سره له کلونو کلونو پېژندګلوي او دوستي لري. هغه د ټولو په زړه کې ځان موندلی و.
شهزادګۍ ماریا نه یوازې له دې کبله چې د هغې له خدایي خدمتګارانو سره پییر لېوالتیا ښودلې وه، هغه په مینه ناکو سترګو کتل، بلکې د مشر سردار په وینا آن د هغه ماشوم لمسي سردار نیکولای هم هغه ته موسېده او غېږې ته یې ورته.
میخاییل ایوانوویچ او پېغله بوري ین هم هغه وخت چې پییر او شهزادګۍ ماریا به سره غږېدل، دوی ته کتل او له مینې نه به یې موسکا پرشوندو خورېدله.
مشر سردار ماښامنۍ ته راغی، پر میز کېناست او ټولو ته څرګنده شوه چې دغه کار یې د پییر لپاره کړی دی. بوډا په لیسه ګوري کې د پییر د دوه ورځنۍ مېلمستیا په وخت کې خورا ښه او مهربانه و. له هغه سره به یې مینه کوله او ورته ویل به یې چې دیدن ته یې راشئ.
کله چې پییر لاړ او د کورنۍ غړي ببرته راټول شول، لکه هغه شان چې په هره کورنۍ کې د نوي مېلمانه د تګ نه وروسته دود دی، ټول د هغه په اړه خبرې کوي، دوی ټولو هم دا کار کاوه، خو له ستاینو نه پرته، بل هېڅ نه اورېدل کېدل او دا هغه څه دي چې ډېر کم پېښېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

رستوف چې دا وار له رخصتيو راستون شو، دلومړي ځل لپاره يې داسې يې احساس کړه، چې د هغه اړيکې له دينيسوف او په ځانګړې توګه له غونډ سره څومره ټينګې او ژورې دي.
کله چې غونډ ته نږدې کېده، د هغه په زړه کې داسې احساس څپې وهلې، لکه هغه احساس چې د مسکو د پاورسکايا په کوڅې کې يې، خپل کور ته د نږدې کېدو په وخت کې احساسوله. هغه چې کله د خپل غونډ سپاره پوځ سور ځنې ديمينتوف وليد، هغه يې سمدلاسه وپېژاند او سره بخونو آسونو د خړځای ديوال يې تر سترګو شو، کله چې يې لاورشکا په چغو چغو هرکلي ته راودانګل: ګراف راورسېد! دينيسوف له خوبه راپاڅېد، په داسې حال کې چې څنې يې جړې وې، له خپلې ځالې يې رامنډې کړې، له رستوف نه يې غېږ راتاو کړ او د غونډ افسران ترې راتا و شول. د رستوف په ګوګل کې هماغه احساس څپې وهلې لکه چې کور ته د ستنېدو په وخت کې يې مور او پلار او خويندو له ده غېږې تاوولې، دی يې کېښکوده، له خوشالۍ نه ګېنې واخېست، ژړا ورغله او ژبه يې ګونګه ګونګه شوه. غونډ هغه ته د خپل کور په شان و، هماغه شان په زړه پورې او ګران و، لکه د مور او پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور.

رستوف د غونډ له قوماندان سره تر کتنې وروسته، په خپل هماغه د سورو پوځونو په ډله کې وګمارل شو..... تر څو پیرو او دندو تر سرته رسولو وروسته یې، بیا له کار سره مینه پیدا شوه، د آزاد کورنی ژوند آزادي یې هېرې او بېرته یې ځان د پوځي ژوند د نظم او ټینګو کړو په کړېو کې برابر کړ. خو دلته یې هم هماغه د کورنی تود ژوند مینه، محبت، خواخوږی چې د مورو پلار او خویندو نه لیدل، احساسول. دلته نور د ټولنې د ګډو او غیر پوځي ژوند آزادي نه وه، چې په کې هرې خوا ته لاس وا چوي او تېروتنې ترې وشي، نور نو سونیا نه وه چې له هغه سره د رازونو یا نه رازونو یا د زړه دغوټې خلاصولو ته اړ شي. نور نو دا امکانات نه و چې دې خواته، هغې خواته لاړ شي، نور نو په یوه شپه و ورځ کې ۲۴ ساعت نه و، چې هر ساعت یې په ډول ډول لوبو تېر کړي، نور نو د خلکو هغه یې شمېرې ډلې نه وې، چې دی په پېژندنه کې حیران وي، نه وو، نور یې له پلار سره د مالي ستونزو خبرې نه وې او نور نو دولوخوف ته په قمار کې د پیسو بایلېدل نه وریادېدل، دلته په غونډ کې هر څه څرګند او ساده و. ټوله دنیا او د هغه هر څه په دوو نابرابرو برخو وېشل کېدل: یو د پاولوګراد غونډ، چې هغه خپل ګاڼه او نوره ټوله دنیا. او هغه له دې دویمه برخې سره هېڅ اړیکي او کار، نه لاره. په غونډ کې هر څه څرګند و، هر څوک پوهېدل، څوک بریدګی او څوک جګړن دی، څوک پاک زړی او څوک بد زړی او له ټولو نه مهمه دا ده چې څوک ستا ملګری دی. دوکاندارانو به باور کاوه، هر څه یې په پور ورکول او په هرو دربوو میاشتو کې یې یو وار پورونه ټولول، هېڅ اړتیا نه وه، چې پلمې وکړي او دروغ ووایي، یوازې دا باید په پام کې نیول شوي وای چې د پاولوګراد په غونډو کې داسې څه نه وای تر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي چې بد ګڼل کېدل او هر کله چې تا کوم کار ته ګماري بايد هغه په غوره توګه تر سره کړې او د هغه امر له مخې چې تا ته درکړ شوی دی، هغه بشپړ کړې.

رستوف چې کله بيا د غونډ په ځانګړو حالاتو کې ژوند پيل کړ، هغه مسافر ته ورته و، چې له اوږده مزله وروسته يې کولای شول، وغځېږي او ښه استراحت وکړي. د پوځ دا ژوند د رستوف لپاره ځکه په زړه پورې و چې دولوخوف ته د پيسو د بايلودلو (د مورو پلار د خوا خوږۍ سره سره يې نه شو کولای د دغه ګناه له کبله ځان وبښي) نه وروسته يې پرېکړه کړې وه چې تر پخوا نه به دا سې زيات خدمت کوي، دا سې هڅه او زيار به باسي، چې د ګناهونو پور پرې کړي، لنډه دا چې پياوړی وتلی افسر، خوږ ملګری او په يوه خبره کې، يو ځانګړی سړی و اوسي. هغه ځوک چې په ولسي ژوند کې ګران او په پوځي کې خورا آسانه خبره ده.

رستوف د قمار، تر بايلودو وروسته پرېکړه کړې وه، چې د پنځو کلونو په اوږدو کې د پلار پور ورپرې کړي. پلار يې په کال کې لس زره روبله ورته رالېږل او تکل يې کړی و چې تر دوه زرو نه زيات روبله خرڅ نه کړي او په پاتې يې هغوی د پلار پور ادا کړي.

زموږ پوځ تر شاتګ او په پولتوسک او ايلاپروس کې تر يرغلونو او ببلابېلو جګړو نه وروسته، بارتن شتاين ته نږدې راټول شوي و. ټول د ځار (ټولواک) راتګ او د نوي جګړې پيل ته سترګه په لاره وو.

د پاولوګراد غونډ چې د ۱۸۰۵ کال په جګړه کې ګډون درلود، ځانته د خوړو او کالو په راټولولو لګيا و، نو ځکه يې ونه شو کولای د پولتوسک او ايلا پروس په لومړنيو نښتو کې ګډون وکړي، خو د دويمې جګړې په نيمايي کې يې ځان جګړه ځپلي پوځ ته ورساوه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاتف له پوځ سره يو ځای شول. د پلاتوف ډله له پوځ نه جلا جنګېدل. د پاولوګراد پوځ څو ځله، له دښمن سره په نښتو کې ګډون کړی و، اسيران يې نيولي وو او آن يو وار يې د مارشال اودينو ګاډی هم غنيمت کړې وه. دغه غونډ د اپريل په مياشت کې څو اونۍ يو لړې او کنډواله شوي کلي ته نږدې، ديره شوي، همالته ځای په ځای ولاړ او هېڅ ونه خوځېد.

که څه هم د واورو د ويليدو او د اوبو د بهېدو فصل و، هره خوا ختې وې او کله به د سړو څپو راخوره شوه، سيندونه په څپو راغلي وو، لارې بندې وې. په ورځو ورځو به آسونه له خوځېدا پاتې شول، نه آسونو ته واښه او نه وګړو ته خواړه رسېدل. دا چې ګاډی او کراچۍ خوځېدای نه شوې، خلک پلي، کلو او بانډو ته تلل او هلته به له خلکو نه په تشو کلپو کې، کچالو يا نورو خوړو پسې ګرځېدل، خو د خوړو څه شی يې پيدا کولای نه شو.

هر څه چې و، کلپوالو خوړلي او تښتېدلي وو، هغه شمېر چې پاتې وو، سخت خوار، مظلوم او څه خواړه او کالي يې نه درلودل، چې له هغو نه يې څوک واخلي يا يې غلا کړي. آن سخت زړو سرتېرو هم ددې پر ځای چې له هغو نه څه واخلي، خپله يې که څه درلودل، هغو ته يې ورکول......

دوې اونۍ کېدې چې آسونو هم د کورونو د کوټو د چتو له سوارونه پرته، نور کوم واښه خوړلي نه و. خورا ډنګر او ژوبل شوي وو..... خو سره له دې هم افسرانو او سرتېرو پوځي ژوند ته دوام ورکاوه، د سورو غونډ پوځيانو، که څه هم رنګ الوتی، پړسېدلی او جامې يې ټوټه ټوټه وې، مګر بيا هم هر سهار په کتار کې درېدل او هم به بيګارۍ ته تلل، آسونه يې خره کول، وسلې يې پاکولې، آسونو ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه چتونـو نـه سـو ارې راو يسـتې، د خـوړو پـه تمـه د نغريـو شـاو خـوا ګرځېدل، وربې پاڅېدل او دلوربې او خوړو پـه اړه بـه يـې ټوکې کولې او اپلتې به يې غړولې.......

رستوف د پخوا په شان له دينيسوف سره په يوه کوټه کې او سېده او تـر رخصـتيو نـه يـې وروسـته، ملګرتـوب لا ټينـګ او خـوږ شـوی و. دينيسوف هېڅکله د خپل انډيوال رستوف د کورنۍ د غړو په هکلـه نـه غږېده، خو رستوف داسې احساسوله، چې د ناتاشا ناکامه مينـه، د دوی په دوستۍ کې بې اغېزه نه ده. دينيسوف چې تر رستوف لوړه رتبـه درلوده، هڅه يې کوله، چې هغه سختو چارو او ګواښمنو سپارښـتونو ته ونه ګماري. د هغه پالنه او ساتنه يې کوله او تر هرو عملياتو وروسته به يې د هغه پوښتنه کوله، چې تاو ان ور رسېدلی نه وي. رسـتوف پـه يـو کلي کې د خپلو دندو د سر تـه رسـولو پـه وخت کـې، يـو پـولنډي بـوډا ، چې يوه کمکۍ لـور يـې ورسره وه، وليـده، چې بربنړ او وږي دي، او نـه پـوهېږي چـې چېـرې وتښـتي، رسـتوف هغـه لـه ځانسـره قطعـې تـه راوستل، هغو ته يې پـه خپلـه کوټـه کـې ځـای ورکـړ، هغـوی يـې تـر هغـه وخته پورې وساتل چې بوډا اروغ شو.

د رستوف يوه ملګري دښځو پـه اړه د خبرو اتـرو پـه لـړ کـې،هغـه تـه ويل چې هغه ناځوانه ملګری دی،ځکه دی،خپل دوستان له هغـې يـوې لنډې ښځې سره چې دده کورته راغلې ده،نه اشنا کوي.رستوف ته دغـې ټوکې خوند ورنه کړ او سخت خفه شو.هغه افسر ښه وښکنځاه چې دغـه ټوکه يې ورسره کړې وه،خو دينيسوف کرار کرار هغه آرامه او دلاسا کړ او دهغوی تر منځ يې ددوئيل مخه ونيوله...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۶

د اپرېل په میاشته کې، د ټولواک د راتګ خبر، پوځ بیا راژوندی او زړور کړ. رستوف ونه کولای شو په هغه برید کې د ګډون حق پیدا کړي، چې په بارتن شتاین کې کېدونکی و، ځکه د پاولوګراد غونډ د پوځ په لومړیو کرښو او له بارتن شتاین نه لرې پروت و.

غونډ په یو لرې ډاګ کې ځای پر ځای شوی و. دینیسوف او رستوف په هغه مورچل کې، چې سرتېرو د ځمځې په ډول وښتلی او په پاڼو، ښاخونو او شنو یې پټ پوښلی و، پناه اخېستې وه. دغه مورچل چې د هغه وخت د دود سره جوړ شوی و، یو متر سور، یونیم متر ژوروالی او درې نیم متره اوږد والی درلوده. د دغه مورچل یوه خوا، د وتلو لپاره لکه زینې داسې جوړې شوې وې، همدا ځمځه د پوځیانو کوټه هم وه. د ځمځې په بل سر کې سورو پوځیانو، ځولګي په دېوال کې وهلي، پر سر یې یوه تخته وراښې او له هغه نه یې د میز کار اخېست. د ځنګ په دوو دیوالونو کې یې، د یو متر په اندازه بیا نور ځایونه وهلي وو او له هغو نه یې د کټ کار اخېست. د مورچل د لوړوالي کچه له هغه اندازې سره برابره ده چې دی هلته ولاړ و. سر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس نه لګېده. د دينيسوف کوټې (هغه سرتېرو ته ګران هم و) يوه بله ښکلا هم درلوده او هغه دا چې له چتـه يو داسې دړه چې په هغې کې د ښيښې ټوټې ټومبل شوې وې، راځوړنده وه. کله به چې هوا ډېره سړه شوه، سرتېرو بـه لـږ سـکروټې د اوسپنو پـه تختـو کېښـودې... د دينيسوف او رستوف مورچل به ښه تود، او د سرتېرو او پوځيانو ګڼه ګونه به هلته جوړه وه.....

د اپريل د مياشتې يوه ورځ چې رستوف د سهار په اتو بجو له پيرې او سختې بې خوبۍ نه وروسته، خپل مورچل ته راغی، سپارښتنه يې وکړه چې اور راوړل شي. لـه اورښـته لونـد شـوی خپـل کمـيس يـې وويست، دعا يې وکړه، چای يې وڅکه او ځان يې تود کړ... خپل کالي او کپړې يې ټول او په يوه کميس کې په خپل کټ کې وغځېد. لاسونه يې تر سر لاندې کېښودل، په خيالو کې ډوب شو او د هغې رتبې د اخېستو په چرت کې لاړ، چې د خپلې وروستۍ دندې د بريالي سر ته رسېدو له امله يې په هماغه ورځ د حکم د اخېستو وړاندېز شوی و. هغه دينيسوف ته چې معلومه نه وه، چېرته تللی و، سترګې په لاره و. ده غوښتل چې په ګډه سره کيني او د زړه خواله سره وکړي. په دې وخت کې د دينيسوف چغې چې له قهره ډکه معلومېدې، واورېدل شوې. رستوف پاڅېد، د مورچل د هېنداري نه يې د باندې وکتل، ګوري چې ډلګی مشر توپچنکو دی.

دينيسوف پرله پسې چغې وهلې، ما خو تا ته خپله امر کړی و، چې څوک دغه د ماشکين ريښې ونه خوري. ما خپله وليدل چې لازارچوک ريښې له ډاګه راوړي. ډلګی مشر ځواب ورکړ:

ـ ښاغليه! ما ټولو ته ستا امر وواييه، سپارښتنه مې ورته وکړه، خو د هغو غوږونه کله خبره اوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف بېرته خپل کټ ته راستون شو او په خورا ډاډ يې له ځان سره وويل:

ـ پر پرده چې خپلې چغې سورې وکړې، ما خپل کارونه په ښه توګه تر سره کړي دي، زه غواړم ويده شم، ترخوبه بل ښه شی په دنيا کې نه شته.

خو د ډلګۍ مشر له غرېږه پرته، دد ينيسوف د نوکر، هماغه چالاک او اوروزمی لاروشکا غږ هم واورېدل شو. هغه پر ډوډۍ باروکراچيو او غوايانو په اړه خبرې کولې او ويل يې چې خوړو پسې ګرځېدو، ده هغه ليدلي دي. بيا د دينيسوف د چغو غږ واورېدل شو چې ويل يې:

ـ دويمې ډلې ته ووايئ چې چمتو شي.

رستوف په زړه کې وويل:

ـ دا چېرې ځي.

دينيسوف پنځه دقيقې وروسته خمڅې ته راننوت او په ختو ککړو بوټو سره کټ ته وروخوت، په خورا قهر يې خپل پيپ څښاوه او خپل شيان يې په کڅوړه کې اچول. هغه خپله توره او متروکه تر ملا کړل او د وتلو د وره خوا ته د خوځېدو په لړ کې يې، د رستوف د دې پوښتنې په ځواب کې چې چېرې ځې، په خواشينی ځواب ورکړ، کار لرم.

دينيسوف د خمڅې د دروازې نه د وتلو په شېبه کې وويل:

ـ لوی خدای او ستر تولواک به مې ساتنه کوي.

رستوف له خمڅې نه باندې په ختو کې د څو آسونو د خوځېدا ګامونه واورېدل، خو ځان يې آن دومره هم په عذاب نه کړ چې وګوري، چېرې ځئ؟ په هماغه ګوښه کې چې غځېدلی و، کرار کرار لړ تود او خوب يووړ. لمر په غړغړو و چې راويښ شو او له خمڅې نه راووت. دينيسوف لا راستون شوی نه و. آسمان شين و. د ګاونډې خمڅې څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته، دوو افسرانو او يو بريدګي په پستې نمجنې ځمکې کې، چې خټجنه وه، په خورا خوښۍ د سافيکا د لوبې د پيل په هيله، ميېږوي ټکول. رستوف هم له هغو سره يو ځای شو. د دوی پيل شوې لوبه لا نيمايي ته رسېدلې نه وه، چې خپل پلو ته را روانو کراچيو ته يې پام شو. يو پنځلس شپاړلس سواره، چې آسونه يې خورا ډنګر ډنګر وو، کراچيو پسې را روان وو. کراچۍ د سپرو په لار ښوونه، د آسونو د تويلې خوا ته ورننېږدې شول، سواره ترې راتاو او لويه ګڼه ګوڼه يې جوړه کړه.

رستوف وويل:

- ښه وګوره، دينيسوف هسې ځان له ډاګه ويشته، دا دي هم خواره !

افسرانو وويل:

- همداسې چې وايي، اوس به سرتېري مزې کوي.

د سرتېرو نه لږ واټن وروسته، د پلېو پوځونه دوه افسره چې پر آسونو سواره وو، او له رستوف سره يې چغ جګ و، راروان و. رستوف د هغو مخې ته ورغی.

ډنګر، لنډوني افسر، چې له ورايه يې له ژبې نه قهر ورېده، ويل:

- زه تاسو ته خبر درکوم.

دينيسوف وويل:

- لاس مو خلاص، ما خو وويل، چې بېرته يې نه ورکوم.

- ګوره تورن صاحب ! مسوولیت به يې ستا په غاړه وي، تاسو په خپلو تالان ګډ کړي دي، دا خو غلا ده، دوه ورځې کېږي، زموږ سرتېرو يوه مړۍ ډوډۍ هم نه ده خوړلې.

دينيسوف ځواب ورکړ:

- زما سرتېري دوه اونۍ کېږي چې وږي ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلي افسر په لوړ آواز بيا وويل:

- دا سو چه غلا ده، تالان دي. تاسو يې مسوول ياستئ.

دينيسوف ناڅاپه لکه اور چې اخيستي و، چغه کړل:

- څنګه، پرېږدئ مې کنه؟ ځواب يې زه وايم نه تاسې. ګورئ، مخکې له هغه چې خبره بې آبۍ ته ورسېږي، ما نه لاس واخلئ او کنه... شاګرز، تاسو ته وايم مخ واړوئ.

لنډه وني افسر، پرته له هغه چې يا شاګرز او يا وخوځېږي، په لوړ آواز يې وويل:

- ډېر ښه، ډېر ښه، هم غلا کوئ او هم...

دينيسوف د خپل آس مخه، د دغه افسر خوا ته وروا ړوله او چغه يې کړل:

- ځه ورکېږه ! کنه اوس به هغه څه درباندې وکړم چې مې کوه پوښتنه.

افسر هم په ګوا ښمنه ژبه وويل:

- ډېره ښه ده، اوس به ګورو.

هغه د خپل آس مخ راواړوه، په خپل ربړ د بډ ونکي زين ناست، په يرغه ځغاسته لرې شو.

دينيسوف ورپسې چغې کړل:

- د سپي په شان غاپي، لکه خراړي سپي.

دا د پلي پوځ يو افسر ته د سواره پوځ تر ټولو بدې ښکنځلې او پر هغه ملنډې وې.

دينيسوف تر دې سپکو نه وروسته، په بنګېدو بنګېدو، د رستوف خوا ته راغي او وې ويل:

- په زور مو ترې واخيستل، غلا مو کړل، دهغود خوړو کاروان مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې کړ. څه وکړم، وګړي مې له لوږې مري، بل ډول خو ونه شوه.

هغه څه چې د سواره پوځ، پوځیانو ته ترلاسه شوي و، د پاولګراد د قطعې يو غونډ ته ور روان و، خو دینیسوف چې د لاوروشکا نه د هغه له راتګ او ساتونکو د نه درلودلو نه خبر شوي و، له خپلو ساتونکو سره پرهغه یرغل او تالان کړي و. هغه خپلو سرتېرو ته پوره وچه ډوډۍ ورکړه او آن نورو سورو ته يې هم ست وکړ.

بله ورځ، د غونډ قوماندان دینیسوف ځان ته وروغوښت، خپلې منګولې يې پرانیستې او سترګو ته يې ونیولې:

- زه دا پېښه داسې ګڼم، ګواکې پرهغه سترګې پټوم، ګواکې هېڅ مې نه ده لیدلې او نه مې اورېدلې او تا په غلا نه تورنوم او دوسیه نه درته جوړوم، خو تا ته مشوره درکوم چې په خپله ستړې قوماندانۍ ته لاړ شې، او دغه شخړه په کراره آواره کړې او که شونې وه، کوم سند لاسلیک کړې، چې څومره خواړه دې ترلاسه کړي دي او کنه د پلې غونډ له عرض سره به مخامخ او خبره به خدازده چېرته ورسېږي.

دینیسوف د غونډ له قوماندان سره ترکتنې وروسته، مخامخ ستړې قوماندانۍ ته لاړ او د زړه له کومې يې تکل وکړ چې د غونډ د قوماندان خبره ترسره کړي. هغه چې کله د شپې خپلې خمڅې ته راستون شو، داسې و چې رستوف هېڅکله خپل ملګري دغه شان لیدلی نه و. هغه نه غوښتل وغږېږي او له خواشینۍ نه سرسام و. کله چې به رستوف هغه نه وپوښتل چې څه شوي دي. هغه به شونډو لاندې ښکنځلې او ګواښمن څه به يې ویل، چې په پوره توګه نه د پوهېدو وړ و او نه دا څرګنده وه، چې چاته يې وايي.

رستوف چې د دینیسوف ددې حال په لیدو ویرې اخیستې و، هغه ته يې د کالېو د بدلولو او يو ګیلاس اوبو د څکلو ست وکړ او يو تن يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ډاکتر پسې ولېږه.

- غواړي ما د غلا په تور محکمه کړي. ورکه وه يې، يو بل ګيلاس اوبه راکړه، پرېږده چې محکمه مې کړي. زه به تل د دغو دوه مخو په وړاندې جنګېږم، دا خبره خپله ټولواک ته هم کوم، هو کې، راکړه، راکړه يو بل ګيلاس يخې اوبه هم راکړه.

پوځي ډاکتر چې راغي وې ويل:

- هرومرو يې بايد وينه واخېستل شي. او يو شيشه توره وينه يې د دينيسوف له ويښتن لاس نه واخيسته او په همدې وخت کې متې هغه وکولې شو، د هغه څه په هکله خبرې وکړي، چې په ده تېر شوي و:

- کله چې سترې قوماندانۍ ته ورسېدم، ومې پوښتل، ښه رئيس مو چيرې دي؟

وې ويل:

- ايا کولای شي لږ صبر وکړئ؟ ما وويل:

- بايد لاړ شم، خپلې دندې ته بايد ستون شم، تر دې ځايه پورې مې ديرش( ورست ) لاره وهلې، که ورته وو ايې چې د صبر کولو وخت نه لرم، ښه به دا وي چې ما ومنئ. تر دې خبرې وروسته و چې د داړمارو غلو مشر راښکاره او ما ته يې په نصيحت پيل وکړ:

- دا کار چې تا کړي دي، غلا ده ! زه چې ورننوتم، ومې ويل:

-غلا ، دا غلا نه ده چې يو افسر خواړه ددې لپاره اخلي چې خپل وږي سرتېري ماړه کړي، غلا هغه ده چې د سرتېرو خواړه د خپل جيب ډکولو لپاره واخلي، هغه وويل:

- ښه ! چې داسې ده، لاړ شه او د جرګه ګۍ مشر ته ورشه او هلته به هغه يو پاڼه درکړي،ته هغه واخله او لاسليک يې کړه، چې ستا دغه دوسيه پای ته ورسېږي. بيا زه د جرګه ګۍ مشر ته ورغلم.څه فکر کوئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میز شا ته څوک ناست و؟ نه، نه پوهېږئ؟ تصور وکړه، فکر کوې، څوک موږ له لوږې ژغوري؟ دینیسوف چې دا خبره وکړه، له قهره یې په هماغه تپي لاس میز ته داسې ګوزار ورکړ، چې د هغه پر سر ولاړه پیاله ورغړېده او خپله میز نېږدې و، چې واوړي. پوهېږې څوک و، تلیاتین و، تلیاتین. هغه ته مې وویل:

- دا ته یې چې موږ دې، له لوږې د مرګ پولو ته رسولې یو؟ یوځپېږه، بله ځپېږه، خدای دې بده ورځ نه درښیي، وربوز مې ورسم کړ، که رښتیا درته ووایم زړه مې پرې یخ شو. ښه وهل مې ورکړل. دینیسوف همداسې رمباړې وهلې او سپین غاښونه یې تر تورو ببرو بریتو لاندې، له کرکې ځلېدل:

- که رانه ژغورلای یې نه وای، وژلی به مې و.

رستوف ورته وویل:

- دا رمباړې د څه لپاره؟ آرامه شه! بیا دې وینه را وایشېده، راځه چې د لاس د ټپ پلستر دې بدل کړو.

د هغه د لاس پلستر مو بدل کړ، کټ ته یې سره بدرګه کړ او ویده شو. یوه ورځ وروسته، هغه په ښه طبیعت او خوښۍ له خوبه راپاڅېد. د هماغه ورځې په ماسپښین د غونډ یاور په خورا قهر او غوڅه بڼه د رستوف او دینیسوف څمڅې ته راغی او په خورا خواشینۍ یې د غونډ د قوماندان له خوا، جګړن دینیسوف ته یوه پاڼه چې د پرونۍ پېښې په اړه پوښتنې په کې راغلې وې، ورکړه. یاور وویل چې، خبره ډېره کړکیچنه بریښي. هغه وویل چې یو پوځي محکمه جوړه شوې ده، ځکه په پوځ کې او سنۍ بې پروایي او د خلکو او کلیوالو د شتمنیو تالان زیات شو او د دینیسوف جزا به هم لږ ترلږه خلع رتبه وي.

خبره د خبرلوڅو او شیطانانو له خوا داسې ښودل شوې ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکې جګړن دينيسوف له پوځي کاروان نه د خوړو تر تالان او غلا نه وروسته، بې له هغه چې چا غوښتی وي، په بدمستۍ او نشه کې، تللی د اعاشې چاروا کي يې غل نومولی، بد رد يې ورته ويلي او ښه يې وهلی دی. له هغه ځايه يې چې سره ويستلي... بيا نورو سره...

دينيسوف د دغو ټولو خبرو او ملنډو په اورېدو خندل او ملنډې يې پرې وهلې، خو رستوف چې دينيسوف ښه پېژانده، په دې ښه پوهېده. سره له هغه چې دينيسوف ګواکې نه ډاربږي، مګر له محکمې نه ډېر ډاربږي. د محکمې له پريکړو او د دې پېښې له راتلونکو بدناميو ويرېده.

هر ورځ به جلبونه پسې را روان و او محکمې ته به يې غوښت، خو په پای کې دې ته اړ شو چې د مې د مياشتې په لومړۍ نېټې د پوځي سورو د ډلې مشري، خپل مرستيال ته وسپاري او خپله د ستر قوماندانۍ د مستنطق د مشر دفتر ته ورشي او د خپلو ناوړو کړو په هکله پوښتنو ته ځوابونه ووايي. يوه ورځ د مخه پلاتونوف له ددو قزاقانو او له دوو سپرو سره د ځينو کشفياتو لپاره وتلی وو.

دينيسوف د تل په شان تر ټولو نه مخکې روان و او هلته يې بيا ښه زړورتيا او مېړانه ښودلې وه، خو د يوه فرانسوي وشتونکي د ټوپک يوه مرمۍ د هغه ورون لږ شان ټپي کړ. کېدای شي که بل وخت وای، دينيسوف به هېڅکله په داسې نرم ټپ له غونډ نه روغتون ته د تګ تکل نه وای کړی، مګر اوس يې دغه ټپ پلمه کړ او د قوماندانۍ مستنطق ته يې د ورتګ پر ځای، روغتون ته مخه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

د جون په میاشت کې چې د فرېدلند جګړه پیل شوه، د پاولګراد غونډ په هغې کې ګډون نه درلود او تر دې جګړې نه وروسته د اوربند تړون لاسلیک شو. رستوف، چې د دینیسوف بېلتون زوراوه د هغه د تګ نه تر اوسه پورې یې له هغه نه هېڅ پته نه لرله.د هغه د دوسیې او روغتیا له کبله هم خورا پریښانه و. له دغه اوربند نه په ګټې اخیستو یې، اجازه واخېسته چې روغتون ته لاړ شي او د دینیسوف دیدن وکړي.

روغتون د پروس په یوه داسې واړه کلي کې پروت و، چې یو وار روسانو او یو وار هم فرانسویانو هغه تالان او کنډواله کړی و. اوړی و، ډاګونه تک شنه او زړه راښکوونکي وو، خو د کلي د کورونو رنګ بامونه، وران دیوالونه، ناولې کوڅې، بربنډ او وږي او سېدونکي، ټپي، ناروغه یا نشه سرتېري چې هر پلو لالهانده ګرځېدل، هغه څه وو، چې دلیدو خورا بنه منظر یې جوړ کړی و.

د روغتون ودانۍ له تېرو نه جوړه شوې وه. د هغه د انګړ دیوالونه لا یو څه پاتې وو، که په ځینو کړکیو کې لا ښیښې پاتې وې، خو د ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکاټونه هم دړې وړې او الوتي وو. ناروغ، ټپي، رنګ الوتي، د چا لاس، د چا پښه یا بل ځای تړلي، څوک لمر ته ناست او څوک په باغچه کې ګرځېده.

رستوف همدا چې د روغتون انګړ ته ورننوت، په روغتون کې د کوم شي د وروستوالي بوي، هغه سرسامه کړ. په زینو کې یو روسي ډاکتر چې سیګار یې په خوله کې و، په مخه ورغي. ډاکتر پسې یو روسي روغتیاپال هم روان و.

ډاکتر وویل:

- ځان خو ځېرولی نه شم، چې ټولو ته ورسېږم، ماښام قضا د ماکارالکسویچ کوټې ته راشئ، زه به همالته واوسم.

روغتیاپال چې کوم بل څه له هغه پوښتلي و، ځواب ورکړ:

- هرڅنګه چې ستا خوښه وي، پروا نه لري!

د ډاکتر په دې شېبه کې، په زینو راختېدونکي رستوف ته پام شو او هغه نه یې وپوښتل:

- ښاغلیه! دلته څه کوئ؟ دلته ولې راغلي یاست؟ د دښمن له مرمۍ نه مو ځان ژغورلی، راغلي یاست چې په تیفوس اخته شي؟ دا د جذام روغتون دی.

رستوف وپوښتل:

- ولې د جذام روغتون؟

ډاکتر په داسې یوه ژبه، چې ګواکې له خپلو خبرو خوند اخلي، وویل:

- تیفوس، ګرانه، تیفوس! هېڅوک له دې ځایه ژوندي نه وزي. یوازې دوه تنه یو، چې دلته ورته ټینګ یو زه او یو دغه ماکایف (خپل روغتیاپال ته یې اشاره کوله).

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ پنځه تنه نور داکتران مړه شول..له پروسي داکترانو نه مو مرسته وغوښته، خو هغوی دزمونږ غوندې دټلوالو(متحدانو ) د لیدو زغمل نه لري.

رستوف وویل:

- د سواره پوځ د جګړن دینیسوف دیدن ته چې ستاسو په روغتون کې پروت دي، راغلی یم.

- نه یې پېژنم، هېڅ خبر نه یم پلاره ! ته خپله فکر وکړه، زه یو تن یم، دري روغتونه او څلورسوه ناروغان. د خدای شکر دي چې پروسي مهرباني مېرمنې مونږ ته د ټېونو د تړلو ټوکر، قهوه اوکوم کیلو کبان رالېږلي، کنه نفس به مو لاوخته ختلي وای. وې خندل او بیا: څلورسوه ناروغان او نور هم راروان دي.

روغتیاپال ته یې مخ واړاوه؛ تا ته وایم څلورسوه کنه؟

د روغتیاپال له څېره نه له ورایه د هغه نه زغم څرګند و او هیله یې لرله، چې دغه ډېرغږېدونکي داکتر ژر تر ژره لاړ شي، چې دي خپلو کارو پسې لاړ شي.

رستوف وویل:

- جګړن دینیسوف د مولنین په څنډو کې ټپي شوي و.

داکتر په خورا بې پروایي له روغتیاپال نه وپوښتل:

- ښکاری مړ شوي به وي. څنګه داسې نه ده ماکایفه؟

خو روغتیاپال د داکتر خبره ونه منله.

داکتر وویل:

- جګه ونه او سرې څڼې یې نه وې؟

رستوف د دینیسوف د څېرې ځانګړتیاوې انځور کړې.

داکتر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هوکې، هوکې ! یو تن له همدې ننښو سره و، هوکې، خو باید مړ شوی وي. په هرحال، بیادې هم څېړنه وشي. موږ سره، نوم لیک شته دي، ماکایف، هغه نوم لیک خوله تا سره دی؟

روغتیاپال وویل:

- هغه له ماکارالکسویچ سره دی. بیا یې مخ رستوف ته ورواړاوه او وې ویل:

- مهرباني وکړئ، د افسرانو کوټې ته لاړ شي، هلته به یې خپله وګورئ.

داکتر وویل:

- اخ، پلاره ! که زما منې، مه ورځه، ډاربږم، چې خپله دلته پاتې نه شي.

خو رستوف، له داکتر سره مخه ښه وکړه او له روغتیاپال نه یې د لارښوونې غوښتنه وکړه.

داکتر د لاندنیو زینو نه راچغه کړل:

- ګوره، چې بیا ونه وایې، چې چاراته ونه ویل.

رستوف او روغتیاپال، دهلېز ته ننوتل. په دې دهلېز کې د روغتون بوی دومره قوي او بد و، چې رستوف اړ وت پزه کلکه او ددې لپاره چې ځان وړاندې تګ ته لا ښه چمتو کړي، ودربد. د ښي پلو دروازه خلاصه شوه او له هغې نه یو ډنګر، ژبړ رنګیې، تخرګ لاندې لکړې، لوڅې پښې په یوه نري کمیس کې څوک راووت. دروازې ته یې ډډه ولګوله. په ځلبدونکو سترګو سره یې په حیرت حیرت تېربدونکو ته کتل. رستوف د ننه کوټې ته وروکتل او وې لیدل چې ناروغان او ټپیان په کوټه کې، څوک پر سواره او څوک پرخپلو کوټونو پراته دي.

هغه وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا څوک دي؟

روغتياپال ځواب ورکړ:

- دا سرتېري دي. هغه زياته کړه: څه کولای شو، هغه دا خبره داسې وکړه، چې تا به ويل ښښنه غواړي.

رستوف وپوښتل:

- کولای شم، کوټې ته ورننوزم او وې ګورم؟

روغتياپال وويل:

- څوک ګوري؟ دا خبره روغتياپال ځکه وکړه، چې هيله يې نه لرله، چې رستوف د ناروغانو کوټې ته ورننوزي. هغه ناولې بوي چې رستوف د دهلېز په اوږدو کې ورسره روږدي شوي و، دم په دم زياتېده او دلته بالکل لکه د ډېزو په شان و. انسان داسې احساسوله چې ددې بوي سرچينې همدلته دي. کوټه خورا اوږده او رڼا وه او دلمر رڼا د کړکيو نه راخوريږي وې. ناروغان او ټپيان د دواړو ديوالونو بيخ ته داسې پرځمکې وېده وو، چې د دواړو کتارونو په منځ کې يوه نرۍ لاره پاتې وه.

د ناروغانو زياتره هغهٌ بېسده وو يا داسې په عذاب وو چې نوي راغلي يا تېرېدونکو کسانو ته يې پام نه شو کولای. خو په سد هغه يې پاڅېدل، له خپلو ژيړو ،وچو ککرو سره چې له پوټکي پرته بل څه يې پر اډوکو پاتې نه و، سرونه راپورته کړل. ټولو په يو احساس، داسې يو احساس چې د مرستې د غوښتنې هيله او پر روغو رخه يې څرګندوله، رستوف ته ځير شول. رستوف د کوټې منځ ته ورننوت او نورو هغو دوو کوټو ته چې دروازې يې دې لويې کوټې ته راوتلې وې، وروکتل. هغو کوټو هم له دې کوټې نه څه توپير نه درلود. رستوف ودرېد او په ټپه خوله يې خپل شاوخوا وڅارل. هغه په هېڅ ډول د دغه منظر د ليدو تمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لرله. د هغه تر پښو وړاندې، همداسې پر بربنډه ځمکه، د کوټې د منځ په نرۍ لاره کې يو ناروغ پروت و او لاره يې بنده کړې وه. څېره يې قزاقانو ته پاتې کېده، ځنې يې هم د قزاقانو په شان جوړې شوې وې. د هغه لاس او پښې داسې خلاص لوېدلي و چې لاره يې بنده کړې وه، مخ يې سور بخون رنګ درلود او سترګې يې داسې لوېدلې وې، چې له سپينوالي نه پرته بل څه نه په کې ښکارېدل. د بربنډو پښو او لاسونو مراندې يې پړسېدلې او لکه رشمه له هغو تاوېدلې ښکارېدې. سر يې پر ځمکې ډباوه او په جړ او نه پوهېدونکي آواز يې څه ويل، او خپلې خبرې يې بيا بيا تکرارولې. رستوف هغه ته غوږ ونيو او د هغه په خبرې يې ځان پوه کړ:

-اوبه، اوبه، اوبه غواړم.

رستوف د دې لپاره شاوخوا وکتل، که کوم څوک پيدا کړي، چې دغه ناروغ خپل ځای ته ورسوي او هغه ته اوبه ورکړي. له روغتيا پال نه يې وپوښتل:

- د دې خلکو پالنه او څارنه څوک کوئ؟ روغتيا پال يې چېرې دي؟

په دې وخت کې له ګاونډۍ کوټې نه يو سرتېري چې په لوژستيک کې يې خدمت کاوه، راووت. تيارسي شو، يو ګام رستوف ته وروړاندې شو، په لوړ آواز يې وويل:

- ښاغليه! روغتيا مو غواړم.

داسې برېښېده چې هغه پر رستوف د روغتون د مشر ګمان کړی و.

رستوف، هغه ته قزاق سرتېري وروښود او وې ويل:

- هغه راجګ کړه او اوبه ورکړه.

سرتېري په لاخوند، لېوالتيا او شوق سترګې وغړولې، لاپسې شخ شو او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اطاعت کېږي ښاغلیه ! مګر له خپله ځایه ونه ښورېد.

رستوف له ځانسره وویل:

-خبر دی، پروانه لري، هېڅ کولې نه شم، هغه غوښتل ووزي، خو له ښځ خوا نه یې د غلچک دروند بار پر زړه احساس کړ، چې پر ده لا زیاتېده، مخ یې ورواړاوه. هلته یو بوډا سرتېري پرخپل کوټ ناست او په ځیرځیر یې ده ته کتل. څېره یې پر اډوکونښتي ژېړ رنګه پوټکي ته ورته وه. سپینه ببره لویه ږیره یې وه. د بوډا ګاونډ ناست سرتېري، د هغه په غوږ کې څه وویل او رستوف ته یې اشاره وکړه. رستوف پوه شو چې بوډا څه هیله لري. رستوف ورنږدې شو. وې لیدل چې یوه پښه یې کږه او بله هغه یې له ځنګانه نه پاس پرې شوې ده...

بوډا سرتېري چې لاندې ژامه یې رېږدېده، وویل:

- نه پوهېږم چې څومره درته ووایو، ښاغلیه ! ګورئ، آن نن سهار یې نفس ختلی، آخر موږ هم انسانان یو، سپیان خو نه یو...

روغتیاپال په تلوار وویل:

- سمدلاسه یې رالېږم، سمدلاسه، چې یو یې سئ... مهرباني وکړئ، درځه چې ځو.

رستوف هم په تلوار وویل:

- درځه، درځه چې ځو...

سر یې ښکته واچوه، ځان یې راټول کړ، غوښتل یې ورک شي، ورو کې شي او د چا پام ورنه وړي. هغه د دغې کوټې په دواړو خواوکې د پرتو کتارو ناروغانو ملامتو او رخې نه ډکو غلچکونو په بدرګه کې له کوټې نه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

روغتیاپال، رستوف، تردهلېزه له تېرېدوورو سته، هغو درې ورخلاص کوټو ته بدرګه کړ، چې د افسرانو برخه ګڼل کېده. په دې کوټو کې کټونه هم پراته وو. په دغو کټونو کې، ناروغ او ټپي افسران ناست یا پراته وو. د هغو ځینو چې د روغتون کالي یې اغوستي و، په کوټو کې ګرځېده راګرځېده. هغه لومړني څوک چې رستوف، د افسرانو په کوټه کې ولید، یو ډنګر او لنډ ونې سړی و، چې یو لاس یې نه درلود، خولۍ یې پر سر وه، د ناروغانو کالي اغوستي، د شونډو په کونج کې یو کوچني پیپ نیولې و او د کوټې تر مخې یې قدم واهه. رستوف هغه ته ښه ځیر شو او هڅه یې کوله ورپه یاد کړي چې هغه یې چېرې لیدلی دی.

لنډ ونې سړي وویل:

- ګوره چې خدای مو چېرې دیدن نصیب کړ. توشین، توشین ! ! یاد بېږي دې کنه؟ تاسو مو پر آس سپاره کړئ او شون ګرابن ته ورسولئ، ګوره ! ما ته ګوره، ما نه یې یو څه پرې کړل.

په موسکا یې د خپل کمیس تش لستوني ته اشاره وکړه. همدا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه شو رستوف څوک لټوي، وې ويل:

- تاسو واسيلي ديميترويچ دينيسوف پسې ګرځئ، کنه؟ هغه له ما سره په کوټه کې دی، دلته دی، مهرباني وکړئ، دې خواته راشئ !

او هغه يې، بلې هغې کوټې ته چې د څو افسرانو د خندا غږ ترې راته، بدرګه کړ.

رستوف چې د مړو د سيمې د ډډزوبوي يې لا په پزه کې پاتې و، د سرتېرو د کوټې په دواړو خواو کې د پرتو کټارو ناروغانو ملامت او له رخې نه ډک غلچکونه او ده ته د ځوانو سرتېرو وراوښتي حيرانې سترګې يې له سترګونه، نه لرې کېدې، په زړه کې يې وويل:

- خندا څه کوي، زه حيران يم چې دلته څنګه کولای شي، ژوندي پاتې شي.

که څه هم د ورځې دولس بجې وې، خو دينيسوف څادر پر مخ غوړولې و او پروت و. په غونډ کې د خپلې قوماندانۍ د وخت په شان يې په هماغه پخواني غږ، چې رستوف ورسره روږدی و، چغه کړل:

-آه رستوفه ! راغلې ! سلام- سلام !

خو رستوف په خورا خواشينۍ پام شو چې د ده د دغې لېوالتيا او خوښۍ شاته يو غمرلي نوي درد چې په څېره او آواز کې يې هم څرګند و نغښتي دي.

که څه هم ټپ يې خورا لږ و، خو د شپږو اونيو په تېرېدو، بيا هم ښه شوي نه و. څېره يې د نورو ټولو ناروغانو په څېر پړسېدلې او رنګ يې الوتي و. خو رستوف د هغه له دې حال نه حيران نه شو، د هغه حيرت له دې نه و چې ګوري دينيسوف د ده په ليدو خوشاله نه دي او موسکا يې هم د زړه له کومي نه وه. نه يې د غونډ په اړه څه پوښتل او نه يې د پوځي عملياتو يادونه کوله، او کله به چې رستوف په دې اړه څه وويل، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ورته غوږ نه نیو... داسې بریښېده چې دینیسوف هڅه کوله، خپل پخواني ژوند هېر کړي او له پوځي مستنطقینو سره د ده د شخړې نه پرته یې، له بل هېڅ شي سره مینه نه ښودله. کله چې رستوف له هغه نه، د ده د دوسیې په اړه وپوښتل، سمدلاسه یې هغه پاڼې چې د خیړنیزې جرګه ګۍ نه ده ته رارسېدلې وې، ... د بالښت لاندې راوویستې، په خورا لېوالتیا یې د هغه په لوستلو پیل وکړ او پر هغو ټکو یې ډېر ټینګار کاوه چې ده خپلو دښمنانو ته خپل غوره ځوابونه ګڼل، د دینیسوف ملګري چې له رستوفه شاوخوا چاپېر شوي وو، همدا چې د لیک لوستل پیل شول، کرار کرار ووتل. رستوف د هغو له کتو او خوځېدا نه پوه شو چې هغو ټولو دا داستان په وار وار اورېدلي او نور د هغه د اورېدو حوصله او زغم نه لري. یوازې دوه تنه، یو ځوان افسر چې په غمرلي څېرې د دینیسوف د کټ تر څنګ پر خپل ناټول شوي کټ کې ناست وا او پیپ یې څښناوه او بل لنډ ونې لاس پرې شوي، توشین چې هغه ته یې غوږ نیولې او د نه په ننبه یې سر ورته ښوراوه... لومړي افسر د لوستلو په منځ کې ورودانګل او رستوف ته یې وویل:

- زما په اند ښه به دا وي، چې له ټولو اک نه ببښنه وغواړئ. ما اورېدلي چې په دې ورځو کې خورا لویې جایزې او سوغاتونه ببښي. د هغه غوښتنه به هم ومنل شي.

دینیسوف په داسې یو غږ چې غوښتل یې هغه پخوانۍ لېوالتیا او تودوالي وروببښي، خو د ده د هڅو سره پرته له قهره بل څه نه په کې اورېدل کېدل، وویل:

- زه له ټولواک نه ببښنه وغواړم؟ څه ګناه مې کړې ده؟ که زه غل وای، هغه بله خبره ده، بیا به مې د ببښنې غوښتنه کړې وای، خو اوس ما ددې لپاره محکمې ته کشکاږي چې د غلو مخه مې نیولې ده. ښه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پربږده چې محاکمه مې کړي، زه له هېڅ چا نه، نه ویربږم، په ویاړ سره مې د ټولواک چوپړ کړي دي، د وطن په لاره کې مې سربښندلي او غلا مې نه ده کړې. غواړي ما خلع رتبه کړي... واورئ ! زه سپینه او په ډاګه هغه ته لیکم، ګوره ما ورته لیکلي دي: که ما د دولت شتمني تالان کړې یې...

توشین وویل:

- خورا ښه لیکل شوي دي... خو واسیلي دیمترویچ !اوس خبره په دې کې نه ده، هغه هم رستوف ته مخ اړولې و: دلته غرور ګټه نه لري، سرتېري باید تابع وي او واسیلي دیمترویچ داسې نه غواړي. ګوره وکیل یې هم ورته وویل چې د دوسیې مزه یې نه شته.

دینیسوف وویل:

- پربږده چې نه وي، خرابه دې وي.

توشین دوام ورکړ:

- هغه غوښتنلیک چې وکیل درته لیکلي، هغه لاسلیک کړه او وې لېږه...

دینیسوف ځواب ورکړ:

- ګوره یو وار مې درته وویل، چې زه د ننواتو او عذر سړي نه یم...

کله چې تر یو ساعته وروسته د دینیسوف غمجنو زهرلړو پانډو لوستل پای ته ورسېدل، رستوف هېڅ ونه ویل او نوره ټوله ورځ یې په خورا خواشینۍ او خواشیني طبیعت د دینیسوف د روغتون د اندېوالانو په منځ کې د هغو د نقلونو او خبرو په اورېدو چې ببرته پرې راټول شوي وو، تېره او خپله په خورا خواشینۍ تر ماښامه پورې چپه خوله پاتې و. ماښام ناوخته پاڅېد چې وخوځېږي، هغه له دینیسوف نه وپوښتل، چې کوم پېغام یا سپارښتنې لري او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینیسوف افسرانو ته وکتل او وې ویل:

- صبر وکړه ! خپل بالښت لاندې کاغذونه یې راوویستل او د هغې کړکۍ خوا ته چې هلته مشوانۍ ایښې وه، ورنږدې شو ، چې څه شي ولیکي. وروسته له کړکۍ نه رالرې شو ، مخ یې رستوف ته ورواړاوه، یو لوی لیک یې هغه ته ورکړ او وې ویل:

- دا سې بریښي چې هغه برحقه دی،دخپل ښت عیب لیدل ګرانه خبره ده.

لیک هماغه د ښښنې غوښتنه وه، چې د مدافع وکیل له خوا لیکل شوی و. د دینیسوف په دې لیک کې پرته له هغه چې د پوځیانو د غلاوو کومه یادونه شوې وي، یوازې او یوازې په لنډه توګه له ټولواک نه د ښښنې غوښتنه شوې وه.

- دا به ورکړې او...

پرته له هغه چې خپله خبره پای ته ورسوي، یوه تصنعي او زورونکې موسکا یې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

رستوف غونډ ته د راستنېدو سره سم، د دینیسوف د دعوا په اړه د غونډ قوماندان ته ګزارش ورکړ او ټولواک ته د خپل انډیوال له خوا له لیکل شوي لیک سره د تیلزیت پلو وخوځېد.

د فرانسې او روس ټولواکان د جون په دیارلسمه تیلزیت ته ورسېدل. باریس دروبتڅکوي له هغه مخور نه چې ده یې په چوپړ کې و، هیله وکړه چې د ټولواک د ساتونکو په ډله کې دي هم تیلزیت ته ولېږل شي، هغه وویل:

- هیله لرم دغه ستر انسان ووینم. له ستر انسان نه د هغه موخه، ناپلیون و، چې تر هغه پورې ټولو ناپلیون «بوناپارت» باله.

جنرال وموسېد او وې ویل:

- ستا موخه بوناپارت دي؟

باریس په پوښتنیزه بڼه خپل جنرال ته وکتل او سمدلاسه په دې پوه شو چې دا یو ډول ګواښمنه ټوکه وه، ده ځواب ورکړ:

- ښاغلیه سردار، زما موخه ټولواک ناپلیون دي. جنرال چې موسکا یې پرشونډو خوره وه، باریس په اوږه وټپاوه او وې ویل:

- ته به خورا لوړو رتبو ته ورسې او هغه یې له ځان سره بوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باریس د هغو لږ شمېر کسانو په ډله کې و، چې د نیمان پر رود د ټولواکانو د کتنې په ورځ هلته وو. هغه، هغه ستره ښېرې چې د دواړو هېوادونو په ځانګړو نښانونو ګاڼل شوې وه، ولیده. هغه ناپلیون ولید چې د رود له هغې غاړې نه راګوري او ټولواک الکساندر چې په اندېښمنه څېره د ساحل ددې غاړې په مېلمستون کې، د هغه راتګ ته سترګې په لاره دي. وې لیدل چې دواړه ټولواکان جالۍ ته وختل، هغه ولیدل چې ښېرې ته الکساندر نه مخکې ختلي ناپلیون، څنګه ددوی د ټولواک هر کلي ته وررروان شو، د هغه لاس یې کېښکود، دواړه پر هغه ځادر چې ددوی د کتنې لپاره ټاکل شوي و، ګامونه کېښودل او له سترګو پناه شول. له هغه وخته چې باریس د واک دغو لوړو کړیو ته تګ راتګ پیل کړي و، ځان دې سره روږدي کړي و، چې خپل د سترګو لیدلي حال ته په ځیر وګوري او هغه ټول له ځانسره ولیکي. د تیلزیت د کتنې په اوږدو کې یې د ناپلیون د چوپړانو نومونه پوښتل، د هغو د جامو په اړه یې څېړنې کولې او هغه خبرې چې هغو کولې، ټولې ده خپل ذهن ته سپارلې. کله چې ټولواکان په ښېرې کې ټاکلي سایوان لاندې کېناستل، ده خپل ساعت کې وخت په نښه کړ او کله چې روس ټولواک الکساندر له هغه نه راووت، بیا یې خپل ساعت ته وکتل. دغه کتنه یو ساعت او درې پنځوس دقیقې اوږده شوې وه. دغه پېښه یې هم هغه شپه د نورو هغو پېښو په ډله کې چې تاریخي پېښې شمېرل کېږي، ولیکله. دا چې له ټولواک سره د مل کسانو شمېر زیات نه و، د تیلزیت په کتنه کې له ټولواکانو سره ملګرتیا د هغو کسانو لپاره چې د واک د لوړو پوړو لېوال و، خورا اهمیت لاره او باریس هم دا سې انګېرله چې له کتنې وروسته د ده دریځ هم ښه ټینګ شوي دي. نه یوازې ټولو هغه پېژانده، بلکې په ځیر یې هغه ته کتل، د هغه کړو وړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته يې پام کاوه او په هرځای او هره پېښه کې خلک د هغه شته والي سره عادت شوي وو. دوه ځله بې ټولواک ته د پېغامونو د وړاندې کولو يار په برخه شوي و، دا په دې معنا چې پاچا يې له نېږدې پېژانده او د ټولواک نږدې کسانو د پخوا په شان باريس نه يوازې پردي نه ګاڼه، له هغه چا ځان نه لرې کاوه، بلکې د هغه نشته والي به د تعجب وړ و.

باريس يو بل لاسمل سره چې په ختېه پولندي و او ژيلنسکي نومېده په يوه کوټه کې اوسېده. هغه په پاريس کې روزل شوي او لوی شوي، خورا بډای، فرانسويان ورته ګران او د تيلزيت د کتنې په ټوله موده کې څه کم هره ورځ د فرانسې د ګارد د سترې قوماندانی ځيني مشران او د ګارد افسران د سهارني او غرمني لپاره د ده په کوټې کې راټوليدل.

د جون څلورويشتمه وه چې د باريس د کوټې اندېوال سردار ژيلنسکي خپلو فرانسوي آشنايانو ته د ماښامنی مېلمستيا جوړه کړې وه. په دې مېلمستيا کې وياړمنو مېلمنو د بناپارت يو لاسمل، د ګارد څو تنه افسرانو او د فرانسې د پخوانيو اعيانو نه، يو زلمي چې د ناپليون په دربار کې غلام بچه و، ګډون درلوده.

د همدې ورځ په ماښام، رستوف د ماښام په تياره کې، ددې لپاره چې څوک يې ونه پېژني، ملکي جامې واغوستې، تيلزيت ته راغي او د ژيلنسکي او باريس کورته ورغي.

د رستوف او دغه راز د هغه د ټول پوځ په ذهن کې چې دي ترې راغلي و... لا هغه بدلون راغلي نه و چې د پوځ د مشری او باريس په ذهن کې راغلي او ناپليون او فرانسويان يې د دښمن له کچې په دوستانو بدل کړي وو. د پوځيانو په ګوګل کې د ناپليون او فرانسويانو په وړاندې هماغې پخوانۍ کرکې، وحشت، بې اعتمادۍ او سپکاوي ځپې وهلې. ډېره لږ موده پخوا رستوف د پلاتوف د ډلې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو قزاق افسر سره په خبرو اترو کې ويلي و ، که ناپليون اسير شي،له هغه سره بايد نه د يوه ټولواک، بلکې د يوه جاني په توګه کړه وشي. همدا ځو موده د مخه يې چې کله په لاره کې يوتن ټپي فرانسوي ډګروال سره کتنه شوې وه، هغه ته يې ويلي و ، چې دا ناشونې ده، چې د روسيې د قانوني ټولواک او ډارمارجاني ناپليون ترمنځ د سولې تړون لاسليک شي، له همدې کبله و چې کله يې د باريس په کور کې فرانسوي افسران، په هماغه جامو کې چې د عادت له مخې يې د جبهې په هغه بل اړخ کې ليدلي وو، وليدل، حيران او سرسامه شو. همدا چې د کور د وره تر مخې يې يو فرانسوي افسر ترسترګو شو د کرکې او غچ اخيستو، هغه احساس چې تل به د دښمن په ليدو د ده په ګوګل کې په ځپو کېدو، بيا د ده په زړه کې راولمسېده. هغه د وره په خوله کې ودرېد او په روسي ژبه يې و پوښتل:

- دروبتځکوي همدلته ژوند کوي؟

باريس له دهليز نه د پردې غږ په اورېدو، وروووت، په رستوف يې سترګې ولګېدې، هک پک شو، رنګ يې والوت، ژر يې ځان راټينګ کړ، وموسبد، هغه ته ورنږدې شو او وې ويل:

- آه، دا ته يې، له ليدو دې خورا خوشاله شوم، خورا...

خو رستوف چې د باريس لومړني حالت ته ښه پام شوی و، وويل:

- زه وينم، چې په ښه شېبه کې نه يم راغلی، که خپل واک مې وای نه راتلم، خو زه يو کار لرم.

باريس ځواب ورکړ:

- نه، زما تعجب يوازې ددې لپاره دی، چې د غونډ چارې دې ځنګه او چا ته پرېښې.

د بلې کوټې نه ورته راغږ شو، ده مخ وروااړاوه او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- يوه شېبه، زه مو په چوپړ کې يم.
رستوف بيا وويل:
- زه وينم، چې ډېر بې وخته راغلي يم.
د باريس له څېرې نه د خوابدۍ او خواشينۍ نښې کډه شوې، داسې بريښېده چې هغه په زړه کې پريکړه کړې ده، چې څه وکړي، په خورا مينې يې د هغه دواړه لاسونه راونيول او ګاونډ کوټې ته بدرګه کړ. په آرامۍ خو خورا ځير سره يې رستوف ته کتل...
باريس وويل: .... دا دې تل خپل کور دي.
هغه يې، هغې کوټې ته بدرګه کړ، چې هلته د ډوډۍ ميز ټول شوی و. هغه يې نورو مېلمنو ته وروپېژاند او وې ويل چې د هغه کالبو ته به پام نه کوئ، هغه د سوارپوځونو افسر او دوه پخواني ملګري دي، بيا يې نور ده ته وروپېژندل. ګراف ژيليسنکي، ګراف ن.ن. ، جګړن س.س. ، رستوف په تريو تندي فرانسويانو ته ځير و او پرته له هغه چې څه ووايي، په ناخوښۍ يې هغو ته سرښوراوه. دا له ورايه څرګنده وه چې ژيليسنکي خپل بنډارته د دغه نومي روس له راتګ نه هېڅ خوشاله نه و او له هغه سره يې خبرې نه کولې. داسې بريښېده چې باريس د خپل انډيوال د راتګ نه د نورو خوابدۍ ته پام نه وي او په هماغه ورين تندي او ملالو کتو يې چې در ستوف هرکلي کړي و، هماغسې يې هڅه کوله بنډار تود وساتي. يو تن فرانسوي مېلمانه، په فرانسوي معمول نزاکت سره رستوف ته چې پرله پسې چوپه خوله ناست، مخ وروا ړاوه او ورته وې ويل، داسې ښکاري چې د ټولواک ديدن ته به راغلي وي.
رستوف په لنډه ځواب ورکړ:
- نه، يو کار لرم.
رستوف، د باريس په تندي او څېرې کې د ناخوښۍ نښو ته په پام

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کېدو سره، د ټولو نورو هغو وګړو په څېرو، چې د ناخوښۍ او نارضايتۍ په وخت کې انګېري چې هرومرو به ټول ده ته ګوري او دي به د خپل بنډار د خوښۍ خنډ بولي. په رښتيا هم د هغه شته والی ټولو ته ځکه مزاحمت کاوه، چې ده په ټينګار سره تکل کړی و، په هغو خبرو او مرکو کې ګډون ونه کړي، چې د ده تر راتګ نه وروسته بيا پيل شوې. د ټولو سترګو او غلچکونو دا پوښتنې کولې، دغه سړي دلته زموږ په منځ کې څه کوئ؟ په پای کې دی خپله پاڅېد او باريس ته ورنږدې شو او وې ويل:

- زه شرمېږم، دلته ټولو ته مزاحم يم. درځه چې د يو کار په اړه درسره غږېږم.

باريس ځواب ورکړ: دا څه وايې، له څه شي شرم، ته ستړې شوی يې، درځه چې زما کوټې ته لاړ شو، هلته کرار وغځېږه او دمه وکړه.

- رښتيا چې دا ښه خبره ده.

دوی هغې وړې کوټې ته چې باريس په کې ويده کېده لاړل. رستوف لا ناست نه و، چې په ګبنۍ او تلوار يې داسې چې ګوا کې، باريس څه لويه ګناه کړې وي، هغه ته د دينيسوف په اړه خبرې پيل کړې، هغه وپوښتل:

- ايا کولای شې يا غواړې د خپل جنرال له لارې، د دينيسوف د ښښنې غوښتنليک ټولواک ته ورسوي. رستوف همدا چې له باريس سره يوازې پاتې شو، دې خبرې ته يې پام شو چې سترګې يې د خپل انډيوال سترګو ته له کتنو نه تښتي. باريس چې پښه په پښه اړولې وه او په داسې حال کې چې په کين لاس يې د ښي لاس ګوتې مښلې، کله شا اوخوا و کله به يې په پردي کتو رستوف ته کتل او د هغه خبرو ته يې هغه شان غوږ نيولی و لکه يو جنرال چې د خپلې قطعې د کوم ګمارل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي افسر خبرتيا ته غوږ وي. رستوف به چې هر وار د باريس دغه پردي پردي کتو ته پام شو، ځان به يې خورا نا آرامه انګاره او سر به يې ښکته اچاوه.

بالاخره باريس وويل:

- ما داسې اورېدلي چې ټولواک په دغه شان پېښو کې خورا غوڅ او پرېکړې يې خورا سختې دي، هو زه داسې انګېرم ښه به دا وي چې خبره تر ټولواکه ونه رسي او له خپل قوماندان نه هيله وکړئ چې... خو په کلي توګه زه فکر...

رستوف پرته له هغه چې د باريس ستر ګوته وګوري په لوړ چغن آواز يې وويل:

- دانګ پېيلي راته ووايه چې ته نه غواړې مرسته وکړې.

باريس وموسېد: نه برعکس، زما چې هره مرسته له لاسه کېږي هغه کوم خو فکر کوم...

په دې شېبه کې د ژيليسنکي آواز چې باريس ته يې غږ کاوه واورېدل شو.

رستوف وويل: درځه، درځه چې غواړې دې.

ماښامنۍ ته يې د هغه بلنه ونه منله او په هماغه وړه کوټه کې يوازې پاتې شو. تر ډېرې مودې پورې په کوټه کې ښکته پورته ګرځېده او له ګاونډې کوټې نه يې په فرانسوي ژبې د راتلونکو غږېدا او خندا آواز ته يې غوږ نيولى و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

رستوف په هغه ورځ تیلزیت ته راغلی و چې له بلې هرې ورځې نه د دینیسوف د ننواتو لپاره لږه ګټوره وه. هغه چې رسمي دریشي نه درلوده او د خپل قوماندانۍ د اجازې نه پرته تیلزیت ته راغلي و، خپله یې نه شو کولای د ټولواک د امنیت او ساتنې جنرال ته ورشي او باریس آن که غوښتي هم وای څه یې نه شو کولای، ځکه د جون په اوو یشتمه نېټه نه یوازې د روغې د تړون لومړنۍ پریکړې لاسلیک کېدې، بلکې ټولواکانو نښانونه هم بدلول. الکساندر ویاړمن لژیون دونور، نومی او ناپلیون دلومړي اندرې، نومی نښانونه تر لاسه کړل. په همدې ورځ پرې ابراژنسکي، نوي قوماندان ته چې د یو کنډک قوماندان و، د فرانسوي ګارد له خوا ډوډۍ شوې وه. دواړو ټولواکانو باید په دې مېلمستیا کې هم ګډون کړی وای.

رستوف ته دومره ګرانه وه او داسې له باریس نه خوابدی شوی و، چې له ماښامنۍ نه وروسته باریس د هغه دیدن ته ورغي. داسې یې وښوده چې ګواکې ویده دي. او سهار هم ددې لپاره چې باریس ونه ویني، د وخته له کوره ووت. جمپر یې په ځان او یوه ګرده خولۍ یې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر، همدا سې لالهانده په ښار کې سرګردانه ګرځېده، د فرانسويانو او کالبوته يې کتل او د هغو واټونو او ودانيو ننداره يې کوله چې د روسيې او فرانسې ټولواکان په کې مېشت شوي وو. د ښار په ډګر کې د غرمنۍ لپاره ميزونه کتار شوي وو. د واټونو په ديوالونو لوی لوی ټوکرونه او د دواړه هېوادونو بيرغونه ځړول شوي او په ځينو ځايو کې پر هغو د(ا) او(ن) توري چې د الکساندر او ناپليون نښه وه انځور شوي وو. د کور په کړکيو ځوړند بيرغونه هم په همدې تورو ګاڼل شوي وو.

نيکولای رستوف له ځانسره ويل: دا خبره ښکاره ده چې نه باريس له ما سره مرسته کوي او نه زه غوړې ورسره کولې شم. اوس هر څه په ډاګه شوي دي، زموږ ترمنځ هر څه پای ته رسېدلي دي. خو يوه خبره څرګنده ده، زه به تر هر هغه وخته له دې ځايه لاړ نه شم چې دينيسوف ته مې يو څه نه وي کړي، په تېره بيا تر هغه چې د هغه ليک ټولواک ته ونه رسوم. له دې ځايه چېرته نه ځم. ټولواک؟ خو ټولواک خو همدلته دي! او بېواکه د هغې ودانې پلو ته وروخوځېد، چې ټولواک هلته استوګن و.

د ودانې مخې ته د سوار پوځ پوځيان ولاړ وو. او چوپړانو د ټولواک د خوځېدا لپاره چمتووالي کاوه، داسې برېښېده چې ټولواک به اوس راووزي. رستوف له ځانسره وويل: هره شېبه دا خبره شوني ده چې زه هغه ووينم، کاشکې مې کولای شوای، دا ليک مخامخ هغه ته وسپارم او هرڅه په خپله ژبه ورته ووايم... دا هم کېدای شي چې ما له دې کبله چې غير پوځي جامې لرم، بندي کړي. نه، داسې به نه کوي. هغه خپله پوهېږي چې څوک برحقه دي هغه په هر څه ښه پوهېږي. ايا تر هغه بل څوک مهربانه او ستر وي؟ او بيا هم په دې ګناه چې زه ولې دلته راغلي يم، نو څه پروا کوي؟ په همدې خيالونو کې ډوب و، يو افسر ته پام شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يو ازې پورته پر زينو خېژي. له ځانسره يې وويل:
- ګوره ! ټول ورروان دي ! نو زه ولې ډاربږم ! زه ورځم او خپله دا ليک ټولواک ته ورکوم. که کومه پېښه وشوه، دا ګناه د دروبتڅکوي ده چې زه يې دې کارته هڅولې يم، بيا يې هغه جيب ته چې ليک په کې پروت و لاس ورننيست او ناڅاپه په داسې يوې منډې چې خپله يې هم تصور نه کاوه، مخامخ هغې ودانۍ ته ورننوت چې ټولواک په کې ميشت و.
په دې هيله چې هره شېبه ګوندې ټولواک ووينې، په زړه کې ويل:
- نه، نه دا وار نو وخت له لاسه نه ورکوم. همدې خيالونو يې وينې په زړه کې لاپسې تودولې او بيا به يې له ځانسره وويل: د هغه په وړاندې ګونډه کېږم، زارۍ ورته کوم، هغه به ما له ځمکې راپورته کړي زما خبرو ته به ترپايه غوږ ونيسي او مننه به رانه وکړي. هغه، هغې خبرې چې ګواکې ټولواک به هغه اوري په وار وار سره په خيال کې تکرارولې:
- زما نيکمرغي په دې کې ده چې يو د خير کار تر سره کړای شم. زما ټوله لېوالتيا او هيله د ظلم او ناروا پای ته رسول دي. هغه د هغو خلکو له ځنګه چې د ټولواک د ودانۍ پر زينو ولاړ و او په حيرت سره يې ده ته کتل، تېر شو.
زينې د ودانۍ د مخنۍ دروازې نه مخامخ لوړو پوړو ته ختلې وې...
چا له هغه نه وپوښتل:
نيکولای په رېږد بدلي آواز ځواب ورکړ:
- ليک بايد ټولواک ته ورسوم، يوه عرضپاڼه ده.
- عرضپاڼه، لاړشئ، نوکريوال ته يې وسپارئ، مهرباني وکړئ، دې خواته !
هغه ته يې، لاندنۍ دروازه وروښوده ! خو وبه يې نه منئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف د دغه بې پروا ځواب له اورېدو نه په حیرت کې و... خو یو چوپړ، د نوکریوال دروازه ورته پرانسته او دي کوټې ته ورننوت.

یو لنډ ونې دیرش، دوه دیرش کلن سړي چې د سورو پوځیانو سپین پتلون یې په ځان، ساق دارې پراخې موزې یې په پښو او سپین کمیس یې اغوستي و، داسې بربښېده چې نوي یې په ځان کړي وي، د کوټې په منځ کې ولاړ و... هغه په ګاونډۍ کوټې کې له یو چا سره خبرې کولې.

هغه ویل: هم ښکلی اندام لري او هم خورا مالګینی دی. د رستوف په لیدو یې خبرې پرې، وروځې برندې او وې ویل:

- څه مو ویل؟ عرضپاڼه !

د ګاونډ کوټې سړي هم وویل: تاسو ته وایي څه خبره ده؟

هغه سړی چې په دې کې کوټه کې ولاړ و او خپل ملاوستی یې تاړه وویل: یو بله عرضپاڼه !

-ورته ووایئ چې وروسته راشه، اوس راوزي، باید لاړ شم.

- وروسته، سبا ته دې راشي اوس ناوخته شوې ده.

رستوف وګرځېد غوښتل یې چې لاړ شي. هماغه سړي چې پرتوګانښ تاړه هغه وډراوه او ترې وې پوښتل: غرضپاڼه د چا ده؟ تاسو خپله ځوک یاستي؟

رستوف ځواب ورکړ: د جګړن دینیسوف.

- تاسو خپله ځوک یاستئ؟ افسر یاستئ؟

- ګراف رستوف، افسر یم برید من.

نوکریوال سړي، هغه دریشي چې چوپړ ورته چمتو کړې وه، په ځان کړه او وې ویل:

- څه زړورتیا ! لیک باید د خپلې قطعې له لارې راولېږي، خپله هم له دې ځایه ژر لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستوف بیا د ودانۍ د مخې دهلیز ته ورغی او وې لیدل چې خوراګڼ شمېر افسران او جنرالان چې د پرېټ جامې یې اغوستې وې، پر زینو ولاړ وو. دی باید د هماغو له مخې تېر شوی وای.

هغه په دې خیالونو کې چې هره شېبه به دی سره وپېژني، وبه یې نیسي او د ټولواک په وړاندې به چې هره شېبه کېدای شي راووزي، ډېر وشرمېږي. په خپلې زړورتیا یې لعنت وواییه. د خپلو کړو په بې احتیاطۍ او بې تدبیرۍ پوه او پښیمانه شو. سر یې ښکته واچاوه له کوټې نه راووت او په پرتم کې د ولاړو او ښکلو جامو اغوستو درباریانو او چوپړانو په منځ کې یې لاره پرانسته چې یوه آشنا غږ، هغه په نامه ونوموه او یو لاس یې پر اوږه ولګېد:

هغه آشنا غږ وویل: تاسو پلاره ! دلته په دې جامو کې څه کوئ؟

د غږ څښتن د سورو پوځونو یو جنرال و، چې یو وخت د رستوف قوماندان و. هغه په دې جګړه کې ښه زړورتیا او سربښندنه ښودلې نو ځکه هغه ټولواک ښه پاللي او نازولی و.

رستوف چې له ویرې رېږدېده، د خپل برحق والي هڅه یې پیل کړه، خو همدا چې د جنرال خوږه له ټوکو ډکه ژبه او مینه ناکه څېره یې ولیده، د هغه څنګ ته لاړ ورنېږدې شو او په هماغه رېږدېدلي غږ یې دینسوف ته د ورپېښې نقل، ټول نقل ورته وکړ او له هغه نه یې هیله وکړه د دینیسوف لپاره چې جنرال ته هم ګران و، مینځګړتوب وکړي.

جنرال په خورا ځیر او مینې د رستوف خبرې واورېدې، سر یې وښوراوه او وې ویل:

- افسوس، افسوس، په تا دې آفرین وي، راکړه لیک راکړه.

همدا چې رستوف لیک هغه ته وسپاره او خپل اندېیوال ته د ورپېښې شوې پېښې کیسه یې ورته وویله، پر زینو د راښکته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدونکو د تندو ګامونو او د بوټونو د شرنګهارو انګازه واورېدل شوه، جنرال وخوځېد او هغې خواته لاړ، د ټولواک د بدرګې او ساتنې ډله له زینې راښکېوه شوه او آسونو ته یې ځان ورساوه...

نیکولای د ساتونکو له خوا د ده د پېژندنې ګواښ چور هېر کړ او له نورو څو تنو سیمه ایزو وګړو سره زینو ته لا ورنږدې شو. تر دوو کالو وروسته یې بیا هغه څېره چې د لمانځنې پورې ورته ګرانه، هماغه څېره هماغه کتل، له خوا خوږې او پرتم نه ډک هماغه کړه، بیا وپېژندله او د ټولواک په وړاندې یې هماغه پخواني مینه، په هماغه قوت بیا راوپارېده او د ده په ګوګل کې یې لمبې بلې کړې...

د ټولواک بدرګه او ساتونکي چې لږ مخې ته شول، رستوف ولیدل، چې جنرال په خورا خوښۍ خورا ډېرې شېبې له ټولواک سره وغږېد. ټولواک د خبرو تر اورېدو هغه ته لنډ ځواب ورکړ. څو ګامه یې واخیستل، چې خپل آس ته ورنږدې شي. بیا د تولواک د بدرګې او ساتنې ډلې او هغه وګړي چې د هغه هرکلي او کتنې ته راټول شوي و، د تولواک پلو ته ورنږدې شول. ټولواک د خپل آس تر څنګ ودرېد، لاس یې پر زین کېښود، په لوړ او څرګند غږ یې چې ټول یې واورې، د سواره پوځ جنرال ته، هماغه ته چې د رستوف عرضپاڼه یې ټولواک ته وروړاندې کړې وه، وویل:

- جنراله، نه شم کولای! ځکه یې نه شم کولای چې قانون تر مانه لوړ او قوي دی!

دا یې وویل او پښه یې رکاب ته ورلوړه کړه. جنرال د درناوي په نښه سرښکته وخوځاوه او ټولواک پر آس کېناست، وخوځېد، آس په چټکۍ په کوڅه کې هه کړل او له دوی نه لرې شو. رستوف چې له حیرت ځان هېر کړی و، بېوا که یې له نورو پرګنو سره ټولواک پسې منډه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

ټولواک هغه ډګر ته ورغي چې يو بل ته مخامخدوه کنډکه ولاړ وو ، ښۍ خوا نه يې د پري ابراژنسکي کنډک او کيڼې خوا ته د فرانسوي ګارد کنډک چې د خرس د پوست خولۍ يې پر سر وې،ولاړ وو. کله چې ټولواک د کنډک هغې خوا ته چې د قراول او احترام ډله ولاړه وه، نېږدې شو ، مخامخ خوا ته هم د فرانسوي پوځ يو ډله چې مشر يې ناپليون و او رستوف وپېژاند ، راورسېده. له ورايه بربښېده چې د هغه ډلې مشر په رښتيا هم ناپليون نه، پرته بل څوک نه دي. ناپليون چې پر عربي آس سپور و ، وړه خولۍ پر سر، د اندرې د نښان نرۍ پټاره يې له اوږو تاو شوې... يرغه روان و. همدا چې ټولواک الکساندر ته نېږدې شو ، خولۍ يې له سره پورته کړه، د رستوف سورو (سپرو ) پېژندونکو سترګو نه شو کولای دې ته پام نه شي، چې هغه پر آس ټينګ ناست نه دي. له دواړو کنډکونو نه د «هورا» او «ژوندي دې وي ټولواک !» نارې لوړې شوې. ناپليون الکساندر ته څه وويل، دواړه له آسونه راښکته شول او يو بل يې له لاسه سره ونيول. د ناپليون څېره چې د هغه پر شونډو له ريا نه خورې شوې موسکا بې خونده کړې وه، خوره شوه. الکساندر په خورا مهربانه او خوږه ژبه له هغه سره خبرې کولې.

رستوف هغو ته سترګې ګنډلې وې او د فرانسوي ژاندارمو د آسونو د ترپښو کولو لاندې، سره سره، چې پرګنې يې پورې وهلې، له يوه ټولواک نه هم سترګې بل پلو نه اړولې. هغه څه چې د رستوف لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ د انتظار وړ نه و، دا و چې ګواکې ټولواک الکساندر، له بناپارت سره خپل ځان سيال ګڼي او د بناپارت کړه وړه هم خورا آزاده و، دا سې چې له ټولواک سره يې د غه شان آزادي، يوه ورځنۍ خبره ګڼله او د روس ټولواک يې له ځان سره برابر او سيال ګاڼه. الکساندر او ناپليون چې د ساتونکو او پالونکو لويې ډلې بدرګه کول، د پرې ابراژنسکي کنډک خوا ته، چې ښي پلو کې ولاړ و او هلته خلکو هم ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه، مخامخ ورغلل. د خلکو د ګڼې ګوڼې څپه، ناڅاپه دا سې دواړو ټولواکانو ته رانږدې شوه چې په لومړي کرښې کې ولاړ رستوف ګبڼۍ واخيست او وډار شو، چې څوک يې ونه پېژني. يو تند خو ټينګ غږ چې هر توري يې په خورا متانت وايه وويل:

- اعليحضرتا! وياړ راوبښئ اجازه راکړئ چې ستاسو تر ټولو زړورو سرتېرو ته د «لژيون دونور» نښان وروبښم.

دا د ټيټ وني بناپارت غږ و، چې له ښکته يې سر را پورته کړي، د الکساندر سترګو ته يې مخامخ کتل او غږېده. الکساندر هغه ته څه ويل، په خورا ځير يې غوږ نيولې و، سر يې وښوراوه او خوږه موسکا يې پرشونډو خوره وه.

ناپليون زياته کړه:

- هغه چا ته چې تر ټولو نه يې په دې جګړه کې ځان نه زړورتيا ښودلې ده.

ناپليون چې هر توري او سيلاب جلا جلا ادا کول په ډاډ يې روسي نه خوځېدونکو پوځيانو ته، چې په چوپه خوله او په وتلو ټټرونو خپل ټولواک ته ځير و، کتل. رستوف خورا نا آرامه و.

الکساندر په چټکۍ د کنډک د قوماندان شهزاده کزلوفسکي پلو څو ګامونه واخېستل او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اعلیحضرتا ! اجازه راکوئ په دې اړه د کنډک له قوماندان نه وپوښتم؟

ناپلیون په دې شېبه کې، له خپلو وړو منګلو نه د دستکش د ویستلو هڅه وکړه، هغه یې څېرې کړل، لرې یې وارتېږل، یو تن ساتونکي په تلوار او چټکۍ راوړاندې او دستکش یې راپورته کړ.

ټولواک الکساندر، مخ کزلوفسکي ته ورواړاوه او په روسي ژبه یې (هغه له ناپلیون سره په فرانسوي ژبه غږېده ) وپوښتل:

- چاته ورکړ شي؟

- هر هغه چا ته چې تاسو اعلیحضرت امر وکړئ.

د ټولواک تندي تریو شو او وې ویل:

- دا څه وایئ، هغه ته یو څوک باید ورو پېژنو.

د کزلوفسکي غلچک د سرتېرو کرښو ته ورشېوه او ځیر شو. په دې لړ کې یې سترګې په رستوف هم ولګېدې.

رستوف په زړه کې وویل:

- څه وایئ؟ پر ما ګوته ږدي که څنګه؟

ډګروال وروځې برندې کړې او غږ یې وکړ:

- لازاروف !

او لازاروف په چټکۍ د سرتېرو د ولاړو کرښو نه یو ګام وړاندې راووت. لازاروف حیران پاتې و او نه پوهېده چېرته او چاته ورشي. هغه ته نېږدې سرتېرو په کراره ورته وویل:

-چېرې ته په منډه راووتې؟ ځای پر ځای ودرېږه !

لازاروف ودرېد او په حیران یې ترسترګو لاندې، ډګروال ته کتل. د هغه څېره او حالت هغو سرتېرو ته ورته و چې تل د پوځ مخې ته د راوتلو غږ پرې کېږي، هغه له ویرې رېږدېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناپلیون خپل اورمېږ لړ شاته تاو کړ او کوچني ثورب ښکلي لاس یې داسې چې ګواکې څه شي راواخلي، لړ شاته وغځاوه. د هغه یاورانو چې سمدلاسه د هغه د تکل او غوښتنې تصور کړی و، سمدلاسه غوړ په غوړ شول، څه شي یې لاس په لاس کړل او پاڅ، هماغه ځوان چې پرون شپه رستوف د باریس په کور کې لیدلی و، رامنډه کړې او د درناوي له مخې د ناپلیون پر غځول شوي لاس ورټیټ شو او بې له هغه چې کومه شېبه هغه تم کړي، د هغه په منګل کې یې پر سرې پټاره ګاڼل شوی نښان ورکېښود. ناپلیون بې له هغه چې چاته وګوري، دوه ګوتې یې ومروړلې او نښان یې د ګوتو په منځ کې کېوت. ناپلیون د لازاروف خواته، چې په پرله پسې یې د خپل ټولواک خواته کتل او نبږدې و چې د سترګو ګاټې یې د باندې راووزي ، ورټاندې لاړ، مخ یې واړاوه او ټولواک الکساندر ته یې وکتل. هغه په دې توګه غوښتل ووایي چې دا کار د ده د متحد لپاره کوي. سپین ښکلي نازک لاس چې نښان په کې و د لازاروف ټټر ته وروړاندې شو. داسې برېښېده چې ناپلیون تصور کوي، نښان خو څه کوې چې د سرتېري پر ټټر آن د هغه بې نښانه لاسونه لګېدل، هم یو ستر ویاړ دی، داسې ویاړ چې د عمر تر پایه هغه د نړۍ له ټولو نورو خلکو نه ویاړمنه، نیکمرغه او د پام وړ کوي. ناپلیون د صلیب نښان د لازاروف په ټټر کېښود ، هغه ګواکې پوهېده چې صلیب پر ټټر ټومبل کېږي نه، بلکې ابښودل کېږي، ګواکې نښان په خپل سر ټومبل کېږي او رښتیا هم صلیب د هغه له ټټر نه، نه وښورېد او نه ولوېد ، ځکه چې روسي او فرانسوي دنده پېژندونکي لاسونه په یوه شېبه کې صلیب ته راوړاندې شول، هغه یې ونیو او د دریشۍ پر ټټر یې وروټمبه. لازاروف، لنډ ونې سړي ته چې سپین لاسونه یې لرل او د ده ټټر ته یې نبږدې کړي وو ، په برند غلچک وکتل او همداسې غوړ غوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېد. بيا يې نيغ د الکساندر سترګو ته داسې وکتل، چې ګواکې وپوښتي، نور څه وکړي؟ همدلته پاتې شي او يا کوم بل څه وکړي؟ خو هغه ته نور هېڅ هېڅ سپارښتنه ونه کړه او تر ډېره وخته همداسې ځای پر ځای ناخوځېدونکې پاتې شو.

ټولواکان په خپلو آسونو سواره او لاړل. د پري ابراژنسکي د کنډک پوځيانو کتارونو مات، د فرانسوي ګارد له هغو سره ګډوډ شول او هغو ميزونو ته کېناستل چې هغو ته چمتو شوي وو.

لازاروف د ميز سر ته کېناست، هر چا له هغه نه غېږې تاوولې، مچاوېې او مبارکي يې ورته ويلې. روسي او فرانسوي پوځيانو او سرتېرو يې لاسونه کېښکودل. د خلکو او پوځيانو ډلې په دې هيله ورنږدې کېدې، چې ګوندې د هغه ديدن يې نصيب شي.

د روسي او فرانسوي خبرو او خنداوو انګازې د ميز شاوخوا او وراندې په ډګر کې خورې وې.

دوه روسي افسران چې مخونه يې تک سره اوښتي و، په خورا خوښۍ او نيکمرغۍ د رستوف له څنګه تېر شول، يوه وويل:

- وروركه ! څه خواړه، څه د سپينو زرو قابونه او څه خواړه... هو ! لازاروف دې وليد ؟

- ومې ليد.

- ويل کېږي، چې سبا ته به د پري ابراژنسکي کنډک ډوډۍ ورکوي.

- نه، لازاروف څه نيکمرغه سړی دی !

- تر مرګه پورې د مياشتې يو زرو دوسوه فرانکه تقاعدي.

د پري ابراژنسکي د کنډک يوه سرتېري چې د پوست فرانسوي خولۍ يې په سر کړې وه، چغه کړل:

- هلکانو، دغې ته خولۍ وايي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بې سارې، بې سارې، ښکلې ده !

د ګارد يو افسر خپل ملګري ته وويل:

- د شپې نوم دې وا ورېد ؟ پرون نه، هغه بله ورځ: ناپليون، فرانسه، زړورتيا ! پرون: الکساندر، روسيه، پرتم !...

باريس هم خپل ملګري ژيلنسکي دغې مېلمستيا ته راوستي و. د راستنېدو په وخت کې هغوی رستوف وليد چې د يوه کور د ودانۍ اړخ ته ولاړ دي، باريس پر هغه غږ وکړ:

- رستوف ! سلام، وبښئ چې ليد نه مو ونه شوه.

د رستوف څېره خوابدې او ناآرامه برېښېده، نو ځکه يې له هغه نه وپوښتل:

- څه خبرې دي؟

رستوف ځواب ورکړ:

- هېڅ، هېڅ خبرې هم نه شته.

- ما ته به راشئ؟

- هرومرو.

رستوف تر ډېرې مودې پورې همالته ولاړو او د دغې مېلمستيا ننداره يې کوله. ګډوډ خيالونو آزاراوه او د هېڅ شي په اړه يې تر پايه پورې فکر نه شو کولای. کله به روغتون وريـاد شو، کله به په هغه روغتون کې بې لاسو او پښو ناروغان، د هغو ټپونه، د هغو له ټپونو نه تلونک زه وې، د هغوی ډډوزې، د هغو بوي يې په پزه کې احساساوه، داسې احساساوه چې آن مخ يې دې خواته، هغې خواته اړاوه چې وګورې، بوي له کومه راځي. کله به يې د دې ځانغښتونکي ناپليون او د هغه ودواړو سپينو ښکليو لاسونو په اړه فکر کاوه، هغه ناپليون چې اوس د ده لپاره ټولواک شوی، الکساندر ته ګران او د درناوي وړ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. نو اوس چې ناپلیون الکساندر ته ګران شوی و، خو دا مرګ ژوبله، دا پرې شوي لاس او پښې، ټپیان او مړي د څه لپاره؟... د پرې ابراژنسکي د کنډک د خوړو بوی، د هغه اشتها وپاروله او خپله لوږه وریاده شوله. له تګ نه مخکې یې باید څه خوړلي وای. هغه رستورانت (هوتل) ته چې سهار یې په نښه کړی و، ورغی. په هوتل کې ډېره ګڼه ګوڼه وه. د هغو افسرانو شمېر چې د ده په شان په ولسي جامو کې راغلي وو، خورا زیات و، داسې زیات چې آن ډوډۍ هم نه ورسېده. له ده سره د یو میز خواته د ده د غونډ دوه نور افسران، چې د سولې له تړون نه ناراضه وو، هم ناست و. دا څرګنده خبره وه چې ټولې خبرې اترې، د همدې تړون په اړه وې. دغه افسران چې د رستوف اندېوالان و، د پوځ د زیاترو افسرانو په څېر د سولې د دغه تړون نه، چې د فریدلند تر ښتې وروسته لاسلیک شوي و، ناراضه وو. ټولو ویل که جګړې ته دوام ورکړل شوي وای، ناپلیون ځکه ماته خوړله، چې نور یې نه خپل پوځ ته خواړه رسولې شول او نه یې خپلو ټوپونو ته مهمات. نیکولای هېڅ نه ویل، ډوډۍ یې خوړله او یو دوه بوتله شراب یې وڅکل. د ګوګل بې پایلې غوغا او شور آزاراوه، له دې نه زورېده چې د دغه خیالات په ده لاسبري نه شي، ځان یې له دغه چرتونو نه هېڅ ژغورلی نه شو. ناڅاپه یې د یو افسر په ځواب کې چې ویل یې و، د فرانسویانو د لیدو زغم نه لري، په لوړ او له شوره په ډک آواز چې د ټولو لپاره عجیبه او بې ځایه برېښېده، په قهرجن بڼه چغه کړل:

- تاسو څنګه کولای شئ دا قضاوت وکړئ چې کوم کار به غوره وای؟ تاسو څنګه کولای شئ د ټولواک د کړو قضاوت وکړئ؟ چا موږ او تاسو ته دا حق راکړی دی چې په دې اړه وغږېږو؟ موږ نه د هغه په تکل او نه د هغه په کړو پوهېدای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تن افسر چې د رستوف دا خبرې یې د هغه د نشې له مستۍ نه پرته بل څه نه ګڼله، ځان نه دا سې دفاع وکړه:

- څه وایئ، ما د ټولواک په اړه یوه خبره هم نه ده کړې.

خو رستوف پرته له هغه چې د هغه خبرو ته غوږ شي، دوام ورکړ:

- موږ خو څه دیپلماتان نه یو، ساده سرتېري یو او بس. که موږ ته سپارښتنه وشي، چې ومرئ، مرو او که جزا راکړي، دا معنا به لري چې ګنهکاره یو. دا زموږ کار نه دي، چې د ټولواک پر کړو قضاوت وکړو که اعلیحضرت دا ښه وګڼي چې بناپارت د ټولواک په نامه وپېژني او له هغه سره د اتحاد تړون لاسلیکوي، دا به غوره ګڼي، چې دا کار وکړي او که موږ وغواړو د هر څه په اړه قضاوت او خبرې وکړو هېڅ غوره او سپېڅلي شي به پاتې نه شي. که همدا سې دوام ورکړو سبا به د خدای او د هغه له قدرتونو نه هم منکر یو او هېڅ به پاتې نه وي.

رستوف چې دا خبره وکړه، له میزه یې ګرز جګ کړ. هغه ته یې خبرې خورا غوره او په ځای بریښېدې، حال دا چې نورو ټولو هغه ډېر بې ځایه ګڼلې، هغه خپلې خبرې دا سې راټول کړې او وې ویل:

- موږ یوازې او یوازې باید خپلې دندې تر سره کړو، وجنګېږو او نور هېڅ فکر ونه کړو. هوکې همدا او بس.

د افسرانو له ډلې نه یو تن چې نه غوښتل خبرې نانددریو ته ورسېږي.وویل:

-او ویې څکو؟

او نیکولای، خبرو ته ورګډ شو:

-او وې څکو.

هغه چغه کړل: آه، ته!

- یو بل بوتل!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم کتاب

# درېیمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

په ۱۸۰۸ کال کې، ټولواک الکساندر له ناپليون سره د نويو خبرو لپاره (ايرفورت) ته لاړ. د پترزبورګ په لوړو ټولنيزو کړيو کې، د دغه کتنې د پرتم په اړه ډېرې خبرې اترې رواني وې.

په ۱۸۰۹ کال کې د نړۍ د دغو دوو واکمنو (دا هغه نوم و چې الکساندر او ناپليون ته ورکړ شوی و.) دوستي دومره خوړه شوه چې کله بناپارت د اتريش په وړاندې جګړه پيل کړه، روس له خپل پخواني دښمن (بناپارت) سره د خواخوږۍ په نښه، د خپل پخواني ملګري اتريش په وړاندې ودرېد، خپل پوځونه يې د اتريش خاورې ته ولېږل او خبره لا هلته ورسېده، چې د پترزبورګ په غوره کړيو کې د الکساندر له کومې خور سره، د ناپليون د واده آوازې هم خپرې شوې. خو بهرنۍ سياست ته د پوره پام تر څنګ د روسي د ټولنې پام زياتره هغو بدلونو ته او بيا جوړونو ته وراوښتی و، چې په هغه پېير کې د دولت په ټولو اداري چاروکې پيل شوي وو. ژوند، د خلکو د ژوند رښتيني بهير، له خپلو ټولو ځانګړتياوو: روغتيا، ناروغيو، کار، منډوترړو، استراحت، له خپلو په زړه پورې خيالونو، علم، پوهې، شاعرۍ، سندرو او موسيقۍ، مينې، کرکې، دوستۍ، دښمنۍ، لېوالتيا او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترېيا سره، له بناپارت سره د سياسي نبږدوالي او يا په ټولنه کې د اصلاحاتو او بدلونونو نه، لرې لرې، او په خپل بهېر کې روان و.

سردار اندرې د دغو دوو کلو په اوږدو کې، خپل لرې کليوالي ژوند ته په يوازې ځان دوام ورکړ. او په دغه موده کې چې پېير په خپلو جايدادونو کې پيل شوي تکلونه يو هم تر سره نه شو کړای (ځکه هغه پرله پسې له يوه کار بل ته لاس اچاوه) هغه بې له شروشور او ډنډور نه هرڅه په خورا لږه خواري، ترسره کړل.

هغه په چارو کې د خورا پام او ځيرکتيا توان لاره، هغه توان چې پېير له هغه بې برخې و. اندرې د همدغه نعمت له برکته په خورا کمو هلو ځلو هرڅه ترسره کول.

د هغه په يوه کرونده کې درې سوه مرييان، په خپلو اکو بزگرانو بدل شوي وو. او دا په روسيه کې د مرييانو د آزادۍ د غورځنگ لومړنۍ بېلگه گڼل کېده. په بله کرونده کې د اجباري کار او باج ځای، د ځمکې خاوند ته د کلنۍ حاصل د ورکولو په بهېر بدل شوی و. دده په (باگوچاروو ا) نومي جايدادونو کې د مزد په بدله کې يوه روغتياپاله (نرس) گمارل شوې وه او د کلي کشيش د حق په بدل کې د پرگنو او اعيانو د ماشومانو روزنه پيل کړې وه.

سردار اندرې د خپل ورځني ژوند تر نيمايي وخت په خپله کلېوالـه مينه (ليسه گوره کې) له خپل پلار او کمکي زوی سره چې مينځو يې ساتنه کوله تېراوه او نيمايي وخت يې په باگوچاروو اگې، په هغه ځای کې چې مشر سردار، هغه د ده د کلي په نامه يادوه، تېراوه. که څه هم هغه پېير ته دا سې ښودلې وه، چې نور د بهرنيو پېښو خيال نه ساتي، خو بيا يې هم نه يوازې ټولې پېښې له نبږدې نه څارلې، بلکې ډېر کتابونه يې تر لاسه کول او هر وار به چې څوک له پترزبورگ نه دده يا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پلار دیدن ته راتلل، دا به یې احساسوله چې د بهرنۍ نړۍ او روسیې په اړه د هغو معلومات تر ده نه چې په کلي کې ګوښه ځان دیره شوي دي، خورا زیات دي.

سردار اندرې د کرنې، مالداري، عمومي ښېرنو او خپلو نورو ډول ډول هلوځلو ترڅنګ په دوو وروستیو جګړو کې زمونږ د پوځ د ناکامیو په کره کتنه او د پوځي اصلاحاتو لپاره زمونږ د پوځ په کړنلارې کې د اصلاحاتو د راوستو لپاره د یوې نوې کړنلارې په جوړولو هم لګیا و.

سردار اندرې د ۱۸۰۹ کال په پسرلي کې، د ریزان په ښار کې د هغو جایدادونو دیدن ته ورغی، چې د زوی په نامه یې و. د پسرلي تر لومړني تاوده لمر لاندې، په خپله ګاډۍ کې ناست و، پر ډاګونو کې د لومړنیو شنلیو، د چنارونو د لومړنیو پاڼو د غوټو او په شنه آسمان کې د پسرلنیو لومړنیو کنډک کنډک وریځو په ننداره بوخت روان و. د هېڅ شي په اړه یې فکر نه کاوه. په خورا بې غمۍ او خوښۍ یې شاوخوا کتل... د چنارونو ځنګل چې د واټ دواړو خواوو ته پروت و، ورسېد. په دې ځنګل کې هوا ځکه لږه شان توده وه، چې هلته باد نه لګېده. له ځایه ناخوځېدونکو چنارونو د شنو غوټیو او نریو پاڼو جامې اغوستې وې. تر پروسږنیو پرتو پاڼو لاندې د ډول ډول شنلیو او ګلانو غوټو سر راپورته کړی و. د صبر ابدي شنو خورو ځانګو په خپله غمجنه ښه یو نیم ځای د ژمي یادونه راتازه کول، د آسونو شنهارې په ځنګله کې انګازې کولې، له ورایه ښکارېدل، چې هغوی سخت خولې شوي دي.

د سردار بوډا چوپړ، ګاډیوان ته څه وویل او هغه هم د منلو په نښه سر وښوراوه، خو داسې برېښېدل چې د ګاډیوان یوازې سرښورل، بوډا نه قانع کوي، نو ځکه یې مخ واړاوه او په خورا درناوي او موسکا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ارباب ته وويل:

- جلالتمابه، څه ښکلې هوا ده !

- څه دې وويل؟

- هوا يادوم، ښاغليه !

د سردار اندرې په زړه کې تېره شوه، دا څه وايئ؟ خو وروسته پوه او له ځانسره يې وويل: هوکې، پسرلي دي، ربښتيا هم پسرلي دي. شاوخوا يې وکتل، ربښتيا هم څومره ژر هر څه شنه شوي دي. هم چنارونه، هم وحشي ګيلاس، ... خو د څېړۍ لا درک نه شته، هوکې يوازې څېړۍ ! او څېړۍ د واټ پر غاړه، غاړې هسکې کړې وې. کېدای شي، د هغو د هر يوې عمر، لس ځله تر چنارونو نه زيات و، تر هغو چنارونو نه چې ځنګل ترې ډک وو. د هغو سور هم لس وارې او لوړوالي يې دوه واره تر چنارونو نه زيات وو. دواړو خواته پروت، له پخوا نه ماتې شوې څانګې، چاودې چاودې پوستکې، زاړه زخمونه له خپلو هرې خواته غځېدلو څانګو سره، يو قهرجن او بدرنګه چاته پاتې کېده، چې د ښکلو چنارونو په منځ کې ولاړ و، هغې پورې يې خندل او ملنډې يې پورې وهلې. يوازې هغه و چې د پسرلي د ښکلا له دوکو دوکه کېده، نه يې د پسرلي د ليدو هيله لرله او نه يې د لمر. داسې برېښېده چې وايي:

- پسرلی، مينه او نيکمرغي ! هېڅ ددې بې معنا احمقانه تکراري دوکې نه، نه ستومانه کېږې، هماغه کيسه، هماغه دوکه او هر کال همدا غولوونکې خبرې، کوم پسرلي؟ کوم لمر؟ وګورئ، وچه شوې، مړه شوې څېړۍ، چې د تل په شان هماغه چې ده، ده، هېڅ بدلون نه لري. هغه له ځانسره وايي: ماته ګورئ، چې زما خپلې ماتې ګوډې څانګې چې زما له هر ځايه، سر، څنګ او بل هر ځاه سر راوهي، غوړېږي او هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره چې وغوړېږي، پر ما اغېز نه کوي. نه ستاسو په ایمان او نه ستاسو په دوکو، په هېڅ شي باور نه لرم.

سردار اندرې له ځنګله نه د تېرېدو په وخت په وار وار بېرته وکتل، هغې څېړۍ ته، هغې څېړۍ ته یې ور وکتل. دا سې یې ور کتل چې ګواکې له هغه نه څه شي غواړي. تر څېړۍ لاندې ګلان او شنیلي غوړېدلي وو او دغه غمجنه ونه په نه خوځېدونکي او بدرنګه بڼه د هغو په منځ کې ولاړه وه.

سردار اندرې له ځانسره وویل:

-هوکې !هغه حق لري. دغه څېړۍ په زرګونو واره حق لري. پرېږدۍ نور ځوانان، بیا بیا په دغه دوکې مین شي. خو موږ ژوند پېژنو. که څه هم زموږ ژوند پای ته نېږدې دی، خو بیا هم پوهېږم د دغې ونې په لیدو کوم نوی او تازه ، خو غمجن خیال ذهن ته ورغی. دغه خیال د غم سره سره دده زړه ته تسل ورکاوه، د دغه سفر په اوږدو کې ټول ژوند بیا بیا وریاد کړ، خو بیا بیا هماغه یوه خبره وه، ناهیلي او مایوسي، دا سې پایله چې باید هېڅ نوی شی پیل نه کړي. هغه باید خپل عمر له کړکیچ او بدیو لرې تېر او هېڅ هیله په په زړه کې ونه پالي.

دلته هم کم دي ۵۱۲ روسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲

سردار اندرې د ريزان په ښار کې د خپل زوی د جايدادونو د چارو د سرته رسولو لپاره، دې ته اړ و چې د دغې سيمې د مشرانو له جرګه ګـی سره وګوري. د دغې جرګه ګی مشر، سردار الياانـدريووېچ رسـتوف و. د مې مياشتې نيمايي و چې سردار اندرې د هغه ديدن ته ورغې.

د پسرلي تودخه راغلې وه. ځنګلونو ټولو شنې جامې اغوستې وې، دوړې الوتې او تودخه خوره وه، نو ځکه د اوبو له څنګه په تېرېدو سره، هر څوک لمبېدو ته لمسېدل.

سردار اندرې په خواشينی او د خيـالونو پـه څپو کې ډوب، پـه دې اړه چې د خپلو چارو د سرته رسولو پـه اړه، د سـيمه ايز جرګـه ګـی لـه مشـره څـه غـواړي، د ګـراف رسـتوف د کليـوالي بـاغ لـه لارې پـه خپلـه ګاډی کې، د هغه کورته چې اترادنيا نومېده، نږدې کېده. هغه لـه ښـی خوا ، د ونو له شا نه، د ښـځو لـه خوښـی نـه ډک آوازونـه واورېـدل او يـو ډلـه نجونې پـه منـډه منـډه د هغـه د ګـاډی لـه مخـې تېـرې شـوې. د دغـو نجونو په ډله کې تر ټولو نه د مخه، ګاډی ته نږدې، يـو غـنم رنګـه نـری تورسترګې نجلی وه چې ژيړ بخن ځالی کميس يې اغوسـتي و، سـپين دستمال يې داسې په سر تړلي واو جړې کوڅی يې د هغه لاندې راوتلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې. نجلۍ په لوړ آواز څه ویل، خو د پردي سړي په لیدو یې هغه ته ونه کتل، وې خندل او په منډه بیرته راستنه شوه.

د سردار اندرې زړه ناڅاپه خوږ او ناآرامه شو. هوا ښه وه، لمر ځلېده او هر څه یې په شاوخوا کې خوښ بریښېدل او دغه په ملا نرۍ او لوړه ښکلې نجلۍ چې هغه نه پېژانده او آن په دې خیال کې هم نه وه چې هغه وپېژني. هغه له خپل بخت نه راضي، له خپل پوچ او خوښ ژوند نه خوشاله او نیکمرغه وه. سردار اندرې په زړه کې وویل:

- دا ولې او له څه نه داسې خوشاله ده؟ د څه شي په اړه هغه فکر کوي؟ هرومرو هغه نه په پوځي کړنلارې او نه هم د ریزان د جایدادونو په اړه خپل خیالونه بوختوي. د هغه په زړه کې به څه ګرځي؟ کومو شیانو هغه داسې خوشاله کړې ده؟

ګراف ایلیا اندریویچ په ۱۸۰۹ کال کې هم لا د پخوا په شان، په اترادنیا کې خپل روزګار تېراوه. د سیمه ټولو مخورو ته یې ډوډۍ کوله، کورته یې وربلل، هغوی ته به یې بنډارونه جوړول، کله به ښکار ته سره تلل، ننداري او یا کنسرتونه به یې جوړول. هغه د سردار اندرې په لیدلو د بل هر بل نوي مېلمه د لیدو په شان د زړه له کومې خوشاله او هغه یې په زوره د شپې هم وساته. اندرې ټوله ورځ په خورا خواشینۍ له خپل بوډا کوربه او ځېنیو پاتې شویو مېلمنو سره چې د چا د کلیزې لمانځنې ته سترګه په لاره وو، د ایلیا اندریویچ په کور کې تېره کړه. کله ناکله به یې زړه راښکوونکې ناتاشې ته چې تل یې خندا پرشونډو خوره وه او معلومه نه وه، چې په څه تل خاندي او ولې له خوښۍ نه ایشي، وروکتل او پرله پسې یې په زړه کې ویل:

- دا له څه نه داسې خوشاله ده؟ د څه شي په اړه فکر کوي؟

د شپې چې هغه په نوي ځای کې یوازې پاتې شو، تر ډېره پورې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه شو کولای چې وبېده شي. هغه کتاب لوست، شمعه يې مړه کړه، پريوت، خو خوب ورنغي او بيا يې شمعه ولګوله.

د کوټې کړکۍ چې له د ننه نه تړلې وې او هوا يې ډېره توده وه. طبيعت يې په دې ډېر خراب و چې دغه احمق بوډا (هغه ګراف رستوف په دې نامه ياداوه) هغه په دې قانع کړي و چې د ده د چارو د سرته رسولو لپاره، بايد څه ليکونه له ښاره راوړي، ځان يې په دې ملامتوه، چې ولې يې د هغه خبره منلې وه او د ده په کور کې پاتې شوي و.

پاڅېد، د کړکۍ خواته ورغي، چې هغه پرانزي... د سردار کوټه په منځني پوړ کې وه. دهغه د کوټې د پاسه، په کوټه کې هم څوک و چې د ده په شان خوب نه ورته. ښځينه غږونه له پاسينۍ کوټې اورېدل کېدل.

هغه ښځينه غږ، چې سمدلاسه سردار اندرې وپېژاند، وې ويل:

- يوازې يو وار بيا !

بل غږ ځواب ورکړ: خو، آخر ته څه وخت غواړې وبېده شې؟

- هېڅکله نه غواړم وبېده شم، نه شم کولای، ولې وبېده شم؟ راځه يوازې يو وار بيا، يوازې يو وار !

او دواړه د يوې سندرې په ويلو پيل وکړ.

- وای چې څومره ښکلې ده ! درځه نو وبېده شه ! هر څه بس دي...

هغه لومړنی غږ چې کړکۍ ته نږدې کېده، ويل يې: ته وبېده شه، ماته خوب نه راځي. داسې ښکارېده چې هغې له کړکۍ نه ښکته ځان ځړولې وي، ځکه آن د هغې د کميس شغهاري او دهغې د سا غږ له ورايه اورېدل کېدل. چوپه چوپتيا هره خوا خوره او هر څه لکه سپوږمۍ او پر ځمکې د هغې د شغلو درنا په شان ځای پر ځای چوپ ولاړ وو. سردار اندرې هم له خپل ځايه ځکه له ډاره نه ښورېده چې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شتوالي نه تول ناخبره، خبر نه شي.

لومړي غږ په داسې يو آواز چې ته به وايې له ستر ګو يې اوښکې ځاځي وويل:

- سونيا، سونيا! ته څنګه کولای شې ويده شې! راځه وګوره! وګوره ته به وايې طبيعت کوډو ولګه کړي دي! څومره ښکلې دي! وه نجلۍ راويښه شه! ګوره داسې ښکلې شپه، هېڅکله، هېڅا، هېڅېر ته نه ده ليدلې!

سونيا په خورا ناهيلۍ ځواب ورکړ:

- نه!

- ته راشه وګوره، څه سپوږمۍ ده، د هرڅا زړه پرې مينېږي. هيله کوم راشه! زما د زړه سره!! پاڅېږه! دلته راشه! زړه راته وايي... چې والوزم...

- څه کوې... اوس به ولوېږې!

د دوی ترمنځ د پورې وهلو او د سونيا قهرجن غږ اورېدل کېده، چې ويل يې:

- ته نه ګورې، شپه له نيمايي نه هم اوښتې، يوه بجه کېدونکې ده.

- وای وای چې ته تل دا خوندونه بې مزه کوې! ښه ده، درځه، درځه.

غږونه بيا چوپ شول، خو سردار اندرې پوهېده چې هغه هماغسې ناسته ده، ځکه کله کله به د هغې کالېو شغهار او کله هم د هغې د ژورې ساه اېستلو غږ راته.

هغې ناڅاپه چغې کړې:

-وای خدايه! دا څه حال دي؟ خو چاره څه ده؟ هېڅ کولای نه شم، خوب، خوب، چې نه کېږي ويده به شم او د کړکۍ د تړلو غږ يې تر غوږه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې چې کله د هغې غږ اوریده له ځانسره یې وویل:
- هغه خو اصلاً په دې خیال کې هم نه ده چې زه دلته یم. دا څرګنده نه وه چې ولې سردار دا هیله لرله او ویریده هم چې د ځان په اړه څه واوري، بیا یې له ځانسره وویل:
-بیا هغه ده ! فکر کوم چې په لوی لاس دا کار کوي !
او ناڅاپه یې په ګوګل کې د ځوانۍ د شېبو داسې له خونده ډک، خو نه پوهېدونکي خیالونه او هیلې راوپارېدې چې له هغه نه یې د ژوند لاره ورکوله. داسې خیالونه او هیلې چې هغه هم وانګېرله چې خپله هم نه شو کولای پر هغه پوه شي او همداسې خوب یووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

بله ورځ چې سردار اندرې راوېښ شو، پرته له هغه چې د ښځو را وتو ته سترګه په لاره شي، يوازې له ګراف سره يې مخه ښه وکړه او د خپل کور پلو وخوځېد.

د جون د مياشتې پيل و. سردار اندرې کورته د ستنېدو په لار بيا د چنارونو له هغه ځنګله نه تېر شو چې پرې راغلی و. په ځنګله کې بيا د ځېړې هغې زړې، سره تاوراتاو شوې، څانګ ماتې ونې د هغه پام ځانته ورواړاوه، داسې برېښېده چې يادونه د ده په زړه لوبې کوي.

د آسونو د غاړو د زنګونو شرنګهارې، تر يو نيم مياشتې پخوا لا آرامه انګازه کوله. په ځنګل کې پاڼې لا لويې، ګڼې او سيورې يې لا زيات شوي وو. په ځنګله کې دا خوا هاخوا د ځوانو ځېړيو خورو څانګو ددې ځای ښکلا ته نه يوازې څه تاوان نه رساوه، بلکې د شاوخوا لا ښکلول او ښايسته کولو يې پوره کول...

که څه هم، په يو نيم ځای کې تالندې او برېښنا ځان غړومبېدو او ځلېدو ته چمتو کاوه، خو له يو کنډک ورېځو نه پرته نورو ځان ځنګله پورې ونه شو رارسولی، نو ځکه يوازې د يو نرې باران څو څاڅکو پر دوړو او پاڼو نرې لمدبل جوړ کړ. د ځنګله پر کيڼې خوا سيورې او تياره خواره وو او ښۍ خوا يې لمده، د لمر شغلو لاندې ځلېدونکې او نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وربمه پرې چليدله. پر طبيعت د ګلو باران جوړ شوی او د بلبلو د سندرو انګازې کله لرې او کله هم نږدې قيامت جوړاوه.

سردار اندرې په زړه کې وويل: هغه د څېرې ونې، هغه عمر وهلې ونې چې له ما سره يې د زړه خواله کوله، په همدې ځنګله کې ولاړه وه او بيا يې له ځانه وپوښتل:

- نو چېرې ده؟ او د هغه د موندلو په هيله يې د ځنګله چپې خوا ته سترګې ورتاو کړې او پرته له هغه چې پوه شي، په هماغې څېرې چې په لټه کې يې و او پيدا کولای يې نه شوه، پرته له هغه چې خپله پوه شي، پرهغه مين شوی و. عمر خوړلې څېرې چور بدله شوې وه. هغې بوډۍ د تکو شنو زرغونو پاڼو تازه او تاندې جامې اغوستې وې، ونه يې لوړه شوې وه، د لمر لوېد په سرو شغلو کې له مستۍ نه کږه وږه خو نرمه نرمه خوځېده. په هغه کې نه د ماتو تاوراتاو وچو څانګو نښې ليدل کېدې، نه د هغه په ځان کې زاړه ټپونه، نه د هغه ګډې وډې انديښنې او نه د هغې ابدي غمجنه څېره، يو هم نه ښکارېدل. دې ټولو نه شنو زرغونو تاندو پاڼو داسې غبرګ تاو کړي وه چې آن نښه يې هم نه ليدل کېده... دا هېڅ د منلو نه وه چې دغه بوډۍ دي، د داسې ځوانېدو توان ولري. سردار اندرې په زړه کې وويل:

- دا زما پخوانۍ ملګرې، هماغه عمر خوړلې څېرې ده. او ناڅاپه يې بې له کومې پېښې پسرلنۍ خوښي او تاندوالی، په ګوګل کې راوخوټېد. ناڅاپه يې د ژوند ترټولو سترو يادو په ګوګل کې سر راهسک کړ. هماغه اوسترليڅ (د جګړې ډګر)، د هغه هسک او بې پايه آسمان يې بيا وليد او د خپلې مېرمنې بې روحه او ننواتو په حال کې څېره يې ور په ياد شوه. له سيند نه په پورې کېدونکې جالې ولاړ پيير، په توري شپې او تپه تياره کې پرناليدلې ښکلې نجلۍ مينه، هغه شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغې سپوږمۍ او دا ټولې او ټول بیا په یادونو کې ورژوندي شول او ناآرامه یې کړ.

سردار اندري چې تا به ویل ناڅاپه بیا ډاډمن شوي وي، له ځانسره یې وویل:

- ژوند په یو دیرش کلنۍ کې پای ته نه دي رسېدلی. یوازې دا کفایت نه کوي چې زه پوه شم چې ډېر توان مې په متهو او روح کې نغښتي دي، ټول باید په دې پوه شي، هم پېیر باید په دې پوه شي او هم ،هغه پېغلوټه چې غوښتل یې آسمان ته والوزي. زما ژوند باید یوازې زما لپاره نه وي، باید د هغو ژوند زما له ژوند سره تړلی وي. موږ باید ګډ ژوند وکړو. سردار اندري چې له دغه سفره راستون شو، دا پریکړه یې وکړه چې سږ کال مني باید پترزبورګ ته لاړ شي او ددې پریکړې لپاره یې بېلابېل لاملونه غوټه کول. خورا ډېر عاقلانه او منطقي دلایل یې د پترزبورګ د سفر او آن په دولت کې د یوې چارې د منلو لپاره پیدا کولای شول. نور نو آن په دې نه پوهېده چې څنګه یې تر اوسه پورې دا توان لاره چې د ژوند له ورځنیو چارو ځان ګوښه وساتي. هماغه شان چې لا میاشت پخوا په دې نه پوهېده چې څنګه به دي وکولای شي، کوم وخت له خپل کلیوالي ژوند نه لرې لاړ شي. نور نو دا ورته په ډاګه شوې وه، که له ورځني ژوند نه ګټه وانخلي، هغه به هسې د سیند پر غاړه کرلی ګل وي، د هغه آن په دې سر نه خلاصېده چې تر دې نه مخکې څنګه ده یو شمېر نامعقوله سست دلایل چې ګواکې د ژوند تجربو ورښودلي وو، منلي وو. هغه دلایل چې ویل یې په ژوند کې د بري خوند او د مینې نیکمرغي بابیزه خبرې دي. اوس عقل هغه ته بل څه ویل:

-په کلي کې ناسته ورته غم لړلې شوې وه، نور یې نو پخوانیو کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړو سره لېوالتيا او مينه نه ښوده او زياتره وخت به په خپله کوټه کې يوازې ناست و. هغه پاڅېد، هينداري ته ودرېد او تر ډېرې پورې يې خپل څېرې ته کتل. بيا يې مخ واړاوه او په هينداره کې يې د خداى ښنلې ليزا (ميرمن يې) تصوير ته چې په يوناني ډول يې خپلې کوڅې تر سرتاو کړې وې او موسکا پرشونډو وه. او له زرين چوکاټ نه يې ده ته سترګې نيولې وې، وکتل. هغې نور نو خپل خاوند ته هغه پخوانۍ ترخې خبرې نه کولې، هغې په سادګۍ، خواخوږۍ او خورا مهربانۍ ده ته کتل. سردار اندري لاسونه شاته کړي کړي وو او تر ډېرې پورې په کوټه ګرځېده راګرځېده. کله به يې تندي تريو او وروځې برندې کړې، کله به موسکا پرشونډو خپل نامعقول او نه بيانېدونکي خيالونه، لکه د جنايت رازونه، ورياد شول، کله به هغه انديښنې او تصورونه چې پيير او دده له وياړونو سره اړوند وو، يا کړکۍ ته ولاړه نجلۍ، هغه عمرخوړلې د څېرې ونه، يا ښځينه ښکلا او مينه چې د هغه ژوند يې چور بدل کړي و، ورياد بدل او ورياد بدل. که څوک به په دغو شېبو کې چې دي په دغو خيالونو کې ډوب و، کوټې ته ورننوتلي واى، هغه به په ځانګړي توګه وچ او غوڅ و او د هغه د ترخه منطق له اورېدو سره به مخامخ کېده.

کله به په دغه شان شېبو کې شهزادګۍ ماريا، د هغه کوټې ته ورننوتله او ويل به يې:

- ګرانه! نن نه شو کولاى، نيکولاى جان (د اندرې زوى) د باندې وباسو، هوا خورا سړه ده.

سردار اندرې به په ترخه ژبه خپلې خور ته ځواب ورکاوه:

-که هوا توده واى، هغه به په يو کميس کې وتلي واى، خو اوس چې هوا سړه ده، تودې جامې ورواغوندئ، تودې جامې د همدې لپاره دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په سرو کې واغوستل شي، نه د اوړي لپاره. همدا تاوده کالي، همدا ساړه، نه دا چې کله ماشوم تازه او تاندې هوا ته اړتیا لري په کور کې وساتل شي. په خورا منطقي دلایلو یې هر چا ته ځواب وایه. ګواکې هڅه یې کوله یو چا ته د هغه پټو، ناښکاره او غیر منطقي اندېښنو د ګناه له امله چې د ده په خیالونو کې روانې وې، جزا ورکړي. شهزادګۍ ماریا به په دغه شان شېبو کې له ځانسره ویل:

- دا فکري هڅې نارینه ځومره وچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

سردار اندري د ۱۸۰۹ کال د اګست په میاشت کې پترزبورګ ته ورسېد. دا د ځوان سپیرانسکي د ویاړونو زمانه او د هغه له خوا د وړاندې شویو بدلونونو د چټکو سرته رسېدو وخت و. همدا د اګست په میاشت کې و چې تولواک له ګاډۍ نه ولوېد او پښه یې خوږ شوه. دی درې اونۍ د پتروګراف په ښارګوټۍ (د پترزبورګ څنډې) کې پاتې شو او هره ورځ به یې بې ناغې له سپیرانسکي سره کتل. د زړه خواله به یې سره کوله او له هغه نه پرته بل هېڅوک یې نه منل. په همدې وخت کې نه یوازې هغه دوه پېژندل شوي فرمانونه (چې د خلکو له کرکې سره مخامخ شول) چې د درباري رتبو د له منځه تلل او د مامورینو د روزلو لپاره مسلکي ښوونځیو ته آزموینې یې حتمي کولې، راووتل، بلکې یو زیات شمېر نور قوانین چې د روسیې د قضایي، اداري او مالي جوړښت د ټولو برخو، د وزیرانو له شورا نه نیولې، تر سیمه ایزو جرګو پورې د بدلونونو او اصلاحاتو غوښتنه یې کوله، راووتل.

تولواک الکساندر هغه لیبرال خیالونه چې هغهٔ واک ته رسېدو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې د هغو د سرته رسولو تکل کړی و، د خپلو مشاورینو (چارتوریژسکي، نووسیلځووف، کوچوبامي او ستروګانوف، چې ده په ټوکه د ملي ژغورنې جرګه ګۍ بلله) په مرسته، سرته رسول.

اوس د ټولو دندې دووتنو ته سپارل شوې وې، سپرانسکي د ټولو ملکي او آرکچییوف د پوځي چارو مشري کوله. سردار اندرې چې د ټولواک یاور ټاکل شوی و، پترزبورګ ته د رسېدو سره سم دربار ته لاړ.

ټولواک دوه واره هغه لیدلی و، خو نه یې هغه ته پاملرنه کړې وه او نه یې کومه خبره ورسره کړې. سردار اندرې له هغه نه پخوا هم داسې انګېرله چې ټولواک له هغه سره د خبرو اترو لېوال نه دی او د هغه خبره او شتوالي په ټولواک کې د بېزارۍ احساس رالمسوي. ده ته د ټولواک ننني سوړ او له ده نه تښتېدونکي غلچک د همدغې انګېرنې تایېد و. درباریانو سردار اندرې ته داسې ښودله چې ټولواک له هغه نه په دې خوابدی و چې بالکونسکي له ۱۸۰۵ کال راهیسې پوځ پرېښی و.

سردار اندرې له ځانسره ویل:

- زه خپله په دې پوهېدم، چې د یو چا خوښېدل او ناخوښېدل څومره زموږ له واک وتلې خبره ده، خو دا باید دې لامل نه وي، چې زما له خوا د پوځ د سمون لپاره جوړه شوې کړنلاره، په خپله هغه ته وړاندې نه کړم. دغه کړنلاره به خپله، یوښه دفاعیه وي. د خپلې کړنلارې په اړه یې له یو بوډا فیلډ مارشال سره چې د ده د پلار ملګری و، د مشورې غوښتنه وکړه. فیلډ مارشال هغه ته وخت وټاکه او په خورا ورین تندي یې د سردار هرکلي وکړ او دا وعده یې هم ورکړه چې د هغه په اړه به ټولواک ته خبر ورکړي. څو ورځې وروسته سردار اندرې ته خبر ورکړ شو چې دي باید د دفاع وزیر ګراف اراکچییوف ته ورشي.

سردار اندرې په ټاکل شوي ورځ د سهار په نهو بجو د دفاع د وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفتر ته ورغي. هغه خپله له اراکچییوف سره پېژند ګلوی نه درلوده او هېڅکله یې هغه نه و لیدلي، خو هغه څه چې دي د هغه په اړه پرې پوهېده، په ده کې د هغه په وړاندې ځانګړي درناوي نه راپاروه.

سردار اندرې د ګراف اراکچییوف د انتظار په کوټه کې د نورو څو تنو مخورو غیرمخورو کسانو ترڅنګ چې د هغه د کتو هیله یې لرله، ناست او له ځانسره یې ویل:

-دا د دفاع وزیر او د ټولواک د ډاډ وړ دي، هغه یو ناپېیلي او له چا سره ځانګړي اړیکي نه لري، زما لیکنه او یاددښتونه هغه ته سپارل شوي دي او هغه یوازینی څوک دی چې د هغه په اړه به پریکړه وکړي.

سردار اندرې د خپل خدمت په وخت کې چې زیاتره هغه یې لا په یاد وو، د خورا ډېرو لویو لوړپوړو چارواکو د منتې او انتظار کوټې لیدلې وې او د هغو له ډولا ډول او بېلابېلو ځانګړتیاوو سره آشنا و، خود ګراف اراکچییوف د انتظار کوټې یوه ځانګړې، ځانګړتیا لرله. د هغو غیرمخورو وګړو په څېره کې چې د وزیر د لیدو په تمه ناست وو، یو ډول د شرم او تابعیت نښې خورې وې او د مخورو او پېژندل شویو کسانو په څېره کې چې له هغه سره یې د کتنې هیله لرله د ناهیلې او ګبنې حالت چې تر یو ډول سپین سترګۍ او بې پروایي لاندې د پټولو هڅه یې کوله لیدل کېده. کولای شو ووایو چې دوی په خپل دغه حالت او پر هغه چا چې دوی یې دکتو هیله لرله، ملنډې وهي. ځینې په خیالو کې ډوب په کوټه کې ښکته پورته ګرځېدل او ځینو نور خپل منځو کې بنګېدل او خندېدل. سردار اندرې د هغو د خبرو اترو په لړ کې د سلاوا ! اندربوویچو(د دفاع وزیر بشپړ الکسي اندربوویچ آرکچییوف و ) او یاره غم به دې وخوره، اصطلاحات چې د اراکچییوف په اړه څو واره وویل شول، واورېدل. یو جنرال چې خورا مهم بربښېده ګوا کې ځان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ډېر انتظار سپکاوي ګاڼه، پښه په پښه اړولې وه او له ملنډو ډکه موسکا يې پرشونډو خوره وه، خو بيا هم هر وار به چې د وزير د کوټې ور راخلاص شو، د ټولو پر څېرو به يو احساس، چې ډار و، راخوربده.
سردار اندرې د دويم ځل لپاره د هغه ياور ته وريادکړه چې د ده نوم ګراف ته وریاد کړي، خو ياور هغه ته په سپکاوي وکتل او وې ويل، يادونې ته اړتيا نه شته، وار به دې راشي. وروسته له هغه چې ياور څو تنه د وزير دفتر ته بدرګه او بېرته راوويستل، د سردار اندرې يوه افسر ته پام شو چې د سپکاوي او ډار نښه يې له څېرې څرګندې وې، هغه وحشتناکې دروازې ته ورپرېښودل شو. له وزير سره د دغه افسر کتنه خورا اوږده شوه، خو ناڅاپه د دروازې له شا نه د سپکاوي له قهره ډک لوړ غږ واورېدل شو. هغه افسر چې رنګ يې الوتي، شونډې او غومبورې يې رېږدېدل، له کوټې راووت، سر يې په دواړو لاسو کلک نيولې و، په چټکۍ او بې له هغه چې چاته وګوري،د انتظار له کوټې نه تېر شو.
تر هغه نه وروسته، سردار اندرې دروازې ته بدرګه او ياور په بنګهاري هغه ته وويل:
-ښۍ خوا، کړکۍ ته نېږدې.
سردار اندرې د کار يوې ساده کوټې ته چې د پرتم نښې يې نه لرله، خو ښه منظمه وه، ورننوت. د ميز تر شا د څلوېښتو کالو په منګ يو سړي چې وتلې ټټر، اوږده ککرۍ، لنډې څڼې او له ګونځو ډک تندي لاره، ولید. سره ورته وروځو لاندې يې، خړې شنې رنګې سترګې ستوماني او ناپوهېدونکې برېښېدې. پزه يې سره، ډېره اوږده او پر شونډو راښوه شوې وه. اراکچييوف سردار ته مخ راواړاوه او پرته له هغه چې ده ته وګوري وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه مو غوښتل؟
سردار اندرې په کرارۍ ځواب ورکړ: هیله کوم جلالتمابه ! زه څه غوښتنه نه لرم.
د اراکچییوف سترګې هغه ته ورواوښتې:
-مهرباني وکړئ کښېنۍ، سردار بالکونسکي !
سردار زیاته کړه:
- زه څه هیله نه لرم، اعلیحضرت مهرباني کړې ده او زما وړاندیزونه یې تاسو عالیجناب ته رالېږلي دي.
اراکچییوف د هغه خبره پرې کړه او وې ویل:
-ما ته خورا ګرانه ده، اجازه راکړئ، ما ستاسو وړاندیز ولوست...
یوازې او یوازې د هغه د لومړۍ خبرې نه د مینې انګازه واورېدل شوه، پرته له هغه چې سردار ته وګوري، مخ یې شاو خوا ته اړاوه، رااړاوه او شېبه په شېبه یې خبرو د چغو او سپکاوي بڼه پیدا کوله:
- د نوي پوځي قانون وړاندیز کوئ؟ قوانین ډېر دي، نوي څه کوئ؟ چې د هغو زړو د سرته رسولو څوک نه شته. نن سبا ټول قوانین لیکي، ګرانه ! قانون لیکنه آسانه خبره ده، خو د هغه سرته رسول خورا ګران کار دی.
سردار اندرې، په خورا درناوي وویل:
-جلالتمابه ! زه د ټولواک په سپارښتنه ستاسو لیدنې ته راغلی یم، تاسو زما د وړاندیز په اړه کومه لارښوونه او سپارښتنه لرئ؟
اراکچییوف، پاڅېد ،د میز نه یې پاڼې راواخیستې، سردار اندرې ته یې ورکړې او وې ویل:
- مهرباني وکړئ، ما د هغه په اړه خپل نظر ولیکه او هغه مې ځانګړې جرګه ګۍ ته سپارلی دی، زه ستاسو وړاندیز نه منم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاڼې په منځنۍ برخه کې، په پنسل، داسې کرښې چې له تېروتنو نه ډکې او آن د ټکو او نښو د پر ځای اېښودو پاملرنه هم په کې شوې نه و، داسې لیکل شوي و:

- بې بنسټه، ګډه وډه او د منلو وړ نه ده، ځکه چې د فرانسوي پوځ د قانون له مخې اخېستل شوې او زموږ د پوځ د کړنلارې هېڅ څه په کې لیدل کېږي نه.

سردار اندرې وپوښتل:

- کومې جرګه ګۍ ته ورلېږل شوې ده؟

- د پوځي اصولو جرګه ګۍ ته، او زما له خوا په هغه جرګه ګۍ کې ستا د افتخاري غړیتوب سپارښتنه هم لیکل شوې ده.

سردار اندرې ځواب ورکړ: - زه کوم شکایت نه لرم.

اراکچییوف تکرار کړه:

-هوکې افتخاري غړي، هغه هم بې شکایته ! ښه راغلاست.

هغه اندرې ته سروښوراوه او چغه یې کړه:

-آها، تا ته وایم، بل تن ته ورغږ کړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

سردار اندرې په جرګه ګۍ کې د خپل غړیتوب د منلو خبرتیا ته د انتظار په موده کې له پخوانیو آشنایانو ، په تېره بیا له هغو کسانو سره چې کېدای شو ،له ده سره په راتلونکې کې خواخوږي وکړي، آشنایانې تازه کولې. هغه اوس په پترزبورګ کې، هماغه احساس، احساساوه چې د جګړې د پیل په درشل کې یې احساساوه، هغه احساس چې په ده کې یې،په راتلونکي کې،لوړ پلو ته ناآرامه لېوالتیا راپاروله او د میلیونو انسانانو برخلیک پورې یې اړه پیدا کوله.

هغه،د عمرخوړلو له قهره،د ناخبرو له لېوالتیانه،د بې له ټینګاره، د خبرو کسانو له احتیاط او پاملرنې او د ټولو له ګډون او ناآرامۍ نه، د بې شمېره جرګه ګیو چې ورځ تر ورځ د هغو له شته والي او نویو جوړېدو نه خبرېده،دا سې احساسوله، چې اوس یعنې ۱۸۰۹ کال کې، دلته په پترزبورګ کې د کومې لویې کورنۍ جګړې د پیل لپاره چې ستر قوماندان یې سپیرانسکي و ، چمتووالی روان دی. سپیرانسکي یو مرموز سړي وچې ده نه پیژاند ، خو ده ته یو نابغه برېښېده...

سردار اندرې اوس په دا سې یو منل شوي لوړ، ښه او د پام وړ دریځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې و، چې د پترزبورګ لوړو اعیانو او بلې هرې ډلې په وروستي تندۍ او پرانستې غبرګې د هغه هرکلی کاوه. د بیا جوړونې ګوند ځکه د هغه منلو ته خوښي ښودله چې هغه یې نه یوازې د کتاب او مطالعې د یوه لېوال او ښه ذهن لرونکي په نامه پېژانده، بلکې د خپلو مریبانو او بزګرو د آزادۍ له امله یې د یوه لیبرال څېرې نوم ګټلی و. د عمر خوړلو او ناراضیانو ډلې ته، هغه د خپل پلار د غوره دریځ له امله د درناوي وړ و او دغې ډلې هیله لرله چې د نویو اصلاحاتو په وړاندې د دوی د سیالي لپاره، د هغه ملاتړ ترلاسه کړي. د ښځو ډلې هغه په بې ساري خوښۍ ځکه مانه، چې هغه ته یې د یو ښه بډای او داسې یو زوم په سترګه کتل، چې په جګړې کې د وژنې (یو وار آوازه خپره شوه چې دی په جګړه کې وژل شوی دی) او د ځوانې ښځې زورونکې مرګ یې د هغه د څېرې نه یو شاعرانه کړۍ تاو کړې وه. ددې تر څنګ هغه چا چې دی له نږدې او پخوا نه پېژانده، ټول په یوه آواز په دې ډاډمن وو، چې هغه په دې پنځو وروستیو کلو کې د ښه والي پلو خورا بدل شوی دی. طبیعت یې نرم شوی او څېره یې لا مېړنۍ شوې ده. د ځان ښودنې، کبر او پر نورو ملنډې یې په کړو وړو او خبرو کې له منځه تللي... د ده له کار سره یې مینه او لېوالتیا زیاته او زیات شمېر خلک یې د لیدو هیلمند شوي دي.

د دفاع له وزیر ګراف اراکچییوف سره د کتنې نه یوه ورځ وروسته مازدیګر هغه د ګراف کوچوبیه کره ورغی او له «سلاوا اندریوویچ» (کوچوبیه هم وزیر په دې نامه یادوه...) سره یې د خپلې کتنې نقل ورته وکړ.

ګراف کوچوبیه هغه ته وویل:

- ګرانه! آن په دې پېښه کې هم، تاسو د میخائیلوویچ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډون نه پرته، هېڅ څه کولای نه شي. د زړه سره ! دا سړي هر کاره دي، خير، هغه ژبه کړې ده، چې نن ماښام دلته راشي.

سردار اندرې وپوښتل:

- نو دا د جګړې کړنلاره د سپيرانسکي پورې څه اړه لري؟

کوچوبيه وموسېد او سر يې وښوراوه. هغه چې د بالکونسکي سادګۍ حيران کړي و، دا سې زياته کړه:

- ځو ورځې د مخه مو له هغه سره د تا په اړه خبرې کولې او د تا له خوا د مريبانو د آزادۍ خبره هم ياده شوه.

يو بوډا چې د ټولواکې ايکاترينې د زمانې له لوړپوړو چارواکو نه و، سردار ته مخ وروا ړاوه او په سپکاوي يې له نه هغه وپوښتل:

- ښه سرداره ! دا ته وې چې خپل مريبان دې آزاد کړل؟

سردار په دې هيله چې بوډا لا پسې خوابدی او په قهرنه کړي او خپل دغه دريځ چې مريبان يې پريښي کمزوري وښيي، ځواب ورکړ:

- ځمکې خورا لږې او حاصل يې کم و.

بوډا کوچوبيه ته وکتل او وې پوښتل:

- ډاربږي چې د اوښتون له قافلې نه شاته پاتې نه شئ ! او ترلږ ځنډه نه وروسته يې وويل:

- زما په يوه خبره هېڅ سر نه خلاصېږي، مريبان خو دې پريښود ل اوس به کرکيله څوک کوئ؟ قانون جوړول خو آسانه کار دی، خود هېواد د چارو اداره خورا ګرانه ده، په هر حال زه له تاسو نه پوښتنه کومه ګرافه ! که ټول آزموينه ورکړي، څوک به د شورا مشر وي، څوک به د ادارو مشران وئ؟

کوچوبيه، پښه په پښه واړوله، ټولو ناستو کسانو ته يې وکتل او ځواب يې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه فکر کوم، هغه کسان چې په آزموینې کې بریالي شي.
- ښه، د ساري په توګه له ماسره پریا چنیکوف کار کوي، ویارمن سړی دی، په سرو زرو ارزي، هغه له شپیتو اوښتي، ایا هغه لاړ شي، آزموینه تېره کړئ؟
- هو کې، دا ستونزمنه خبره ده، ځکه د روزنې دودول زما په هېوا د کې ګرانه چاره وه، خو،...

ګراف کوچوبیه خپله خبره پای ته ونه رسوله. له خپله ځایه پاڅېد، د سردار اندرې لاس یې ونیو او د هغه لوري ونې، نیم طاس سري، ژیړځني، پراخ تندي او برند وروځي سړي مخ ته چې ددوی خوا ته روان و، ورغي... هغه د څلوېښت کالو بریښېده، شین بخون جمپر یې اغوستي، دصلیب نښان یې په غاړه او یو ستوري یې د ټټر په چپه خوا ټمبولې و. دا سړي هماغه سپیرانسکي و. سردار اندرې د سترګو په رپ کې هغه وپېژاند او ژوند ته د ګوانښمنو شېبه په شان یې څه په زړه کې رالمسېدل. خو دی په دې نه پوهېده چې د ده په زړه کې دغه رالمسېدونکي او ویښېدونکي احساس، له رخې و، که له انتظاره او یا د هغه درناوي له امله چې دغه سړي په چا کې راویښاوه. د سپیرانسکي څېرې ځانګړې بڼه لرله، چې د لیدو په لومړي شېبه کې پېژندل کېده. سردار اندرې په هغو ټولو بندارونو او غونډو کې، چې ده هلته تګ راتګ لاره، څوک په دې اندازه آرامه او ډاډمن نه و لیدلي...

هغه هېڅ چېرې، د هېڅ چا داسې اغېزمن کتل او هم مهاله هغه مهرباني چې د هغه له نیم پرانستو او لږ ولمدو سترګو نه ورېده، هغه دغه راز ژوره، خو صادقه موسکا چې کومه ځانګړې معنا یې هم نه لرله، هېڅ چیرې نه وه لیدلې. هغه دغه شان خوږ، صاف او آرام غږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره بيا دا سې ښکلې تانده ښېره، په ځانګړي توګه لاسونه، لږ سوروړ، خوړا پاسته، تاوده او سپين لاسونه، هېڅ کله نه و ليدلي...
سپيرانسکي څوک و؟هغه د بهرنيو چارو وزير، د ټولواک وياند، د هغه د لارې مل، چې له ده سره ايرفورت ته تللی و او څو ځله يې هلته له ناپليون سره ليدلي او له هغه سره يې خبرې کړې وې.

سپيرانسکي د هغه څه برخلاف چې په لويو غونډو او بنډارونو کې کېږي، نه يوازې هر چاته جلا جلا نه کتل، بلکې په خبرو کې يې هم تلوار نه کاوه. په خورا آرامۍ او ډاډ يې خبرې کولې، په دې ډاډمن و چې ده ته ټول غوږ غوږ دي او ده به هم يوازې هغه چاته کتل، چې ورسره غږېده.

سردار اندري په ځانګړي توګه د سپيرانسکي هرې خبرې او هرې خوځېدا ته ځير ځير و...

سپيرانسکي، کوچوبيه، ته وويل:

-له دې امله خواشيني څرګندوي چې ناوخته راغلی دی. هغه وويل چې په دربار کې ځنډېدلی دی، خو دا يې ونه ويل چې له ټولواک سره بوخت و، خو په ځان ښودنه کې د کمينۍ کچه د سردار اندري نه پټه پاتې نه شوه. کله چې کوربانه سردار اندري هغه ته وروپېژانده، سپيرانسکي په کراره خپلې سترګې د هغه ښېرې ته ورځير کړې، يوه شېبه يې په خندا خندا هغه ته وکتل او بيا يې وويل:

- تاسو سره له پېژند ګلوۍ نه خورا خوشاله شوم، ما د ټولو نورو په شان ستا په اړه ډېر اورېدلي دي.

کوچوبيه، په لنډه توګه د آراکچيېوف له خوا د بالکونسکي د منلو په اړه وغږېد. ددې خبرې په اورېدو د سپيرانسکي پرشونډو موسکا خپره شوه، هغه چې په کراره او آرامه غږېده، هر څپه او کلمه يې جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلا ادا کول:

- ښاغلي مګنيځکي د پوځي قوانينو د څانګې مشر زما نېږدې ملګري دي، که تاسو هيله لرئ زه کولې شم له هغه سره ستاسو پېژند ګلوي وکړم او د هرې جملې په پای کې يې لږ ځنډ کاوه...

ډېر ژر د سپيرانسکي شاوخوا ته يوه ډله جوړه شوه او هغه بوډا چې د خپل مامور پريانيچنيکوف د برخليک په غم کې و، هم له هغه نه پوښتنه وکړه. سردار اندرې هېڅ نه غږېده او په خبرو اترو کې يې ګډون ونه کړ. يوازې د سپيرانسکي او د هغه د غږېدا او خوځېدا څارنه يې کوله او هغه چا ته يې چې لا څو شپې د مخه د ده لپاره د ديني علوم د طالب نه زيات څوک نه و، او اوس يې د ده په اند د روسيې ټول برخليک د هغه په سپينو او پستو لاسونه کې ليد، په ځير کتل. بوډا ته د ځوابونه په لړ کې د سپيرانسکي بې ساري او له آرامي نه ډک ځوابونه سردار اندرې حيران کړي و. داسې برېښېده چې هغه خپلې خبرې له خورا لوړو څوکو هغه ته رالېږي، خو همدا چې بوډا خپل غږ له اندازې زيات اوچت کړ، سپيرانسکي وموسېد او وې ويل:

- دی ځان ته حق نه ورکوي، چې د ټولواک د ښو يا بدو په اړه قضاوت وکړي.

سپيرانسکي وروسته له هغه چې يوه موده، له مېلمنو سره پاتې شو، پاڅېد، د سردار اندرې پلو ورغي، هغه نه يې هيله وکړه چې د تالار کوزې خوا ته لاړشي. دا څرګنده ده، چې هغه غوښتل له بالکونسکي سره د زړه خواله وکړي.

په يوې نرمې موسکا چې د ملنډو نښې په کې ليدل کېدې، وويل:

- دغې تودې مرکې او خبرې اترې چې دغه درانه بوډا له ما سره پيل کړې،له تاسو سره خبرو ته پرې نښودم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپيرانسکي زياته کړه:

- زه ډېره موده کېږي چې تاسو پېژنم، لومړي خو ستاسو له خوا د کليوالو مريپانو پريښودل او آزادول، يوه غوره او بېلګيزه چاره وه او کاشکې نورو ځمکوالو هم ستا په شان کار کړي واى. دويم دا چې تاسو د ياورانو له ډلې نه هغه څوک ياستئ، چې د درباري امتيازاتو او درجو د لغو د فرمان سپکاوي مو نه دى کړئ، هغه مو بد نه دى ګڼلى او له هغه نه خوابدي نه ياستئ.

سردار اندرې وويل:

- هو کې پلار مې نه غوښتل چې زه له خپل دې حق نه ګټه واخلم او له ټيټو پوړو او رتبو نه کار پيل کړم.

- ستاسو پلار د زړينې پيړۍ سړي دي. داسې ښکاري چې هغه داوسنۍ زمانې تر وګړو د لوړو خيالاتو خاوند دي، نو ځکه د طبعي عدالت دغه جوړښت نه مني.

سردار اندرې چې هڅه يې کوله، د سپيرانسکي د خبرو د اغېز په وړاندې چې پر ده هم اغېز کوي، ودرېږي، وويل:

- خو زما په اند ، دغه نيوکې بې بنسټه هم نه دي.

سردار اندرې چې نه غوښتل په هر څه او د هر شي په اړه د هغه ټولې خبرې ومني، تکل لاره چې له هغه سره ناندرۍ پيل کړي...

هغه غوښتل چې د دغه پېژندل شوي شخصيت خبرې په ځير واوري، د هغه کړه وړه وڅاري، چې هغه ښه وپېژني. دغه کار د هغه ذهن او خيال سخت بوخت کړي و.

سپيرانسکي په آرامي وويل:

- بې بنسټه نه دي؟ کېداى شي، بنسټ يې د ښاغلو شهرت پالنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او تر یوه ځایه ملي ګڼي.
سپیرانسکي سترګې ښکته واچولې او وې ویل:
- ستا مو خه څه ده؟
سردار اندرې وویل:
- زه ښایي د مونتیسکوي مینه وال یم، د هغه دا اند ته چې درناوي او سپېڅلتیا د پاچاهۍ بنسټ ګڼي، بې له هرڅه منم، زما په اند د اعیانو او درباریانو ځینې امتیازونه او حقوق د همدې جوړښت ځینې بنسټونه جوړوي.
که څه هم د سپیرانسکي له سپینې څېرې نه موسکا کډه وکړه، خو هغه لا په زړه پورې شوه، دا سې ښکارېده چې د سردار اندرې ځینې خبرو یې پام اړولی دی. هغه په فرانسوي ژبه د هغه پوښتنو ته ځواب ویل پیل کړل، که څه هم څرګنده وه چې هغه له روسي ژبې نه په دې ژبه کې په ستونزو خبرې کوي، ولې بیا هم هماغه شان آرامه غږېده، هغه وویل:
- که له دې اړخه خبرې ته ځیر شو... هغه په دې اند و چې ویاړ او درناوي یو چا ته د امتیاز په ورکولو، نه شي ساتل کېدای. او د هغه دلایل ساده، روښانه او لنډ وو.
ټینګ، ویاړمن او پرتمین جوړښتونه چې د سیالۍ او پېژندنې سرچینې دي، باید د ستر ټولواک ناپلیون د "لژیون دونور" په شان د پرمختګ د اصلونو نه یو اصل وي، نه د کومې طبقې یا دربار امتیاز.
سردار اندرې وویل:
- په دې کې هېڅ شک نه شته، خو له دې نه هم سترګې پټولای نه شو چې درباري امتیازات هدف ته په رسېدو کې ښه اغېزمن وو. درباریان ټول هڅه کوي چې د خپل امتیاز وړتیا ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپیرانسکي وویل:

- خو تاسو په خپله له دې امتیاز نه لاس په سر شوي یاستئ.

هغه په یوې موسکا دا څرګنده کړه، چې غواړي هغه خبرې چې سیال یې په کې د ناآرامي احساس کوي، په مینه ناکه ژبه پای ته ورسوي، وې ویل:

- هیله کوم ما ته ویاړ راوبښئ او د چهارشنبې په ورځ، زما کره مهرباني راوکړئ. په هغه ورځ به ما له ګنیڅکي سره هم خبرې وکړو، زه هغه سره غږېدلي یم او هیله لرم چې د هغه خبرې به تاسو ته په زړه پورې وي. د دې ترڅنګ به مې دا ویاړ هم په برخه شي چې له تاسو سره پوره او د زړه له کومې د زړه خواله وکړم. هغه سترګې وترلې،د درناوي په نښه یې سر وښوراوه او په فرانسوي ښه یې بې له هغه چې مخه ښه وکړي او یا د چا پام ځانته ورواړوي، له تالاره ووت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

سردار اندرې په پترزبورګ کې د خپلې استوګنې په لومړیو وختونو کې داسې انګېرله چې د پلازمینې وړې او ناڅرګندې چارې، د هغه د خیالاتو هغې سپېڅلتیا ته تاوان رسوي چې ده د باندې په ساده ژوند کې ترلاسه کړې دي.

ماښام به چې کورته راستون شو، په ټاکلو وختونو کې به یې څلور پنځه کتنې لیدنې د خپل یادښت په کتابچه کې په نښه کړې. هغه نه کار کاوه او نه یې د څه شي په اړه فکر کاوه، ځکه هغه آن د فکر کولو لپاره هم وخت نه لاره... خو بیا یې هم خبرې ښې او پر ځای کولې.

کله به یې په خواښینې دې ته پام شو، چې یوه ځانګړې موضوع یې په څو مجلسونو کې طرحه کړې او پرې غږېدلی دی...

سپیرانسکي د چهارشنبې په ورځ په خپل کور کې له هغه سره کېناست او د اوږدې مودې پورې یې، له هغه سره یوه په یو د زړه خواله وکړه. دغې کتنې هم لکه د لومړې کتنې په شان چې کوچوبیه د کور په څېر پر بالکونسکي ډېره اغېزه وکړه.

هغه کسان چې د سردار اندرې تر نظره سپک او بې اندېښنې ورتلل، خورا زیات او بې شمېره وو، نو ځکه یې هڅه کوله، هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمال ارمان په هر چا کې پیدا کړي چې دی یې د سرته رسولو لپوال و ،نو ځکه یې په ډېرې آسانۍ وکولی شو ، چې سپیرانسکي د پوره او هوښیار انسان د بېلګي په نامه ومني.

که سپیرانسکي د هماغه ټولنيزې ډلې وای چې سردار اندرې و ، که هغه د هماغه ډول روزنې او اخلاقي دودونو خاوند وای، لکه دی، نو کېدای شو چې بالکونسکي ژر تر ژره د هغه د انساني ناتوانیو او ټولنیز شخصیت کمزورو ټکو ته پام شوی وای. خو اوس د سپیرانسکي حیرت پارونکی عجیب منطقي تفکر په ده کې هغه ته خورا ژور درناوی راپاراوه، په تېره بیا له دې کبله چې هغه د ده په دې ډول خیالاتو او تفکر پوره پوهېدای نه شو. کېدای شي، سپیرانسکي له دې امله چې د سردار اندرې د استعداد او توان درناوی یې کاوه او یا له دې کبله چې ویې کولای شو، د هغه د دوستۍ ویاړ وګټي، یوازې سره کیني او د زړه خواله وکړي. سپیرانسکي په پوهې او فضیلت، پیاوړي تفکر او خپل له تعصب نه آزادو خیالاتو سره هڅه کوله، هغه دځان خواته راوکاږي.. دا په دې معنیٰ چې په پټه خوله یې ځان او هغه، یوازیني کسان ګڼل چې کولای یې شول، د نورو ناتواني او حماقت وغندي او د یو بل د ژورو اندېښنو او هوښیاري درناوي وکړي. سپیرانسکي له سردار اندرې سره د چهارشنبې په ماښامنۍ اوږدې کتنې کې په وار وار سره د "زموږ" په کلمې ټینګار کاوه، د ساري په توګه هغه ویل:

ـ خلک زموږ ټولو هغو کړو وړو ته ګوري چې له ورځنی دود دستور او حالاتو نه لوړ او یا ښکته وي...

یا به یې په موسکا ویل:

ـ ولې موږ غواړو، دا سې لاره ولټوو چې لېوان ماړه وي او رمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړه وي... یا دا چې: هغوی نه شي کولای په موږ پوه شي... دغه ټولې خبرې په داسې یوې ژبې کېدې چې، ښودنه یې کوله:

ـ موږ پوهېږو چې هغوی څوک او موږ څوک یو...

له سپیرانسکي سره دغو اوږدو خبرو اترو یوه پایله لرله او هغه دا، دده هغه احساس یې لاپسې پیاوړی او ژور کړ، چې تر لومړې کتنې نه وروسته د سردار اندرې په زړه کې پیدا شوی و. سردار اندرې ته دا ځرګنده شوه چې هغه یو منطقي، خورا هوښیار او په اند ښېښو او تفکر کې ډېر سختګیر دی، په پرله پسې زیار او هلوځلو واک ته رسېدلی و او خپل دغه واک یې له روسیې نه د چوپړ نه ځاروه.

سپیرانسکي، د سردار اندرې په اند، هماغه څوک و چې ده غوښتل دی خپله دهغه په شان واوسي. هغه څوک چې د ژوند ټول اړخونه یې په خورا هوښیارۍ سپړلي او پرته له عقله، بل څه نه مني .هغه هر څه د عقل په تله تلل. خورا پېچلې خبرې یې په داسې آسانۍ او سادګۍ سپړلې چې سردار اندرې نابېره د هغه هره خبره، منله او ملګرتیا یې کوله. هغه که په کومه خبره نیوکې کولې، دا یوازې ددې لپاره و چې د خپلې ذهني خپلواکۍ درناوی وکړي او په ټولو برخو کې د سپیرانسکي تر اغېز لاندې رانه شي. د هغه هر څه سم، ښکلي او د پام وړ و، خو هغه څهٔ چې سردار اندرې یې خواشیناوه، نه یوازې د سپیرانسکي ساړه هینداریز کتل و، چې د هغه زړه نه یې د خبرېدو لار بدلوله، بلکې د هغه سپین او ښکلي لاسونه و چې سردار اندرې بې ارادې هغو ته پرله پسې کتل، هغه شان چې ساده خلک د واک لرونکو خلکو لاسونه ته ګوري. همدا هینداریز کتل او سپین ښکلي لاسونه هغه څهٔ و چې سردار اندرې یې عصبي کاوه. هغه څه چې په سپیرانسکي کې د سردار اندرې د تعجب او حیرانتیا وړ و، هغه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې خلکو ته په بې ساری توګه د هغه په سپکاوي کتل، بلکې هغه لارې چارې او بېلابېل دلایل وو، چې د خپل نظر د عملي کولو لپاره یې له هغه نه کار اخیسته...

سردار اندرې له سپیرانسکي سره د خپلې پېژند ګلوۍ په لومړنیو وختونو کې هماغه شان د هغه لېوال و، لکه هغه لېوالتیا چې ده یو وخت له بناپارت سره ښودله... هماغه لومړی شپه چې بالکونسکي د سپیرانسکي کورته ورغی او خبرې د پوځي مقرراتو جرګه ګۍ ته ورسېدې، سپیرانسکي په ملنډو سردار اندرې ته وویل چې یو سلو پنځوس کاله د دغه جرګه ګۍ له عمره تېرېږي، په میلیونو روبله خرڅ پرې شوي دي، خو د روزنکاف له پرتله ایز قوانینو پرته، بل هېڅ کار په دې برخه کې شوی نه دی. هغه زیاته کړه:

- دولت، په میلیونو روبله خرڅ کړي دي، خو پرته له همدې نه بل هېڅ ځه ترسره شوي نه دي. موږ غواړو، مشرانو جرګې ته نوي واکونه وسپارو، خو ددې لپاره قانون نه لرو، نو له همدې امله دا به ستاسو په شان خلکو لپاره لویه ګناه وي، چې د دولت له خدمت نه لرې دي.

سردار اندرې وویل:

ـ ددې کار لپاره، حقوقي زده کړې په کار دي او زه له هغو نه بې برخې یم.

ـ نو څه غواړئ؟ هېڅ څوک یې نه لري. دا یو کوډې وهلي کړی ده، چې باید ځان ترې وژغورو.

****

یوه اونۍ وروسته و چې سردار اندرې د پوځي قوانینو د جرګه ګۍ غړی شو او هغه څه چې ده یې په تمه نه و، هغه دا و چې، هغه ته د دغې جرګه ګۍ د یو ډلې مشري هم وسپارل شوه. هغه د سپیرانسکي په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غوښتنه د مدني قوانینو دلومړۍ برخې د جوړولو مسوولیت چې کار پې روان، په غاړه واخیست. هغه د ناپلیون او جوسي نین پر بنسټ، د فردي قوانینو په جوړولو پیل وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

پيير، په ۱۸۰۸ کال کې، چې څه کم دوه کاله پخوا له خپلو جايدادونو نه تر سفر وروسته راستون شو، بې له هغه چې دی يې هيله ولري، د ده د ارادې نه پرته د پترزبورګ د فراماسونانو د ټولنې مشر شو، هغه خوړنتونونه پرانستل، نوي نوي غړي خپلې ټولنې ته رابلل او د ددغې ټولنې، دبېلابېلو ډلو د يو والي لپاره يې هلې ځلې کولې. د پخوانيو اسنادو اصلي نسخې يې راټولولې، په خپلې پانګې لمانځتونونه جوړول او د امکان تر اندازې پورې يې د خپلې ډلې د هغو کسانو پر ځای، چې نه يې شو کولای د خپل غړيتوب پيسې ورکړي، له خپله جېبه پيسې ورکولې. هغه په پترزبورګ کې د بې وزلو لپاره د جوړې شوې خونې ټول خرخ يوازې له خپلې پانګې ورکاوه.

دې سره همهاله، د هغه ژوند لکه د پخوا په شان په خپل ډول روان و. عياشي، عيش و نوش. د هغه ښه خواړه، پريمانه څکل خوښېدل او سره له هغه چې له نامحرمه ښځو سره يې معاشرت ګناه او غير اخلاقي چاره ګڼله، مګر تل به يې د خپلو مجردو دوستانو د عياشي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنداړونو کې ګډون کاوه.

هغه د خپلو ټولو چارو او په ورځني ژوند کې د مشرۍ د درلودلو سره سره، کرار کرار دا احساسوله چې د فراماسونۍ هغه بنسټ چې دی پرې ولاړ دی، د ده د هلو ځلو سره سره نه یوازې ټینګېده نه، بلکې ورځ تر ورځې یې د ړنګېدو احساس کېده.

خو سره له هغه چې ده دا احساسوله چې د هغه تر پښو لاندې دغه ولاړه ځمکه چې دی پرې ولاړ دی ښوییږي، مګر هغه خپل اړیکې په خورا درناوي لا هغه سره پیاوړې کول.

له هغه وخته چې دی د فراماسون د ټولنې غړی شوی و، د هغه چا حالت یې درلود، چې په خورا باور پر یوې ناولې جبې (خټو) روان وي او کله چې یې یوه پښه په کې ډوبه شي، د خپل توان د آزمایلو لپاره بل ګام هم اخلي، وړاندې درومي، او لا پسې په کې ډوبیږي او سره له هغه چې اوس د هغه دواړه پښې ترځنګنو پورې په دغه ناولو خټو کې ښښتې وې، خو بیا هم ده په ډېرې ناهیلۍ خپل تګ ته دوام ورکاوه.

یوسف الکسوویچ په پترزبورګ کې نه و. هغه په دې وروستیو وختونو کې د پترزبورګ د فراماسون د یوې ډلې مشري پرېښې وه او زیاتره وخت یې په مسکو کې تېراوه. د دغې ډلې مشران هغه کسان وو چې پییر په ورځني ژوند کې هغه پېژندل او نه یې شو کولای هغو ته د شهزاده ب. یا د ایوان واسیلوویچ پر ځای معمار ورونه، ووایي. که څه هم هغوی ټول ده د تنبلو او بې وزګارو خلکو په توګه پېژندل، خو هغوی به د فراماسون د ټولنې ځانګړې جامې اغوستې، د دغې ډلې نښانونه او نورې نښې چې په زیاتې خوارۍ یې ګټلې و سره ځړول او په غاړه کې یې صلیبونه اچول. زیاتره وخت به چې اعانه راټولیده، د پییر به دې ته پام شو، چې د دوی د یولس کسیزه ډلې (لژ) څو تنه غړي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمنۍ کې تر ده خوار نه وو، په ګډه متې شل د پرش روبله ورکولې او کله کله خو به یې یوازې د هغو د ورکولو وعده ورکوله او بس. د دغو کړوړو په لیدو به هغه ته هغه ماسوني قسم وریاد شو چې هر ماسون یې دې ته ګماره چې خپله ټوله شتمنۍ تر خپلو نېږدې کسانو ځار کړي. د همدې خبرو لمسون به کله ناکله په ده کې د شک او تردېد زړي رازرغونول، خو هغه هڅه کوله په هغو سترګې پټې کړي.

د دغې ډلې ټول ورونه چې ده پېژندل، هغه یې په څلور ډلو ویشل:

لومړنې یې هغه ډله وه چې نه یې د لومړنیو ډلو (لوژ) چارې تر سره کولې، نه یې د خواخوږۍ په چارو کې ګډون کاوه، بلکې یوازې په روحاني رازونو کې ډوب و او د خدای د درې ګونو نومونو او د نړۍ د جوړښت د لومړنیو درې ګونو شیانو، چقمق، جیوه او مالګې په مسایلو او... لګیا وو.

پېیر د ورونو د دغو ډلو ډېر درناوی کاوه او د عمر خوړو زیاتره ورونه یې چې یوسف الکسوویچ هم د هغو یو تن و، د همدې ډلې شمېرل. هغه د هغو په دغو عقایدو کې ځان ځکه شریک نه ګاڼه، د ماسوني د جوړښت له عرفاني اصولو سره یې لېوالتیا نه درلوده.

ځان او ځان ته ورته ورونه یې ځکه د دویمې ډلې غړي ګڼل چې دوی لا په ماسوني جوړښت کې، هغه لار چې د عقل له تلې سره برابره وي، نه وه پیدا کړې او هیله یې لرله چې دغه ارمان به یې ترسره شي.

دریمه ډله هغه ورونه و چې د ماسوني جوړښت په مراسمو او د هغو پر بڼکلو او پرتمینو تشریفاتو یې زړه تړلی و، خو د هغه د روان او روح پروا یې نه ساتله. دغه ډله چې د شمېر له پلوه تر نورو زیاته وه، پېیر، ویلارسکي او آن د لوژ (یا لومړنۍ ټولنې) مشر استاد هم د دغې ډلې غړي ګڼل. او په پای کې څلورمه ډله هغه ورونه وو، چې زیاتره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـه کسـان و چې نـوي يـې د غـه لاره غـوره کـړې وه. د پـيـير پـه انـد د غـه ورونه د خپلې ټولنې په يوه اصل هم ايمـان نـه لاره، جذبـه يـې نـه لرلـه او يوازې په دې هيله د دغې ټولنې غړي شوي وو، چې په دې ټولنې کې لـه ځوانـو بـډايو غړيـو سره چې شمېر يـې لـږ هم نـه و، آشنا او د هغـو نـه مرستې تر لاسه کړي. پيير کرار کرار په دې لاره او عقيدو کې، لـه خپلـو هلوځلونه پښيماني او ناخوښي ښکاره کړه. کله به يې آن دغه لاره چې پـه روسيه کې ورسره آشنا شوي و، چور بې معنیٰ او دوکې نه ډک ګڼله. کـه څه هم پيير دا تصور نه شو کولای، چې د دغـه جوړښت پـه اړه شـکمن شي خو دا فکر يې کاوه چې، د روس ماسوني غورځنګ بې لارې او لـه خپلو لومړنيو سرچينونه، نه لرې شوی دی، نو لـه دې کبلـه د کـال پـه وروستيو ورځو کې بهرته لاړ، چې خپـل روحي هڅې د لوړ عـالـم د راز سپړلو ته وګماري.

***

د ۱۸۰۹ کال په اوړي کې پيير بېرته پترزبورګ ته راستون شو. زمـوږ ماسونان، له خپلو بهرنيو هملارو د ليکونو له لارې نه دا سې خبر شـوي وو، چې پيير بيزاوخوف پـه بهر کـې د دغـه جوړښت د خورا لوړپوړو غړو او مشرانو باور او خواخوږي تر لاسه کړې، له لوړو رازونـو نـه خبر شوی او کېدای شي، په دې نظام کې غوره پوړوتـه ورسېږي، نـو لـه دې کبلـه هغـه بـه لـه خـورا سـترولاس تـه راوړلـو سـره د دغـه جوړښـت د لا پرمختګ او غوړتيا لپاره روسيې ته راستون شي.

د راستنېدو سره سم، د پترزبـورګ ماسونان هغـه تـه ورغلـل، ټولـو هغه ته د مرستې او لارښوونې هيله ښکاره کړه. خو داسې يې انګېرلـه چې هغه کوم راز له دوی نه پټوي او د کوم نوي کار په تکل کې دی.

پرېکړه وشوه چې د دويمې کچې د يوه (لومړنۍ کړۍ) لـوژ پرتمينـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه جوړه شي. پېير وعده کړې وه چې په دې پرتمينې غونده کې به د دغې وروزګلوۍ د ټولنې د لوړو مشرانو يو پيام د پترزبورګ ورونو ته اوروي. د وروګلوۍ د ټولنې ټول غړي راغلي وو. پېير تر ځانګړو تشريفاتو وروسته پاڅېد او خپلې خبرې يې پيل کړې.

هغه چې خپله ليکل شوې وينا په لاس کې وه، رنګ يې تک سور اوښتی و او ژبه يې لړ اوښته ،وويل:

ـ ګرانو ورونو !

آرامه او له رازه په ډک لوژ کې، د سپېڅلو مناسکو سر ته رسول، پوره کار نه دی، بايد کار وکړو... کار. موږ ټول ويده شوي يو، بايد راويښ او کار وکړو. هغه خپله کتابچه را واخېسته او په لوستلو يې پيل وکړ:

ـ د رښتيني حقيقت د خورېدو او د پوهې د رڼا د برې لپاره، بايد انسانان له ناولتيا پاک او دهغو د روح د بهېر قوانين د زمانې د روح له غوښتنو سره برابر او هر پلو خواره کړو، د ځوانانو د روزنې او پالنې لارښوونه وکړو، د پوهې او د ژور حکمت له خاوندانو سره اړيکې لا پسې ټينګ، په مېړانې او غوره اند ښښنې سره د جهالت الحاد او خرافاتو په وړاندې ودرېږو او خپل هغه دوستان، چې د واک په خلکو کې د خواخوږۍ وړ او وفادار دي، سره يو کړو.

دغه هدف ته د رسېدو لپاره بايد خواخوږي او مهربانه وواسو، په سستۍ او بدبينۍ لاس بري شو. بايد هڅه وکړو چې ښه خلک او پرهيزګاران خپل حق په همدې دنيا کې تر لاسه کړي. خو سياسي ډلې، موږ له دغې روښانه او ځلېدونکې لارې نه بې لارې کوي. نو په دغه حالاتو کې بايد څه وکړو؟ ايا د انقلاب لپاره کار وشي او د زور کلي په زوروران شي؟... نه، موږ به په دې لاره لاړ نه شو، دا زموږ لاره نه ده. هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اصلاحات چې د زور له لارې ترسره شي، هغه د درناوي وړ نه دي، ځکه تر هغه پورې چې انسانان خپله اصلاح شوي نه وي، هېڅ توان نه شي کولای د اهریمن د ناولتیاو او بدیو د مخې خنډ شي، نو ځکه عقل زور زیاتی ته اړتیا نه لري.

د غوره نظام بنسټ باید پر هغه څه ودرېږي چې په هغه کې انسانان ارادتمند، سپېڅلې اندې او عقاید یې د یووالي له مینې ډک وي. دوی باید په دې ګروهمن وي چې هرځای یې باید په خپل قوت سره د دوکو او جهالت جرړې ویستل شي او پرځای د هنر او پوهې رڼا وځلېږي. رښتیني خلک د سپکو او بد زړو له منګلو وژغورل شي او د ورونو ټولنې ته راوستل شي. یوازې دغه وخت کېدای شي، زموږ ټولنه او جوړښت خپل هغه لازم توان ترلاسه کړي، چې د فساد او ناولتیا لاسونه په خورا کراری لنډ کړي.. لنډه دا چې داسې یو پیاوړی او له هر پلو واکمن نظام رامنځ ته شي، چې د واک لمن یې پر ټوله نړۍ خوره شي، پرته له هغه چې د مدني اړیکو مزې وشلېږي، حکومتونه باید خپلې ورځینۍ چارې تر سره او له هر ډول اغېزونه خپلواک وي. دغه حکومتونه باید عالي هدف ته یعنې پر تیارو او ناولتیاو بري، کې زموږ د هلوځلو خنډ نه شي. مسیحیت هم له دغه ارمان پرته بل هدف نه لاره، خپله مسیح هم د پوهې او نیکۍ زده کړې کولې. هغه موږ خلکو ته دا لار ښودله چې عاقل او مهربانه واوسو او د خپلې نیکمرغۍ لپاره د پرهیزګارانو او هغو کړو او ویناوې خپل ورځنۍ کړنلاره کړو.

هغه وخت چې د نیا د ناپوهي په سمندر کې لاهو وه، دژغورنې لپاره یې دا تشې ویناوې بس وې، د رښتیا لاره نوې وه او همدا نوي والي، هغې ته قوت ورکاوه. خو نن موږ قوي او پیاوړو وسایلو ته اړتیا لرو. نن د احساساتو په سیند کې لاهو او برمته شوي انسان باید د پوهې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رڼا و ګاڼل شي. اوس د شوقونو او هیلو مخه نیوي نه شو ، هغو ته باید سپیڅلو ارمانو ته د رسېدو پلو لارښود نه وشي. دغه راز هر انسان باید وکولای شي د یاغي شهوت مخه ونیسي او د اخلاقو په اډانه کې هغه مهار کړای شي... که موږ په هر هېواد کې څو دغه شان سپیڅلي هېوادوال ولرو ، او بیا د هغو هر یو په خپله دوتنه نور وروزي، دا چاره همداسې مخکې لاړه شي او دغه وګړي بیا خپل منځ کې ښه اړیکي او یووالي ولري، هغه وخت به زموږ د وروګلوۍ د ټولنې د بري لپاره هر څه برابرېږي او اوس هم د بشر د نیکمرغۍ لپاره په پټه ډېر کارونه شوي دي.

دغې ویناوې په دې غونډه کې نه یوازې ښه اغېز لاره ، بلکې سخت غبرګونونه او شروشور یې هم جوړ کړ. زیاتره ورونو د پېیر په دې وینا کې د نویو اشراقیانو ( پر زړه د معرفت د نور ځلېدل، د زړه تزکیه او سپیڅلوالي ) د ګواښمنو خیالونو نښې نښانې پیدا کړې او د هغې هرکلي یې ونه کړ. پېیر دې کار هک حیران کړي و ، تر ټولو نه مشر استاد د هغه په وړاندې ودرېد او پېیر د خپلو خیالو په شننه کې دم په دم تودېده. ډېر وخت کېده چې غونډې داسې له نانداریو او شوره ډکې نه وې. غونډه په ډلو وویشل شوه ، یوې ډلې پېیر اشراقي ګاڼه او بلې د هغې پلوی کوله. په دې غونډه کې و چې پېیر د لومړي ځل لپاره د انسان د ذهن هر اړخیزتوب نه په حیرت کې شو او په دې پوه شو چې هېڅ ډول حقیقت د دووتنو په ذهن یو ډول اغېز نه کوي. آن د هغې ډلې ځینو غړو چې د ده پلوی یې کوله، هر یو په خپل ډول او د خپلو هیلو سره برابر د خبرو شننه کوله، داسې شننه چې په خپله د پېیر لپاره هم د منلو وړ نه وه...

د غونډې په پای کې، مشر استاد له ملنډو نه په ډکه ژبه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيزاُوخوف نيوکې وکړې او وې ويل چې د هغه په وينا کې نه پوهې سره د مينې او لېوالتيا ، بلکې مشرى، ته د رسېدو مينه زياته ځرګنده وه. پېير هغه ته ځواب ونه وايه، خو په لنډه توګه يې وپوښتل، چې ايا د ده وړانديز به ومنل شي کنه؟ هغه ته يې سره وويل: نه، نه منل کېږي. همدا چې د نه ځواب يې واورېد ، بې له هغه چې د دود سره سم تشريفاتو ته سترګې په لاره شي، له لوژ نه ووت او کورته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

پېير بيا په هغو غمونو کې ډوب شو چې دي ډېر ترې ډاريده. هغه په لوژ کې تر وينا لا دړې ورځې وروسته هم په کټ کې پروت و، له کوره د باندې نه وت او هلته يې هېڅوک نه منل او نه يې له چا سره کتل.

په همدې وخت کې و چې له خپلې ښځې نه يې يو ليک ورته راورسېد او هغې په ليک کې زارۍ کړې وې، چې يو وار ورسره وګوري، هغې په ليک کې ليکلي و، چې ده .ډېره پسې خفه شوې ده او هيله لري، چې خپل ټول ژوند تر ده نه ځار کړي.

هغې د ليک په پای کې ليکلي و چې اوس په بهر کې ده او ډېر ژر به پترزبورګ ته راستنه شي.

د ليک تر رارسېدو وروسته، د پېير لپاره خورا د حيرانتيا وړ خبره دا وه چې د ورورګلوۍ د ټولنې نه يو تن، چې پېير يې چندان درناوي نه کاوه، د ده کور ته راغي او په خپلو خبرواترو کې يې خبره کورني ژوند او د مېړه ښځې اړيکو ته ورسوله او وې ويل چې د ښځې په وړاندې د پېير غوره شوي دريځ له عدالته لرې او د ورورګلوۍ د ټولنې د يو اصل سره چې پښېمانه ګنهکار بايد وبښل شي، مخالفت لري.

په همدې وخت کې د هغه خواښې، د سردار واسيلي مېرمنې يو څوک پېير ته راولېږه او له ده نه يې هيله کړې وه، آن که يو څو دقيقې هم وي، د هغې ديدن ته ورشي، ځکه هغه غواړي د يوې خورا مهمې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه ده له سره وغږېږي.

پېير په دې پوه شو چې د ده په وړاندې کومه دوکه روانه او غواړي چې دی له ښځې سره پخلا کړي، خو په هغه حالت کې چې دی اوس و، هغه د دغه شان دوکې هېڅ پروا نه لرله، او آن بده هم پرې ونه لګېده. د هغه لپاره په ژوند کې هېڅ شي زيات اهميت نه لاره، هغه خواشيني چې پر ده لاس برې وه او دی يې زوراوه، نه د خپلې آزادي او نه خپلې ښځې ته د سپکاوي او جزا ورکولو لپواله و. له ځانسره يې ويل:

-نه څوک حق داره دي او نه څوک ګنهکاره ! نو ځکه زما ښځه هم بايد ګنهکاره ونه شمېرل شي !

خو د پخلاينې لپاره يې د خپلې ښځې وړانديز هم ځکه ونه مانه، چې پر ده د غم پروت درانه پېټي ،له ده نه د هرې پرېکړې، توان اخيستي و. که ښځه يې ده ته راغلې وای، ده نو اوس هغه بيرته نه شړله. ايا په هغه حالت کې چې اوس پېير ژوند کاوه، له ښځې سره ژوند او يا له هغې سره نه ژوند ، د ده لپاره کوم اهميت لاره؟ هغه پرته له هغې چې خپلې ښځې يا خواښې ته د هو يا نه ځواب ووايي، څو ورځې وروسته يوه شپه ناوخته د سفر پېټي وتړل او د مسکو پلو ته ځکه لاړ چې هلته يې له يوسف الکسيوويچ سره د ليدو هيله لرله. هغه د ياددښتونو په خپله کتابچه کې ليکلي و:

مسکو –د نوامبر ۱۷ مه

همدا اوس د خير خواه او نيک انديښن له کوره راغلم او هغه څه مې چې د هغه له کتنې احساس کړي، ليکم:

يوسف الکسيوويچ په خورا بې وزلۍ کې ژوند کوي او دا درې کاله کېږي چې په ناروغۍ اخته دي، خو په دې ټوله موده کې د هغه ګيله يا شکايت چا اورېدلي نه دي. له سهار تر نيمو شپو پورې، پرته له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چې څو شېبې ډوډۍ وخوري، نور ټول وخت پرله پسې علمي کارونه کوي. زما يې ډېر تود هرکلي وکړ او د خپل خوب په کټ يې کېنولم، ما د ختيځ او د بيت المقدس د مېړنو او باتورانو په نښه ويادوه او ده هم په داسې حال کې چې ماته همداسې اشاره کوله، له مينې نه په ډکه خندا له ما نه وپوښتل:

-په پروس او اسکاتلند کې دې د ورورګلوۍ د ټولنو نه څه زده او څه حقايق دې تر لاسه کړل؟

ټولې خبرې مې هغه شان چې کولای شوې، ورته وکړې او هغه څه مې چې د سنت پترزبورګ غونډې ته اورولې و، ورته وويل. د پترزبورګ په غونډه کې د بې ساري تاوده هرکلي او د هغه سيالۍ نه چې بيا په دې غونډه کې د ګډوډنکوونکو او بيا د هغو او زما ترمنځ پيدا شوه، خبر کړ. يوسف الکسيوويچ ددې خبرې تر اورېدو وروسته، ښه په خيالونو او فکر کې ډوب او چوپ شو، بيا يې ددې ټولو په هکله د خپل اند په شننه پيل وکړ او راته وې ويل: ما ته په يوه شېبه کې زما لارې تېروختونه او راتلونکې تګ لاره ښرګنده شوه. هغه زه په خپلې دې پوښتنې چې ايا زه د دغې ټولنې په درې ګونو اهدافو پوهېږم؟ حيران کړم. هغه دا درې ګونه ټکي راته وويل: -لومړي، په رازونو خبرتيا او د هغو ساتنه. -دويم، د رازونو د درک لپاره د ضمير، نفس او تهذيب سپېڅلتيا. او درېيم، په دغه لاره کې د رښتينو هلوځلو له لارې د انسانانو د زړونو او روان پاکول. بيا يې وپوښتل چې په دغو درې ټکو کې کوم يو تر نورو غوره دی؟ او خپله يې ځواب ورکړ: البته چې د ضمير سپېڅلتيا او له ناولتياو نه د هغه لرې ساتل. يوازې په همدې لاره کې موږ کولای شو چې له هر شرط او بند نه د تل لپاره آزاده واوسو. خو ددې ترڅنګ دغه هدف ته رسېدل، د ډېر هلوځلو ته اړتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، کله هم د کبر او غرور له امله دي، چې شيطان موږ بې لارې کوي او هدف ته د رسېدو نه مو مخنوي کوي. يا کله چې لومړي پړاو د راز پيژندنې ته رسېږو د ضمير او روان د ناولتيا له امله هغه ته د رسېدو توان نه لرو ، يا کله چې د بشر پالنې اولاربښوونې هڅه کوو ، خپله د ناولتيا او فساد بېلګه ګرځوو. هغه اشراقيون چې ته د هغو په اړه غږېږې، هغه لا د اړيکو نه آزاد نه دي او د کبر بوټي دي.

له همدې کبله يې زما پر وينا نيوکې وکړې او زما ټول کړه وړه يې وغندل. ما د هغه ټولې خبرې د زړه له کومې ومنلې، خو کله چې خبره زما کورنۍ ژوند ته راورسېده، وې ويل:

-ديوماسون، تر ټولو نه غوره دنده لکه هغه شان ما درته وويل، په ځان کار کول او کمال ته رسېدل دي. خو موږ تل داسې تصور کوو ، چې له ستونزو تېښته، موږ دې هدف ته رسوي، حال دا چې ګرانه ! يوازې د ژوند په کړکېچن اخ و ډب کې دي چې موږ کولای شو دغو درې اصلي موخو ته ورسېږو:

١ -ځان پېژندنه، انسان يوازې له نورو سره د پرتلې له لارې ځان وپېژني.

٢ -کمال ته رسېدل، چې يوازې د رياضت له لارې ترلاسه کېږي.

٣ -فضيلت ته رسېدل چې له مرګ سره د مينې له لارې ور ورسېږو.

يوازې د ژونده لوړه ژوره او د هغې بې ثباتي کولې شي د هغې بې ګټې والي موږ ته څرګند کړي. له مرګ سره لېوالتيا او مينه د بل ژوند هيله زموږ په زړه کې راټوخنوي. د يوسف الکسيوويچ دغه خبرې څکه په زړه پورې وې چې هغه د خپلې ناروغي او سختو دردونو سره سره، هېڅکله له ژوند نه بېزاره شوی نه و ، که څه هم زړه او روح يې سپېڅلي دي خو نه يوازې ځان لا د مرګ وړ نه ګڼي، بلکې هغه ورته ګران دي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پترزبورګ د نوامبر ۲۳ مه

بیا له خپلې ښځې سره اوسم. خوابښې مې په ژړا راغله او وې ویل، چې ایلن دلته راغلې او په دې یې ټینګار کاوه چې هغه له بېګناه ده، هغه ده سره تر جدایۍ نه وروسته بدمرغه ده او داسې نورې نورې خبرې. زه په دې ښه پوهېدم که یوازې له هغې سره کتنه ومنم، په ځان کې نو بیا د هغې د نورو هیلو د نه منلو توان نه وینم. د همدې شکونو په ځپو کې لاهو وم او نه پوهېدم له چا سره مشوره وکړم، له چا نه مرسته وغواړم، که خیرخواه مشر مې دلته وای، هرومرو به یې راته ویلې وای چې څه وکړم. ځان باچا، زړه مې وزیر کړ، سره وغږېدو او د یوسف الکسیوویچ لیک مې راواخېست، هغه مې بیا ولوست، له هغه سره مې خپله د زړه خواله رایاده کړه، له دې ټولو نه مې وروسته پرېکړه وکړه، چې د یوه اړتیا وړ چا سره، هغه هم له هغه چا سره چې له ما سره داسې ژور اړیکې لري، مرسته وکړم، زه باید د خپلو ګناهونو پېټې خپله یوسم. خو که زه هغه ببښم دا زما فضیلت ته زما درناوي دي او له هغې سره زما یوځای کېدل یوازې روحاني موخه ولري. دا پرېکړه مې وکړه او د هغه په اړه مې یوسف الکسیوویچ ته ولیکل. ښځې ته مې وویل چې هیله لرم، ټولې زړې او پخوانۍ خبرې هېرې کړي. هر هغه تېروتنه مې چې د هغې په وړاندې کړې، هغه وبښي، هغه د ځان په وړاندې ګنهکار نه ګڼم چې د ببښنې خبره رامنځ ته شي. کله چې مې دا خبرې وکړې، داسې مې انګېرله، یو دروند پېټی مې له اوږو کوز شوی دی. پربېږدئ هېڅکله په دې پوه نه شي، چې د هغې بیا لیدنه پرما څومره سخته تمامه شوې ده.

د لوی کور په دویم پوړ کې مېشت شوي یم او د ژوند د بیا نویوالي نه ځان بې پایه نیکمرغه ګڼم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

د تل په شان، په هغه وخت کې هم لوړې او د اعیانو ټولنې په لویو مېلمستیاوو او بنډارونو کې سره راټولېدل. د غو مېلمستیاوو او بنډارونو هر یو خپله ځانګړتیا لرله. د دغو ډلو نه تر ټولو غوره، د ناپلیون فرانسوي ټولنه وه چې د ګراف روما یانځوف او کولین کیورت له خوا جوړه شوې وه. ایلن چې خپل مېړه پییر سره پخلا او په پترزبورګ کې مېشته شوې وه، په همدې کړۍ کې یو غوره ځای غوره کړی و. د فرانسې د سفارت ځینو غړو او ډېر نورې پېژندل شوي څېرې چې په پوهې او نیکي کې یې نوم لاره او د دې لارې لارویان ګڼل کېدل، د هغه په کور کې راټولیدل.

ایلن د دارفورت په ښار کې، د دواړو ټولواکو د کتنې په وخت کې، په هماغه ښار کې وه، هغې د ناپلیون له پلویانو او د اروپا له پېژندل شویو او اغېزمنو ټولنیزو شخصیتونو سره پېژند ګلوي او ځانګړې دوستي پیدا کړې او ښه نوم یې ګټلي و. په خپله ناپلیون هم هغه په تیاتر کې لیدلي و، د هغې پوښتنه یې کړې وه او د هغې ښکلا یې ستایلې وه. ایلن د ښکلې او د ښو جامو اغوستونکې ښځې د نوم په ګټنې، پییر حیران نه کړ، ځکه ایلن د کلونو ګوزارونه له پخوا لا ښکلې کړې وه، خو هغه دې ته حیران و چې هغې په دې دو کلونو کې د «زړه راښکونکې» نوم ګټلي و. زړه راښکونکې ښځه ځېرکتیا یې له ښکلا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمه نه وه، پېژندل شوي شهزاده دیلیګن، هغې ته په اتو مخونو کې یو مینه ناک لیک لیکلی و. بېلېبین هڅه کوله، ښکلې جملې او خبرې ددې لپاره راټولې او وساتي، چې بیا د لومړي ځل لپاره له مېرمن بیزاوخوف سره د کتنې په وخت کې وروا وروي. د ګرافینې بیزاوخوفې مېلمستیا تـه لاره موندل، د ویاړ او پېژندنې غوره نښه ګڼل کېده. ځوانانو به د ایلن مېلمستیا ته د ورتګ نه مخکې ددې لپاره کتابونه لوستل، چې بیا د هغه په مېلمستون کې د خبرو توان ولري. د سفارتونو دیپلماتانو او آن ځینو سفیرانو به هغې ته دیپلوماتي رازونه ویل. ایلن په ځینو برخو او چارو کې په خپله په یوه واک بدله شوې وه. پېیر چې د خپلې ښځې پر پوهنیزې نیمګړتیا ښه پوهېده، کله به یې په حیرت او آن وحشت او ویرې په هغو غرمنیو یا ماښامنیو کې ګډون کاوه چې په هغو کې به د سیاست، شعر یا فلسفې په اړه خبرې اترې کېدې. په دې مېلمستیاوو کې د پېیر احساس، د هغه شعبده باز احساس ته پاتې کېده چې هره شېبه یې ویره لرله چې راز یې څرګند نه شي... خو د هغې ځیرکې زړه راښکونکې شهرت دومره په خلکو اغېز کړی و، کـه هغې خورا بې معنا خبرې هم کړې وای، ټولو په خورا لېوالتیا هغې ته غوږ نیو او په خبرو یې مین وو...

پېیر پوره هغه شان مېړه و چې دغه شان مېلمستیاوو او بنډارونو ښایسته کوونکې ښځې هغه ته اړتیا لري. پرېښانه، ګېڼې اخېستلي، عصبي او سخي مېړه چې له هیچا سره یې کار نه لاره، نه یوازې دا چې په مېلمستیا کې یې څه شروشور او خنډ نه جوړاوه، بلکې د خپلې ښځې برخلاف عادتو له مخې یې د هغې لوړتیا ته لا ګټه رسوله... که څه هم د تواضع او کمینې له کبله د ټولو ددرناوي وړ و، خو د خپلې ښځې محفلونو ته دا سې ورننوت، لکه تیاتر ته چې ننوزي. له ټولو سره آشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ، ټولو ته په يو ډول او په يوه اندازه موسېده او د ټولو په وړاندې يې په يوه اندازه بې پروا و. کله به چې کومې خبرې ورته په زړه پورې وې، پرته له هغه چې د محفل غړو ، آن د سفارتونو ديپلماتانو ته پام وکړي، خپل عقايد يې په داسې يوې ژبې او ناپوهېدونکي بڼه، چې ګواکې په خوله کې يې يو غاښ هم نه شته، او د هغه محفل له روان بهير سره يې هېڅ اړخ نه لګاوه او آن بې ځايه بريښېدل، بيانول. خو د پترزبورګ دمېرمنې عقايد او ويناوې د وګړو په ذهن او خيال کې ځانګړې ځای وموند ، داسې ځای چې هر چا يې هر نازوړ.

د نورو ډېرو ځوانانو په منځ کې چې د ايلن تر راستنېدو وروسته، هره ورځ د هغه کورته راتلل، يو هم باريس دروبځکوي و. باريس ددوی په کور کې تر ټولو نه نېږدې سړي ګڼل کېده...

هغې له باريس سره لکه ماشوم سره خواخوږي کوله، که څه هم باريس ته د هغې موسکا ، ټولو نورو ته د هغې د موسېدو په شان وه ،خو د دغې موسکا ليدنې په پېير کې، رخه راپاروله.

باريس پېير ته خورا ځانګړې درناوي کاوه خو د هغه د دغه درناوي لاندې يو ناڅرګند غم پروت و. همدې ځانګړې درناوي پېير زوراوه. دهغه سپکاوي له امله چې درې کاله مخکې د هغې د ښځې له خوا ده ته شوي و ، ده هڅه کوله چې بيا هغه ترې کار تکرار نه شي، نو ځکه يې په بېلابېل ډول هڅه کوله چې ځان له دغه شان سپکاوي نه لرې وساتي، لومړي دا چې نور يې ځآن د هغې مېړه نه ګاڼه، دويم دا چې ځان ته يې اجازه نه ورکوله، پرهغې بد ګمانه شي. ده به له ځانسره ويل: نه هغې اوس د پوهې، ادب پالنې لاره غوره کړې او د تل لپاره يې د شوقونو او عاشقۍ لاره پرېښې ده. ده به تل دا ويل شوي خبرې چې څرګنده نه وه ، له کومې راپيدا شوي، له ځانسره تکرارولې. خو ددې سره سره عجبه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې د خپلې ښځې د هرکليو په کوټه کې د باريس تګ راتګ چې دايمي بڼه يې پيدا کړې وه، دې ډېر زوراوه او له هغه نه يې د ډېرو کړو توان اخيستی و.

په زړه کې به يې ويل: پوهېږم ولې مې له دغه ځوانه بد راځي، حال دا چې پخوا مې هغه له اندازې زيات خوښېده.

مېلمنو پېير ته، د ښه مېلمه پال، پوه د يوې پېژندل شوي ښکلې ښځې درلودونکې خورا ساده او خندا وړ مېړه په سترګه کتل... هغه هېڅوک نه خوابدي کول، مهربانه او سر به يې ګرېوان کې ښکته و، خو په دې ټوله موده کې د هغه په ګوګل او روح کې يو پېچلې او ګران کړکيچ ددې لپاره روان و، چې د ده لپاره يې ډېر رازونه سپړل، ډېر بې رخې او شکونه يې په کې راتخنول او ډېرې خوښۍ يې ورته غوړولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

پيير د ورځني ژوند د ياد ښتونو ليکلو ته دوام ورکاوه او دا هم هغه څه دي، چې هغه په خپلې کتابچې کې ليکلي و:

د نوامبر څلورويشتمه:

د سهار په اتو بجو له خوبه را پاڅېدم، يو څه وخت مې سپېڅلي کتاب ولوست، بيا دفتر ته لاړم (پيير د يوسف الکسيوويچ په سپارښتنه د ورور ګلوۍ په جرګه کې، د يوې څانګې مشري منلې وه) غرمه کورته راستون شوم او يوازې مې غرمنۍ وکړه (مېرمنې مې ډېر مېلمانه لرل، خو يو يې هم زما په زړه نه و) خواړه او څکل مې په اندازه وکړل او بيا مې له يوه کتاب نه ديو ورور لپاره ځينې مېالب راواخېستل. ماښام د ګرافينې (خپلې مېرمنې) کوټې ته ورغلم او د ښاغلي ب په اړه مې له خندا ډکه يوه کيسه ورته وکړه، خو هغه وخت مې په دې سر خلاص شو، چې د غه کيسه مې بايد دلته نه واى کړي، چې ټولو له خندانه بډوډې کلک کړي وو. په خورا آرام او نيکمرغه روح ويده کېږم، لويه خدايه مرسته راسره وکړه، چې ستا له سمې لارې نه بې لارې نه شم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-خدایه دا توان راکړې، چې پر خپل غضب او ناآرامۍ لاسبري شم.
۲-په پرهېزګارۍ له شهوت او هوس نه ځان وساتم.
۳-له دنیایي شر او شور او کړکیچونو نه آزاد شم، خو:
الف- نه د دولتي خدمت نه د پټېدو له لارې،
ب- نه د کورنۍ له ستونزو نه د غاړه غړونې له لارې،
ج- نه له دوستانو سره د اړیکو د شلولو له لارې،
د- نه د اقتصادي چارو نه د ځان خلاصول له لارې.
د نوامبر ۲۷ مه نېټه:

له خوبه ناوخته راوېښ شوم، تر ډېره وخته پورې په کټ کې اوښتم را اوښتم او ځان مې تنبلۍ ته سپارلی و. لویه خدایه مرسته راسره وکړه، توان راکړه چې ستا په غوره لاره لاړ شم. یو وخت مې د زړه له حضور او د خیال له آرامۍ نه پرته، چې باید همداسې وای، سپېڅلي کتاب ولوست. ورور، اوسوف راغی او د نړۍ د جنجالونو په اړه مو خبرې وکړې. د ټولواک د نوي طرحو په اړه راته وغږېد، غوښتل مې چې د هغو غندنه پیل کړم چې د خپل مشر استاد هغه خبرې را یادې شوې چې ویل یې: یو رښتني ماسون چې کله چوپړ ته ګمارل کېږي، باید په کړوو‌ړو کې زیارمن او په هغو چارو کې چې ده ته بلنه نه ده ورکړ شوې، بې له غږېدا یوازې په ننداریزه بڼه ګډون وکړي. خپله خوله هم کلا ده هم بلا. بیا ورونو هر یو ګ. و. او و. زما لیدو ته راغلل او د یوه نوي ورور په جذبولو خبرې وشوې. هغوی ماته د دغه ورور د منلو په غونډه کې د ویاند دنده راوسپارله. په دې چاره کې د ناتوانۍ احساس کوم او په ځان کې د دغه کار وړتیا نه وینم. بیا د اوه ۷ ستونو او د سلیمان د لمانځتون د اوو ۷ پوړونو خبره رایاده او د هغو په اړه خبرې وشوې: ۷ ګونه پوهې، ۷ فضایل، ۷ ګناهونه او د سپېڅلي روح د ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ښښنو ) خبرې وشوې. وروروخورا خوږه او تــوده وينا وکړه. د نـوي وروور غړيتوب هماغـه ماښام پـای تـه ورسېد. د لـوژ نوي پرتمين سينګار د دغو مراسمو په برياليي رسېدو کې خورا اغېزمن و. نوی وروور باريس دروبڅکوي و. لوژ ته د هغه راتګ زما په وړانديز او د هغه ويانـد هـم زه په خپله وم. په ټوله هغه موده کې چې له هغه سره په تيارې کوټې کې وم، يو عجيب و غريب احساس مې پر زړه راخور و او له هغه سره سخت لاس و ګرېوان وم. د هغه پـه وړانـدې مـې زړه کـې د کرکې يـو توفـان رالـوتي و او مـا هڅه کوله هغه مهار کړم، نو لـه دې کبلـه مـا د زړه لـه کـومې هڅه کوله چې هغه د تيارو او بدلارې له منګلو وژغورم او د رښتيا او حقيقت لارې تـه يـې لارښوونه وکړم. خوبيا هم د هغه پـه اړه نورو فکرونو لـه مـا نـه ځان نـه لـرې کـاوه. مـا تصور کـاوه چې زمـوږ د وروور ګلوی ټولنې تـه د هغه راتـګ موخه، دا وه چې هغه ځان د لـوژ لـه غوره وګړو سره آشنا او له هغو سره نږدې پېژند ګلوی پيدا کړي. که څه هم هغه څو ځله له مـا پوښتنه کړې وه چې ايا ښاغلي ن. و. س زمـوږ د ټولنې غړی دی او کنه (البتـه مـا اجازه نه لرلـه هغه تـه دغـه معلومـات ورکړم) دغه راز تر هغه اندازې چې ما د هغه کړه وړه ليدلي و، دا خورا لـرې بريښېده چې هغه دې زمـوږ وروور ګلوی ټولنې تـه د زړه لـه کـومې درناوي ولري، ځکه هغه په بې ساري توګه د دنيايي ښېګڼو پوري زړه تړلـي و او دې تـه يـې وخت او اراده نـه وه پـاتې چې پـه خپـل معنـوي ښېګڼو کار وکړي. که څه هم ما د هغه د صدق د نشتوالي لپاره د پام وړ کوم دليل نه درلود، مګر بيا هم ماته رښتيني نه بريښېد او په ټوله هغه موده کې چې پـه تيـاره معبد کې لـه هغـه سره يـوازې وم، داسې مـې انګېرله چې له ملنډو نه په ډکې موسکا زمـا خبرې اوري، نو ځکه مې زړه غوښتل، هغه نری څوکې توره چې په لاس کې مې وه او د ده پـر ټټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ایښې وه، په رښتیا د هغه په ګوګل کې ورننباسم. وینا مې دا توان نه لاره چې خپل شک او ګمان په رښتیا د لوژ ورونو او مشر استاد ته ثرګند کړم. د نړۍ ستر معمار مرسته راسره وکړه چې د دروغو په کړووړو کې، د حقیقت او ایمان سپېڅلي لاره پیدا کړم.

تر دې وروسته یې په کتابچه کې درې مخونه سپین او ناليکلي پرېښي و او بیا یې دوام ورکړی و:

و ،نومی، نوي ورور د اوږدو خبرو اترو په لړ کې لاربښودنه راته وکړه چې د آنوي ورور سره خپلې اړیکې وساتم. ډېرې داسې خبرې راته ثرګندې شوې، چې ما یې وړتیا نه لرله-آدونای-د نړۍ د هستوونکي نوم دی او الویم د ټولو چاروچلوونکې. هغه دریېم نوم چې په خوله نه ویل کېږي، هغه د کل معنا لري. له (و ) نوي ورور سره خبرې او د زړه خواله مې نه یوازې زړه ته قوت او روح ته ځلا ، بلکې د فضیلت په لاره کې لا پیاوړي کوي. د هغه ترخنګ مې، زړه او روان کې شک نه پاتېږي، ماته د رسمي سپکو ټولنیزې پوهې او زموږ د ښوونځي د سپېڅلې او هر اړخیزې پوهې تر منځ توپیر ښه ثرګند دی. بشري او ددې دنیا علوم هرڅه د درک کولو لپاره څېړي او تجزیه کوي. هر څه تباه کوي، چې زده یې کړې خو زموږ د نظام سپېڅلې پوهه یووالي او وحدت ورزده کوي، هرڅه په ټولنیزه توګه پېژندونکې دي...

درې ګړنې بنسټ: یعنې د هرڅه بنسټ: ګړګړ،جیوه او مالګه.

د ګوګړ طبیعت غوړین او اورین دی.له مالګې سره د هغه ګوېدل د خپل اورین کیفت له امله په هغه کې لوړه او تنده هڅوي او دهغه برکتـه جیوه ځانته راګاږي او له ځانسره یې ساتي.او ددغه درې واړه یو والی ټول اجسام رامنځ ته کوي.جیوه اوبلنه ده

د دسمبر دریېمه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوخته له خوبه راپاڅېدم، سپېڅلی کتاب مې ولوست، خو بې احساسه وم. بیا له کوټې نه تالار ته لاړم، هلته مې قدم وواهه. ومې غوښتل فکر وکړم، خو خیالو مې یوه پېښه چې څلورکاله پخوا تېره شوې وه، په پرله پسې توګه زما د سترګو په وړاندې راښودله. ښاغلي دولوخوف، تر هغه دوئیله وروسته یوه ورځ په مسکو کې زه ولیدم او وې ویل، هیله لري چې د ښځې تر سفره وروسته دې اوس زړه پوره، په کرار شوی وي. ما هغه وخت هغه ته هېڅ ځواب ورنه کړ، خو اوس مې د هغې لیدنې ټولې خبرې او حالت را یاد کړل او په زړه کې مې په خورا ناولېو کلمو او زورونکو وینا وو، هغه ته خپله کرکه څرګنده کړه، یوازې هغه وخت مې د دغو خیالونو لمن پرېښوده چې ځان مې د غضب په شعلو کې ولید، خو په خپلو دې کړو هومره پشېمانه نه وم. بیا باریس دروبځکوي راغي او ډولاډول کیسې یې پیل کړې، زه چې د هغه د راتګ له لومړي شېبې نه د زړه له کومې خوښ نه وم، د هغه د هرې خبرې په وړاندې ودرېدم، هغه ټینګار وکړ او زه په قهر شوم او آن چې سپکې سپورې مې هم ورته وویلې. هغه چوپه خوله او زه هغه وخت آرام شوم، چې نور نو ناوخته شوې وه. لویه خدایه ! زه هېڅ نه شم کولې، په آرامه له هغه سره وغږېږم. آن د هغه د لیدو توان هم نه لرم، دا ټول زما د ځانستاینې پایله ده. زه ځان تر هغه نه لوړ او غوره ګڼم او همدا کار ما خورا سپکوي، ځکه هغه زما سپکې سپورې زغمي او هغو ته ځواب نه وایي. خدایه ! ما ته دا توان راکړه چې د هغه په وړاندې خپل سپکاوي ته مې پام شي او داسې مې کړه وړه جوړ کړم، چې د هغه په ګټه وي. تر غرمې وروسته ویده شوم او هغه شېبه چې ویده کېدم، یو څرګند غږ مې واورېد، چې په کین غوږ کې مې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نن ستا ورځ ده.

خوب مې لیده، چې په تیارو کې روان یم او ناڅاپه یو ډله سپي رانه تاو برېي، خو زه بې له ویرې وړاندې تلم. ناڅاپه یو کوچني سپي د کینې پښې له ښنګري ونیولم او نه یې پرېښودم، ما هغه په سوکونو واهه او همدا چې د هغه له داړو مې خپله پښه وژغورله یو بل سپي چې تر لومړني نه هغه لوی و، پر ما تېر راو دانګل. له دې نه مې هم ځان وژغوره، خو دربیم هغه چې تر دویم هغه نه، هم غټ و، داړې یې راته جینګې کړې. هغه مې په لاسونو کې راپورته کړ، هرڅومره مې چې هغه رالوړاوه، په هماغه اندازه هغه لوېده او درنېده. په همدې وخت آنوي ورور راورسېد. له لاسه یې ونیولم او له ځانسره یې بوتلم. هغه یوې ودانۍ ته وروستم، چې د ننوتلو لپاره باید له یوه نري دړې نه تېر شوي وای، ما پر هغې پښه کېښوده او هغه لاړ، دړه ماته او ولوېده. ما چې متې دیوال ته لاسونه ورسېدل، پر هغه مې د ختلو هڅه وکړه. تر ډېرو هلوځلو نه وروسته دومره پر دېوال وروختم، چې پښې مې دد دېوال یوې خواته او نورځان مې د هغې بلې خواته ځوړند و. بیا مې مخ واړاوه او آ، نوي ورور مې ولید چې دد دېوال پر سر ولاړ او ماته ښکلې لاره، ښایسته باغ او یوه پرتمینه ودانۍ راښیي. له خوبه راوېښ شوم. ای لویه پروردګاره ! د طبیعت ستر معماره ! مرسته راسره وکړه چې د شهوت او نفس دغه سپي چې له ما نه راتاو دي، په تېره بیا د هغه وروستیني چې د ټولو پخوانیو قوت یې هم په ځان کې راټول کړي دي، له ځانه لرې کړم او مرسته راسره وکړه، چې د خواخوږۍ هغه معبد ته چې انځور یې په خوب کې راڅرګند شو، لاره پیدا کړم.

د دسامبر ۷ مه نېټه:

خوب مې لیده، چې یوسف الکسیوویچ زما کورته راغلی، زه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشاله او غوارم تود هرکلي يې وکړم. داسې راته ښکاره شوه، چې زه له پردو خلکو سره په خبرو اترو لګيا يم او فکر مې شو چې دا کار پرهغه چندان ښه ونه لګېږي. هيله مې لرله، چې هغه ته ورنږدې او غبرږ ترې تاو کړم، خو همدا چې ورنږدې شوم، ومې ليدل چې څېره يې بدله او ځوانه شوه، هغه ما ته په کرار کرار زموږ د ټولنې د پوهنې څه وويل، خو هغه دومره په کرار دا خبرې کولې، چې ما نه شو کولای هغه په ښه توګه واورم. بيا ګواکې ټول له کوټې ووتل او له وتو سره سم يوه عجيبه پېښه وشوه، موږ په غولي ناست وو که پراته وو. هغه څه ويل او ما غوښتل هغه ته خپل احساسات ثرګند کړم. بې له هغه چې د هغه خبروته غوږ ونيسم خپل زړه ته مې سرور شېوه او په خيال کې د خپل روان او هغه الهي رحمت په کتنه بوخت شوم چې خدای ما ته را په برخه کړی و. اوښکې مې په سترګو کې راماتې شوې او زه ځکه خوشاله شوم چې د هغه زما دې حالت ته پام شو. خو هغه خپلې خبرې پرې کړې او په قهر قهر يې ما ته وکتل، پاڅېد، زه وشرمېدم او ومې پوښتل، ايا دا ستا خبرې زما لپاره دي؟ بې له هغه چې هغه زما ځواب راکړي، څېره يې مهربانه شوه، بيا ناڅاپه زما د خوب کوټې ته چې يو لوی دوه کسيزه کټ په کې و، ورسېدو. هغه د کټ پر يوه څنډه وغځېد، زه له شوقه لېونی وم، هيله مې لرله چې له هغه سره مهربانه اوسم، د هغه ترڅنګ وېده شم، داسې برېښېده چې له ما نه پوښتي: رښتيا راته ووايه ستا لويه نيمګړتيا څه ده؟ ايا خپله تر ټولو لويه نيمګړتيا پېژنې؟ فکر کوم پرې پوهېږئ! زه دې پوښتنې خورا ناآرامه کړم او ځواب مې ورکړ چې زما تر ټولو لوی عيب تنبلي ده. هغه زما خبره ونه منله، سر يې وښوراوه، زه لا پسې نا آرامه شوم او ځواب مې ورکړ: زه ستا په لارښوونه له خپلې ښځې سره ژوند کوم، خو اړيکي مو د ښځې او مېړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي. هغه را ته وویل چې باید خپله ښځه له خپلې مینې او خواخوږۍ نه بې برخې نه کړې. هغه د خبرو په لړ کې داسې راته وویل چې زه باید په دې خبره پوه شوم چې دا د ده هغه دنده ده، چې باید تر سره شي. ما ځواب ورکړ: چې زه په خپلو کړو شرمېږم او له دې خبرې سره هر څه تري تم شول، زه راویښ شوم او د سپېڅلي کتاب دا څو ټکي را یاد شول:

- هغه په ژوند کې وا او رڼا د انسان ژوند و، رڼا په تیارو کې ځلېدله، خو تیارو هغه ونه موندہ (انجیل، لومړي کتاب، څلورمه او پنځمه برخه) د یوسف الکسیوویچ ځوانه شوې څېره ځلېدلې وه. په هماغه ورځ د هغه یو لیک راورسېد. په لیک کې د کورني ژوند او په هغه کې د مېړه او ښځې د اړیکو ښه شننه او ما ته د هغو د سر ته رسولو سپارښتنه شوې وه.

د دسامبر نهم:

یو زورونکی خوب مې لیده او په رپېدونکي زړه راویښ شوم. خوب مې لیده چې ګواکې په مسکو کې یم. زه په واړه تالار کې ناست یم او یوسف الکسیوویچ د هرکلیو له تالاره را روان دي، داسې مې انګېرل چې هغه بیا راژوندي شوي او زه یې هرکلي ته ور روان یم. د هغه مخ او لاسونه مې ښکل کړل. هغه را ته وویل: پام دې شو چې اوس زما څېره بدله شوې ده؟ ما هغه همداسې په غېږ کې نیولې و او د هغه څېرې ته مې کتل، داسې مې انګېرل، چې څېره یې تانده او ځوانه شوې ده، خو ویښته یې تللي او د ځان نورِ غړي یې هم بل ډول شوي دي، ګواکې هغه ته مې وویل: که ناڅاپه مې هم چېرې لیدلای وای، تاسو به مې پېژندلي وای. او په همدې شېبه کې په زړه کې وایې: ایا ما رښتیا ویلي؟ خو و مې لیدل چې ناڅاپه هغه لکه مړي داسې ولوېد. بیا کرار کرار را په سد شو او له ما سره زما د کار لوېې کوټې ته راغي. هغه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی کتاب چې پاڼه یې د الکساندري نوي کاغذ دي ګوا کې ما هغه ته وويل:

-دا کتاب ما لیکلي!

هغه د سر په ښورولو زما دا خبره مني او زه کتاب پرانیزم. پر ټولو پاڼو یې ښکلي انځورونه، انځور شوي وو او داسې برېښېده چې دغه انځورونه د میني او مین د وصال د حال انځورونه دي. داسې برېښېده چې د کتاب پر پاڼو د داسې یوې ښکلې پېغلې تصویرونه انځور شوي دي، چې ځلېدونکي رنې جامې یې اغوستې، ځان یې هم روڼ و، هغه د وريځو پلو په الوتو وه. داسې مې انګېرله چې دغه پېغله د غزلو غزله ده، داسې مې انګېرله چې زه دغه انځورونو ته په کتو سره، په ګناهونو کې ډوبېږم، خو نه شم کولای له هغو نه سترګې بل پلو وغړوم. لویه خدایه له ما سره مرسته وکړه، که زه دي په خپل حال پرېښې یم، دا به ستا خوښه وي، زه هغه ته غاړه ږدم او ورته تسلیم یم، خو که دا زما د بې لاري پایله وي، ما ته لارښوونه وکړه او دا رازده کړه چې څه او څنګه وکړم. که ما یوازې پرېږدې، زه به د فساد په څپو کې ډوب او تباه به شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

دهغــو کلونــو پــه اوږدو کــې چــې رســتوف کــورنۍ پــه کلــي کــې اوسېده ،دهغو مالي حالت ښه نه شو. سره له هغه چې نيکولای رستوف په خپله ژبه ودرېد او د يوې نوم ورکې سيمې په يو لرې کنډک کې خپل پوځي خدمت ته دوام ورکړ.کورنۍ پيسې نه لرلې. د ژوند بهېر پـه کلـي کې(اترادنيا ) په تېره بيا دميتکا لـه خوا د چارو اداره داسې وه، چې کال پرکال د کورنۍ پورونه زياتېدل او د دغو پورو د زياتېدو مخنوي هم ناشوني و. زاړه ګراف تـه د ژغـورنې لاره دا وه چې پـه دولـت کـې کـار وکړي، نو ځکه پترزبورګ ته راستون شو ، چې ځان تـه کـار پيـدا کـړي، هغه ويل د دې لپاره چې لوڼې يې د وروستي ځل لپاره خوشاله شي.

پـترزبورګ ته د رستوف د کورنۍ د راستنېدو نـه لـږه مـوده وروسـته بيرګ له وېرې نه د واده غوښتنه وکړه او هغه سمدلاسه ومنل شوه. سـره له هغه چې د رستوف کورنۍ په مسکو کې پرته له هغـه چې پـوه شـي يـا په دې اړه فکر وکړي چې کومې ډلې پـورې اړه لـري، خـو پـه پـترزبورګ کې د هغوی ټولنيز دريځ ناڅرګند و. په پترزبورګ کې، هغوی آن د هغـو کسانو لپـاره چـې دوی پـه مسـکو کـې بـې لـه هـر ډول پوښـتنې پـه وريـن تندي خپلو مېلمستيا ته منل، دوی کليوال او د خپلې تګ راتګ سيال

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بلل. د رستوف کورنۍ په پترزبورګ کې هم لکه د مسکو په شان مېلمه پاله ژوند لاره، هر ماښام به یې ډولاډول خلک په کور کې مېلمانه وو: د مسکو د اترادنیا د کلي ګاونډیان، پخواني خان او اوسني خوار له خپلو لوڼو سره، مېرمن پېیرو سکایا، پېیر بیزاو خوف او د پست د اداري زوی چې په پترزبورګ کې مامور و. باریس او پېیر چې زاړه ګراف، هغه په لاره کې لیدلي وو، او په زور یې کورته راوستي وو، ډېر ژر د رستوف د کورنۍ دایمي او ځانګړي مېلمانه شول. خو بیرګ له سهاره تر بېګا پورې، لکه هغه شان چې د نویو زومانو ځانګړتیا وي، په دې کور کې و. هغه به له ګرافینې او وېرې نه تاوېده راتاوېده، او له هغو نه به یو ه شېبه هم نه لرې کېده...

ځلور کاله مخکې په ختېځ آلماني بیرګ، د مسکو په یو تیاتر کې خپل یو آلماني ملګري سره مخامخ شوي و، خو بیرګ په هماغه کتنه کې هغه ته وېره رستوف ورښودلې وه او په آلماني یې هغه ته ویلي و:

-هغه وینې، هغه به زما ښځه وي.

او له هماغه وخت یې پرېکړه وکوله، چې هغې پسې ریباران ولېږي او هغې سره واده وکړي. دوی په پترزبورګ کې د رستوف د کورنۍ او خپل دریځ په پام کې نیولو، ځانته وویل: ددې وخت رارسېدلی دی چې هغه وغواړي.

د بیرګ ریباران د رستوف کورنۍ ځکه حیران کړي و چې هغوی ویل چې ځنګه یو نوم ورکي لیفلاندي (په لیتویا کې یو ه سیمه ده) ځانته دا حق ورکوي، د ګرافینې رستوفې نه د واده غوښتنه وکړي. خو د بیرګ سادګۍ او پاک زړه توب د رستوف کورنۍ په دې قانع کړه چې ووایي، که دي خپله له وېرې سره خپل واده غوره ګڼي او پر خپلې غوښتنې ډاډمن دي، دي حق لري چې دا واده وکړي او دا واده به یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره واده وي...

له کوژدې نه يوه مياشت تېره وه او يوه اونۍ واده ته پاتې وه، خو د رستوف کورنۍ د ولور له ستونزې سره مخامخ و. (په روسيه کې، په تېره بيا پخوا هره کورنۍ په واده کې خپلې لور ته زښت زيات شيان او پيسې ورکولې)... څو ورځې واده ته پاتې وې چې يوه ورځ بيرګ سهار وختي د خپل خسر زاړه ګراف کوټې ته راغي، په داسې حال کې چې خوږه موسکا يې پرشونډو خوره وه، له هغه نه يې وپوښتل:

-د وېرې جهېز به څومره وئ؟

ګرافددې پوښتنې نه سرسام شوي و، خو بيا يې هم ځان ورک نه کړ او وې ويل:

-سودا مه وهه، تا به خوشاله کړو...

مګر بيرګ هماغې موسکا پرشونډو دوام ورکړ: که په ډاګه پوه نه شي، څومره روپې ترلاسه کوي او يو څه يې مخکې له مخکې وانخلي، کېدای شي له واده کولو تېر شي...

ګراف چې نه غوښتل ډېر وغږېږي، وويل: اتيا زره روبله به وي...

بيرګ هماغه موسکا پرشونډو، د ګراف اوږې ښکل کړې او وې ويل:

-تاسو نه ډېره مننه کوم،

خو دد برش زره روبله پرته نه شي کولای نوي ژوند پيل کړي. بيا يې زياته کړه:

-ښاغليه ګرافه! لږ ترلږه شل زره روبله اوس او شپېته زره بيا وروسته.

ګراف په چټکه او جورجر وويل: ښه ده، ښه ده شل زره اوس درکوم، او اتيا زره بيا وروسته درته برابروم. راشه راشه مچ مې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

۱۸۰۹ کال او ناتاشا د شپاړلسو کلونو وه. دا هماغه کال و چې څلورکاله مخکې ناتاشې له باریس سره د لومړني مچې نه وروسته، د ګوتو په څوکو هغه د رارسېدو شېبې شمېرلې وې. له هغه مچې نه وروسته دې هېڅکله باریس نه و لیدلی. هر وار به چې د مور یا سونیا په مخکې د باریس په اړه خبره یاده شوه، هغې به په ډاګه داسې، چې ګواکې هر څه پای ته رسېدلي دي، ویل چې هر څه چې پخوا شوي، شوي دي، هغه ټولې د ماشومتوب خبرې وې، هغه په یادولو نه ارزي او ټولې هېرې شوي دي. خو د زړه په تل کې دغې وعده او ژبې چې دې له باریس سره کړې، دا مهمه نه وه چې ټوکه وه که رښتیا، دا ډېره زوروله.

باریس چې ۱۸۰۵ کال کې له مسکو نه پوځ ته لاړ، د هغه اړیکې د رستوف له کورنۍ سره شلېدلې و، هغه څو وار مسکو ته راغلی وو او آن د اترادینا سیمې نه نېږدې، چې د ناتاشا کورنۍ په کې اوسېدله، تېر شوي و، خو یو وار هم د هغو کورته نه و ورننوتلی.

ناتاشا به کله تصور کاوه چې کېدای شي باریس نه غواړي، هغه ووینې او ددې دغه خیال به لا هغو غمجنو خبرو پسې قوي کړ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی د کور مشرانو به باریس پسې کولې.

ناتاشې به د دغو خبرو تر اورېدو وروسته ویل:

- زموږ په زمانه کې څوک نه پخواني ملګري یادوي او نه یې غم خوري.

انامیخایلوفنا هم په دې وروستیو وختو کې د رستوف دوی کره، ډېر کمه راتله، ځان یې ډېره غوره ګاڼه او هر وار به یې د خدای شکر کاوه او په ډېره غوره ژبه به یې، د خپل زوی د ښېګڼو او په پوځ کې د غوره ځای د موندلو په اړه خبرې کولې. خو د دې ټولو خبرو سره سره، کله چې د رستوف کورنۍ په سن پترزبورګ کې مېشت شوه، باریس د هغو دیدن ته ورغی.

د هغو کورته د ده ورتګ بې له ګبنۍ او پرېښانۍ نه و. د ناتاشې یادونه د باریس لپاره تر ټولو غوره شاعرانه یادونه وه. خو سره له هغه هم هغه ټینګه پرېکړه کړې وه، چې هغې او د هغې خپلو خپلوانو ته په ډاګه دا وواېي، چې د ماشومتوب د وختونو وعدې نه د ده او نه د ناتاشې لپاره کومه د پور خبره نه ده. هغه په ټولنه کې ځانته غوره دریځ موندلی و او له ګراف بېزاوخوف سره یې د پېژند ګلوۍ له برکته، د اعیانو په منځ کې هم نوم ګټلی او د لویو چارواکو سره یې اړیکې پیدا کړې و... نو له دې کبله یې ښه راتلونکې یې تر مخې، په ښو خیالونو کې ډوب او داسې یې په زړه کې ریبل او کرل چې د پترزبورګ له یوې بډایې پېغلې سره واده وکړي. او دا خیالونه په آسانۍ کېدای شول عملي شي. کله چې باریس د رستوف د کور د هرکلیو کوټې ته ورننوت، ناتاشه خپلې کوټې کې وه. ناتاشه د هغه د راتګ د خبر په اورېدو تکه سره شوه، یوه ساده خوږه موسکا یې پرشونډو خوره او څه کم په منډه د هرکلو کوټې ته ورغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باریس هغه څلور کاله مخکې لیدلې ناتاشه چې لنډ کمیس یې اغوستی، تور یې سترګې یې د کړۍ کړۍ جړو کوڅو لاندې ځلېدې، ده ته آشنا ماشوم، د له ناهیلۍ ساده موسکا به یې پرشونډو خوره و، په خیالوکې تصوروله، خو کله چې اوس هغه د هرکلو کوټې ته راننوته، د هغو ځانګړتیاوو نه هېڅ پاتې نه و، باریس د هغې د دغې بلې ناتاشې په لیدو له حیرته ګبنهۍ واخیست او څېره یې بل ډول شوه... د باریس دغې ګبنهۍ او د څېرې بدلون ناتاشا لا پسې خوشاله کړه. ناتاشې وپوښتل:

- څنګه؟ د خپل ماشومتوب د اور ټوټه نه پېژنې.

باریس د هغې لاس ښکل کړ او وې ویل: په هغې کې راغلي بدلون، دي حیران کړي، څه ښکلا ! څومره ښکلې شوې یې.

د ناتاشې ځلېدونکو سترګو ځواب ورکړ: تا څه غوښتل؟ هغه وپوښتل:

- پلار مې، پلار مې زوړ شوي که څنګه؟

ناتاشا پرته له هغه چې د باریس او خپلې مور په خبرو کې ورګډه شي، په پټه خوله د خپل ماشومتوب نامزد (چنغول) ته داسې ځیر وه، چې تا به ویل غواړي، هغه غواړي د هغه ټولې ځانګړتیاوې جلا جلا وپېژني. باریس د هغې د دغې پرله پسې یرغلیز خو مینه ناک غلچک ټول اغېز احساساوه او کله ناکله به ده هم، هغې ته وروکتل.

د باریس دریشي، د بوټو وسپنیزې پوندې، نکتایي او څنې ټول او ټول د ورځې له وروستي دود سره برابر او د پام وړ و. ناتاشا په یوه غلچک دا ټول ولیدل. باریس په یو څنګ پر لاس لرونکي څوکۍ د مشرې ګرافینې خواته ناست، په ښي لاس یې د کین لاس د خورا پاک دستکش کونځې آواړولې او په ښکلو او خورا پام په یو بل ابښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شویو شونډو یې د پترزبورګ د پېژندل شویو بډایانو د ورځنې ژوند ، چارو او بنډارونو په اړه خبرې کولې.

ناتاشا داسې احساس کړه چې ځینې دا خبرې کېدای شي ربښتیا نه وي.

هغه د دغې کتنې ترپایه پورې پټه خوله ناسته وه او تر سترګو لاندې یې هغه ته کتل. باریس د هغې دغه کتل احساسول او شېبه په شېبه ناآرامه کېده. ده هم پرله پسې هغې ته ورکتل او په وینا کې بې دمه کېدل یې لاپسې زیاتېده. له لسو دقیقو نه زیات کېنناست، پاڅېد او مخه ښه یې وکړه... باریس په همدې لومړنې کتنه کې په دې پوه شو چې ناتاشا د پخوا په شان زړه رابښکونکې ده، خو دې باید د دغې کوډګرې ښکلا دوکه نه شي، ځکه له هغې سره واده، چې اوس یوه بې وزله نجلۍ وه، د ځان د راتلونکې برباد ول و. هغه د پخوانیو اړیکو پر بنسټ واده کول یو ناسپېڅلي کار وګانه، نو پرېکړه یې وکړه چې له ناتاشې سره ونه ګوري. خو ددې ټولو خبرو سره سره څو ورځې وروسته، دی بیا د هغو کور ته ورغی او دغه راتګ څو واره تکرار شو. هغه به د شپې تر ناوخته د هغو کره پاتې کېده. له ځانسره به یې ویل چې باید له ناتاشې سره جلا وګوري، خپل اړیکې یې هغې سره څرګند کړي، ځکه دی خپله هم بې وزلی و او ناتاشا به دغه شان خوار ته څوک ورنه کړي. هغه په دې نه بریالي کېده، چې دغه کتنه وکړي، ځکه په دې شرمېده چې په دې اړه له هغې سره وغږېږي. ورځ تر ورځې دغو خیالونو ده ته کړکیچنه ښه پیدا کوله. مشرې ګرافینې او سونیا بیا تصورکاوه چې ناتاشا د پخوا په شان پر باریس مینه او هغه شعرونه چې د باریس خوښېږي، هغه ورته وایي، خپله کتابچه ورښیي او له هغه نه غواړي یو څه د ښې په ښه په کې ولیکي. هغې هغه ته وخت نه ورکاوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانیو وختونو رایاد کړي او داسې یې ښودله چې او سني وختونه تر هر بل وخته خوندور، ښه او ښکلي دي. باریس هره ورځ تکل کاوه چې هغه ته څه ووايي، خو د هغې په لیدو به دومره په خیالونو او کې ډوب شو او ګبنې به واخیست، چې هر څه به یې له یاده وتل او پرته له هغه چې څه ووايي، بېرته به لاړ. خپله به هم نه پوهېده چې څه غواړي، څه کوي او په پای کې به چېرې درومي. سره له هغه چې هره ورځ د مېرمن بېزاوخوف (ایلن) له پلوه ده ته ګیله ډوله یاد ښتونه رارسېدل، خو دي د هغې کور ته نور نه ورته او خپله ټوله ورځ به یې د رستوف په کور کې تېروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

یوه ورځ ماښام، کله چې مشرې ګرافینه په زګیروزګیرو، اسویلو اسویلو، خولې پر سر، دخوب په کالیو کې، یو منګل سپین ویښته د هغې له خولې نه راوتلي، په سجده پرته په دعا او خدای ته په زاریو لګیا وه، د کوټې ددروازې غږ شو. ناتاشا دې په ورته دخوب جامې په ځان، بې جورابو، پسټې څپلکې په پښو، په کاغذ کې کړې کړې څڼې مروړلې، راننوته. ګرافینې مخ ورواړاوه، تندي یې تریو، او خپله وروستۍ دعایې پای ته ورسوله: ایا دا کټ به زما تابوت وي؟ خو د هغه د دعا خلوص او ښه نیت ګډوډ شو. ناتاشا چې په تلوار او ګبنۍ خپله مور په دعا اخته ولیدله، ناڅاپه له منډو پاتې شوه، کېناسته، ګوندې یې ووهلې، ګواکې د خپلې ملامتۍ په اړه یې خبرې پیل کړې. همدا چې پوه شوه چې موریې لا په دعا اخته ده، د پښو په څوکوڅوکو کټ ته نږدې شوه، خپلې ښکلې پښې یې یو پر بل وسولولې او خپلې آرامې څپلکې یې له پښو راوویستې او هماغه کټ ته یې چې مور یې ډاربده، تابوت یې نه وي، ورودانګل. دغه د بیرګ تلتک یو لوړ کټ و چې د زانو د نالیو (بڼو) نه یوه جوړه شوې پریړه بړستن او پنځه دانې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بېلابېلو اندازو سرو ښږدې پرې پراته و. ناتاشې ورو دانګل، بړستن لاندې ننوته، دد ېوال خوا ته وروغړېده، ځان يې ښه پر ځای کړ، پښې يې راټولې، ځنګنونه يې ټټر پلو راټول کړل او لغتې يې وهلې، له خندا تکه شنه وه، سر يې کله له بړستنې لاندې ننوېسته، کله راويسته او مور ته به يې ورکتل. ګرافينې د دعا تر پای ته رسېدو وروسته، په تريو تندي او ځير ځير کتو د کټ خوا ته ورغله، خو همدا چې وې ليدل چې ناتاشې سر تر بړستن لاندې پټ کړی دی، د هغې پر شونډو د خواخوږۍ نرمه موسکا خوره شوه او وې ويل:

- نو دلته د څه لپاره راغلې يې؟

ناتاشا وويل:

- مورې، اجازه ده، چې وغځېږم، آ؟

لاسونه يې د مور له غاړې تاو کړل، په غاړه يې هغه مچ کړه او وې ويل:

- يوه هم په غاړه، دا يو هم بله. او بيا نور يې...

مور د سرو ښږدو ترمنځ کېناسته او وې ويل:

- ښه نن به څه راته ووايې؟

شپه به تمه شوه چې ناتاشه واورې راواوړي، ځان تر بړستنې لاندې برابر، لاسونه له هغې نه را د باندې او ځان خبروته جوړ کړي. له مور سره د ناتاشا دغه ماخوستنۍ کتنې چې له کلوب نه د پلار تر راستنېدو پورې يط دوام کاوه، د مور او لور تر ټولو نه غوره او زړه خوښوونکي کتنې وې.

- نن شپه بيا څه راته وايې، زه غواړم تا ته ووايم...

ناتاشې خولې ته لاس ونيو او په ترخه ژبې يې وويل:

- د باريس په هکله... پوهېږم... زه هم د همدې لپاره راغلې يم. مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه، زه پوهېږم. نه، نه ووایه، ووایه.

هغې د مور له خولې نه لاس راښکته کړ:

- مورجانې ووایه، هغه خورا مهربانه دی، کنه؟

- ناتاشا ! ته شپاړلس کلنه یې، زه چې ستا په منګ وم، واده مې کړی و. ته وایې باریس مهربان دی؟ هو، هغه ډېر مهربانه دی، ما ته هم لکه زوی داسې ګران دي، مګر ته څه غواړې؟ ته څه فکر کوې؟ تا هغه چور سرسام کړی دی، زه خو یې وینم...

ګرافینې چې دا وویل، خپلې لور ته یې وکتل. ناتاشا لکه نرې، بې خوځېدا ، اوږده غځېدلې وه او سترګې یې مخامخ، له سره رنګه لرګي نه جوړ هغه ابوالهول(  ) ته ګنډلې وې، چې د کټ پر یوې څنډې تراشل شوی و. هغې داسې کتل، چې ګرافینه د هغې د مخ یوازې یو پلو لیدای شو. د هغې څېره داسې په خیالوکې ډوبه او داسې په چرت کې وه، چې ګرافینې یې حیرانه کړې وه. ناتاشا د مور خبروته غوږ غوږ او فکر یې کاوه:

- ښه، نور نو بیا څه؟

- تا هغه سرسام کړی دی، ولې؟ ته له هغه څه غواړې؟ ته خو خپله پوهېږې، چې ښځه کېدای یې نه شې.

ناتاشا پرته له هغه چې وخوځېږي، وې ویل:

- ولې نه شم کېدای؟

- له دې کبله چې هغه ډېر ځوان دی، له دې کبله چې هغه بې وزلی دی، له دې کبله چې هغه زموږ خپلوان دی او له دې کبله چې هغه تا ته ګران نه دی.

- ته څه پوهېږې، چې راته ګران نه دی؟

- زه پوهېږم، دا ښه کار نه دي، د زړه سرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا وويل:

- که زه وغواړم...

ګرافينې وويل:

- پرېږده، پرېږده اپلتې مه غږوه.

- که زه وغواړم...

- ناتاشا زه رښتيا وايم او ته...

ناتاشا پرېښوده چې مور يې خبره پای ته ورسوي، د ګرافينې لوی لاس يې ځان خواته رانېږدې او مچ يې کړ. بيا يې د هغې د لاس رغوي او بيا شا واړاوه، راواړاوه او د هغې د ګوتو بندونه يې مچول. بيا يې د هغې د ګوتو منځ، بيا له سره د ګوتو بندونه او په کرارکرار يې له هرې مچې سره مياشتې شمېرلې:

- جنوري، فبروري، مارچ، اپريل، مې...

د مچو، مچو په منځ کې مورته ځير شوه، هغې ته يې وکتل او وې ويل:

- مورجانې، وغږېږئ، ولې چوپه شوې؟ تاسو ويل چې...

هغې مورته چې په خورا مينه ناک او مهربانۍ لورته ځير او له ډېرې خواخوږۍ نه يې هرڅه هېر کړي و، په حيرانۍ کتل.

- ګوره، ګرانې! ستا دغه نازونه، ښه پای نه لري، ټول خو ستاسو د ماشومتوب نه خبر نه دي، کله چې خلک ستاسو دغه شان نېږديوالي ويني، ښايي هغو نورو ځوانانو ته زښته بد وبريښي چې زموږ کورته ځي راځي، خو له ټولونه لا بده خبره دا ده چې ته هغه هسې بې ځايه زوروې. کېدای شي، هغه ځانته کومه بډايه نجلۍ پيدا کړې وي او اوس هغه ستا نازونو سرسام او لېونی کړی دی.

- لېونی کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما د ترور یو زوی درلود ، زه دې له هغه سره پرتله کوم...

- زه هغه پېژنم- کیریل ایوانوویچ یادوې ! نو هغه خو زوړ دی...

- هغه تل زوړ نه و ! زه غواړم،له باریس سره وغږېږم او لـه هغـه هیلـه وکړم چې هغه نور دا سې زیات زموږ کورته را نه شي...

- ولې؟ که زړه یې کېږي، ولې رانه شي؟

- ځکه زه پوهېږم، چې دغه چارې ښه پای نه لري.

- ته څه وایې؟ ته څه پوهېږې، چې ښـه پـای نـه لـري، تاسو بـه څـه نـه وایې، دا څه خبرې دي !

د ناتاشـا خبـرې او دغږېدا ژبـه، دهغـه چا ژبـې تـه پـاتې کېـده، چې گواکې له هغې هغه څه اخېستل کېږي، چې ددې خپل دي، هغې وویل:

- ښه، واده نه ورسره کوم، خو پرېږده کـه خوښېږي یـې، راځـي دي، څومره چې راځي، راځي دې. دا یې وویل، وموسېده، مورته یې وکتـل، او بیا یې وویل: واده نه ورسره کوم، هسې که راځي.

- پوه نه شوم، هسې یې څنگه وي؟ گرانې !

- همدا سې، نو څه پروا لري که واده ورسره ونه کړم.

- همدا سې، همدا سې، دا همدا سې یې لا څه معنا لري.

مشرې گرافینې دا خبرې څو وار تکرار کړې، ناڅاپه پـه خندا شـوه، خو خندا یې که څه هم ټوله له خواخوږۍ نه ډکه وه، مگر بیـا هـم رپېدلـه. ناتاشې چغه کړل: بس کړه، کوم ځای یې د خندا وړ دي؟ گوره وگوره، ټول کټ رېږدي ! څومره ته ماته ورته یې، ما غوندې د خپلې خندا مخـه نیولی نه شې...صبر وکړه...د مور دواړه لاسـونه یـې راونیـول، د یـوه لاس یوه وړه گوته یې ښکل کړه او وې ویل:

- جون...

او بیا یې د مور د نورو گوتو پـه شمېرلو د میاشتو د نومونو یـادولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دوام ورکړ: جولای، اګست او د بل لاس، ګوتې. هغې خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

- ګوره موري هغه ډېر مېين دی؟ هغه ډېر مهربان، ډېر مهربان دی، خو هغه زما هېڅ نه خوښېږي، هغه د خوړنتون د ساعت په څېر نری دی... تا ته وايم، دې ته دې پام شوی دی؟ نری، خړ رنګی، خو روښانه دی...

ګرافينې وويل:

- دا څه اپلتې غږوې؟

ناتاشې دوام ورکړ:

- رښتيا ته نه پوهېږې، که نيکولای جان وای هرومرو پوهېده... لکه د ببزاو خوف په څېر خواشينی او غمجن دی، هغه خوار زار بريښي...

ګرافينې په موسېدو موسېدو وويل:

- او ته هغه ته نازونه کوې.

- نه، هغه فراماسوني دی. هغه خورا ښه سړی دی...

د ګراف غږ د دروازې له شانه واورېدل شو، چې وې ويل:

- ګرانې ګرافينې ! ته لا وېده شوې نه يې؟ ناتاشې له کټه ودانګل، خپلې څپلکې يې واخيستې، لوڅې پښې منډې کړې او خپلې کوټې ته لاړه. هغه تر ډېرو پورې وينښه پاتې شوه. هغه په دې حيرت کې وه، چې ولې څوک په هغه څه نه پوهېږي، چې دا پرې پوهېږي.

سونيا او د هغې له سره تاو شويو کوڅيو ته يې وکتل، چې لکه د پيشو په شان په خپلو څنګلو کې ډوبه وېده وه او وې ويل: سونيا ! نه، هغه چېرې په دې خبرو پوهېږي ! هغه په نيکولای جان مينه شوې او له دې مينې پرته د بل څه په خيال کې نه ده. مور خو بالکل نه پوهېږي، زه هم عجيبه هوښياره او ځيرکه نجلۍ يم ! هغه ځان ته غږېدا پيل کړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خيالونو کې يې خپلې خبرې د يوه هوښيار او آن خورا هوښيار سړي له خولې کولې او ويل يې:

- چې څه بې ساري او زړه راښکونکې ده (ځان يې ښوده) څومره ځيرکه او مالګينه ده. ډېره مهربانه، په بې ساري ډول هوښياره، ښه لامبې، په آس ښه سورلۍ کوي او څه غږ لري! کولای شو وواېو، کوډګر او حيرت ښوونکي غږ لري! د کروبينې (ايتالوی موزيکانت) د اوپرا څو کرښې يې چې ډېرې خوښېدې راياد او تکرار کړې، بيا يې کټ ته ورودانګل او له دې کبله يې پرځان وخندل، چې فکر کاوه سمدلاسه به ويده شي. وې خندل او دونياشا ته يې ورغږ کړ چې شمعه مړه کړي. دونياشا له کوټې وتلې نه وه، چې ناتاشا بيا بلې دنيا، د خوب دنيا ته، لانيکمرغې دنيا ته، چې هر څه په کې داسې آسانه او لاس ته راوړونکي و، لکه دا رښتينې دنيا، ته لاړه، نه يوازې تر دې نه غوره، بلکې چور بل ډول وه.

بله ورځ مشرې ګرافينې باريس راوغوښت، له هغه سره يې خبرې وکړې او له هغه ورځې نه وروسته بيا هغه د رستوفيانو کورته رانغې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

د دسامبر ۳۱ او د ۱۸۱۰ کال د نوي کال شپه وه او په همدې وياړ د دويمې کاترينې د يوه غوره مخور په کور کې د نڅا يو بنډار جوړ و. ټاکل شوې وه، چې ټولواک او بهرني ډيپلوماتان هم په دې بنډار کې ګډون وکړي.

د دې سړي کور، د نوا د ساحل پر غاړه په انګريزي واټ کې بې شمېره څراغونو پرتمين کړی و. د دغه کور د دهليزونو مخه په سرو څراغونه رڼا شوې او هلته پولېس ولاړ و. نه يوازې پوليس، بلکې د هغو مشران او په لسګونه افسران هم څارنې ته ګمارل شوي وو. سينګار شوې او نوې جامې اغوستې ښځې او نارينه، له ګاډيو او کراچيو راښکته کېدل او په چټکۍ وړاندې تلل.

هر وار به چې کومه نوې ګاډۍ راورسېده، خلکو به پر هغه يرغل وروړ او خولۍ به يې وويستلې (روسان د درناوي په نښه خولۍ له سره جګه وي). يو چا وپوښتل:

-ټولواک دی؟

ځواب به يې وا اورېدل شو: نه وزير... شهزاده... نه سفير دی. ولې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولۍ ښکې يې نه وينئ؟

د خلکو له منځه يو تن داسې و چې تر ټولو نورو يې ښکلې کالي اغوستي و، او ظاهراً داسې بربښېده چې دی ټول پېژني او ددې زمانې ټول مخور يې په نامه يادول.

د نڅا دغه بنډار ته رابلل شويو مېلمنو له څلورو نه درې برخې هغه رارسېدلي و، خو د رستوف کورنۍ چې دې مېلمستيا ته رابلل شوې وه، لا په ډېر تلوار د کالو په اغوستو لګيا وو...

ماريا ايګناتي يونا پرونسکايا، د ګراف رستوف د کورنۍ پخواني دوسته، چې ژېړ بخوني څېره او ډنګره ونه يې درلوده، په پخواني دربار کې د مينځيتوب دنده لرله، تکل لاره له دوی سره دغې مېلمستيا ته لاړه شي، د پترزبورګ د مخورو په دغې بنډار کې د هغوی لارښود واوسي، ځکه دوی د پترزبورګ په ښار کې کليوال بلل کېدل.

د ماخوستن په لسو بجو، د رستوف کورنۍ بايد تافريچسکي باغ ته نږدې، د هغې مخورې مينځې کورته ورشي، خو پنځه دقيقې لسو ته پاتې وې، مګر د رستوف لونو لا خپله جامې نه وې اغوستې.

دا لومړی ځل و چې ناتاشا په خپل ژوند کې د نڅا يوې داسې مېلسمتيا ته تلله. هغه په هغې ورځ د سهار په اتو بجو له خوبه راپاڅېدلې وه، او ټوله ورځ يې دغې مېلمستيا ته د چمتووالي په ګبنۍ او تلوار په تبه تېره کړې وه. دغه ټولې هلې ځلې ددې لپاره وې، چې هغوی ټول، مور، سونيا او دا خورا ښکلې کالي واغوندي. سونيا او مور، هر څه د ناتاشا خوښې ته پريښې وې. ګرافينې بايد د مخمل کميس اغوستی وای او ناتاشا او سونيا به ګلابي رنګه وريښمين کميسونه چې پر ملا يې د ګلو غوټې او پر سر يې اطلس پروت و، واغوندي. تاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وه، چې دوی خپلې ځنې په يونانې دود سينګار کړي.

ټولې غوره چارې تر سره شوې وې، پښې، لاسونه، غاړې او غوږونه ټول او ټول په خورا ځير، هغه شان چې نڅا ته د تګ لپاره وي، مينځل شوې او عطر و پودر وهلي شوي و. وريښمينې جورابې او په اطلسو کې مروړل شوي بوټونه په پښو شوي وو. د ځنو پوره سينګار نېږدې شوي وو، سونيا او ګرافينې، جامې هم اغوستې وې، خو ناتاشا چې د ټولو غم يې خوړ خپلې چارې لا پوره کړې نه وې، هغه لا د هينداري مخې ته ناسته وه... سونيا چې جامې اغوستې وې د کوټې په منځ کې ولاړه وه...

د ګرافينې غږ پورته شو:

- څه وخت به چمتو شئ، لس بجې کېدونکې دي.
- سمدلاسه سمدلاسه مورې، تاسو چمتو ياستئ؟
- يوازې په خولۍ کې څو ستنې وهم.

ناتاشې چغه کړه: صبر وکړئ، تاسو نه پرې پوهېږئ، صبر وکړئ زه به درشم.

- لس بجې شوې.

او د ناتاشا د ځنو ترسينګارولو وروسته، د جامو اغوستل پيل کړل، سر يې لا د کميس نه وتلي نه و، چې پلار يې ور راپرانست، خو له هغې چغه شوه:

-پلاره يوه شېبه، يوه شېبه ! او سونيا دروازه بېرته پورې کړه...

ناتاشا څو ګامه شا ته لاړه، له لويې ديوالي هينداري نه لږ لرې شوه، ځان ته يې وکتل...

په دې وخت کې پلار په کرارو ګامونو راننوت. خولۍ په سر او بخملې ډوله کميس يې اغوستي و. هغه چغه کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-گورئ ! زما ښکلا وگورئ ! تر تاسو ټولو نه ښکلې ښکاري ! هغه غوښتل چې له هغې نه غېږه تاو کړي، خو هغې له هغه ځان وژغوره چې جامې يې گونځې نه شي...

بالاخره لس بجې او پنځلس دقيقې وې، چې په گاډۍ کې سپاره شول او د تاوريچسکي د کلي پلو وخوځېدل. هغه زړه بوډۍ، پخواني درباري مينځه پيرونسکايا چمتو دوی ته سترگه په لار وه. هغې د خپل زړښت له ناښکليتوب سره سره بيا هم، دې بنداړ ته هماغه شان چمتووالي کاوه، لکه د رستوف د پېغلو په شان. خو توپير يې په دې کې و چې نه په گبنهۍ (د رستوف لونې په تلوار عادت وې) هغې هم خپلې ډنگر غړي مينځلي، عطر او پودر يې وهلي... او نور.

د رستوف د کورنۍ ټولو غړو د هغې د ذوق او عطرو پوډرو ستاينه وکړه او له دې ډاره چې ځنې، اوربلونه او کالي يې خراب نه شي، د شپې په يوولسو بجو گاډۍ ته وختل او د مېلمستيا پلو وخوځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

ناتاشا د هغې ورځې له سهاره آن يو شېبه هم نه وه اوزګاره شوې چې د هغه څه په اړه فکر وکړي چې دې ته سترګې په لاره و.
په هغې سړې او لمدې هوا ، په هغې ټکان خوړونکي ګاډۍ کې، په يوې تيارې ګوښه کې هغې، هغه څه په خيال کې تصورول، چې په دغه ځلېدونکي تالار کې، د لومړي ځل لپاره د نڅا په دغه بنډار کې، دې ته سترګه په لاره و. هغې په خيال کې موسيقي اورېده، نڅاوې او د خلکو له خوا پر ټولواک د ګلو باران ليده. د پترزبورګ ښکلي او زړه راښکوونکي ځوانان، هوکې هر هغه چې خيال ته ورتلل په کوډ ګره ښه ښکلي او د دې لپاره نه منونکي وو. کله چې د مېلمستيا تالار ته پر سرو قالينو فرش شوې لاره، ووهله د هليز ته ورسېده، دروازې ته ورننوته، خپل نرى کوټ يې وويست او له سونيا سره په ګډه د مور په وړاندې د ګلو په منځ کې پر پرتو رڼا شويو زينوو پورته لاړه، لږ څه يې زړه ته ورولوېده، چې څه به ګوري او څه به کېږي. په همدې شېبه کې پوه شوه چې د نڅا په محفل کې بايد څنګه واوسي، نو له همدې کبله يې خپل کړه وړه ځکه شاهانه وزمه کړل چې تصور يې کاوه يوه اصيله پېغله په دغو شان محافلو کې بايد همداسې وي. هغې داسې احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه چې په سترګو یې یوه نرۍ توره پرده راخوره ده، هرڅه یې ترمخې تت شوي و، زړه یې په بې ساري توګه رپېده... له ډېرې ګبنې نېږدې وه، چې سرسامه او بېسده شي. د زړه له کومې او په ټول توان یې هڅه کوله، چې خپل دغه حالت له نورو پټ وساتي او دا خورا ښه حالت او کړه وړه چې دي ته ښه برېښېده. ددوی ترمخې او ترشا نورو مېلمنو هم د مېلمستيا نوې جامې اغوستې وې او ددوی په شان په کراره سره بنګېدل او مخې ته روان وو. هغه هينداري چې د زينو څنګ ته کتارو کې لګېدلې وې، د سپينو، شنو او ګلابي کالېو مېرمنې او پېغلې او د هغو په بربنډه غاړو او مړوندونو کې پراته غمي، مرغلرې او نورې ګاڼې لا پسې څرګندې ښودلې.

ناتاشا هينداروته کتل او د هغو هندارو په زړه کې يې د راخورېدونکو تصويرونو په منځ کې نه شو کولای، د نورو ښځو په منځ کې خپل تصوير پيدا کړي. ټول د رڼا او ځلا په يوه ځلېدونکي کاروان کې سره ګډوډ شوي وو. همدا چې تالار ته ننوتل د مېلمنو د غږېدا، ګامونو، سلامونو او سترې مشئ يو ډول ګڼه ګوڼې او بنګهارې، د هغې سر وروګرځاوه او د تالار د څراغونو خورا زوروري ځلېدا د هغې سترګې ورتتې کړې. کوربه او د هغه مېرمن، چې له نيم ساعت راهيسې د تالار په وره کې هرکلي ته ولاړو، ټولو رارسېدونکو مېلمنو ته يې دغه څو ټکي په يو ډول هر مېلمه ته جلا جلا ويل چې «هرکله، ستاسو په ليدو خوشاله يو» دوی او ميرمن پيرونسکايا ته يې هم دغه شان هرکلی ووايه. دوو پېغلو چې سپينې جامې يې اغوستې وې او خپلې توري څڼې يې په سرو ګلانو سينګار کړې وې، د خپلو ځنګنو په لږ خمېدو سره درناوي وکړ. خو د کوربنې سترګې د هغې له ارادې پرته د ناتاشا ښکلا ته وروا وښتې. هغې ته يې کتل او پر يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمي موسکا يې چې هر مېلمه ته يې وربښله، لږ ځانګړتيا ورزياته کړه او ناتاشا ته يې وروبښله، کېداى شي ناتاشا ته ددې موسکا په ليدو د خپل پېغلتوب لومړنۍ نه هېرېدونکې ورځې او د هغه وختونو د نڅاګانو لومړنۍ بنډار ورياد شوي وي. د کوربنې سترګې هم هغه ځارله او له خپل خاوند نه يې وپوښتل: کومه يوه يې لور ده. او د خپلو ګوتو سرونه يې ښکل کړل او وې ويل: ډومره زړه راښکوونکې ده.

د تالار دروازې ته نږدې په لويه ګڼه ګوڼه کې خلک سره ولاړ او د ټولواک راتګ ته يې سترګې څارلې. ګرافينه په لومړۍ کتار کې ودرېده. ناتاشا د څو تنو غږونه چې ددې په لټه کې و، اورېدل او د هغو غلچکونه يې ځان پلو احساسول. هغه په دې پوه شوه چې ددې پسې لټونکي او دې ته پام، د هغو کسانو دي، چې دا يې خوښه شوې او دغه حالت دا لږه آرامه کړه، له ځانسره يې وويل: زياتره مور ته ورته دي، له مور نه بدتره هم شته.

پيرونسکايا په محفل کې يو مخور، ګرافينې ته وروپېژاند.هغې، هغه سړي ته چې کړۍ کړۍ ګڼ سپين وېښته يې لرل، اشاره وکړه او وې ويل: هغه د هالند سفير دي. بيا يې ايلن ته چې تالار ته راننوته، هغې ته وروښوده او وې ويل:

- دا هم د پترزبورګ ټولواکه ده، مېرمن بيزاوخوف!

- ډومره ښکلې ده، په مالګينتوب کې تر ماريا انتونوفنا (د لومړي الکساندر معشوقه) کمه نه ده. ګوره، ښه ورته ګوره، چې زاړه او ځوانان څنګه ترې چورلېږي. هم ښکلې ده او هم هوښيار... خلک وايي چې شهزاده... پرې مين دي. دې نوروته وګوره! سره له هغه چې ښکلې نه دي، خو بيا هم خلک پرې ورټول دي. يوه ښځه چې له خپلې ناښکلې لور سره راروانه وه، وروښودله او وې ويل: يو خورا بډاى يې غواړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ريباران يې ورلېږلي دي. هغه وينې، هغه دوی يې غواړي... پيرونسکايا د ګارد يو ښکلي افسر ته چې د دوی له څنګه تېرېده او په جګه غاړه يې د ښځو د سر له پاسه کوم ځای ته کتل، اشاره وکړه او وې ويل:

- دا اناتولې کوراګين دي، د ګرافينې بيزاوخوا ورور. ډېر ښکلي دي، همداسې نه دي؟ داسې ګونګوسې دي چې غواړي، همدا بډايه پېغله ورته وغواړي، خو ستاسو دا خپلوان دروبتځکوي هم، د هغې نجلۍ شاوخوا چورلېږي. داسې ويل کېږي، چې د هغه نجلۍ شتمني له څو ميليونو اوړي.

بيا يې د ګرافينې، هغې پوښتنې ته چې هغه څوک دي، وويل:

- دا د فرانسې سفير دي. وګوري! هغه ځان د ټولو اک ښې لاس ګڼي، خو بايد اعتراف وکړو دا فرانسويان هم خورا خواږه خلک دي، خورا مهربانه، په دې بنداړونو کې تر دوی نه خوږ ژبې پيدا کولای نه شي. آها! زموږ ماريا انتونوفنا ته ګوره! تر ټولو ښکلې! د جامو سادګۍ ته دې پام کړي، خورا ساده او ښکلې.

پيرونسکايا بيزاوخوف ته اشاره وکړه او وې ويل: دې بل ته بيا ګوره! عينکي، - دا څه کوي، د خپلې ښځې تر څنګ يې تصور کړې، د ملنډو يو ټوټه، يوه ناندرۍ او يوه ټوکه.

پېير غټ، شډل، درانه کاږه واږه ګامونه، هر پلو ته کتل، خلک يې دې خوا هغې خوا پورې وهل، په داسې سادګۍ او بې پروايي مخې ته روان و، ته به وايې چې د بازار په ګڼه ګوڼه کې ګرځي راګرځي. د خلکو په منځ کې يې څوک لټول. ناتاشا په خوښۍ د پېير د پيرونسکايا په وينا، د بنداړونو د ملنډو موضوع، څېرې ته کتل. هغه په دې پوهېده چې پېير دوی په تېره بيا دا لټوي. پېير هغې ته وعده ورکړې وه، چې دغې نڅا ته به راشي او دی به هغې ته ښه نڅاګر ورو پېژني خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیزا او خوف تر دوی پورې لا نه ورسېدلي، چې د یو نه لوړ، خورا ښکلي، تورڅښي، په پوځي دریشي کې د ولاړ ځوان ترڅنګ ودرېد، دغه ځوان د کړکۍ تر خوا د یوه لوړ تورڅښي او خورا بل ښکلي ځوان تر څنګ چې سپینه دریشي او ټټر یې له نښانو او مډالونو نه ډک و، ولاړ او خبرې سره یې کولې. ناتاشا د سترګو په رپ کې دغه د منځني ونې سپین جامې ځوان وپېژانده. هغه سردار بالکونسکي و. هغه دې ته ډېر ښکلي، ځوان او تاند وبریښېد.

پیرونسکایا وویل: ښه داسې ده، تاسو هغه پېژنئ؟ زه یې لیدل هم زغملی نه شم. اوس خو ټول پسې لېوني شوي دي. هغه داسې کبرجن او ځانستایونکي دي، چې مه کوه پوښتنه. خپل پلار ته شوي. ځان یې سپرانسکي ته نبږدې کړي اوس غواړي کومې طرحې جوړې کړي. له ښځو سره یې کړوورو ته لا پسې ګوره! هغه ښځه غواړي ده سره وغږېږي او دې مخ ترې اړوي. ته ګوره، هغه ته یې اشاره وکړه، که له ما سره یې داسې کړي وای ما به ورښودلي و، چې یو من ځو پتېږې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۶

ناڅاپه ټول وخوځېدل او شرو شور ګډ شو، ګڼه ګونه جوړه شوه، ټول مخې ته وخوځېدل او په دوو ډلو وويشل شول. لاره جوړه شوه او سازيانو، سازونو ته ګوتې وروړې، موسيقي وغږېده، ټولواک مخکې، کوربه او کوربنه د مېلمنو د دووکتارونو د هرکلو په منځ کې تالار ته راننوتل. ټولواک چټک چټک ګامونه اخېستل، ښي او کين خوا ته يې لاسونه ښورول، داسې بريښېدل چې هڅه کوي له ګڼو خلکو سره د ددغې کتنې له پيل نه ځان وژغوري. ارکستر هغه پولندي طرز وغږاوه چې په هغو ورځو کې د خپلې ښکلې سندرې له پلوه دود شوي و. ددې سندرې شعر داسې و:

- (الکساندر، اليزابت موږ ستاسو مينان يو) ټولواک د هرکليو کوټې ته لاړ او خلک دروازې کې پاتې شول. څو تنه په تلوار او ګړنۍ چې رنګونه يې الوتي وو، تالار ته راننوتل، خو بېرته ستانه شول. کله چې ټولواک او د هغه کوربنې په غږېدا غږېدا کې بيرته په دروازې کې راښکاره شول، د خلکو ګڼه ګونه کوټې ته شاته لاړه، خو يو تن ځوان چې وارخطا ښکارېده، د ښځو خواته داسې ورنږدې شو، هغه يې پورې وهلې او له هغو نه يې هيله وکړه چې شاته لاړې شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک بیا دې خواته، هغې خواته شول، لاره یې جوړه کړه، د ټولواک موسکا پرشونډو وه، کوربنه یې له لاسه راونیولې او د هرکلو کوټې نه تالار ته راووتل. هغو پسې کوربه او مناراشکینا روان وو، بیا سفیران، وزیران، هغه بېلابېل جنرالان چې پیروسکایا یې په وار سره نومونه یادول روان وو. له نیمایي نه زیاتو ښځو چې د نټا لپاره جوړې لرلې، یا د نټا په کتارونو کې ودرېدې او یا د هغو کتار ته وخوځېدې. ناتاشا داسې انګېرله چې دا د مور او سونیا په څېر د هغو څو تنو ښځو په ډله کې ده، چې نټا ته نه دي بلل شوي، د دېوال ته نږدې یوازې ولاړه وه... هغې نه ټولواک ته کتل او نه هغو مخورو ته چې پیروسکایا هغوی ته نومول او ښودل. هغې یوازې یو خیال لاره او هغه دا وه چې ایا دا به څوک نڅا ته وروبولي او کنه؟ ایا په رښتیا ددې نارینو له ډلې به د هېڅچا ما ته پام نه یي؟ ایا په رښتیا به زه د لومړیو جوړو په منځ کې ونه نځېږم؟ ایا هېڅوک به ما ته رانږدې نه شي؟ داسې بریښي چې ما دوی نه ویني، که دوی ما ته وګوري، په زړه کې به وایي: نه، دا هغه نه ده. نه، دا ناشونې خبره ده، مګر دا څنګه کېدونکې دي. خو هغوی په دې نه پوهېږي چې زه څومره هیله لرم ونځېږم؟ هغوی باید پوه وي، چې زه څومره ښکلې ګډېږم او له ما سره ګډېدل، څه خوند لري او څه پارونکې دي.

د پولنډۍ نغمې اوږدې او دوامدار غږېدا، د ناتاشې په غوږونو کې څه غمجنې انګازې کولې. هغې غوښتل وژاړي، پیروسکایا هغوی نه لرې شوې وه، ګراف هم د تالار بلې اړخ ته تللی و، ګرافینه، سونیا او ناتاشا د پردیو خلکو په دې ګڼه ګوڼه کې داسې یوازې پاتې وو، لکه څوک چې په ځنګله کې پاتېږي، نه د چا ورته پام و نه یې څوک لېوالـه و، سردار له یوې ښکلې سره په نڅا نڅا ددوی له څنګه تېر شو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې برېښېده چې هغه دوی پېژندلي نه و. اناتول په موسکا موسکا د خپلې نڅا جوړې په غوږ کې څه ویل او د ناتاشې څېرې ته یې داسې وروکتل، لکه څوک چې وچ د یوال ته ګوري. باریس دوه واره ددوی له څنګه تېر شو او هر وار یې مخ ترې واړاوه، بېرګ او میرمن یې چې نه نڅېدل، ددوی څنګ ته راغلل...

په پای کې ټولواک په نڅا کې د خپلې دریمې جوړې تر څنګ ودرېد (هغه درې تنو سره نڅېدلي و) د موسیقي انګازې ودرېدې. یاور په خورا تلوار او ګبنۍ د رستوف د کورنۍ د غړو خوا ته نږدې شو، که څه هم هغوی دیواله ته ولاړ وو، خو له هغو هیله وشوه چې لاره پرېږدي. هغوی چې دیوال ته ولاړ وو د شاتګ امکان یې نه و... سردار اندرې د ډګروالۍ په خپلې سپینې دریشۍ کې، په خورا لېوالتیا او خوښۍ په لومړي کرښې کې، هغوی ته نږدې ولاړ و. بارون فیګروف، له هغه سره د دولت د عالي شورا د لومړي غونډې په اړه چې یوه ورځ وروسته جوړېدونکې وه، غږېده... سردار اندرې هغو جوړو ته چې د ټولواک په مخکې له ګډېدو نه شرمېدلي او هغو مېرمنو ته چې په دې بنډار کې یې د زړه له کومې د نڅېدو هیله لرله، کتل.

پېیر سردار اندرې ته ورنږدې شو، د هغه څنګل یې راونیوه او وې ویل:

- تاسو خو تل نڅېږې، راشه زما دا رستووه، ښکلې نازولې رستووه نڅا ته راوبوله!

بالکونسکي وویل:

- چېرې ده؟

هغه خپل ملګري بارون ته چې د دولتي عالي شورا په اړه وسره غږېد، وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښښنه غواړم، دا خبرې به کوم بل ځای او وخت وکړو. د نڅا په محفل کې باید یوازې ونا څو.

هغه مخکې شو او هغې خواته چې پېير وروښو دله وخوځېد. لږ وړاندې لاړ او د ناتاشا ناهیلې او ستومانه ملاله سترګې د سردار اندرې له سترګو سره ولګېدې. سردار اندرې هغه وپېژانده او د هغه له احساساتونه داسې پوه شو، چې هغه په نڅا کې نوې ده او د کړکۍ شاته د هغې خبرې وریادې شوې. په خورا خوښۍ ګرافینې ته ورنږدې شو.

ګرافینه تکه سره شوه او وې ویل:

- اجازه راکړې خپلې لور سره تاسو آشنا کړم.

سردار اندرې په ادبي درناوي سره، چې د هغه په اړه د پیرونسکایا له خبرو نه چور توپیر درلود، وویل:

- که ګرافینې(ناتاشا ) هېره کړې نه وي، زه لا پخوا د هغې د آشنا ویاړ لرم. هغه ناتاشې ته ورنږدې شو، لاس یې راونیو، پرته له هغه چې هغې ته د نڅا د بلنو خبره وریاده کړي، د هغې له ملا نه یې لاس تاو کړ. هغه ته یې دا وار د نڅا وړاندیز وکړ. د ناتاشا ستومانه سترګې او څېره چې د ناهیلۍ او مینه ناکۍ لپوالتیا لپاره یې په یوه اندازه، چمتووالي لاره، ناڅاپه په یوې ماشوم وزمه موسکا او خوښۍ وغوړېدې او د مننې او درناوي ځلا پرې خوره شوه. داسې برېښېده چې ګواکې دا ویرېدل شوې او نیکمرغې نجلۍ په یوې موسکا سره، چې تر شایې، د اوښکو باران ورېدو ته چمتو و، غواړي وواییې: زه لا پخوا دې بلنې ته سترګې په لاره وم.

ناتاشا او اندرې د نڅا دویمه جوړه وه، چې د نڅا کړۍ ته راننوتل. سرداراندرې د خپلې زمانې یو له ښکلو نڅاګرو نه و. ناتاشا هم خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې نښېده. ورې پښې يې د نڅا په ښکلو اطلسي بوټونو کې پټې، خو په چټکۍ او ددې له ارادې نه خپلواکه خوځېدلې او څېره يې له مستۍ او د برې له خونده ځلېدله. د هغې لوڅه غاړه او ډنګر لاسونه زړه راښکوونکي و، د هغې اوږې د ايلن د اوږو په پرتله خورا ډنګرې، ټټر يې لنډ او مړوندونه يې هم وچ و، خو په زرګونه ښويېدونکي غلچکونه، د ايلن پر ښکلو اندامونو لکه ناولې داغونه لګېدل، حال دا چې ناتاشا لکه د يوې معصومې او ساده نجلۍ په شان وه چې د لومړي ځل لپاره بربنډه شوې وه. که پر هغې دا منل شوي نه واى، هغه به هرومرو له شرمه اوبه شوې واى.

سردار اندرې له نڅا نه ښه خوند اخېست، هغه نه يوازې هيله لرله، ژر ترژره له هغو سياسي وچو خبرونه چې خلکو به له هغه نه د هغو په اړه پوښتنې کولې ځان وژغورې، بلکې دا يې هم غوښتل چې د ټولواک په شاوخوا د غه راټوله شوې غم لړلې کړۍ ماته او له هغه نه ووزي. نو د همدې کبله يې تکل وکړ وناڅي، او ناتاشه يې ددې ګډېدا لپاره خپله جوړه وټاکله. هغه يې ځکه وټاکله چې پېير ورته وويل او هم له دې کبله چې تر ټولو ښکلې ښځه وه، چې هلته ليدل کېده. همدا چې د نڅا لپاره يې د هغې له نرۍ او چټکې خوځېدونکې ملا نه لاسونه کړۍ کړل، د هغې خوځېدا او چورليدل يې ځان ته خورا نېږدې احساس کړل. د هغې له صداقت نه ډکه موسکا يې د خپلو سترګو په وړاندې خورا نېږدې وليدله او د دغې نجلۍ د ښکلا مستي يې په ځان کې احساس کړه. کله چې يې تر نڅا وروسته، هغه خپل ځاى ته بدرګه کړه، سا يې وويسته، ځاى پر ځاى ودرېد، د نڅاګرو په ننداره شو، او د زړه په تل کې يې د داسې يوه تاند، شور او مستي روح راوتوخنېد، چې ځان يې ځوان او تاند احساس کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

تر سردار اندرې نه وروسته باريس ناتاشې ته ورغی او هغه يې ګډېدا ته وبلله، بيا هماغه ياور چې د نڅا بنداريې پيل کړي و او بيا نورو نورو زلميانو له ناتاشې نه د نڅېدو غوښتنه وکړه. ناتاشا که څه هم هغه شپه، په خورا شور، لېوالتيا او تکې سرې شوې څېرې، يوه شېبه هم له نڅېدو ونه درېده، خو بيا يې هم خپل ځيني هغه لېوال چې له دې سره يې د نڅېدو هيله لرله، سونيا ته د ګډېدو لپاره ورلېږل. د هغې هېڅ شي ته پام نه و او نه يې ليدل چې څه څيزونه د نورو پام ځانته وراړوي. نه يوازې يې دې ته پام نه شو چې ټولواک ډېر وخت د فرانسې له سفير سره وغږېد او يا يې په څه مينې له پلانۍ مېرمنې سره د زړه خواله وکړه، يا دا چې کوم شهزاده له چا سره څه کړي او څه يې ويلي دي، يا دا چې ايلن څنګه د ټولو په منځ له ورايه ځلېدله او يا يې له چا سره ځانګړې خواخوږي لرله، بلکې هغې آن خپله ټولواک هم نه ليده او يوازې په مېلمستيا کې د شور، خندا او غږېدو له زياتوالي نه په دې پوه شوه چې ټولواک تللی دی. سردار اندرې له ناتاشې سره کوتيلوف نومې مسته نڅا چې تر ډوډۍ نه مخکې شوې وه، بيا وکړه. هغه د آترادنيا (په مسکو کې هغه کلی چې ناتشا په کې اوسېده) د باغ په لاره کې، له ناتاشې سره خپل لومړي ديدن هغې ته وريادکړه او دا يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورياد کړ چې څنګه ناتاشا ته هغه شپه چې سپوږمۍ خپله رڼا خوره کړې وه، خوب نه ورته او سردار اندرې بې له هغه چې تکل ولري، په بې خبرۍ کې د هغې خبرې اورېدلې وې. ناتاشا چې له هغه نه دا خبرې واورېدې تکه سره شوه، هڅه يې وکړه له هغه بښنه وغواړي. هغې وويل، د هغو احساساتو په اړه چې هغې، هغه شپه خبرې کړې او سردار اندرې ورېدلي دي، ځيني د شرم خبرې هم وې.

سردار اندرې د ټولو هغو کسانو په شان چې د اعيانو په کورنيو کې لوی شوي وي، دا ښه ګڼله په محافلو کې له هغو کسانو سره خبرې اترې ونه کړي، چې په ټولنه کې د کومې بدنامې په تور تورن شوي وي او ناتاشا په تعجب سره د خپلو خوښيو، تېروتنو او په فرانسوي ژبه کې د خپلو نيمګړتيا له امله همدا سې وه. سردار اندرې په خپلو خبرو او کړو وړو کې له هغې سره خورا خواخوږي او مهربانه و. د هغې ترڅنګ ناست و او له هغې سره يې د خورا ساده ساده او بې ارزښته څيزونو او کسانو په اړه خبرې کولې. سردار اندرې د هغې د سترګو له ځلېدونکو شغلو، د موسکا له انګازونه چې له ويلو شويو خبرو سره يې هېڅ اړه نه لرله، او د هغې د زړه له تل نه د راپارېدونکو خوښيو نه خوند اخېست. هر وار يې به چې چا ناتاشا نڅا ته بلله او هغه به په موسکا موسکا پاڅېدله، د تالار په منځ کې به چورليده، سردار اندرې به د هغې نورو پټو اداګانو ته پام کېده او هغه به يې د زړه له تله ستايل.

يو وار چې ناتاشا يوه نڅا پای ته ورسوله او په سا ايستلو سا ايستلو بېرته خپل ځای ته راستنه شوه، يو بل ځوان هغه ته د نڅا بلنه ورکړه. هغه سخته ستومانه شوې وه او له ژورو سا ايستلو نه يې داسې څرګندېده، چې نه غواړي دغه بلنه ومني. خو ناڅاپه يې پرشوندو بيا موسکا خوره شوه او په خندا خندا يې بيا لاسونه د هغه ځوان پر اوږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکېښودل او سردار اندرې ته د يوې خوږې موسکا تر لېږلو وروسته، په چورليدو چورليدو لرې شوه. اندرې ته د هغې موسکا ويل:

- زه به په دې خورا خوشاله وای، چې کرار، ستا تر څنګ ناسته وای، زه ډېره ستومانه شوې يم، نو تاسو خپله ګورئ چې څوک مې نه پرېږدي، که څه هم زه په دې خوشاله يم، ځکه ټول راته ګران دي، تاسو او زه دواړه په دې خبره ښه پوهېږو. کله چې له دغه ځوان سره دغه نڅا پای ته ورسېده. او ځوان هغه پريښوده، ناتاشا په منډه د تالار له دې خوا نه هغه بلې خوا ته ورمنډې کړلې، چې يو دوه ښځې د نڅا لپاره خوښې کړي.

سردار اندرې همداسې هغې ته کتل او په يوه ډول چې ده خپله يې تمه نه لرله، په زړه کې وويل:

- که هغه لومړي خپلې دغې خپلوانې پېغلې او بيا هغه مېرمنې ته ورشي، ناتاشا به زما ښځه شي.

خو ناتاشا تر هر چا لومړي، د سونيا پلو ورغله.

سردار اندرې په زړه کې وويل:

- کله کله څه تش خيالونه هم د انسان ذهن ته راځي.

خو کله چې ناتاشا د ده ترڅنګه تېرېده او د خپل ټټر پر سر ايښې ګلان يې جوړول، اندرې له ځانسره وويل:

- خو يوه خبره څرګنده ده او هغه دا چې دا نجلۍ دومره خوږه، نازولې او دومره له نورو نجونو نه توپير لري، چې د يوې مياشتې په اوږدو کې به هرومرو واده وکړي، داسې پېغلې دلته نه پيدا کېږي.

د نڅاوو په پای کې، بوډا ګراف په خپل شنه باراني کوټ کې، د نڅاګرو خوا ته راغی. سردار اندرې ته يې بلنه ورکړه چې له ده سره کورته لاړ شي او له لورنه يې وپوښتل، چې ايا ددې وخت څنګه تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دي. ناتاشا لومړي ځواب ورنه کړ، یوازې یوه موسکا یې وکړه او موسکا داسې وه چې ګواکې په ملنډو وایي: څنګه کولای شي داسې یوه پوښتنه وکړي؟ خو بیا یې هم وویل:

- داسې ښه او په خوښۍ تېره شوه، چې په ژوند کې مې نه وه لیدلې.

د سردار اندري ته پام شو چې څنګه د ناتاشا ډنګر لاسونه د دې لپاره پورته شول چې پلار نه یې کړی کړي، خو ناڅاپه او ژر هغه بېرته ښکته ولوېد. ناتاشا په ژوند کې ځان داسې نیکمرغه احساس کړی نه و. هغه د نیکمرغۍ او برې هغو څوکو ته رسېدلې وه چې انسان په پوره توګه مهربانه او ښه کېږي او آن دا چې د بدۍ، بدمرغۍ او غم شته والي هېروي.

پییر په دغه مېلمستیا کې د لومړي ځل لپاره د ټولنې په لوړو او اعیانو کړیو کې د خپلې ښځې خورا ښه او لوړ دریځ، ځان ته سپکاوي وګاڼه، نو ځکه خورا غمجن او پریښانه ښکارېده. د هغه د تندي ګونځې لا ژورې بریښېدې، د کړکۍ تر څنګ ولاړ و او د خپلو عینکو له شا نه مخامخ چیرته ځیر و، خو هېڅوک یې نه لیدل.

ناتاشا چې د خوړنتون پلو روانه وه، د هغه له څنګه تېره شوه. د پییر پریښانۍ او خواشینۍ، هغه حیرانه کړه، د هغه تر مخې ودرېده، غوښتل له هغه سره د خپلې نیکمرغي او خوښۍ په شریکولو له هغه سره مرسته وکړي، هغې وویل: څومره ښه وګرافه! تاسو ته وایم همداسې نه وه؟

پییر بې له ارادي نه وموسېد او داسې بریښېده چې هغه نه پوهېږي، هغه ته څوک څه وایي، خو بیا یې هم وویل:

- هو کې، ډېر خوشاله یم.

ناتاشا په زړه کې وویل: څنګه امکان لري، هغوی ناراضه واوسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تېره بیا د بیزاو خوف په څېر یو ښه سړي ! ټول هغه کسان چې د غه بندار ته راغلي وو ، ناتاشا ته ټول په یو شان ښه، مهربانه، یو بل ته ګران خلک بریښېدل او د هغو نه یو هم نه شي کولای یو بل خپه کړي، نو له دې کبله دوی ټول باید نیمکرغه واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

بله ورځ سردار اندرې د پرونۍ شپې د نڅا مېلمستیا وریاده کړه، خو دغو یادونو زیات وخت دوام پیدا نه کړ، هغه وویل: هو کې، د نڅا خورا پرتمین بزم و،... هو کې، او نور... رستوفه هم خورا مهربانه او خوږه وه. هغه کومه ځانګړې ځانګړتیا لري. کوم غیر پترزبورګ ځانګړتیا، هغه ځانګړتیا چې دې ته له نورو نه توپیر ورکوي. دا هغه څه و، چې ده د پرونۍ شپې د محفل په اړه له ځانسره وویل. هغه خپله سهارنۍ وخوړله او په کار یې پیل وکړ.

هغه د پرون شپې د شوګیرو او بې خوبیو له امله کار ته زړه نه کېده، ورځ یې ښه نه وه، سردار هېڅ څه نه شو کولای، هغه خپل ځان او خپل کړه خپله غندل، په همدې وخت کې واورېد، چې څوک راغلل، خوشاله شو.

ده ته راغلي څوک، بیڅکي نومېده، هغه په بېلابېلو جرګه ګیو کې غړیتوب درلود او د پترزبورګ په ټولو محافلو کې یې تګ راتګ کاوه. هغه د نویو نظریاتو غوښتونکي و او د سپرانسکي له لېونیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلویانو نه و ، په نه ستومانه کېدونکي ډول يې د پلازمينې خبرونه هر پلو خپرول او يو له هغو کسانو نه و چې د خبرو په خپريې خپل عقايد هم بدلول...

هغه په تلوار سره سردار اندرې ته راغي او سمدلاسه يې په خبرو پيل وکړ. هغه ويل چې، د ټولواک په مشرۍ د عالي شورا د جرګې له اجندا نه چې همدا نن سهار جوړه شوې ده ، څو شېبه مخکې خبر شو او د هغه په اړه يې په خورا ګبنۍ سردار اندرې ته خبرې پيل کړې. د ټولواک وينا په بې سارې توګه ښه وه. دغه وينا يوه له هغو دريو ويناو نه وه، چې يوازې او يوازې مشروطه غوښتونکي ټولواک يې کوي. ټولواک په ډاګه وويل:

- ولسي او مشرانو جرګې د دولتي اصل دوه ستنې دي. هغه وويل: دولت بايد پر ټينګو اصولو ولاړ وي نه د چا په ځانګړې خوښې او پريکړې. ټولواک وويل: د دولت مالي چارو کې بايد ژور بدلون راشي او ټول حسابونه بايد برالا او په ډاګه وي. بيځکي دا ټولې خبرې وکړې، په ځينو يې ټينګار کاوه ، خپلې سترګې به يې په ځانګړې معنا لرونکې بڼه کېښکودلې، بيځکي خپلې خبرې راټولې کړې او د پايلې په توګه يې وويل:

- نننۍ پېښه د يوه نوي پړاو پيل دي. زموږ په تاريخ کې د يو زرين پړاو.

سردار اندرې د ټولواک د عالي جرګې خبر، چې خورا په بې صبرۍ ورته سترګه په لاره و ، او هغه يې خورا با اهميته پېښه ګڼله، په خورا سړه مينه واورېد او له دې نه يې حيرت کاوه چې اوس دغه پېښه سر ته رسېدلې ده ،دغې پېښې نه يوازې په ده يې کوم اغېز ونه کړ بلکې هغه ته ډېره بې اغېزه او يوه کوچنۍ پېښه وبرېښېده. هغه چې په آرامۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ملنډو په ډک خیال، د بیڅکي له احساساتو نه ډکې خبرونه او رېدل، یو تر ټولو ساده فکر یې ذهن کې وګرځېد: په ما او په بیڅکي پورې څه اړه لري، په مور پورې څه اړه لري، چې ټولواک په عالي شورا کې څه ویلي دي؟ ایا دا ټولې خبرې ماته کومه نیکمرغي را په برخه کوي؟

همدې ساده قضاوت په یوه شېبه کې له اصلاحاتو د سردار اندرې هغه پخوانی لېوالتیا له مینځه یوړه. دي او څونور په ګوته شمار کسان، هغه ورځ د غرمنۍ لپاره د سپرانسکي په کور کې مېلمانه وو. کوربانه، هغه ته د بلنې په وخت کې ویلي و:

- ځانګړې مېلمستیا ته بلل شوي دي.

د سردار اندرې لپاره دغې مېلمستیا تر اوسه پورې ځکه خورا اهمیت لاره، چې هغې ته هغه کسان راتلل چې ده له هغو سره ځانګړې لېوالتیا لرله... مګر اوس یې زړه نه غوښت چې هلته ورشي.

سردار اندرې د غرمنۍ لپاره په ټاکل شوي ساعت، د تاوریچسکي باغ ته نېږدې د سپرانسکي کورته ورننوت. نور مېلمانه چې د سپرانسکي نېږدې او خواخوږي ملګري وو، تر ده مخکې او پوره په پنځو بجو رارسېدلي وو. د دغه هومره نه لوی کور، خوړنتون او د پخلنتون پاکۍ او سپېڅلتوب پام ځانته وراړاوه او د کوربانه د راهبانه ژوند نښې یې ښرګندولې.

د سپرانسکي له اوږد مخې (پلار ته ورته) لور او د هغه له یوې چوپړې نه پرته نورې ښځې په دې مېلمستیا کې نه وې. مېلمانه څوک وو؟ ژوروه، ماګینتڅکي او ستولپین. سردار اندرې لا په ګاونډه کوټه کې و چې لوبغاړو ته د ورته انګازې خندا غږ یې تر غوږه شو. دغه خندا د هغو لوبغاړو خندا ته ورته و، چې په ننداروکې خاندي. د یو چا غږ چې د سپرانسکي غږ ته ورته و، خندل او د خندا انګازیو یې په کوټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خورې وې، تر دې نه مخکې سردار اندرې کله د سپرانسکي د خندا غږ نه و اورېدلی. د دغه ستر چارواکي د خندا شور پر ده سخت اغېز وکړ.

سردار اندرې خوړنتون ته ورننوت. ټول حاضر کسان د دوو کړکیو ترمنځ د یوه میز پر شاوخوا چې ځکه (تر ډوډۍ نه مخکې خواړه) پر ایښي و ولاړ وو... ماګنیځکي میخایل میخایلوویچ کومه ټوکه ویلې... سپرانسکي چې همداسې خندل، د سردار اندرې په لیدو، خپل نرم او سپین لاس وراوږد کړ، د هغه لاس یې کېښکود او وې ویل:

- ستاسو له لیدو نه خورا خوشاله یم!

سپرانسکي مخ ماګنیځکي ته وروا ړاوه، د هغه خبرې یې پرې کړې او وې ویل:

- وبښئ، یوه شېبه هیله کوم...

هغه سردار اندرې ته وویل:

- نن مو پرېکړه کړې، چې یوازې خوند به اخلو او د کار په اړه به هېڅ نه غږېږو. او بیا یې نکل کوونکي ته مخ وروا ړاوه او خپلې خندا ته یې دوام ورکړ.

سردار اندرې په تعجب او خواشینۍ د سپرانسکي خندا اورېده او د هغه خندېدونکي ځېرې ته ځیر و. هغه ته داسې برېښېده چې دا سړی نه سپرانسکي، بلکې بل څوک دی. هغه په زړه پورې له رازه ډک پخواني خیال چې سردار اندرې په خپل ذهن کې د سپرانسکي نه انځور کړی و، یو ناڅاپه د هغه لپاره برېنډ، ساده او نه د پاملرنې شو.

د میز شاوخوا یو شېبه هم څوک نه آرامېدل. داسې برېښېده چې هغوی ټوکې ټکالې راټولې کړې وې. لا ماګنیځکي خپله ټوکه پای رسولې نه وه، چې بل چا غوښتل تر هغې نه لا خندنې څه ووایي، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوکه که د دولت په اړه نه وه، خو په دولتي چارواکو يې ملنډې وهلې... داسې برېښېده چې سپرانسکي د يو سختې کړاو نه ډکې ورځې نه وروسته غوښتل له انډيوالانو سره استراحت وکړي. د هغه انډيوالان د هغه په دې هيله پوهېدل او خپله يې هم غوښتل چې يوه شېبه وخاندي، خو ددوی ټوکې اندرې ته هسې د خندا وړ نه ښکارېدې، هېڅ خوند يې نه ورکاوه. د سپرانسکي نري غږ هم د هغه په غوږو ښه نه لګېده او په دې هېڅ نه پوهېده چې د هغه د پرله پسې بې خونده، انګازو ولې پر ده، بې خونده اغېز کاوه. اندرې ته خندا نه ورتله او له دې نه ويرېده چې د ده دغه حالت پر نورو دروند تمام شي، خو ښه وه، د هېڅ چا د ده دغه حال ته پام نه و او ټولو ته داسې برېښېده چې ټول خوشاله دي. سردار اندرې څو ځله هڅه وکړه، خبرو ته ورګډ شي خو هر وار يې هڅه بې ګټه پاتې کېده...

تر ډوډۍ وروسته د سپرانسکي لور او د هغه مينځه پاڅېدل، سپرانسکي خپل سپين لاس د لور پر سر تېر کړ، هغه يې ښکل کړه، آن دغه کړه هم سردار اندرې ته غير طبيعي وبرېښېدل..

سپرانسکي د شراب بوتل وتاړه... ماګنيڅکي سمدلاسه له ځايه پاڅېد او د شعر لوستلو ته يې چمتووالي ونيو. هغه د پترزبورګ د ځينو مخورو په اړه په فرانسوي ژبه له ملنډو ډک شعرونه ولوستل، څو ځله شعرونو ته لاسونه وپړکول شول. د اشعار تر لوستلو وروسته اندرې، سپرانسکي ته راغي، چې له هغه سره مخه ښه وکړي.

سپرانسکي وپوښتل:

- چېرې دومره وخته؟

- چا ته مې په مېلمستيا کې د ګډون وعده ورکړې ده...

دواړه چوپ شول. سردار اندرې دغو هيندارو ته ورته سترګو ته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتل هغو کې ناشونې و، ځير و. هسې ملنډې ورته وبرېښېدل، چې هغه چارې دې ښه پايله ولري، چې ده د هغه په مرسته پيل کړې دي. هغه دې ته حيران و چې څنګه ده هغو چارو ته په درنه سترګې کتل چې سپرانسکي سرته رسولې. د هغه له حيا نه د ډکې او خوښۍ نه د لرې خندا غږ، تر هغې نه وروسته چې دي د هغه له کوره راووت دده په غوږو کې انګازې کولې.

سردار اندرې کورته د راستنېدو سره تکل وکړ، په پترزبورګ کې خپل څلور مياشتې ژوند ته په نوي ډول وګوري. هغه خپلې ټولې هلې ځلې وريادې کړې، د ده له خوا د پوځي کړنلارې وړانديز وريادشو، دا وريادشول، چې د ده کړنلاره له دې کبله منل شوې وه او ټولواک ته وړاندې شوې وه چې بله هغه خورا بده وه. د جرګه ګۍ غونډې، په هغو کې د بيرګ ګډون او په هغه کې پر پوځي کړنلارې خبرې اترې وريادې شوې. هغه ته هغه درانه کارونه وريادشول، چې ده د نورو لوايحو په جوړولو کې زغملي و. ده په دې لاره کې د لرغوني روم او فرانسې له قوانينو نه زيات مواد روسي ته ژباړلي و. ده چې ددې ټولو چارو په اړه فکر وکړ، وشرمېد. بيايې د خپلو جايدادونو سيمه بوګاچاروو ا په ژوندي بڼه سترګو ته ودرېده، په کلي او ريزان کې يې خپلې هلې ځلې وريادې شوې. خپل رعيت، بزګران او د هغو مشر درون او دې ته هک حيران و چې څنګه يې داسې ډېره موده کولای شول، په داسې بې ګټې او بې پايلې کارونو بوخت واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

سردار اندرې بله ورځ، د ځو نورو هغو کسانو او له هغه ډلې نه د رستوف کورنۍ دیدن ته ورغی، چې د نڅا د وروستي بنډار په وخت کې یې له ډېرې مودې وروسته ورسره لیدلي او وعدې ورسره کړې وه. ددې تر څنګ ده د ادب له مخې غوښتل د ګراف رستوف دیدن ته ورشي او دا هیله یې هم لرله، د هغې له شور ډکې او له نورو نه توپیر لرونکې نجلۍ کور هم وګوري، چې ده ته له لیدو نه ښې خاطرې پاتې وې.

ناتاشا یو له هغو کسانو نه وه، چې له هر چا نه د مخه ده ته هرکلي ته راووته. هغې شین بخون کورني کمیس اغوستي و، هغه په دې کمیس کې سردار اندرې ته د نڅا تر هغه محفل نه هم لا ښایسته او ښکلې وبرېښېده. د کورني ټولو غړو سردار ته د یوه پخواني، خواخوږي او نږدې دوست په توګه په خورا ورین تندي هرکلي وو ایه... په پترزبورګ کې د مشر ګراف مېلمنه پالنې پر بالکونسکي داسې اغېز کړی و، چې هغه نه شو کولی غرمنۍ ته د هغه بلنه ونه مني. بالکونسکي په زړه کې ویل: هو کې، څه مهربانه او ویاړمن خلک دي، خو دا ښکاره خبره ده چې دوی د یوه وینښته په اندازه هم له هغې خزانې نه خبر نه دي، چې ناتاشا ددوی لوراو د ناتاشا ښکلا یې لري، خو دغه ساده خلک د دغې نازولې ښکلې ژوند ښونکې او شاعرانه نجلۍ د مخ ته راتګ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه بڼ و.

سردار اندرې په ناتاشا کې، یو بې ساري، نا آشنا ، له خوښیو او مستیو ډکه دنیا موندلې وه، هغه پر دې دنیا چې د اترادینا په باغ کې د هغې تر لیدو او په هغه شپه کې د کړکۍ تر شا له اورېدو نه یې، د ده زړه تخنولی و...

تر غرمنۍ نه وروسته ناتاشا د اندرې د هیلې له مخې، د پیانو شاته کېناسته او سندرې یې ویلې. سردار اندرې د کړکۍ تر څنګ له نورو ښځو سره ولاړ و، خو غوږ یې ټول د هغې آواز ته و. د خبرو په منځ کې یې ناځاپه چوپ شو، ناځاپه یې غاړه غړۍ او غم ونیو، خو ژړا یې وچه شوه. ناتاشا سندرې ویلې او دی ورته ځیر و او کوم تت ارمان او هیله یې په زړه کې راتوخنېدله. هغه خوشاله، خو د غم په منګلو کې اسیر و. ددې لپاره یې هېڅ پلمه نه لرله چې وژاړي، خو هغه ژړېدو ته چمتو و. ولې وژاړئ؟ د څه لپاره؟ د پخوانۍ مینې لپاره؟ د کمکۍ شهزادګۍ لپاره؟ د خپلو ځپلو شویو غمونو لپاره؟ د راتلونکو ارمانو لپاره؟ هوکې او نه! د دغه غم، د دغه اوښکنیز غم عمده علت، همدا ویرونکي او ناڅاپي او ده ته لا څرګند تضاد و. د یوه ستر او لا د ده په زړه کې د پټ ستر شي او د یوه خوار او جسماني شی چې دی او دغه نجلۍ وه، ده تصور کاوه چې دغه تضاد د ناتاشا د آواز په اورېدو سره د ده زړه هم ناکراره و او هم یې آرامه و.

همدا چې ناتاشا سندره پای ته ورسوله، هغه سردار اندرې ته ورغله او هغه نه یې وپوښتل:

- څنګه زما آواز مو خوښېږئ؟

دې چې دا پوښتنه وکړه، وشرمېده، ځکه له پوښتنې وروسته پوه شوې وه، چې دا پوښتنه یې باید نه وای کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ومو سېد ، هغې ته يې وکتل او وې ويل: د هغې آواز د بل هر څه په شان چې دا يې کوي، د هغه خوښېږي.
سردار اندرې ماخوستن ناوخته د رستوف له کوره لاړ. هغه د عادت له مخې لاړ پريوت، نو ډېر ژر پوه شو چې خوب يې له ستر ګو تښتېدلي او وېده کېداى نه شي. هغه شمعه ولګوله، په کټ کې کېناست، کله به کېناست او کله به بيا پريوت، خو بې خوبۍ زوراوه. د هغه روح داسې ښاد او د خوښۍ او نيکمرغۍ داسې احساس يې په ګوګل کې غوړېده چې، ګواکې د تړلو شويو کړکيو کوټې نه د خداى بې پايه آسمان ته الوتلى وي. هغه دا تصور هم نه کاوه، چې په رستوفې مين شوى دي. هغه د هغې په اړه فکر نه کاوه، خو يوازې يې په خيالونو کې تصورو له او داسې انګېرله چې ټول ژوند يې د رڼا پلو د رومي. هغه په زړه کې وويل: زه له څه ډارېږمه؟ دا زما په زړه کې دا غوغا د څه ده؟ ولې په دې تنګو تړو ديوالو کې لاس و پښې وهم؟ حال دا چې ژوند له خپلو ټولو خوښيو سره زما په وړاندې پرانستي دي. او له ډېرو وختونو وروسته هغه د لومړي ځل لپاره د راتلونکي نيکمرغه ژوند تکلونه تازه کول. دا يې خيال ته ورغلل چې د زوى په اړه غوښ فکر وکړي، هغه ته روزونکي پيدا کړي، له دولتي چارو ګوښه شي، بهر ته لاړ شي او د انګلستان، سويس او ايتاليا هېوادونه وګوري، له ځانسره يې ويل:
بايد تر هغه له خپلې آزادۍ نه ګټه واخلم، چې په ما کې د ځوانۍ او پياوړتيا احساس راخوټېږي. اندرې رښتيا ويل:
د نيکمرغي والي لپاره بايد د نيکمرغي په امکاناتو ايمان راوړو او ما اوس دا ايمان پيدا کړي دي. پرېږدئ، مړي، خپل مړي خښ کړي او تر هغه چې موږ ژوندي يو بايد په نيکمرغۍ کې ژوند وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

يــو ورځ ســهار ډ ګــروال آدولــف بيــرګ، چــې پــېـيــر د مســکو او پترزبورګ د نورو مخورو په شان ښه پېژاند پـه پـاکې او نـوې دريشـۍ کـې پـه داسـې حـال کـې چـې څنـې يـې ښـې غـوړې کـړې او د ټولـواک الکساندر پاولوويچ په شان يې ړمنځ کړې وې، د هغـه ديـدن تـه راغـي، هغه په خندا وويل:

- همداسې ګرافينې ته، ستاسو مېرمنې تـه ورغلي وم، خو دا چې زما هيله د هغې له خوا ونه منل شوه، خورا خواشيني يم. اوس هيله لرم چې تاسو ګراف مې نيکمرغه کړې.

- څه امر کوئ ډګروال صاحب! زه ستاسو په چوپړ کې يم.

بيرګ وويل:

- تاسو پوهېږئ، زه اوس په پوره توګه په خپل نوي کور کې مېشت شوي يم، ...

هغه داسې انګېرله چې دغه خبر هرومرو او رېدونکي خوشالوي...

- مـا هيلـه لرلـه چـې خپلـو او د خپلـې مېرمنـې نـږدې دوسـتانو تـه داسې يوه وړه مېلمستيا جوړه کړم (ددې خبرې سره هممهالـه يـې خـوږه موسکا پرشونډو خپره شوه). ما غوښتل چې ګرافينې او تاسو نه هيله وکړم، چې مـوږ تـه ويـاړ راوبښـئ او د يـوې پيـالې چـاى او... ماښـامنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره زموږ کره راشئ !

يوازې ايلينا واسيلوفنا وه چې له نوم وركي بيرګ سره يې اړيكي درلودل ځانته سپكاوي ګاڼه او دايې كولې شو، د هغه بلنې ته نه ووايي. بيرګ ډېره سپينه دا په ډاګه كړه چې ولې غواړي د مخورو په رابللو سره يوه وړه مېلسمتيا جوړه كړي، او ولې به دا مېلسمتيا د ده لپاره د خوښۍ وړ وي. ده دا هم وويل چې ولې نه غواړي پر جواريو او نورو ناوړو لوبو پيسې خرڅې كړي، خو د ښو او مخورو مېلمنو لپاره د خرڅ لپاره چمتو دي. ده په دې خبره دومره ټينګار وكړ چې پيير دې ته اړ و چې د هغه دا هيله ومني. بيرګ وويل:

- ښاغليه ګرافه ! هيله كوم چې ناوخته نه كړئ، كه اجازه وي، غواړم ووايم چې مهرباني وكړئ لس كم اته بجې تشريف راوړئ... زما قوماندان جنرال هم راځي، هغه له ما سره ډېر مهربانه دي. ښاغليه ګرافه ! ماښامنۍ به كوو او تاسو به ما منت داره كړئ.

پيير د خپل عادت برخلاف چې تل به مېلمستياو ته ناوخته راته، هغه ورځ د لس كم اتو پر ځای پاو كم اته بجې د بيرګ كورته راغي.

بيرګ او ميرمن يې چې څه توان لاره او شونې و... ټول د مېلمنو نه د هر كلي لپاره چمتو كړي وو.

بيرګ او ښځه يې په خپله پاكې او روښانه كوټه كې چې په ښه ډول مجسمې، الماري، څوكۍ او ميزونه په كې اېښودل شوي وې ناست وو. بيرګ نوي پوځي دريشي چې په تڼيو سينګار شوې وه، اغوستې، د ښځې تر څنګ ناست او هغې ته ويل: كولې شي او بايد هم د مخورو او تر ځانه لوړو خلكو سره تل بايد پېژند ګلوی پيدا كړې، ځكه يوازې دغه وخت دي، چې آشنايي ګټه او خوند لري، هغه خپلې ښځې ورېې ته ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته کولای شئ، دا یا هغه شي واخلې، یا له دې او هغه نه هیله وکړې، چې څه وکړې، خو ګوره ! ګوره چې ما خپلې لومړې رتبې څنګه ګټلې دي. تر اوسه مې څنګه ژوند کړی دی، (بیرګ خپل عمر نه په کلونه بلکې د رتبو، نښانونه او مډالونه په شمېر، شمېره ) زما همزولې او ملګري لا هېڅ ځای نه دي رسېدلي او زه که ځای خالي شي، د غونډ قوماندان به شم، او په ځان ویاړم چې ستا مېړه یم (پاڅېد او د وېرې لاس یې ښکل کړ، خو هغې ته تر رسېدو نه مخکې یې د قالینې څنډه چې ګونځه شوې وه، سمه او آواره کړه ) زه څنګه دې ځای ته ورسېدم؟ تر هغه نه مخکې له دې کبله چې ما کولای شول، ځانته ښه آشنایان او ملګري خوښ کړم، او د دې ترڅنګ باید انسان مهربانه او ځیرک واوسي.

بیرګ وموسېد او پر خپلې خوارې ښځې یې د لوړتیا د انګېرنې د احساس په درک، چوپ شو. هر څه چې دي دا زما مهربانه ښځه په رښتیا هم خورا کمزورې او ناتوانه ده، داسې ناتوانه چې هغه څه نه شي کولای، د نارینه هغه لوړتیا احساس کړي، چې د هغه د نارینتوب نښې دي. ښځې یې (وېرې) هم تصور کاوه چې دا ته مېړه په هر څه کې غوره او پوه دی او د دې مېړه یې د ټولو نورو نارینو په شان د ژوند له رازونو بې خبره دي...

بیرګ ناڅاپه پاڅېد، په احتیاط یې ځکه له خپلې مېرمنې نه غېږ تاو کړه چې د هغې هغه ټکري چې په خورا جګه بیه یې هغې ته اخېستې و، ګونځې نه کړي او د شونډو په منځ کې مچ کړه.

بیرګ چې خدازده پام یې چېرته و، ښځې ته وویل:

- یوې خبرې ته باید پام وکړو چې ژر مو ماشوم پیدا نه شي.

وېرې ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کې، زه هم سمدلاسه د ماشوم لېواله نه یم. باید خلکو ته خدمت وکړو.

بیرګ چې خوږه موسکا یې پرشوندو خوره وه، د هغې جالۍ ډوله ټکري ته یې اشاره وکړه او وې ویل:

- شهزادګۍ یوسپووا ، هم همدغه شان فکر کوي.

په دې شېبه کې یې خبر ورکړ چې ګراف بېزاوخوف راورسېد. دواړو مېړه او ښځې هر یو داسې تصور کاوه چې د ده یا ددې په هیله بېزاوخوف ددوی کورته بلنه منلې، د هر یوه پرشوندو پرځان د باور او ډاډ موسکا خوره شوه.

د بیرګ په زړه کې تېره شوه: وګوره ! د ښو ملګرو پیدا کول، څه لوی نعمت دي.

وېرې وویل:

- ګوره له تا نه هیله کوم، کله چې له مېلمنو سره غږېږم، چې خبرو ته به مې نه رالوېږې، ځکه زه خپله پوهېږم چې له چا سره، چېرته، څنګه وغږېږم.

بیرګ وموسېد او وې ویل:

- دا ته څه وایې؟ کله کله نارینه په خپل منځ کې خپلې خبرې لري.

پییر یې په کور کې نوي جوړ شوي مېلمستون ته بدرګه کړ. د کوټې نظم او سینګار داسې جوړ شوي و، چې په هغه کې د ناستې د ځای پیدا کول ګرانه خبره وه. دا د حیرانتیا خبره نه وه چې خپله بیرګ هلته د ابښودل شویو میزونو او څوکیو دښورولو او د جوړ شوي نظم د ورانولو وړاندیز وکړ، خو له دې چې خپله یې د دغه نظم د ورانولو زړه نه شو کولې، مېلمه ته یې واک ورکړ. پییر دځان لپاره د یوې څوکۍ په رانېږدې کولو ، د کوټې نظم مات کړ. کوربنو دواړو هڅه کوله، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تود هر کلي وکړي، نو ځکه بې له هغه چې پوه شي دواړه يو ځای غړېدل. وېرې له زيات فکر نه وروسته پرېکړه کړې وه، چې له پېښير سره بايد د فرانسې د سفارت په اړه خبرې وشي، نو ځکه يې سمدلاسه له هغه سره په دې اړه خبرې پيل کړې، خو بيرګ د هغې برخلاف بيا فکر کاوه چې خبرې بيا د نارينوو د چارو په اړه وي، نو ځکه د خپلې ښځې خبرو ته ورولوېد ، د هغې خبرې يې پرې کړې او د اتريش د جګړې کيسه يې پيل او بې له هغه چې دې خبرې ته يې پام شي، له ټولنيزو خبرو نه ځانګړو ته راغي او د هغو وړاند يزونو په اړه، چې په دې جګړه کې د ده د ګډون لپاره، ده ته شوي و ، غړېدا پيل کړه. بيا يې خپلې خبرې اوږدې کړې او وې ويل، چې ده ولې د غه وړاند يزونه ونه منل. سره له هغه چې له مېلمه سره مرکه ډېره بې خونده او وېرې د دې په خبرو کې د خپل مېړه د ورولوېدو نه خوابدې برېښېده. د مېلمنو له ډلې نه پرته له پېښير نه بل څوک راغلي نه و ، مګر بيا هم دواړو ډاډه و چې مېلمستيا ښه پيل شوې ده...

ډېر ژر د بيرګ پخواني ملګري باريس هم راورسېد خو له وېرې او بيرګ سره يې کره وړه لږ ساړه برېښېدل. تر باريس نه وروسته يو مېرمن او يو ډګروال راغلل، بيا يو جنرال، بيا د رستوف د کورنۍ غړي راورسېدل او نور نو بيشکه مېلمستيا ، نورو ښو مېلمستياو ته ورته شوه.

بيرګ او وېرې د مېلمنو د خوښۍ او لېوالتيا ، د هغو د ګډوډو خبرو اترو ، سترې مشې خواره مشې، په مېلمستون کې د ښکلو جامو د شغهاري له ليدو او اورېدو نه وروسته نه شو کولای، خپله خوښۍ پټه کړي. هر څه، د نورو مېلمستياو په شان و. په تېره بيا جنرال چې کوربانه يې د کور د ښه جوړولو له امله ستايل او بيرګ به يې پرله پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوږه کېښکود. او بيا يې خپله د باستون د لوبې لپاره هرڅه برابر او هغه يې پيل کړه. جنرال د ګراف ايليا اندرېوويچ ترخنګ کېناست، ځکه هغه يې تر ځان نه وروسته، تر نورو غوره مېلمه او د درناوي وړ ګاڼه. زاړه د زړو او ځوانان د ځوانانو ترخنګ کېناستل. کوربنه د چای د ميز ترخنګ چې يو د سپينو زرو په يوه توکرۍ کې هماغه شان پتري په کې ايښې وې، لکه د پانين په مېلمستيا کې چې وې، ناسته وه. لنډه دا چې هر څه، له هره پلوه نورو مېلمستياو ته ورته وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

پيير د مېلمنو په منځ کې د يوه درانه او وياړمن مېلمه په شان بايد د ګراف ايليا اندرېوويچ، جنرال او ډګروال تر څنګ کېناستلي واى. پيير د باستون د ميز تر شا، دا سې کېناست چې مخامخ ناتاشې ته برابر شو. دي د هغه عجب بدلون نه، چې د نڅا د بنديار نه وروسته په هغې کې ليدل کېده په حيرت کې و. هغه چوپه خوله او نه يوازې هغه شان ښکلې نه وه، لکه د نڅا د شپې په شان، بلکې څه بدرنګه هم برېښېده. پيير تر سترګو لاندې هغې ته ور وکتل او له ځانسره يې وويل: په هغې څه شوي دي؟ ناتاشا د چاى د ميز شا ته د خپلې خور ترڅنګ، په ډېرې بې پروايئ، بې له هغه چې ورته وګوري، ناست وه، باريس پوښتنو ته ځوابونه ويل. پيير د قطعو څو پاڼې بدلې او پنځه نورې يې راواخيستې، د ده دا کار د هغه د سيال خوښۍ لا زياته کړه، په دې شېبه کې د نويو رارسېدونکو ګامونو او سترې مشي غږ واوربدل شو، سر يې پورته کړ، بيا يې ناتاشا ته وکتل او په لا حيرانۍ يې ځان نه وپوښتل: په دې نجلۍ څه شوي دي؟

سردار اندرې يې وليده، چې د ناتاشا مخې ته ولاړ دي. په ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاملرنې او مهربانۍ هغې ته څه وايي. هغې چې څېره يې ګلابي رنګ اخېستي و، سر يې ورپورته او هڅه يې کوله خپله ستړې سا آرامه کړي، هغه ته وروکتل، د هغه په ګوګل کې لګېدلې لمبې څو شېبې مخکې آرامې شوې وې، بيا يې شغلې او اور په څېره کې لګېدلي وو. ټوله بدله شوې وه او بيا يې د څو مخکې شېبو ناښکلې څېرې، هماغه د نڅا د شپې ښکلا خپله کړې وه. سردار اندرې پيېر ته ورغى او پيېر د خپل ملګري په څېره کې د ځوانۍ هغه تاندې او هيله مندې نښې وليدې. پيېر د لوبې په اوږدو کې څو واره ځاى بدل کړ، کله به يې ناتاشې ته مخ شو، کله به يې څنګ او کله به يې هغې ته شا شوه، او د شپو لوبو په اوږدو کې يې هېڅکله له هغې نه سترګې ونه شلولې.

يوې ناڅرګندې خوښۍ چې د رخې او ګبنۍ له تريخ احساس سره مل و، دى زوراوه او تصور يې کاوه چې د هغوى (ناتاشا – اندرې) تر منځ څه تېرېدونکي دي. همدې احساس دي اړ کړي و چې لوبه چور هېره کړي.

تر شپږ واره لوبې نه وروسته جنرال پاڅېد او وې ويل:

- په دې ډول لوبه ناشونې ده او د هغه د پاڅېدو سره پيېر هم وزګار شو. يو پلو ته ناتاشا له سونيا او باريس سره غږېده، وېره چې نرۍ موسکا يې پرشونډو خوره وه، له سردار اندرې سره د څه په اړه غږېدل، پيېر خپل ملګري ته ورنږدې شو، له يوې پوښتنې نه وروسته پوه شو چې خبرې پټې نه دي، د هغه تر څنګ کېناست.

وېرې چې خپلې خور ته د سردار اندرې ځانګړې پاملرنې ته پام شوې و، له لږ فکر نه وروسته دا ښه ګڼلې وه چې په مېلمستيا کې، په رښتينې مېلمستيا کې، هرومرو بايد، په شاعرانه او عاطفي ژبه د مېلمنو پټو احساساتو ته لاره ولټول شي، نو ځکه يې په ټوليز او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره بیا د خپلې خور پر عواطفو او خیالاتو خبرې وکړې. دا یې هم ښه ګڼلې وه چې باید د اندرې په څېر له ځیرکو او پوه مېلمنو سره په خورا ځیرتیا او د دیپلوماتي هنر په ژبه خبرې وشي.

پېیر چې کله هغو ته ورنېږدې شو، پام یې شو چې وېره د خپلو خبرو له خونده په خوندونو کې ډوبه او سردار اندرې لږ شانته ناآرامه بریښي (دی خورا کم له دغه شان حالت سره مخامخېده) وېرې، چې نرۍ موسکا یې پر شونډو خوره وه، وویل:

- ښاغلیه سردار تاسو چې داسې ځېرک او له ورا د خلکو په خصلت پوهېږئ، د ناتالیا (ناتاشا) په اړه څه فکر کوئ؟ ایا هغه کولای شي، د نورو ښځو په شان خپل اړیکي دایمي وساتل شي؟ (د نور ښځو نه یې موخه ځان و) ایا کولای شي هغه یو وار مینه شي او د تل لپاره، خپل مین ته وفا وکړي؟ زه همدغه وفا رښتیني مینه ګڼم، تاسو څه فکر کوي، ښاغلیه سرداره؟

سردار اندرې له ملنډو نه په ډکې موسکا، چې غوښتل یې خپه ناآرامي تر هغې لاندې پټه کړي، وویل:

- ستا له خور سره، زما پېژند ګلوی دومره نه ده، چې د دغه شان نازکو رازونو د سپړنې توان ولرم... ددې تر څنګ زه په دې اند یم چې څومره مو ښځې کمې خوښېږي په هماغه کچه دوی زیاته وفا کوي.

او پېیر ته یې چې دده خواته را روان و، وروکتل.

وېرې دوام ورکړ:

- هوکې سرداره! تاسو رښتیا وایئ، زموږ په زمانه کې نجونې دومره آزادي او د ځوانانو له خوا هغوی ته پام دوی هومره سرساموي، چې رښتیا او حقیقت ترې نه هېرېږي (وېرې هم د نورو لنډ اندو په شان، په ټولیز ډول خوښېدل «زموږ په زمانه کې» له نامه نه وغږېږي. دغه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړي تصور کوي چې د خپلې زمانې په ټولو ځانګړتیاو ښه پوه او دا ورته څرګنده شوې ده، چې د خلکو کړه وړه له پخوا نه بدل شوي دي) باید ووایم چې نتالیا د خپل شاو خوا ځوانانو د هڅو په وړاندې ډېره مات غاړې او آرامه ده.

سردار اندرې دا چې دویم وار خبر د نتالیا یاده شوه، ناآرامه شو او غوښتل یې پاڅېږي، خو وېرې چې خوږه موسکا یې پر شونډو را تازه کړه، دوام ورکړ:

- تصور کوم بلې هېڅ پېغلې ته ځوانان دومره پاملرنه نه کوي، لکه هغې ته یې چې کوي، خو تر دې وروستیو ختونو پورې د هغې څوک د زړه له کومې خوښ شوي نه و.

وېرې مخ پېیر ته وروا ړاوه او زیاته یې کړه:

- آن زما ګران خپلوان باریس، ښاغلیه ګرافه! (پېیر) تاسو خو باریس ښه پېژنئ، باریس یادوم، خبره دې زموږ تر منځ وي، دوی (د مینې په دنیا کې) خورا وړاندې لاړل. دغه د مینې په دنیا کې دوړاندې تګ خبره وه، د مینې کنایه وه، چې په هغه زمانه کې خورا دود وه.

سردار اندرې تندی تریو او چوپ شو.

وېرې هغه ته وویل:

- تاسو خو له باریس سره دوست یاست که څنګه؟

- هو کې، زه هغه پېژنم.

- هغه به هرومرو له ناتاشې سره د خپل د ماشومتوب د مینې خبرې درته کړې وي.

سردار اندرې ناڅاپه تک سور واوښت او وې پوښتل:

- عجبه ده، د ماشومتوب مینه؟

- هو کې، کله ناکله د خپلوانو ترمنځ کډ کار، ملګرتیا او خواخوږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګوا ښمنه مينه بدلېږي.
سردار اندرې ووېل:
- هو کې هو کې، بېشکه چې همدا سې وي !
هغه ناڅاپه په خبرو راغي او له پېير سره يې ټوکې پيل او وې ويل چې هغه بايد په مسکو کې د خپل ماما، کاکا له پنځوس کلنو ميشتو لوڼو سره له احتياط کار واخلي. د همدې ټوکنيزو خبرو په منځ کې پاڅېد، پېير يې له لاسه ونيو او يوې خوا ته يې له ځانسره بوته.
پېير چې د خپل ملګري تازتوب لا په خبرو راتګ او د پاڅېدو په وخت کې يې ناتاشا ته د هغه خوږو کتو ته پام شوی و، په تعجب هغه ته وکتل او وې پوښتل:
- نو څه پېښ شوي دي؟
سردار اندرې ووېل:
- زه بايد... زه بايد له تا سره وغږېږم. زموږ د ښځينو دستکشو په اړه (موخه يې هغه دستکش و، چې ماسونانو، نويو ورغلو کسانو ته ورکول او يو له هغو نه بايد خپلې د خوښې ښځې ته ورکړل شوي وای.) زه بايد... نه، نه، بيا به وروسته درسره وغږېږم. سردار اندرې چې سترګې يې له حيرانوونکې ځلا نه ډکې، خو دې ډېر آرام و، د ناتاشا خوا ته ورنږدې شو او د هغې ترڅنګ کېناست. پېير ليدل چې څنګه سردار اندرې له ناتاشې نه څه وپوښتل او هغې په قهر سره ځواب ورکړ، خو په دې وخت کې بيرګ پېير ته ورغي او له هغه نه يې هيله وکړه چې د هسپانيا د شخړې په اړه د جنرال او ډګروال ترمنځ په روانو خبرو کې ګډون وکړي. بيرګ نيکمرغه او راضي برېښېده، د خوښې موسکا د هغه پرشونډو خوره وه. مېلمستيا خورا ښه، چور هماغه شان و، لکه د نورو مېلمستياو په شان. د ښځو خوږې خبرې، د باستون د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبې میز، قطعې او په قطعو کې د جنرال د آواز جګېدل، آن سماوار، ډوډۍ، پتاسې او شریني ټول، ښه او ښه وو. یوازې یو څه په دې مېلمستیا کې کم و، هغه څه چې په ټولو مېلمستیاو کې ده لیدلي و او دلته نه و، هغه دا و چې د کومې مهمې شخړې یا موضوع په اړه د نارینو ترمنځ په جګ آواز خبرې اترې او شخړې وې، هغه هم جنرال پیل او ده هم پېیر هغو ته ورګډ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۲

سردار اندرې بله ورځ د رستوف کور ته ورغی. هغه ګراف ايليا اندريوويچ بللی و. هغه ټوله ورځ هلته تېره کړه.

د کورنۍ ټول غړي په دې پوهېدل، چې سردار اندرې د چا لپاره ددوی کره راغلی، هغه هم دا نه پټوله او د ورځو په اوږدو کې يې هڅه کوله چې له ناتاشې سره واوسي. ناتاشا نه يوازې په زړه کې ويرېده، بلکې له نيکمرغۍ نه هم خوشاله وه او د کورنۍ ټول غړي يوه بختور زيري ته سترګه په لاره وو.

کله به چې سردار اندرې له ناتاشې سره خبرې کولې، مشرې ګرافينې به هغه ته په خورا ځير غمجن او له خيالونو نه په ډک تصور کتل، خو کله به چې سردار اندرې هغې ته وروکتل، هغې به له چا سره هسې تشې خبرې پيل کړې. سونيا نه غوښتل هغه دواړه يوازې پرېږدي، نو ځکه به تل له هغو سره وه او له بله پلوه له دې کبله پرېښانه وه چې د هغوی د خبرو خنډ او د خلکو د خندا نه شي. کله به چې ناتاشه له هغه سره يوازې او سترګو په سترګو شوه، له انتظاره به تکه سپينه او ورخطا شوله. هغه د سردار اندرې کمينې او حيا حيرانه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې داسې انګېرله چې سردار اندرې غواړي څه ورته ووايي، خو څه، دا نه پوهېده او هغه نه شو کولای هغه ووايي.

کله چې ماښام سردار اندرې لاړ، ګرافینه ناتاشې ته ورغله او په پټه یې له هغې نه وپوښتل:

- نو څه وشول؟

ناتاشې وویل:

- مورجانې ! تا ته قسم درکوم چې اوس مې هېڅ مه پوښته.

سره له هغه هم هغه شپه تر ډېره پورې کله ناآرامه او کله هم په وېره کې وه، سترګې یې په یو ځای کې ګنډلې وې او د مور کټ ته به یې کتل او د سردار اندرې په اړه مورته وغږېده. هغې وویل چې اندرې دا ډېره وستایله، هغه به کله ویل چې بهر ته سفر کوي او له دې نه یې پوښتل چې سږ کال اوړي به دا چېرې ځي او کله خو یې د باریس په هکله دې نه پوښتنې کړې دي. هغې ویل:

-خو پوهېږئ، دغه شان... دغه شان یو حالت سره هېڅکله مخامخ شوې نه ده، کله چې له هغه سره یم ویرېږم، دا څه ولې، دا څه معنی لري؟ دا ددې نښه ده چې دا هرڅه رښتیا دي؟ ها؟ مورجانې !ویده شوئ؟

موریې ځواب ورکړ:

- نه، ویښه یم، زه هم ویرېږم، ځه ویده شه.

- چېرې لاړ شم؟ هرڅنګه چې وي، خوب نه راځي؟ خوب یعنې څه؟ خوب لا څه لېونتوب دي؟

په زړه کې راویښ شوي احساس حیرانه کړه او د دغه احساس له ډاره یې زیاته کړه:

- مورجانې ! زما ادکې ! تر اوسه پورې هېڅکله داسې شوې نه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آن تصور یې هم نه شم کولای، چې ولې داسې شوم، همداسې ده، مورې!

ناتاشې ته داسې برېښېده چې هماغه لومړی وار یې چې په اترادینا کې، سردار اندرې لیدلی دی، زړه یې پرې بایللی دی. هغه ګواکې دغې ناڅاپې او عجیبې نیکمرغۍ ویروله، هغه نیکمرغي چې ددې د هغه په لومړي وار لیدلو په برخه شوې، خپله یې خوښه کړې وه، د هغه په وړاندې بې احساسه نه ده، داسې بریښېږي چې دا به تقدیر وي، چې هغه دې هم هغه وخت پترزبورګ ته راشي، چې موږ هم دلته یو او بیا د نڅا په هغې مېلمستیا کې سره مخامخ شو. دا ټول د تقدیر کار دی. دا په ډاګه د تقدیر کار دی چې ټول داسې سره برابر شول، چې په دې نڅا کې له دې سره برابر شو. د هغه د لومړي وار په لیدو مې داسې احساس کړه، چې دا کتنه کومه ځانګړې کتنه ده.

مور د خیالو په څپو کې ډوبه او لور نه یې وپوښتل چې سردار اندرې نور څه ورته وویل؟ څه یې ورته ولوستل او کوم شعرونه یې د خاطرو په کتابچه کې ورته ولیکل؟

ناتاشې ناڅاپه وپوښتل:

- دا خو به د شرم ځای نه وي، چې هغه کونډ دی؟

- دا څه د لېونتوب خبرې کوئ؟ د خدای شکر وکړه، د نکاح بختونه په آسمانو کې تړل کېږي.

ناتاشې چې د خوښۍ اوښکې یې پر لیمو راشېوه وې، ګېڼۍ اخیستې وه، له مور نه یې غېږ تاو او چیغه کړل:

- زما ګرانې مورې! څنګه راته ګرانه یې، ها نه پوهېږئ چې څومره نیکمرغه یم.

په همدې وخت کې سردار اندرې له پېیر سره ناست و او له هغه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پر ناتاشې د خپلې لېوني مينې او د واده کولو کيسې کولې.

په همدې ورځ ګرافينې ايلينا واسيلوفنا (د پيير ښځه) يوه لويه مېلمستيا جوړه کړې وه، دې مېلمستيا ته د فرانسې سفير، يو بهرنې شهزاده چې هرکله به ددوی کور ته راتلل او يو شمېر نور ډېر مخور او پېژندل شوي مېلمانه، نارينه او ښځې راغلي وو. پيير هم دلته و، په سالون کې ښکته پورته ګرځېد او ځانته خورا پام، پريښانۍ او سرسام والي يې ټول حيران کړي وو.

پيير د نڅا د هغې وروستۍ مېلمستيا نه وروسته داسې احساس کړی و چې بيا يې د ملالتوب او پريښانۍ شېبې او ورځې را روانې او بې ګټې او په ناهيلۍ د هغه په وړاندې ټينګار کوي. پيير بې له هغه چې پوه شي په دې ورځو کې په يو ځانګړي ياور بدل شوی و او د دغې ځانګړتيا د پيدا کولو له پيل نه يې د سپکاوي يو دروند پېټی پر اوږو ورلوېدلی او د ځينو وګړو د غرور ناولې خيالونه يې، خيال ورګډ وډ کړی و. له دې سره همهاله د خپل ملګري سردار اندرې او ناتاشې، چې د خپل کوچنۍ خور په شان يې نازوله، ترمنځ د نويو پيدا شوو عاطفي اړيکو او په دې برخه کې د ده او د ده د ملګري د حالت توپير دی ډېر زوراوه او د پريشانۍ سبب يې کېده. هغه په هماغه اندازه چې د خپلې ښځې په اړه فکر کولو نه کرکه لرله، په هماغه کچه يې نه غوښتل د سردار اندرې او ناتاشې ترمنځ د پيدا شوې عاطفې او خواخوږۍ په اړه فکر وکړي. هغه ته بيا ددې دنيا هرڅه ترنظر بابيزه ورغلل. د هغه په خيال کې بيا دا پوښتنه راژوندۍ شوه: ولې؟ ولې ده شپه او ورځ په ماسوني کتابونو او کړو تېرول، چې اوس بيا شيطاني روح پر ده زورور کېږي. شپه دولس بجو ته رسېدلې وه، چې له مېلمستيا نه ووت، پاڅېد او خپلې کوټې ته چې د کور په دويم پوړ کې و ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه تیاره او د سګرټو له لوګو نه ډکه وه. دي د خپل میز تر شا کېناست، په لیکلو یې پیل وکړ، د سکاتلندي ماسونانو د قلمي نسخو نه یې څه رالیکل چې یو څوک کوټې ته راننوتل. هغه سردار اندرې و. پیېر د یوه سرسام او خواشینۍ چا په څېر وویل:

- هو، دا تاسو یاست!

هغه د یو نا امېد او ستومانه په شان چې د ژوند له بد مرغیو یې د ژغورنې لپاره کارته لاس وراچولې و، خپلې کتابچې ته د اشارې په ترڅ کې وویل:

- دا دی کار کوم.

سردار اندرې د خوښۍ او شور نه په ډکې خوځېدا، د هغو کسانو په څېر چې ژوند ته په نوې بڼه ګوري د پیېر په وړاندې ودرېد او پرته له هغه چې د هغه پریښانۍ او خټه طبیعت ته یې پام شي، په خورا غرور او نیکمرغۍ ومو سېد او وې ویل:

- ښه د زړه سره! ما پرون شپه غوښتل تا ته وو ایم، خو ومې نه ویل، نن شپه هم د همدې لپاره راغلی یم، زه ژوند کې داسې نه وم شوي، مین شوي یم، مین، ګرانه!

پیېر ناڅاپه ژور اسویلی وویست او خپل څورب ځان یې پر اوږده څوکۍ واچوه او وې ویل:

- پر ناتاشې رستوفې، مین شوی یې، ها؟

- هو کې، هو کې، نور پر چا؟ هېڅ کله به مې باور نه وای کړی، خو دغه احساس پر ما خورا لاس برې دي. پرون شپه زور بېدلم، په عذاب وم، خو دغه عذاب زه په دنیا کې پر هېڅ شي نه بدلوم. ما مخکې له دې ژوند درلود. اوس یوه شوم چې ژوند څه شي دي، خو بې له هغې نه هم ژوند نه شم کولای. خو ایا دا شونې ده، چې زه هم هغې ته ګران واوسم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هغې لپاره زوړ یم... ولې سرسام یې؟ ولې نه غږېږې؟
- زه، زه، زه به څه درته ووایم.
پېیر ناڅاپه پاڅېد او په کوټه کې یې په ګرځېدا شو:
- ما تل فکر کاوه... ما تل فکر کاوه چې دا نجلۍ یوه خزانه ده، دا یوه بې ساري نجلۍ ده... مهربانه ملګریه! زه له تاسو هیله کوم، ډېر ځان هوښیار مه کوه، شک ته لاره مه ورکوه، واده وکړه، واده وکړه، واده وکړه، زه درته وایم، تر تا نه به بل نیکمرغه سړی په دنیا کې نه وي.
- او هغه؟
- هغې ته هم ګران یې.
سردار اندرې وموسېد، د پېیر سترګوته یې وکتل او وې ویل:
- اپلتې مه وایه.
پېیر په خواشینۍ چیغه کړل:
- زه پوهېږم، ورته ګران یې.
سردار اندرې پېیر له لاسه راونیو، هغه یې ودراوه او وې ویل:
- غوږ شه، زما له زړه نه خبر یې کنه؟ زه باید یو چا ته زړه تش کړم او هر څه ورته ووایم.
پېیر وویل:
- ښه، غږېږه، زه ډېر خوشاله کېږم، چې خبرې دې واورم.
په رښتیا هم د هغه څېره بدله شوه، د تندي ګونځې یې وغوړېدې او په خورا پام یې د خپل ملګري خبرو ته غوږ شو. داسې برېښېده چې سردار اندرې هم چور بدل شوی وي... پېیر یوازینۍ څوک و، چې ده کولای شول، هغه ته د خپل زړه راز وغوړوي... هغه ویل:
- که یو چا راته ویلي وای چې داسې به په یوه نجلۍ مین کېږم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کې به مې نه وای منلي، زما دغه او سني احساس، له هغه څه سره چې پخوا مې په زړه کې درلود هېڅ وره نه دي. ټوله دنیا ما ته په دوو برخو ویشل شوې ده: یوه د نیکمرغۍ، هیلو او رڼا او بله هغه چې دا هلته نه شته، ویر او تیاره ده.

پېير د هغه خبرې پسې تکرار کړې:

- هو کې، هو کې ویر او تیاره. په دې ډېر ښه پو هېږم.

- په دې کې زه هېڅ ملامت نه یم، چې رڼا راته ګرانه ده، زه ډېر نیکمرغه یم، ته په دې پو هېږې؟ زه په دې پو هېږم چې زما په دې حالت ته خوشاله یې.

پېير د خپل ملګري خبرې و منلې او وې ویل:

- هو کې، هو کې همداسې ده. په ملالو او غمجنو سترګو یې هغه ته وکتل، په هغه کچه چې د سردار اندرې برخلیک ورته نیکمرغه په هماغه کچه یې خپل هغه ورته ویرجن او بد مرغه بریښېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۳

د واده لپاره د پلار خوښه هرومرو وه، نو له دې کبله سردار اندرې بله ورځ پلار ته لاړ. پلار په ظاهره، په کراره خو په ګوګل کې یې په یو اخ و ډب د زوی دغه خبر واورېد.
هغه نه شو کولای دا درک کړي، چې څنګه په هغه وخت کې چې د ده لپاره ژوند پای ته رسېدلی، یو څوک وغواړي هغه بدل او څه نوي په کې ورزیات کړي. بوډا له ځانسره ویل: ښه به دا و چې پرېښې یې وای چې ژوند مې هسې پای ته رسولې وای، چې زه یې غواړم، تر هغه وروسته یې بیا هر څه چې سره کول، کول دې. خپل زوی سره یې له هغې دیپلوماسۍ نه کار واخیست چې په خورا مهمو چارو کې یې کار ترې اخیست. هغه په خورا کراره ژبه له هغه سره په دې اړه خبرې پیل کړې:
- لومړی خو واوره، د قامي اعتبار، کورني شتمنۍ او پوهې له پلوه غوره نه برېښي، دویم دا چې نور تا ته نه ځواني او روغتیا پاتې ده (بوډا په دې خبره ډېر ټینګار کاوه) حال دا چې پېغله خورا تنکۍ ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربیم په خپل زوی دې زړه نه خوږېږي، چې ځنګه یې داسې یوې پېغلوتې ته وسپارې، او څلورم دا چې (بوډا له ملنډو نه په یو ډک غلچک زوی ته وکتل) په پای کې درته وایم، که دا کار یو کال وځنډوې ښه به وي، بهرته لاړ شه، د روغتیا غم دې وخوره، هماغه شان چې هیله لرې، سردار نیکولای ته یو آلماني روزونکي پیدا کړه او بیا هغه څه چې ته یې مینه، شوق، سیالي یا پرېښاني ګڼې، هر څه یې چې نوموې، هغه تر سره او ښځه وکړه. دا زموږ وروستۍ خبره ده، پوه شوې کنه؟ وروستۍ.

سردار خپلې خبرې په داسې یوې ژبې پای ته ورسولې، چې څرګندېده هېڅ څه نه شي کولای، د ده دریځ بدل کړي.

سردار اندرې په څرګنده پوه و چې بوډا هیله لرله، چې نه د اندرې او نه په راتلونکي یوه کال کې د هغه احساساتو، زغم نه لري او یا به د یو کال په لړ کې خپله بوډا له دنیا نه سترګې پټې کړي، نو ځکه یې د پلار خبرو ته غاړه کېښوده، دا په دې معنا چې ریباري به وکړي، خو واده به یو کال وروسته کوي.

سردار اندرې د رستوف کره د خپل وروستي تګ نه درې اونۍ وروسته، پترزبورګ ته راستون شو.

ناتاشه له مور سره تر زړه خوالۍ نه یوه ورځ وروسته، له سهاره تر ماښامه پورې بالکونسکي ته سترګې په لارې وه، خو هغه رانغی. دویمه او دربیمه ورځ یې په کاته کاته سترګې په خاته شوې. پېیر هم ددوی دیدن ته رانغي او ناتاشا نه شو کولای په دې پوه شي، چې ولې هغه ددې دیدن ته نه راځي.

درې اونۍ په همدې ډول تېرې شوې، هغې هېڅ چېرې د تګ تکل نه لاره او لکه د سیورې په شان سرګردانه او خواشینه کوټه په کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېده. مابنامي به يې له ټولو په پټه ژړل او آن له مور سره به يې هم نه کتل. هغه به قهرېده او خوابدی ته به يې هسې پلمې لټولې، هغې ته داسې برېښېده چې ټول د هغې په ناهيلۍ خبر دي، پر هغې ملنډې وهي او يا يې هم زړه پرې سوځي. ګواکې د هغه د زړه وير کم دی چې د بدمرغۍ پېټی هم پرې وربار شو.

يوه ورځ مورته راغله، غوښتل يې مورته څه ووايي، خو ناڅاپه په ژړا شوه، د هغې اوښکې د هغه ماشوم اوښکو ته ورته وې، چې خپله هم نه پوهېږي په څه رټل شوي دي. ګرافينې ناتاشا تسل او آرامه کړه، ناتاشا لومړي خپلې مورته غوږ غوږ وه، خو ناڅاپه يې د هغې خبرې پرې کړې او وې ويل:

- مورې، تا ته وايم مورې بس کړه! بس کړه ! زه د هغه په اړه فکر نه کوم او نه غواړم فکر وکړم. يو څو وخته دلته راته، راته او س نه راځي، نه دې راځي... نو څه؟

غږ يې وربېږدېد او نېږدې و، چې بيا يې اوښکې راتويې شي، خو ځان يې ټينګ کړ او په کراره يې دوام ورکړ:

- زه اصلا نه غواړم مېړه وکړم، له هغه نه ډارېږم. اوس، اوس دا دي هر څه هېر او خپله چور آرامه شوم.

هغې له مور سره تر دغو خبرو نه يو ورځ وروسته، خپل هماغه زوړ کميس واغوست، چې هر سهار به يې په اغوستو د خوښۍ په څپو کې ډوبېده. هغې بيا خپل هماه پخواني ژوند پيل کړ. د چای تر څکلو وروسته هغه تالار ته چې غږ به ښې انګازې په کې کولې، لاړه او هلته يې د سولفژ (د موسيقۍ يوه آله) تمرين پيل کړ. کله چې د موسيقۍ لومړنی درس پای ته ورسېد ، د تالار په مينځ کې ودرېده او د يوې سندرې يو بيت يې چې تر ټولو نه زيات يې خوښېده، تکرار کړ... بيا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کې هغه پخوانۍ هيلې او تلوسې راوخوټېدې او له ځانسره يې وويل:

- ولې دومره زيات په دې اړه فکر وکړم، هسې هم هر څه ښه دي. تر دې خبرې نه وروسته يې په تالار کې قدم وهل پيل کړل.. کله چې د هينداري تر مخې تېره شوه، ځان ته يې وکتل، خپله څېره يې وليدله او وې ويل:

- هو، آها دا زه يم! څومره ښکلې، ډېره ښکلې، زه هېڅ چا ته اړتيا نه لرم.

کومې مينځې غوښتل تالار ته راننوزي، چې څه شي جوړ کړي، خو هغې لاره ورنه کړه، بېرته يې دروازه ورپسې پورې کړ او دې خپله قدم وهلو ته دوام ورکړ. هغه ورځ په خورا ښه او ددې په پخوانۍ خوشال حالت پيل شوې وه، هر څه خپل ځان نيو، بيا يې ځيني نارينه په خيال ګرځېدل چې پر دې مين دي، ددې په ښکلا کې ډوب او په ستاينو يې لګيا دي:

- دا څه ښکلا ده، دا ناتاشا ده؟ ښکلې، ښه آواز، ځوانه، هغه د هيچا خنډ نه دي، چا ته آزار نه رسوي، خو يوه هيله لري، هغه په کراره پرېږدئ. که هر څومره هغه خلکو په کراره پرېښي وای، خو دا شونې نه وه، چې هغه په کراره پاتې شي او په دې خبره اوس هغه خپله هم پوهېده.

په دې خيالونو کې وه، چې د تالار يوه دروازه راخلاصه شوه او چا غږ وکړ:

- په کور کې يئ؟

او له دې غږ سره د چا د پښو غږ واورېدل شو. ناتاشا په هينداره کې خپلې څېرې ته وکتل، هلته يې څوک ونه ليدل. د ګاونډې کوټې نه د چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږ راته، خو بالاخره يې په هينداره کې خپله څېره چې رنګ يې تک سپين الوتی و، وليد. دا د هغه غږ و. ناتاشا ډاډمنه وه، چې دا هغه دی. که څه هم د هغه غږ يې د تړلو دروازو له شا اورېده، خو بيا هم پوهېده چې دا دی دی. په تلوار او الوتي رنګ د هرکلو کوټې ته ورغله او وې ويل:

- مورجانې! بالکونسکي راغي! ډارېږم. زه د دغه حال زغم نه لرم، نور نه غواړم وکړېږم خو څه وکړم؟

ګرافينې لا ځواب نه و ورکړی، چې سردار اندرې په ګېنۍ او برندو سترګو راننوت، خو همدا چې ناتاشا يې وليده، سترګې يې وځلېدې او آرامه شو. د ګرافينې او ناتاشې لاسونه يې ښکل کړل او کټ ته نېږدې کېناست.

ګرافينې وويل:

- ډېره موده کېده چې موږ مو له خپلې کتنې...

خو سردار اندرې هغې ته د چټک ځواب او هغه څه له امله چې هغې ته يې غوښتل ووايي، د هغې خبرې پرې کړې او وې ويل:

- يوه موده ځکه ستاسو له چوپړ نه بې برخې شوم، چې د پلار ديدن ته ورغلي وم. بايد له پلار سره د يوې خورا ځانګړې خبرې په اړه غږېدلای وای.

هغه په منډه ناتاشا ته وروکتل او وې ويل:

- پرون شپه بېرته راستون شوم. د يوې لنډې شېبې نه وروسته يې وويل:

- آغلې ګرافينې، زه بايد له تاسو سره وغږېږم.

ګرافينې سترګې په ځمکه خښې کړې، سوړ اسويلي يې وويست او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مهرباني وکړئ، تاسو ته مې غوږ دی.

ناتاشا په دې ښه پوهېده، چې هغوی باید یو ازې پرېږدئ، خو نه یې شو کولای له خپل ځایه وښوري، کوم درد یې ستوني کېښکود، رڼو رڼو او سپین سترګي یې سردار اندرې ته کتل.

په زړه کې یې ویل:

- همدا اوس، همدا شېبه، دا ناشونې خبره ده!

سردار اندرې بیا هغې ته وروکتل او ناتاشا د هغه له همدې ځیر کتو نه پوه شوه، چې تېروتلې نه ده، هوکې، همدا اوس، په همدې شېبه کې، ددې برخلیک ټاکل کېږي.

ګرافینې تا به وای چې زګېروي کوي، وویل:

- ناتاشا، ځه ته لاړه شه! بیا وروسته به درغږ کړو.

ناتاشا په ویرېدلو او زاریونه ډکو سترګو سردار اندرې او مور ته وکتل او ووتله. سردار اندرې وویل:

- آغلې ګرافینې، زه راغلی یم، چې ستا لور وغواړم.

ګرافینې له قهره تکه سره شوه، هېڅ یې ونه ویل او وروسته په خورا نرم او آرام آواز وویل:

- ستاسو وړاندیز...

سردار اندرې پټه خوله بې له هغه چې څه وو ایي د هغې سترګو ته کتل. ګرافینې وویل:

- ستاسو وړاندیز... (لږه ورخطا شوه) ... زموږ لپاره د خوښۍ ځای دی... زه ستاسو ریباري او وړاندیز منم... ډېره خوشاله یم. مېړه مې هم... هیله لرم... خو بیا هم هر څه خپله ناتاشې پورې اړه لري.

سردار اندرې وویل:

- کله چې مې ستا خوښه واورېده، بیا به له هغې سره وغږېږم، ایا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو له ما سره دا منئ؟

ګرافینې وویل:

- هو،

او خپل لاس يې هغه ته وروړاندې کړ. اندرې د هغې پر لاس ورخم شو، ګرافینې له پردیتوب سره په مینه ناک احساس په مینې د هغه تندي مچ کړ. هغه هم هیله لرله چې سردار اندرې د زوی په شان ورته ګران وي او هم هغه یو پردي سړي ګاڼه. له هغه نه یې ویره په زړه کې پیدا کېده. ګرافینې زیاته کړه:

- زه ډاډه یم چې خاوند به مې هم ستاسو ریباري ومني، خو ستاسو پلار...

- ما له هغه سره په دې اړه خبرې وکړې، هغه هم ومنله، خو یوه خبره یې وکړه چې واده به یو کال وروسته کېږي او دا هغه خبره وه چې غوښتل مې تاسو ته هغه ووایم.

- دا رښتیا خبره ده چې ناتاشا خورا ځوانه ده، خو دومره ځنډ،یو کال خو خورا ډېر وخت دی...

سردار اندرې یو سوړ اسویلی وکړ او وې ویل:

- بله هېڅ چاره نه شته.

ګرافینې وویل:

- اوس به هغه تاسو ته راولېږم او خپله له کوټې نه ووته.

کله چې لور پسې ورروانه وه، له ځانسره یې ویل:

- لویه خدایه پر موږ رحم وکړه!

سونیا وویل چې ناتاشا د خوب په کوټه کې ده. هغه رنګ الوتي په خپل کټ کې ناسته، په ساړه غلچک یې شمایلو ته کتل، پر ټټر او تندي یې صلیب ویست او په چټک بنګهاري یې څه ویل. د مور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدو یې له کته راو دانګل او هغې ته یې ورمنده کړل:

- مورجانې، څه وشول، وایه څه وشول؟

مور په داسې یوه ژبه چې ناتاشا ته خورا بې خونده وبرېښېده وویل:

- ورشه، هغه ته ورشه، هغه دې ریباري کوي.

او په داسې یو آواز چې په هغه کې د غم او ملامتې نښې ښکارندې وې، په داسې حال چې لور یې په تلوار دې نه لرې کېده ورپسې غږ وکړ:

-ورځه، ورځه،

او یو سوړ اسویلي یې وویست.

ناتاشا بې له هغه چې پوه شي، د هرکلیو کوټې ته رسېدلې وه، هغه یې چې ولید ودرېده، له ځانسره یې وویل:

- ایا دا پردی سړی اوس زما د پاره څوک دی؟ او سمدلاسه یې ځواب ورکړ، هوکې، اوس دغه تن په دې نړۍ کې ما ته تر هر چا ګران دی؟

شهزاده اندرې هغې ته ورنږدې شو، سترګې یې ښکته واچولې او وې ویل:

- هماغه شېبه چې مې ولیدلې په تا مین شوم، ایا کولې شم هیلمند واوسم؟

ناتاشې ته یې وکتل او د هغې د څېرې غوڅې حیرانۍ دې حیران کړ.

د هغه څېرې ده ته ویل: دا پوښتنې بیا نو د څه لپاره؟ ولې پر هغه څه شک لرې، چې پرې ډاډمن وې؟ ولې هغه خبرې وکړو چې کلمات نه شي کولای هغه څه بیان کړي چې احساسوو یې؟

ناتاشا هغه ته ورنږدې شوه، ورته ودرېده، سردار اندرې د هغې لاس ونیو او مچ یې کړ.

- ایا زه تاسو ته ګران یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو کې، هو کې

د هغې په آواز کې د خوابدي نښې څرګندې وې. ژور سوړ اسويلي يې وويست، بيا يې اسويلي وويست، بيا بيا او اسويلې په سلګيو بدل شول.

- ولې ژاړې، څه درشوي دي؟

هغې د اوښکو او ژړا په منځ کې په موسېدو موسېدو ځواب ورکړ:

- اخ! چې څومره نيکمرغه يم!

هغه ته ورکړه او يوه شېبه په خيال کې داسې ډوبه شوه چې ګواکې له ځانه پوښتي: ايا دا امکان لري؟ او هغه يې ښکل کړ.

سردار اندرې د هغې لاس نيولی و. د هغې سترګو ته يې کتل، خو په خپل ګوګل کې يې له هغې سره د څو شېبو مخکې مينه احساس نه کړه. د هغه په زړه ناڅاپه څه شي راپرزېدلي و، نو رنو هغه پخوانۍ اوله رازه ډکه شاعرانه پرتمينه لېوالتيا نه وه، د هغې ځای د هغې له ښځينه ماشوم وزمه ناتواني سره رحم نيولې و، د هغې دوفا او باور په وړاندې ډار، ګران خو خوښۍ سره هغه پور، چې دي يې د ابد لپاره هغې سره يو ځای کاوه، که څه هم او سني احساس د پخواني هغه په شان روڼ او شاعرانه نه و، خو پياوړی او تر پخوا زغرد و.

سردار چې لا هماغه شان د هغې سترګو ته کتل، هغې ته وويل:

- ايا مورجانې درته وويل چې تر يو کال پورې دا کار ناشونی دی؟

ناتاشا په زړه کې وويل:

- ايا دا په رښتيا زه يم؟ ايا په رښتيا هماغه ماشومه نجلکۍ (ټولو ماته دغه شان ويلي) ايا په رښتيا زه له همدې شېبې نه د دغه پردي خو د ګرانښت وړ، مهربان، هوښيار او آن زما پلار ته د درناوي وړ سړي ښځه يم؟ ايا دا رښتيا ده؟ ايا دا رښتيا ده، چې هر څه ته بايد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده ګۍ ونه کتل شي، زه نور غته او د خپلو هرو کړو وړو او خبرو درناوي او مسؤولیت لرم؟ هو، رښتیا همدا اوس یې له ما نه څه وپوښتل؟

خپله یې ځواب ورکړ: نه! خو هغه په دې نه پوهېده، چې هغه څه پوښتلي و.

سردار اندرې وویل:

- ما وبښه، تاسو خورا ځوانه یئ، ما خو په ژوند کې ډېر څه لیدلي او آزمایلي، زه پر تا ویرېږم. تاسو لا ځان هم نه پېژنئ.

ناتاشا په ځیر او خورا پام هغه ته غوږ و او هڅه یې کوله د هغه په خبرو یې سرخلاص شي، خو نه کېدل.

سردار اندرې اوږده کړه:

- که څه هم دغه یو کال، چې ما له نیکمرغۍ نه لرې کوي، پر ما خورا ګران تمامېږي، په دغه موده کې به تاسو د ځان د آزمایلو وخت ولرئ. زما هیله له تاسو نه دا ده چې یو کال وروسته ما د نیکمرغۍ په څپو کې ډوب کړئ، خو تاسو په خپلو کړو کې آزاده یاستئ. زموږ کوژده به له ټولو پټه وي، که دا احساس مو وکړ، چې زه درته ګران نه یم یا مو کوم بل نارینه...

د سردار اندرې دا خبرې چې په یو ډول غیر طبیعي بڼه کېدلې، ناتاشا ورپرې کړې:

- تاسو ولې دا خبرې کوئ؟ تاسو پوهېږئ له هماغې ورځې نه، چې تاسو د لومړي ځل لپاره اترادینا ته راغلئ، زه پر تاسو مینه شوم.

هغې دا خبره داسې غوځه او ډاډمنه کوله، چې په رښتیا والي یې پوره ډاډمنه وه.

- او د یو کال په اوږدو کې به تاسو لا خپل ځان وپېژني...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په پای کې په دې پوه شوه چې واده يو کال ځنډېږي، نو ځکه يې ناڅاپه وويل:

- يو کال ! پوره يو کال !

سردار اندرې هغې ته د واده د يو کال ځنډولو د علتونو په ويلو پيل وکړ، خو ناتاشې هغه نه اورېدل.

هغې وپوښتل:

- بله چاره نه شته؟

سردار اندرې ځواب ورنه کړ، خو د دغې پرېکړې د نه بدلون نښې يې له ورايه په څېره کې ښکارېدې.

ناتاشا ناڅاپه په سلګيو شوه او وې ويل:

- دا وحشتناکه ده ! نه، نه وحشتناکه، وحشتناکه ده ! يو کال انتظار ما وژني، دا ناشونې او وحشتناکه ده.

هغې د خپل کوژدنې خبرې ته وکتل او په هغه کې يې د رنځ او شک نښې وليدلې.

ناڅاپه يې اوښکې ودرېدې او وې ويل:

- نه، نه زه هرومرو دا ټول زغمم، زه په بې سارې ډول نيکمرغه يم.

د ناتاشې مور او پلار کوټې ته راننوتل، ناوې او زوم ته يې مبارکي وويله.

له همدې ورځې نه، سردار اندرې د زوم په نامه د رستوف کورنۍ ته تګ راتګ پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۴

د سردار اندرې په ټينګار، د ده او ناتاشې د بولې (نامزدي) خبر نه چا ته وويل شو او نه يې کوژده وشوه، هغه ويل:

- دا چې د واده ځنډول د ده په خوښه و، نو د هغه ټول درونډ پېټي هم بايد د ده پر اوږو وي. هغه ويل چې دی به ټول عمر پر خپله خبره ولاړ وي، خو نه غواړي ناتاشا په کوم بند کې ايساره کړي، ښه به دا وي چې هغه خپل واک ولري. که ناتاشا آن د شپږو مياشتو په اوږدو کې هم دا سې احساس وکړي، چې کوژدني يې ورته ګران نه دی، کولای شي، له هر څه لاس په سر شي. خو دا ښکاره خبره ده چې نه د ناتاشې مور او پلار او نه خپله هغې د دغو خبرو لېواله وو، خو سردار اندرې خپله خبره ټينګه کړې وه. هغه به هره ورځ د رستوف دوی کره راته، خو له ناتاشې سره د هغه کړه وړه، د زوم په شان نه و. هغه به، هغې ته (تاسو) ويل او يوازې به يې د هغې لاس ښکلول. تر ريباري او بولې (نامزدۍ) نه وروسته د هغو اړيکې، خورا ساده او مينه ناک شول. داسې برېښېده چې تر دې وخته پورې دوی يو بل نه پېژندل او د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوا ړو خوښېدل چې تر بولې نه خپل مخکې اړیکې وریاد کړي، هغه وخت وریاد کړي چې هېڅوک نه و دوی څنګه د یو بل سترګو ته کتل. او اوس دا دي چور بدل شوي دي. پخوا د دوی کړه وړه خورا لاسي او غیر طبیعي و او اوس ربښتیني او زړه له کومې دي. له سردار اندرې سره خبرې اترې او ناسته ولاړه په لومړیو وختو کې له ستونزو سره ځکه مل و چې هغه ټولو د بلې کچې او دنیا سړي ګاڼه او ناتاشا تر ډېرو پورې هڅه کوله هغه د خپلې کورنیو له غړو سره رږدې کړي... شپې او ورځې همداسې تېرېدې. سردار اندرې ټولو سره له نېږدې آشنا شو. هغه کولای شول د ناتاشې له پلار سره د جاید ادونو او کرنې په اړه او د هغې له مور او خپله له دې سره د جامو او سینګار په اړه خبرې اترې وکړي.

له سونیا سره یې د ګنډولو اوبدلو او د خاطراتو د کتابچې په اړه خبرې کولې. کله به بیا د رستوف د کورنۍ غړو بیا په خپل منځ کې په دې اړه خبرې کولې، چې دا تقدیر څنګه دا ټول رامنځ ته کړل، په دې اړه چې څنګه سردار اندرې لومړي د دوی کلي اترادنیا ته راغي او بیا دوی پترزبورګ ته لاړل او د هغه ګډ احساس په اړه چې تر لومړۍ کتنې نه د ناتاشا او سردار اندرې ترمنځ پیدا او د دوی د مینځې ورته پام شوی و... دا ټول، دوی د تقدیر خبره ګڼله...

د کوژدنیو ترمنځ شاعرانه چوپتیا چې تل پر دوو کوژدنیو ولاړه وي، پر دوی هم لاسبره وه. زیاتره وخت به دوی څنګ ترڅنګ ناست وو، خو چوپه خوله به وو. کله به ټول پاڅېدل، لاړل به او دوی به یې یوازې پرېښودل خو دوی به همداسې چوپ وو. ډېره کمه داسې پیښېده چې د خپلې راتلونکې په اړه وغږېږي. سردار اندرې ته راتلونکې وحشتناکه برېښېده او وجدان ورته ناآرامه و. ناتاشا د هغه په دغه او دهغه په نورو احساساتو چې دې درک کول، پوهېده خو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وار ناتاشې له سردار اندرې نه د هغه د زوی نیکولای په اړه وپوښتل.
سردار اندرې تک سور شو، داسې تک سور چې اوس زیاتره وخت کېږي، هو دا هغه څه دي چې د ناتاشې په ځانګړي توګه خوښېږي، هغه وویل چې د ده زوی به له دوی نه جلا ژوند کوي.
ناتاشا په ویرې وپوښتل:
- ولې؟
- زه نه شم کولای هغه له نیکه نه جلا کړم، ځکه چې...
هرکله به چې سردار اندرې غږېده (او څومره ښکلي غږېده) ناتاشا به په ډېر ویاړ هغه ته غوږ نیو او هر کله به چې ناتاشا شونډې پرانستې، په خوښۍ او ویرې به یې لیدل چې هغه په ځیر ځیر دې ته ګوري، حیرانه به پاتې شوه او ویل به یې: هغه په ما کې څه لټوي؟ هغه په خپلو غلچکو کې ما نه څه غواړي؟ او که هغه څه چې دی لټوي او غواړي، په ما کې یې پیدا نه کړي، بیا به څه وکړم؟ کله به له خوښۍ نه ډک لېونتوب، چې ددې د طبیعت خپله ځانګړتیا وه، پر دې لاسبری او هغه وخت به سر تر پایه غوږ او سترګې شوه، چې د هغه خندا واوري او وګوري. هغه کله ناکله خندل، خو کله چې یې خندل، د هغه خندا د زړه له کومې او خورا لوړه وه او هر وار به ددې خندا نه وروسته، ناتاشې هغه ته ځان خورا نږدې ګاڼه. که د راسېدونکي بېلتون خیال دا نه ډارولای، ناتاشا به چور نیکمرغه او له دې نیکمرغۍ نه مستته لېونۍ وای. سردار اندرې له پترزبورګه ترخوځېدو نه یوه شپه مخکې، پېیر هم له ځانسره د رستوف دوی کورته، چې د هغه د نڅا له بنډار نه وروسته دلته نه و راغلي، راوست. پېیر سرسامه او پریښانه برېښېده او له مشرې ګرافینې سره یې د زړه خواله کوله. ناتاشا چې سونیا سره د شطرنج میز ته ناسته وه، اندرې یې هم خپلې خواته وروبوله. اندرې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو خواته ورغي او وې پوښتل:

- تاسو له ډېرې مودې راهیسې بیزاو خوف، پېژنئ، هغه مو خوښېږئ؟

- هو، زموږ خوښېږي، ډېر ښه ځوان دی، ډېر ښه طبیعت لري...

سردار اندرې وویل:

- پوهېږئ، ما خپل راز هغه ته ویلی دی. زه هغه له ماشومتوب نه پېژنم. هغه ډېر پاک زړی ځوان دی او ناڅاپه یې لږ په زغرده وویل:

- ناتالي (ناتاشا) تاسو نه هیله کوم... ګوره! زه روان یم، ځم بیا به خدازده څه پېښېږي، تاسو کېدای شي... ښه! پوهېږم چې په دې اړه څه ونه وایم... خو یوازې یوه... هیله کوم، هر هغه چې پېښېږي او زه دلته نه وم...

- څه کېدای شي پېښ شي؟

سردار اندرې دوام ورکړ:

- هر غم چې و، ګوره پېغلې سونیا ،له تاسو نه هم هیله کوم، هره پېښه چې وه، یوازې پر هغه اعتماد وکړئ او مرسته ترې وغواړئ. هغه سرسام او د خندا سړی دی، خو تر هغه نه ریښتینی او پاک زړی بل څوک نه شته.

نه مور، نه پلار کولای شي دا تصور وکړي، نه سونیا او نه خپله سردار اندرې چې له کوژدني نه د ناتاشا بېلتون به، د هغې پر ژوند څه اغېزې ولري... ناتاشا په تکه سرې خېرې، له شور او هیلو په ډک زړه، خو په حیرانو سترګو په کور کې سرګردانه ګرځېده او په خورا وړو او د نه پام وړ کارونو لګیا شوه. داسې بریښېده چې نه پوهېږي چې قسمت څه ورسره کوي او آن هغه وخت چې سردار اندرې د خدای په امانۍ په نښه د هغې لاس ښکل کړل، او ښکې یې تویې نه شوې او یوازې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وويل:

- مه ځئ ! هغې دا مه ځئ په دا سې يو ه ژبه ادا کړل چې سردار اندرې يې دې فکر ته ولمساوه، چې ښه به دا نه وي، چې په رښتيا له دغه سفره سر په لاس شي، او له دې سره پاتې شي. د اندرې په غوږو کې تر ډېرې مودې دغه آواز انګازې کولې، کله چې سردار اندرې مخه ښه وکړه او لاړ، که څه هم بيا يې هم ونه ژړل، خو د څو ورځو لپاره به په کوټه کې يوازې وه او هېڅ څه يې له لاسه نه کېدل. هغې څه خواشينۍ هم نه کوله، يوازې کله کله به يې له ځانسره وويل:

- ولې او د څه لپاره لاړ؟

خو د سردار اندرې تر تګه دوې اونۍ وروسته، د ټولو د انتظار برخلاف، يو وار له خپلو خيالونو او دردونو نه آزاده شوه، کړه وړه يې د پخوا په شان شول، خو د هغې په ګوګل او زړه کې، د هغو ماشومانو په څېر چې له يوې ځنډنۍ ناروغۍ نه روغ شوي وي، هر څه بدل شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۵

مشـر سـردار نیکـولای انـدربووېچ، د زوی د تـګ نـه وروسـته، لا نـاروغ، عصبي او تنـد مزاجـه شـوی و. د هغـه د ناخرګنـده قهرونـه تـول درونـد پېټـی د شـهزادګۍ ماریـا پـر اوږو وربـار و. داسې بربښـبده چې پلار هڅه کوله د لور په ژوند کې هغـه ټکي او ځايونـه پيـدا کـړي، چې دي وکولای شي د هغو په کېښکوده، هغه لا پسې په عذاب کړي. ماریا پـه ژونـد کې لـه هـر څـه زیـات لـه دوو څېزونـو سره چې ددې د خوښـۍ سرچينې وې، زیاته مینه لرله: یـو يې وړوکـی نیکـولای او بـل مذهب و. او دا دواړه هغه پلمې وې چې پلار به په آسانۍ د هغو لـه کبلـه ښـکنځله او ملنډې به يې پرې وهلې. هره خبره به چې وه، پـلار بـه يې د زړو پېغلـو لـه خوا د نـاولو دودونـو، شـګونو، ټوټکو او د ماشـومانو د بې ځايـه او بې پايه نازولو پلو وروا ړوله او ویل به يې:

- ته غواړې په دې نازونو سره هغه (نیکولای جـان) د ځـان غونـدې د یـوې زړې بـوډۍ پـه تـوګـه وروزې. پـوهېږې نـه سـردار انـدرې زوی غواړي، نه یوه زړه او له واده نه پاتې لور.

یا به يې د شهزادګۍ ماریا تر مخې له پېغلې بوري ين نه وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د روسانو دغه کشیشانو ته بې پایه او بې ځایه درناوی، دغه د شمایلو او شمعو لګولو یې خوښېږي کنه؟ او په دې توګه به یې په خپلې لور ملنډې وهلې.

تل به یې خپله لور په ترخو ترخو خبرو زوروله. د هغه زړه به یې ورماتاوه، خو لور به دغه ټول په خورا آسانۍ ښنل او د پلار درناوي به یې کاوه. هغې هېڅکله پلار ګنهکار نه ګاڼه. خو ایا دا شونې وه، چې له ټولو دغو آزارونو او قهرونو سره سره چې پلار به یې پر دې کول، هغه ورته ګران نه وي، ایا پلار یې پر دې عذاب او ظلم روا ګڼل او عدالت یې نه درلود.

خو اصلاً د عدالت معنا څه ده؟

شهزادګۍ ماریا هېڅکله د هغه عدالت په هکله چې د کبر ښنې ولري، فکر نه و کړی. د انساني ټولنې ټول پېچلي او جړ قوانین، د هغې لپاره په یوه څرګنده او روښانه قانون کې مرور شوي وو، او هغه د عشق او له ځانه د انکار قانون و او دا قانون یو چا مونږ ته رانښېدلی و. هغه چا چې د انسانانو په لاره کې زورېدلی او له همدې مینې نه یې ژوند ځار کړی و.(حضرت مسیح). چې دا سې وه نو شهزادګۍ ماریا ،څوک وهچې دنورو د عدل او ضلم په اړه فکر وکړي؟دهغې یوازنۍ دنده دا وه چې وزورېږي او نور ورته ګران واوسي او دا هغه څه و چې دې کول.

سردار اندرې په ژمي کې خپل کلي، لیسه ګوري ته راغي. هغه مهربانه، خوشاله او ښه طبعه لرله. شهزادګۍ ماریا ډېره موده کېده چې خپل ورور یې داسې نه و لیدلی. هغې داسې انګېرله چې ورورته یې څه ورپیښ شوي دي. خو سردار اندرې د خپلې مینې په اړه خورته هېڅ ونه ویل. له خپل تګ نه مخکې یې له پلار سره څه ناندرۍ درلودې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ ماریا دې ته پام شو، چې په خواشینۍ سره ببل شول.

شهزادګۍ ماریا د ورور تر تګ نه وروسته خپلې یوې خورلنډې ژولیه کاراګینا ته چې د ټولو نورو نجونو په شان یې له د سردار اندرې سره د واده هیله لرله، یو لیک ولیکه. ژولیه کاراګینا چې ورور یې له ترکانو سره په جنګ کې وژل شوی و، ماتم درلود.

ګرانې او مهربانې خورلنډې ژولیه!

دا یوه ښرګنده خبره ده، چې زموږ ټولو برخلیک له زغمه پرته بل څه نه دی، ستا ویر هومره درونددي، چې زه خو یې د زغم تصور هم نه شم کولای، خو یوازینی زغم به دا وي چې هغه د لوی خدای اراده وبولو، چې د هغې له مخې ستاسو او ستاسو د ګرانې مور د آزماینې تکل لري.

ګرانې خورلنډې! مذهب او یوازې مذهب دی چې کولای شي موږ ته، نه به وایم چې تسل، بلکې له ناهیلو نه ژغوري. یوازې مذهب دی.هوکې یوازې مذهب کولای شي هغه شخړې چې له ایمانه پرته، د انسانې پوهې له ماحول بهر دي، موږ ته را ښرګندې کړي... هغه لومړنی مرګ چې ما لیدلی، زه خپله د هغه شاهده وم او هېڅکله به هغه هېر نه کړم. زما د ورور د نازولې ښځې مرګ و. هغه مرګ پر ما یې سخته اغېزه پرېښې ده. هغه شان چې تاسو هغه برخلیک حیران کړي یاستئ، چې ولې یې ستا ورور ستاسو له څنګه یووړ، زه هم دې ته حیران وم چې ولې یې لیزا، هغه ښکلې ښاپېرۍ، چې نه یوازې یې چاته تاوان نه رسېده، بلکې له ښېګڼو پرته بله اند ښنه یې په خیالو کې نه ګرځېده، باید مړه شي. خو په هر حال زما ګرانې! دا دي له هغې ورځې نه چې زما ورینداره مړه شوې پنځه کاله تېرشول او زه په خپل خوار عقل په خورا ښه توګه دا درک کوم چې هغه باید مړه شوې وای. او دغه مرګ څنګه د خدای د بې پایه مهربانۍ او ټولو ارادو شاهد و، که څه هم موږ د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمت په پوره موخه نه پوهېږو، خو داسې تصور کوم چې دا ټول له بندګانو سره د هغه د بې پایه مینې پرته بل څه نه دي. زه زیاتره داسې فکر کوم چې هغه یوه داسې ښاپېرۍ او نازولې معصومه وه چې د مورولۍ د درانه پېټي او د هغو د درنو دندو د سرته رسولو زغم یې نه درلود. هغې که د مېرمنتوب او ښځیتوب سپېڅلې دندې په ښه توګه ترسره کولې، کېدای شي د مورولۍ د درانه زغم، زغم به یې نه درلودای... ګرانې خورلنډې! دغه خبرې ځکه تا ته لیکم چې، په انجیل کې هغه نغښتل شوی راز چې زما د پاره د ژوند د بهېر بنسټ جوړوي، تا ته درولېږم. د هغه له ارادې پرته، د هېڅ خوځېدونکي یو ویښته هم نه ښوري او له مونږ سره د هغه بې پایه مینه ده چې د هغه غوښتنې تاکي، نو ځکه هر هغه چې پر مونږ راځي زمونږ په ګټه او زمونږ د نیکمرغۍ لپاره دي. (په هرحال یې شکر) تاسو له ما نه پوښتلي و چې په راتلونکي ژمي کې به مسکو ته راشم او کنه؟ که څه هم ستا د دیدن سخته لېواله یم، ولې تصور نه کوم او هیله هم نه لرم چې مسکو ته دې راشم. زما دا خبره به تاسو حیرانه کړي، که وو ایم چې زما د نه راتګ علت بناپارت دی. تاسو هرومرو خبر یاست چې زما د پلار روغتیا ورځ تر ورځې مخ په ژوبلېدو ده. هغه نه شي کولای د سیالېو دښمني او بری وزغمي. هغه ژر ژر په قهرېږي. د هغه زیاتره نازغمي او قهر له سیاسته دي. هغه دا نه شي کولای وزغمي چې بناپارت دې، د اروپا له ټولواکانو په تېره بیا زمونږ له ټولواک د سترې کاترینې له کړوسي سره لکه د ښځې په شان کړه وړه وکړي... زما د پلار لپاره د دغه شان کړووړو زغمل خورا ګران دي... تصور کوم هغه زیاتره د خپلو سیاسي عقایدو او له دې کبله چې د هېڅ سیاسي سیالۍ زغم نه لري او خپل نظر د نورو نظریاتو ته د کومې پاملرنې نه پرته وړاندې کوي، اټکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې د سختو او زورونکو ناندريو لمسون به شي. نو له دې کبله مسکو ته له تګ سره هومره لېوالتيا نه ښيي. ټولې هغه لاس ته راوړنې چې د تداوۍ له لارې ګټې، پر بناپارت د سياسي ناندريو له لارې به يې بايلي. په هر حال هر څه به ډېر ژر څرګند شي. زموږ کورنۍ ژوند که د خپل ورور په لرې والي سترګې پټې کړم، پخوانی رنګ لري. هغه شان چې مې پخوا درته ليکلي و، هغه په دې وروستيو وختو کې ډېر بدل شوی دی. د خپلې مېرمنې تر مرګه وروسته يې سر کال يو ټکان خوړلی دی، په ګوګل کې يې يوه څپه را الوتلې ده او بيا هماغه شان شوی دی، چې ما په ماشومتوب کې پېژانده. رښتينوالي، خوږ ژبه والي، پاک زړتوب او نورې هغه ښېګنې چې ما په بل چا کې نه دې ليدلې. داسې تصور کوم چې په دې پوه شوی دی چې ژوند د هغه لپاره پای ته نه دی رسېدلی. خو له دې رواني بدلونو سره سره له جسمي پلوه ډېر نګر، ژوبل او عصبي شوی دی. د هغه له پلوه پرېښانه يم، خو خوشاله يم، چې د ډاکترانو د پخواني ټينګار له امله يې بالاخره بهر ته د هغه سفر پخوانۍ سپارښتنه ومنله. هيله لرم چې د هغه روغتيا په بشپړه توګه روغه شي. تاسو ليکلي و چې هغه په پترزبورګ کې يو له غوره، څيرکو او پوهو ځوانانو نه ګڼل کېږي، هيله لرم چې زما کورني غرور، به وبښې، ما هېڅکله په دې خبره کې کوم شک نه لاره. هغه مرستې او نيکي چې دلته له خلکو، له مرييونه نيولې تر لويو ځمکوالو پورې کړي دي، شمېرل يې ګران کار دی. اوس پترزبورګ ته راغلي او هغه منصب يې تر لاسه کړی دی، چې وړتيا يې درلوده. زه حيرانه يم او تعجب کوم چې څنګه دغه شان آوازې هغه هم ناسمې چې ګواکې هغه له کومې وړې رستوفې سره مرموز واده کړی، له مسکو نه پترزبورګ ته رارسېږي. زه فکر کوم چې سردار اندرې به له کوم چا ، په تېره بيا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغې نجلۍ سره په دغو دلايلو واده وکړي:

لومړي خو دا چې زه پوهېږم چې وروړ مې خورا لږ خو بيا هم د خپلې خداى ښښلې ښځې په اړه غږېږي، د هغه وير او خواخوږي دومره د هغه پر زړه واکمن دي چې تصور نه کوم، دغه زړه دې بل چا ته ورکړاى شي او بيا زموږ دغه نازولې ملک (نيکولاى) د ميرې منګلو ته وسپاري.

دويم دا چې دغه نجلۍ د هغو ښځو له ډلې نه ده چې د سردار اندرې دې خوښه شي او ده دې واده ورسره وکړي. که رښتيا راباندې وايئ زه هم نه غواړم چې هغه دې دغه شان ښځه ولري. وښښه قلم مې آزاد پريښود، کيسه اوږده شوه او دا دى دا دويم مخ دى چې توروم يې. د خداى په امان ګرانې خورلنډې، خداى دې تاسو په خپل سپېڅلي رحم او پناه کې وساتي. زما ګرانه ملګرې پېغله بوري ين هم تاسو ښکلوى.

ماريا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۶

د اوړي نيمايي وه، چې شهزداګۍ ماريا له خپل ورور سردار اندرې نه چې په سويس کې و، ليک تر لاسه کړ. هغې د غه ليک ته هېڅ انتظار نه لاره، سردار اندرې په دې ليک کې خپلې خور ته يو عجيب او د دې له انتظاره لرې خبر ليکلي و. هغه له پېغلې رستوفې سره د ده د بولې خبر و. ټول ليک خپلې کوژدنۍ ته د ده په ښکلو ستاينو، د مينې په خبرو او خپلې خور ته د وروګلوۍ او پر هغې د باور له تورو ډک و. هغه ليکلي و چې لا تر او سه هېڅکله په کومې ښځې مين شوي نه و. دا دی دی اوس نوی د ژوند په معنا پوه شوم، له خور نه يې له دې کبله ښښنه غوښتلي و، چې هغې ته يې د خپلې کوژدنۍ په هکله څه نه و ويلي او يو ازې يې له پلار سره په دې اړه خبره کړې وه. هغه دا دليل راوړی و چې خور به يې بيا پر پلار ټينګار کړی وای چې د ورور واده ومني، پلار به د هغې هيله نه وای منلي او پلار به يې لا پسې عصبي شوی وای او بله دا چې، خبره لا هغه وخت څرګنده نه وه، لکه اوس چې څرګنده شوې ده. هغه ورځ پلار ده ته يو کال وروسته د واده وعده ورکړه. له هغه وختـه دا ده شپږ مياشتې اوښتې دي، يعنې نيمايي موده تېره شوې وه او زه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخته اوس زيات دي واده ته لېواله يم. که دغه داکترانو دلته زه د نورو درې مياشتو لپاره په دغو معدني اوبو کې د لامبو لپاره نه واى ساتلاى، زه به لا د وخته روسيې ته ستون شوى واى... ته ما پېژنې او له پلار سره مې په اړيکو ښه پوهېږې. زه هغه ته هېڅ ډول اړتيا نه لرم او هېڅ څه ترې نه غواړم. زه تل خپلواک وم او يم خو د هغه په وړاندې مخالفت هم د هغه د کرکې او قهر سبب کېږي. هغه په داسې حالت کې دى چې له موږ سره د هغه شپې ورځې، خورا کمې پاتې دي، نو ځکه نه غواړم چې هغه دې زما د نيکمرغۍ خنډ شي. دا دي اوس لګيا يم په دې اړه هغه ته يو ليک ليکم او له تا نه هيله کوم چې يوه ښه شېبه غوره او هغه ته يې ورکړې. ته به ګورې چې هغه په دې اړه څه وايي، ايا کومه هيله شته چې هغه به دا ومني او کنه؟ ايا هغه به دغه يو کال موده لږ رالنډه کړي که څنګه؟

شهزادګۍ ماريا له ډېرو شکونو، دعاګانو او هيلو نه وروسته ليک پلار ته وسپاره، يوه ورځ وروسته بوډا سردار په کراره هغې ته وويل:

- ورور ته دې وليکه چې تر څو مړ نه يم، صبر دې وکړئ، ډېر وخت پاتې نه دى، په همدې لنډو ورځو کې به زما له غمه خلاص شي.

شهزادګۍ غوښتل چې د مخالفت کوم ځواب ورکړي، خو پلار هغې ته د خبرو اجازه ورنه کړه، آواز يې لا لوړ کړ او وې ويل:

- واده يې کړه، واده يې کړه ګرانه، تر دې نه غوره موندې نه شي. هوښيار خلک دي آ؟ بډاى دي آ؟ د نيکولاى جان به ښه ميره وي؟ ګوره ورته وليکه، واده يې کړه، همدا سبا يې واده کړه، د نيکولاى جان به ميره شي. هغه او زه به له بورينکې سره واده وکړم! هه، هه، هه چې دى هم بې ميرې پاتې نه شي. خو په يوه خبره بايد پوه شي چې نور زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور کې بله ښځه په کار نه ده، پرېږدئ چې واده وکړي، هر چېرې چې ژوند کوي، کوي دې.

هغه ماريا ته وکتل او وې ويل: ته هم هغه ته ورکډه شه؟ خدای دې مل شه! دا ګز دا مېدان، څلور پلو دې قبله...

لورته يې ويل:

-ولې يې ونه کړو، د شهزادګۍ نوم خورا ښه ورسره اېسي، شهزادګۍ ماريا په حيرت سره ليدل چې پلار يې په دې وروستيو وختونو کې خپله فرانسوي مينځه ډېره ځانته نېږدې کړې ده. ورور ته يې وليکل، چې د ده دليک په وړاندې د پلار غبرګون څه و. دې له ورور سره خپله خوا خوږي څرګنده او هغه ته يې ډاډ ورکړ چې د بوډا خوښه به ژر ترژره تر لاسه کړي.

د شهزادګۍ ژوند ټول دنيکولای له روزنې،د اندرې په اړه خيالونو او له مذهب سره له مينې جوړ و او له هغو نه دې د مرستې هيله لرله،خو ددې ترځنګ لکه هغه شان چې هرڅوک خپل ځانګړي ارمانونه لري، شهزادګۍ ماريا هم د زړه په تل کې هغه پټ ارمانونه چې ددې د ژوند پانګه جوړوله، ساتلې وو. ددې د دغو هيلو سرچينې هماغه خدايي خدمتګارانو ډله وه چې ددې ديدن ته به راتلل...

له دغو خدايي خدمتګارانو نه يوه هم ،يوه بوډۍ مېرمن فېډيوسيوشکا نومېده. هغه پنځوس کلنه ښځه، چې کمکی ځان يې درلود، ساده، آرامه او چوپ و. ديرش کاله کېدل، چې يو زنځير يې تر ملاتړلی وه، هغې پښېبلې سفرونه کول. شهزادګۍ ماريا د هغې زياته لېواله وه. يو ورځ چې دغې ښځې په يوه تياره کوټه کې، د يو تت څراغ مخې ته، د خپل ژوند کيسې شهزادګۍ ته کولې، ناڅاپه د شهزادګۍ ذهن ته راغلل، چې فېډيوسيوشکا يوازينۍ ښځه ده، چې سمه لاره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونډلي ده. هغې پرېکړه وکړه، چې همدا لاره غوره کړي... يو کشيش سره يې په دې اړه مشوره وکړه، هغه هم خوښه ورکړه. شهزادګۍ ماريا يو جوړ جامې او تور ټکری په دې پلمه ځانته جوړ کړل، چې ګوا کې هغه کومې خدای خدمتګارې ته وربښي... خو په زړه کې، هغه وخت ته سترګې په لاره وه چې دغه جامې واغوندي او له هغو سره لاړه شي... خو کله چې يې پلار په تېره بيا کمکي نيکولای وليد، د هغه تکل لږ سست غوندې شو، لږ آرامه شوه او ځان يې ګنهګاره وباله او په کرار کرار يې وژړل. ځکه هغې ته پلار او کمکي وراره تر خدايه هم ګران وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم کتاب

# څلورمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

د انجیل په سپېڅلي کتاب کې راغلي دي، چې له جنته د آدم له شړلو مخکې هغه یوازې استراحت کاوه او له کار او زیار نه بې غمه و. په خاورین انسان کې د هوسایي لېوالتیا په هماغه لومړنۍ بڼه پاتې ده. خو دخدای د لعنت پېښې له دې کبله پرې وربار دي چې هغه تورن او نه یوازې دې ته اړ دی چې د خپل لاس له تنها کو ځان موړ کړي بلکې د موړ ختېه داسې نغښتل شوې چې نه شو کولای په اخلاقي آرامتیا هوسا او آرامه واوسو. یو مرموز غږ په پرله پسې زموږ د زړه په غوږو کې انګازې کوي او وایي چې موږ باید د دغې هوسایۍ له کبله ګنهګار وګڼل شو... که انسان کولای شوای هغه حالت رامنځ ته کړي، چې په هغه کې هم هوسا ، هم ګټور او هم خپلې دندې تر سره کړي، د هغه به هممهاله ازلي نیکمرغي په برخه شوي وای. د ټولنې یو ډله چې پوځیان دي ،د همدې ازلي نیکمرغۍ او دهرومرو دندې سرته رسولو پړاو ته رسېدلي دي، د پوځي خدمت غوره زړه راښکون په همدې اجباري خدمت او هم مهاله د وجدان په آزادۍ کې نغښتی دی او وي به.

نیکولای رستوف چې لا همالته د پاولوګراد په غونډ کې خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه او د ۱۸۰۷ کال راهیسې د دینیسوف پر ځای د سواره پوځ قوماندان شوی و، دغه نیکمرغي په غوره توگه تر لاسه کړې وه.

رستوف یو پاک زړي انسان و چې په پوځ کې لږ قهرجن شوی و او که د ماسکو آشنایانو هغه لیدلي وای، هغه به تر پامه هسې بې لارې او باڅاری ورغلی وای، خو په پوځ کې هغه ته، ملگرو، لاس لاندو او مشرانو د یوه گران او درانه ځوان په سترگه کتل. خپله هم له خپل ژوند نه خوشاله و. په دې وروستیو وختونو (پرکال ۱۸۰۹ کې) هغه د مور له خوا په رارسېدلو لیکونو کې، د کورنۍ د مالي وضعې د ورځ تر ورځې خرابېدو په اړه خبرونه لوستل او د مور دا هیله یې لیده چې نور د دې وخت رارسېدلی چې دی باید د عمر خوړلو مور او پلار د خیال د آرامۍ او د هغو د پریشانۍ د مخنوي لپاره کورته راستون شي.

نیکولای چې دغه لیکونه لوستل، له دې یې ویره لرله چې خدای مه کړه، دی له دغه چاپیریاله چې دی ورسره عادت شوی او له غیر پوځي پریشانیو نه یې دراتبنتېدو نه وروسته هلته پناه اخیستې او دی هلته په خورا آرامۍ اوسي، ونه باسي. هغه داسې انگېرله چې ژر به وي یا لږ په ځنډ هغه به دې ته اړ وي چې بیا د ژوند د بهېر هغه ناآرام ورخ ته ورودانگي. له کړکیچونو او شخړو سره پنجه نرمه کړي، جړې غوټې پرانزي، د ژوند دوکو او ناروا ووته غاړه کېږدي او له سونیا سره د مینې د وعدې خبرې بیا راتازه کړي. دغه ټولې خبرې او د هغو وریادېدل، ټول وحشتناکه، کړکیچن او ورک لاري وو او هغه به د مور لیکونو ته په سړو او دودیزو خبرو ،ځوابونو لیکل او لیکونه به یې په دې تورو: گرانې مورې ! ستاسو مطیع زوی. په تورو پیل او په همدې تورو به پای ته رسېدل.همداسې ځوابونه به یې ورلېږل. خو په دې اړه چې څه وخت به کورته ورستنېږي، هېڅ نه لیکل. ۱۸۱۰ کال و چې هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مور او پلار نه يو ځانګړی ليک ورسېد او په هغه کې يې ليکلي و چې ناتاشا يې سردار اندريې ته ورکړه. په ليک کې دا هم راغلي و چې د مشر سردار د مخالفت له امله واده يو کال وروسته کېږي. دې ليک نيکولای هم غمجن او هم خوابدی کړ. لومړي له دې کبله چې، ده احساس کاوه چې ده ته تر ټولو نه د کورنۍ ګرانه غړې، ددوی له کوره ځي، دويم دا چې د يوه سواره پوځي په څېر يې هيله لرله چې د دغې بولې په وخت کې کاشکې هلته وای، چې دغه بالکونسکي ته يې ښودلي وای چې له دوی سره خپښي هومره د وياړ وړ نه ده او په رښتيا که ناتاشا په ده ګرانه وي، کولای يې شول هر څه د خپل هغه سرسام پلار له خوښې پرته ترسره کړي. يوه شېبه زړه نا زړه و چې رخصت واخلي او ناتاشا د ناوې په جامو کې وګوري، خو بيا هغه ته بېلابېل خيالونه، خيالونو ته ورغلل، هغه ته سونيا او له هغې سره د ده اړيکي او هغه ستونزې چې دغه اړيکي به يې ده ته پيدا کړې وريا د شول. نيکولای له رخصتۍ نه لاس په سر شو، خو د هماغه کال په پسرلي کې يې د مور نه يو بل ليک تر لاسه کړ. مور دغه ليک د نيکولای له پلاره پټ ليکلي و. دغه ليک دي په دې قانع کړ چې کورته لاړ شي. مور يې ليکلي و، که دي کورته راستون نه شي، ددوی د ځمکو او جايدادونو غم ونه خوري، ددوی هر څه به تالا والا او کورنۍ به ګدايي ته کېني. مور ليکلي و چې پلار يې اوس داسې ژوبل شوی، دومره يې هر څه ميتينکا ته پرېښي او دومره له هر چا سره خواخوږی دی چې هرڅوک يې دوکه کوي او هرڅه ورځ تر ورځې خرابېږي او خرابېږي. هغې ليکلي و:

تا ته په خدای قسم درکوم، که همدا اوس را نه شې، کورنۍ او د هغې شتمني له بد مرغۍ ونه ژغورئ، خدای خبر څه به پېښ شي؟ که

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ يې راخوځېږه او که ناست يې راپاڅه. دغه ليک په نيکولای اغېز وکړ، د هغه سالم عقل ده ته لارښوونه وکړه چې څه بايد وکړي.

اوس هغه بايد کورته ستون شوي وای، که له پوځه يې چوراستعفا نه وای کړې، لږ تر لږه خو يې بايد رخصتي اخيستي وای.

دی بايد همدا اوس تللی وای خو په دې نه پوهېده چې ولې تر غرمنۍ وروسته وېده شو. له خوبه چې راپاڅېد سپارښتنه يې وکړه د هغه خړ مارس نومي مست آس، چې ډېره موده يې نه و زغلولې، زين کړي. هغه چې له خپل مست آس سره راستون شو، لاوروشکا (د دينيسوف چوپړ چې ده ته يې پريښې و) او خپلو ملگرو ته چې ماښام د ده ديدن ته راغلي وو، وويل چې دی څه موده رخصتي اخلي او کورته ځي. هغه ته دا تصور گران و او ورته عجيبه برېښېده چې څنگه به دی له قوماندانۍ نه د خپل نوي ترفيع خبر او په وروستيو تطبيقاتو کې د بري له امله د (انا) نومي نښان د اخيستو پرته کورته لاړ شي. ده ته دا هم گرانه وه... چې څنگه به يې د مېرمن پشازديځکا په وياړ د سواره پوځ له خوا په جوړه شوې مېلمستيا او د هغو په نڅا کې چې د مېرمن بارژاوسکا په وياړ جوړېږي، گډون نه کوي... خو هغه اوس په دې ډاډمن او پوه شوی و، چې هغه بايد له دې په زړه پورې او ښکلي ماحوله، هلته لاړ شي، چې هرڅه تشې خبرې او پېغورونه دي. د يوې اونۍ په اوږدو کې يې رخصتي واخيسته، د خدای په امانۍ تر مېلمستيا نه وروسته د کور پلو وخوځېد... کورته د نيمايي لارې تر وهلو وروسته يې له ځانه پوښتنې پيل کړې چې په اترادنيا (په مسکو کې د دوی کلي) کې به څه کېږي. څومره چې کورته نږدې کېده، د ده په وړاندې د پرتو ستونزو خيالونو، پر ده يرغل زياتوه... اترادنيا ته لا يو تم ځای پاتې و چې گاډيوان ته يې درې روبله ورکړل، چې آسونه لا پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يرغه کړي. همدا چې له کور سره کوزشو ، لکه ماشوم داسې په منډه منډه د کور په زينو داسې وروخوت چې سا يې بنده بنده کېده.

تر تودې سترې مشې خوار مشې او د خپلو خپلوانو تر تاوده هرکلي نه وروسته يې هغه خيالونه چې ستونزې يې تر مخې دي، هېر کړل (هر څه هماغه شان دي، چې و ، نو ما ولې تلوارکاوه). نيکولای کرار کرار بېرته له کورني چاپېريال او ژوند سره روږدی شو. د مورو پلار په کړووړو کې يې هېڅ بدلون نه و راغلي، يوازې لږ څه نور هم زاړه شوي وو. هغه نوې خبره چې د مور او پلار په کړووړو کې د ده ورته پام شو دا و چې ددوی ترمنځ د خواشيني او مخالفت روحيه چې پخوا ده نه و ليدلي، پيدا شوې وه. نيکولای ډېر ژر په دې پوه شو چې دغه روحيه د ناوړې مالي وضعې له امله ده. سونيا شل کلنه شوې وه. ښکلې کېدل يې پای ته رسېدلي او تر هغه څه چې و ، د لا ښکلې کېدو هيله يې نه کېده. خو هغه څه چې و ، هماغه ددې د ښکلا لپاره پوره و. د نيکولای تر راتګ نه وروسته هغه د مينې او نيکمرغۍ په څپو کې ډوبه وه. د هغې دغې رښتينې مينې او خواخوږۍ پر نيکولای ښه اغېز لاره. پيتيا او ناتاشا هغه حيران کړي و. پيتيا نورنو زلمي شوي و. ديارلس کلن، ښکلي، مست، ځيرک او خورا شوخ. آواز يې هم ډډ شوی و. نيکولای خپلې خور ته هم تر ځير ځير کتلو نه وروسته هک حيران و ، هغه هغې ته وويل:

- نور نو هغه پخوانۍ ناتاشا نه يې؟
- ولې، بدرنګه او باڅاري شوې يم.
-نه، برعکس.

هغه په پټه د هغې غوږ کې وويل: برعکس اوس شهزادګۍ ته ورته شوې يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا په خوښۍ ځواب ورکړ: هو، هو، .... او .... هغې له اندرې سره د خپلې مينې او اترادنيا ته د هغه د راتګ کيسې ورته وکړې. هغه ته يې د اندرې وروستي ليک ولوست او ورور نه يې وپوښتل:

- ښه خوشاله شوې؟ ګوره زه اوس داسې آرامه او نيکمرغه يم...

نيکولای ځواب ورکړ:

- هغه خورا ښه سړی دی، څنګه سخته پرې مينه شوې يې؟

ناتاشې ځواب ورکړ:

- څه درته ووايم، زه په باريس مينه وم، د نځا په معلم مينه وم، پر دينيسوف مينه وم، خو دا وار چور بل ډول مينه ده. دا وار مې زړه آرامه او ډاډمن دی. پوهېږم چې تر ده نه بل ښه سړی نه شته، نو ځکه آرامه او ډاډمنه يم. دا وار، د نورو وارو په شان نه دی...

خو نيکولای د بالکونسکي په ريباری او دده له خور سره د هغه واده ته په شک کتل. هغه په دې ډاډمن نه و چې د خور برخليک يې ټاکل شوی دی. په تېره بيا چې هغه د خور تر څنګ بالکونسکي نه و ليدلی. هغه په دې کېدونکې واده کې، په کوم ټکي نه پوهېده او د زړه غوټه يې نه آوارېده. هغه په زړه کې دا خبره ډېره کوله:

- نو ولې واده ځنډوي؟ ولې يې کوژده ونه کړه؟ له مور سره په دې اړه تر خبرو او زړه خوالې نه وروسته په تعجب سره پوه شو چې مور هم هغه شان فکر کوي لکه دی. دی پوه شو چې مور هم په زړه کې دغې بولې ته په شک او بې باورۍ ګوري. دغې خبرې دی خوشاله کړ.

مور د هغې رخې له کبله چې هره مور يې د خپلې لور د راتلونکې مېړه په وړاندې لري، د سردار اندرې يو ليک خپل زوی ته ورښکاره کړ او وې ويل:

- هغه ليکلي و چې د د سامبر د مياشتې نه مخکې راتلای نه شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې راتلای نه شي؟ پوهېږم ناروغ دي، تداوي ته تللي دي. خو په هر حال، ته په دې اړه ناتاشې ته څه مه وایه، د هغې خوښې ته پام مه کوه، دا د پېغلتوب وروستۍ لوبې دي. یوازې زه پوهېږم، چې هر وار د هغه لیک رارسېږي، په دې څه تېرېږي. هغې هر وار خپلې خبرې په دې خبرو پای ته رسولې:

- توکل په خدای، هر څه به ښه شي، هغه خورا ښه ځوان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

نیکولای کورته تر راستنېدو وروسته په لومړیو وختونو کې ډېر په غوره کې ښکارېده، خو له دې حالت سره سره هغه پریشانه و. هغه د جایدادونو په اړه هغو کړکیچونو او چارو زوراوه چې مور یې د هغه د سرته رسولو لپاره دی له پوځه راغوښتی و. ددې لپاره چې هر څه ژر دغه پېښې له اوږه پریباسي، تر راتګ نه درې ورځې وروسته پرته له هغې چې د ناتاشې دې پوښتنې ته چې چیرې ځې؟ ځواب ورکړي، په برندو سترګو او تریو تندي د کور د ودانۍ هغه برخې ته چې میتینکا هلته مېشت و، ورغی اوله هغه نه یې د چارو جاج او د کارونو حساب وغوښت. د چارو حساب او د هغو پوښتنه، هغه څه وو چې دی، تر میتینکا چې ډار پسې اخیستی و ،لا خراب پوهېده، خو د ده دې پوښتنې میتینکا هم سرسام کړی و.له میتینکا سره خبرو او د هغه ځوابونو ډېر وخت ونه غوښت. د بزګرو ټاکل شوي مشر او نورو استازو چې د کور دالان ته دده د راننوتو په وخت کې د دروازې په خوله کې سترګه په لاره وو. د ځوان ګراف غږ اورېده چې له بنګهاري راپیل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرار کرار په غړمبېدو بدل شو او وروسته بیا بدو ښکنځلو ته ورسېد.
- غله، دوکه ماره، ناشکره، لکه د سپي په شان به دې ځېرې کړم...
زه مې پلار غوندې نه یم، ستا دې دوکو خو مور ګدایۍ ته ورسولو.
تر دې وروسته ټولو په خورا خوشالۍ چې ډار هم ورسره مل و، ولیدل چې ځوان ګراف، مېتینکا له ځته رانیولی، کشکارې یې، له کوټې یې راوویست، په لغتو لغتو یې واهه او ورته وې ویل:
- ووزه، لعنتي ارواح دې ورکه کړه، چې بیا دې دلته ونه وینم.
مېتینکا، لکه بریښنا داسې له شپږمې زینې نه راوالوت او مخامخ یې ځان په باغچه کې پټ کړ ( د اترادنیا په کلي کې د ګنهکارانو د پټېدو ځای و، مېتینکا هم چې هر وار له ښاره نشه راګرځېده دلته به یې ځان پټاوه او په اترادنیا کې د هغه لاس لاندې وګړو هم د مېتینکا له ویرې په همدغې باغچې کې ځان ته د پناه ځای لټاوه. دوی ټول د دې باغچې د ژغورنو، کوډو په کوډو پوهېدل.)
د مېتینکا مېرمن او د هغه ښینې (د ښځې خویندې) په خورا وحشت سره د هغې کوټې له وره چې پاک سماوار هلته ابشېده او لوړ په ښکلو بړستنو پټ کټ په کې ابښې و، راودانګل.
ځوان ګراف، چې سا یې بنده بنده کېده، پرته له هغه چې هغو ته وګوري، په خورا ټینګو ټینګو قدمونو د هغو له څنګه تېر او اصلي ودانۍ ته ورغی.
مشرې ګرافینې سمدلاسه له دې پېښې نه خبره شوه، که له یوه پلوه آرامه وه چې ددوی د جایدادونو او مالي چارو غمخور پیدا شو، خو له بله پلوه هغه په دې خواشینې شوه چې ددوی زوی به څنګه دغه دروند پېټي او د هغه ناندرۍ وزغملي شي. څو واره کرار کرار او د پنجو پر سر د نیکولای د کوټې شاته ورغله، هلته یې غوږ ونیو او په دې پوه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نیکولای پرله پسې پیپ څښلو.

بله ورځ بوډا ګراف، خپل زوی ځانته وروغوښت، په داسې یوې موسکا چې ویره ترې لاندې پټه وه، هغه ته وویل:

- زما د زړه سره ! ته هسې داسې په قهر شوی یې، میتینکا ټولې خبرې راته وکړې.

نیکولای له ځانسره وویل:

- زه پوهېدم، چې په دې ناوړه دنیاګۍ کې والله که په هېڅ شي هم پوه شم.

- ته په دې به خپه شوي وې، چې هغه او سوه روبله په کتابچې کې نه و لیکلي، خو هغه دغه او سوه روبله په پټه په بل مخ کې لیکلي او تا هغه بل مخ نه و کتلي.

-پلار جانه هغه یو دوکه مار دي، زه پوهېږم چې هغه څه کړي او څه کوي، خو که ته نه غواړې زه به نور هغه ته هېڅ هم ونه وایم.

- نه ګرانه ! (ګراف هم ناآرامه او له دې امله یې ځان ګنهکار ګاڼه چې ښځه یې څنګه د شتمنیو اداره کوي. د اولادونو په وړاندې ملامته او په دې نه پوهېده چې کارونه څنګه جوړ کړي) نه، نه زما هیله تا نه دا ده چې د ټولو چارو واک تر لاسه کړې، ځکه زه زوړ شوي یم.

-نه پلار جانه ! زه تاسو نه له دې کبله بښنه غواړم چې په خپلو کړو مې تاسو خوابدي کړي، زما په رښتیا په دې کارونو سر نه خلاصېږي.

نیکولای په زړه کې وویل:

- بلا ورپسې، بلا په دې بزګرو، په دې پیسو، په دې حسابو، په دې حوالو، په دې ټولو او پر هغو پاڼو پسې. زه په دې هېڅ شي نه پوهېږم...

له هغه وروستې یې بیا د چا کارو کې ونډه وانه اخیسته، خو یوازې یو وار ګرافینې خپل زوی وروغوښت او ورته وې ویل چې هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انامیخایلوفنا نه د دوو زړو روبلو یو حواله لري او له هغه نه یې وپوښتل له هغه سره څه وکړی؟

نیکولای ځواب ورکړ:

- تاسو غواړئ چې زه ځواب ورکړم؟ نه، نور نو نه انامیخایلوفنا ما ته ګرانه ده او نه د هغه زوی باریس. هغوی، هغه وخت له موږ سره نږدې و چې او خوار وو. او اوس... حواله یې څيرې او په خپل دې کار سره یې زوړ ګراف له خوشالۍ نه په ژړا کړ. تر دغې پېښې وروسته نیکولای بیا د جایدادونو او حسابونو په چارو کې هېڅ ونډه وانه خېسته او یوه نوې لاره چې دده لپاره یې چور نویوالی درلود، غوره کړ. دا کار ښکار و. ښکار له ډلې ډلې سپیانو سره. زاړه ګراف هم دده ډول ښکار لېواله و. په دې لاره کې یې ډېرې پیسې خرڅولې او لوی لوی ښکارونه جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

يخني پيل شوې وه. د سپېده داغ سړو د مني له بارانو نه لمده شوې ځمکـه، لکـه وسـپنه داسـې کنگـل کـړې وه او نـور نو شـنيلېو رنـگ بايلودلی و او هغه شين والی، دنويو کرل شويو ژمنيو غنمو د شنه رنگ په وړاندې کمرنگه او د تېرو ربېل شويو غنمو د سوارې د ژېړ رنگ سره چې د مـالونو تـر پښـو لاندې مېده شوې و، پـه تضـاد کـې و...د سـويانو رنگ بدل شوی و، د گېدړې خپلې ځوړې پربښې او ډاگونو کې سردانه گرځېدلې او ځوان لېـوان سـپيانو تـه ورتـه شوي وو.د ښـکار خورا ښـه وخت و. د ځوان رستوف سپيان چې خورا ښکاري وو، نه يـوازې دا چې ډنگر شوي وو، بلکې پښې يې له چاودو ناسور شوي وې. ښـکاريانو د سپيانو د دغه حالت تـر کتنـې وروسـته پريکـړه وکـړه چې هغـوی د درې ورځو لپاره پـه آرامـه پرېږدي او د سـپتمبر پـه شپاړلسـمه بيـا صحرا تـه ورستانه شي. ښکار د دوپراوو له سيمې نه ځکـه پيـل کـړل، چې هلتـه د لېوانو يو ډله ليدل شوې وه. دا د سپتمبر د څوارلسمې نېټې خبرې وې.

هغـه ورځ ښـکاريان پـه کورونـو کـې پـاتې شـول. هـوا سـړه او سـاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوځوونکي وو ، خو ماښام هوا لږ راتوده شوې و. د سپتمبر د پنځلسم په سهار چې کله ځوان رستوف د خوب کالي په ځان د کړکۍ د باندې وکتل، هوا داسې وه چې د ښکار لپاره تر دغه شان هوا نه، بلـه ښه هوا پیدا کېدای نه شوه. داسې بر ښېښېده چې آسمان راویلې او دا چې باد نه لګېږي، ځمکې ته راڅڅېږي. یوازینۍ څه چې له هوا نه ځمکې ته یې راښکته کېدل د پام وړ و ، هغه راښکته کېدونکې لړې وې. د ونو پر پڼهو ځانګو د شبنم راڼه څاڅکي ځلېدل او پر نویو رالوېدل شویو پاڼو څڅېدل.. نیکولای د باندې راووت. په دې وخت د ښکاریانو شر و شور واورېدل شو او د ښکاریانو مشر دانیل د کور د دیواله له شانه راتېر شو. هغه خورا ښه ښکاري و. خپل ماش و برنج ویښته یې اکرائینیانو ته ورته لکه سرچپه کاسه داسې جوړ کړي وو او یو تاو شوې متروکه یې په لاس کې وه. د هغه بې باکه کړه وړه او ګونځې ګونځې مخ د هغه د بې باک ژوند څرګندونه کوله. داسې بې پروا او بې باکه چې ګواکې په دنیا کې یې د هېڅ چا او هېڅ شي پروا نه لرله. دا هغه د ښکاریانو ځانګړې ځانګړتیا وه. خپله چیرکیسۍ ( یو قام دی ) خولۍ یې د خپل بادار تر مخې لوړه او په خورا سپکاوي یې هغه ته وکتل. دغه شان کتو د هغه بادار نه زوراوه، ځکه هغه په دې پوهېده چې دغه سړی چې تر نورو ځان لوړ او کبرجن ګڼي د هغه نوکر او ښکاري دی.

نیکولای غږ کړل:

- دانیلو ! هغه په ویرې دا احساس کړه چې دغه راز هوا چې هر څوک ښکار ته بولي، له دغو ښکاري سپیانو او له دغه ښکاري سره د ښکار شوق زیاتوي، انسان ښکار ته هڅوي، لکه هغه شان چې د مین په زړه کې لوېدلې مینه، د معشوقې په لیدلو له هغه ټول تېر خیالونه هېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانیلو په خپل انګازین، درانه او له چغو ډک غږ سره ځواب ورکړ:

- څه وایئ عالیجنابه؟ د هغه دوې تورې ځلېدونکې سترګې له ښکته نه د خپل خاموشه بادار خوا ته ځیر شوې او داسې بریښېدې چې وایې:

- څنګه؟ صبر نه شي کولای؟

نیکولای چې له دانیلو نه خپلې پوښتنې پای ته ورسولې او په دې پوه شو چې سپیان ټول ښکار ته چمتو دي(باید وویل شي، چې خپله دانیلو هم د ښکار له شوقه لېوني و ) سپارښتنه یې وکړه چې آسونه زین کړي، خو دانیلو لا له کوټې وتلې نه و چې ناتاشا په چټکو ګامونو کوټې ته راننوته. هغې لا نه کالي اغوستي و او نه یې سینګار کړی و. یوازې یې د خپلې مینځې شال په اوږو اچولی و. پیټیا هم له هغې سره په تلوار راروان و. ناتاشا وویل:

- زه پوهېدم چې ته ځې، خو سونیا وویل چې نه ځې. ځکه زه پوهېدم چې نننۍ هوا چاته په کور کې د ناستې اجازه نه ورکوي.

نیکولای چې په هغه ورځ له ځانسره ټینګه وعده کړې وه چې دلېوانو ښکار به کوي، نه یې غوښتل له ځانسره ناتاشا او پیټیا بوزي، په سړه سینه یې وویل:

- ځو ،خو تاسو نه بیایو ، ځکه چې نن د لېوانو ښکار دي، تاسې ته به مزه درنه کړي او حوصله یې هم نه لري.

ناتاشا وویل:

- ته خو پوهېږې چې ښکار زما لپاره تر ټولو غوره او د خوښې لوبه ده، دا خو د وروری خبره نه ده چې آسونه زین کړې، ښکار ته لاړ شې او موږ ځوک هېڅ خبر نه کړې.

پیټیا له قهره وخوټېد او وې ویل: زموږ روسانو مخه هېڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولی نه شي.

نیکولای ناتاشې ته مخ ورواړاوه او وې ویل: ته تلای نه شې، مورجانې وویل چې ته ښکار ته تلای نه شئ.

خو ناتاشې په غوڅه ژبه وویل: نه، نه، دا څه وایې، زه هرومرو ځم.

مخ یې د نیکولای د سپو او آسونو ساتونکي چوپړ دانیلو ته ورواړاوه او وې ویل: دانیلو ! ورته ووایه چې زموږ آسونه زین کړي، میخایلو ته هم ووایه چې زموږ سپیان راوباسي.

دانیل ته چې په کورکې پاتې کېدل هم ورته ګران وه او بادار له لور سره هم خوند نه ورکاوه او داسې کارو تصوریې هم نه خیال ته نه ورته.

هغه سترګې ښکته واچولې او په چټکۍ له کوټې ووت. داسې یې وانګېرله چې هېڅ یې نه دي اورېدلي، خو هڅه یې کوله چې د وتو په وخت کې تصادفا له هغې سره ونه لګېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

بوډا ګراف چې تل یې د ښکار لویې ډلې (سپیان او سړي) ساتلې وې، که څه هم د هغو واک یې اوس خپل زوی ته سپارلی و، په دغه ورځ د سپتمبر پــه ۱۵ سـخت د ښـکار شـوق اخېسـتی و او غوښـتل یــې د ښکاریانو له ډلې سره یو ځای شي.

یو ساعت وروسته ټول د ودانۍ مخې تـه راټول وو. نیکولای پـه خورا تندو او چټکو ګامونو د ناتاشا او پیتیا له مخې چې غوښتل یې ده ته څه ووایي، تېر شو او هغو تـه یې داسې ځرګنده کړه چې اوس د هغو د اپلتو د اورېدو وخت نه لري. هغه د سپو او ښکاریانو هر ډله جلا جلا پـه ځیر وځارلـه. یو ډلـه سپیان او ښکاریان یې مخې تـه ولېږل او خپله پرخپل سوربخون آس سپور او د خپلو سپو پـر ډلې یې غږ وکړ، وې خوځول، د درمندو له مینځه تېر شول او د دښتې له لارې د اترادنیا د ځنګله پلو وخوځېدل.

د بوډا ګراف آسوان، د هغه سور سپین یا لـه ویفلینسکي نـومي آس چمتو او خپله ګراف له ګاډۍ سره هغه ځارځای ته چې ورتـه ټاکل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ، لاړ.

ټول سپیان چې ښکار ته چمتو شوي وو ، شمېر یې څلورپنځوسو ته رسېده. دغه سپیان په شپږو ډلو کې، شپږو کسانو زغلول. دغه راز څلویښت تازیان هم و ، چې اتو کسانو یې لارښوونه کوله. که په ټولیزه توګه د بادارانو ځانګړي سپي هم وشمېرو ، شمېریې یو سلو دیرشو ته رسېده ، چې اتو تنو ښکاریانو ځان سره مل کړي وو.

هر سپي هم خپل خاوند او هم خپل نوم پېژانده. هر ښکاري خپله دنده ، ځای او هغه ته سپارل شوې سیمه پېژانده. همدا چې له کروندو او پالیزونو نه واوښتل، ټول پرته له هغه چې سره وغږېږي،ټولو په چوپیتیا له نیغو او بې لارو او د ډاګونو له لارې ځان د اترادنیا ځنګلونو ته برابر کړل.

آسونه، د ډاګونو پر ګوګل لکه پر پاسته فرش داسې زغلېدل، خو کله به یې چې یو نیم ډنډ یا غوچوړی مخې ته ورغي، هر پلو ته به یې او به وشیندلې. وریځنی آسمان، کرار کرار او په اوډلي توګه د ځمکې پلو ته راشېوه وه. هوا توده، آرامه او کراره کراري وه. کله ناکله به د کوم ښکاري چغې، یا د کوم پرنجهاري یا د متروکو شړقهاري یا د سپیانو غپا تر غوږه شوه.

د یو ورست په واټن له کوره لرې شوي وو چې پنځه سواره له خپلو سپیانو سره مخامخ له خورو لړو نه ددوی پلو ته را روان وو. د هغو تر ټولو نه مخکې پر آس سور، یو ښکلي زړه راښکوونکي بوډا ، چې ګڼ، اوږده سپین بریت یې لرل، راروان و.

نیکولای چې له بوډا سره مخامخ شو ، وې ویل:

- سلام کاکاجانه !

بوډا چې د رستوف د کورنۍ،له لرې خپلوانو او یو بې وزلي سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، وويل:

- حساب پاک دی ورانديږ، زه پوهېږم. زه پوهېدم، چې دې هوا ته تېنګېدای نه شئ. هو، حساب پاک دی ورانديږ، هرومرو ښکار ته ځئ، حساب پاک دی ورانديږ. (حساب پاک دی ورانديږ، دا د هغه تکيه کلام و، چې هره شېبه يې کاراوه).

هغه وويل:

- ژر کوئ او کنه ايلا ګيني ښکاريان او انډيوالان يې د کورنيکيو په سيمه کې ولاړ دي، حساب پاک دی ورانديږ، تر تاسې نه به مخې شي او په رښو سترګو کې به هر څه درنه يوسي.

نيکولای وويل:

- چې دا سې ده، راځئ چې خپلې ډلې سره يو ځای کړو.

د سپيانو ډلې يې سره يو ځای کړې، نيکولای او کاکا جان څنګ ترڅنګ روان وو. ناتاشا چې سر په شال کې مرور لې، ځلېدونکې سترګې يې د خوشالې او مستې څپرې په منځ کې، ځلېدې. تر شايې پيتيا چې پسې رسېدای نه شو او ميخايلوفنې چې له ناتاشې سره مينځتوب کاوه، هغو ته نېږدې کېدل. پيتيا په خندېدو خندېدو کې د خپل آس جلو کشاوه. ناتاشا په خورا ډاډ او ټينګه پر خپل عربي آس ناست وه... او په خپل لاس يې د آس افسار راکش او په ننداريزه بڼه يې هغه ودراوه.

بوډا کاکا جان په خوښۍ ناتاشا او پيتيا ته وکتل. د هغه دا نه خوښېدل چې ټوکې او لوبې او جدي کارونه له ښکار سره ګډ شي.

پيتيا چغه کړه: کاکا جانه! سلام! موږ هم درځو.

کاکا جان په ځېږه ژبه وويل: سلام! سلام! پام کوئ، چې سپي پرينږدئ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اترادنیا ځنګلونو ته دوسوه متر لاره پاتې وه. ښکاریان ورنېږدې کېدل. رستوف او کاکا جان، خپله وروستۍ پریکړه وکړه چې سپیان له کوم ځایه ښکارته ورښکاري. رستوف ناتاشا ته هغه ځای چې باید هلته ودرېږي... وروښود او خپله ځنګله ته ورشېوه شو.

کاکا جان نیکولای ته وویل: ښه کاکا جانه! ته لېوه سره مخامخ یې پام کوه چې له لاسه دې ونه وزي.

نیکولای وویل: ګورو به چې څه کېږي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

په دې وخت کې نیکولای رستوف، په خپل ښار ځای کې ولاړ او د لېوه راتګ یې ښاره. د ښارونکو ښکاریانو د رانېږدې کېدونکي شرو شور، د هغه ده ته د آشنا سپیانو غپا او د ښېلابېلو غږونو له اورېدو نه یې کولای شو دا اټکل وکړي، چې هلته څه تېرېږي. هغه په دې پوهېده چې هلته زاړه او ځوان لېوان دېره شوي دي. هغه په دې پوهېده چې ددوی ښارونکي ښکاري سپیان په دوو ډلو ویشل شوي، او کوم لېوه یې پسې اخېستي، څه ناوړه پېښه پېښه شوې ده او هره شېبه کېدای شي چې د ده تر څنګ کوم لېوه راپیدا شي. په دې خیالونو کې ډوب و چې لېوه به څنګه له کومې خوا راځي او څنګه به دی پسې اخلي. خو دم په دم یې هیله په ناهیلۍ بدلیده. څو ځله یې خدای ته دعا او هغه ته یې زاري وکړې، چې د ده تر څنګ له شنیلیو بوټونه، د ده مخې ته لېوه راپیدا شي. هغه هماغه شان د زړه له کومې دعا کوله چې ځینې کسان یې هغه ته د ناوړه، پېښې د ورپېښېدو په وخت کې کوي. هغه خدای ته زارۍ کولې:

- دا خو نو تا ته څه گرانه ده، چې همدا اسې شي، او لېوه زما مخې ته راپیدا کړې؟ پوهېږم چې ستا دربار لوی دی، پوهېږم چې ستا نه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا غوښتنه لویه ګناه ده، مګر ستا له درباره څه کمېږي چې لېوه همدلته زما مخې ته راپیدا کړې...

له زر واره زیات د دغه نیم ساعت په اوږدو کې د هغه ناآرامه او له هیلو ډکې سترګې د ځنګله د چنارونو پر سر د دوو ولاړو بلوتو ونو شاوخوا څارله...

هغه له ځانسره ویل:

- نه، زه او دومره نیکمرغي، دا نو هغه ته څه سخته خبره خو نه ده! نه، نه کېږئ! زه او دومره بخت، تل نه په لوبو او نه په جګړه، په هېڅ شي کې زما بخت نه شته.

د هغه په خیال کې په چټکۍ د اوسترلیخ او دولوخوف یادونه راتازه خو ببړته تت شول. هغه به غوږونه څک کړل، هرې خوا ته به ځیر شو، کله به یې کیڼې او بیا به یې ښۍ خوا ته مخ واړاوه او یو مټې غږ ته به غوږ او زړه کې به یې وویل:

یوازې یو ارمان لرم چې په ژوند کې، که یو ځل هم وي، یو لوی لېوه پسې واخلم، نور له خدایه هېڅ نه غواړم. یو وار بیا یې خپلې ښۍ خوا ته وکتل او وې لیدل چې له خالي ډاګه دده خوا ته څه شي رادرومي. یو ژوره سا یې وویسته، د داسې د یو چا ژوره سا چې ډېر وخت د کوم شي را رسېدو ته سترګې په لاره پاتې شوی وي او هغه یې تر لاسه کړی وي. هغه په زړه کې ویل: نه، دا ناشونې خبره ده! ستره نیکمرغي یې په برخه شوې ده، هغه هم پر دې ساده ګۍ، بې شروشوره، بې ډهل او نغارې! رستوف په خپلو سترګو او لیدلي حال باور نه لاره او دغه شک یوازې یوه شېبه و، لېوه مخې ته راودانګل او په خپله لاره کې یې له پراته غوچوړې نه ګام کړ. هغه زوړ عمر خوړلي لېوه وه، د شا وړی یې خړې، خو د ګېډې هغه یې سرې رنګه، مګر ځای ځای داغ شوې وې. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چتکۍ وړاندې روان و. پـه دې ډاډه وه، چـې هېڅـوک يـې نـه وينـي. رسـتوف سـا بنـده، مـخ يـې واړاوه او سـپيانو تـه يـې وكتـل. هغـه ولاړ، پراته، لېوه يې نه ليده او له دنيا نه ناخبره وو...

رستوف شونډې وښورولې او له ځانسره يې وويل:

- اوليوليـو... هـې هـې ! سـپيان لـه ځايـه پاڅېـدل، زنځيرونـه يـې ورېږدېدل او غوږونه يې څك كړل. زاړه كاراى،نوي شډل سپي.خپل پـه ډاړو وګراوه پاڅېد، غوږونـه يې څـك او خپلـه لـه وړيـو ډكـه لكۍ يې وښوروله.

په هغه وخت كې چې لېوه رانېږدې او له ځنګله لرې كېـده، رسـتوف له ځانسره وويل:

- سپي پرې وروشكاروا و كه ونـه شـكارو؟ ناڅاپـه د لېـوه حال بـدل شـو، ورېږدېـد، هغــه، هغــه انسـاني سـترګې چـې ده تــه ځېـر وې او وليـدې، تر هغـه وختـه يـې نـه وې ليدلې، پـه كـراره يـې ښـكاري تـه سر وروااړاوه او ودرېد، داسې برېښېده چې له ځانسره به يې ويلې وي:

- مخ وړاندې؟ كه بېرته شاته؟ په هر حال مخ وړاندې !

په نرمه، كـراره خو آزاده ځغاسـته يې وړاندې تـګ تـه دوام وركـړ، نيكولاى لكه لېونى چې رمباړې وهي، چغه كړل:

- راونيسئ !

خپل ښكلى آس يې يرغه او په چټكۍ يې ځان شيلې تـر ورجـوړ كـړ. له چولونو او چينو ور واوښت او داسې روان و چې غـواړي د لېـوه لاره بنده كړي. سپو يې تر ده نه، چټـك ځغاستل. نيكـولاى نـه، خپلـي چغـې اورېدې او نـه يـې داسې احساسـوله چې ځغلـي. هغـه نـه خپـل سـپيان ليدل، نه هغه ځاى چې ده پرې ځغاستل. يـوازې ده هغـه شيله او پـه هغـه كې ځغاستونكى لېوه، چې لكه باد په يوه مخه الوته، او شـېبه پـه شـېبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې چټکي زياتېده، لېده.

تر هر څه لومړی تورخال خالي غټ کوني ميلکای نومی سپی، لېوه پسې ځان ورورساوه. نېږدې و، چې وې داړي، خو لېوه مخ راواړاوه، هغه ته يې وکتل او ميلکای ددې پر ځای چې د تل په شان پرې ورګام کړي، لکۍ ښکته کړه او منډې يې سستې شوې.

نيکولای چغې کړې:

-رانيسه يئ!

په دې وخت سور لېوبيم نومي سپي له ميلکای نه ځان مخکې کړ، پر لېوه يې ورودانګل، د کوناټو په منځ کې يې داړې پرې خښې کړې، مګر ناڅاپه او په وحشت له هغه نه راجلا شو. لېوه يوه شېبه کېناست، داړ يې د ګوابښ په ښنبه سپي ته جينګې کړې، خو بېرته پاڅېد، وړاندې يې منډې کړې، او د ده پسې ځغليدونکي سپيان چې نور ده ته نېږدې شوي وو، د يوه ارشين په واټن ده پسې روان وو.

نيکولای فکر وکړ: نه، نه دا ناشونې خبره ده! هغه همداسې په ناآشنا غږ رمباړې وهلې:

- رانيسه يئ! تا ته وايم رانيسه يئ!...

هغه خپل زوړ سپی پسې، چې د ده يوازينۍ هيله وه، دې خوا ها خوا کتل. زاړه کارای نومی سپی په خپل ټول دروندوالي او قوت سره هغه پسې د رسېدو او د هغه د لارې د خنډېدو هڅه کوله، مګر لېوه لا پسې چټکېده او سپي کرار کرار، کرارېده. دا ښکاره وه چې د کارای کره ناسم او لېوه پسې به ورونه رسېږي. نيکولای هم ليدل چې تر ځنګله پورې هومره لاره پاتې نه وه او که لېوه ځنګله ته ننوزي، نور به رښتيا د هغه ښکارول له لاسه وتلې خبره وي. هغه يو ښکاري او د هغه سپيان وليدل چې د مخامخ لوري نه، د هغه خواته راځغلي. لا هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې وه، يو ځوان اوږده غړي سپي چې نيکولای نه پېژانده، مخامخ پر لېوه ورودانګل، هغه يې وداره او نېږدې وه چې هغه له پښو يې وغورځاوي. لېوه په داسې يوې چټکۍ چې چا له هغه نه انتظار نه درلود، پر سپي ورودانګل، د هغه د داړو غږ واورېدل شو او ځوان سپي په وينو لړلی، خېږې شوی، په زګيروزګيرو په ځمکه ولګېد.

نيکولای په ژړغوني آواز وويل:

- پلاره ! زما کارايه ! د زړه سره !

... خو نيکولای هېڅ پوه نه شو چې په کارای څه شوي، خو دومره يې وليدل چې سپي يې لېوه لاندې کړی دی... کارای د لېوه په غاړه داړې خښې کړې وې... نيکولای د غه شېبې د خپل ژوند تر ټولو خوږه شېبه ګڼله.

سپيانو ،دوه نور لېوان ښکار کړي وو او درې نور هم تازيانو.

ټول ښکاريان له خپلو ښکارشويو ځناورو او کيسو سره د هغه لوی لېوه ليدو ته راټول شوي وو...لېوه ،هغه سپيانو او ښکاريانو ته چې پر ده راټول ښوي وو ،کتل...ايليا اندريوويچ هم لېوه ته وروړاندې او لاس يې پرې تېر کړ،هغه وويل:

- څومره غټ دی،هغه دنيلو نه چې دده تر څنګ ولاړو ،مخ ورواړواوه او وې ويل:

- غټه بلا ده،بلا !...

-دانيل په چټکۍ خولۍ له سره پورته کړه او وې ويل:

-هو عاليجنابه !ډېر غټ دی !...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

بوډا ګراف کورته راستون شو. ناتاشا او پېتيا که څه هم ژبه کړې وه چې ډېر ژر به راستانه شي، خو بيا هم په ښکار کې پاتې شول. وخت ډېر و او ښکار دوام درلود. غرمې ته نږدې يې دوه ډله سپي، هغې تنګې درې ته چې له تنکو نيالګيو ډکه وه، ور وشړل. نيکولای د ريبل شويو کروندو په منځ کې ولاړ او خپل ټول ښکاريان يې ليدل. نيکولای، هغه غنمو ته کتل چې لا شنه و او د هغه يو ښکاري يو ازې په يوه وياله کې ځان پټ کړی و، دوی همدا چې د سپو ډلې ښکار پسې وشړلې، نيکولای د يو سپي غږ چې ده ته آشنا و، اورېد. دغه سپي (والتون) نومېده. نور سپي هم هغه سره همغږي شول، غږونه به يې کله په کرار او کله لوړ شول. يوه شېبه وروسته د ځنګله نه يو راتلونکی ځانګړی آواز، ګېدړې پسې د ښارنې غږ وکړ او ټول سپيان د کروندو پلو ډاګونو نه غنمو ته ورشېوه او له نيکولايه لرې شول.

ښکاريان په ښار ځايو کې ځای پر ځای او خپل سپي يې وشکارل. نيکولای يوې سرې، لنډونې او عجيبې ګېدړې ته پام شو چې ستړې ستومانه د غنمو منځ کې ځغلې. سپو هغه پسې اخېستې او ژر سپي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړسېدل. ګېدړې د هغو په منځ کې چورلیدې... او لکۍ یې ښوروله... خو ناڅاپه یو سپین سپي چې نیکولای نه پېژاند پر هغې ورودانګل او بیا یو تور سپي پر هغې یرغل وکړ... سپیان له ګېدړې تاو شول، دوه ښکاریان په چټکۍ سپیانو ته راورسېدل. د یوه سورهغه، سره خولۍ پر سر وه او یو بل یې شنه کالي اغوستي و. هغه کوم پردی سړی و.

نیکولای له ځانسره وویل: دا نو لاپسې څوک دي؟ له کومې راپیدا شول؟ دا خو د کاکا جان سړي نه دي.

ښکاریانو ګېدړه له سپیانو وژغورله... خو ناڅاپه هلته یو اخ و ډب پیل شو. د نیکولای مرستندوی رامخې ته شو او وې ویل:

- هغه یو د ایلاګین ښکاري دی، چې له ایوان سره یې جوړه نه ده.

نیکولای خپل چوپړ ناتاشا او پېتیا پسې ولېږل... چې هغوی راولي...هغه یې سره رواستل...

له هغو ښکاریانو نه، چې یوه یې شر و شور ګډ کړی و، پر آس سپور و ،یوه ګېدړه تر زین لاندې ځړولې وه، له ځنګله راووت او خپل ځوان ارباب ته ورنېږدې شو... رنګ یې الوتی، سا یې بنده بنده کېده، دیوې سترګې لاندنۍ برخه یېشنه شوې وه، خو دی له دغه شنه والي نه خبر نه و.

نیکولای وپوښتل:

- څه خبره ده؟

- غوښتل یې چې زموږ د سپیانو ښکار رانه یوسي. زما خړ رنګې سپۍ دا ګېدړه داړې وه... ما هم دا ګېدړه پر اوربوز ووهله...

نیکولای د خپل ښکاري خبرو ته هومره پام ونه کړ، ناتاشا او پېتیا ته یې وویل چې همدلته ده ته ودرېږي او خپله د ایلاګین ښکاریانو ته ورغي، هماغه د سیالانو د اخ و ډب ځای ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بريالي ښکاري د ګڼه ګوڼې او انډيوالانو خوا ته ورغي او هلته يې د خپلو کړو غور يې پيل کړې، هغه وويل چې د ايلاګين او رستوف کورنۍ له پخوا نه په دې سيمه دعوا لري او هغوی تل هڅه کوي، چې په دې سيمه کې ښکار وکړي، چې له پخوا د رستوف د کورنۍ ګڼل کېږي. او ګوا کې په هغه ورځ دوی لاسي هلته ګمارل شوي و ، چېرې چې رستوف ښکار کاوه، نه يوازې ښکار او ورته ويل شوي و چې، د رستوف ښکار ترې برمته کړي.

نيکولای هېڅکله ايلاګين ليدلای نه و او تل د هغه په وړاندې له کرکې او سيالي نه ډک و... هغه يې خپل خورا لوی دښمن ګاڼه... هغه له ډېره قهره غوربده... او هرو کړو ته چمتو و...

نيکولای همدا چې د ځنګله څنډو ته ورورسېد ، هغه د دښمن پر ځای پر آس سپور يو ځوان... با ادبه او مهربانه سړی وليد ، چې ده ته يې هرکلي وايي او د ده له ليدو نه سخت خوشاله برېښي. ايلاګين د هغه مخې ته راروان او د هرکلي په نښه يې خپله خولۍ لږ پورته او وې ويل:

دی ددې پېښې له کبله خورا خواشينی دی، ده سپارښتنه کړې هغه ښکاريانو ته جزا ورکړل شي، چې د پرديو سپو له منګلو يې د ښکار د را اېستلو هڅه کړې ده. هغه له ځوان ګرافه هيله وکړه چې ده ته ور اوړېد شوی لاس کېښکارې او د ده په سيمه کې ښکار وکړي.

ناتاشا په دې ډېره وېربده چې پر ورور يې کومه بده پېښه را نه شي، په خورا تلوارا او ګبهۍ ورپسې ورغله، خو هلته يې د دوو سيالانو او دښمنانو پر ځای د دوو دوستانو په شان کسان وليدل، هغو ته ورنېږدې شوه، ايلاګين د ناتاشا په ليدو د درناوي په نښه خوله د لومړي ځل نه، لا پورته کړه او په خوږه موسکا يې وويل:

- شهزادګۍ ګرافينه، هم د ښکار په زده کړې کې او هم په خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا سره چې د هغه په اړه مې ډېر اورېدلي دي، د طبيعت او ځنګلو د ساتونکي ديان ( په يوناني اساتيرو کې د طبيعت او ځنګلو ملکه ) ته ورته ده.

ايلاګين د خپلو ښکاريانو د تېروتنې د پور په بدل کې، ډېر ټينګار او له نيکولای نه هيله وکړه چې د ده ځانګړي ښکار ځای ته د ده بلنه ومني... نيکولای دا بلنه ومنله او له خپلو ښکاريانو سره چې اوس دوه برابره شوي وو، آ پلو وخوځېدل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

کله چې ماښام ایلاګین او نیکولای مخه ښه وکړه، نیکولای دومره له کوره لرې و چې هغه د کاکاجان دا خبره چې ښکار پرېږدي او شپه د ده په کلي، میخایلوفکي تېره کړي، ومنله.

کاکاجان وویل:

- ښه که زموږ کره لاړ شوو. حساب پاک دی، وړاندې!

هغه تر یوې ژورې سا اېستلو وروسته دوام ورکړ:

- هوا باراني او لمدبل زیات دی، لږ دمه به وکړې او کمکۍ ګرافینه به ګاډۍ کې راولې.

د کاکاجانې خبره ومنل شوه او یو ښکاري یې اترادنیا ته ګاډۍ پسې ولېږه. نیکولای، ناتاشا او پېتیا د کاکاجان کورته لاړل.

پنځه شپږ تنه لوی او واړه د ارباب د هرکلي لپاره د ودانۍ زینو ته راووتل. په لسګونه ښځینه چوپړانې، زړې، ځوانې او واړه د کور د شا زینو ته وتلي وو چې رارسېدونکو ښکاریان وګوري.

د سورو ښکاریانو په منځ کې، د ناتاشې، د یوې ښځې او دیوې مېرمنې شته والي د کاکاجان چوپړان دومره حیران کړي وو چې زیاترو یې شرم هېر کړي و، هغې ته ورنېږدې کېدل. په ځیر ځیر یې هغې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل، د هغې په مخکې يې د هغې په اړه خپلې خبرې او يادونې يادولې، ګواکې چې کومه معجزه شوې ده، يا کوم عجيبه ښاروي چا نندارې ته يې راوستی، نه ښځه چې د ځان په اړه غږېدا واوري او پرې پوه شي.

-ارينکا ! ګوره، ښه ګوره ! پر آس هم په ښنګ ناسته ده، ناسته ده او لمن يې هم ځوړنده ده.

- ای خدايه ! توره يې ګوره، توره يې هم اچولې ده.

- ورته ګوره، لکه تاتاره داسې ده.

يو تن چې تر ټولو زړور و، مخامخ يې ناتاشې ته وويل:

- ښنګه چې آس پورته نه رالوېږې؟

کاکاجان د باغ د ځنګله د ونو په منځ کې د خپل لرګين پناه شوي کور د مخې زينو ته له آس نه راکوز، خپلو چوپړانو ته ځيراو په لوړ او دريځوالي غږ يې نارې کړې او وې ويل چې لاړ شئ او د مېلمنو د هرکلي لپاره هرڅه جوړ کړئ.

چوپړانو سره منډې کړې. هر څوک خپل کار پسې لاړل. کاکاجان ناتاشې راکوزه کړه، له لاسه يې ونيوله او د کور پر لرګينو شورکوونکو زينو يې وروخېژوله.

د هغه د کور ديوالونه، کاګل نه درلود ،لرګي نه يوازې پوښل شوي نه وو ، بلکې هومره پاک هم نه وو. که څه هم دلته تنبلۍ او بې اعتنايۍ نه احساسېده خو دا احساسېده چې په دې کور کې څوک د داغونو او ګردونو د پاکولو تکل نه لري. د دهليز ته د تازه مڼو بوی راته او پر ديوالونو د لېوانو او ګېدړو پوستونو ځوړنده وو.

کاکاجان خپل مېلمانه له دهليز نه واړه صالون ته چې ميزونه او سرې څوکۍ په کې اېښې وو بدرګه او له هغه ځايه يې بيا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمستون ته بوتلل چې سپين د چناره د لرګي جوړ ګرد ميز په کې ايښي و او څوکيو ښايسته کړی و او بيا يې هغوی خپله د کار کوټه چې يوه زړه لاستي لرونکي څوکۍ په کې ايښې وه او نخي فرش په کې پروت و، بوتلل. د کوټې په ديوالونو د سوروف (روسي جنرال) دده د مور او پلار، دده خپل تصويرونه اويوه پوځي دريشي ځړوند وو. په کوټه کې د تندو تنباکو او سپي بوی هم لګېده.

کاکا جان، له مېلمنو نه هيله وکړه چې په کوټه کې کېني او وې ويل چې د خپل کور په شان آرامه واوسي او خپله ووت. اوګای نومي سپي هماغه شان په ختهو ککړ کوټې ته راننوت، په کټ يې ځان واچاوه او په خپلو غاښو او ژبې د ځان په پاک کولو لګيا شو. له کوټې نه يو دهليز پيل شوی و چې په يوې پردې په دوو برخو ويشل شوی و. د ديوال ړوله پردې له شا نه د ښځو شروشور او د موسکا غږ راته.

نيکولای، ناتاشې او پېتيا چې جامې وويستې پر څوکيو کېناستل. پېتيا سر به څنګل کېښود او سمدلاسه ويده شو. ناتاشا او نيکولای چپه خوله ناست وو، څېرې يې تکې سرې بريښېدې. دواړه ډېر وږي، خو بيا هم خوشاله وو. (ترښکار نه وروسته، په کوټه کې نيکولای، د خور په وړاندې د نارينتوب غوري نه کولې) ناتاشا خپل ورور ته سترګه کېښکوده او دواړو تر ډېره وخته پورې خندل، خو مخکې له هغه چې دوی د خپلې خندا لپاره پلمه پيدا کړي، خندا يې لا پسې زياته او په کړس کړس بدله شوه.

تر لږ ځنډ نه وروسته کاکاجان قزاقي کميس په غاړه، شين پرتوګ اغوستی او لنډې موزې په پښو کوټې ته راننوت. ناتاشا احساس کړه، همدغه جامې چې کاکا جان په اترادنيا کې اغوستې وې، غير معمولې او آن د خندا وړ بريښېدې، خو دلته هغه ددوی تر کوټونو او کميسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ښې ښکارېدې. کاکا جان خوشاله و، نه یوازې دا چې د خور او وروړ له خندا نه خوابدی نه شو. (دا یې آن په زړه کې هم تېره نه شوه، چې ګواکې هغوی دې وکولای شي د ده پر ژوند وخاندي) بلکې خپله هم له هغو سره په خندا پیل سر شو...

د کاکا جان له راتګ سمدلاسه وروسته د کوټې دروازه یوې ښځې راخلاصه کړه، د پښو له غږ یې ښکارېده چې پښې بلې ده، څو ځلو یښت کلنه ځوانه، ښکلې، سپینه سره ځلېدونکې څېره، غوښینې شونډې او ژامې لاندې هم غوښینه وه. په خورا مهربانۍ او درناوي یې هر مېلمه ته جلا وکتل او له هر څه یې د مېلمه پالنې نښې ورېدلې. په یوه مالګینه ادا یې، هغوی ته ستړې مشي وویله (دا د کاکا جان ښځه وه) که څه هم د زیاتې څوربزالي نه یې، ټټر او ګیډه وړاندې او سر یې شاته وتلی و، په خورا بې سارې چټکۍ او حیرت سره یې بوتلونه د بېلابېلو خوړو او د ډوډۍ رنګارنګ قابونه پر مېزونو اېښودل. همدا چې کار یې پای ته ورساوه، له مېزه لرې او موسکا یې پرشونډو خوره شوه. د دروازې خولې کې ودرېده او داسې برېښېده چې دغه ښځه رستوف ته وایي دا هم هغه او دا هم زه، اوس د کاکاجان د کار په رازونو پوه شوئ؟ او څنګه به څوک نه پوهېږئ؟ نه یوازې نیکولای، بلکې ناتاشا هم د کاکا جان...

انیسا فیودروفنا (د هغه ښځه) د راننوتلو په وخت کې د هغه د وروځو په برندوالي، چې د هغه د نیکمرغۍ او د ډاډمنتوب څرګندونه یې کوله، پوه شول، چې راز چېرې او په څه کې دی. په پطنوس کې یوه بوتل خوندور شراب، د میوو او شرابو ګډې اوبه، مرخېړي، په غوړو کې د تورو وړو (ګډولې) پتېرې، انګبین، پاخه انګبین، منې، خستکې، پنیر، مربا او په عسلو کې نغښتل شوي چارمغز، اېښي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته بیا انیسا فیودروفنا، ډول ډول مربا چې په انګبینو او بورې کې پاخه شوي وو، د لاندي غوښه او سور شوی چرګ چې هماغه شېبه برابر شوي وو، راوړل.

دا ټول د انیسا فیودروفنا د لاس کوډې وې... دا ټول دې په خپله پاخه کړي، او په هر څه کې د هغه د ښه ذوق نښې څرګندې وې. ټول د هغې په شان سپیڅلي، پاک او سپین او د هغې د موسکا په څېر خوندور وو. هغې به کله له دې خوړو نه او کله به یې ناتاشې ته ست وکړ چې له هغو میوو نه کومه مړۍ واخلي او ویل به یې:

- نوش جان یې کړه ناتاشا جانې، ګرافینې، نازولې!

ناتاشا ټول او هر څه په خوند خوند خوړل. هغه داسې انګېرله چې دغه شان په غوړو کې د تورو وړو پتېرې، انګبین او په عسلو کې نغښتل شوې مند کې هېڅکله هېڅ ځای نه دي خوړلي.

انیسا له کوټې ووته. رستوف او کاکا جان ماښامنۍ خوړله، له شرابو او د ګیلاسو د اوبو د یو نیم غوړپ سره سره د پخوانیو او راتلونکو وختونو او ښکښو په اړه خبرې کولې او روګای نومي او د ایلاګین سپي یې هم نه هېرول. ناتاشا چې سترګې یې ځلېدلې، مخامخ دوی ته پر څوکۍ ناسته وه او هغو ته یې غوږ نیولی و. څو ځله ناتاشې هڅه وکړه چې پېتیا د ډوډۍ لپاره راویښ کړي خو هغه څه نه پوهېدونکې خبرې کولې او داسې برېښېده چې نه راویښېده. ناتاشا دې ته په دې نوي ځای کې دومره خوشاله، دومره آرامه او بې غمه وه، چې دعایې کوله، ګاډی ژر راونه رسېږي. په یوه شېبه کې چې ناڅاپه د دوی منځ کې چوپتیا راغله، کاکا جان د هغو کوربنو په شان چې د لومړي ځل لپاره خورا نږدې کسان مېلمانه کوي، د هغې پوښتنې په وړاندې چې د مېلمنو په خیال کې ګرځي، وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-غواړم ټول عمر مې همداسې تېر کړم، سبا به مړ یم حساب پاک دی، وړاندې... هرڅه پای ته رسېږي، ولې ځان هسې بې ځایه ګنهکار کړم؟

کله چې کاکا جان دا ویل، څېرې یې زر خبرې کولې او آن ښایسته هم وه. په دې وخت کې رستوف په غیر ارادي ډول، ټولې هغه ښې خبرې او ستاینې چې د کاکا جان په اړه یې له پلار او ګاونډیو ځمکوالو نه اورېدلې وې، وریادولې. کاکا جان د خپل ولایت په ټولو سیمو او شاوخوا کې د یوه خواخوږي او بې غرضه انسان نوم ګټلی و. هغه به هر چا په هره شخړه کې روغې ته ورباله، له هغه سره به یې د زړه خواله کوله، خپل رازونه به یې ورسره شریکول، د هغه پریکړه به یې منله او خبره به یې د کاڼي کرښه ګڼل کېدې. هغه تل او په ټینګار سره د رسمي دندو له منلو نه غاړه غړوله. هغه پسرلي او منی له خپل کهربایي آس سره په ډاګونو کې تېرول، ژمی به په کور کې پروت و او اوړی به د خپل باغ د بوټو په منځ کې خوندي او استراحت و.

- کاکا جانه تاسو ولې رسمي کار نه کوئ؟

- رسمي کار مې هم کاوه، خو پرې مې ښوده، د دغو کارونو حوصله نه لرم. حساب پاک دی، وړاندې ! د رسمي چارو په ډېرو ځانګړتیاوو مې سر نه خلاصېږي. د دولت چارې باید تاسو یوه کسانو ته وسپاري شي، خو ښکار چارې، دا بله خبره ده. دلته حساب پاک دی، وړاندې ! بیا یې چغه کړه:

- دا دروازه خلاصه کړئ، هغه ولې تړلې ده؟ د ده موخه هغه دروازه وه چې دد هلیز په کوز سر کې وه ...دا د هغې کوټې دروازه وه چې د ښکاریانو کوټې ته ورخلاصېده او د مجردانو د کوټې نوم یې ګټلی و. کومې پښې بلې پښې په چټکۍ وخوځېدې او یوه ناڅرګنده لاس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاريانو د کوټې دروازه خلاصه کړه. د يوه ګيتار غږ واورېدل شو، له ورايه ښکاره وه چې ګيتار کوم استاد غږوي. ناتاشا چې له پخوا نه د ګيتار آواز ته غږ وه، پاڅېده او دهليز ته ددې لپاره ووتله، چې هغه ښه واوري. کاکا جان وويل:

- دا زما ګاډيوان ميتکا دی چې دا ګيتار غږوي. ما هغه ته ښه ګيتار اخېستی، ډېر مې خوښېږي. کاکا جان عادت لاره چې کله دی له ښکاره راستنېده د مجردانو په کوټه کې به يې له هغوی سره ګيتار غږاوه. د کاکا جان، د ګيتار دغې نغمې خورا خوښېدې.

نيکولای وويل: آفرين، آفرين، څه ښکلی يې غږوئ. د هغه آواز څه سوړ غوندې و، داسې برېښېده، چې ګواکې نه غواړي وواييې چې دغه نغمې يې خوښېږي.

ناتاشې چې د ورور په خبرو کې سوړوالی اورېدلی و، د ورور د ملامتولو په نښه يې وويل:

- نه ښکلې، بلکې په بې سارې ښکلا يې غږوي.

هغې چې د کاکا جان، مرخېړي، انګبين او شراب خوښ او په دنيا کې تر ټولو غوره ګڼلي وو، اوس يې په نړۍ کې تر ټولو هرې موسيقۍ د دغه ګيتار آواز غوره او بې سارې باله. همدا چې د ګيتار غږ چوپ شو، ناتاشا د خلاصې شوې دروازې پلو ته مخ وراړاوه او وې ويل:

- نور، نور يې هم وغږوئ، هيله کوم، هيله کوم نور يې هم وغږوئ!

ميتيکا خپل ګيتار سُر کړ او د ارباب د مېرمنې نغمه غږول يې په خورا ښکلا او خوند ښوونکي ډول پيل کړل. کاکا جان ناست و، غوږونه يې د نغمې خواته ورڅک کړي وو او په يوې ناڅرګندې موسکا يې نغمه اورېده. د ارباب د مېرمنې نغمه څه کم سل واره تکرار شوه، څو واره ګيتار سُر شو او بيا هماغه نغمه وغږوله شوه، خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نغمې بیا بیا غبرولو نه یوازې ځوک نه ستومانه کول، بلکې هغوی غوښتل چې تکرار شي. آنیسا فیودروفنا کوټې ته راننوته، په څورب ځان یې دروازې ته ډډه ولګوله او په داسې یوې موسکا چې سخته د کاکا جان هغې ته ورته وه، ناتاشا ته وویل:

- غوړ شئ، ته او خدای غوړ شئ، څه کوډ ګرې ګوټې دي.

کاکاجان ناڅاپه، په خورا ټینګې خوځېدا ،لاس وخوځاوه او وې ویل:

- دغه سُر یې سم ونه غبراوه ،دلته سرونه باید جلا او نرم شوي وای... هر څه پاک دي، وړاندې !

ناتاشا وپوښتل:

- ایا ته یې هم غبرولئ شئ؟څه کوډ ګرې ګوټې دي.

کاکا جان پرته له هغه چې ځواب ورکړي،یوازې وموسېد او وروسته یې وویل:

- آنیسیو جانې ! ته وګوره چې زما د ګیتار تارونه جوړ دي او کنه؟ ډېره موده کېږي چې ګوتې مې ور وړې نه دي. هر څه پاک دي، وړاندې !

انیسا په مینې او چټکو ګامو لاړه، چې د خپل خاوند خبره پر ځای کړي او ګیتار یې راوړ. کاکا جان پرته له هغه چې چاته وګوري، له ګیتاره یې، ګردونه پو کړل او په خپلو ډنګرو اډوک ډوله منګلو یې د ګیتار له تندي نه یو ګړز جګ کړ. ګیتار یې سُر کړ او ځان یې په څوکۍ کې جوړ کړ. (په څو ننداریزو بڼو یې خپله چپه څنګله لږ پورته او آزاده کړه ). ګیتار یې له غاړې راونیو، انیسیا فیودروفنا ته یې سترګه کېښکوده او د ګیتار غبرول یې پیل کړل. خو هغه د ارباب د مېرمنې ترانه نه، بلکې خورا استاد وزمه یې... او په ډېر شوق او مینې یې د (پوخو کوڅو ) ( په تېږو فرش شوي ) نغمه وغږوله. د نغمې منځپانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هماغه نرمو ميني ښوونکو ضربو چې د انيسيا فيودروفنا له زړه نه راپاڅېده، هغه سره هم مهاله يې د نيکولای او ناتاشا په ګوګلونو کې منګولې خښولې. انيسيا فيودروفنا تکه سره شوه، د سر په دستمال يې مخ پټ کړ او په موسېدو موسېده له کوټې نه ووته. د کاکا جان قلمي ګوتو په خورا ځير، د ګيتار له زړه نه زړه راښکوونکې کوډګره نغمه راوويسته، د هغه غږولو ته يې دوام ورکاوه او هغه ځای ته يې کتل چې ترڅو شېبو مخکې هلته انيسيا فيودروفنا ډېره لګولې وه. نالېدونکې موسکا يې تر سپينو تورو بريتو لاندې ځان را خوراوه، خو دغه موسکا به هغه وخت لا زياتېده چې نغمه به لا مستېده او ضربه به لا پسې پر له پسې قوي کېده...

همدا چې کاکا جان نغمه پای ته ورسوله، ناتاشا چغې کړې: ښکلې ده، ښکلې ده! کاکا جانه خورا ښکلې وه! بيا، بيا يې ووهه! هيله کوم!

هغې ودانګل، له کاکا نه يې غېږ تاو کړه او ښکل يې کړ. هغې په داسې حال کې چې ورورته مخ وروااړاوه او له هغه نه يې د څه خبرو د اورېدو هيله لرله، وويل:

- نيکولای جانه! دا څه وه، دا نغمه يادوم؟

نيکولای هم د کاکاجان له دغې نغمې نه ښه خوند اخېستي و. کاکا جان بيا نغمه پيل کړه. انيسا فيودروفنا چې موسکا يې پرشونډو خوره وه، بيا کوټې ته راننوته او هغې پسې نور او نور خلک. کاکا جان د «لرې تم، سړو چينو ته به په ګډه ځو، زما ښکلې» نغمه وغږوله. بيا يې د استادانو په چم ځان وښوراوه، اوږو ته يې ټکان ورکړ او نغمه يې پای ته ورسوله.

ناتاشې په زارۍ ډوله آواز، داسې چې ګواکې ټول ژوند يې د کاکا جان په منګلو کې راګير شوی وي، وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کاکا جانه ! د زړه سره ! ماته گرانه، مه يې پرېږدئ، وغږوئ.

کاکا جان پاڅېد. داسې برېښېده چې په هغه کې دوه جلا کسان نغښتي دي، يو هغه چې خورا تند او جدي دی، چې پر هرڅه يې ملنډې وهلې او بل هغه چې خپله ټوکمارو او ساده و او د نڅا لپاره يې چمتووالی کاوه.

کاکا جان په هماغه لاس چې گيتار واهه، ناتاشا ته اشاره وکړه راوې بلله او چغه يې کړل:

- نو خورځې، پاڅه !

ناتاشا ودانگل او پر اوږو پروت شال يې وارتېره، د کاکا جان مخې ته يې ورمنډه کړل، لاسونه يې په ملا کېښودل، اوږې يې وښورولې، تر مخې يې ودرېده او نڅا يې پيل کړه.

هغه چې ورته وکتل وې ويل:

- په فرانسوي دغه کډواله، چېرې، څنگه او کله دغه روسي روح زبېښلی، په خپل روح کې يې نغاړی، هغه يې پاللی، له کومه هغې دغه نښې او دغه مالگيني اداگانې چې اروپايي نڅاگرو هغه بايد پخوا هېرې کړي وي، له خپلو خوځېدا ونه شړلي و، په ځان کې ساتلي دي؟

کاکا جان پوره همدغه بې ساری روح، همدا بې سياله، نه پورېدونکې، نه زده کوونکې ژورې لاسې خوځېداوې، له هغې نه غوښتې. همدا چې هغې نڅا پای ته ورسوله، ودرېده، په نازناز وموسېده، هغه لومړنی ډار چې نيکولای او نورو کسانو، درلوده، چې هغه کوم ناوړه څه و نه کړي، له منځه لاړ او د ټولو په زړونو کې د ستاينې او مينې له احساسه پرته بل څه نه گرځېدل.

هغې هغه څه وکړل، چې بايد کړي يې وای. هغه ټول داسې په ادا او ناز تر سره کېدل، انيسا فيودروفنا چې په چټکۍ د هغې لپاره شال

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي و هم له خوښۍ نه اوښکې تویولې، ځکه هغې لیدل چې دغې نرۍ ښکلې له نازه ډکې شهزادګۍ، دغه په وریښمنو او عطرونو کې لویه شوې نجلۍ، چې په بې ساري ډول دې ته ورته نه ده، ټولې هغه ښکلاوې، اداګانې چې د هغې په مور، پلار، ترور او بل هر روسي انسان کې نغښتي دي، دې یوازې په ځان کې رانغاړلي او پرې پوهېږي.

کله چې نتاشا پای ته ورسېدله، کاکاجانه په خوشالۍ ومو سېد او وې ویل:

- نو ګرافینې! هر څه پاک دي، وړاندې! دغه ته خورځه وایي، اوس که خدای وکړي، چې یو ښه زوم پیدا شي، هرڅه پاک دي، وړاندې!

نیکولای وموسېد او وې ویل: وخته پیدا شوی دی.

کاکا له حیرت سرسام شو او په پوښتنیزه یې ناتاشې ته وکتل او وې ویل: اوهو؟ عجبه ده!

او ناتاشا په یوې خوږې موسکا چې د هو نښه یې ښرګندوله وویل:

-هغه هم څه زوم!

خو تر دې ځواب نه وروسته سمدلاسه بیا خیالونو پر هغې یرغل وکړ، او ناتاشې له ځان سره وویل چې، کله چې نیکولای وویل چې زوم پیدا شوی دی، څه بل څه به یې غوښتل؟ ایا هغه خوشاله وه که نا خوښه؟ داسې ورته بربښېده چې ګواکې نیکولای فکر کوي چې زما بالکونسکي به زما د دغو کړو نه زغم لاره او نه به یې منلي وای. نه، نه، هغه به هرومرو پوه شوی وای. او وایي چې اوس نو هغه چېرې دی؟...

دغه حالت ځو شېبو نه زیات دوام ونه کړ او په زړه کې یې وویل:

- په دې اړه فکر مه کوه او حق هم نه لرې، فکر وکړې، هغې وخندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بېرته د کاکا جان تر څنګ کېناسته او له هغه نه يې هيله وکړه چې يوه بله نغمه وغږوي. کاکا جان بيا يوه نغمه وغږوله.. او تر يوې چوپيتيا نه وروسته يې په يوه ټوخي سينه صافه کړه او د خپلې خوښې د ښکاريانو سندره يې وويله:

شــپه خــوره او نــړۍ تـــوره
واوره، وريــزې ځمکــه ســپينه

کاکا جان داسې سندرې ويلې، لکه ولسي خلک يې چې وايي. په هماغې سادګۍ او ټينګې عقيدې، په دې باور چې د سندرو قوت يوازې د هغو کلماتو کې دي، او موزيک په خپل سر ورزيا تېږي. موسيقي له تورو نه پرته شتوالي نه لري او يوازې د موسيقي د نظم لپاره وي، نو له همدې کبله د هغه سندره، لکه د مرغانو په شان چې له خپلو سندريزوالي نه خبر نه وي، خورا زړه وړونکي و. ناتاشا د کاکا جان د سندرې په اورېدو، سخته جذبه پيدا کړه، پريکړه وکړه چې چنګ لرې کړي او يوازې ګيتار وغږوي. د کاکاجان ګيتار يې راواخيست او سندره يې پيل کړه.

شپه له لسو بجو اوښتې وه چې ګاډۍ او درې ساتونکي چې د ناتاشا او پېتيا په لټه پسې رالېږل شوي و، راورسېدل. يو تن ساتونکي ويل چې ګراف او ګرافينه د خپلو ماشومانو نه ناخبره پاتې شوي او ډېر ناآرامه وو.

هغو پېتيا لکه مړی داسې سره پورته او په ګاډۍ کې واچاوه، ناتاشا او نيکولای په ګاډۍ کې کېناستل. کاکا جان له ناتاشې نه يو ښه تود پتو تاو کړ او په بې ساري مهربانۍ يې له هغې سره خدای په اماني وکړه او همداسې پلی تر هغه پله پورې ورسره لاړ چې، سواره پرې تېرېدای نه شو، بلکې بايد په اوبو کې ورګډ شوي وای، کاکا جان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاريانو ته سپارښتنه وکړه چې ځراغ واخلي او د هغو مخکې روان شي.

د کاکا جان غږ د شپې په توره تياره کې انگازې کولې، د خدای په امان، گرانې لورکۍ! دا د هغه ورځني غږ نه و، چې ناتاشا پېژاند، بلکې هغه غږ و چې د واورې سندره يې ويلې وه.

په کلي کې د بل شويو اورونو سره رڼايي ځلېدله او د لوگيو زړه راښکوونکي بوی په هوا کې خور و.

کله چې هغوی لويې لارې ته ورسېدل، ناتاشا وويل:

- دا کاکا جان هم عجيبه ښه سړی دی!

نيکولای وويل:

- هو کې، ښه سړی دی، گوره ساړه خو به دې نه کېږي؟

- نه، نه خورا ښه يم.

او په حيرانۍ يې زياته کړه:

- دومره مې خوښ شوي دي، چې نه شم کولای تا ته وو وايم.

او تر ډېرې پورې دواړه چوپ پاتې شول.

شپه، تورتم او لړې خورې وې. آسونه نه ليدل کېدل، او يوازې د هغو د پښو آوازونه چې په ختو کې يې ځښول، اورېدل کېدل.

په دغه ماشوم وزمه او ويښ گوگل کې چې داسې د ژوند د بېلابېلو خيالاتو د منلو تږی و، څه تېرېدل؟ دغو خيالاتو څنگه د هغه په ذهن کې ځای پيدا کاوه؟ خو په هر حال، هغه خورا نيکمرغه وه. هغه لا کورته نه وه رسېدلې، چې تر شونډو لاندې يې د واورې د سندرې په ويلو پيل وکړ. د ټولې لارې په اوږدو کې يې هڅه کوله، د هغه شعر ورياد کړي، خو په پای کې هغه ورياده شوه.

نيکولای وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دریاده ده کړه؟

ناتاشا وپوښتل:

- نیکولای جانه ! تا همدا اوس د څه په اړه فکر کاوه؟

د هغو دا خوښېده چې دوی یو له بل نه داسې پوښتنې وکړي.

نیکولای هڅه وکړه چې وریاد کړي د څه په اړه یې فکر کاوه او وې ویل:

- آها ، غوږ شه ! لومړي مې فکر وکړ ، چې روګای ، هغه سور سپی ، ډېر کاکا جان ته ورته دي ، که دغه سپي ، د سپیتوت پر ځای سړی وای ، تل به کاکا جان هغه له ځانسره ساته ، که هغه یې د ښکار لپاره نه ساتلي ، د خپل زړه د خوښۍ لپاره به یې ساته. هغه هم له دې کبله ، چې دوی سره ورته وو... اوس ته راته ووایه چې تا د څه په اړه فکر کاوه؟

-ما ، یو شېبه ودرېږه ! هو کې ! لومړي خو مې فکر کاوه چې موږ خو ، موږ خو کورته ځو ، خو اوس ګورم چې خدا زده په دې تیاره کې چېرې روان یو ، که یو وار یو چېرته ورسېږو او وګورو چې اترادنیا نه ده ، بلکې یوې کوډګرې سیمې ته رسېدلي یو. بیا مې فکر کاوه چې... نه هېڅ ، هېڅ ، نور مې بل د هېڅ شي په اړه فکر نه کاوه.

نیکولای وویل: پوهېږم ! هرومرو دې د هغه په اړه فکر کاوه !

او ناتاشا په دې تیاره کې د هغه د غږېدا له سندریزوالي نه په دې پوه شوه چې ورور یې موسېږي.

ناتاشا ځواب ورکړ:

- نه د هغه په اړه مې فکر نه کاوه. حال دا چې هغې په رښتیا د سردار اندرې او د دې په اړه که سردار کاکا جان لیدل وای ، ایا خوښ شوی به یې وای او کنه؟ او بیا یې زیاته کړه:

- او نور مې په ټوله لاره کې له ځانسره ویل او ویل چې انیسیا جانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره ښه وه، څومره ښه یې وکړل. او نیکولای د هغې د خندا له خوښۍ نه ډکې سندریزې انګازې واورېدې.

ناتاشا ناڅاپه وویل: ته پوهېږې، زه پوهېږم چې زه به بیا هېڅکله لکه اوس داسې نیکمرغه او آرامه و نه اوسم.

نیکولای وویل: دا اپلتې، حماقت او تشې خبرې دي.

او په زړه کې یې وویل:

- دا زموږ ناتاشا هم څه د ښکلا، ښکلا ده! هېڅکله مې ددې په شان ملګرې نه درلود او نه به یې ولرم. هغه ولې مېړه کوي؟ ښه به دا وي چې تل به داسې ګډ سره ګرځو.

ناتاشا په زړه کې وویل:

- دا نیکولای څومره بې ساری ښه دی!

هغې د کور کړکیو ته د شپې په تور تم او لرو کې ځلېدلې، اشاره وکړه او وې ویل: عجبه ده، د مېلمستون څراغونه لا تر اوسه لګېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

ګراف ایلیا اندرېویچ د سیمه ایز جرګې له مشري نه ځکه استعفا وکړه چې دغې دندې خورا زیات خرځ درلود ،خو له کار ه لرې کېدل، بیا یې هم د هغو مالي چارو ته څه ګټه ونه رسوله. ناتاشا او نیکولای به زیاتره وخت د موروپلار هغه پټې خبرې اورېدې، چې د مسکو په ښارګوټو کې د دوی د کورنۍ د لوی کور د خرڅېدو په اړه به یې سره کولې. که ګراف رستوف د سیمه ایزې جرګې مشر نه وای، هغه به دومره پراخو مېلمستیاوو ته اړتیا نه لرلای او په اترادنیا کې به د دوی کورنی ژوند هم تر پخوا نه آرامه او هوسا و، خو د هغوی په لوی کور او هغه پورې په اړونده ودانۍ کې هماغه شان د چوپړانو ګڼه ګوڼه او لا تر اوسه به تر شلو پورې مېلمانه د دوی پر میز ناست وو... د سارې په توګه دیملر چې سندرغاړی و او د هغه مېرمنه یُوګل، د نڅا ښوونکې د کورنۍ له غړو او یوې زړې پېغلې سره چې (بېلو )نومېده ، د دوی کره له پخوا نه اوسېده. دغه راز ډېر نور کسان او له هغې ډلې نه د پېتیا ښوونکې، د ناتاشا روزونکې او ډېر نور خلک چې د خپل کور پر ځای یې غوره ګڼله د ګراف په کور کې واوسي. که څه هم د پخوا په شان ګڼې او پرتمینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمستيا او بنډارونه نه جوړېدل، خو د هغوی ژوند په هماغه بڼه دوام درلود، ځکه پرته له دې نه، ګراف او ګرافينې د خپل ژوند تصوير نه شو کولای. د نيکولای د سپيانو د ډلو، پنځوس آسونو او په پنځلسو ګاډيوانو نوکې هم څه کمي نه و راغلې، په جشنونو کې يو بل ته د قيمتي ډالېو ښنلو ته پاملرنه... لوبې، جواريو، قطعې او په هغو کې د سلګونو روبلونو بايلل ته پاملرنه، هغو پرتمينو مېلمستياوو ته تګ راتګ چې د سيمې د بډايانو به ګډون په کې کاوه، او د ايليا اندرېويچ هغه ته لا رنګينه ښنله لا د پخوا په شان دوام درلود.

ګراف د مالي ستونزو له امله په يوې داسې بې پايه کړۍ کې راګير و، خو ده هڅه کوله دا ونه مني، چې دی په داسې يو نه آوارېدونکې جړې غوټې کې راګير او ګام په ګام لا په کې را ابسارېږي. خو هغه دا احساسوله چې نه له دغې کړۍ نه د راوتلو توان لري او نه کولای شي په احتياط سره له دغو چارو نه ځان لرې کړي. ګرافينې د زړه له کومې دا احساسوله، چې په دې توګه به يې ماشومان بدمرغه شي.او دا د ګراف ګناه نه ده او نه هغه د خپل طبيعت او خوښې په وړاندې دربدای شي.

ګراف پر دغې رارسېدونکو خواريو او ديوالي کېدو پوهېده، ډېر زورېده او د ماشومانو برخليک زوراوه (که څه هم هغه دا زورېدل پټول) ګرافينې بيا د خپل ښځينه طبيعت له مخې هڅه کوله چې له دغه حال نه د ژغورنې لپاره يوه لاره پيدا کړي. د هغې د اند له مخې، د دغې ژغورنې لپاره يوازې يوه لاره پاتې ده، هغه هم له يوې بډايې پېغلې سره ددوی د زوی نيکولای واده کول و. هغه دغه چاره، د ژغورنې وروستي هيله ګڼله او تصور يې کاوه، که نيکولای هم دغه ونه مني، په ژوند کې به بيا ددوی کار سم نه شي. دغه پېغله چې دې د نيکولای لپاره غوره کړې وه، ژولیه کاراګينا وه... هغه يوه ښکلې نجلۍ او پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library



و مور يې خورا مهربانه، خوا خوږي مخور خلک وو ، د رستوف کورنۍ هغه لا له ماشتوبه پېژندله. د غه پېغله اوس د خپل وروستي ورور د مړيني له امله خورا بدٔ ايه شوې وه.

ګرافينې مخامخ، ګرافينې کاراګينا ته، چې په مسکو کې اوسېده، د يوه ليک په ترڅ کې وليکل چې لور يې د خپل زوی لپاره غواړي او ډېر ژر يې د هو ليک تر لاسه کړ. ګرافينې کاراګينا ځواب ورکړی و ، چې دا ريباري په سر سترګو مني، خو يوازې خبره دا ده چې بايد د نجلۍ خوښه هم وغوښتل شي، هغه سره هغوی هم مهاله نيکولای ته بلنه ورکړه چې مسکو ته ورشي.

ګرافينې څو واره په ژړه او انګولا ، له خپل زوی سره خبرې وکړې او وې ويل: اوس چې د دواړو نجونو بخت ښکاره شوی، د هغې يوازينۍ هيله دا ده چې زوی يې هم زوم شي او د ده سا په آرامه وخېژي. بيا يې زياته کړه چې، خورا ښه نجلۍ يې پيدا کړې ده. او له هغه نه يې د واده په اړه وپوښتل. هغې تر دې وروسته وويل چې ده ته يې يو ډېره ښه او ښکلې ناوې پيدا کړې ده.

دا وار او بيا يې څو ځله نور له نيکولای سره په خبرو کې، هغه نجلۍ ژوليه وستايله او له هغه يې هيله وکړه چې په اختر کې مسکو ته لاړ شي او ساعت به يې تېر شي. نيکولای تصور کاوه چې ولې يې مور غواړي چې دی مسکو ته لاړ شي او د هغې د خبرو پای چېرې رسېږي، خو ده به ځان ناګاره اچاوه، مګر يوه ورځ يې مور په ډاګه ورته وويل چې د هغوی دژوند د ژغورنې يوازينۍ لاره له پېغلې کاراګينا سره واده دی.

نيکولای ځواب ورکړ: ښه پوهېږم ! که زما کومه خواره او بې وزلې نجلۍ خوښېدلای، تاسو به زه اړولای چې خپله مينه او عزت مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمنیو د لاس ته راوړلو لپاره، له بلې نجلۍ سره تر واده کولو نه ځار کړای وای...

هغه د خپلې دې پوښتنې په هغه اغېز نه پوهېده، چې دده پر مور یې کوي، خو ده یوازې خپله خپلواکي ښودله، مور وویل:

- نه، نه زما موخه دا نه وه.

هغه نه پوهېده چې خپله موخه څنګه څرګنده کړي، زیاته یې کړه:

- زه ستا له نیکمرغۍ پرته، بله هیله نه لرم.

هغې ددې خبرې پـه ویلو پـوه شـوه چې رښـتیا نـه وایـي، ګبنۍ واخېسته او په ژړا شوه.

نیکـولای وویـل: ادکې ! مـه ژاړه، یـوازې دومـره راتـه ووایـه، چې تاسو څه غـواړئ، هر څه چې تاسو غـواړئ زه هغسـې کـوم، تاسو ښـه پوهېږئ زه به خپل ټول ژوند او نورهر څه تر دې نه ځار کړم چې تـه آرامـه شې، زه هر څه تر تا ځاروم، آن خپل احساس او مینه.

خو ګرافینې نـه غوښـتل چې خبره داسې وشي، هغـه لـه خپـل زویـه ځاربېدل نـه غوښـتل، بلکـې هغـې غوښـتل چې دا ځان لـه هغـې نـه ځـار کړي، اوښکې یې پاکې کړې او وې ویل: تـه مې پـه خبره پـوه نـه شوې، پرېږده، دا خبرې به بل وخت ته پرېږدو.

نیکولای له ځانسره وویل: دا څه خبره ده، کېدای شي پـه رښـتیا مـا تـه کومـه بې وزلـې نجلۍ ګرانـه وي، څنګه کولای شم، خپلـه مینـه او عزت د کومې نجلۍ د شتمنیو د لاس تـه راوړلـو نـه ځـار کـړم؟ زه دې تـه حیرانه یم، چې مور مې څنګه کولای شو، ما ته دغه شان خبره وکړي. دا چې سونیا بې وزله ده، نه شي کولای را ته ګرانه وي؟ څنګه کولای شم، د هغې وفا او پاکه مینه بې ځوابه پرېږدم؟ رښـتیا وایـم زه بـه د ژولیـه پـر ځـای چـې یـوه جـوړه شـوې سـینګار شـوې نانځکـه ده، سـونیا سـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکمرغه واوسم. هلته چې د سونیا د مینې خبره وي، زما احساس تر هر څه لوړ او پیاوړی دی.

نیکولای مسکو ته لاړ نه شو، ګرافینې هم بیا له هغه سره د واده خبره یاده نه کړه. هغې په خواشینۍ او کله ناکله په قهر سره لیدل چې زوی یې پرله پسې او ورځ تر ورځې له بې وزلې او بې جهزه سونیا سره اړیکې او مینه زیاتېده.

مور له دې امله ځان نښکنځه، خو له دې سره سره یې نه شو کولای سونیا سره بد وکړي. کله ناکله به یې بې له دلیله هغې ته تاسو یا ګرانې ویل، دا سې رسمي خبرې له هغې سره د نه لېوالتیا نښه وه. له سونیا سره، د مهربانې ګرافینې بدخلقي له دې کبله وه چې دا تور سترګې بدمرغه نجلۍ، دومره پاک زړې او پر حق ولاړه، دومره یې د خپلو دغو غمخور خپلوانو منت ساته او داسې په نیکولای مینه وه، چې د هغې غندنې یا بد ویلو ته هېڅ دلیل پیدا کېدای نه شو.

نیکولای خپله ټوله رخصتي د خپلو خپلوانو کره تېره کړه.

د سردار اندرې څلورم لیک رارسېدلی و. په هغه کې سردار لیکلي و که د هغې ځای د تودې هوا له کبله د ده ټپونه ناڅاپه راتازه شوي نه وای، دی به نوې کال ته خپل راتګ نه وای ځنډولای او لا د وختهبه د روسیې پلو در خوځېدلای وای.

ناتاشې ته خپل کوژدن لا هماغه شان ګران و، دې ته د هغه مینه لا هماغه شان د زړه او روح آرامې او د پخوا په شان د ژوند د بنادیو سرچینه وه، خو د بېلتانه د څلورمې میاشتې په پای کې و چې د دغه بېلتانه او جدايي غم کرار کرار دا زوروله او ددې پر زړه یې د غم داسې څپې راخورولې چې د هغو په وړاندې دربدای نه شوه. خپل زړه یې په خپل حال سوځېده، په دې یې زړه خوږېده چې د ژوند دغه موده هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې او د هېڅ نه ځار او تېره کړې وه. هغه دا سې احسا سوله چې پـه دې موده کې دې ځومره د گرانښت تو ان لاره او ځومره يې کولای شو پـه ځان ځوک مين او گرانه واوسي.

د رستوف له کورنۍ نه خوښۍ کډه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

د مسیح د زوکړې مبارکې ورځې را ورسېدې. په کلیسا کې له پرتمینو لمانځنو پرته، د ګاونډیو او کلیوالو د رسمي او غمجنو مبارکیو نه برسیره او د نویو جامو د اغوستو تر څنګ، هېڅ بل داسې څه پیښ نه شول، چې دغو ورځو ته د اختر خوشالي او رنګ وبښي.

د اختر په دریمه ورځ، تر غرمنۍ نه وروسته د هغو د کورنۍ ټول غړي هر څوک خپلو کوټو ته لاړل. د ورځې تر ټولو نه خوا شینې شېبې وې. نیکولای چې د سهار له خوا د ګاونډي کره تللی و، په خپل کټ کې ویده شو. زوړ ګراف په خپلې کوټې کې استراحت کاوه. سونیا د مېلمستون د ګرد مېز شا ته ناسته او پر ټوکریې څه رسمول. مشرې ګرافینې په قطعو فال لیده. اناستاسیه ایوانوفنا د ګراف هماغه ټوکماره له دریو بوډیو سره د کړکۍ څنګ ته ناستې وې.ناتاشا کوټې ته راننوته،د سونیا خواته ورغله او د هغې د کار په ننداره شوه، بیا مور ته ورغله او پټه خوله ودرېده.

مور یې وویل:

- څه درشوي دي، ولې داسې لکه بې کوره ګرځې راګرځئ؟ څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړئ؟ ناتاشا چې سترګې یې ځلېدلې او موسکا یې له شونډو کډه شوې وه، وویل:

- هغه غواړم، همدا اوس، همدا اوس یې غواړم!

ګرافینې سر پورته کړ او په ځیر ځیر یې لور ته وکتل.

- مورجانې! ما ته داسې مه ګوره، مه ګوره کنه ژړا مې راځي.

ګرافینې ځواب ورکړ: کېنه، ترڅنګه مې کېنه.

- مورجانې زه هغه غواړم، هغه غواړم، له همدې امله داسې ناهیله شوې یم.

د هغې آواز پرې او اوښکې پر لیمو راشېوه شوې، په دې هیله چې اوښکې پټې کړي، مخ یې واړاوه، له کوټې نه ووته، واړه مېلمستون ته لاړه، ودرېده، هلته لږ په خیالو کې ډوبه شوه او بیا د مینځو کوټې ته ورغله. هلته یوې زړې ښځې، یوې ځوانې هغې ته چې له باندې نه راغلې وه او د سړو نه یې سا بنده بنده کېده بنګېدله او هغه یې ښکنځله.

دغې زړې مینځې وویل: دا لوبې او سادګي بس دي، هر کار خپل وخت لري...

ناتاشا وویل:

-کاندرانیوفنا! پرېږده، څه یې کوئ... ناتاشا دې خوا آخوا ګرځېده، ټوله ځمکه ورته د تبې په شان وه... هغه بیا د خیالونو په دنیا کې ډوبه شوه. هغې ته، هغه وختونه وریاد شول چې هغه یې ترڅنګه و او دې یې ښکلو او مینه ناکه سترګو ته کتل.

- ای کاشکې ژر تر ژره راغلي وای، خو زه ډېره ډارېږم، چې داسې به شي، خو تر ټولو لویه بدمرغي دا ده، چې زه زړېږم! بیا به هغه په ما کې، هغه څه نه وي، چې اوس شته. کېدای شي همدا نن راشي، همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس، کېدای شي هغه راغلی وي، او هلته په مېلمستون کې ناست وي، کېدای شي، هغه پرون راغلی وي او ما هېر کړی وي، چې راغلی دي.

پاڅېده او مېلمستون ته لاړه. د کورنۍ ټول غړي، ښوونکي، روزونکي او مېلمانه ټول د چای د مېز شا ته ناست وو. د هغو شا ته چوپړان او مينځې ولاړ وو، خو سردار اندرې په مېلمستون کې نه و او ژوند د پخوا په شان روان و.

ايليا اندرېويچ کوټې ته راغله ناتاشا وليده او وې ويل:

- هو، هغه ده، هغه! راشه، راشه ځنګ ته مې کينه! خو ناتاشا د مور په څنګ کې ودرېده، شا و خوا يې وکتل، داسې برېښېده چې کوم شي لټوي. هغې وويل:

- مورې! هغه ما ته راکړه! مورجانې! ژر، ژر هغه راکړه او ددې خبرې سره يې ونه شو کړای د خپلې ژړا او ساندو مخه ونيسئ.

هغه هم مېز ته کېناسته، د مشرانو او نيکولای خبرو ته چې د مېز شا ته ناست و، غوږ شوه، خو له ځانسره يې ويل:

- ای خدايه! لو يه خدايه! بيا هماغه څېرې، هماغه خبرې او هماغه پلار چې په هماغه شان پياله منګلو کې نيسې او خپل چای څکي، هغې په وحشت سره داسې انګېرله چې د کورنۍ د غړو په وړاندې يې ځکه کرکه په زړه کې راويښېږي، چې دوی هماغه شان چې و، هماغه شان دي. تر چای نه وروسته، نيکولای، سونيا او ناتاشا په واړه مېلمستون کې د خپلې خوښې هغه کونج ته لاړل چې تل به يې هلته تر ټولو پټ رازونه سره ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

کله چې هغوی واړه مېلمستون ته لاړل، ناتاشا خپل ورور نیکولای ته وویل:

- کله ته هم داسې کېږې، چې تصور کوې او درته بریښي چې بیا هېڅکله کوم څه پېښ نه شي؟ هر هغه څه چې ښه و، هغه پخوا و او هغه ټول پخوا تېر شوي او بیا هېڅکله رانه شي؟ پوهېږې دا د خواشینۍ خبره نه ده، دا یو غمرلی حالت دی؟

نیکولای ځواب ورکړ:

- ولې نه! کله کله زه داسې انګېرم چې نیکمرغه یم او هر څه ښه دي، خو د سترګو په رپ کې مې زړه ته راشي چې نور نو هر څه ستومانه کړی یم او هرڅه ما کې مري. لکه چې پوځ کې وم، یو ورځ ټول یو بنډار ته لاړل، سازو او موسیقي، خو زه ناڅاپه په غمونو کې ډوب شوم.

ناتاشا هم د هغه ټولې خبرې تایید کړې او وې ویل:

- زه چې لا ډېره کمکۍ وم، چې همداسې شوې وم، یادېږې به دې؟ یوه وار یې زه د الوګانو له امله وښکنځلم، تاسو ټول نڅېدې او زه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبقونو په کوټه کې ناسته او له ژړا نه مې ساندې وهلې. داسې مې ژړل چې هېڅکله به مې هېر نه شي. پوهېږم څنګه خفه وم، په تاسو مې زړه خوږېده، پر ځان هم. پر ټولو ټولو او هر څه. تر ټولو نه لا مهمه دا وه، چې زه هېڅ ګنهکار نه وم، یاد یې دې؟

نیکولای ځواب ورکړ: یاد یې مې، ښه مې یاد یې، چې تا ته درغلم او بیا مې غوښتل تا تسل کړم، پوهېږې، د شرم خبره وه، او څنګه د خند وړ وو. یاد یې دې؟ د لوبو یوه نانځکه دې درلوده او ما غوښتل هغه درکړم.

ناتاشا چې لږ په فکر کې ډوبه، خو موسکا یې پرشونډو وه ،وویل:

- او ستا یاد یې؟ دا خو ډېر پخوا و، ډېر واړه وو، کاکا جان خپلې کوټې ته وروغوښتو. لا په پخواني کور کې و، یاد یې دې، تیاره وه، موږ ورغلو او ناڅاپه مو څه ولیدل؟

نیکولای په خورا خوښۍ او موسکا د هغې خبرې پرې کړې او وې ویل:

- هو کې عرب، هغه توره کی، کاکا ! څنګه مې نه یاد یې؟ خو زه لا تر اوسه پورې په دې نه پوهېږم، چې هغه عرب توره کي کاکا په رښتیا هلته و، که موږ خوب لیده او یا یې چې وروسته کیسې راته کړې وې.

- یاد یې دې، چې د هغه د ښېرې رنګ داسې خاورین غوندې او غاښونه یې سپین وو، همداسې ولاړ و او موږ ته یې بیرګ کتل...

نیکولای وپوښتل:

- سونیا، ستا یاد یې؟

سونیا په شرم سره وویل:

- هو کې، هو کې، یو څه مې یاد یې.

ناتاشا وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو ما مې له پلار جان او مور جانې نه وپوښتل چې دغه تور عرب له کوم ځایه راغلی؟ او هغو وویل هېڅکله کوم تور عرب نه و، خو گورې، دا دې ستا هم یادېږي.
- ښکاره خبره ده، د هغه غابښونه مې داسې په یاد دي، ته به وایې چې همدا پرون و.
- ډېره عجیبه ده، ته به وایې چې دا ټولې خبرې په خوب کې تېرې شوې وې. زما دغه حال خوښېږي.
- ستا یادېږي چې د اختر رنگ کړې هگۍ مو په کوټه کې جنگولې او ناڅاپه دوې بوډۍ پیدا شوې او پر قالینو یې ځرخېدل پیل کړل. دا ټول زموږ د سترگو په مخ کې تېر شوي دي او کنه؟ یادېږي دې، څومره ښه وختونه وو.
- هو کې، هغه بل دې یادېږي، چې پلار جان په خپل شنه رنگه پوستین کې، څنگه د زینو له سره ډزې وکړې؟
هغوی په خورا خوند او خندا ،نه د عمر خوړلو په شان په خواشینۍ، بلکې په خوند سره د خپل ماشومتوب شاعرانه او ښکلې خاطرې رایادولې... سره خندل یې او په دې نه پوهېده چې په څه شي خوشالېږي او په څه شي سره خوابدېږي.
که څه هم د هغو ټول یادونه سره گډوډ وو، خو سونیا د هغو په رایادولو کې تر ټولو نه وروسته پاتې کېده.
سونیا ډېر هغه څه چې نورو رایادول، نه شو کولای وریاد کړي، خو که وریاد به هم شول، هغه شاعرانه احساس چې په نورو کې یې پیدا کاوه، په دې کې نه راتوخناوه، بلکې د هغو نورو له خوښۍ نه به یې خوند اخېست او هڅه یې کوله، چې له هغو سره سر وښوروي...
دوی خبرې کولې، چې دیملر واړه مېلمستون ته راننوت او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چنګ خواته چې د کوټې په کونج کې ایښی و ورغي، پوښ یې ترې جګ کړ او له هغه نه یې یو بې سُره غږ پورته کړ.

مشره ګرافینه له لوی مېلمستونه را پاڅېده او وې ویل: ادوارد کارلیج، مهرباني وکړئ او زما د زړه د خوښې نغمه (نیکچورن میسو فیلده) راته وغږوئ.

دیملر چنګ را واخیست.

ناتاشې، نیکولای او سونیا ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

- ځوانان څنګه په خوله ناست دي؟

ناتاشا لنډ غلچک هغه ته ورولېږه او وې ویل:

- زموږ مرکه فلسفي ده. تر یوې شېبې څنډ نه وروسته یې خپلې خبرې بېرته پیل کړې، خبرې د خوب لیدو په اړه وې. دیملر نغمه پیل کړه. ناتاشا په آرامو ګامونو میز ته ورنږدې شوه، شمعه یې راواخېستله، هغه یې یوړه، بېرته راستنه شوه او پر خپل ځای کې آرامه کېناسته. په دې کوټه کې په تېره بیا پر هغو څوکیو چې دوی ناست و، تیاره وه، خو د ټولو کړکیو نه پر غولې باندې د بشپړې سپوږمۍ سپینه رڼا رالوېده.

دیملر چې نغمه پای ته ورسوله، هماغه شان چنګ ته ناست و، خپلې ګوتې یې په کراره د هغه په تارونو زغلولې، داسې برېښېده چې سودا کې دی، چې چنګ پرېږدي، پاڅي او یا کومه بله نغمه وغږوي.

په همدې وخت کې ناتاشا نیکولای او سونیا ته ورنږدې شوه او په بنګهاري سره یې وویل:

- زه داسې تصور کوم، چې کله خپل یادونه او خاطرات یادوي، رایادوي او همداسې یې رایادوي، پخوانیو زمانو ته ورځي او هر څه یادوي، آن هغه څه چې تر زوکړې مخکې ورباندې تېر شوي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریاد پرې.

سونیا چې خپلو زده کړو کې تکړه وه او هرې زده کړې څه ورزده کول، وویل:

- دې ته تر زوکړې مخکې، رواني لېوالتیا وايي. لرغوني مصریان هم په دې باور و چې زموږ روح پخوا په ځارویو کې و او بیا هم ځارویو ته ورځي.

که څه هم موسیقي پای ته رسېدلې وه، خو ناتاشا هماغه شان په ټیټ آواز او بنګهاري وویل:

-نه، نه ! پوهېږئ، زه په دې باور نه لرم چې موږ به د ځارویو روح لاره، برعکس زه په دې باور یم، چې کېدای شي موږ به ملکې وو او دې دنیا ته هم ددې لپاره راغلي یو، چې هغه راپه یاد کړو.

دیملر دوی ته ورنږدې شو او وې ویل:

- اجازه ده چې ستاسو ترځنګ کېنم او ستاسو په خبرو کې ګډون وکړم؟ او د هغو ترځنګ کېناست.

نیکولای ځواب ورکړ: نه، نه یې منم، که موږ ملکې وای، نو ولې راولوېدو، نه، نه دا ناشونې خبره ده !

ناتاشې چې په ټینګ باور له هغه سره مخالفت کاوه، وویل:

- نه، نه یو رالوېدلي، چا ویل چې رالوېدلي یو؟ ولې؟ ولې؟ زه پوهېږم چې پخوا زه څه ډول ملکه وم؟ زه یوازې په دې پوهېږم چې روح ابدي او جاودانه دی... که داسې وي چې موږ تل وو، پخوا هم وو یعنې ابدي یو...

د ګرافینې غږ پورته شو، چې ویل یې:

- ښه ناتاشې ! اوس ستا وار دی. کومه سندره راته وو ایه، دا څه د دوکمارو په شان په یوه کنج کې راټول شوي یاستئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا وویل:

- مورجانې، هېڅ مې زړه نه کېږي، خو بیا هم پاځېده.

د هغوی له ډلې نه د یوه هم، آن د پاخه منګ دیملر هم دې ته خوښه نه وه، چې د کوټې هغه تیاره کونج کې له هغه ځوکۍ نه پاځي اړ خپله خوږه مرکه پرېږدي، خو بیا هم ناتاشا پاځېده او نیکولای ارکادیون ته کېناست. ناتاشا د تل په شان د تالار په منځ کې په هغه ځای کې ودرېده چې آواز ښه په کې اورېدل کېده او هغه سندره یې پیل کړه چې د مور یې خوښېده.

ناتاشې وویل:

- هغې نه غوښتل چې سندرې ووایي، ډېر وخت کېده چې سندرې یې نه دي ویلي او تر دې وروسته به هم په دې خوند سره سندرې ونه شي ویلای. ګراف ایلیا اندرېویچ له خپلې کوټې نه چې له میتینکا سره په خبرو لګیا و، د هغې آواز اورېده، هغه، هغه زده کوونکي ته ورته و، چې د زده کړو له پای ته رسېدو نه مخکې لوبو ته د تګ تکل لري. په خبرو کې غلطېده، ژر ژر یې چوپړانو ته سپارښتنې ورکړې او په پای کې چوپ پاتې شو. میتینکا هم پټه خوله، سندرې ته غوږ او موسکا پرشونډو د ګراف مخې ته ولاړ و. نیکولای له خپلې خوره سترګې نه لرې کولې، داسې چې د هغې له سا سره یې یو ځای سا ویسته. سونیا چې آواز ته غوږ غوږ و، په زړه کې یې ویلې، چې ددې او ملګري ترمنځ یې تو پیر ځمکه او آسمان دی او دا به ناشونې وي چې لږ ترلږه د هغه خوږوالي ته هم ورته شي. زړه ګرافینه نیکمرغه، خو یوه غم لړلې موسکا یې پرشونډو او اوښکې په سترګو کې رانښکاره وې. کله ناکله به یې سرښوراوه. هغې د ناتاشې، د خپلې ځوانۍ او د یوې وحشتناک شي په اړه چې د ناتاشې او سردار اندرې په راتلونکې واده کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیده، فکر کاوه. دیملر د ګرافینې تر څنګه کېناست، سترګې یې پټې کړې او سندرې ته غوږ شو. هغه تر یوه ځنډه وروسته وویل:

- نه، ګرافینې! د هغې استعداد او هنر د اروپایانو په کچه دي، نورنو داسې څه پاتې نه دي، چې د هغې زده نه وي، د مهربانۍ، نرموالي، تاندتوب او د آواز....

ګرافینه پرته له هغه چې کوم ټاکلي چا ته ووایي، وویل:

- اخ! تصور کوئ، چې څنګه ډاربږم، څنګه مې د هغې ژوند زوروي.

د هغې مورنۍ زړه ویل چې په ناتاشا کې یو ستر ناڅرګند څه نغښتي دي، چې همدغه څه د هغې د نیکمرغۍ خنډ دي. ناتاشا لا سندره پای ته رسولې نه وه چې څلورلس کلن پېتیا کوټې ته رامنډه کړل او ناري یې کړې چې: رمضانیان! (هغه کسان دي چې د روژې ترپنځلسمې وروسته ځانګړي جامې اغوندي او د ماخوستن له خوا په کورونو ګرځي، دغه کسان په روسیه کې د نوي عیسوي کال په شپو کې دې ته ورته کار کوي) راغلل.

ناتاشې ناڅاپه سندره بس او پر ورور یې ورچغه کړه:

- احمقه!

هغې د څوکۍ پلو ورمنډه، پرهغې ځان وروارتېږه او له ژړا نه تکه شنه شوه. خو مور ته یې په خندا خندا وویل:

- هېڅ، هېڅ، مورجانې هېڅ نه شته، یوازې پېتیا زه وډاره کړم. هغه غړېده او پر لیمو یې اوښکې رارواني وې. ستونی یې ساندو پسې اخېستی و.

دغې لوبغاړې ډلې چې په بېلابېلو کالو او سینګارونو یې له ځانه مېږ، ترُکان، بقال، ملنګ، ارباب یا کوم ځناور جوړ کړی و، په مستې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا کورته رانړوتل. له هغوی سره سره خو له خوښۍ نه ډکه هوا هم کورته راتله. هغو لومړی لږ په احتیاط د هلیز کې یو بل رانیول، نندارې یې ښودلې، بیا تالار ته ورشېوه شول او کرار کرار یې مستي زیاتېده، نڅاوې یې ښکلې کېدې او سندرې یې ویلې، خورا ښه چورلېدل، پښې یې ګډولې او لاسونه یې غورځول او د حضرت عیسی د زوکړې په ویاړ نندارې ښودلې. وروسته له هغه چې مشرې ګرافینې د دغو کسانو یو تن وپیژاند او د هغه د کالو او سینګار نه په خندا شوه، د هرکلو کوټې ته لاړه. ایلیا اندرېویچ په واړه تالار کې کېناست او په موسکا موسکا یې په ځلېدونکې څېرې د دغو نندارچیانو ستاینې او نندارې ته دوام ورکړ. خو په دې مینځ کې د هیچا پام نه شو، چې د کور ځوانان څه شول. د دغې نندارې د دوام نه نیم ساعت وروسته، د لوبغاړو په ډله کې یوه نوې زړه بوډۍ چې ځانګړې جامې یې اغوستې وې، راپیدا شوه (دا نیکولای و) پېتیا له ځانه ترکي پېغله جوړه کړې وه. دیملر د بدې ښځې ونډه لرله او ناتاشا د سواره پوځ د یوه پوځي په توګه کالي اغوستي و، سونیا بیا د ګڼو بریتو او وروځو په رسمولو ځان نه چرکیسي (د روسیې یو قام دی) ځوان جوړ کړی و.

لومړۍ ډله، د دویمې په لیدو هک حیران شول. د هغو په ستاینو او پالنې یې پیل وکړ. ځوانانو هم د خپلو کالو او څېرو بدلون داسې خوښ شو، چې تکل یې وکړ، چې لاړ شي او نورو خلکو ته یې هم وروښيي.

نیکولای چې ښه هوا او ښایسته لاره یې خوښ شوي وو، غوښتل یې ټول دغه خلک په خپله درې کسیزه ګاډۍ کې چکر ته بوزي، نو ځکه یې له هغو لسو تنو لوبغاړو نه هیله وکړه چې په هماغه بدلو جامو کې له ده سره د کاکا جان کره لاړ شي. مشرې ګرافینې وویل:

- نه، نه څه کوئ، ولې هغه سپین ږیری په عذابوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله خبره دا ده چې د هغه په کور کې ستاسو د چورلیدو لپاره ځای نه شته، ښه به دا وي چې د ملیوکووا، کره ورشئ.
ملیوکوا، یوه کونډه وه چې د بېلابېل عمر ډېر ماشومان، نارینه او ښځینه ښوونکې یې لرل او د رستوف له کورنۍ نه څلور ورسته په لرې واټن کې یې ژوند کاوه.
مشر ګراف چې له خوشالۍ نه په نڅا راغلی و، د ګرافینې دا خبره خورا غوره وګڼله او وې ویل:
- واه واه! زما ګرانې! خورا ښه فکر دې وکړ. ګورئ! صبر وکړئ، راکړئ، نورې جامې راکړئ چې ځان جوړ کړم او له تاسو سره لاړ شم او (ملیوکووا) له خوبه بې برخه کړم.
خو مشرې ګرافینې د ګراف له تګ سره مخالفت وښود او وې ویل چې څو ورځې کېږي چې د هغه پښې خوږېږي. نو ځکه پریکړه وشوه چې ایلیا اندرېوویچ په کور کې پاتې شي، خو نجونې به هغه وخت ځي چې لویزا ایوانوفا له هغو سره لاړه شي. سونیا چې تل د ټولو په منځ کې با حیا وه، په دې زیات ټینګار کاوه، چې لویزا ایوانوفنا دې، له دوی سره لاړه شي...
دوه ګاډي خو تل تیارې ولاړې وې او درېیمه هغه هم د ګراف و... او څلورمه هم د نیکولای ګاډی و، د هغې ګاډی آس تور، لنډ ونی، او وږد ځنې و... له هغه سره په ګاډي کې ناتاشا، سونیا، میرمین شوس او دوه چوپړان ناست وو. د مشر ګراف په ګاډي کې دیملر، د هغه ښځه او پېتیا او په درونورو ګاډیو کې چوپړان، چې بدلې جامې اغوستې وې، ناست وو.
نیکولای د پلار په ګاډیوان غږ وکړ: زا خاره ته مخکې شه! هغه یې ددې لپاره مخې ته ولېږه چې د اړتیا په وخت کې ده ته د مخکې کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره ورکړي.

د مشر ګراف ګاډۍ چې ډيملر او څو نور ممثلين په کې ناست وو، وخوځېدل او د آسونو د غاړو زنګونو... د هغو سمونو چې په واورو کې ښنېدل، يو عجب شغاري جوړاوه...

نيکولای تر ټولو دمخه او بيا هغو پسې دوه نورې ګاډۍ يو په بل پسې روانې وې. دغه کاروان ګوټۍ، لومړۍ په نرۍ لاره کرار کرار لاړ. تر يوه وخته د باغ د ديوال خواته خوځېدل. په لارې د بربنډو ونو سيوري کربنې ابستلې وې... خو همدا چې د باغ له ديوالو نه تېر شول، دښتې ته ورسېدل. له واورو ډکه دښته يې د سپوږمۍ د رڼا په څپو کې ډوبه وليده... هغه داسې برېښېده چې تا به ويل د الماس دانې دي پرې شيندلې دي... په دې سړه هوا کې د ناتاشې غږ پورته شو چې ويل يې:

- د سويانو د پلونو نښې ګورئ؟ سويان څومره ډېر دي!

سونيا هم نارې کړې:

- د ښو پلونه له ورايه ښکاري، نيکولايه! نيکولای مخ واړاوه، سونيا ته ورخم شو، چې له نېږدې نه د هغې څېره وګوري. يوه نوې مهربانه څېره، تورې وروځې او نرې تور بريت چې د سپوږمۍ په رڼا کې، په خورا لږ، خو لرې واټن کې د سموري د خولۍ له مينځه راځلېدل.

نيکولای سونيا ته تر کتنې وروسته په زړه کې وويل:

- دا څېره تر دې نه مخکې، د سونيا څېره وه. هغه وروړاندې شو، د هغې سترګو ته لا ځير شو او وې خندل.

- نيکولايه، څه شوي دي؟

- هېڅ، هېڅ نه دي شوي. بېرته يې مخ ترې واړاوه او د آسونو به ننداره شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په چغو شو او هڅه يې وکړه چې د زاخارتر ګاډۍ نه مخکې شي.

زاخار د خپل آس قيضه لږ ټينګه غونډې کړه، خپل سر يې چې تر وروځو پورې له واورو او يخ نه پوښل شوی و ورواړاوه.

نيکولای خپل آسونه لاپسې يرغه کړل، او زاخار خپل قيضه، نيکولای مخکې شو او ده پسې يې ځان برابر کړ او وويل:

- ښه اربابه! خوښه دې، چې هر څه کوئ!

دوه ګاډۍ، له هر وخت نه په چټکۍ لکه باد داسې ځنګ په ځنګ، الوتلې... نيکولای له سيال نه مخکې کېدونکی و. زاخار بې له هغه چې د خپلو لاسونه حالت بدل کړي، يو لاس افسار ته ورپورته کړ او چغه يې کړل:

- اربابه، هسې ځان په عذابوې.

نيکولای خپل درې واړه آسونه يرغه او وړاندې لاړ... يو وخت، نيکولای بېرته خپل آسونه ودرول، شاوخوا يې وکتل، هرې خواته کوډې کړل شوې دښته وه، چې د سپوږمۍ د پلوشو په سيند کې ډوبه او د ستورو ګرد پرې لوېدلی و.

نيکولای په زړه کې ويل:

- زاخار نارې وهي چې چپې خواته، چپې خواته لاړ شي، ولې چپې خواته؟ مګر موږ د مليوکووا کورته نه ځو؟ ايا د مليوکووا د کور لاره ده؟ خدای خپله ښه پوهېږي چې موږ چېرته ځو؟ او يوازې خدای پوهېږي چې پر موږ به څه راشي، هر هغه چې پر موږ راځي هم ښه دي، هم بد او بيرته يې خپلو سورلۍ ته مخ ورواړاوه او هغو ته يې وکتل. د هغو کسانو له ډلې نه چې د ده په ګاډۍ کې ناست و، د ده تر نظر يو تن پردی خو ښکلی وبريښېده. هغه، بريتور و او ښکلې ګڼې وروځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړلې، ده وویل:

- هم یې بریت او هم یې ټول بانه ټول له واورو سپین شوي دي.

نیکولای په زړه کې وویل: داسې برېښي چې دا ناتاشا وه. هغه بله هم که تېروتلی نه یم کېدای شي مېرمن شوس وي، خو دغه بل څوک چې له ځان نه یې چرکس جوړ کړی، ځانته یې بریتونه یې رسم کړي، نه پېژنم، خو هر څوک چې دی، په ما ښه لګي.

هغه یې وپوښتل:

- ساړه خو به مو نه کېږي؟

ځواب یې ورنه کړ، خو یوازې یې وخندل. دیملر چې شاته په بله ګاډۍ کې ناست و چغې وهلې او څه یې ویل، کېدای شي کومه ټوکه یې ویله، خو نه پوهېدل کېده، چې څه وایي.

خو یو څو له خندا نه ډکو غږونو ورته وویل:

- هوکې، هوکې. دا کوډګر ځنګلونه او د هغو نڅاګر سیوري، پر هغو ځړوند الماسي غمي، دا لړۍ په لړو مرمرینې زینې او بامونه، دا له کوډو ډکې ودانۍ او د چنارو دغه ډارونکي او غوږ زورونکي آوازونه چې هېڅ ښکاره نه و څه دي او له کومې راځي. نیکولای له له ځانسره وویل:

- که دغه د ملیوکووا مېنه ده، خورا زړه راښکوونکې او تر ځنګلو نه هم کوډګره ده، داسې زړه راښکوونکې چې موږ یې هم نه پېژنو او نه پوهېدو چې چېرې روان یو، روان وو، روان و، او ناڅاپه مو کاروانګوټې د ملیوکووا مېنې ته ورسېد.

او په ریښتیا هم هغه د ملیوکووا مېنه وه. یوې ډلې ښځو او نارینه مینځو او چوپړانو شمعه په لاس او خوشالۍ د دوی هرکلي ته رامنډې کړې او وې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تاسو څوک یاستئ؟

یو چا غبږ کړل: د ګراف کورنۍ ده، چې په بدلو جامو کې یې له ځانه پېښنګر جوړ کړي دي، ما هغوی د هغو له آسونو نه وپېژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

پلاګیا دانیلوفنا ملیوکووا یوه ثوربه ارقوي ښځه وه، عینکې یې اېښې وې، پراخ کمیس یې اغوستی و او د خپلو لوڼو په مینځ کې چې سخته ترې په تنګ شوې وه، په مېلمستون کې ناسته وه. هغې هڅه کوله چې د لوڼو ساعت یې ورتېر کړي. کله چې د راغلو کسانو د پښو غږونه او شروشور په دهلیز کې واورېدل شو، هغوی لا په کراره شمعونه ویلول او د هغو له څاڅکو نه یې جوړو شویو انځورونو ته کتل او په هغو کې یې خپل فالونه لیدل.

دغه نوې راغلې ډله، چې چا له ځانه سواره پوځیان، چا اغلې مېرمنې، چا کوډګر او کوډګرې یا هم ځناور او داسې نور جوړ کړي وو، هغه لوی تالار ته چې هلته چوپړانو په بېړۍ شمعې لګولې وې ورننوتله. دیملر له نیکولای سره چې له ځانه یې بوډۍ جوړه کړې په نځا شو. له دغو راغلو پېښګرو نه چې خپل مخونه یې پټ کړي او جامې بدلې کړې وې، ماشومان چاپیر شوي وو، شروشور یې جوړ کړی و او د کور مېرمن ته تر درناوي او چورلیدو نه وروسته تالار ته وخوځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وا خدایه، پېژندل یې څومره گران دي؟ دا خو ناتاشا ده، ته گوره چې ځان یې څه جوړ کړی دی؟ کوم څوک رایادوی. او دې ادوارد کارلېوویچ ته گوره چې څومره ښه ښکاري! ما ونه پېژاند، چې څومره ښه ناځي! او، پلار جانه! هغه چرکس گوره، دې سونیا جانې ځان څومره ښه او ښکلی جوړ کړی دی. او دا بل بیا څوک دی؟ یاره چې څه خوند یې وکړ! نیکیتا، وانیا دا میزونه راټول کړئ.

له بله پلو غږونه راپورته شول: ها، ها، ها

- د سواره پوځ افسر ته گورئ... هوکې... کوم هلک دی... زه ښه نه وینم... هغو پښو ته یې گوره، له خندا یې بډوډي چوي...

ناتاشا چې د ملیوکووا د کورنۍ ځوانانو ته هم په زړه پورې وه، له هغو سره یو ځای د تالار د شا کوټې کې پټه او له هغه ځایه یې د نارینه کالیو او نوروشیانو غوښتنه وکړه. د نیمه چولې دروازې نه، د نجونو بربنډ لاسونه را اوږدېدل او د نارینو غوښتل شوې جامې یې غوښتې. لس دقیقې وروسته د ملیوکوف د کورنۍ ټول ځوانان د دغو پېښگرو په شان جامې اغوستې وې.

پلاگییا دانیلوفنا وروسته له هغه چې د تالار د منځ د تشولو او د نویو رارسېدلو اربابانو او د هغو د چوپړانو د تاوده هرکلي سپارښتنه وکړه، هماغه شان چې عینک یې پر سترگو او موسکا یې پرشونډو وه، د دغو پېښگرو په منځ کې گرځېده راگرځېده. هر یو ته به یې په ځیر ځیر کتل، خو یوه یې هم پوره پېژندلی نه شو. هغه نه یوازې د رستوف د کورنۍ ځوانان او پېغلې او دیملر ونه پېژندل، بلکې خپلې لونې یې چې د نارینو کالي او دریشۍ یې اغوستې وې، ونه پېژندل.

هغې خپلې یوې لور ته چې د تاتاري کازانو کالي یې اغوستې او د هغو پېښې یې کولې، وکتل، هغې ته ځیر شو او بیایې د خپلې کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوې روزونکې نه و پوښتل:

- دا لا پسې د چا لور ده، هو، دا سې برېښي چې د رستوف له خټې به وي، بیا یې ناتاشې ته ورو مخه واړوله او وې پوښتل:

- او تاسو د سواره پوځ افسره ! په کوم پوځ کې خدمت کوئ؟...

یو ساعت وروسته جامې ټولې خېرنې او ګونځې ګونځې شوې، له مالوچو او رسمونو نه جوړ شوي بیریتونه او رېبرې ولوېدې او پلاګیا دانیلوفنا کرار کرار ټول وپېژندل... له هغو نه یې له دې کبله ډېره مننه وکړه چې د ټول وخت او ساعت یې تېر کړی دی. هغو په لوی تالار کې اربابانو او په واړه کې د هغو چوپړانو ته ډوډۍ جوړه کړه.

تر ماښامنۍ نه وروسته، د ملیوکووا په کورنۍ کې یوې میشتې زړې نجلۍ وویل:

- د حمام فال به مو نه وي کتلی؟ ډېر وحشتناکه دی.

د ملیوکووا یوې لور وپوښتل:

-څنګه وحشتناکه دی؟

- څه وایئ، تیاره حمام ته ورتګ څه آسانه کار نه دی، زړورتیا غواړي.

سونیا غږ کړل: څه شي دي؟ زه ورځم.

د ملیوکووا دویمې لور غږ کړ:

-د هغې نجلي کیسه وکړئ چې حمام ته ننوتې وه.

زړې نجلۍ کیسه پیل کړه: هو کې، نه و نه و د خدای کړه وه، یوه نجلۍ حمام ته یوازې ننوته، یو چرګ او دوه چرې یې هم له ځانسره واخېستل، هغه څنګه چې ښایي لاړه، ننوتله او سترګه په لارې کیناستله، چې یو ناڅاپه یې واورېدل، چې څوک راروان دي، د ګاډۍ د زنګونو او راتګ غږ یې تر غوږه شو، چې رانېږدې کېږي. څوک ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلي شول. ددې خوا ته راغي او راغي، چې ګوري يو انسان دی، لکه يو پوځي، راغي او ددې تر څنګه کېناست.

ناتاشا چې له وېرې يې سترګې وتلې وې، چغه کړل:

- وای وای، خدای دې انسان ترې ساتي.

- ښه، وايه نو، بيا يې نو څه وکړل؟ له نجلۍ سره وغږېد؟

- هو کې، هغه د يو انسان په توګه، هوکې هغه شان چې له يوه انسان سره ښايي، هغه هڅه وکړه چې هغه نجلۍ قانع کړي، نجلۍ هم بايد له هغه سره غږېدلې وای. د هغه پام يې خپلو خبرو ته رااړولې وای. هغه يې بايد تر سهاره، تر چرګ بانګه په خبرو بوخت کړی وای. خو نجلۍ شرمېده، حيا يې کوله، نو ځکه يې مخ په لاسونو پټ کړ. خو هغه پر هغې ورودانګل، مګر له نيکمرغه، د نجلۍ بخت بېداره و او په دې وخت کې نورې نجونې راورسېدې...

پلاګييا دانيلوفنا وويل:

- نو څه کوئ، ولې دې ډاروله؟

يو نجلۍ وويل: مورجانې، خو تا خپله فال ليده کنه؟

سونيا وويل: دغه د ګدام نومې فال يې لا ښه وي؟

- هغه داسې دی، چې ګدام ته ځې، هلته فال نيسې، که د اخ او ډب غږ اورې، دا بد فال دی، که د غنمو د ميچين غږ راشي، دا نيکمرغي ده، خو کله ناکله داسې هم کېږي چې...

- مورجانې، ښه به دا وي چې ووايئ له تا سره په ګدام کې څه پېښ شول؟

پلاګييا دانيلوفنا وموسېده او وې ويل: ورکه وه يې، زما هېر شوي دي، څه ګټه چې ووايم، ستاسو نه خو يو هم هلته نه ځي.

سونيا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې نه، زه ځم، پلاګييا دانيلوفنا ، اجازه راکړئ، زه ځم.
- ښه ده ، که نه ډاريږې ورځه !
سونيا وپوښتل: لوييزا ايوانوفنا ! ما ته اجازه راکوئ، چې لاړ شم؟
نيکولای څه د لوبو ، څه د قطعي بازۍ او څه د وروستيو خبرو په اوږدو کې، ټوله موده په پرله پسې او ځير سونيا څارله، هغه يې يوازې نه پرېښوده او هغې ته يې په څه نوي نظر کتل. داسې بريښېده چې د همدې انځورشويو بريتونو له برکته يې د لومړي ځل لپاره ليدلې او پېژندلې ده. او په رښتيا چې سونيا دغه ماښام، په بې ساري ډول خوشاله، غوړېدلې، تانده او داسې ښکلې شوې وه، چې نيکولای هېڅکله داسې نه وه ليدلې.
نيکولای چې د هغې ځلېدونکو نيکمرغو سترګو ، د هغې د بريتو په پای کې د غومبور غوچوړو ، خوږې مالګينې موسکا ، ته چې په عمر کې يې داسې نه و ليدلې، کتل، له ځانسره ويل:
- دغې ته وايئ ښکلا ! زه احمق وم احمق !
سونيا وويل:
- زه له هېڅ شي نه، نه ډارېږم. زه کولای شم، همدا اوس لاړه شم.
هغه پاڅېده ، هغې ته يې د ګدام لاره وروښودله او ورته وې ويل چې څنګه بايد چو په خوله ، او غوږ غوږ وي،هغې ته يې پوستين ورکړ. پوستين يې پر سر واچاوه او يو خوږ غلچک يې نيکولای ته وروليږه.
نيکولای په زړه کې وويل:
- دا پېغلوټې څه ښکلې، زړه راښکوونکې او مالګينه ده، نه پوهېږم چې تر اوسه ما چېرته کتل.
سونيا دهليز ته ووته او د ګدام پلو وخوځېدله. نيکولای هم په دې پلمه چې د کوټې هوا خورا توده ده، په تلوار سره د ودانۍ د زينو سر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورووت. په رښتيا هم په کوټه کې د ګڼه ګوڼې له امله هوا توده او تنګه شوې وه.

بهر هماغه سړه، بې وږمې هوا او ځلېدونکې سپوږمۍ چې تر پخوانه لا رڼه شوې وه، ځلېدله... که څه هم آسمان غمجن او خواشيني و، مګر ځمکه له ښاديو ډکه وه.

نيکولای په زړه کې ويل:

-څه ساده او احمقه وم! آه، آه، څه احمقه! هېڅ نه پوهېږم چې تر ننه پورې څه ته سترګه په لاره وم. پر زينو ورشېوه شو، د ودانۍ له څنډې وچورليده او هماغه نرۍ لاره يې ونيوله چې د ودانۍ شاته رسېده. پوهېده چې سونيا به له هماغه ځايه تېرېږي... دغه نرۍ لاره ګدام ته ورغځېدلې وه. د ګدام ديوالونه د غټو ونو له لرګيو جوړ شوي وو، بام يې له واورو ډک او د سپوږمۍ تر رڼا لاندې داسې ځلېده چې ګواکې له کومې قيمتي تېږې نه تراشل شوی وي. د کومې ونې د شاخونو شغهاري واورېدل شو، خو هرڅه ژر بيرته په چوپتيا کې ډوب شول. انسان داسې انګېرله چې د سا په وخت کې نه هوا، بلکې د ځوانۍ مسته او ابدي مستي، ګوګل ته ورلېږي. د ودانۍ د شا له زينو نه چې په ځانګړې توګه د چوپړانو د تګ راتګ لپاره ځانګړې شوې وه، د ګامونو غږ واورېدل شو. د زينې پر وروستي پلې چې واوره هم پرې کوټه شوې وه، د هماغې زړې مينځې پېغلې غږ واورېدل شو، هغې ويل:

- همدا نرۍ لاره به نيسئ، مخامخ به ځئ، خو يوازينی کار چې کوئ، ګوره شا و خوا يا څنګ ته به نه ګورئ.

سونيا ځواب ورکړ:

-زه نه ډارېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ښکلو موزو کې يې ورو نازکو پښو، پر واورې قدمونه کېښودل.له هر ګام سره واورې شغاري کاوه او سونيا په نرۍ لاره د نيکولای خوا ته ور روانه وه.

سونيا په پوستين کې ځان ښه ومروړه او مخې ته روانه وه. تر نيکولايه رسېدو پورې لا دوه ګامه لاره پاتې وه، چې وې ليده. هغې هم نيکولای هغه شان چې دې به تل ليده او د هغه په ليدو به يې زړه درزېده ونه ليد. هغه ښځينه کالي اغوستي و، ويښته يې جړ او پريښانه وو، خو د خوښۍ موسکا يې پر شونډو خوره وه. داسې يوه موسکا چې د سونيا لپاره چور نوې وه. په چټکۍ د هغه خوا ته ورغله.

نيکولای د هغې څېرې ته چې د سپوږمۍ تر شغلو لاندې ځلېدله، ځير و او په زړه کې يې ويل:

- سره له هغه چې چوره بدله شوې ده، خو بيا هم هماغه سونيا ده. لاسونه يې تر هغه کوټ لاندې چې سونيا اغوستی و، ورننيستل، هغه يې ځانته راوړاندې کېښکودله او شونډې يې چې پرسکرو يې بريت پرې انځور کړي او د سوي لرګي بوی يې کاوه ښکل کړې. سونيا چې د هغه شونډې زبېښلې، د هغه لاسونه يې ورخوشې کړل او په دواړه لاسونه يې له دواړو خوا و نه، د هغه غومبورې راونيول. هغوی دواړه يو ازې دومره وويل:

-سونيا... نيکولای... د ګدام خوا ته يې منډې کړې او بيا هر يو جلا د هغو زينو له لارې چې وتلي وو، بېرته راستانه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

کله چې ټول د پلاګیيا دانیلوفنا له کوره ووتـل، ناتاشا چې هر څه ښـه څارلي او لیـدلي و ،د ستنبدو کـار یـې داسې جوړ کړ چې لـوییزا ایوانوفنا ، دیملر او دا په یو ګاډي کې کېنا ستل او سـونیا ، چوپړان او نیکولای په بله ګاډي کې سره د ېره شول.

نیکولای د ستنبدو پـه لاره کـې، نـور ددې پـه خیـال کـې نـه و ، چـې ګاډی له کومې ګاډي نه مخکې یا څنګ ته کړي، هغه آسونه یرغه او په چټکۍ روان و. په ټوله لاره کې یې د سپوږمۍ تر رڼايي لاندې د سـونیا په سترګو سترګې خښې کړې وې. د سپوږمۍ تر دغـې کـوډ ګرې رڼـايي لاندې، چې هر څه یې تر پخوا نه ښکلي ځلول، د سـونیا پـه بشـره کـې د انځور شویو وروځو او تربڼو لانـدې خپلـه نننۍ مینـه او پرونـۍ سـونیا بیا موندله او پریکړه یې کړې وه ، چې بیـا هېڅکلـه لـه هغـې نـه جلا نـه شي. په ځیر سره یې هغې ته کتل او دواړه سونیاګانې یې بیـا پېژنـدلې وې. هغه ته د سوي لرګي له بوی سره ، د ګډې شوې مچې خوند وریاد او د ګوګل په تل کې یې د سړې هوا سا وویستـه. همـدا چـې تـر خپلـو پښـو لاندې یې تېرېدونکې ځمکې او پر خپل سر پراخ شوي آسمان تـه کتـل، ځان یې بیا د کوډ ګر طبیعت په غېږه کې لیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله ناکله به يې له سونيا نه وپوښتل:

- سونيا خوشاله يې؟

او سونيا به ځواب ورکاوه: هو کې او ته څنګه؟

د لارې په نيمايي کې يې د ګاډي جلو ګاډيوان ته ورکړ او خپله يې د يو څو شېبو لپاره د ناتاشا دوی ګاډي ته ورمنډه کړل، د هغوی د ګاډي په رکاب ودرېد او په فرانسوي ژبه يې په پټه د ناتاشې په غوږ کې وويل:

- د سونيا په اړه مې پريکړه وکړه.

ناتاشا ناڅاپه له خوشالۍ نه تکه سره شوه او وې پوښتل:

- تا هغې ته وويل؟

- هی، هی چې ته له بريتو او له بڼو سره څومره ښکلې شوې يې، ګوره ناتاشا ! ته خوشاله شوې؟

- زه داسې خوشاله، داسې خوشاله چې مه پوښته، زه نور نو له تا نه خفه وم، ته له هغې سره څومره بې رحمه وې. ستا زړه نه و، تېره و تېره. اوس ډېره خوشاله يم.

ناتاشا تر لږ شېبې ځنډه وروسته دوام ورکړ:

- ما نه هم کله ناکله احمقه جوړېږي، خوزه له دې شرمېدم چې له سونيا پرته، زه نيکمرغه واوسم. ورځه، ورځه ورمنډه کړه، هغې ته ورشه.

نيکولای هغې ته وويل:

- نه، نه، ته صبر وکړه، چې ته څومره د خندا وړ يې.

هغه چې هغې ته کتل په خپله خور کې يې هم يو څه نوي، غير معمولي، خورا مهربان او تازه، داسې چې پخوا تر هغه يې نه وو ليدلي، ليدل. هغه زياته کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ناتاشا لېونۍ شوې یې که څنګه؟

ناتاشا ځواب ورکړ:

- هو، خو تا ډېر ښه کار وکړ.

د نیکولای په زړه کې تېره شوه:

- که مې پخوا دغه شان چې نن شپه ده، هغه لیدلی وای، ما به هرومرو له پخوا پوښتلي وای، چې باید څه وکړم او ټول هغه څه به مې چې هغې ته ویلي وای، هغه به مې کړي وای او هر څه به ښه وای.

- ښه نو، ته خوشاله یې او ښه کار مې کړی دی؟

- اخ نه شم ویلی چې څومره ښه کار دې کړی دی، څو موده د مخه مې، له مور سره په همدې نانداریۍ شوې. مورجانې ویل چې سونیا غواړي تا خپل اسیر کړي، زه په دې نه پوهېږم چې څنګه څوک کولای شي داسې ووایي. نېږدې و چې له مور سره په دې خبره لاس او ګریوان شو، زه به هېڅکله، هېڅ چا ته اجازه ورنه کړم، چې د هغه په اړه بد فکر وکړي، ځکه په هغې کې له ښېګڼو پرته بل څه نه شته.

نیکولای وویل:

- ښه نو، نو ښه کار مې وکړ؟

او بیا ددې لپاره د خپلې خور سترګو او بشرې ته ځیر شه، چې پوه شي، چې رښتیا هغه رښتیا وایي. بیا یې د هغې له ګاډۍ نه ودانګل او د خپلې ګاډۍ پلو ته یې ورمنډه کړل. موزو یې د واورو شغهاري پورته کړ. هلته هماغه نیکمرغه چرکس (سونیا په چرکسي جامو کې) هماغه موسکا، بریتور، ځلېدونکې سترګې، په پوستین کې مروړلې. هماغه شان ناست و او ده ته یې کتل. او دا چرکس سونیا وه. کېدای شوه چې سونیا د ده راتلونکې، ګرانه او نیکمرغه ښځه وه.

کله چې کورته ورسېدل، نجونو مشرې ګرافینې ته، د ملیوکووا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور کې د تېرشويو پېښو کيسې وکړې او بيا خپلې کوټې ته لاړې، جامې يې بدلې کړې او پرته له هغه چې پر خپلو ځېرو انځور شوي، انځورونه پاک کړي، تر ډېرو پورې يې د زړه خوالې او د زړه خوږو او خپلو نيکمرغو کيسو ته دوام ورکړ، هغوی په دې اړه چې څنګه به ودونه کوي، څنګه به د هغو مېړونوله يو بل سره ملګرتيا لري او دوی به څنګه نيکمرغې وې، وغږېدلې. او هغه هينداري چې لا له پرونه د ناتاشا لپاره چمتو کړې ،دهغې پر ميز ولاړې وې.

ناتاشا پاځېده او هينداري ته د ورنږدې کېدو په لړ کې يې وويل:

- يوازې خدای په دې پوهېږي، چې دا به کله وي؟ خو زه ډارېږم چې هېڅکله... ځکه هغه به خورا ښه او خوږه وي.

سونيا وويل: کېنه ! کېدای شي هغه ووينې ! ناتاشا شمعې ولګولې او کېناسته. ناتاشا چې خپله ځېره په هينداره کې ليده وې ويل:

- له يو بريتوره پرته بل څوک نه وينم.

هغې وويل:

- اغلې ! خاندې به نه، دا د خندا وړ خبره نه ده.

ناتاشا د سونيا او چوپړانو په مرسته هينداره داسې برابره کړه چې دې ته جوړه وې، کله چې له دې چارې نه وزګاره شوه، ځېرې ته يې برنده بڼه ورکړه، چوپه شوه او تر ډېرې پورې کېناسته او په هينداري کې د شمعونو منظمه کتار ته ځير، په دې هيله ځيروه چې ( د اورېدلو له مخې به ) دا کوم تابوت ووينې او يا به د هينداري په وروستي تياره او موهومه څلورکنجه کې سردار اندرې راښکاره شي. خو سره له هغه چې هغه دې ته سترګې په لاره او چمتو وه چې آن په هينداره کې کوم يو راښکارېدونکی داغ د سړي يا د کوم تابوت په توګه وګڼي. هېڅ شي يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لیدل. هغه و چې د هغې سترګې په رپېدو شوې، د هینداري له مخې پاڅېده او له هغو نه لرې شوه.

هغې وویل:

- دا څنګه کېدای شي، چې نور یې ویني او زه یې لیدای نه شم. ښه، نو ته راشه سونیا، راشه کښېنه! نن شپه به هرومرو کښېنئ او په هینداره کې به ښوک ووینئ... ګوره زما په خاطر!... زه نن شپه ډېره ډارېږم...

سونیا د هینداري په وړاندې کښېناسته، ځان یې برابر کړ او هغې ته په کتو شوه.

دوېناشا، په بنګهار سره، د ناتاشې په غوږ کې وویل:

- ښه، اوس به سونیا الکساندروفنا هرومرو ووینئ، خو تاسو ټول خاندئ.

سونیا دا خبره واورېده او دا یې هم واورېدل، چې ناتاشا په کراره او بنګهاري وویل:

- زه خپله پوهېږم چې هغه یې وینئ، پروسږکال یې هم لیدلی و.

دوه درې دقیقې ټول چوپ پاتې شول، بیا ناتاشې په کراره وویل:

- هرومرو یې وینئ! خو خپله خبره یې پای ته ونه رسوله، ځکه سونیا ناڅاپه، هغه هینداره چې لاس کې نیولې و، لرې له ځانه لرې، لاسونه یې پر سترګو کېښودل او وې ویل:

- آه، ناتاشا؟...

ناتاشا هینداره بېرته واخېسته، خپل ځای ته یې راوسته، او چغه یې کړه:

- ودې لیدل؟ ودې لیدل؟ ودې لیدل؟

دونیاشا چې هینداره نیولې وه وویل:

- ما خو ویل، ما خو ویل....

(c) ketabton.com: The Digital Library



سونيا هېڅ شي نه و ليدلي. هغې غوښتل چې سترګې ورپوي او پاڅې چې د ناتاشې غږ يې واورېد ، چې وويل:

- هرومرو !...

هغې نه غوښتل ناتاشا او دونيا شا تېر باسي، نور ورته ګرانه و د هينداري مخې ته کيني. هغه خپله هم په دې نه پوهېده، چې ولې او د څه له کبله يې هغه وخت چې سترګې په لاسونو پټې کړې وې، چغه کړې وه؟

ناتاشا د هغې لاس راونيو او وې پوښتل:

- هغه دې وليد ؟

د سونيا په خيالونو کې دا خيال راتاو شو.

- اوس نه ولې ونه وايم، چې ليدلی مې دی؟ ګوره نور خو يې هم وينئ. ځوک کولې شي په دې پوه شي چې ما په رښتيا ځوک ليدلي او که مې نه دې ليدلي؟

هغې وويل: هو کې ومې ليدل.

- څنګه؟ څنګه؟ ولاړ و که پروت و ؟

- نه، نه، ما وليدل، لومړی هېڅ نه و ، بيا مې وليد چې پروت و.

ناتاشا چې سترګې وحشت پسې اخېستې وې، خپلې خورلنډې ته کتل او له هغې نه يې وپوښتل:

- اندرې پروت دی؟ ناروغ دی؟

-نه، نه، برعکس، خورا خوښ او خوشاله و. هغه هم مخ ما ته راواړاوه او ما ته يې راوکتل.

په هغې شېبه کې چې سونيا دا خبرې کولې، دا سې يې انګېرله، چې په رښتيا يې هغه څه چې وايي، ليدلي دي.

- ښه سونيا بيا څه وشول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یو بل څه مې هم ولیدل، خو پوره مې سر پرې خلاص نه شو، پوه نه شوم، چې شین و که سور.

ناتاشا وویل:

-سونیا او کله به هغه راستون شئ؟ کله به بیا زه هغه ووینم؟ یا پاکه خدایه چې څنګه زه ډارېږم. هم پر هغه ډارېږم او هم په ځان.

هغې پرته له هغې چې د سونیا آرام بښوونکی تسل ته ځواب ورکړي، ځان یې پر کټ وارتېره، او وروسته له هغه یې چې شمعې مړې کړې، تر ډېره پورې یې، په پرانستو خو ناخوځېدونکو سترګو د سپوږمۍ هغو پلوشو ته چې د کړکۍ له یخ وهلې اینې نه، کوټې ته رالوېدلې وې، څیر پاتې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

تر اختره دېره لنډه موده وروسته نیکولای په ډاګه مورته وویل چې سونیا ورته ګرانه ده او ټینګه پریکړه یې کړې ده چې له هغې سره واده وکړي. ګرافینې چې له پخوا نه، د نیکولای او سونیا تر منځ تېرېدونکو پېښو ته پام شوی و، د هغه دغو خبرو ورته نوی والی نه درلود، هغې په چوپه خوله هغه واورېدې مګر زوی ته یې وویل چې، هغه کولای شي له هر هغه چا سره واده وکړي چې زړه یې غواړي، خو که له سونیا سره واده وکړي، نه به ددې چې مور ده او نه به د پلار خوښه او مبارکي ووینې.

دا لومړی ځل و چې نیکولای احساسوله چې مور یې داسې له ده نه، ناراضه او سره له هغې ټولې مینې چې له ده سره یې لري، له خپلې خبرې به وانه وړي. هغې په خورا بې پروایۍ او پرته له هغه چې زوی ته وګوري، څوک مېړه پسې واستول. کله چې ګراف راغی، هغې غوښتل چې د نیکولای تر مخې هر څه په ډاګه او په لنډه ووایي. خو زغم یې پای ته ورسېد، د خواشینۍ اوښکې یې له سترګو راشېوه او له کوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وو ته. زاړه ګراف په نرمه ژبه او شک هڅه وکړه خپل زوی قانع کړي، چې له خپلې دغې پریکړې تېر شي. نیکولای ځواب ورکړ، چې دی له خپلې وعدې نه تېرېدای نه شي. ګراف ددې خبرې په اورېدو یو سوړ اسویلی وویست، خپلې هڅې یې بې ګټې وګڼلې او خپلې مېرمنې پسې لاړ. ګراف له زوی سره په خپلو ټولو شخړو کې، دا نه هېروله، چې ددې ټولو ستونزو سرچینه د ده مالي ژوبلتیا ده، نو له دې کبله یې ځانته اجازه نه ورکوله له زوی نه په دې خفه شي، چې کومې بدایې نجلې پرځای له سونیا سره واده کول غواړي. پلار یوازې په دې کې چرت واهه، که د ده مالي دریځ ښه وای، تر سونیا نه د ده لپاره، بله ښه ناوې پیدا کېدای نه شوه. هغه د هر څه ګناه یوازې پر ځان او پر خپل مالي استازي، میتیکا او هغو عادتونو وراچوله چې پرېښودای یې نه شول.

پلار او مور، نور نو په دې اړه له زوی سره ونه غږېدل، خو څو ورځې وروسته مشرې ګرافینې سونیا ځانته وروبلله او په داسې ترخه ژبه چې نه دې او نه سونیا د هغې تصور کاوه، خپل خورځه له دې امله ملامته کړه چې نه یوازې یې ددوی زوی تېر ویستلی، بلکې ددې ټولې مرستې یې هم هېرې کړې دي. سونیا سرښکته اچولی و، په چوپه خوله یې د ګرافینې دا ترخې خبرې واورېدې او په دې نه پوهېده چې له هغه نه څه غواړي. هغه د هغو کسانو لپاره چې دا یې لویه کړې او ساتلې ده، د هر ډول ځانښندنې لپاره چمتو وه. د ځانښندنې حس په هغې کې تر بل هر حس نه پیاوړی و، خو په دغه پېښه کې نه پوهېده، چې څه د چا نه ځار کړي. هغې نه شو کولای د ګرافینې او د رستوف د کورنۍ د هر غړي په ګرانښت سترګې پټې کړي، خو نیکولای هم ورته ګران و او داسې یې انګېرله، چې ددې نیکمرغي له همدې مینې سره تړلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نغښتې ده. هغه چوپه خوله، غمجنه او بې ځوابه وه. نیکولای ته د اسې وبرېښېده چې نور د دغه حالت د زغم توان نه لري، د دې لپاره مور ته ورغي چې د زړه غوټه ورته پرانزي. کله به یې مور ته زارۍ کولې چې سونیا وبښي او له هغې سره د ده واده کول ومني، او کله به یې ګواښ کاوه، که دوی د سونیا له زورېدو نه لاس وانخلي، هغه به سمدلاسه له دوی نه په پټه له سونیا سره واده وکړي. خو مورو هغه ته په داسې سړه او ترخه ژبه، چې نیکولای، په ژوند کې له مور نه، نه و لیدلي، ځواب ورکړ او وې ویل چې دی، خورا ښه زلمی او زوی دی، دی هم د سردار اندرې په څېر کولای شي د پلار له خوښې پرته واده وکړي، خو دا (په خپله ګرافینه) به هېڅکله دغه دوکماره (سونیا) د خپلې لور او ناوې په نامه ونه پېژني. نیکولای د دوکمارې د کلمې په اورېدو نور نو ځان ټینګ نه شو کړای او په لوړ آواز یې وویل چې، هېڅکله یې دا تصور هم نه شو کولای، چې مور یې دی د خپلې مینې او عاطفې خرڅولو ته اړ کړي، که داسې وي، دا به وروستی ځل وي چې... خو د دې وخت یې پیدا نه کړي چې هغه ګواښمنه خبره چې ګرافینې د خپل زوی د وحشتناکې څېرې په حالت کې، د هغې اورېدو ته سترګې په لاره وه، او کېدای شوه، د مور او زوی تر منځ د یوې نه هېرېدونکې ترخې خاطرې په توګه پاتې شوې وای، ووایي.

ناتاشا په داسې حال کې چې رنګ یې الوتی او څېره یې خواشینې برېښېده له هغې دروازې نه کوټې ته راننوته چې د هغې تر شا د ورور خبرو ته غوږ نیولی و، هغې پر ورور چغه کړل:

- نیکولا جانه! ته ملنډې غږوې، چوپ شه، زه درته وایم چوپ شه!

هغه په داسې لوړ آواز غږېدله، چې ګوا کې غواړي، د هغه غږ لاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې خپلې مور ته چې په خورا خواشينۍ يې خپلې زوی ته کتل او نيږدې و چې له قهره يې زاره وچوي، مخ ورواړوله... او وې ويل:

- ګرانې مورې، د زړه سره ! هيڅ خبره نه ده... زما مورې...

- نيکولاجانه ! ګوره مور يې زه به اوس تا ته... نيکولايه، ته د باندې لاړ شه... او بيا يې مور ته مخ ورواړاوه او وې ويل:

- ګوره مورجانې ! ته لږ راته غوږ شه ! مورکۍ !

د ناتاشا خبرو هيڅ معني نه لرله، خو بيا يې هم هغه اغېز وکړ چې دې يې هيله لرله.

ګرافينې چې له ژړا نه په ساندو وه، خپل مخ، د لور په غېږ کې ورپټ کړ، نيکولای پاڅېد، سر يې په دواړو لاسونو کې ټينګ کړ او له کوټې نه ووت...

ناتاشا د مور او د ورور د پخلاينې لپاره متې ونغاړلې، او هلوځلو يې دواړه قانع کړل، چې مور به يې سونيا نه زوروي او څه به ورته نه وايي او نيکولای به د مور و پلار نه پټ کومه پريکړه او کړه نه کوي. نيکولای د جنورۍ په لومړۍ نېټه په خورا پريشانۍ، د مور و پلار له غمه ناآرامه، او په خيالو کې د سونيا له مينې نه لېونی، کور پرېښود او د خپلې قطعې پلو وخوځېد. هغه تکل کړی و چې غونډ ته به ځي، هلته به خپل اړوند کارونه پای ته رسوي، له پوځ نه به استعفا کوي، بېرته به راستنېږي او له سونيا سره به واده کوي. د نيکولای تر تګ نه وروسته د رستوف پر کور داسې غم او خواشيني لاسبره شوې وه چې پخوا يې چا ساری نه و ليدلی. مشره ګرافينه هم له رواني ستومانۍ نه ناروغه شوې وه.

سونيا د نيکولای د بېلتانه په اور کې سوځېده او تر هغه نه لا د مشرې ګرافينې ترخې ژبې او بې پايه دښمنۍ چې پر له پسې يې له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره کوله، سخته ستومانه کړې وه. ګراف له بل هر وخت نه اوس، د هغه ناوړه مادي حالت، چې سمدلاسي پريکړې يې غوښتې، پريشانه کړی و. هغه نور نو دې ته اړ شوی و چې د ژوند د سمولو لپاره، د مسکو او د مسکو د څنډو کورونه خرڅ کړي او د دې سوداګرۍ لپاره بايد مسکو ته لاړ شي، خو د ګرافينې ناروغۍ، دغه چاره ورځ تر ورځې ځنډوله او خبره له نن نه سبا ته پاتې کېده.

ناتاشا چې په لومړيو وختونو کې يې د خپل کوژدني (سردار اندرې) بېلتون په خوښي او بې پروايي زغمه، اوس يې نو ورځ په ورځ زغم او حوصله پای ته رسېدله. دغه خيال چې د ژوند خورا ښې شپې ورځې، چې دا کولی شي له مينې نه يې ځار کړي، هسې عبث تېروي. دا يې ډېره او پرله پسې زوروله. د سردار اندرې د ليکنو زياتره برخو د خوښۍ پر ځای دې ته د غم بوټي کرل. په خواشينۍ به ځان ته ويل:

- په هغو شېبو کې چې دا يوازې د خپلې کوژدنۍ په اړه فکر کوي، د دې کوژدنی ښار په ښار ګرځي، نوي ځايونو او له خلکو سره چې هغه ته په زړه پورې دي، آشنا کېږي، ځومره به چې د ده ليکونه ناتاشې ته په زړه پورې و، په هماغه اندازه به هغه زوروونکي و. هغه ليکونه چې سردار اندرې دې ته ليکل نه يوازې د دې د زړه تنده نه ماتوله بلکې هغه ليکونه دې ته په يو ډول غمجنې او خواشينې دندې بدل شوي وو. هغه په دې ربړدې شوې وه، هغه ليکونه وليکي چې هغې به نه شو ليکلي، هغې ځکه نه شو ليکلي چې د هغه زوريدو نه يو هم په ليک کې نه شو انځورولی، چې دا په خپل غږ، موسکا او غلچکونو کې د هغې په انځورولو ربړدې شوې وه. د هغې يو رنګه کلاسيکه او تکراري ليکونه آن د دې تر خياله هم وچ، بې روحه او بې خونده بريښېدل، هغه به يې تر لېږلو مخکې مورته ښودل او هغې به يې املايي تېروتنې ورسمولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګرافينې د روغتيا د ښه کېدو هيله ورځ په ورځ کمېده او خبره هغه ځای ته ورسېده، چې نور ګراف نه شو کولای، مسکو ته خپل سفر وځنډوي. دوی بايد د ناتاشې د واده د جهيز اخيستو لپاره د مسکو د کور خرڅ کړی وای. له بله پلوه دوی مسکو ته د سردار اندرې راتګ ته ځکه سترګه په لاره وه، چې د هغه پلار سردار نيکولای اندرېوويچ سږ کال ژمی په مسکو کې ميشت شوی و. او ناتاشا هم په دې ډاډه وه، چې هغه لا وخته مسکو ته رارسېدلی دی.

ګرافينه په کلي کې پاتې شوه، ګراف او سونيا له ناتاشې سره يوځای د جنورې په پای کې مسکو ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم کتاب

# پنځمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

پیېر د ناتاشا او اندرې تربولې وروسته ناڅاپه بې له ښکاره دلیله داسې احساس کړه چې نور نو نه شي کولای پخواني ژوند ته دوام ورکړي، که څه هم هغه، لا په هغو عقایدو اعتقاد درلود چې د هغه لاربښود ورښودلي و، چې د هغه د روحاني هلوځلو په پیل کې د هغه لپاره د روان او روح د سپېځلتیا هلې ځلې او کمال ته رسېدو لارې چارې د سربښندنې ورېوې، ټول او ټول، د سردار اندرې او ناتاشې د کوژدې او د یوسف الکسوویچ د مرګ له خبر نه وروسته چې ده ته په همدې وخت کې رارسېدلی و، د پخواني ژوند ټولې ښېګڼې چې د ده د خوښیو سرچینې یې جوړوي، خپله معنی له لاسه ورکړه. د هغه لپاره له ژونده یوازې کالبوت پاتې و. پرتمین کور او ښایسته ښځه چې اوس له هغې سره یوه مخور چارواکې ځانګړې خواخوږي پیدا کړې وه، د پترزبورګ له ټولو مخورو سره دوستي او هغه دنده چې اوس یې په دربار کې پیدا کړې وه او سخت غمرلي تشریفات یې لرل. دغه ټولو کسانو او ټولو شیانو یو په یو او ناڅاپه د هغه لپاره خپل ارزښت بایللی و. د ورځنیو یادښتونو له لیکلو لاس په سر او د ماسون ورونو له ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره يې اړيکي وشلول. بيا يې هوتلونو او کلوبونو ته تګ راتګ پيل کړ، بيا يې زيات شراب څکل، د مجردانو ډلې ته يې لاره پيدا او داسې يو ژوند يې له سره ونيو، چې ګرافينې ايلن واسيلوفنا دې ته اړ شوه، پر هغه نيوکې وکړي او هغه وغاندي. پيير دا احساس کړه چې د هغه ښځه برحقه ده، نو ځکه يې پريکړه وکړه چې د هغې د بې آبۍ د مخنوي لپاره پترزبورګ پرېږدي او مسکو ته لاړ شي.

مسکو ته په رسېدو، دی په خپل ستر، لويه حويلۍ لرونکي پرتمين کور کې چې د زړو او د زړېدو په حال کې پېغلو تر ځارنې لاندې و، ميشت او ځای پر ځای شو. همدا چې ده په ښار کې د يهودي لمانځې ځای وليد، په دغه لمانځځای کې تر ځړوند شمايلو لاندې بل شوي شمعونه وليدل، بيا يې د کرملين ډګر تر سترګو تېر شو چې د واورو تر سپين او لا ګام نه اېښودل شوي فرش لاندې پټ و، د وراژدک د ورانو کورونو او ماتو کراچيو بهېر يې وليد، د مسکو په کلوب کې يې د مسکو سپين ږيري يې وليدل چې نه يې څه ځانګړې غوښتنې لرلې او نه يې کوم پلو تلوار کاوه، د مسکو عمر خوړلې ښځې، د مسکو پېغلې او د مسکو بنډارونو او د مسکو انګليسي کلوب، د ټولو تر ليدو وروسته يې ځان په خپل کور کې او د خپل کور په آرامۍ کې احساس کړ. د هغه لپاره مسکو کې ژوند آرامه، مينه ناک، بې غمه او د پخوانيو عاداتونو په شان و، لکه زاړه خيرن کميس سره چې څوک ړږدی شوی وي هغه ته له هغو نه بېلېدل ورته ګران و.

د مسکو ټولو مخورو، اعيانو له زړو نه نيولې بيا تر ماشومانو پورې پيير، ته د يوه د بر ګران مېلمانه په توګه چې له پخوا ورته سترګه په لاره او د دوی په منځ کې يې ځای خالي و، هرکلي ووايه. پيير د مسکو د اعيانو لپاره تر ټولو مهربانه، بارحمه، هوښيار، خوشاله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخ زړې، ساده، صميمي، روسي، نرم غاړې او ښاغلى و. د هغه جيبي بكس به ځكه تل تش و چې هغه د ټولو بكس و.

د هغه د خير او كرم دروازه د ټولو پرمخ پرانستې وه، هيڅ چا له هغه نه د (نه) خبره نه اورېدله. هغه،د هغو نندارتونونو خرڅ چې به دده يا هغه له خوا جوړېدل، وركاوه،كله ناكله خو يې آن ناوړه او كم ارزښته تصويرونه د يو او بل په سپارښتنه او د خوښۍ له مخې اخيستل او ټولو خيريه موسسو، ټولنو، ښوونځيو، د عياشانو چړچو، د ماسونو ټولنو، كليساوو، كتابتونونو او نورو نورو ته به يې د مرستې لاس ورغځاوه. كه د هغه دوه اندېوالان چې د ده زيات پوروړي او ده پسې به يې ځارنه كوله نه واى، ډېر ژر به ديوالي شواى واى. داسې غرمنۍ او ماښامنۍ به نه وه چې دى دې په انګلسي كلوب كې نه وي، هغه به چې دوه بوتله مارګو نومي، نوي شراب وڅكل او پر څوكۍ كې به يې ډډه ولګوله، سمدلاسه به ترينه چاپېر شول، ټوكې ټكالې، خبرې او نانذرۍ به پيل شوې. هغه به هم دغو مركو جرګو ته ورولوېد او په خپلو خوږو ټوكو او د زړه له كومې موسكا سره به يې سيالان سره پخلا كول، بل پلو له هغه نه پرته،د ماسونانو د ډلې ماښامونه بې شروشوره او غمجن وو... ټولو ځوانو ښځو او پېغلو ته ځكه ګران و چې هغه نه يوازې له يوې ښځې يا نجلۍ سره چې پر مين شي، بلكې له ټولو ،په تېره بيا له ماښامه وروسته په يو اندزه مهربانه او خواخوږى و. د هغه په اړه به يې ويل چې: ښه ځوان دى، خو نارينه نه دي....

پېير هغه شان بې وزګاره چاروا كى و چې نور په سلګونو تنو په مسكو كې هغه ته ورته و. كه اوه كاله مخكې كله چې هغه له بهر نه راستون شوى و، چا ورته ويلي واى، چې دې ته اړتيا نه شته چې د ژوند د تګ لوري لپاره ستونزې آوارې كړې او څه لټوي، ځكه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګ لاره لا د وخته ټاکل شوې ده... هغه به یې سخت حیران کړای وای.... ایا دی هماغه څوک نه و چې په روسیه کې یې د جمهوریت د راتګ غوښتنه کوله؟ ایا دی هغه څوک نه و چې غوښتل یې ناپلیون شي؟ ایا ده نه غوښته فیلسوف شي؟ ایا دی هغه څوک نه و چې ځان یې هغه سپهسالار ګاڼه چې غوښتل یې پر ناپلیون بری ترلاسه کړي. ؟ ایا دی هغه څوک نه و چې له فساده لرې بشري ټولنې یې غوښته او د هغې لپاره یې د نویو اخلاقو د روزنې لټونه کوله او د ځان د کمال رسولو لټه پسې سرګردانه و؟ ایا دی هغه څوک نه ده دی چې ښوونځي او روغتونونه یې جوړول او مریبیان یې آزادول؟ خو ددې ټولو سره سره، هغه دا دی اوس د یوې بې وفا ښځې بډای مېړه، یو مستعفي چارواکی، د مسکو د انګلیسي کلوب غړی، د ښو خوراړو او څکلو لېوال، ټولو ته ګران، د مسکو د اعیانو د ډلې یو مخور، چې تر خوړو وروسته ټنی خلاصې او پر څوکۍ بې غمه ډډه ولګوي. په نرمۍ پر دولت نیوکې وکړي، تر ډېرو پورې دا خبره منلې شو چې دې اوس د مسکو د ټولو تر پامه، یو بې وزګار یاور دی چې اوه کاله پخوا ده هم له هغو کرکه لرله.

کله به یې ځان په دې تسلاوه چې دا دي اوس دغه شان ژوند کوي، خو بیا به نور وحشتناکو خیالونو پسې واخیست، او دې ته به یې پام شو چې ډېرو کسانو چې دغه شان ژوند پیل کړي او دا لاره یې غوره کړې، خو دی خو هغه وخت ترې وتلی دی، چې نه وینښته ورته پاتې و او نه غاښونه. د ویاړنو او غرور په وخت کې به یې چې کله د ځان په اړه فکر کاوه، هغه ځان چور بل ډول برېښېده او تصور به یې کاوه، چې له هغو نورو متقاعدو یاورانو نه چې ده پخوا هغو ته په سپکه کتل ډېر توپیر لري... په مسکو کې تر څه مودې ژونده وروسته یې نور خپلو هم برخلیکو انډیوالانو ته په سپکه نه کتل او کرار کرار یې له هغو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه پیدا کوله، درناوي یې کاوه او پر هغوی هم دا سې زړه خوږېده، لکه پرځان. پر پېیر نور د پخوا په شان د ناهیلو څپې او له ژوندد کرکې حالت نه راتـه، خو هماغه پخواني دردونو چې کله به یې پر ده یرغل کاوه، اوس د ده پر زړه کې دیره شوې او یوه شېبه یې هم په کراره نه پرېښوده. له ځانسره به یې ویل:

- دا د څه لپاره؟ ولې؟ په دې دنیا کې ژوند څه معنی لري؟ هغه به هره ورځ څو واره او په حیرت یې له ځانه دا پوښتنې کولې، هغه د ژوند ناسپړلو اړخونو ته ځیرېده، خو څنګه چې د خپلې تجربې له مخې پوهېده چې دا پوښتنې ځواب نه لري، نو ځکه یې په تلوار هڅه کوله، په هغو سترګې پټې کړي، په دې وخت کې به یې یا کوم کتاب راواخېست یا به کلوب ته لاړ او یا به اپون نیکولاوویچ ته ورغی، چې په ښار کې د خورو شویو آوازو په اړه له هغه سره وغږېږي.

پېیر به له ځانسره ویل:

- ایلن واسیلوفنا چې هېڅکله د خپلې ښکلا نه پرته د بل هېڅ چا او هېڅ شي په اړه فکر نه کوي او په نړۍ کې یو له احمقو نه احمقه ښځه ده، خو خلک هغه یوه خورا هوښیار او ځېرکه ښځه ګڼي او د هغې په وړاندې ملا ماتوي. ناپلیون بناپارت تر هغه پورې چې یو سترنومیالی و، خلکو هغه خوار ګاڼه خو همدا چې یو بې وزګاره لوبغاړی شو، اوس د فرانسې ټولواک غواړي هغه ته خپله لور په غیر شرعي توګه ورنکاح کړي. اسپانویان د کاتولیکو کشیشانو له لارې له خدایه نه شکر کوي، چې د جون په ۱۴ مه یې فرانسویانو ته ماته ورکړې ده او فرانسویان بیا د هماغه کاتولیکو کشیشانو په برکت له خدایه نه شکر کوي، چې د جون په هماغه ۱۴ مه نېټه یې پر اسپانویانو بری موندلی دی. زما ماسوني ورونه په خپلو ورونو قسم خوري چې چمتو دي، خپل سر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانه له نورو سره په مرسته کې ځار کړي، خو کله چې چا له بې وزلو سره د مرستې غږ وشي له خپل يو روبله هم تېرېدای نه شي.

... موږ ټول ځان د مسيح پيروان شمېرو، د هغه قانون موږ د نورو ښښنې او خپلو همذاتو سره مينې او هغو ته درناوي ته ورېولي، هغه قانون چې موږ هغه ته درناوي په وياړ ځلوېښت واره، ځلوېښت کليساوې په مسکو کې جوړې کړي دي. همدا پرون له زندانه تښتېدلی سړی مو وواژه، او د همدې ګناه ښښونکي قانون چوپړ يعنې کشيش سرتېري ته صليب وروړاندې کړ، چې د حکم د سر ته رسولو مخکې هغه مچ کړي. پېښېر په همدې اند ښښنو کې ډوب و، که څه هم د دغه خبرو دروغ له هر ځايه او له هر چا ورته څرګند شوی و، او چا ته يې نوې والی نه لاره، ده هم ورسره عادت شوی و، خو دی يې هر وار د يوه نوي شي په څېر په حيرت کې اچاوه. هغه به له ځانسره ويل:

- زما په دې دروغو او تېروتنو سرخلاصېږي، نو زه څنګه هغه ټول څه چې پرې پوهېږم، هغوی ته ووايم؟ دا کار ما په وار وار سره آزمايلی دی او هر وار په دې پوه شوی يم، چې هغوی هم زما غوندې د زړه له کومې پر دې پوهېږي خو يوازې هڅه کوي، چې څرګنده کړي چې دوی نه پوهېږي او دا ټول سم دي. خو زه څنګه وکړم؟ زه چېرته او چا ته پناه ورووړم؟

هغه د ډېرو خلکو په تېره بيا د روسانو هغه بدمرغه استعداد، چې هر څه احساسوي، ښه احساسوه، هغه استعداد چې کولی شي مهرباني او رښتيا ووينې او باور پرې وکړي. هغه استعداد چې د هغه په مرسته په ژوره توګه دروغ او ظلمت ووينې او په ځان کې په هغو کې د ګډون توان وروزي. د ژوند ټولې هلې ځلې د هغه لپاره په ظلمت او دوکې پای ته رسېدلې. هرکار ته به يې چې لاس وراچاوه، د هغه د شور او دروغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره به مخامخ کېده. هغه ته به يې خندونه جوړول، خو له دې سره سره يې بايد ژوند کړی وای او روزګار يې درلودلای. د ژوند د نه آوربدونکو جرړو کړکيچ نور نو ورته د زغم وړ نه و، نو ځکه د آرامتيا هرڅه به چې پرمخ ورغلل، مخ به يې نه ترې آړاوه. هر بنداړ ته يې لاره درلوده، شراب يې پريمانه څکل، انځورونه يې اخيستل او ودانۍ يې جوړولې او تر هرڅا نه يې زيات کتابونه لوستل. هرکتاب به چې په لاس ورته هغه يې لوسته، کتابونه يې په مينه او لېوالتيا لوستل. کورته به لا رسېدلی نه و، چې چوپړانو به جامې ترې واخيستې، ده به سمدلاسه بيا کتاب راواخېسته او لوسته به يې، لوسته به يې او تر هغه به يې لوسته چې وېده به شه. له خوبه وروسته بيا بنداړونه، اپلتې، کلوب، شراب، ښځې، بيا اپلتې، نانديرې، کتاب او خوب، دا هغه څه و چې دده په ورځنيو اړتياوو، آن په معنوي روحاني اړتياوو بدل شوي وو. که څه هم د زيات څورب والي له امله داکترانو هغه د شرابو له څکلو منع کړی و، خو بيا هم ده، پريمانه څکل. هغه به تر هغه چې څو جامونه پورته نه کړل، طبيعت به يې نه جوړېده او همداسې پرله پسې به يې څو جامونه په سر واړول، يو ډول خوښي او مهرباني به پرې راخوره شوه او له خپلو خپلوانو او آشنايانو سره ډېره خواخوږې او مينه ناک شو. هغه به په ډېره آسانه هره شخړه بې له هغې چې د خبرې اصلي هدف ته يې پام شي، آواروله. ده به چې يو دوه جامه له ستوني تېر کړل، هغه خبرې به چې تر څو شېبو مخکې ورته ستونزمنې او کړکيچنې بربښېده، خورا آسانه او آواربدونکې وبريښېدې...هغه يوازې د شرابو د نشې تر اغېز لاندې کولای شول ووايي:

- دا پريښاني لنډه عمر ده، هرومرو يې په خوښيو بدلوم. ددې پريکړه ما پورې اړه لري، خير که اوس وخت نه لرم بيا به يې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسېږي او هر څه به خرګنده شي. او بیا دغه وخت هېڅکله نه را رسېده.

سهار به یې چې نشه، والوته او ذهن به یې راتازه شو، د ژوند ټولې شخړې به یې بیا تر سترګو ناآوارېدونکې او ګوابنمنې وبرېښېدې، نو ژر به یې کتاب راواخیست او په دې به ډېر خوشاله شو، که څوک یې دیدن ته راغلي وای.

کله به هغه کیسې وریاد شوې، چې د جګړې د ډګرونو د سرتېرو په اړه یې اورېدلې وې، هغه اورېدلي و چې کله به سرتېري په خپلو سنګرونو کې د دښمن تر اور لاندې و او څه یې له لاسه نه کېږي، نو دوی هڅه کوي، ځانته لوبې پیدا کړي، چې وکولای شي دغه ګوابښ په آسانۍ وزغمي. د پییر له انده دغه خلک ټول لکه د همدې سرتېرو په شان و، چې هڅه یې کوله، د ژوند له شره ځان وژغوري. یو د نوم او ویاړ لېونی و، یو ځان په جواریو کې هېراوه، یوه قوانین لیکل او بل به د ښځو په عیاشي کې ډوب و، یوه به هسې کومه لوبه کوله، بل به بیا آسونه زغلول، یو سیاست بایلود، بل ښکار ته لاس اچاوه، یو به په شرابو کې لمبېده او بل به ځان دولتي چارو کې بوختاوه. په دغو ټولو چارو کې باید نه د کوم سپکاوي او نه د کومې بل هغه زیات درناوي وشي. دغه ټولې چارې یو شان دي، خو غوره داده چې په هر ډول کولی شو، باید له ژونده ځان وژغورو. یوازې باید له ژوند سره له مخامخ کېدو او د هغه له ډاره او ګوابښ نه وتښتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲

د ژمي په پيل کې سردار نيکولای اندرېوويچ بالکونسکي له خپلې لور سره مسکو ته راغی. سردار بالکونسکي د خپل تېر ويار مـن ژونـد ، پوهې، ځانګړي او لـه نـورو نـه تـوپير لرونکي شخصيت لـه کبلـه او پـه تېـره بيـا چـې د ټولـواک الکسـاندر پـه وړانـدې ټـوليز راپارېـدونکي خيالات کمېدونکي و ، د هغه د وطن پالنې او فرانسوي ضد خيالات لـه کبله د هغه ځای د مسکويانو په زړه کې ورځ تـر ورځـې زياتېده. هغـه د دغــو کــړو وړو لــه برکتــه و ، چــې ډېــر ژر ، د ټولــو د درنــاوي وړ او د مخالفينو په يوې غوره نښې بدل شو.

سردار په هغه کال ډېر زوړ شوی و او د زړښت نښې يې ډېر ژر ژر پـه کړو وړو کې راڅرګندېدې، بې وخته او ناڅاپه به وېده کېـده ، هـره نـوې پېښه به يې ژر ژر هېروله ، حال دا چې پخوانۍ هغـه يـې ښـې يـادې وې... خـو سـره لـه دې کلـه بـه چـې د غـه بـوډا پـه تېـره بيـا ماښـام ، کمـيس او پوستين په غاړه ، خولۍ پر سر او څنې پودر وهلې، د چـای څکلـو لپـاره له کوټې راووت او د کوم چا په لمسون بـه يـې پـه غـوڅـه ژبـه د پخـوانيـو پېښو نقلونه پيل کړل ، يا تر هغې نه په ترخه ژبـه بـه يـې د ورځنيـو پېښـو په اړه قضاوت کاوه ، په ټولو مېلمنو کې به يې د ځان په وړاندې پـه يـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انـدازه درنـاوي راپـاراوه. د ده د کـور پرتمینـه مـانۍ، د هغـې لـوړ او سینګار شوي دیوالونه، له خپلو، تر انقلابه پخوانیو میزونو او څوکیو سره، له سینګار شویو چوپړانو، له دغه بوډا، سخت زړي او د تېر قرن نه پاتې خاوند، له دغې مهرباني او خواخوږې لور او ښکلې فرانسوي ښځې سره چې دواړه د لمانځنې تر کچې هغه ته درناوي درلود، پـه میلمنو کې یو ډول درناوي او پرتم رالمسوه...

د شهزادګۍ ماریا لپاره په مسکو کې دغه کورنی ژوند خورا ګران تمامېده. هغه پـه مسـکو کـې لـه پـاک زړو خدایي خدمتګارانو سره د مرکو، خبرو اترو او زړه خوالې نه چې پـه لیسـه ګـورې کـې یـې درلـوده، بې برخې شوې وه. د پلازمېنې ژوند هم د هغې لپاره کوم زړه راښکون نه درلود او نه یې تنده پرې ماتېده.

هغه مېلمستیاوو او بنډارونو ته نه تله او ټول پـه دې پوهېدل، چې پلار یې یوازې چېرته د تګ اجازه نه ورکوي او خپله هم د خپلو روغتیا ستونزو له کبله چېرته نه تله. له دې کبله نور نو چا مېلمستیاوو، نڅاوو او بنډارونو ته نه بلله. شهزادګۍ ماریا ته نور نو د واده کولو هېڅ هیله پاتې نه وه. هغې ښه لیدل چې ددوی کورته، هغه یو نیم ځوان چې راځي او کېدای شي کوم ورځ ددې ریباري وکړي، څنګه ددې د پلار له قهر او غضب سره مخامخ کېږي. سردار نیکولایوویچ څنګه هغوی سپکوي او ښکنځي یې. هغې نه کوم دوست درلود او نـه کومـه خورلنډه. مسـکو تـه په سفر کې له خپلو دوو دوستانو نه چې لرل یې، سخته خوابدې شوې وه. له دغو دوو نه یوه هغه یې پېغله بوري ین وه. د هغې پخوا هم هغه نه خوښېده او اوس خو یې هسې له پامه بده شوې وه. هغې تـل هڅه کوله چې ځـان لـرې تـرې وسـاتي. ددې بلـه خورلنډه، ژولیـه نومېـده، چـې د مسکو اوسېدونکې وه. شهزادګۍ ماریا پـه تېرو پنځـو کـالو کـې پرلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې هغې ته لیکونه لیکل. اوس یې له هغې سره دیدن شوی و او په لیدو سره یې له هغه نه سخت د پردیتوب احساس کړی و. ژولیه اوس د خپلو دوو ورونو تر مرګه وروسته، یو له خورا بدایو مېړو لټوونکو پېغلو نه شوې وه، چې په مسکو کې یې سخت نوم ګټلی و. ډېر ځوانان به پرې راټول وو، او هغې داسې تصور کاوه چې دغه ځوانان تازه د هغې په پوهه او هوښیارتیا پوه شوي دي. ټول به پسې روان وو. د هغې د ځوانۍ د پسرلي وروستۍ شپې ورځې وې او داسې یې انګېرله چې د واده وروستی بخت یې له لاسه وزي. هغې تصور کاوه که همدا اوس یې بخت ونه غوړېږي، بیا به ژوند کې د واده کولو نیکمرغي ور په برخه نه شي. شهزادګۍ ماریا به هره پنجشنبه په خورا خواشینۍ دا په زړه کول، چې نور نو هغې ته هېڅوک پاتې نه دي چې دا لیکونه ورته ولیکي، ځکه ژولیه خو همدلته وه، د اونۍ یو وار به یې سره لیدل، خو د هغې له خبرو اترو او د زړه خوالي نه به یې هېڅ خوند نه اخیسته.

... شهزادګۍ ماریا دلته هېڅوک نه لرل، چې ورسره د زړه خواله وکړي او پر خپل زړه د غمونو بار پېټي له هغو سره ووېشي. نه یوازې دا چې پر زړه بار پخواني پېټي یې نه سپکېدل، د نویو غمونو او اندېښنو بارونه به نور هم پرې ورکوټه کېدل. د سردار اندري د راستنېدلو او د هغه د واده نېټه رانږدې کېده. هغې نه یوازې د خپل ورور سردار اندري هغه سپارښتنې په ځای کړې نه وې، چې پلار باید واده منلو ته قانع کړي، بلکې د ناتاشې رستوف هرې یادونې، بوډا سردار لېونی کاوه او له حال یې ویسته. هغه به غضب اخیست. د شهزادګۍ پر نورو غمونو یو بل نوی غم هم وربار شوی و. دا غم هغه زده کړې وې چې دې خپل وراره کمکي شپږ کلن وراره ته ویل یې. هغې له وراره سره په خپلو کړو کې، د پلار هغه سختې او تندي موندله، چې دې ټول ژوند لیدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. په وار وار هغې ځان ته ویل چې د زده کړې په وخت کې به وراره ته په قهر نه شي، خو هر وار به یې چې د الفبې کتاب راواخېست، له هغه سره به کیناسته، د فرانسوي ژبې الفبې به یې پرانستـه او دومره به یې تلوسه شوه، چې څومره ژر کېږي، بې له هر ډول زیاره خپله ټوله پوه وراره تـه چـې د تـرور لـه قهـره یـې وحشـت درلـود، پـه یـو وار سـره ورولېږدوي. ماشوم به خپله آرامي له لاسه ورکوله، شهزادګۍ ماریا به هم ورودانګل، په قهر به شوه، چغې به یې وهلې او ماشوم به یې په یوه پښه د کوټې کوم کونج کې دراوه. خو همدا چې هغه به یې په کونج کې ودراوه، خپله بـه پـه ژړا شـوه او پـه خپلـه بـه لـه خپلو کړو او طبیعت نه بېزاره شوه. نیکولای جان بـه د هغـې د اوښکو پـه لیدو پـه ژړا شو او د هغې له اجازې نه پرته به د کوټې له کونجه وخوځېد، هغې ته به ورغـي، په اوښکو د هغې لامده لاسونه به یې د هغې له مخې لرې کړل او تسـلي به یې کړه... که د شهزادګۍ ماریا پلار دا دې ته اړوله چې ټوله شپه پـه ګونډو تېره کړي، یا یې دا وهله، یا یې دې ته اړولـه چې لرګي یا اوبه راوړي، هېڅکله به یې په زړه کې تېر شوي نه وای، چې دا کوم درونـد لـه زغمـه لـرې یـا لـه ظلمـه ډک کـار دی، خـو دغـه هرڅـه ځکـه ګـران، زورونکي، هوکې بې ساري زورونکي دي چې، وراره ته هغـه ګران دی، نـو ځکـه د هغـه زورولـو دا هـم زورولـه... پـه دې وروسـتیو وختونـو کـې شهزادګۍ ماریا ته یو بل غم هم پیـدا شـوی و. دا غـم، لـه خپلـې مینځـې پېغلې بوري ین سره د دې د پلار خورا زیات نږدې والی و. دغـه ټوکیز ډوله خبره د لومړي ځل لپاره هغه وخت واورېدل شوه چې مشر سردار له ناتاشې رستوف سره د خپل زوی سردار اندرې د واده د تکل د خبرو، تر اورېدو وروسته کړې وه. هغه، هغه وخت ویلي و:

- کـه سـردار انـدرې، لـه دغـې نجلۍ سره واده وکړي، دی بـه هـم لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې بوري ين سره واده وکړي. دهغه خپله دغه ټوکه ډېره خوښېدله او په دې وروستيو وختونو کې يې په پرله پسې توګه (د شهزادګۍ ماريا په اند يوازې ددې د زوروولو لپاره) ددې تر مخې پېغله بوري ين ډېره نازوله او له خپلې لور نه خوابدي به يې له هغې سره په مينه کې ثرګندوله.

يوه ورځ په مسکو کې بوډا سردار، د شهزداګۍ ماريا تر مخې (هغې داسې وانګېرله، چې هغه لاسي دغه کار وکړ) د پېغلې بوري ين لاس ښکل کړ، هغه يې ځان ته ورنږدې کړه، وې نازوله او په غېږ کې يې ونيوله. شهزادګۍ ماريا سرسامه او کوټې ته وتښتېده. له دې پېښې نه لا څو دقيقې تېرې نه وې، چې پېغله بوري ين دې پسې راغله، په موسېدو موسېدو او خندا يې هغې ته د کومې خوښې خبرې پيل کړې. شهزادګۍ ماريا په چټکۍ له سترګو اوښکې پاکې او په ټينګو قدمونو پېغلې بوري ين ته ورنږدې شوه، داسې برېښېده چې خپله هم نه پوهېده چې څه کوي، په تلوار، لوړ او بې واکه غږ يې، په چغو چغو پردغې فرانسوي نجلۍ غږ وکړ:

- دا بې حيايي ده، دا بې شرمي ده، دا سپکاوي دی چې د هغه له کمزورالي نه داسې بې ځايه ګټه...

خپلې خبرې يې لا پای ته نه وې رسولې چې ژړا او ساندو د هغې ستوني راونيو، خو هغې چغې کړې:

- ووزه، ناولئ، وزه زما له کوټې نه، ووزه، د باندې ووزه.

بله ورځ مشر سردار له لور سره يوه خبره هم ونه کړه او د هغې دې ته پام شو، چې د غرمې په ډوډۍ کې هغه چوپړانو ته سپارښتنه وکړه چې د ډوډۍ ويش له پېغلې بوري ين نه راپيل کړي. تر ډوډۍ نه وروسته چې کله شربت ويشل کېده، د عادت له مخې، تر هر چا نه د مخه لومړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ ته قهوه ورووړه، مشر سردار ناڅاپه له قهره تک سور شو، چغه يې کړې، په لېوني غږ يې د فليپ نومي چوپړ خوا ته ورودانګل، او سپارښتنه يې وکړه چې هغه پوځ ته ولېږئ، چې سرتېري شي.

مشر سردار چغې وهلې:

- غوږونه مو کاڼه دي، تاسو ته بيا بيا وايم، تاسو ته وايم، هغه (پېغله بوري ين) د دې کور لومړنۍ مېرمن ده، هغه تر ټولو نه ما ته نېږدې دوست دی.

هغه چې له قهره خوټېده د لومړي ځل لپاره يې په دې حال، شهزادګۍ ماريا ته مخ وروااړاوه او بيا يې چغه کړل:

- خدای مه کړه که يو ځل بيا د پرونۍ شپې په شان بيا ځان ته دا حق ورکړې او هغې ته څه ووايې، بيا به نو ګورئ او پوه به شې چې د دې کور اصلي واکمن څوک دی، څه ورکه شه، چې مردار مخ دې ونه وينم، لاړ شه او بښنه ترې وغواړه!

شهزادګۍ ماريا له اماليا افګينيفنا او له پلار نه بښنه وغوښته، هم د ځان په خاطر او هم د فليپ په خاطر، چې له هغه يې د مينځګړيتوب هيله کړې وه. په دغه شان شېبو کې د ماريا په ګوګل کې يو ډول د ځان ښندنې وياړ او غرور راپاريده. په همدا سې شېبو کې ناڅاپه، همدا پلار چې دې په زړه کې يې هغه بې رحمه ګاڼه، غانده يې، د دې خوا ته يې لاس غځاوه چې خپلې عينکې چې د ده خپلې مخې ته پرتې وې، واخلي، لاس به يې عينکو تر څنګ دا خوا هغه خوا ځکه ښوراوه، چې ده هغه نه ليدې، يا هغه څه چې څو شېبې مخکې تېر شوي و، وريادولی يې نه شو، يا به يې پښې ربړد بډې او په لاره به تلای نه شو، يا به يې شاو خوا کتل، د ده، دغه حال چا ليدلی نه و، يا کله به چې پر ميز مېلمانه نه وو، چې دی بوخت وساتي، خوب به يووړ، ناڅاپه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویده شو ، دستمال به يې له لاسه ولوېد ، رېږدېدونکی سر به يې قاب ته ورونښوید ، نو هغه وخت به شهزداګۍ ماریا په زړه کې ویل:

- هغه زړو او ضعیفه دی او زه ځان ته حق ورکوم، هغه وغندم.

په دغه شان شېبو کې به يې له ځانه زړه بد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

۱۸۱۱ کال و چې یو فرانسوي داکتر مسکو ته راغي او خورا نوم یې وګاټه. هغه جګه ونه، ښکلی، مهربانه او د زیاترو فرانسویانو په شان، هغه شان چې په ټول مسکو کې یې سره ویل، د طبابت په چارو کې بې جوړې او نوم یې متیفه و. د مسکو د مخورو او اعیانو په کورونو کې هغه ته نه د طبیب، بلکې د یو سیال په څېر هرکلی ویل کېده.

مشر سردار نیکولای اندرېوویچ چې تل یې د خپلې زمانې په ډاکترانو ملنډې وهلې وې، د پېغلې بوري ین په خوښه هغه خپل کورته پرېښود او آن له هغه سره عادت هم شو. داکتر متیفه به، په اونۍ کې دوه واره، د هغې د لیدنې کتنې لپاره راته.

یوه ورځ چې د نیکولای د نامه ورځ و. (هر نوم خپله ورځ لري) د مسکو ټولو اعیانو او مخورو په دغه ورځ د مبارکۍ لپاره دده کور ته د ورتګ تکل کړی و او د ده د کور د ودانۍ خواته راټول شوي وو، خو مشر سردار سپارښتنه کړې وه چې یوازې هغه څوک به ده ته ورپرېږدئ او دی به یې مني، چې ده یې نوم لیکلی او شهزادګۍ ماریا ته یې سپارلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکتر متیفه، چې لا سهار مبارکۍ ته راغلی و، د خپل داکتروالي په دریغ کې، ځان له دغو بندیزونه آزاد ګڼلی... او د مشر سردار مبارکۍ ته ورسېدلی و. له بده بخته هغه ورځ له سهاره د مشر سردار طبیعت خټه و او له غرمې نه مخکې یې د کور پر هر غړي کومه نیوکه کړې وه او داسې یې ښودلې وه چې ده ته دوی چې څه وایي، دی نه پرې پوهېږي او دی هم چې څه وایي نور نه پرې پوهېږي. شهزادګۍ ماریا په بشپړه په دې ډاډه وه چې د هغه د دغه شان خټه طبیعت پای، په یوه ناڅاپه غضب او لېونتوب لکه څوک چې د ډک توپک تضمین نه کوي، پای ته رسېږي. له سهاره هغه د پلار کوټې ته تله او راتله او دغه ډز ته سترګې په لارې وه. د داکتر تر راتګه پورې هر څه په خیر تېر شول. وروسته له هغه چې داکتر راغی، د مشر سردار کوټې ته ورننوت، شهزادګۍ ماریا یو کتاب راواخیست او د هرکلیو د کوټې د دروازې شاته کېناسته. دې له هغه ځایه کولی شو، هغه څه واوري چې د پلار په کوټه کې تېرېدل.

هغې لومړی د متیفه غږ واورېد، بیا یې د پلار او تر هغه وروسته دواړو غږونه غبرګ او هم مهاله د کوټې دروازه په خړس را خلاصه شوه. د متیفه وحشت اخیستې څېره سره له تور ښایسته کاکله په دروازه کې راښکاره شوه او هغه پسې مشر سردار چې خپله لوړه خولۍ یې پر سر، اوږد کمیس په غاړه، څېره یې له قهره نه پېژندل کېده، سترګې یې له خپل حاله وتلې وې، هغه پسې راووت.

سردار نارې وهلې:

- نه پوهېږئ؟ خو زه ښه پوهېږم! د بناپارت جوپړه! فرانسوي جاسوسه! ورکېږه، له سترګو مې ځان پناه کړه! تا ته وایم ژر کوه! وزه له کوره مې ووزه او دروازه یې په خړس ورپسې ورپورې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متيفه، اوږې پورته وا چولې او د پېغلې بوري ين خواته، چې د سردار د چغو په اورېدو يې له ګاونډۍ کوټې نه راداننګلې و، ورغې او وې ويل:

- د سردار حال خورا ښه نه دی، صفرا، د وينې دربدل، د سکتې امکان! مګر ښه به دا وي چې آرامه اوسئ! تاسو مه ډارېږئ، که وشول، سبا به بيا راشم. د چوپتيا په ننبه يې ګوته پرشونډو کېښود او په تلوار د باندې لاړ. د دروازې له شا نه د سردار د ګامونو د ډبهاري، د شروشور او ښکنځلو غږ راته، چې ويل يې:

- جاسوسانو، خاينينو! هرې خواته جاسوسان خواره شوي دي! اوس ځوک په خپل کور کې هم يوه شېبه موږ په کراره نه پرېږدي، او امنيت نه لرو.

مشر سردار د متيفه تر تګه وروسته، شهزادګۍ ماريا ځانته وروغوښته او خپل زړه يې ښه پرې تش کړ. د شهزادګۍ ماريا ګناه دا و چې دغه جاسوس اجازه ورکړې وه چې دده کوټې ته ورشي. هو کې، ده خپله ويلي و، ايا ده سپارښتنه نه وه کړې، هېڅ هغه چا ته چې نوم يې ده د مېلمنو او رابلل شويو کسانو په ډله کې نه وي ليکلی، ده ته د ننوتلو اجازه ورنه کړي؟ دغه احمق سړي ته چا اجازه ورکړې وه چې ده ته ورننوزي؟ دا ټول د هغې (شهزادګۍ ماريا) له لاسه دي. هغه ويل:

- تر هغه پورې چې هغه (شهزادګۍ ماريا) وي، دی به يوه شېبه هم په کراره نه وي، آن هغه نه پرېږدي چې په کراره مړ شي.

- نه لور جانې! موږ بايد سره جلا شو! ته په دې ښه پوهېږئ، زه نور نو د دغه شان ژوند زغم نه لرم!

بوډا دا وويل او له کوټې نه ووت. داسې يې وانګېرله چې ګواکې کېدای شي لور يې بيا په کوم ډول نه په کوم ډول زړه وکړي او ځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ايي، بېرته را وګرځېد ، هڅه يې وکړه چې آرام وبرېښېږي، په خورا کراره ژبه يې وويل:

- کېداى شي تصور وکړې چې دا خبرې مې له قهره کړې دي، نه، نه، دا ده، ګورئ چې آرام او کراره يم، دا خبره مې خورا په هوښيارۍ کړې دي. څه، څه لاړه شه او ځان ته کوم ځاى پيدا کړه. خو آرامي يې پاى ته ورسېده، په يوه ياغي قهر يې چې کېداى شي له يوه مينه ناک زړه نه را پاڅېدلى و، په داسې حال کې چې له غضب يې سوکونه تړلي و، په خورا لوړ آواز او چغه وويل:

- ولې يو لېونى نه پيدا کېږي، چې دغه وکړئ؟ دروازه يې په زوره ووهله او پېغله بوري ين يې ځانته وروغوښته. نور نو دغه له کوټې نه کوم غږ وانهورېدل شو.

د ماسپښين دوه بجې وې چې د ده له خوا شپږ تنه کل شوي مېلمانه د غرمنۍ لپاره راغلل. دغه مېلمانه، پېژندل شوى ګراف راستوپچين، شهزاده لوپوخين سره له وراره او جنرال چاتروف چې د سردار د خدمت د دورې اندېوال و، له ځوانانو نه، يو پيير او بل باريس دروبتڅکوي وو.

باريس چې څو ورځې مخکې، د خپلو رخصتيو د تېرولو لپاره مسکو ته راغلى و، غوښتل يې چې له سردار نيکولاى اندرېوويچ سره پېژندګلوي پيدا او د هغه پام يې لا د مخه دومره ځانته واړولى و چې د خپل عادت برخلاف چې ځوان مجردان هېڅکله خپل کورته نه وربولي، دى ده ته ورشي.

د سردار بالکونسکي کور که څه هم د اشرافي بنډار ځايونو په ډله کې نه راته، خو داسې يوه کوچنى ځاى و چې هومره د بنډارچيانو د پام وړ نه و، خو هغه ته لاره موندل ويار ګڼل کېده. په دې خبرې يوه اونۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا باریس هغه وخت پوه شوی و، چې د سترې قوماندانۍ قوماندان د ده په مخ کې راستوپچین ته بلنه ورکړه چې د نیکولای د جشن په ورځ، غرمنۍ له ده سره تېره کړي، خو راستوپچین ورته ویلي و:

-په دغه ورځ زه تل د نیکولای اندرېوویچ درناوي ته ورځم.

ستر قوماندان ځواب ورکړی و:

ښه، ښه وبښئ،روغتیا يې څنګه ده؟

د دغه کوچنۍ ډله ،خلک چې د غرمنۍ نه مخکې، په پخواني دود جوړه شوې، لوړ چت او زړو میزو او څوکیو لرونکې کوټې کې راټول شوي وو، داسې یوې قضايي ډلې ته پاتې کېدل چې د قضا یوې پرتمینې غونډې ته راټول شوي وي. ټول چوپ و، که څوک غږېده هم خورا په کراره غږېده. سردار نیکولای اندرېوویچ په کراره، چوپه خوله،خو په جدي بڼه راووت. شهزادګۍ ماریا تر پخوا نه چوپه او با حیا بریښېده. مېلمانه په خورا احتیاط له هغې سره د غږېدا تکل کاوه، ځکه لیدل يې چې هغه له دوی سره د خبرو لپاره هېڅ ډول لېوالتیا نه ښیي. یوازې ګراف راستوپچین و چې د خبرو اترو لړۍ یې تازه ساتله، هغه له ښاري خبرونو نه راپیل، بیا تر سیاست پورې په هر څه کې غږېده.

لوپوخین او عمر خوړلی جنرال به، کله ناکله په خبرو کې ګډون کاوه، سردار نیکولای اندرېوویچ داسې غوږ نیولی و، لکه مشر قاضي چې د نورو ګزارش ته غوږ او یوازې کله کله په چوپیتیا او کله هم په کومې لنډې خبرې دا ښیي چې ده ته وړاندې شویو او اورول شویو خبرو ته يې پام دی.

له خبرو اترو نه داسې څرګندېده، چې په دې ډله کې ټول راټول شوي کسان له هغه څه نه چې په سیاسي بهیر کې کېږي، ناراضه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی په تصور ورځ تر ورځې هر څه د خرابۍ پلو روان دي، خو د حيرت او تعجب وړ خبره دا وه چې کله به خبره ټولو اک ته ورسېده، ويانده به يا خپله يا د بل چا له خوا درېدو او چوپيتيا ته اړ کړل شو.

د ډوډۍ په وخت کې خبره وروستيو سياسي حالاتو، د ناپليون له خوا د (اولوينبورګ) لاندې کولو او د روسيې د دربار له خوا د اروپا ټولو دربارونو ته د ناپليون په اړه د يو ترخه ياددښت لېږلو ته ورسېده.

ګراف راستوپچين وويل:

- ناپليون له اروپا سره داسې کړه کوي لکه د سمندرونو يو غل يې چې د بېړۍ د لاندې کولو لپاره کوي. هغه خپله دا خبره څو واره پرله پسې تکراره کړه:

- دا د اروپا د شاهانو اوږد صبر او په هر څه سترګې پټول، خورا حيرانونکي دي، خبره اوس د عيسويانو مذهبي مشر پاپ ته رسېدلې، ناپليون بې له هغه چې وشرمېږي، غواړي د کاتوليکانو مذهبي مشر راوپرزوي، خو دوی ټول چوپه خوله ورته ګوري. يوازې زموږ ټولواک دی چې د اولوينبورګ دشهزاده د لاندې کولو په وړاندې يې غږ پورته کړی او هغه هم... او ګراف راستوپچين ناڅاپه چوپ شو، هغه داسې احساس کړه، چې دی هغه برېد ته رسېدلی، چې نورنو له هغه اوښتل او د نيوکو اجازه نه شته.

سردار نيکولای اندرېوويچ وويل:

د لاندې شوي اولوينبورګ په ځای يې د مراسمو لپاره بل ځای ښودلی دی. هغه شان لکه ما چې خپل مرييان له ليسه ګوري نه، بوګوچارې او يا ريزان ته ولېږل، دوی هم له (شهزاده) سره همداسې کوي.

باريس چې په خورا درناوي مرکې ته راګډ شو، وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د الوینبورګ شهزاده دغه بد مرغي په عجیبه صبر او مېړانې زغمي. هغه دا خبره ځکه وکړه، چې له پترزبورګ د راتګ نه مخکې یې د شهزاده د دیدن ویاړ په برخه شوی و. سردار نیکولای اندریوویچ دغه ځوان ته داسې وکتل، چې ګواکې غوښتل یې څه ووایي، خو بیا یې دا فکر وکړ چې هغه د ده د خبرو لپاره لا ډېر ځوان دی.

ګراف راستوپچین په داسې یوې ژبه چې ګواکې څوک د کومې آشنا پېښې په اړه خبرې کوي ووېل:

- ما د الوینبورګ د پېښې په وړاندې زمونږ د سخت غبرګون یاددښت ولوست، زه د دغه یاددښت د لیکنې له انشایي ضعیفوالي نه په حیرت کې شوم.

پېیر د سادګۍ په یوې حیرانتیا، راستوپچین ته کتل او په دې نه پوهېده چې د دغه یاددښت د لیکنې د انشا ضعف دی ولې حیران کړی دی، هغه ووېل:

- ښاغلیه ګرافه! زه په دې نه پوهېږم، چې د یاددښت د انشا ضعف څه اهمیت لري، اصل خبره په متن کې ده. متن باید غوره او معنې لرونکي وي.

ګراف راستوپچین ځواب ورکړ:

- ګرانه! چېرته چې پنځه سوه زري پوځ راټولوي، هغو ته به په ښه ښکلی توګه لیکل ګرانه خبره نه وي. او پېیر په دې پوه شو، ولې د یاددښت ناښکلې لیکنې د ګراف خاطر خته کړی دی... خبرې اترې اوږدې، خو بالاخره یې وروسته له کباب شویو غوښو او کچالانو شامپاین (نرم شراب) راوړل، ټول له خپل ځایه پاڅېدل او بوډا ته یې مبارکي ووېله. شهزادګۍ ماریا هم هغه ته ورنږدې شوه.

مشر سردار په ساړه او کړکیچن غلچک هغې ته وکتل او خپل له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګونځو ډک او خریل شوی مخ یې هغې ته وروړاندې کړ. د هغه د خبرې ټول حالت لور ته ویل چې د دوی سهارنۍ خبرې یې هېرې شوې نه دي، سهارنۍ پریکړه په خپل ځای پاتې وه، خو یوازې او یوازې د مېلمنو له برکته هغه او س نه غواړي د هغه په اړه وغږېږي.

تر ډوډۍ نه وروسته کله چې دوی قهوه خانې ته لاړل، ټول یو ځای کېناستل.

سردار اندرې نیکولایوویچ کې، یو شور او لېوالتیا راوپارېده او د پېښېدونکې جګړې په اړه یې خپل نظر واوراوه.

هغه وویل چې له ناپلیون سره به زموږ جګړه تر هغه وخته بد مرغه او بې ګټې وي، چې موږ له المانیانو سره د ټلواله او ملګرتیا غوښتنه او د تیلزتسکي د تړون له مخې د اروپا په چارو کې ځان ته د لاسوهنې حق ورکوو. موږ باید نه د اتریش لپاره او نه د اتریش سره جګړې ته ورګډ شو، زموږ بهرنۍ سیاست باید ټول په ختیځ کې پیاوړی، خو د بناپارت په وړاندې یوه لار لرو، په پولو کې قوي پوځ او پیاوړی سیاست. په دغه شان یو دریځ کې به بناپارت هېڅکله د ۱۸۰۷ کال په شان بیا پر موږ د تېري زړه ونه شي کړای.

ګراف راستوپچین وویل:

- ښاغلیه سرداره !موږ کله کولای شو ،له فرانسویانو سره وجنګېږو ؟ایا موږ کولې شو د خپلو ښوونکو او پیرانو په وړاندې ودرېږو ؟ زموږ ځوانانو ته وګوره ! زموږ پېغلو ته لږ پام وکړه ! فرانسویان زموږ خدایان او پاریس زموږ لپاره جنت دی.

هغه خپل غږ ددې لپاره لاپسې لوړاوه، چې ټول یې واوري:

- کالي مو فرانسوي دي، خیالات مو فرانسوي دي او احساسات مو فرانسوي دي ! ښه ده تاسو متیفه له ځته نیسي او له کوره یې باسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې فرانسوي دی، خو پېغلې او ښځې خو هغې پسې منډې وهي او ورته په ګونډو دي. هو کې جلالتمابه سرداره! کله چې سړی دې ځوانانو ته ګوري، زړه يې غواړي چې د ستر پيټر سوټې له موزيم نه راواخلي او په روسي ډول د هغوی لاس او پښې او ډډې ښې پستې کړي، چې بيا دا لېونتوب ونه کړي.

ټول چوپ شول او مشر سردار چې موسکا يې پرشونډو خوره وه، راستوپچين ته کتل او له هغه سره يې د ملګرتيا په نښه سر ښوراوه.

راستوپچين په خپلې ځانګړې چټکۍ سره پاڅېد، لاس يې مشر سردار ته وروغځاوه او وې ويل:

- ښه، که اجازه راکړئ جلالتمابه، نور به نو درنه لاړ شو، ستا سو روغتيا او اوږد عمر غواړو.

مشر سردار د هغه لاس په خپل لاس کې کېښکود، خپله بشره يې د ښکلولو لپاره هغه ته ورو ړاندې کړه او وې ويل:

- ګرانه د خدای په امان! ستا دا خبرې لکه ښکلی ساز تل د زړه په غوږو اورم. او له راستوپچين سره نور هم پاڅېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

شهزادګۍ ماريا د هرکلو په کوټه کې ناسته او د بوډاګانو خبرې اترې او غيبتونه يې اورېدل.
هغې د دغو خبرو نه په يوه هم نه پوهېده او سر يې نه پرې خلاصېده. هغې يوازې د يو شي په اړه فکر کاوه او هغه دا و، نه چې مېلمانه له دې سره د پلار په خوابدۍ پوه شي. د هغې آن لا د دروبتخکوي (چې د درېيم وار لپاره د دوی کورته راغلی و) هغې مهربانۍ او خواخوږۍ ته هم پام شوی نه و، چې د غرمنۍ په وخت کې يې له دې سره کړې وه.
شهزادګۍ ماريا په پريشان او پوښتنيز غلچک پيېر ته وکتل، هغه چې موسکا يې پرشونډو خوره او خولۍ يې په لاس کې وه او د مشر سردار تر وتلو نه وروسته دواړو يوازې پاتې شوي و، هغې ته ورنږدې شو. پيېر له خپل غټ ځان او ځوربوالي سره، په څوکۍ کې د هغې تر څنګ ځان ورواچاوه او وې ويل:
- اجازه ده، چې لږ نور هم کېنم؟
شهزادګۍ ماريا ځواب ورکړ: اخ، کېنه! د هغې غلچکو له هغه پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستا هېڅ شي ته پام نه شو؟

پېير چې تر غرمنۍ نه وروسته يې طبيعت ښه جوړ و، خپلې مخې ته يې کتل، کرار کرار يې خندل او وې پوښتل:

- شهزادګۍ! تاسو دغه ځوان له پخوانه پېژنئ؟

- کوم ځوان؟

- دروبتڅکوي.

- نه، ډېره وخت نه کېږي.

- ښه، هغه مو خوښېږئ؟

- هو کې په زړه پورې او ښه ځوان دی...

شهزادګۍ ماريا چې لا د خپل پلار د سهارنۍ شور په خيالو کې ډوبه وه، وې ويل:

- پوه نه شوم څنګه مو د هغه په اړه وپوښتلم؟

- له دې کبله چې ما هغه پسې څارل او يو څه ته مې پام شو، څکه چې د پترزبورګ يو ځوان هسې له هغه ښاره، مسکو ته د خپلو رخصتيو د تېرولو لپاره راځي، د هغه هدف دلته د يو بډايئ ناوې پيدا کول هم دي.

شهزادګۍ ماريا وويل:

- او تاسو هغه پسې څارل؟ په زړه پورې خبرې ته مو پام شوی دی؟

پېير چې هماغه شان خندل، وويل:

- دغه ځوان پرته له دې اوس بل کار نه لري، هر چېرې چې بډايې پېغلې دي، دی همالته ښوري. زه اوس لکه کتاب پر هغه پوهېږم، اوس په شک کې دی، چې پر چا بريد وکړي، د تا پلو ته راشي او يا د پېغلې کاراګينا خواته ورشي. څکه د هغوی کورته هم پرله پسې ځي راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- عجبه ده، د هغو کورته هم ځي راځئ؟
- هوکې ډېر زيات. تاسو د نجونو د زړونو د لاس ته راوړلو په نويو لاروچارو پوهېږئ؟

شهزادګۍ ماريا وويل: نه!

پېير وويل:

- اوس د دې لپاره چې د مسکو د نجونو خوښ شي، بايد ځان لېر شانته سودايي ښکاره کړې او د غه ځوان چې کله د پېغلې کاراګينا په مخ وي، ډېر سودايي برېښي.

شهزادګۍ ماريا چې د پېير مهربانې څېرې ته کتل او هماغه شان په خپلو غمونو کې ډوبه وه، وې ويل:

- رښتيا وايئ؟

هغې په زړه کې وويل:

- که مې دا پريکړه کولای شوای چې پر خپل زړه د بار غم پېټې له چا سره وويشم، څومره به ښه شوي وای، څومره به مې زړه غوښتل چې همدې پېير ته د زړه ټول حال وو ايم، هغه څومره مهربان او زړه سواندی سړی دی. زړه به مې تش شوی وای، که هغه راته ويلي وای چې څه وکړم!

پېير وپوښتل:

له هغه سره به دې واده کړی وای؟

شهزادګۍ ماريا چې اوښکې يې له سترګو راشېوه شوې داسې چې آن دې خپله هم دراتوبېدو هيله نه لرله، ناڅاپه وويل:

- اخ، د خدای لپاره ګرافه! تاسو څه وايئ؟

په ژوند کې مې کله داسې شېبې هم وې چې زړه مې غوښتل هرڅوک چې وي، زه واده ورسره وکړم. پوهېږې، دا څومره ګرانه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څوک درته ګران وي او داسې وانګېرې (په دې شبېه کې یې له ژړا نه آواز په رېږدېدو شو) چې هغه ته پرته له خوابدي رسولو بل هېڅ نه شې کولای، په تېره بیا چې په دې پوه شوي چې د دغه حالت د بدلول دې هم له لاسه نه کېږي. نو هغه وخت پرته له دې بله لاره نه پاتې کېږي، چې هر څه پرېږدې... ترینه لاړ شې، خو زه به چېرته لاړ شم؟ زه هېڅوک نه لرم.

- تاسو څه وایئ، شهزادګۍ په تاسو څه شوئ دئ؟

خو شهزادګۍ پرته له هغه چې څه وو ایي په ژړا شوه.

- زه نه پوهېږم نن په ما څه شوي دي، زما خبرو ته غوږ مه نیسئ او هغه څه مې چې ویلي هغه هم هېر کړئ.

د پېیر ټوله خوشالي په خواشینۍ بدله شوه. په خورا پریشانۍ یې له هغې نه پوښتنې کولې او هیله وکړه چې ده ته خپل زړه تش او ټول غمونه ورته وو ایي. خو شهزادګۍ ماریا پرله پسې خپله دا یوه هیله تکراروله چې د دې نه اورېدلې خبرې هېرې کړي او خپله یې هم په یاد نه و چې څه یې ویلي دي. او د دې یوازیني غم هم دا دی چې د سردار اندرې واده به، د پلار او زوی اړیکې خورا کړکیچن کړي.

شهزادګۍ ماریا د دې لپاره چې خبره بل پلو واړوي، وپوښتل:

- تاسو د رستوف د کورنۍ په اړه څه اورېدلي دي؟ ما اورېدلي دي چې هغو به ژر راشي او اندرې ته هره ورځ سترګه په لاره دي. زه هیله لرم چې هغوی دلته سره وګوري.

پېیر پوښتنه وکړه:

- هغه به اوس دې ټولو خبرو ته په کوم نظر ګوري؟

د هغه له کلمې نه د پېیر مقصد مشرسردار او د هغه سخت دریځ و.

شهزادګۍ ماریا پرته له هغه چې ځواب ورکړي، سر یې وښوراوه.

شهزادګۍ ماریا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه کولای شو وکړو؟

څو میاشتې وروسته یې یو کلنه موده پوره کېږي، حالت هم کوم ښه زیري نه لري. زما غوښتنه دا ده چې خپل ورور د لیدنې د لومړیو شپېو نه وژغورم. زما هیله دا ده چې ژر تر ژره راورسېږي او زه ناتاشا ووینم. ګوره ! کولې شې راته ووایې، لاس دې په زړه کېږده او رښتینې خبره راته وکړه، دا نجلۍ څنګه نجلۍ ده؟ تاسو د هغې په اړه څه فکر کوئ؟ هر څه چې د هغه په اړه پوهېږي ټول رښتیا راته ووایې. تاسو خو پوهېږئ، چې ورور مې، سردار اندرې څومره لوی پېټي ته اوږه ورته کړې او د پلار د خوښې بر خلاف یې له ناتاشې سره د واده کولو تکل کړی دی، زه غواړم په هر څه پوه شم.

پېیر د یوې ناڅرګندې غریزې له مخې، دا سې احساس کړه، چې د ناتاشا په اړه د شهزادګۍ ماریا دغه پرله پسې پلټنې، شک او ګمان، ددې ښنه ده چې د خپلې راتلونکې ورینداري په اړه ددې په زړه کې هم ډېرې خبرې دي او هیله یې لرله چې پېیر ي دهغه د ورور دا خوښه ونه مني، خو پېیر هغې ته هغه څه وویل چې زړه یې احساسوله دا چې د عقل تلې تلل، هغه خپله پوه نه شو، چې ولې تک سور شو، خو وې ویل:

- نه پوهېږم، ستا دې پوښتنې ته څنګه ځواب ووایم. زه چور د دغې نجلۍ له زړه نه خبر نه یم. زه د هغه په اړه هېڅ اټکل کولای نه شم، هغه خورا زړه وړونکې ده، خو په دې نه پوهېږم چې څنګه او ولې؟ نور په هېڅ نه پوهېږم، دا هغه څه و چې د هغه په اړه زه پرې پوهېږم.

شهزادګۍ ماریا یو سوړ اسویلی وکړ او د هغې بشره دا سې وه چې ګواکې غواړي ووایي:

- له دې نه پرته مې د بل څه انتظار نه درلود او زه له همدې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاریدمه. هغې وپوښتل:

- هغه هوښیاره او ځیرکه ده؟

پییر په خیالو کې ډوب شو او وې ویل:

- زه تصور کوم نه، کولای شم ووایم، هو ! هغه باید ځیرکه او هوښیاره نه وي. هو کې، نه هغه زړه وړونکې ده او بس.

او شهزادګۍ ماریا د نه په نښه بیا سر وښوراوه.

- پوهېږم ځومره مې زړه غواړي چې راته ګرانه واوسي، که له ما نه دې مخکې ولیده، هیله لرم چې زما له خوا دغه ورته ووایئ.

پییر وویل: اوربدلي مې دي چې نن سبا رائي.

شهزادګۍ ماریا پییر ته وویل:

- تکل یې کړی دی چې له خپلې راتلونکې ورینداره سره نږدې او خورلنډه شي او هڅه وکړي چې مشر سردار هم د هغې ګرانښت ته وهڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

باریس په پترزبورګ کې ځانته بډایه ناوې په پیدا کړای نه شوه، نو ځکه ددې ارمان د پوره کولو لپاره مسکو ته راغی. په مسکو کې هم هغه د دوو کورنیو او بډایو ناویو، شهزادګۍ ماریا او ژولیه په ټاکنه کې حیران پاتې شوی و.

که څه هم شهزادګۍ ماریا له خپلې ټولې نابښکلتوب سره، د باریس لپاره تر ژولیه نه ښکلې او زړه رابښکوونکې برېښېده، خو د پېغلې بالکونسکي له خوا د باریس لپاره له هغه سره مینتوب داسې آسانه نه برېښېده. له هغې سره د مشر سردار د نوم پرکالیزه کې، د باریس هلوځلو په دې هیله چې ورسره وغږېږي او د زړه حال ورته ووایي، هېڅ ګټه ونه کړه او له هغې نه ،د ګنګو ځوابونو نه پرته بل هېڅ څه وانه ورېدل. داسې برېښېده چې هغې د باریس خبرې هېڅ اورېدلې نه وې.

ژولیه برعکس په خورا مینه او لېوالتیا د باریس هرو کړو ته په درناوي کتل او په هغو خوشالیدله.

ژولیه اوه ویشت کلنه او د خپلو دوو ورونو تر مرګه وروسته، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ټوله شتمني دې ته پاتې شوې وه، که څه هم خپله پخوانی مالګینتوب یې له لاسه ورکړی و او په پوره اندازه بدرنګه برېښېده، خو دې نه یوازې ځان د ښکلا بېلګه ګڼله بلکې تصور یې کاوه، چې له پخوا نه لا ښکلې او په زړه پورې شوې ده. ددې دا تصور له دې کبله و چې لومړی خو هغه یوه شتمنه او بډایه ناوې وه او له بله پلوه هر څومره به چې ددې عمر پخېده د نارینو لپاره له هغې سره غږېدل او آشنا کېدل آسانېدل. نارینو له هر ډول غوښتنو او شرطونو پرته کولای شول، د هغې په مېلمستیاو او بنډارونو کې ګډون وکړي... هغه ځوان چې لس کاله مخکې نه شو کولای هغه کورته چې یوه ولس کلنه پېغله ژوند کوي ورشي، ځکه هلته ورتګ به سلګونې خبرې او آن بدنامي پیدا کولې، اوس یې په خورا زړورتیا کولای شو هره شپه د هغې کره ورشي او له هغې سره نه د یوې پېغلې چې د ریبارانو په تمه وه وګوري، بلکې د ښځتوب او نارینتوب له خبرو لرې یې هغه سره ناسته ولاړه کولای شوه.

هغه ژمی، د کاراګین کور په مسکو کې تر ټولو مېلمه پال او له خوښیو ډک کور و. له مېلمستیاوو او بنډارونو نه پرته چې مېلمانه به وربلل کېدل، هره ورځ به ډېر خلک په تېره بیا ځوانان هلته راټولیدل. د شپې په دولسو بجو به یې ډوډۍ خوړله او تر دوه درې بجو به هلته پاتې کېدل. د نڅا هېڅ داسې بنډار، د تیاتر ننداره او بل د خوښۍ محفل به نه و، چې ژولیه هلته ورنه شي. د هغې جامې تل د وروستي دود سره برابرې وې. خو ددې ټولو خبرو سره سره، ژولیه ډېره ناهیله او هرچاته ویل چې هغه په هېڅ چا او شي، نه په دوستۍ، نه په مینې او نه په کومې خوښۍ، په هېڅ شي باور نه لري او یوازې په هغې دنیا کې د آرامۍ او کرارۍ په هیله ده. د هغې غږېدا او کړه وړه هغې نجلۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې کېدل چې یا یې کومه ستره ناهیلي لیدلې وې، یا یې خپل زړه ته ګران څوک له لاسه ورکړی وي او یا هم په ژوند کې چا سخته دوکه کړې وي. که څه هم د دغو ټولو نه یو هم دې ته ورپېښ شوي نه و، خو هغې ته هر چا په دې سترګه کتل او آن خپله یې هم په دې باور درلود چې په ژوند کې یې ډېر زغمونه لیدلي دي. دغو ټولو خبرو، دغه پریشان حالت یوه هم، نه بنډارونو او خوښیو ته او نه د دې کورته د ځوانانو تګ راتګ ته خنډ نه پېښاوه، او نه نورو هغو کسانو ته چې هر ورځ به یې دې د راتګ تکل لاره، هر مېلمه به دې کورته په راتګ سره، له ژولیه سره د هغې په پریښاني کې ځان شریک ګاڼه، بیا به ورځنۍ خبرې اترې، نڅاګانې، ډله ایزې لوبې، ذهني سیالۍ، شاعري او ټوکې ټکالې چې د کاراګین د کور ورځنۍ ژوند یې جوړاوه، کېدې. له ځوانانو نه یوازې څو تنو او له هغې ډلې نه باریس و چې د ژولیه پریشانۍ او غمونه ته یې ژوره پاملرنه او خیال ساته. ژولیه هم د نورو په پرتله تر نورو زیاتې او کله ناکله یوازې خبرې او مرکې کولې، هغوی به د دې دنیا د بې وفایۍ کیسې کولې، خپل عکسونه به یې هغوی ته ښودل او خپلې د خاطرو کتابچې یې چې له مینه ناکو غمجنو سفرونو او ویناوونه ډکې وې، هغو ته لوستلې.

ژولیه د باریس په وړاندې خورا مهربانه وه او په ژوند کې د ناڅاپو غمونو او ناهیلیو له کبله یې له هغه سره د خواخوږۍ په نښه، د خپلې کرارونکي دوستۍ وعده ورکوله، هغه یې تسلاوه او بالاخره دا چې ویل به یې چې په خپله یې په ژوند کې ډېرې ناهیلۍ او زغمونه لیدلي دي. کله چې هغې خپله د خاطرو کتابچه هغه ته پرانسته. باریس هلته دوه ونې رسم کړې او تر هغو لاندې یې په فرانسوي ژبه ولیکل:

ای کلیوالو ونو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو د څانګو او پاڼو تت سايوان
پر ما د غم توري اېرې راوڅنډئ.
په بله پاڼه کې يې يو ګور (قبر) انځور کړ او ورته وې ليکل:
مرګ ژغوررونکی
او مرګ آرامي ښښوونکی دی
آه! چې له عذابونو د تېښتې بله لاره نه شته.
ژوليه وويل: بې ساري ښکلي دي.
هغې په خپله کتابچه کې له کوم کتاب کټ مټ دا ليکل شوي توري باريس ته ولوستل:
ای زهرو چې لېواله او حساس زړه خړوبوئ
بې له تانه به ما نيکمرغي ليدلې نه وای
اې خوږې او مهرباني !خواشيني وزغمه
راشه، راشه او زما غملړلی زړه وپاله
او ما ته د لذت راز راوسپړه.
ژوليه به چنګ راواخېست او هغه ته به يې په شپو کې غږونکې، تر ټولو نه غمجنه نغمه (نکتورن) وغږوله او باريس به د خوارې ليزا ،کتاب د هغې لپاره په لوړ آواز لوسته. هغه به په داسې خوند هغې ته دا کتاب لوسته، چې کله کله به ځکه ودرېد ، چې ساندو به يې ستونی ونيو. کله به چې په لويو بنډارونو کې يا د خلکو په ګڼه ګوڼه کې سره مخامخ شول، يو بل ته به يې داسې کتل، چې تا به ويل په دغه بې غمه ډله کې، دوی يوازيني کسان دي چې يو بل احساسه وي او په ناغږېدا کې پر يو بل پوهېږي.
انا ميخايلوفنا چې د کاراګين کورنۍ ته يې تګ راتګ درلود ، خپله مورنۍ دنده يې تر سره کړه او د ژوليه د ولور په اړه يې پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومات تر لاسه کړه (هغه د روسیه په جنوب کې د پنزه په ښار کې دوه لوی جایدادونه او نیژني ګورد په سیمه کې لوی ځنګلونه او ځمکې وې) انامیخایلوفنا ځان تقدیر ته وسپاره، په دعاوو او زاریو او مینه ناک زړه یې پریکړه وکړه چې همدا شتمنه ژولیه به په خپل زوی ته کوي.

هغې خپلې لور ته وویل:

- پوهېږئ هر څه چې نه وي، زموږ ژولیه خو ښه ښکلې او خماري ده.

باریس د مور خبرو ته هم غوږ و او هم به یې له ملنډو سره مل یوه موسکا پرشوندو راخوره شوه. هغه به په کراره د خپلې مور، په دوکمارو ځانګړتیاوو خندل، خو د هغې خبرې به یې تر پایه د زړه له کومې اورېدې. هغه نه یوازې د هغې خبرو ته پام کاوه خو کله ناکله به یې د پنزې او نیژني ګورد د جایدادونو په اړه پوښتنې هم ترې کولې، او د هغې ځوابونه به یې په ځانګړې ځېرتیاوو اورېدل.

ډېره موده کېده چې ژولیه، د خپل مین او لېوال له خوا ریباری ته سترګه په لاره وه. هغه چمتو وه، چې د غه ریباري ومني، خو له ژولیه نه یو ډول پټې کرکې او له مېړه کولو نه د هغې یو ډول ویرې... د باریس له خوا هغې ته د ریبارانو په لېږلو کې خنډونه جوړول. رخصتي یې ژر پای ته رسېده. که څه هم ډېرې ورځې یې له هغې سره تېرولې، هره ورځ به له ځان سره په دې اړه غږېده او خپلو کړو وړو ته یې دلیلونه جوړول. او ریباري یې ځنډوله، خو له هغې سره په مخامخ کېدو، د هغې د ګلابي څېرې او تل په پودرو سینګار شوې زنې په لیدو یې نور هر څه هېرېدل... که څه هم باریس لا پخوا ځان د پنزه او نیژني ګورد د جایدادونو او ځنګلونو خاوند ګاڼه او په خیال کې یې د هغو د کالني حاصل اندازه اندازه کوله... ژولیه به چې بیا کله د باریس شک او تردېد

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـه وکتـل، دا خيالونـه بـه يې پـه زړه کې ګرځېدل، چې باريس لـه دې نـه کرکـه لـري، خـو سمدلاسـه بـه يـې ښـځينه ځـان خوښـونې، دې تـه ډاډ ورکاوه چې هغه ددې مينې لېونی کړی او په خپله پريکړه کې غـوڅ ګـام اخېستی نه شي، خو ددې خبرو سره سره، دده پريشـاني کـرار کـرار پـه خواشيني او قهر بدليدل او د باريس د تګ نه يې مخکې د يـوې غـوڅې پرېکړې، پرېکړه کړې وه. پـه هماغـه وخت کې چې د بـاريس رخصـتۍ پای ته رسېدې او هغه لـه مسـکو نـه د تـګ تکـل کړی و، پـه مسـکو پـه تېـره بيـا د ژوليـه دوی پـه مېلمسـتون کـې انـاتول کـوراګين پيـدا شـو. ژوليه د هغې په ليدو، خپله پريشـاني او غمونـه هېـر او سـخته خوشـاله او مهربانـه برېښـېده. هغـې انـاتول تـه بـې پايـه پاملرنـه ښـودله. انـا ميخايلوفنا زوی ته وويل:

- زه له خورا ښو ځايو نه خبره شوې يمـه، چې سردار واسيلي خپـل زوی مسـکو تـه ځکـه رالېږلـی دی، چې ژوليـه ورتـه وغـواړي. پـوهېږم، زويه ما له ژوليه سره اوس داسې مينه پيـدا کـړې ده، چې تـه يـې تصـور هم نه شې کولای، د ما هغې ته زړه خوږېږي، ته په دې اړه څه فکر کوئ، زما ګرانه؟

دغـه خيـال چې د ده يـوه مياشـتنۍ خـواري، د ژوليـه کـورتـه منـدې رامنډې او د هغې خدمت، د پنزې او نيژني ګورد د جايدادونو حاصـل، او د هغې ويش او خرڅ چې په ذهن کې انځـور کـړی و، د بـل چـا پـه تېـره بيا د بې عقله آناتول منګلو ته ورنـه شي، باريس ډېر زوراوه. پـه ټينـګ تکل او غوڅ دريځ د ريباري په هيله د ژوليه کره ورغـی. ژوليـه پـه وريـن تندي او خورا خوشالۍ هغه ته هرکلي وو ايه. هغې په ډاګه او آزاد خيـال هغـه د پرونـۍ شـپې د بنـډار او نڅـاوو نقـل وکـړ او وې ويـل چـې ټولـو شيانو دې ته ښه خوند ورکړ. بيا يې له باريسه ددې پوښتنه وکړه چې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت خوځېږئ؟

سره له هغه چې باریس په دې تکل چې له هغې سره به په خورا خواخوږۍ ژبې د خپلې مینې په اړه غږېږي، لږ تند شو او خبرې یې له دې راپیل کړې، چې ښځې څومره بې وفا دي، ښځې څومره په آسانۍ سره خپل غمونه او پریشانۍ هېروي، او ژر خوشالېږي، څومره د دوی غم او خوشالي هغه ځوان پورې تړلې دي، چې له دوی سره وي... او نور نور... د غه خبرې که څه هم په ژولیه بده ولګېده، خو هغې وویل:

- هو کې، همدا سې ده، ته رښتیا وایئ، ښځې رنګارنګ ژوند ته اړتیا لري، ځکه هغوی یو څه او یو ډول کړه وړه ډېر ستومانه کوي.

باریس غوښتل هغې ته کومه ترخه خبره وکړي، خو ناڅاپه یې دې ته پام شو چې تولـه خواري به یې اوبه یوسي. تر دې خبرې وروسته یې سترګې د دې لپاره ښکته واچولې چې د هغې له قهره ډکه څېره او برندې سترګې ونه ویني او وې ویل:

- غواړم تاسو ته یوه لارښوونه وکړم...

سمدلاسه وروسته یې وویل:

- زه ګوره دلته د شخړې او کړکیچ لپاره نه یم راغلی، برعکس زه د دې لپاره راغلی یم...

هغه ببرته د هغې سترګو ته د دې لپاره وکتل چې پوه شي کولای شي خبرو ته دوام ورکړي او کنه. هغه ولیدل چې ناڅاپه د ژولیه له څېرې نه ناآرامۍ او قهر کډه کړې او د هغې پریشانه، لټونکې سترګې د هغه مینې او خواخوږۍ ته سترګه په لارې وې، باریس وویل:

- زه کولای شم تل دا سې وکړم، چې هغه ډېره لږ ووینم، خو پیل شوی کار باید پای ته ورسوم.

د باریس څېره وغوړېده، سترګې یې هغې ته ورپورته کړې او هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته يې وويل: تاسو زما له هغو احساساتو نه خبره ياستي، چې تاسو سره يې لرم؟

نور نو د نورو خبرو ويلو ته اړتيا نه وه. د ژوليه له څېرې نه د برې د غرور او وياړ باران په ورېدو شو، خو هغې په خپلو اداګانو هغه دې ته اړ کړ، چې ټول هغه څه چې يوه نارينه يې په دغه شان حالاتو کې ښځو ته وايي، ووايي، هغه وروسته وويل چې هغه ډېره ورته ګرانه ده، دا چې هغه ته په ژوند کې، بل وخت او بله ښځه هېڅکله دا سې ګرانه نه وه. هغه په دې پوهېده، ژوليه د پنزې د جايدادونو او د نيژني ګورد ځنګلونو دغه شان مينه ناکو خبرو وړتيا لري او هغې هغه څه خپل کړل چې ارمان يې لاره.

ځوانو کوژديانو ناوې او شاه نور هغه ونې چې پر دوی يې د غم اېرې ورولې هېرې کړې وې، هغوی د راتلونکي ژوند ښکلاوې انځورولې، او په پترزبورګ کې يې د پرتمينو ماڼيو د جوړولو غوټې تړلې. بيا د خپلو خپلوانو يارانو ديدنونه او يو نه هېرېدونکي او پرتمين واده ته چمتووالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

ګراف ایلیا اندرېوویچ د ناتاشا او سونیا په ملتیا د جنورۍ په وروستیو کې مسکو ته راغلل. مشرې ګرافینې د ناروغۍ له امله نه شو کولای له هغو سره راشي. وخت خورا کم و او نور په دې هیله چې د ګرافینې روغتیا ښه شي، انتظار کېدای نه شو، ځکه نن سبا سردار اندرې رارسېدونکی و. ددوی بله ستونزه دا وه چې د خپلې لور د واده د ولور په خاطر (په روسیه کې پخوا د نجلۍ پلار ورکاوه) د مسکو په څنډه کې خپلې څه ځمکې خرڅې کړې وای... په مسکو کې ددوی د کور د تودولو چاره، هم شوې نه وه، ځکه دوی له یوې خوا د لنډې مودې لپاره راغلي و او له بله پلوه ګرافینه هم له دوی سره نه وه. نو له دې کبله ایلیا اندرېوویچ پریکړه کړې وه چې په مسکو کې د ماریا دیمیتریوفنا کره چې پخوا یې دوی رابللي و، دیره شي. دشپې ناوخته و چې د رستوف د کورنۍ څلور ګاډۍ د مسکو د ستارایاکانیوشنایا په واټ کې د ماریا دیمتریوفنا د حویلۍ مخې ته ودرېدې. ماریا دیمتریوفنا ځکه یوازې ژوند کاوه چې لور یې واده شوې وه او زامن یې هم هر یو خپلو کارونو او ژوند پسې تللي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پخوا په شان هماغه شان نیغه نیغه ښوربده، په ډاګ او سپینې خبرې یې کولې، په لوړ اواز او په غوڅه یې ټولو ته خپل نظر څرګنداوه، د خپلو ټولو نیمګړتیاوو، بې برې ژوند او پریشانۍ له کبله بې نور ملامتول او غندل. سهار وختي به یې ژیړې کورنۍ جامې او پیش بند په ځان او کورنۍ چارې سرته رسولې.بیا به د جشنونو په ورځ کلیسا او وروسته به زندانو ته تله، دې د دغه کارونو په اړه چا ته هېڅ شي نه ویل، د اونۍ په کارې ورځو کې به یې ښې جامې واغوستې، په خپل کور کې به کېناسته او رنګارنګ او د بېلابېلو دندو خلک به یې منل چې د خپلو اړتیاو د لرې کولو او سرته رسولو لپاره دې ته راتلل. بیا به یې غرمنۍ خوړله او په غرمنۍ کې به تل درې څلور تنه مېلمانه ددې په دستر خوان چې له خورا ډېرو او خوږو خوړو نه ډک وو، ناست وو. تر غرمنۍ وروسته به یې په ګډه د بوستون لوبه کوله، د شپې به یې یو څوک دې ته اړول چې دې ته ورځپاڼې یا کوم کتاب ولولي او خپله به یې څه شي ګنډل او یا یې اوبدل، کله ناکله او ډېر لږ به یو نیم چېرته تلله، هغه هم که به چېرته تلله، په ښار کې به د ډېر نېږدې او غوره پېژندل شویو کسانو کره ورتله.

هغه لا ویده نه وه چې رستوفیان راورسېدل. د کور په دهلیز کې شر اوشور جوړ شو رستوفیان او د هغو چوپړان له ډېرو سړو نه ژر ژر، کورته راننوتل.ماریا دیمتریوفنا چې عینکې یې پر پزې رالوېدلې وې، سر یې شاته نیولی و ،د صالون د دروازې مخکې ولاړه وه، هغې په برندو سترګو او پریشانه حالت نویو راننوتونکو ته کتل. که په هغه شېبه کې د نویو مېلمنو دبادونو دځای پر ځای کولو لپاره چوپړانو ته د هغې د مېلمنو ځانګړې اوله غمخورۍ ډکې سپارښتنې نه وای، کېدای شي تصور شوی وای، چې هغه د هغو له بې وخته راتګ نه ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواشيني او غـوا ړي چې هغـه وشرړل شي. پرتـه لـه هغـه چې لـه چا سـره ستړي مشـي خواره مشي وکړي، بارونو او پنډونو ته يې اشـاره کولـه او ويل يې:

- دا بکسـونه، د ګـراف دي، دې خـوا تـه يـې راوړئ، د نجونـو کـالي هلته، کين خوا ته کېږدئ. هغې پر چوپړانو چغې وهلې:

- دا څه غوړه مالي کوئ؟ هي هي ! سماوارته اور ورته کړئ !

د ناتاشا دستمال يې د هغـې لـه يخـه سرو شـويو اننګو او څېـرې نـه لرې کړ، هغه يې ځان خواته رانېږدې کړه او وې ويل:

- ځوربه شوې يئ ! ښکلې شوې يئ ! آهو، چې څومره يخ دې شوى دى !

پر ګراف يې چې غوښتل ددې لاس ښکل کړي، لږ چغه غوندې کړې:

- ښه به دا وي چې لومړى دې کوټ وباسئ، جامې وباسه، يخ بـه دې شوى وي.

هغې پر چوپړ غږ وکړ:

- له چاى سره لږ د رم شراب هم راوړئ.

سونيا تـه يـې پـه فرانسـوي سـتړې مشـې وويلـه او پـه دې فرانسـوي ويلـو کـې يـې د پـالنې سره سره سـونيا تـه د يـو ډول سـپکاوي غـږ هـم اوربدل کېده. کله چې ټولو درنې جامې وويستې، د سفر نښې يې لـه ځانه لرې کړې او چاى ته سره کېناستل، ماريا ديمتريوفنا پـه وار سـره هر يو جلا مچ کړ او وې ويل:

- د زړه لـه کومې مو پـه راتـګ او پـه خپـل کـور کـې لـه پـاتې کېدو نـه خوشاله يم.

- هغې چې په معنا لرونکي غلچک ناتاشې ته کتل وويل:

- بوډا هلته دى او نن سبا يې زوى هم رارسېدونکى دى. بايـد، بايـد

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه سره پېژند ګلوي وشي. هرومرو ښه ده، ورکه وه يې، په داسې حال کې چې سونيا ته يې کتل او ويل يې چې نه غواړي د هغې په مخ کې څه ووايي، ګراف ته وويل:

-ښه اوس نو غوږ شه ! سبا ته څه کوئ؟ د چا ديدن ته تلل غواړئ؟ شين شين؟

خپله يوه ګوته يې د شمېر په ننښه قات کړه او وې ويل:

- دوه، اناميخايلوفنا ! هغه له خپل زوی سره دلته ده. خپل زوی ته واده کوي. وروسته بيا غواړي ببزاوخوف هم وګورئ که څنګه؟ هو کې هغه هم له ښځې را تښتېدلی خو اوس هغه پسې راغله او همدلته ورسره ده. هغه د چارشنبې په ورځ همدلته و، د هغه نه يې موخه پېير و. بيا يې نجونو ته اشاره وکړه او وې ويل:

- ښه اوس دوی څنګه کېږئ؟ سبا ته دوی د (ايفروسکي) لمانځتون ته بيايم او تر هغه وروسته له هغو سره فرانسوي کاليو مغازې (اوبرشالمه) ته ځم. هرومرو دوی نوې جامې غواړي کنه؟ زما کاليو ته مه ګورئ، نن سبا لستوڼي دغه شان نه ګنډل کېږي. څو ورځې د مخه ځوانه شهزادګۍ ايريناواسيلوفنا، زما کره راغله. خدای دې چا ته نه ښيي. داسې يې وګڼه چې دوه جامونه يې په اوږو بار کړي وي. اوس نو دودونه (مودونه) ورځ تر ورځ يې بدلېږي. بيا يې ګراف ته په څه ترخه ژبه وويل:

- ښه ده ورکه وه يې، ستا ژوند او کار څنګه دی؟

ګراف ځواب ورکړ:

- پوهېږئ، هر څه او ټول يو په يو وران شوي دي. لومړی بايد دوی ته جامې راونيسم، بيا هغه د مسکو د څنډې کورونو ته اخېستونکی پيدا شوی دی، اوس نو که ستا خوښه وي، يو ورځ به زه درنه لاړ شم خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونې به تا ته پرېږدم... که وشوه مارینسکا یا ته به هم ورشم.

- ښه ده، ښه ده، له هغو نه بې غمه اوسه! داسې یې وګڼه چې په یو ښه روزنتون کې دي. دوی چې هر چېرې وغواړي، هلته به یې بوزم، که شیطاني وکړي، بیا به ګوري، ناز او نازولومې هم زده دي، ماریا دیمتریوفنا د دې خبرې سره هممهاله، خپلې ځېرې منګلولې د ناتاشې غومبوري ته چې هغه یې د زړه سره او د مینې لور ګڼله وروړل.

بله ورځ سهار، ماریا دیمتریوفنا نجونې لومړی د ایفروسکي لمانځتون او تر هغه وروسته د مېرمین شالمه مغازې ته بوتلې. دغه ښځه هومره له ماریا دیمتریوفنا نه ډارېده چې هغې ته به یې د سترګو په رپ کې هر ډول جامې د دې لپاره آن په تاوان هم ورکولې، چې ژر ترژره دا پرېږدي او لاړه شي. ماریا دیمتریوفنا د ناتاشې د واده د ټولو جامو سپارښتنه وکړه، او کورته لاړه. کورته د راستنېدو سره سم یې له ناتاشې پرته، ټول له خپلې کوټې وویستل او دې ته ګرانه ناتاشه یې تر خپل څنګ کېنوله او ورته وې ویل:

- اوس به سره وغږېږو! تا ته ستا د بولې (نامزدۍ) مبارکي وایم. ښه مېړه دې پیدا کړی دی. زه هغه له وړو کلونو نه (لاس ځمکې ته ورښکته کړ) پېژنم. ناتاشا له خوشالۍ نه تکه سره شوه. ماریا دیمتریوفنا دوام ورکړ:

- هم هغه، هم د هغه ټوله کورنۍ خورا راته ګرانه ده. اوس نو راته غوږ شه! ته خو پوهېږې چې بوډا سردار نیکولای هېڅ نه غوښتل چې زوی یې واده وکړي. هغه یو عصبي بوډا دی. هغه خورا اخلاقي او دوديز سړی دی. خو پروا نه لري، سردار اندرې، البته چې ښکاره خبره ده، هغه د چا خبرې نه اوري، بې له هغه نه، خپلې چارې سرته رسوي، خو بیا هم د کورنۍ له خوښې نه پرته واده کول به غوره کار نه وي. هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید په اندازه وي او ته هوښیاره او ځیرکه یې، هر څه کولای شي، هرڅه. ته به خپل ژوند جوړ کړای شي، مهربانه او ښکلې یې.

ناتاشا چوپه خوله... ماریا دیمتریوفنا داسې تصور وکړ چې د ناتاشا چوپتیا د بې پروایۍ نښه ده، خو اصلاً ناتاشا نه غوښتل چې د هغې او سردار اندرې د ژوند په اړه وغږېږي، ځکه هغې داسې تصور کاوه چې د هغې مینه دومره له نورو نه توپیر لري، چې هېڅوک په هغه څه نه پوهېږي، چې دا پرې پوهېږي. هغې په ټوله نړۍ کې یو تن پېژاند او هغه سردار اندرې و... هغه ته، هغه ګرانه وه او باید ژر تر ژره راغلی وای، دا یې له ځانسره اخیستې وای او نور نو هېڅ هغې نه غوښتل او نه یې هیله لرله.

- ایا ته پوهېږئ چې هغه زه له پخوا پېژنم! ستا نږور (د مېړه خور) ماشنکه (شهزادګۍ ماریا) هم راته ګرانه ده. هغې ما نه غوښتلي چې له تا سره یې پېژند ګلوي وکړم. ته سبا ته له پلار سره هغې ته ورځې، هغه مهربانه او خواخوږې ده، هغه تر تا مشره ده. هو کې مخکې له هغه چې هغه راورسېږي، ته به د هغه له خور او پلار سره پېژند ګلوي ولرې او هغو ته به ګرانه واوسئ. منې یې کنه؟ څه فکر کوئ، همداسې ښه ده او کنه؟

ناتاشې په ناخوښۍ ځواب ورکړ: ښه ده، ښه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

بله ورځ ګراف ایلیا اندربووېچ د ماریا دیمتریوفنا په سپارښتنه له ناتاشې سره یو ځای د سردار نیکولای اندرېوېچ دیدن ته ورغلل. ګراف دغه دیدن ته چندان زړه نه ښه کاوه او له سردار سره یې له کتو نه ویره درلوده. ګراف، له سردار سره خپله وروستنې کتنه، وریادوله او هغه دده له خوا غرمنۍ ته د سردار رابلل او په ځواب کې یې دده غندنه وه. له بله پلوه ناتاشا چې خپلې تر ټولو نه ښکلې جامې اغوستې وې، سخته خوشاله او مسته بربښېده، هغې له ځانسره فکر کاوه:

- دا ناشونې خبره ده چې زه هغو ته ګرانه ونه اوسم. زه تل، ټولو ته ګرانه وم. زه د هغو لپاره هر ډول سربښندنې لپاره چمتو یم. زه به هر هغه څه وکړم، چې هغوی یې هیله لري. زه چمتویم، هغه باید زړه ته ځکه ګران کړم، چې هغه د اندرې پلار دی، شهزادګۍ ماریا به زړه ته ګرانه کړم، ځکه چې هغه د هغه خور ده، نو ولې به زه هغو ته ګران ونه اوسم؟ هغوی ټول، د ورد یژنکا په واټ کې، د هغو غم ورونکې کورته ورسېدل او د هغوی انګړته ورننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګراف په تریو تندي، خو خندا سره وویل:

- خدای دې مور ته ول وساتي !

خو د ناتاشا دې ته پام شو چې پلار یې د هرکلو کوټې ته د رارسېدو سره سم، څه وارخطا غوندې و او په حیا سره یې په کراره وپوښتل، چې ایا سردار او شهزادګۍ په کور کې دي؟

وروسته له هغه چې د هغوی د راتګ خبر ورکړل شو، ټول چوپړان یو ډول ګبنۍ پسې واخېستل، هغه چوپړ چې یې په چټکۍ غوښتل د کور خاوند ته دده د رارسېدو خبر ورسوي، یو بل چوپړ یې په تالار کې ودراوه او څه یې پټ پټ هغه ته وویل... داسې بریښېدل چې د سردار په اړه څه ورته وایي. په همدې شېبه کې و چې تر ټولو مشر چوپړ چې طبیعت خورا ډېر خراب و، راغي، ګراف او ناتاشا ته یې وویل چې سردار له ده سره د کتنې هیله نه لري، خو شهزادګۍ ماریا تاسو نه هیله کوي، چې هغې ته ورشئ، تر هر چا د مخه پېغله بوري ین د هغو هرکلي ته راووته، هغې په یوه ځانګړي احساس پلار او لورته هرکلي ووایه او د شهزادګۍ د کوټې پلو یې بدرګه کړل. شهزادګۍ په خورا ګبنۍ چې مخ یې له قهره تک سور او له ډاره رېږدېده، له خپلې کوټې راووته او ددوی مخې ته راغله، هغې هسې بې ګټې هڅه کوله چې هغو ته ځان آرامه او خوشاله وښیي. شهزادګۍ ماریا له هماغې لومړۍ کتنې نه خوښه نه شوه. ناتاشا هغې ته، ډېر سینګار شوې، ساده ډوله، خوشاله او ځانښوونکې وبرېښېده. شهزادګۍ ماریا خپله هم په دې نه پوهېده چې د خپل ورور د راتلونکې ښځې تر لیدو مخکې یې د هغې په اړه څه ډول قضاوتونه کړي دي او د هغې پر ځوانۍ، ښکلا او نیکمرغۍ او له دې کبله چې د هغه ورور د خوښې نجلۍ ده، رخه کړې ده... له بله پلوه هغه له دې کبله هم ناآرامه وه چې پلار یې د مېلمنو د راتګ په خبر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چغه کړي و چې هېڅ د هغو د لیدو هیله نه لري. که شهزادګۍ ماریا د هغو د لیدو هیله لري، کولای شي، هغه وګوري. هغه په ټینګه ویلي و چې ده ته څوک ورپرېنږدي. شهزادګۍ ماریا پریکړه وکړه، چې له ناتاشې او پلار سره یې وګوري، خو هره شېبه له دې ډارېده چې سردار بیا کوم څه ونه کړي، ځکه د ناتاشا او د هغه د پلار راتګ هغه سخت لمسولی و. ګراف شهزادګۍ ته د درناوي په هیله، پښې ودربولې، په خواشینۍ سایې داسې شاوخوا وکتل چې تا به ویل اوس به له کومې خوا نه ناڅاپه سردار راشي. هغه وویل:

- هوکې، دغه ده، ما مې خپله مهربانه بلبله تاسو ته راوسته.و نه پوهېږئ څومره خوشاله یم چې له تاسو سره مې پېژند ګلوي پیدا کړه. افسوس، افسوس چې د سردار روغتیا ښه نه ده

او نور یې څو نورې همداسې خبرې یې وکړې، پاڅېد او وې ویل:

- ګرانې شهزادګۍ که اجازه راکړئ، خپله ناتاشا به د یو پنځلسو دقیقو لپاره درته پرېږدم،داسې د دسابا چیا ، تر ډګر پورې د اناسیمیونوفنا کتنې ته ورځم، بیا بېرته راستنېږم او دواړه به درنه لاړ شو.

ایلیا اندرېوویچ (هغه شان یې چې وروسته لور ته وویل) دا خبره یې هسې ددې لپاره جوړه کړې وه چې لور او هغې د مېړه خور یوازې سره کېني، د زړه خواله او څه له نېږدې پېژند ګلوي سره پیدا کړي... خو پېغلې بوري ین د شهزادګۍ ماریا هغو کتو ته چې له هغې نه یې ددې لپاره له کوټې نه د وتلو غوښتنه کوله،چې هغې سره د زړه د خوالې لپاره یوازې پاتې شي،په خورا بې پروایۍ کتل او له کوټې نه، نه وتله. هغه نه یوازې له کوټې نه ونه وتله بلکې له هغې سره یې د مسکو د بوختیاو او تیاتر په اړه زړه خواله پیل کړه... د ناتاشا لپاره هر څه ناوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خواشينوونکي بريښېدل. شهزادګۍ ماريا يې خوښه نه شوه، هغه يې تر پامه بې عقله، شډله او ناخواخوږې ورغله. ناتاشا پرته له هغه چې پوه شي، په خبرو کې داسې ژبه غوره کړه چې ماريا يې له ځانه لا پسې لرې لرې کړه. پنځه دقيقې لا له دغو زورونکو خبرو اترو نه تېرې شوې نه وې، چې په ځپلکو کې د نغښتو پښو د ګامونو غږ واورېدل شو. داسې ګامونه چې په چټکۍ رانږدې کېدل. د ماريا په څېره کې د ويرې او وحشت نښې راښوه شوې. د کوټې دروازه راخلاصه او سردار چې خولۍ يې پر سر او سپين کميس په غاړه و، راننوت. هغه وويل:

- اخ اغلې! اغلې ګرافينې! ګرافينه رستوفه! فکر کوم تېروتلى نه يم دا تاسو ياست. هيله کوم ما به وبښئ، وبه مې بښئ، زه نه وم خبر اغلې! خداى شاهد دى، چې خبر نه وم. خداى شاهد دى چې خبر نه وم، چې تاسو مورږ ته د خپل ديدن وياړ رابښئ. زه په دې جامو کې لورته راننوتم. هيله کوم چې ما به وبښئ، خداى شاهد دى... نه وم خبر.... هغه داسې دا خبره تکراروله، چې له ورايه ښکارېده چې رښتيا نه ده. هغه د خداى په کلمه ډېر ټينګار کاوه. دغه ټينګار دومره بې خونده بريښېده چې شهزادګۍ ماريا پاڅېده، سترګې يې داسې ښکته واچولې، چې نه يې ناتاشا او نه يې پلار ته، يوه ته هم د کتو توان نه لاره. ناتاشا هم پاڅېده، درناوي يې وکړ، خو نه پوهېده څه وکړي. يوازې، پېغله بوري ين د زړه له کومې خندل.

بوډا همداسې غړمبېده: هيله کوم وبښئ، هيله کوم وبښئ، وګورې خداى شاهد دى چې نه وم خبر. هغه له سره تر پښو پورې ناتاشا وڅارله او له کوټې نه ووت. پېغله بوري ين له دغه پېښې نه وروسته لومړى ځوک و چې د سردار د ناروغۍ په اړه يې خبرې پيل کړې. ناتاشا او شهزادګۍ ماريا پرته له هغه چې څه ووايي، همداسې چوپه خوله يو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کتل، څو مره چې په چو پيتيا کې يو بل ته د غه کتل اوږد ېدل، او هغه څه چې بايد دوی يو بل ته ويلي وای او ويل يې نه شول، د هغوی کرکه يو له بله زياتېدله.

کله چې ګراف راستون شو، ناتاشې له دوده لرې بې سارې خوشالي وکړه او تګ ته يې تلوار ښوده. ناتاشا په دې شېبه کې نور نو د غه زړه، وچکۍ پېغله (شهزادګۍ ماريا) چې دا يې له داسې يو کړکيچن حال سره مخامخ کړې وه او د نيم ساعت په اوږدو کې يې آن يو خبره هم د سردار اندرې په اړه نه وه ورسره کړې، نه ليده، نه اورېده. ناتاشا په زړه کې وويل:

- نو ما خو نه شو کولای، ددې فرانسوي ګکې په مخ کې، لومړی خبرې پيل کړم. شهزادګۍ ماريا هم له ناتاشې سره همداسې په عذاب وه، لکه ددې غوندې. هغه په دې پوهېده چې بايد ناتاشې ته يې څه ويلي وای، خو کولای نه شو، ددې فرانسوی په مخکې چې له ناتاشې سره يې د خپلو خبرو خنډ ګڼله، خبرې پيل کړې. بيا يې وويل چې په څه علت ددې واده په هکله له ناتاشې سره د خبرو پيل داسې ګرانه وه.

کله چې ګراف، لاړ له کوټې ووت، شهزادګۍ په چټکو ګامونو، ناتاشې ته ورنږدې شوه، هغه يې له لاسه راونيوله، يو ژور اسويلی يې وويست او وې ويل:

- ودرېږه، زه بايد له تا سره...

ناتاشا له ملنډو نه په ډک غلچک هغې ته وکتل خو خپله هم په دې نه پوهېده چې د شهزادګۍ ماريا کوم کړه، د ملنډو وړ دي. شهزادګۍ ماريا وويل:

- ګرانې ناتاليا ! پوهېږم زه د زړه له کومې خوشاله يم، چې ورور مې خپل بخت موندلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادګۍ خبرې څکه پرې کړې، چې نه پوهېده، رښتيا نه وايي. د ناتاشې د خبرو دې پرېکېدو ته پام شو او د هغې د ناڅاپه بندېدو د علت تصور يې وکړ، په ډاډه خو په ترخه ژبه چې ددې ستونې يې کېښکود او اوښکو د راشېوه کېدو غوښتنه کوله، وويل:

- شهزادګۍ اوس به په دې اړه خبرې، خورا بې ځايه وي، خو له کوټې نه په وتلو سره يې وويل:

- ما نو څه کړي دي؟ ما نو څه ويلي دي؟

هغه ورځ، غرمه تر ډېرو پورې ناتاشې ته انتظار پاتې شول. هغه په خپله کوټې کې ناسته وه، سلګې يې وهلې، ژړل يې او اوښکه يې تويولې. سونيا يې تر سره پورې ولاړه وه، د هغې څنګ يې نازولې او ورته ويل يې:

- ناتاشا څه خبره ده؟ ستا يې پر هغو څه؟ ناتاشې ! دا ټول تېرېږي، غم مه کوه !

- نه، نه داسې نه ده، که ته پوهېږې، چې څومره زورونکې ده، تصور کوم...

سونيا وويل:

- داسې مه وايه ناتاشې ! ته خو ملامته او ګرمه نه يې. د تايې څه؟ واخله، واخله مچ مې کړه.

ناتاشا سر راپورته کړ، خپله خورلنډه يې پر شونډو ښکل کړه او خپله له اوښکو ډکه بشره يې پر هغې ورکېښکودله، او وې ويل:

- زه نه شم ويلي او نه پوهېږم چې څوک ګرم دي، هېڅوک ګرم نه دي، زه خپله ملامته يم، خو هر څه خورا ګران او زورونکي وو. اخ، اخ چې ولې هغه نه راځي !

هغه په سرو سترګو غرمنۍ ته ورغله. ماريا ديمتريوفنا چې د مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار له خوا د رستوفیانو د پلار او لور په وړاندې له کړو نه خبره وه، داسې یې ښودله چې د ناتاشا لـه تريـو تنـدي، هـېڅ خبـره نـه ده. هغـه همداسې لـه ګراف او نـورو مېلمنـو سـره پـه لـوړ آواز لـه خنـدا نـه ډکـې خنداګانې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

په دغه ماښام رستوفیان هغې او پرا ته لاړل چې ماریا دیمتریوفنا یې تکتونه ورته پیدا کړي وو. ناتاشا نه غوښتل چې تیاتر ته لاړه شي، خو د هغې پاملرنه ته په پا سره چې هغې دې ته کړې وه، نه شو کولای لاړه نه شي.

کله چې ناتاشې کالي وا غوستل تالار ته ووته، هلته پلار ته د انتظار په شېبه کې هینداري ته ودرېده، په لویې هینداره کې یې خپلې څېرې ته وکتل، وې لیدل چې ښایسته ده، ډېره ښایسته، په دې لیدو لا غمجنه شوه، خو د هغې دغه غمجن والي د مینې او لېوالتیا غم و.

په زړه کې یې وویل:

- ای پاکه پروردګاره! که هغه دلته وای، نور به مې د پخوا په شان احمقانه حیا او شرم کې نه وای. بلکې په یو بل ډول او په خورا اسانۍ به مې مړوندونه ترې تاوول، په غېږ کې به مې نیو او دې ته به مې اړاوه چې په هماغه ځیرکو، پلټونکو او له پوښتنو نه ډکو غلچکونو چې زیاتره وخت یې راته کتل. راته کتلي وای. هغه وخت به مې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خنـدولای وای، هغـه شـان بـه مـې خنـدولای لکـه هغـه وخـت مـې چـې خنداوه... د هغه سترګې، وای وای چې څنګه زغـردې مـې لیـدلې، زمـا یې دهغه پر خور او پـلار څه؟ مـا تـه یـوازې هغـه ګـران دی، هغـه یـوازې هغه، له هماغې بشـره سره، لـه همـاغو سـترګو سـره لـه همـاغې موسـکا سره، هماغه نارینه او له ماشوم وزمه موسکا سره... نـه، نـه ښـه بـه دا وي چې دهغه په اړه فکر ونه کړم، هېر يې کړم، همدا اوس یې چور هېر کړم. زه به دا بېلتون ونه شم زغملای. هغـه لـه هینداړې لـرې شـوه او ځـان یـې ټینـګ کـړ، چـې ونـه ژاړي. پـه سـونیا یـې سـترګې ولګېـدې. هغـې چـې جامې اغوستې او پکه یې په لاس کې وه، راننوته، د هغـې پـه لیـدو یـې وویل:

- دا سونیا څنګه کولای شي، دا سـې پـه کـراره او بې شراو شـوره لـه نیکـولای سـره مینـه ولـري، څنګـه کـولای شـي هغـه تـه،دومره ډېـر ځنـډ کېني او سترګه په لاره پاتې شي، نه، نه هغـه چـور بـل ډول ده، زه دا سـې نه شم کولای.

ناتاشـا پـه دې شـېبه کـې دا سـې انګېرلـه او د نرمـۍ او مهربـانۍ پـه دا سې احساس کې ډوبه وه، چې یوازې په دې چې دا مینه او پـر دې پـوه شي چې څوک پـر دې مـین دي، ددې تسـل نـه کېـده. هغـې دې تـه اړتیـا لرلـه، همـدا اوس یـې اړتیـا لرلـه، چـې خپـل مـین او ده تـه ګـران چـا نـه مړوندونه تاو کړي، له هغه سره خبرې وکړي او له هغه نـه د مینـې خبـرې واوري، له هغې مینې او خبرو نه چې په ګوګل کې یې نـه ځایېـدې. اوس تر هغو چې دوی روان و او دا پـه ګاډۍ کـې د خپـل پـلار تـر څنګـه ناسـته وه، په خیالو کې ډوبه وه، د ګاډۍ د یخ وهلو ایینـو تـر شـایې پـر واټ د درېدلو څراغونـو، تېرېـدونکې رڼـا لیـدلـه، هغـې ځـان لاپسـې مـین او غمجن انګېره. هغه په دې مینه او غم کې دا هېره کړې وه چې هغـه لـه چـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره چېرته روانه ده. بالاخره يې ګاډۍ د نورو ګاډيو له کتاره سره برابره او تګ يې آرام شو، په لوېدلې واورې د رستوفيانو ګاډۍ د تياتر مخې ته ورسېده. ناتاشا او سونيا د خپلو کميسونو لمنې راټولې او په چټکۍ يې له ګاډۍ نه راودانګل او ګراف هم په راښکته کېدو کې چوپړانو مرسته وکړه. درې واړه د مېرمنو، ښاغلو او د اعلان پلورونکو په منځ کې، د تياتر تالار ته تلونکي دهليز ته وربرابر شول. نور نو د تياتر دلوژ له دروازې د موسيقۍ غږ اورېدل کېده.

سونيا په بنګهاري ناتاشې ته وويل:

-نتاليا ويښتان دي !

د تياتر لارښود په خورا درناوي او په يو ښنګ د مېرمنو په وړاندې خم شو او په چټکۍ يې د تياتر د صالون دروازه ددوی پر مخ پرانسته. د موسيقۍ غږ نور نو ښه اورېدل کېده او د هغوی د سترګو په وړاندې، د تياتر رڼا شوي کتارونه، د ښځو بربنډې اوږې او مړوندونه، د هغوی ګڼه ګونه او شراوشور او د تياتر د پارتر په برخه کې ښکلې پوځي دريشيانې، وځلېدلې. يوه مېرمن چې ګاونډ لوژ ته ورننوتونکې وه، ناتاشه يې له ښځينه رخې نه په ډک غلچک وڅارله. د تياتر پردې لا پورته شوې نه وې او( اوروتو ) نغمه يې غږوله. ناتاشې چې هڅه کوله د خپل کميس لمن راټوله کړي، له سونيا سره يو ځای روانه او مخامخ رڼا شوي لوژ ته په کتو کتو کې په خپل ځای کې کېناسته. ډېره موده يې دغه احساس، چې په سلګونه جوړه سترګې يې بربنډې غاړې او مړوندونو ته ګوري، احساس کړی نه و. ناڅاپه يو ښکلی او يو غمجن احساس چې ددې په ګوګل کې يې بې شمېرې خوږې او ترخې خاطرې او يادونه راپارول، پر دې راخور شو.

ګراف ايليا اندرېوويچ او له هغه سره مل دوو ښکلو او خورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته نجونو چې ډېره موده په مسکو کې لیدل شوي نه وو، د ټولو پام ځانته ورواړاوه. د هغه ترڅنګ ټولو د ناتاشې او سردار اندرې د بولې په اړه یوه ناڅرګنده خبرتیا اورېدلې او په دې پوهېدل چې تر هماغه بولې نه وروسته د رستوف کورنۍ په کلي کې میشته شوې، نو ځکه یې د روسیې د یوه پېژندل شوي ژنې، کوژدنۍ ته داسې برګ برګ کتل.

ناتاشا هماغه شان چې نن ماښام ټولو هغو ته ویل، په کلي کې لا ښکلې شوې وه او هغه شپه د هغې ګېنې له امله چې دا یې پسې اخېستې وه، لا پسې ښکلې او ښکلې برېښېده. دغې ښکلا د ژوند سره لېوالتیا او شاو خوا کې تېرېدونکو حالاتو ته نه پام، د ټولو پام لاپسې ځانته رااړاوه. د هغې تورو سترګو پرته له هغه چې ځانګړې څوک ولټوي، ګڼه ګونې ته کتل. د هغې ډنګر او تر څنګل پورې بربنډ لاس چې پر بخمل پوښ شوي لوژ ایښي و او منګلو یې ددې له ارادې نه پرته، د موسیقي (اوورتور) له وزن سره، هم مهاله د تیاتر د خپرونې پر قات شوي کاغذ، په تکرار سره کېښکودل کېده.

سونیا وویل: الینینا ته ګوره! ښکارې له مور سره راغلې ده.

ګراف وویل: وای پلارجانه! میخاییل کیریلیوویچ ته ګورئ، نور هم څورب شوی دی.

- زمونږ خپلې انا میخایلوفنا ته وګورئ! د هغې خولۍ ته ګورئ!

- د کاراګین کورنۍ او ژولیه هم دلته دي، باریس هم ورسره دی، رښتیا هم لکه شاه او ناوې برېښي.

- یعنې نیکولای دروبتڅکوي، له هغې نه د واده غوښتنه کړې ده؟

شین شین چې ددوی کتار ته ورګډېده، وویل:

- نن یو نوی زیری راته رارسېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا هغې خواته چې پلار يې کتل، وروکتل او ژوليه يې وليده. هغه په خپله ځوربه غاړه کې (ناتاشا پوهېده چې پريمانه پودر يې پرې دوړولې دي) د مرغلرو غاړکۍ په غاړه، نيکمرغه نيکمرغه د مور تر څنګه ناسته ده. د هغوی شاته باريس ليدل کېده چې خپل ښايسته سر او ښه ږمنځ شوي ځنې يې راوړاندې کړي، غوږ يې د ژوليه خولې ته نېږدې کړي، تر سترګو لاندې يې رستوفيانو ته کتل او په موسکا يې خپلې کوژدنۍ ته څه ويل:

د ناتاشا په زړه کې تېره شوه: هغه زموږ په اړه غږېږي، پرما، زما او د هغه پر اړيکو او هرومرو همدا سې هم ښکاري، چې هغه هڅه کوي، له ماسره د خپلې ښځې رخه آرامه کړي، خو هغه بې ځايه رخه او ناآرامي کوي. که هغوی په دې پوهېدای چې څنګه زه له نورو سره له اړيکو سترې او د هغو لپاره وخت نه لرم.

د هغوی تر شا انا ميخايلوفنا چې شنه بخنه خولۍ يې پر سر، زړه يې د الهي اطاعت نه آرام او له څېرې نه يې د نيکمرغۍ بنداريزې نښې څرګنده وې، ناسته وه. د هغو په لوژ کې، د کوژدنو هغه فضا خوره وه چې ناتاشه ښه پرې پوهېده او ورته ګرانه وه. هغې شا ته مخ واړاوه او ناڅاپه د سهارنۍ کتنې ټولې سپکاوۍ او ملنډې وريادې شوې.

په زړه کې يې وويل:

- په کوم حق، نه غواړي چې زه يې د کورنۍ غړې شم؟ ورکه وه يې، ښه به دا وي چې په دې اړه هېڅ فکر ونه کړم، لږ تر لږه د هغه د راتګ پورې دا خيالونه له سره وباسم. هغې په تالار کې دې خوا، هغې خوا ته کتل، دوستان او آشنايان يې لټول. د تالار په لومړني کتار کې د ارکستر د ځای تر شا يې دولوخوف وليد چېد نندارځای د ديوالګوټي په منځني برخه کې يې ډډه لګولې، خپل ګڼ او کړې کړې وېښته يې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړو کړیو سینګار کړي و او پارسي دریشي یې اغوستې وه. هغه د تیاتر په داسې ځای کې ولاړ و، چې پوهېده د ټولو پام ځانته ور اړول شي، هغه ددې خبرې په پوهېدو سره سره، داسې بې پروا خوځېده چې تا به ویل په خپله کوټه کې یوازې ولاړ دی. د هغه دواړو خوا وو ته د مسکو د ځوانانو تر ټولو غوره او پېژندل شوې ډلې ولاړې وې او ده د هغو په منځ کې داسې ځانښودنه کوله، چې ګواکې دی تر ټولو غوره دی.

ګراف ایلیا اندرېوویچ خپل څنګ کې ناسته سونیا چې تکه سره اوښتې وه، په خندا خندا په څنګل ووا هه، هغې ته یې د هغې پخوانی مین وروښود او وې ویل:

- ودې پېژاند؟ مخ یې د شین شین پلو وروا ړاوه او وې ویل:

- هغه خو ورک شوی و، له کومې راپیدا شو؟

شین شین ځواب ورکړ:

- هوکې! ورک شوی و، قفقاز ته تللی و، له هغه ځایه هم پارس ته تښتېدلی و، هلته هغه د پارس د یو شهزاده وزیر شوی، د پارس د شاه ورور یې وژلی، اوس د مسکو پېغلې پسې لېونۍ شوې دي. اوس نو هغه د پارسي دولوخوف نوم ګټلی دی، ټول د هغه په اړه غږېږي او آن د هغه په نامه قسم خوړل کېږي.

شین شین زیاته کړه: هوکې د هغه په سر قسم خوري، د هرې مېلمستیا ویاړ او د خدای یو ډالۍ ګڼل کېږي.

اوس دولوخوف او اناتول کوراګین زموږ ټولې ښځې لېونۍ کړې دي.

ګاونډ لوژ ته یوه جګ ونې ښکلې مېرمن راننوته. د هغې ښکلې او اوږدې له سره تاو شوې کوڅۍ د هغې پر بربنډو تاندو مرمرینو اوږو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



جگه صدفه ته ورته غاړه چې دوه تاره مرغلرو گاڼلې وه، لکه تاج داسې ولاړې وې. تر خپله ځایه د هغې رسېدو ځکه یو څه وخت وغوښت چې خپله پراخه اوږده وریښمینه لمنه چې شغهاري او شور یې گډ کړی و، لږه راټوله کړي.

ناتاشا بې ارادې د هغې غاړې، اوږو، مرغلرو او کاکل ته کتل او د هغې بربنډو ښکلو اوږو او مرغلرو سره یې مینه ښودله.

کله چې ناتاشا دویم وار هغې ته وکتل، هغې په مینې سترگې راواړولې، خو کله چې یې د گراف ایلیا اندرېوویچ سره سترگې ولگېدې، هغه ته یې سروښوراوه او وموسېده.

دا ښځه شهزادگۍ بیزاوخوا د پېیر مېرمن وه. ایلیا اندرېوویچ چې له ټولو مخورو سره پېژند گلوي لرله د هغې خوا ته ورغي او له درناوي نه وروسته یې له هغې سره خبرې اترې پیل کړې. هغه، هغې ته وویل:

- آغلې شهزادگۍ ډېره موده کېږي چې راغلې یاست؟ هرو مرو مو دیدن ته درځم، لاس مو ښکلوم. هرومرو! زه مې د ځینو کارونو د سرته رسولو لپاره راغلی یم، خپلې لونې مې هم له ځانسره راوستي دي. وایي چې نن به په تیاترکې بې ساري سیمیونوا، لوبې کوي. گراف پیتر کیریلېوویچ هم هېڅکله نه هېروو، هغه دلته دی؟

ایلن چې په ځیر ناتاشې ته کتل، وویل:

- هو کې، هغه هم غوښتل چې راشي.

گراف ایلیا اندرېوویچ بېرته پر خپل ځای کېناست او په کراره یې د ناتاشا، په غوږ کې وویل:

- ډېره ښکلې ده کنه؟

ناتاشا ځواب ورکړ: د حیرت نښه ده، سړی پرې مینېږي. په دیدن یې څوک نه مړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې، د آوورتور ترغرېدونکې نغمې پای ته ورسېدې او د ارکستر مشر له خپلې لرګینې لښتې سره پر خپل ځای کېناست. ناوخته راغلو ښاغلو خپلو ځايو ته ځانونه ورسول او د ستیج پردې پورته لاړې.

د پردې د پورته کېدو سره... په تالار کې ګرد ناست نندارچيان چوپ، ټول نارينه زاړه او ځوانان، په دريشيو او نور جامو کې، ټولې ښځې چې په قيمتي ګاڼو يې، خپلې بربنډې اوږې غاړې او ټټرونه ګاڼلي و، په خورا تلوسې او تږو غلچکونو د ستيج پلو ته وکتل. ناتاشا هم وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

ننداره‌ځای یا ستيج، پـه سرو برابرو تختو فرش شوی و، د څنګ ديوالونه يې پر رنګ شويو انځورونو انځور کړي وو او پـه وروستۍ برخه يا پای کې يې تختې چې پـه خمتا پوښ شوې وې، ولاړې وې. د ننداره‌ځای پـه منځنۍ برخـه کې يـو شـمېر نجونې چې سره کـالي خو سپينې لمنې يې درلودې، ناستې وې. يوه ډېره څوربه نجلۍ چې سپين ورېښمين کميس يې اغوستی و، له نورو نه جلا پر يوې لنډې څوکۍ چې شاته يې شنه کاغذي تخته سرېښ وه، ناسته وه. هغوی ټولو کومه سندره ويلې. همدا چې ددوی سندره پای تـه ورسېده، هماغـه سپين جامې نجلۍ د سوفلور خوا تـه ورنږدې شوه او نارينـه چې څورب ورنونه يې پـه ورېښمين پرتاګـه کې نښتي بربښېده، پر خولـه يې يـو ښکـه او تـوره يـې تـر مـلا وه دې تـه راوړانـدې شـو. خپـل لاسونه يـې پرانستلي، د سندرو ويلو لـه پيـل سره يې لاسونه هم ښورول. لومړی هغـه نارينـه چې پرتـوګ يې پـه ورنـو نښـتی بربښـېده يـوازې سندرې ويلې، خو وروسته نجلۍ هم سندرې پيل کړې. بيا دواړو هم مهالـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوپ شول او ارکستر پیل وکړ، بیا نارینه د سپین جامې نجلۍ لاسونه، راونیول او له ورایه بربښېده چې له هغې سره یې د بیا ګډې سندرې ویلو په هیله د هغې پر ګوتو لوبې کولې. هغو په ګډه سندرې ویلې، په دې وخت کې په تیاتر کې ټولو نندارچیانو، د هغو د ستاینې په نښه لاسونه پړک وهل او ناري سورېې جوړې کړې. دغه نارینه او ښځې چې په نندارځای کې د مینو ښودنه کوله، خپل پرانستې لاسونه یې د مننې په نښه ښورل او په خندا خندا یې ټولو ته درناوی وکړ. دغه ټول کړه وړه د ناتاشا لپاره چې له کلي نه راغلې وو او نورو په شان یې د ښاري ژوند بې پروایي نه لرله، خورا عجیب او حیرانوونکي بریښېدل. هغې نه شو کولای د اوپرا بهیر وڅاري، هغې آن د هغې موسیقي نه اورېدله، هغې یوازې پر نندارځای کې د کور (جوړه شوي ځای) لیده او یو شمېر نارینه او ښځې چې عجیب او غریب سینګار یې کړی، جامې یې اغوستې او تر رڼایي لاندې غیر عادي خوځېداوې او خبرې یې کولې او سندرې یې ویلې لیدل. هغه په دې پوهېده چې دغه به ټول بیا د یو څه ښودنه وکړي، خو دغه ټول دومره لاسي، غیر طبیعي او له رښتیني ژوند نه لرې و، چې کله کله دې د لوبغاړه له امله، د شرم احساس وکړ. کله ناکله به یې په زړه کې پر هغو ښه وخندل. شا او خوا به یې وکتل. نندارچیانو ته به ښه ځیر شوه، د هغوی په څېره کې به یې هماغه د سپکاوي او ملنډو نښې لټولې، چې د دې په زړه کې وې، خو د ټولو په څېرو کې به یې بې پایه ځیر او پام لیده. لیدل به یې چې ټول د ننداره په وړاندې ډوب دي، هغې د ټولو په څېرو کې د لوبغاړو لپاره د ستاینې نښې چې د دې تر پامه ټولې دروغجنې ورتلې، لوستې. په زړه کې یې وویل:

- له دې نه پرته، باید بل ډول نه وي. هرې خوا ته یې کتل، د تالار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ د نندارچیانو د غوږو شویو ځلېدونکو څڼو کتارونو ته، د لوژونو نیمه بربنډو ښځو ته، په تېره بیا په خپل ګاونډ لوژ کې ناستې ایلن ته، چې نېږدې چوربربنډه، آرامه او موسکا پرشونډو ناسته وه او په پرله پسې ننداري ته کتل، کتل... ناتاشا کرار کرار پر خپلې څوکۍ کې دغه حالت مسته او لا مستوله. ډېره موده کېده چې هغې دغه شان یو حالت احساس کړی نه و. نور نو، نه پوهېده چې چېرې، له چا سره او تر مخې یې څه تېرېږي. هغې کتل، هغې فکر کاوه او په ذهن کې یې بېلابېل خیالونه چې یوه له بل سره یې هېڅ ډول اړیکي نه لرل، ګرځېدل. کله به یې ذهن ته ورغلل چې ودانګي، نندارځای ته ورشي او هغه سندره چې سندرغاړي یې وایي، ووایي. کله یې زړه غوښتل خپله پکه د هغه بوډا پر څټ چې دې ته نېږدې ناست و ورځړونده کړي او کله به یې فکر کاوه چې د ایلن خوا ته ورکږه شي او د خندا لپاره یې وتخنوي.

په یوه شېبه کې چې په نندارځای او صالون کې چوپتیا خوره شوه او د ټول د موسیقۍ د آواز اورېدو ته سترګه په لاره و، د تالار هغې خوا ته چې د رستوف د کورنۍ غړي ناست وو، نېږدې د دروازې د راخلاصېدو آواز د اورېدو سره هم مهاله، د یو ناوخته نندارچي د ګامونو آواز هم واورېدل شو. شین شین په ټیټ آواز وویل:

- هغه دی، هغه دی کوراګین راغی!

ګرافینه بیزاوخوفه مخ راواړاوه او راغلي سړي ته وموسېده. ناتاشا هغې خوا ته چې د بیزاوخوف سترګې کتل، وکتل او یو ځوان یاور یې ولید چې خورا ښکلی، په ډاډ او د صالون نزاکت ته په پام د دوی د لوژ خوا ته روان و. دا ځوان اناتول کوراګین و، چې دوی ډېر پخوا د پترزبورګ د نڅاوو په بنډارونو کې لیدلی او هغه ته یې پام کړی و. هغه نن د یاور دریشي... اغوستې وه. هغه ډاډمن او د ځوانانو په څېر ګامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستل. که د داسې ښکلی، بشره خوشاله او ساده ډوله نه وای، د خندا وړ به و... که څه هم ننداره پیل شوې وه، خو په نرمو ګامونو، بې تلواره، د بوټو د او سپنو له جرنګ و جورنګ سره، توره تر ملا، خپل عطرجن او رمېږ یې پورته نیولی او پر فرش شوې لاره روان و. هغه ناتاشې ته وکتل او د خور خوا ته وړاندې ور روان شو. خپل په دستکش کې مروړل شوی لاس یې د هغه د لوژ تر څنګ کېښود، سر یې هغې ته وښوراوه، هغې ته ورخم شو او ناتاشا ته یې په اشاره کې څه وویل. هغه وویل:

-څه زړه راښکوونکې ده! داسې ښکارېده چې هغه ناتاشا یادوی. ناتاشا د هغه په دې خبرې نه د اورېدو بلکې د هغه د شونډو د خوځېدا نه پوه شو. تر هغه وروسته بیا اناتول، لومړي کتار ته ورغی، د دولوخوف تر څنګ کېناست. په خورا بې اعتنایۍ او بې پروایۍ یې، دولوخوف په ترخګ کې په څنګله وواهه. هغه دولوخوف چې نور ترې چارچاپیره تاوېدل او ځان ته د هغه د پام اړولو هڅه یې کوله. دولوخوف هغه ته سترګه کېښکوده، وموسېد او خپلې پښې یې د کتار مخې ته دیوال ته تکیه کړې.

ګراف وویل:

-دا خور او ورور څومره سره ورته دي، دواړه ښکلي هم دي. شین شین د هغې پېښې کیسه پیل کړه چې کوراګین ته په مسکو کې ورپېښه شوې وه، ناتاشا یوازې له دې کبله چې اناتول هغې ته ښکلې ویلې و، خپل غوږونه لا د هغه خوا ته څک کړل.

لومړۍ ننداره پای ته ورسېده، ټول نندارچیان پاڅېدل، سره ګډوډ شول، هرې خوا ته په قدم وهلو او وتلو شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باريس د رستوف دوی د لوژ خواته راغي، په سادګۍ يې د هغو مبارکۍ ومنلې، وروځې يې برندې کړې، اورمېږ يې هسک او په موسکا يې د خپلې کوژدنۍ له خوا ، له ناتاشې او سونيا نه هيله وکړه چې ددوی په واده کې ګډون وکړي او له لوژه ووت. ناتاشا په موسکا ، خوشالۍ او ناز سره له هغه سره وغږېده ، هغه ته يې، هغه باريس ته چې يو وخت پرې مينه وه او په خپل زړه کې يې ځای ورکړی و د کوژدې مبارکي ورکړه. هغې ته، په دغه مست حالت کې ددې ټول کړه هسې عادي خبرې تر نظره ورتلې.

ايلن نيمه بربنډه دوی ته نېږدې ناسته او او په يو رنګه موسکا يې ټولو ته کتل. ناتاشې هم کټ مټ دغه شان موسکا باريس ته وروښودله.

هغه لوژ ته چې ايلن په کې ناسته وه ،له هرې خوا د ښار خورا هوښيارې مخورې او پېژندل شوې څېرې راشپوه شوې، دلته د هغوی د راتګ موخه دا وه چې ټولو ته دا وښيي چې دوی له دغې مېرمنې سره پېژند ګلوی لري. کوراګين په دې ټوله موده کې چې تفريح اعلان شوې وه، همالته د نندارځای تر مخې د دولوخوف ترڅنګ ولاړ او هغه لوژ ته يې کتل،چې د رستوف د کورنۍ غړي په کې ناست وو. د هغه سترګې بل هېڅ خوا ته نه غړېدلې. ناتاشا پوهېده چې د هغو ټوله غږېدا ددې په اړه ده ، نو ځکه له خوښۍ نه په جامو کې نه ځايېده، آن دا چې هغې مخ داسې واړاوه چې ددې په وينا د هغې د مخ خورا وړ او ښايسته اړخ هغو ته برابر شي.

د دويمې ننداری له پيله د مخه، پيير چې مسکو ته د رستوفيانو د راتګ له وخته تر اوسه پورې نه و ليدلی، په تياتر کې پيدا شو. څېره يې له هغه وخت چې د وروستي ځل لپاره ناتاشا ليدلی و ، ډېره غمړلې او لا څوربه شوې وه. پرته له هغه چې چاته پاملرنه وکړي، د لومړنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتارونو خواته ورتېر شو. اناتول هغه ته ورنېږدې شو، له هغه سره يې خبرې پيل کړې او د صالون هغې خواته يې کتل او اشارې کولې، چې درستوف د کورنۍ غړي هلته ناست وو. پيېر چې ناتاشا وليدله، وغوړېد او په تلوار سره د کتارونو په منځ کې د هغو لوړ ته ورغي. هغو ته چې وررورسېد، ډېره يې ووهله، وموسېد او تر ډېره پورې له ناتاشې سره وغږېد. ناتاشا د پيېر سره د غږېدا په وخت کې د ګرافينې بيزاو خوفې له لوړ نه د نارينه غږ واورېد، خدای خبر چې ولې يې هغه و پيژاند چې د کوراګين غږ و. هغې مخ واړاوه او له هغه سره سترګې په سترګه شوه. د هغه چې خوږه موسکا پرشونډو وه، مخامخ د هغې سترګو ته وکتل او دا کتل او غلچک داسې مينه ناک او لېواله و، چې ناتاشا تصور وکړ چې څنګه په داسې نېږدې والي کې هغه، دې ته داسې په ډاډ ګوري، داسې د هغه خوښه شوې ده، خو بيا هم سره آشنا نه دي.

د دويمې ننداري جوړښت، اديره، قبرونه او يادګاري نښې، ديوال له خمتا جوړ شوی و او په هغه کې سوري د سپوږمي او ستوريو نښه وو، په نندارځای کې څه تختې راپورته او ارکستر خپلې نغمې وغږولې او له ښۍ او چپې خوا ډېر شمېر تورجامې وګړي راووتل. دغو خلکو د لاسونو په ښوررولو پيل وکړ او تورو ته ورته شيان يې په لاس کې و. وروسته نور خلک په تلوار سره راغلل او هماغه نجلۍ يې چې تر مخه يې سپينې او شنې جامې يې اغوستې وې، سره پورته کړه او له ځانسره يې د باندې يووړه، دغه کار دوی په تلوار ونه کړ، لومړي خو يې، ډېره موده له هغې نجلۍ سره سندرې وويلې او بيا يې په پای کې د باندې يوړه. د پردې له شا نه د کوم وسپنيز څيز درې ګوزار واورېدل شول، ټول په ګونډو شول، لاسونه يې پورته او دعا يې پيل کړه. هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا په سندريز توګه ويله. د هغوی دغه کړه په وار وار سره د نندارچيانو د ستاينو او لاس پړک وهلو سره مخامخ شول.

د دغو ننداارو په لړ کې، چې هر وار ناتاشې، لومړي کتار ته کتل، اناتول کوراګين به يې ليده چې سر يې اړاوی، لاس يې پر خپلې څوکۍ اچولی او ددې خواته راګوري. ناتاشه، له دې نه خوند اخيست چې هغه يې داسې په ځان لېواله کړی دی او هيڅ يې داسې نه ګڼله چې د هغې په دې کړو کې څه ناوړه او يا بد څه نغښتي دي.

کله چې دويمه ننداره پای ته ورسېده، ګرافينه بيزاوخوفه (د پېير ښځه) پاڅېده، مخ يې هغه لوژ ته چې د رستوف د کورنۍ غړي په کې ناست وو، وروااړاوه (ټټر يې چور بربنډ و) ګراف رستوف ته يې په دستکش اغوستي ګوتې اشاره وکړه، چې ددې پلو راشي او پرته له هغه چې ددې لوژ ته تلونکو راتلونکو کسانو ته پام وکړي، په موسکا او مهرباني يې له هغه سره خبرې پيل او وې ويل:

- هوکې، ولې مې له خپلو ښکلو نازولو لوڼو سره پېژند ګلوي نه کوئ؟ په ټول ښار کې د هغو ښکلاو آوازو خپرې دي او زه لا هغو سره پېژند ګلوي نه لرم.

ناتاشا پاڅېده او د ځنګنو په خمېدو يې هغې ښکلې ګرافينې ته درناوی وکړ. ناتاشا ته د دغې ښکلې او زړه خوږوونکې مېرمنې ستاينه دومره په زړه پورې وه، چې له خوښۍ نه تکه سره شوه.

ايلن وويل:

- زه هم اوس غواړم په مسکو کې ميشته شم، خو افسوس دی چې تاسو دغه خپلې د ښکلا خزانې په کليو کې پټې کړې دي.

ګرافينې بيزاوخوفې په رښتيا سره د يوې زړه راښکوونکې ښځې نوم ګټلی و. هغې په خورا آسانۍ سره هر څه ويلی شو، چې دې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصور هم نه کاوه او هغې په آسانۍ سره او خورا طبیعي ډول خلک خپلو ستاینو او پر ځان مینو لو ته هڅولي شو.

هغې وویل:

- نه ګرافه ! ښه به دا وي، چې اجازه راکړئ، او لوښي دې ماته وسپارئ. که څه هم زه د لږې مودې لپاره دلته راغلې یم او تاسو هم زیات وخت دلته نه یاستئ، زه به هڅه وکړم چې د هغوی وخت ښه تېر شي. ما لا په پترزبورګ کې ستاسو په اړه ډېرې ستاینې اورېدلي وې او زړه مې کېده، چې له تاسو سره مې له نږدې پېژند ګلوي وشي.

هغې چې خپله ښکلې او یو رنګه دایمي موسکا پرشوندو وه، ناتاشې ته وویل:

- ما له دروبتڅکوي نه ستا د ښکلا په اړه اورېدلي و، تاسو اورېدلي کنه، هغه واده کوي، هو، د خپل مېړه له ملګري بالکونسکي، سردار اندرې بالکونسکي نه مې هم ستاسو په اړه اورېدلي و.

هغې د سردار اندرې بالکونسکي نوم په ځانګړې ادا او ټینګار یاداوه، داسې یې ښوده چې ګواکې د ناتاشې او د هغه له اړیکو خبره ده. هغې له ګراف نه هیله وکړه، چې اجازه ورکړي د لا نږدې پېژند ګلوۍ لپاره د ده یوه لور د ننداري په پاتې موده کې ددې لوژ ته راشي او ددې تر څنګ کیني. ناتاشا لاړه او ددې تر څنګ کېناسته.

د ننني ننداري دریمه برخه، یوه داسې ماڼۍ ښودله، چې ډېرې شمعې په کې بلې شوې وې او په دیوالونو یې د ږیرورو شهسوارانو انځورونه راځړوند شوي وو. د ننداره ځای په منځنۍ برخه کې دوه تنه چې ګواکې شاه او ملکه دي، ولاړ وو. شاه لاس وښوراوه او په حیا یې کوم آواز وویل او په یوه ارغواني رنګه کټ کېناست. هماغه نجلۍ چې په پیل کې یې سپینې، بیا شنې جامې اغوستې وې او اوس یې یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو کميس په ځان و ، پريشانه څنې د تخت تر څنګ ولاړه وه. هغې ملکې ته په کتو کتو کې کومه غمجنه سندره ويله، خو شاه د نبنې په توګه، لاس په تندي وښوراوه، له دوارو خوا وونه پښې بلې نارينه او ښځې راووتې او ټول په ګډه نڅېدو شول. او تر هغه وروسته کوم ګيتار يو خوږه او له خوښۍ نه ډکه نغمه وغږوله. يوه بله پېغله چې ځوربې پښې او ډنګر مړوندونه يې لرل، له نورو نه جلا شوه، د پردې شاته لاړه، جامې بدلې کړې او په چټکۍ بېرته راستنه شوه، د صحنې په منځنۍ برخه کې ودرېده، په ټوپو شوه، په چټکۍ يې يوه پښه په بله وهله او نندارچيانو ټولو ورته پړک وهل او د هغې ستاينې ته يې چغې سورې سر کړې. تر هغه وروسته يو نارينه په يوه کنج کې ودرېد ، ترومپت او ټول ارکستر قوت واخېست او هغه يو ازې پښې بلې سرې، لوړ هوا ته ټوپونه وهل او په هوا کې پښې پر يو بل ټپولې ((دا سړی هماغه (ديوپورت ) نومی هنرمندو چې کلنۍ حق الزحمه شپېته زره د سپينو زرو روبله وو ) ) ټول نندارچيان، په ټول تياتر کې، د تياتر په منځنۍ، په څنګونو په ټيټو او لوړو لوژونو کې د لاسونو په پړکولو او چغې سورو سره د هغه ستاينه کوله او آفرين يې ويل. هنرمند ودرېد وموسېد ، هرې خوا ته د ټولو په وړاندې د درناوۍ په نبنه خم شو ، تر هغه وروسته، نورو لوبغاړي، نارينه او ښځې پښې بلې وګډېدل، بيا دوه واره شاه له موسيقۍ سره هم مهاله سندرې سر کړې او هغه سره ټولو آوازونه جګ کړل، خو يو ناڅاپه توفان پاڅېد ، ارکستر او نورو غږونکو په لوړ آواز وغږېدل... ټول پاڅېدل، وخوځېدل، منډې شوې، بيا يو لوبغاړی د پردې شاته کش کړل شو او پرده راکوزه شوه. د نندارچيانو په منځ کې بيا ګڼه ګوڼه او خورا کټونکي غږونه او شر او شور جوړ شو او ټولو په خورا شوق چغې، نارې ګډې کړې، د يو پورو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديو پورو.

ناتاشې، نور نو هېڅ شي د حيرانۍ وړ نه ګڼل، هغه هم په خوښيو کې ډوبه او په خند خندا يې شا او خوا ته کتل. ايلن هغې ته مخ ورواړاوه او وې ويل:

- رښتيا چې دا د يوپوره، عجيب سړی دی، همداسې نه دی؟

ناتاشې ځواب ورکړ:

- هو، رښتيا دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

د ننداړو تر منځ تم وختونو کې، په هغه لوژ کې چې ایلن ناسته وه، یو سوړ باد را ولګېد. دروازه خلاصه شوه او اناتول چې ځان له دې کبله لږ خم کړی و چې له چا سره ټکر نه شي، راننوت.

ایلن چې غلچک له ناتاشې نه اناتول ته وراړوه وویل:

- اجازه راکړئ چې ورور مې در وپېژنم.

ناتاشا د خپلو بربنډو اوږو له سره خپل ښکلی او جوړ شوی سر وروارا وه، وموسېده او ښکلي ځوان ته یې وکتل. اناتول، چې له نېږدې نه، د لرې په شان ښکلی و، د هغې تر څنګ کېناست او وې ویل چې له ډېرې مودې راهیسې یې له هغې سره د آشنایي هیله لرله. هو کې له هماغه وخته چې دا یې د ناریشکن د کور د نڅاوو په بنډارکې لیدلې، هېرولی یې نه شي. کاراګین له ښځو سره په کړو وړو کې تر نارینو هغو نه خورا ځیرک او مهربانه و. هغه په زړورتیا او سادګۍ خبرې کولې او ناتاشه له دې کبله حیرانه او خوشاله وه چې څومره یې د دغه ځوان د بدیو او ناوړو کړو کیسې اوربدلې وې، په هماغه اندازه دی ساده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهربانه، خوښ طبیعته او د نیکویي سرچینه دی.

کوراګین له هغې نه د لوبغاړو په اړه وپوښتل او وې ویل چې سیمیونوفنا څنګه په خپله تېره ننداره کې د لوبو په وخت پر ځمکه ولوېده، هغه ناڅاپه وویل:

- پوهېږئ ګرافینې! د هغه د غږېدا ژبه داسې وه، چې ګواکې له خپل یو خورا پخواني پېژند ګلوی سره د زړه خواله کوي... پوهېږئ! مور غواړو یو ننداره جوړه کړو، چې ټول به په هغو کې په بدلو جامو او څېرو کې ګډون کوي. تاسو باید په هغې ننداره کې ګډون وکړئ، ډېر ساعت به مو تېر شي. ټول د آرخوف په کور کې راټولېږي. زه له تاسو هیله کوم چې راشئ، رښتیا او په ټینګار سره تاسو ته وایم، راشئ، څنګه؟ هغه چې غږېده، خپلې خوشاله سترګې یې همداسې د ناتاشا پر بشرې، بربنډې غاړې او لوڅو لاسونو خښې کړې وې. ناتاشا البته په دې ډاډه وه چې دغه ځوان په هغې مین شوی دی که څه هم ناتاشا په دې ډېره خوشالیده، خو په دې نه پوهېده چې ولې د هغه شتوالي، د دې لپاره کرار کرار له زغمه وزي. کله چې دې هغه ته نه کتل، دې داسې انګېرله چې هغه د دې بربنډو اوږو ته ګوري او دې به په تلوار د هغه د سترګو دغه غلا رانیوله، د سترګو په کتو کې به یې هغه دې ته اړ کړ، چې د دې سترګو ته وګوري، خو کله چې به یې د هغه سترګو ته کتل هغې په ویرې داسې انګېرله چې د ده او د دې تر منځ د شرم او حیا هغه پرده لوېدلې او ورکه شوې، چې دا یې تل د ځان او د نورو نارینو تر منځ احساسوي. هغه خپله په دې نه پوهېده چې څنګه له پنځو دقیقو وروسته، دې ځان له دغه سړي سره داسې نېږدې او خپل احساساوه. کله به چې هغې له هغه مخ واړاوه، ډارېده به چې اوس یې هغه له بربنډو مړوندو را ،ونه نیسي او بربنډه غاړه یې ورښکل نه کړي.هغوی د ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده څېړونو په اړه غږېدل، خو هغې داسې احساسوله چې له هغه سره دږمره نېږدې شوې چې هېڅکله له بل يوه نارينه سره هم داسې نېږدې شوې نه وه. هغې، ايلن او خپل پلار ته داسې وکتل، چې ګواکې غواړي له هغو وپوښتي، چې دا څه معنا لري. خو ايلن له کوم جنرال سره غږېده او د هغې غلچک ته يې ځواب ونه وايې، مګر د پلار کتو هغې ته له هغه څه پرته، چې تل يې دې ته ويل، بل څه ونه ويل، د پلار کتو به تل ويل:

- نو څه دي، خوشاله اوسئ، ستا خوشالي زما خوښي ده.

ددوی تر منځ په چوپيتيا کې، چې زورونکي هم وه اناتول په خپل ځير کرار او پرله پسې کتو دې ته کتل، ناتاشا د دغه چوپيتيا د ماتولو لپاره، له هغه نه وپوښتل:

- څنګه مسکو مو خوښېږئ؟ ناتاشا چې دا پوښتنه وکړه، تکه سره شوه. هغې پرله پسې داسې انګېرله چې له هغه سره په غږېدو، کوم ناوړه کار تر سره کوي. اناتول داسې وموسېد ، چې ګواکې په موسکا سره د هغې د احساساتو رښتياوالي ته غاړه ټيټوي او وې ويل:

- لومړی مې چندان نه خوښېده او بيا وروسته، وروسته پوهېږئ ښارونه څه شي، د خوښۍ وړ ګرځوئ؟ ښارونه ښکلې ښځې، ښايسته او د پام وړ کوي، همداسې نه ده؟

او بيا يې هغې ته له معنا نه په ډکو سترګو وروکتل او وې ويل:

او اوس خو مې ډېر خوښېږي. زموږ ننداريې ته راځي ګرافينې ! مهرباني وکړئ هرومرو راشئ.

دا يې وويل او لاس يې د هغې پر ټټر ټمبل شوي ګل ته وروړاندې کړ او په کراره يې وويل:

- تاسو به زموږ د مېلمستيا تر ټولو نه ښکلې ښکلا و اوسئ، هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم مهرباني گرافيني ! او ستاسو د ټټر د غه گل به زه د تضمين په توگه وساتم.

ناتاشا لکه په خپله د اناتول په شان په دې پوه نه شوه، چې هغه څه وويل:

- خو دومره پوه شوه چې په دغو نه پوهېدونکو خبرو کې، کوم ناوړه نيت نغښتی دی. خو سره له دې هم هغه نه شو کولای ځان هغه ته له کتو نه راټينگ کړي. هغه نه پوهېده چې څه ووايي، هغې له هغه نه مخ واړاوه، هغې داسې وښوده چې گواکې هېڅ شي يې نه دي اورېدلي، خو همدا چې له هغه يې مخ واړاوه، داسې يې احساس کړه چې اناتول ددې تر شا دې ته خورا نږدې ولاړ دی. د مخ د اړولو سره سم يې په زړه کې تېره شوه، اوس به څنگه وي؟ هغه به گښېږي اخېستی وی، خوابدی شوی به يې، بايد هر څنگه چې وي راشم که څنگه؟ هغې نه شو کولای ورونه گوري او بيا يې ور وکتل. سترگې يې مخامخ د هغه له سترگو سره وجنگېدې، د هغه نږدوالي، د هغه پر ځان ډاډمنتوب، د هغه مهربانۍ او د هغه خوږې موسکا دا ايل کړې وه. هغه کټ مټ د هغه په شان وموسېده او مخامخ يې د هغه په سترگو خپلې سترگې خښې کړې، هغې بيا په وحشت داسې احساس کړه چې ددوی تر منځ د نږدوالي د خنډ هېڅ خنډ پاتې نه دي.

د تياتر پرده بيا پورته شوه او اناتول په خوښۍ او آرامۍ ددوی له لوژه لاړ. ناتاشا بېرته خپل لوژ ته چې پلار يې هلته ناست و، په هغه خيالو کې چې دا ډوبه وه، راستنه شوه. نور نو هغه څه چې ددې تر سترگو تېرېدل، ټول ورته په پوره توگه طبيعي برېښېدل، خو د ژوند، د شهزادگۍ ماريا او د کليوالو ژوند په اړه ټول خيالات گواکې پخوا تېر شوي و، يو وار بيا هم ددې په ذهن کې راتاو شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننداری په څلورمه برخه کې کوم شیطان د لاس اچولو په ملګرتیا بدلې ویلې او تر هغې پورې ګډ و چې د ده تر پښو لاندې یې فرش شوې تختې سره لرې کړې او دی د لاندې ولوېد. ناتاشا د ننداری د څلورمې برخې له همدې خبرې نه پرته په بل څه پوه نه شوه او له دې نه پرته هغه کومې خبرې هم زوروله او عذابوله. د دې زورېدنې او عذاب علت کوراګین و چې دې تر سترګو لاندې څاره. کله چې هغوی له تیاتره ووتل، کوراګین هغو ته ورغی، د هغوی ګاډیوان ته یې ورغږ کړ او له هغوی سره د ګاډی په ناسته کې مرسته وکړه. هغه چې کله ناتاشا په ګاډی کې کېنوله، د هغې مړوند یې کېښکود. ناتاشا ګېڼی، واخېسته، تکه سره شوه او په نیکمرغه غلچک یې هغه ته وکتل. د هغه سترګې وځلېدلې او په داسې حال کې خچې وړه موسکا یې پرشونډو و، هغې ته کتل.

کله چې کورته راورسېدل، ناتاشا وکړی شول، د هغه څه په اړه فکر وکړي، چې په دې تېر شوي وو، په څرګنده فکر وکړي او ناڅاپه دې ته سردار اندرې وریاد شو. هغه هک پک شوه، د ټولو تر مخې یې چې تر تیاتره وروسته چای ته سره ناست و، چغه کړه، تکه سره شوه او له کوټې نه وتښتېده. هغې فکر وکړ او له ځانسره یې وویل:

- لویه خدایه تباه شوم! څنګه ما کولای شول، دا ټول پیښ شي؟ تر ډېره وخته پورې یوازې ناسته وه، خپل سور شوي مخ ته یې لاسونه نیولي و، هڅه یې کوله ځان په څرګنده په دې پوه کړي، چې په دې څه وشول، هغه نه په دې پوهېده چې په دې څه شوي او نه په دې چې دا څه احساسوي. هر څه دې ته تیت، وحشتناکه او ناڅرګنده بریښېدل. هلته په هغه ستر صالون کې، چې پښې بلې په ځلېدونکو ګانو ګاڼل شوې جانې په غاړه (دیو پورو) د موسیقۍ تر نظم لاندې پر لمدو تختو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوپونه وهل او پېغلو، زړو، نورو او په آرامۍ او له غروره ډک موسکا پرشونډو بربنډې ایلن له حیرت د آفرین نارې وهلې، هوکې هلته د ایلن تر سیورې لاندې هر څه څرګنده او ساده بریښېدل، خو اوس چې دلته یوازې شوې، هر څه تت او ناڅرګند دي، هغې په وار وار سره له ځانسره وویل:

- دا څه وشول؟ دا ویره چې زه یې، زما زړه یې له هغه احساسه وي، څه شي دئ؟ دا څه شي دئ، چې زما وجدان دا سې زوروئ؟ دا څه شي دئ؟ خو که یوازې مشره ګرافینه دلته وای، ناتاشې به کولای شو په شپه کې ورشي او په کټ کې ټول هغه څه چې ددې په زړه کې تېرېږي هغې ته ووایي. خو دا په دې پوهېده چې سونیا په خپل غوره دریځ او سختو ځانګړتیاوو چې لري یې، ددې په راز او وینا به پوه نه شي او یا به د هغې له اعترافاتو نه په وحشت کې شي. ناتاشا هڅه کوله، یوازې خپله هغه غوټه خلاصه کړي، چې دا یې زوروله.

هغې ځان نه پوښتل: ایا زه د سردار اندرې د مینې لپاره تباه شوم؟ هغې په ملنډیزه موسکا خپله بېرته ځواب پیدا کاوه:

- دا څه احمقه یم، څه احمقانه پوښتنې؟ ما څه کړي دي؟ هېڅ هېڅ مې نه دي کړي، هېڅ ګناه مې نه ده کړې، هېڅوک به په دې خبر نه شي ،زه به هم نور هېڅکله هغه ونه وینم، نو له دې کبله دا ښکاره خبره ده چې هېڅ څه نه پېښ شوي، نه اعترافاتو ته اړتیا لیدله کېږي، بلکې کېدای شي سردار اندرې به له ما سره په همدې ډول چې یم، مینه ولري. کوم ډول؟ آه، لویه خدایه! پاکه هغه ولې دلته نه شته؟ ناتاشا یوه شېبه د سترګو د رپ لپاره آرامه شوه، خو وروسته بېرته کوم لمسوونکې غریزې ورته ویل چې که څه هم دا هر څه سم دي او هېڅ څه پېښ شوي نه دي، خو له سردار اندرې سره د هغې پخوانۍ پاکه مینه ټوله تباه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغې ته بیا له کوراګین سره خپلې ټولې خبرې ورپـه زړه شـوې، هغـې ته بیا د هغه ښکلی او زړور ځوان، څېره او خـوږه نازکـه موسـکا او هغـه شېبه چې د ده مړوند یې کېښـکود وریاد شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

اناتول په مسکو کې ځکه او سېده چې پلار هغه له پترزبورګ نه راشړلی و. هلته هغه د کال شل زره روبله خرڅ لاره او همدومره نورې پیسې یې له دې او له هغه نه په بېلابېلو پلمو پورولې او پوروړو به بیا د هغه له پلاره هغه غوښتې.

پلار زوی ته په ډاګه کړه چې د وروستي ځل لپاره، د هغه نیمایي پور په دې شرط پرې کوي، چې مسکو ته لاړ شي او هلته د پوځونو د ستر قوماندان یاورتوب ومني، هغه دنده چې ده ورته پیدا کړې ده. هلته هم هڅه وکړي، چې ځانته یوه ښه ښځه پیدا کړي. هغه ورته د ماریا ژولیه کاراګینا نوم وریاد کړی و. اناتول د پلار خبرې ومنلې، مسکو ته لاړ او هلته هم د پییر کره میشت شو. پییر هغه لومړی زړه نازړه ومانه، خو وروسته ورسره عادت شو، له هغه سره به بنډارونو او عیاشیو ته، ته او پور یې هم ورکاوه.

هغه څه رښتیا شول چې د اناتول په اړه شین شین ویلي و، هغه مسکو ته تر راتګه وروسته د مسکو ټولې ښځې پر ځان مینې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، هغه هم له دې کبله چې ده هغو ته پاملرنه نه کوله، او ده به تر هغو نه جتهانې او فرانسوي ښځې زياتې خوښولې. آن دا څرګنده وه چې د هغو په منځ کې يې له مېرمن پېغلې جورج سره چې د فرانسوي لوبغاړو مشره وه ګوتې خوږې کړې وې. د دولوخوف د کور او نورو د عياشيو يو بنډار هم ترې پاتې نه و. له ماښامه تر سپېدو پورې به يې شراب څکل، په دې سياليو کې بې سياله و او د ټولو غوره اعيانو د نڅا او شوګيرو بنډارونو کې به ولاړ و. ويل کېدل چې د مسکو له څو ښځو سره يې آشنايي لرله او په هر بنډار کې به يې څو نوروپسې د آشنايۍ هڅې کولې. هغه له پېغلو، په تېره بيا بډايو هغو سره چې زياتره يې څه بې عقلې غوندې وې، لېوالتيا نه ښودله. هغه دا کار له دې کبله هم نه کاوه، چې ده دوه کاله مخکې واده کړی و او له څو نږدې انډيوالانو نه پرته، د هغه له دغه رازه هېڅ څوک خبر هم نه و. دوه کاله مخکې چې کله د دوی غونډ په پولند کې ځای پر ځای شوی و، يو نه بډای پولنډي، هغه اړ کړی و چې د هغه له لور سره واده وکړي. هغه ډېر ژر هغه ښځه پرېښوده... اناتول له خپل ژوند نه راضي و. له ځانه او نورو نه. هغه په خته کې په دې باور و، چې پرته له ده نه، چې دا سې دی، بل ډول ژوند نه شي کولای او په ژوند کې د کوم ناوړه کار نه دی کړی. هغه نه د خپلو کړو او نه پر نورو د هغو د اغېز جاج اخېستو توان لاره او نه يې په دې اړه فکر کاوه، چې د ده کړه به دده لپاره څه پايلې ولري. هغه په دې باور و، لکه هغه شان چې هيلۍ د بې لپاره پيدا شوې دي چې په اوبو کې ژوند وکړي، دی هم خدای داسې پيدا کړی دی چې پر کال کې د يرش زره روبله خرڅ کړي او تل د ټولنې له غوره نه غوره وبلل شي. هغه داسې په دې خبره ټينګ باور درلود، چې هغه ته په کتو سره نورو هم په هغه باور پيدا کاوه. نه يې د هغه په غوره ټولنيز دريځ کې شک پيدا کاوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه یې هغه ته د پیسو په ورکولو کې. هغه به چې هر چېرې او هر چا ته رسېدو پرته له هغه چې د پرې کولو په خیال کې یې واوسي، پورونه او نور پورونه به یې اخېستل.

هغه جوارګر نه و، لږ تر لږه هېڅکله یې د ګټلو خیال نه درلود او آن د بایللو فکر یې هم نه کاوه. هغه شهرت غوښتونکي نه و او هغه ته دې خبرې هېڅ اهمیت نه لاره چې نور دده په اړه څه وایي. تر دې لا سربیره هغه کېدای شو ګناهکار او صادق واوسي. هغه څو واره د پلار د بدنامۍ او سپکاوي سبب شوی و، په هر څه آن نامه او عزت یې ملنډې وهلې. هغه بخیل نه و او هرچا به چې د خیر لاس ورغځاوه مرسته به یې ورسره کوله. یوازینی څه چې زیاته مینه یې ورسره لرله، له ښځو سره لېوالتیا وه. د هغه د اند له مخې له ښځو سره خوږوالی هېڅ بد نه لري، خو هغه د نورو لپاره د دغو اړیکو د پای په اړه هېڅکله او هېڅ ډول فکر نه کاوه. هغه ځان د ټولو په وړاندې صادق ګانه، او د زړه له کومې یې د ټولو دوومخو سپکاوي یې کاوه او آرام وجدان یې تر ټولو لوړ ګاڼه.

دولوخوف سږ کال د پارس له تبعیده او هغه ته له ورپېښ شوو پېښو وروسته بیا مسکو ته راستون شوی، خپل پرتمین ژوند، عیاشۍ او جوارو کې ډوب او له خپل پترزبورګي دوست کوراګین سره یو ځای شوی، د هغه له نامه یې د ځان د ګټې، د جوارۍ او له بدو ایو ځوانانو سره د آشنا کېدو لپاره ګټه اخېسته.

اناتول، دولوخوف، د هغه ځیرکتیا او زړورتیا له کبله، د زړه له کومې خوښېده، له هغه نه یې خپلو عیاشیو ته د رسېدو لپاره کار اخېسته خو هڅه یې کوله، چې هغه دده په دغه تکل پوه نه شي...

ناتاشا، پر کوراګین سخته لېونۍ اغېزه کړې وه. هغه ترتیاتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د ماښامنۍ په وخت کې د يو ځيرک ښکلا پېژندونکي په څېر د هغې د لاسونو، مړوندونه، اوږو، پښو او څنګو انځورونو اېستل او دولوخوف ته يې وې ويل چې تکل يې کړی دی، د هغه زړه د وړلو هڅې وکړي. اناتول هماغه شان چې د خپلو کړو پايله نه ليدله، د دې تصور يې هم نه شو کولای چې د دغې مينې پای په څه وي.

دولوخوف هغه ته وويل:

-هوکې وروره ! ښکلې نجلۍ ده، خو نه زموږ لپاره.

اناتول وويل:

- زه مې خورته وايم، چې هغه د غرمنۍ لپاره زموږ کره رامېلمه کړي، څه وايئ؟

- ښه به دا وي لږ صبر وکړئ، چې هغه لومړی واده وکړي.

اناتول وويل:

- نه پوهېږئ، زه خو د نجونو غلام يم، هغه هم زما په ليدو سرسامه کېږي.

دولوخوف چې د اناتول له واده نه خبر و، وويل:

- ګوره ته خو يو وار ددې نجونو له لاسه بې آبه شولې، پند دې وانه خيست، ځان ته پام کوه.

اناتول په مهربانۍ وخندل او وې ويل:

- يو وار ولوېدم، خو بيا به دا ونه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

تر تیاتره یوه ورځ وروسته، د رستوف د کورنۍ غړي نه چېرې لاړل او نه څوک ددوی دیدن ته راغلل. ماریا دیمتریوفنا له ناتاشې نه پټه د کوم څه په اړه د هغې پلاره سره غږېده. ناتاشا اټکل وکړ چې هغوی د مشر سردار او له ستونزو نه د ژغورنې په اړه غږېدل. دغې خبرې نه یوازې د هغې خواشنه کړه بلکې ځان لپاره یې سپکاوي هم وګاڼه. هغه هره شېبه د سردار اندرې د راتګ لاره څارله او له همدې کبله یې، هغه ورځ څوکېدار دوه ځله د فازدوفیژنکه کوڅې ته ددې لپاره ولېږه چې وګوري هغه رارسېدلی او کنه، هغه رارسېدلی نه و. هغې ته د راتګ د لومړیو شېبو نه، دغه اوسني حالت خورا ګران او له زغمه لرې و، دغه حالت د هغې د غه بې صبرۍ او غم، له شهزادګۍ ماریا سره د هغې د کتنې ترخې خاطرې، له مشر سردار نه ویره او هغه ویره چې دا یې په علت نه پوهېده لا زیاتول. هغې ته داسې برېښېده چې سردار اندرې به یا هېڅکله بېرته رانه شي او یا که را هم شي، دا به له کوم نوغي سره مخامخ شي. هغې نه شو کولای د پخوا په شان، یوازې د هغه په اړه په آرامه او پرله پسې فکر وکړي. هر وار به یې چې د هغه په اړه فکر کاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه له خیالو سره به د مشر سردار، شهزادګۍ ماریا او پـه وروستۍ ننداره کوراګین یادونه وریاد پېدل. هغې تـه بیا هغـه پوښتنې ور پـه زړه شوې چې ایا د خپـل کوژدنۍ پـه وړاندې ملامتـه ده؟ ایا هغې سردار اندرې ته جفا کړې ده او کنه؟ هغې بیا ځان دې تـه اړ کـړه، چې د هغـه سړي، څېره، خوځېدا د هغه هره خبره، چې کولای شول پـه دې کې دغـه ناپېژندل شوی او له ویرې ډک احساس راویښ کړي، وریاد کړ. ناتاشا د کـورنۍ د ټولـو غـړو تـر نظـره هماغـه شـان چټـه، ښـکلې او مسـته برېښېده، خو د هغې په ګوګل د غم او درد یـو زورور توفـان را الـوتی و.
د یکشنبې په سهار ماریا دیمتریوفنا خپلو ټولو مېلمنو تـه بلنـه ورکـړه چې لـه دې سره یـو ځـای، هغـې کلیسـا تـه لاړ شي، چې دا هـره یکشـنبه ورتله. ماریا دیمتریوفنا پر خپلو خپلواکو خیالونو ډېر نازېدلـه او ویـل یې:
- زه ددې نویو کلیساوو درناوی نه کوم، هغه مې هـېڅ پـه زړه برابـره نه دي. خدای هر چېرې حاضر او یو دی. زموږ پـاپ ډېر ښـه سـړی دی، د نمانځنې ټول مراسم خورا ښه ترسره کوي، د هغـه ټـولې چـارې خـورا پـه زړه پورې او د درناوي وړ دي. د هغه مرستیال هم بد سړی نه دی. پـه دې ورځو کې په کلیسا کې څه کنسرتونه جوړوي او بیـا هغـه تـه د نمـانځنې نوم ورکوي. دا هم ددوی سپېڅلتیاوې دي، نه، نـه دا مـې نـه خوښـېږي، دا ټولې دوکه او لوبې دي.
ماریـا دیمتریوفنـا د یکشـنبې د ورځـې خـورا درنـاوي کـاوه او دغـه ورځ یې د یو جشـن په توګه لمانځله. هغې هره شنبه خپل کور ښـه پـاکـاوه او د مـذهبي غوښـتنو لـه مخـې بـه یـې نـه خپلـه کـار کـاوه او نـه د هغـه چوپړانو. ټولـو بـه پـاکې او سـپېڅلې جـامې اغوسـتې او کلیسـا تـه بـه تلل... کله به چې لـه کلیسـا نـه راسـتنه شـوه، خپـل هغـه شـال یـې پـه اوږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچاوه چې دي به د ځانګړو او بډایو مېلمنو د هرکلي په وخت کې په اوږو اچاوه.هغه په هغه ورځ پاڅېده او په خورا ډاډمن غږ به یې ویل چې، د مشر سردار نیکولای اندرېوویچ بالکونسکي دیدن ته ورځي، چې د ناتاشا په اړه یو دوه خبرې ورسره وکړي.

د ماریا دیمتریوفنا تر تګه وروسته ګنډونکې مېرمن شالمه راغله... او ناتاشا له هغې سره د کالیو په خونولو لګیا شوه. کله چې یې لا خام کوک، ناګنډل شوی کم رنګه کمیس چې لستوڼي یې لا کمیس سره کوک شوي نه و، واغوست، اورمېږ یې ددې لپاره تاو کړ چې په هینداره کې ځان وګوري، د خپل پلار مېنه ناک غږ یې واورېد، چې له یوې ښځې سره غږېږي. ددې غږ په اورېدو ،د ناتاشې رنګ تک سور شو. دا د ایلن غږ و. ناتاشا ددې وخت پیدا نه کړ، چې د اندازه کولو لپاره اغوستل شوی کمیس وباسي، دروازه راخلاصه شوه او مېرمن بیزاوخوفه (ایلن د پېښیر ښځه) چې خوږه موسکا یې پرشونډو خوره وه، کوټې ته راننوتله. دبخمل یو ګلابي جګ غاړی کمیس یې په غاړه و.

هغې ناتاشې ته چې تکه سره اوښتې وه، وویل:

- چې څومره خوږه او مالګینه یې ! او بیا یې ایلیا اندرېوویچ ته چې دې پسې راننوتلی و، وویل:

- نه ګرانه ګرافه، دا نه کېږي، څنګه په مسکو کې ژوند وکړئ او هېڅ چېرې لاړ نه شئ. زه مو نه پرېږدم، نه پېغله جورج زموږ په کور کې د موسیقۍ بنډار لري، ځینې آشنایان هم راځي، که تاسو را نه شئ او خپله دا ښکلې لور را نه ولئ، نور بیا نو زما او تاسې نه کېږي، زما خاوند نه شته، د تویر ښار ته تللی دی، کنه هغه به مې درپسې درلېږی و. هرومرو به راځئ، هرومرو پوره نهه بجې... هغې پرله پسې د ناتاشې پر ښکلا آفرین وایه او د هغې ستاینې یې کولې. ایلن ګنډونکې ته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پخوايي پېژانده سر وښوراوه، د درناوي په نښه لږه خمه شوه، د هيندارې تر څنګ پر لاستي لرونکې څوکۍ کې کېناسته او د خپل بخمل کميس ګونځې يې په هنري ډول شاو خوا را جوړې کړې. هغه آرامه نه شوه، پرله پسې خوږه خوږه غږېده او د ناتاشې پر ښکلا يې آفرين وايه. د ناتاشې کميسونه يې وکتل، هغه يې وستايل، خپل نوی کميس يې هم چې وسپنز ډول ټوکر نه جوړ او نوی له پاريس نه ورته رارسېدلی،وستايه او ناتاشې ته يې مشوره ورکړه، چې هغه دې هم ځان ته دغه شان جوړ کړي. هغې زياته کړه هر ډول جامې په تا ښکلې ښکاري، زما ښکلې !آخ زما زړه وړونکې !

د ناتاشا له بشرې نه د خوند او لذت موسکا نه ورکېده. هغې د دغې مهربانې ګرافينې بيزاوخوفې تر ستاينو لاندې چې پخوا هغې ته يوه ځانګړې مېرمن برېښېده چې غږېدل به ورسره ګران و، ځان نيکمرغه او غوړېدونکی احساساوه. په ناتاشې د خوښۍ څپې راخورې او داسې يې انګېرله چې نېږدې ده، چې پر دغې مهربانې خوږ زړې ښځې زړه بايلي. ايلن هم د ناتاشا په ليدو د بې پايه خوښۍ احساس کاوه او هڅه يې کوله، چې ناتاشا خوشاله وساتي. اناتول له ايلن نه هيله وکړه چې له ناتاشې سره يې ناسته برابره کړي، نو له همدې کبله هغه هم اوس د رستوفيانو ديدن ته راغلې و. له خپل وروسره د ناتاشې ناسته د ناستې جوړول، هغې ته هم خوند ورکاوه.

که څه هم ايلن له ناتاشې نه په زړه کې له دې نه خوابدې وه، چې په پترزبورګ کې يې له هغې نه باريس بې لارې کړی و، خو اوس يې په دې اړه هېڅ فکر نه کاوه او د زړه له کومې يې د ناتاشې د خوښۍ هيله لرله. کله چې يې د تګ تکل وکړ، ناتاشې ته يې ورغږ کړ، سره يوې خوا ته شول او ورته وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پرون مابښام مې ورور له ما سره مابښامنۍ وکړه. ورکه وه یې له خندا نه مو نفس وخوت، څکه یې هم ونه کړه، همدا اسویلي و، اسویلي، همدا یې ویل چې ناتاشا ښکلې ده او ښکلې. پوهېږئ لېوني شوی دی، فکر کوم پر تاسو مین شوی دی، رښتیا لېوني شوی دی.

ناتاشا ددې خبرو په اورېدو له شرمه ګلابي شوه.

ایلن وویل: وای، وای ولې سره شوې، ولې سره شوې! ګرانې! هرومرو به راځئ! که پرچا مینه شوې، دا ددې دلیل کېدای نه شي، چې ځان په کوټې کې زنداني کړې. آن که کوژدنۍ هم لرې، زه فکر کوم هغه هیله لرئ، چې کله هغه نه وي، بند اړونو ته لاړه شې او وخت ښه تېر کړې. نه دا چې ځان د غم په کور کې زنداني کړې.

د ناتاشا په زړه کې تېره شوه:

- ښه، ښه نو پوهېږې چې زه کوژده شوې یم، یعنې هغې له خپل مېړه پېیر سره له همدغه رښتني او ځیرک پېیر سره په دې اړه غږېدلي او خندېدلي دي، هېڅ پروا نه لري، خیر دې وي. او بیا د ایلن تر اغېز لاندې هغه څه چې پخوا ترینه ویرېده، اوس ورته ساده او دورځنې ژوند خبرې وبرېښېدې. ناتاشا بیا له له ځانسره وویل:

- څه غوره مېرمن ده! څومره مهربانه ده، داسې برېښي چې د زړه له کومې ورته ګرانه یم.

ناتاشا بیا په زړه کې ویل: نو ولې وخت ښه تېر نه کړم او خوښه ونه اوسم؟

هغې چې دا خبرې کولې، برند برند او په حیرانتیا یې ایلن ته کتل. ماریا دیمتریوفنا چې غرمه راستنه شوه، طبیعت یې خټه، جدي او داسې برېښېده چې له مشر سردار سره یې په مرکه کې ماته خوړلې وي. هغه، له هغه څه نه چې پېښ شوي و، لا هماغه شان نا آرامه او ګبنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیسته وه، نو ځکه یې نه شو کولای، د پېښې کیسه په آرامه وکړي. ګراف چې له هغې نه د خبرو د پایلې پوښتنه وکړه ورته وې ویل، چې هر څه ښه دي او نورې کیسې به سبا ته وکړي. ماریا دیمتریوفنا چې د مېرمن بیزاوخوفا له راتګ او د هغې له بلنې نه خبره شوه، وې ویل:

- له بیزاوخوفې سره مې تګ راتګ نه خوښېږي او تاسو ته هم مشوره درکوم، چې مه ورځئ.

بیا یې ناتاشې ته مخ وروا ړاوه او زیاته یې کړه:

- خو که ژبه دې کړې وې، لاړه شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

ګراف ایلیا اندرېوویچ خپلې لونې د ګرافینې بیزاو خوفې کره بوتلې. مابنامنۍ ته پوره ډېر مېلمانه راغلي وو، خو ناتاشا د هغو له ډلې نه څه کم ټولو سره پېژند ګلوي نه لرله. د ګراف ایلیا اندرېوویچ په خواشنۍ دې ته پام شو چې په دې بنداړ کې راغلي ټول کسان، نارینه او ښځې په خپل منځ کې د آزادو اړیکو په لرلو پېژندل شوي کسان وو. پېغله جورج د تالار په یوه کنج کې ولاړه او ځوانان پرې ورټول وو، څو فرانسوي او د هغو په ډله کې متهویه چې مسکو ته د ایلن د راتګ نه وروسته د هغې دایمي او ځانګړې مېلمه بلل کېده. ګراف ایلیا اندرېوویچ پرېکړه وکړه چې د قطعو په لوبو کې ډوب نه شي، د خپلو لونو تر څنګ کېني، هغه وخاري او همدا چې د پېغلې جورج ننداره پای ته ورسېږي، سمدلاسه لاړ شي. اناتول د دروازې تر مخې یې ولاړ و او ښکاره وه چې د رستوف د کورنۍ غړو ته سترګه په لاره و. هغه سمدلاسه له ګراف سره ستړي مشې وکړه، ناتاشا ته ورنږدې او هغې پسې وروخوځېد. همدا چې ناتاشا هغه ولید، هماغه د تیاتر د شپې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان که له یوه پلوه د انسانیت احساس له دې کبله پردې څپې غورځولې وې، چې د هغه خوښېږي او له بله پلوه یې له دې وحشت لاره، چې د دې او هغه تر منځ اخلاقي حیا او د هغه پرده له منځه وتلې وه. ایلن ناتاشې ته بې ساری تود هرکلی وو ایه او په لوړ آواز یې د هغې د ښکلا او کالیو ستاینه وکړه. د هغو د راتګ نه لږه شېبه وروسته پېغلې جورج د دې لپاره ووته، چې خپلې جامې بدلې کړي... اناتول ناتاشې ته یوه څوکۍ وروړاندې کړه او غوښتل یې چې د هغې ترڅنګ کېني، خو ګراف چې د خپلو لونو څارنه کوله، د لور ترڅنګ او اناتول د هغو تر شا کېناست.

پېغله جورج په څوربه بربنډو تیو، په څنګلو کې له ورایه لیدونکو نه جوړ شوي غوچوړو سره د ټولو پام ځانته وراړاوه، دهغې سور شال پر یوه اوږه پروت راووته او په یو غیر عادي ډول، په هغه ځای کې چې د څوکیو تر منځ ورته پرېښودل شوی و، ودرېده. د ناستو کسانو له منځه یوه هیجاني شر او شور تر غوږه شو.

پېغلې جورج نندارچیانو ته برند برند وکتل او په فرانسوي د داسې شعرونه په لوستلو لګیا شو چې په هغو کې د یوې شاعرې د ګهنکارې مینې خیالونو انځور شوي وو. هغې به کله آواز لوړ، کله به یې په ساندو بدل کړ، سر به یې په ویاړ پورته کړ او کله به یې پرته له هغه چې څه ووایي، خرهاري وکړ او د سترګو ګاټې به یې د سترګو له کاسې راوویستل. له هرې خوا نه د آفرین او ستاینو غږونه پورته شول، څنګه ښکلې، څه بې سارې، معجزې کوي...

ناتاشې څوربې جورج ته کتل، خو نه یې څه اورېدل، نه یې لیدل او نه په هغه څه چې پو هېده چې د دې تر مخې تېرېدل. هغې ځان په پوره توګه بیا په لوړ، نه راګرځېدونکي او د لېونتوب په هماغه عجیبه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لیده، چې راستنېدل ترې ناشوني او د هغې له خپلې وینا نه ډېر لرې و. هغه نړۍ چې هغه په هغې کې وه، دا ګرانه وه چې څوک پوه شي، چې څه ښـه، څـه بـد، څـه معقـول او څـه نـامعقول دي. انـاتول، د هغـې شـاته ناست و، هغې د هغه نږدوالی احساسوه او په ویرې کوم څه ته سترګې په لاره وه.

په ننداره کې تر لومړي تفریح نه وروسته، ټول پاڅېدل، له پېغلې جورج نه تاوراتاو شول او خپله حیرانتیا یې ورته څرګنده کړه.

ناتاشا چې له پلار او نورو سره یو ځای پاڅېدلې وه، د ګڼې ګوڼې په منځ کې یې ځان لوبغاړې ته ورنږدې کاوه، وویل:

- څه ښکلې ده!

اناتول چې ناتاشې پسې غبرګ روان و، هغې ته یې وویل:

- کله چې زه تاسو ته ګورم، په هغې کې ښکلا موندلی نه شم.

اناتول دا خبره هغه وخت ناتاشې ته کوله، چې یوازې هغې اورېده، هغه، هغې ته وویل:

- تاسو بې سارې ښکلې یاستئ، لـه هغـې شېبې نـه مې چې تاسو لیدلای، نور نو تاسو هېرولې نه شم...

ګراف خپلې لور پسې راستون شو او وې ویل:

- درځه چې ځو، درځه، څومره ښکلې ده!

ناتاشا چې هېڅ نه ویـل، پلارتـه ورغلـه، پـه حیرانتیـا او پوښـتنیز غلچک یې هغه ته کتل.

پېغلـې جـورج تـر څـو نندارونـه وروسـته، بنـدار پرېښـود، لاړه او ګرافیني بیزوخوفې مېلمنو ته بلنه ورکړه چې تالار ته ورشي.

ګراف غوښتل چې بندار پرېږدي، خو ایلن له هغه هیله وکړه، د نڅـا هغه بزم چې له پخواني تکل نه پرته، جوړ شوی دی په خپـل تـګ خـراب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړي. اناتول ناتاشې ته د نڅا بلنه ورکړه او د نڅا په ترڅ کې يې د هغې ملا او لاسونه کېښکودل او ورته ويل چې سخته ښکلې او اداګره ده او له ده نه يې زړه وړی دی. تر هغه وروسته چې په ګډه (داکوسوز) نڅا پای ته ورسوله، اناتول چو په خوله په حيرت کې پاتې و او يوازې يې هغې ته کتل. ناتاشا په دې نه پوهېده، هغه څه يې چې د نڅا په لړ کې د اناتول نه اورېدلي و، د خوب خبرې وې که د ويښتيا. تر نڅا نه وروسته اناتول دوه ځله د هغې لاسونه کېښکودل او ناتاشا په ويرې او وحشت خپلې سترګې پورته خواته ده ته وروا ړولې، خو د اناتول له مينې او لېوالتيا نه په ډکو سترګو کې يې داسې نښې يې وليدې، چې ونه يې کړای شو، هغه ته وګوري او هغه څه ورته ووايي چې ويل يې غوښتل. ناتاشې سرښکته کړ او ژر ژر يې ځواب ورکړ:

- ما ته دا خبرې مه کوه، زه خپل کوژدنی لرم، ما ته بل نارينه ګران دی.

اناتول که څه هم له دې ځوابه خواشينی او تعجب يې وکړ، خو وې ويل:

زما يې ستا په کوژدنی څه، ما ته د خپل نارينه خبرې مه کوه، زه هغه څه کوم؟ زه يوازې دومره وايم، چې لکه لېوني په تا مين شوی يم، لکه لېونی، ايا په دې کې زه ملامت يم چې تاسو زړه وړونکې ياستئ؟... بيا زمونږ وار دی، بايد پاڅېږو. ناتاشا له شوره ډکه، خو ګبنې اخيستې له ويرې نه په پراخو شويو سترګو، شا اوخوا کتل او له عادت نه زياته خوشاله برېښېده. هغې ته د هغه څه نه چې په نننې بنډار کې تېر شوي و، څه په ياد پاتې نه و. هغوی د اکوسوز او د ګروس فاتر څرخوونکې نڅاوې وکړې. پلار يې د تګ غږ کاوه، خو دې هيله کوله چې صبر وکړي او پاتې شي. هر چېرې به چې دا له هرچا سره غږېدله، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د کتو بار به یې په زړه احساسوه. بیا یې ورياد شول، چې له پلاره یې اجازه اخيستې وه، چې د کار کوټې ته لاړه شي او خپل کميس ټول او جوړ کړي، او ايلن دې پسې راغلې وه او په خندا خندا له هغې سره د خپل ورور د لېونۍ مينې په اړه غږېدلې وه او دا ورياد پدل چې په واړه تالار کې بيا له اناتول سره مخامخ شوې ده، ايلن یې له سترګو غږېدلی، او دوی دواړه یې يوازې پرېښي دي او اناتول د هغې لاس ونه رانيولي او په خواږه مينه ناک آواز يې هغه ته ويلي و:

- زه نه شم کولای ستاسو کورته درشم، ايا بيا زه تاسو هېڅکله ليدلای نه شم؟

ناتاشا په مينه کې مې عقل له لاسه ورکړی دی، لکه د لېونو په شان درسره مينه لرم، ايا په رښتيا هېڅکله...؟ هغه چې دا وويل، د هغې لاره یې بنده کړه او خپل مخ یې د هغې مخ ته وروړاندې کړ.

د هغه ځلېدونکې غټې نارينه سترګې دومره د هغې سترګوته ورنږدې وې چې هغې، له دغو سترګو پرته بل څه نه ليدل.

د اناتول پوښتنيز بنګهاری ډوله غږ واورېدل شو چې وايي:

- ناتالي!

او د هغې مړوند يې داسې سخت کېښکود، چې خوږ شو او وې ويل: ناتالي!

د هغه سترګو ناتاشې ته ويل:

- زه په هېڅ نه پوهېږم او د ويلو لپاره هېڅ نه لرم.

د هغه اورنۍ شونډې د هغې پر شونډو ورخښې شوې او ناتاشې په همدې شېبې کې احساس کړه چې له بنده ژغورل شوې او هغه سره هم مهاله په کوټه کې د ايلن د ګامونو او کميس د شغهاري انګازه جوړه شوه. ناتاشې هغې ته مخ وروااړاوه او بيا يې په سور شوي رنګ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګبڼې اخېستي غلچک اناتول ته وکتل او د دروازې پلو وخوځېده.
اناتول غږ پرې وکړ:

- یوازې یوه خبره، د خدای لپاره یوه خبره!

هغه ودرېده، هغې دده د دغې یوې خبرې اورېدو ته سخته اړتیا لرله، ځکه دغې کلمې هغه څه ورته ځرګندول چې پېښ شوي و، نه هغه څه چې ناتاشا به یې ځواب ورکړای وای.

- ناتالي، یوه خبره یوازې یوه خبره. هغه همدا یوه خبره تکراروله.

داسې برېښېده چې هغه خپله نه پوهېده، چې څه ووایي، هغه دا خبره تر هغه وخته پورې تکرار کړه چې ایلن دوی ته ور ورسېده.

ایلن او ناتاشا دواړه غبرګ د هرکلو تالار ته راستنې شوې، خو د رستوف کورنۍ ډوډۍ ته تم نه شوه او لاړل.

ناتاشه چې کورته راستنه شوه، ټوله شپه یې سترګې ورنه وړې. هغه دغې نه اورېدونکې پوښتنې زوروله او عذابوله چې څوک هغې ته ګران دي؟ اناتول که سردار اندرې؟ سردار اندرې ورته ګران و، هغې ته وریادېدل، چې څنګه یې له هغه سره لېونۍ مینه لرله، خو اناتول هم ورته ګران و. د اناتول په ګرانښت کې یې شک نه لاره، هغې ویل:

- که داسې نه وای او هغه ورته ګران نه وای، دغه څه به نه پېښېدل؟ که ما کولای شوای، تر دغې څه وروسته چې پېښ شول، د هغې د خدای په امانۍ موسکا ته په موسکا ځواب ورکړم؟ که ما اجازه ورکړه، چې دغه څه پېښ شي چې پېښ شول، داسې برېښي چې له لومړي غلچک نه په هغه مینه شوې یم. دا خبره دا معنا لري، چې هغه مهربان، پاک زړی او خورا ښه ځوان دی، چې له ګرانښته پرته بله لاره پاتې نه وه. هغه له ځانسره غږېده او نه یې شو کولای دغو زورونکو ویرونکو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

سبا له خپلو غمونو او شراوشورسرهراغي.ټول پاځېدل وخوځېدل او خبرې اترې پیل شوې. بیا ګنډونکي راغلل او بیا ماریا دیمتریوفنا ټول چای ته وربلل. ناتاشا په غټو او لا پراخو شویو سترګو ټولو ته ددې لپاره کتل چې ګواکې هڅه یې کوله، په هر هغه غلچک په معنی پوه شي چې دې ته ور اوړي او خپله د تل په شان وبریښي.

ماریا دیمتریوفنا تر سهارنۍ وروسته(دا د هغه لپاره د ورځې تر ټولو نه غوره وخت و ) پر خپلې څوکۍ کېناسته، ناتاشا او مشر ګراف یې ځانته وروغوښتل، هغې وویل:

- ښه ګرانو دوستانو ! ما خبره ښه او هر اړخیزه ولټوله او خپله د زړه خبره تاسو ته کوم.تاسو پوهېږئ چې پرون د مشر سردار نیکولای کره ورغلې وم.له هغه سره وغږېدم.هغه د چیغو او نارو تکل وکړ، خو تاسو پوهېږي پر ما څوک چغې وهلی نه شي، ما هم خپلې ټولې خبرې ورته په ډاګه وویلې.

ګراف وپوښتل: ښه دا سپینې خبرې نو څه وې؟

- د هغه سپینې خبرې ! هغه یو ځانستایونکی دی او د چا خبره نه اوري، ښه نو څه ووایم، ماریا دیمتریوفنا زیاته کړه:

- مور د غه خواره نجلۍ ډېره په عذاب کړه، که زما خبره منئ، خپل کارونه مو خلاص کړي او ببېرته اترادنیا ته ستانه شي... او هلته سترګې په لاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا د زړه له کومې چغه کړه: نه، نه څه وايئ؟
ماريا ديمتريوفنا وويل:
- نه، ښه به داوي چې لاړ شي او هملته انتظار شي. که ستاسو زوم اوس دلته راشي، خبره بې شخړې او کړکيچه پای ته نه رسېږي، خو که تاسو لاړ شئ، هغه به له پلار سره کيني، له هغه سره به د زړه خواله وکړي او بيا به ستاسو ديدن ته راشي.
ايليا اندرېوويچ د ماريا ديمتريوفنا ټولې خبرې ومنلې او هغه يې خورا هوښيارې وګڼلې. کېدای شي د بوډا زړه نرم شي، بيا به يا مسکو او يا هم ليسه ګورې ته ورشئ او که رضا نه شو، نو بيا به د هغې له خوښې پرته، په اترادنيا کې واده تر سره شي. ګراف وويل:
- تاسو پوره برحق ياستئ، څه بد مې وکړل، چې د هغه ديدن ته ورغلم او هغه مې له ځانسره بوتله.
ماريا ديمتريوفنا چې په خپله وړه لاسي کڅوړه کې څه شی لټول، وويل:
- هېڅ د پريشانۍ خبره نه ده، دلته چې راغلې نو بيا څنګه هغه ته نه وای ورغلي، پوښتنه مو نه وای کړې، ستړې مشې او سلام مو نه وای کړی؟ دا چې تاسو يې ونه منل يې او کتنه يې درسره ونه کړه، اوس چې تاسو د واده کالي هم اخيستي، نو بيا څه ته ګورئ؟ او هغه څه چې لا چمتو شوي نه دي، زه به يې درولېږم، که څه هم زما زړه نه کېږي چې تاسو پرېږدم، خوښه به دا وي چې لاړه شئ. هغې په خپلې کڅوړه کې هغه څه پيدا کړل، چې لټول يې، هغه يې راوويسته او ناتاشا ته يې ورکړه. دا شي، د شهزادګۍ ماريا ليک و. ماريا ديمتريوفنا وويل:
- تا ته يې ليک ليکلی دی، هغه خواره ډېره زورېږي، چې ته فکر ونه کړې، چې ته ورته ګرانه نه يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتاشا وویل:

- هو کې، هغې ته زه ګرانه نه یم.

ماریا دیمتریوفنا چغه کړل:

- اپلتې مه وایه!

ناتاشې لیک واخیست او په زړورتیا یې وویل:

- په هېڅ چا مې باور نه راځي. زه پوهېږم چې ورته ګرانه نه یم.

کله چې یې لیک واخیست، د خبرې ښه یې بدله شوه، په هغې کې د کرکې او خواشینۍ نښې څرګندې شوې. داسې نښې چې ماریا دیمتریوفنا په ځیر ځیر هغې ته، ځیر شوه، تندي یې تریو کړ او وې وویل:

- ادکې ته داسې ځوابونه مه وایه! هغه څه چې زه وایم، رښتیا دي، ښه به داوي چې لیک ته یې ځواب ورکړې.

ناتاشا پرته له هغه چې څه ووایي، پاځېده او خپلې کوټې ته لاړه، چې د شهزادګۍ ماریا لیک ولولي.

شهزادګۍ ماریا لیکلي و چې د هغه نه پوهېدنې له کبله چې د دوی ترمنځ راغلي، خورا خواشینې ده. هغې لیکلي و:

- د هغې پلار چې هرڅنګه وي، وي به، خو دا خپله غواړي چې ناتاشا دا ومنئ، دا امکان نه لري، هغه څوک چې ورور یې د ځان لپاره خوښه کړې، دې ته ګرانه نه وي، دا د ورور د نیکمرغۍ لپاره هر ډول سرښندنې ته چمتو ده، بیا یې لیکلي و:

- دا فکر مه کوه چې پلار یې دې ته په ښه سترګه نه ګوري، هغه زوړ او ناروغه دی، هغه باید وبښو، هغه د لوړو خیالو او مهربان سړی دی او هغه څوک به هرومرو ورته ګران وي چې د زوی نیکمرغي یې غواړي. هغې د لیک په پای کې هیله کړې وه، چې د دوی د کتنې لپاره وخت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېټه وټاکي.

ناتاشا ليک ولوست او ميز ته کېناسته، چې ځواب يې وليکي. په خپل سر يې بې له ارادې او پرته له هغه چې فکر وکړي، په چټکۍ وليکل:

-ګرانې شهزادګۍ! او بيا يې قلم ودرېد. له هغه وروسته چې پرون ور پېښ شوي، نن به څه وليکي؟ د پيل شوي ليک په وړاندې ناسته وه او ويل يې:

- هوکې، هوکې، هغه څه چې پخوا و، و، اوس هر څه بدل شوي دي. بايد ځواب ورکړم؟ خپله ژبه هېره کړم؟ ايا په رښتيا بله لاره نه شته؟ او چې څومره وحشتناکه ده!... د دغو وحشتناکو خيالونو د ژغورنې په هيله پاڅېده او سونيا ته ورغله او له هغې سره يې د ګنې په اوبدلو پيل وکړ.

تر غرمنۍ نه وروسته، خپلې کوټې ته لاړه، بيا يې د شهزادګۍ ليک راواخيست. له ځانسره يې ويل:

- ايا په رښتيا هر څه پای ته رسېدلي دي؟ په رښتيا هر څه داسې ژر، ځي راځي، بدلېږي او پخواني هر څه هېرېږي؟ له سردار اندري سره يې خپله لېونۍ مينه په خورا مينه ناک لېونتوب وريادوله او دا يې هم احساسوله، چې کوراګين هم ورته ګران دی. ځان يې په ځرګنده د سردار اندري ښځه انګېرله او له هغه سره يې د نيکمرغه ګډ ژوند انځورونه انځورول. خو کله به يې چې له اناتول سره خپلې پرونۍ کړه وړه وريادشول، له مينې نه به يې اور واخيست...

په دا شېبه کې يوه مېنځه کوټې ته راننوته او هغې ته يې په پټه او رازه ډک آواز وويل:

- يو چا دغه ليک راکړ، هغې مينځې ليک هغې ته ورکړ او وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل:

- یوازینۍ هیله مې دا ده چې د خدای لپاره...

ناتاشا پرته له هغه چې ځنډ وکړي، په یوې خوځېدا یې په خپل سر لیک پرانیست او د اناتول مینه ناک لیک یې ولوست. هغه د لیک په هېڅ شي پوه نه شوه، یوازې دومره پوه شوه، چې هغه د اناتول دی. د هغه ځوان لیک چې دې ته ګران دی. هو کې دې ته ګران دی، که داسې نه وای، څنګه هغه څه پېښېدای شول چې پېښ شوي دي؟ که دې ته ګران نه وای دا څنګه کېدای شو، چې اوس د هغه مینه ناک لیک د دې په منګلو کې وي؟

ناتاشا له مینې نه ډک، مینه ناک لیک، په خپلو رېږدېدونکو منګلو کې نیولی و او هغه یې لوست او هغه څه یې په هغه کې موندل چې د دې په زړه کې تېرېدل. لیک داسې پیل شوی و:

- له پرون ماښام نه زما برخلیک ټاکل شوی دی، یا به مرم او یا به تا ته ګران و اوسم، دربیمه لاره نه شته. بیا یې لیکلي و چې دی په دې خبر شوی دی، چې د ناتاشا کورنۍ به هغه دې ته ورنه کړي، دد غې نه ورکړې رازونه دی کولای یوازې دې ته وو ایې، خو که ناتاشې ته هغه ګران وي او یوازې وو ایې چې «هو» نو بیا هغه وخت، بل هېڅ واک نه شته، چې د هغو د نیکمرغۍ خنډ شي. مینه به پر هر څه لاسبرې شي. دی به هغه پټه کړي او د دنیا بلې خوا ته به یې له له ځانسره بوزي...

ناتاشا د شلم ځل لپاره لیک ولوست، هغې، د هغه په هر توري او کلمې کې، کومه ژوره معنا لټوله، او په زړه کې یې ویل:

- هو، هو ! راته ګران دی.

هغه ماښام، ماریا دیمتریوفنا د ارخارف دوی کره تله، نجونو ته یې د ملګرتیا غږوکړ، خو ناتاشا د سردردۍ په پلمه په کور کې پاتې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

سونیا چې ناوخته د شپې کورته راستنه شوه، کوټې ته ننوته او په حیرانتیا سره یې ولیدل چې ناتاشا له جامو سره پر څوکۍ ویده ده. له دې نه لرې لرې، پر میز د اناتول پرانستی لیک پروت و. سونیا لیک راواخیست او د هغه یې ولوست.

هغې لیک لوسته او په خوب کې د ډوبې ناتاشا بشرې ته یې کتل، کتل یې او د هغې په څېره کې یې د هغه څه نښې لټولې، چې په دې په لیک کې لوستل، خو هېڅ شي یې موندلای نه شو. د ناتاشا څېره ښکلې او خوندوره وه او د لذت نښې په کې څرګندې وې، خپل ټټر یې ټینګ کړ، ځکه انګېرله یې چې سا یې بندېږي، په الوتي رنګ، وحشت، پریښانۍ او رېږدونکي آواز پر څوکۍ کېناسته، او له سترګو یې د اوښکو باران جوړ شو، هغې ویل:

- څنګه ما هېڅ شي نه لیدل؟ څنګه دا ټول دومره مخکې تللي؟ ایا نور نو په سردار اندرې مینه نه ده؟ څنګه هغې کولای شو، دا کوراګین ځانته دومره نېږدې راپرېږدي؟ دا ښکاره خبره ده چې هغه دوکه مار او غولونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. که نیکولای، زما ګران او خوږ زړی نیکولای له دې خبرې نه خبر شي، څه به وایئ؟ دا ده اوس څرګنده شوه، چې دا پرون او هغه بله ورځ ولې داسې ګبنې اخیستې او رنګ الوتي و، خو دا ناشونې خبره ده چې پر کوراګین مینه شوې وي. هرومره دا به نه پوهېده چې دا لیک د چا دی، هسې په تېروتنه کې یې پرانستي، هرومرو له دې نه خوابدې ده چې ولې یې هغه لوستی دی، هېڅ امکان نه لري چې داسې وکړي.

سونیا خپلې او ښکې پاکې کړې، ناتاشې ته ورنږدې شوه او بیا د هغې څېرې ته ځیر شوه.

په داسې یو آواز یې چې متهې اوربدل کېده، وویل:

- ناتاشا !

ناتاشا راویښه شوه او سونیا یې ولیدله.

- اوهو، راستنه شوې یئ؟

په خورا مهربانۍ او عاطفې یې، چې د راویښېدو د لومړنیو شېبو ځانګړتیا ده له خپله خورلنډې نه غېږ تاو کړه، خو د سونیا پریښانې څېرې ته یې پام شو، په څېره کې یې د اندېښنو او بدګمانۍ نښې راڅرګندې شوې او وې ویل:

- سونیا لیک دې ولوست؟

سونیا په کراره ځواب ورکړ: هو ومې لوست.

ناتاشا له خوښۍ نه وغوړېده وموسېده او وې ویل:

- نه سونیا، نه، نور نو نه شم کولای خپل راز له تا نه پټ وساتم، ته پوهېږې مونږ یو بل ته ګران یو... سونیا، د زړه سره ! هغه لیک لیکي... سونیا !

سونیا ګواکې چې په خپلو سترګو او غوږو باور نه لاره په ویستلو سترګو هغې ته ځیره شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او بالکونسکي څنګه کېږئ؟

- آه سونیا ، اخ که ته پوهېدلای، چې څنګه بختوره یم. ته نه پوهېږې چې مینه څه ته وایئ؟

- نو ناتاشه ! ته څه وایئ، ایا له سردار اندرې سره هر څه پای ته ورسېدل !

ناتاشا په غټو او له حیرته راوتلو سترګو سونیا ته داسې کتل، چې ګواکې د هغې په پوښتنو نه پوهېږي.

سونیا وپوښتل:

- څه، سردار اندرې ته ځواب ورکوې که څنګه؟

ناتاشا ناڅاپه له قهره تکه سره شوه، له یو سختې خواشینې سره یو ځای وویل:

- غوږ شه، ته په هېڅ څه نه پوهېږې هسې ملنډې مه وایه.

سونیا تکرا کړه:

- نه، نه زما باور نه راځي، زه په دې نه پوهېږم چې پوره یو کال بل سړی درته ګران و او اوس ناڅاپه... ګوره تا خو یوازې درې واره هغه لیدلی دی، ناتاشه، زه تا هېڅ نه پېژنم، زما ستا په خبرو باور نه راځي، ټوکې به کوې، په درې ورځو کې هر څه داسې هېرول...

ناتاشا وویل:

-دا درې ورځې ما ته داسې بریښي چې ته به وایې سل کاله کېږي چې هغه راته ګران دی. داسې انګېرم چې مخکې له هغه نه هېڅوک راته ګران نه و ، سونیا ته په دې پوهېدای نه شې، ته راشه کېنه. دلته راشه ! له هغې نه یې غېږ تاو کړه، مچ یې کړه، بیا یې وویل:

- ما د داسې مینتوب اورېدلي و ، تا به هم اورېدلي وي، خو دا دي اوس یې خپله احساسوم. دا مینه، زما له پخوانۍ هغې نه ډېر توپیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. همدا چې ما هغه ولیده، ما احساس کړه چې هغه زما بادار او زه یې مینځه یم. هره سپارښتنې چې وکړې ورته غاړه ږدم. ته خو نه پوهېږې نه پوهېږئ چې څه وکړم؟ سونیا تا ته وایم څه وکړم؟

ناتاشا چې غږېده، څېره یې بختوره، خو ویرجنه ښکارېده.

سونیا وویل:

-خو ته لږ فکر وکړه، ته څه کوئ؟ زه نه شم کولای لاس تر زنې کېنم، دا پټ لیک یې بیا څه وي؟ سونیا چې نه شو کولای خپل وحشت او کرکه پټ کړي، دوام یې ورکړه:

- آخر تا څنګه اجازه ورکوله، چې خبرې دلته راورسېږئ؟

ناتاشا ځواب ورکړ:

- زه تا ته وایم، زه هېڅ نه شم کولای، ته ولې په دې خبره نه پوهېږئ؟ ما ته ګران دی، ګران.

سونیا چې د اوښکو باران یې له سترګو راشېوه شو، چغه کړل:

- دا سې یې کله پرېږدم، زه ځم او ټولو ته وایم.

ناتاشا وویل:

- نه، نه د خدای لپاره، که ته چا ته وواېئ، ته زما دښمنه یې، ته زما بدمرغۍ غواړې، ته غواړې چې مونږ سره جلا شو.

سونیا چې د ناتاشا دا ویره ولیده، له دغه حاله یې له شرمه او هغې سره د خواخوږۍ له کبله وژړل.

سونیا وپوښتل:

-نو ستاسو تر منځ څه تېر شول؟ هغه تا ته څه وویل؟ ولې کورته نه راځي؟

ناتاشا د هغې پوښتنو ته ځواب نه وایه، خو په زاریو زاریو یې سلګۍ وهلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د خدای لپاره سونیا ! هېڅ چاته، هېڅ ونه وایئ، ما به نه زوروې.
هوکې هغې په زاریو زاریو ویل:
- ته په یاد لره، په دغه شان کارونو کې هېڅ مه ورگډېږه، غواړم تا ته په ډاگه ووایم...
سونیا وپوښتل:
- نو دا رازونه د څه لپاره؟ هغه ولې کورته نه راځي؟ ولې په ښکاره ستا ریباري نه کوي؟ مگر سردار اندرې خو تا ته پوره واک او خپلواکي درکړې ده؟ خو په دې مې باور نه راځي، خو ناتاشې ! ته خپله فکر وکړه، دا پټ رازونه او دلایل به څه وي؟
ناتاشا له حیرته په ډکو سترگو سونیا ته کتل، داسې برېښېده چې دا د لومړي ځل لپاره و، چې دغه شان یوه پوښتنه اوري او هغه په دې نه پوهېده، چې دې پوښتنې ته څه ځواب ورکړي.
- په دلیلونه نه پوهېږم، خو دلایل به وي کنه.
سونیا سوړ اسویلی وویست او په ناباورۍ یې سر وښوراوه.
- که دلایل وو، نو...
خو ناتاشا چې د هغې د شک اټکل وکړ، په ډار یې د هغې خبره پرېکړه او وې ویل:
- سونیا ! ته حق نه لرې، چې په هغه شک ولرې، نه شې کولای، نه شې کولای، پوهېږې کنه؟
- ایا ته هغه ته گرانه یې؟
ناتاشا په داسې یوې موسکا چې د خورلنډې په سادگۍ او نه پوهېدنې یې زړه سوی ښوده، تکرار کړه:
-ایا گرانه یئ؟ مگر تا یې لیک ونه لوسته، پوه نه شوې.
- که ښه سړی نه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه شی؟ که ښه سړی نه وي؟ سونيا که ته پوهېدای.

سونيا په غوڅ او ټينګ آواز وويل:

- که هغه ښه سړی دی، يا بايد خپل نيت څرګند کړي او يا دې ستا سره کتنې نه کوي. که ته نه شې کولای دا ورته ووايې، د تا پر ځای به زه ورته ووايم. زه به هغه ته ليک وليکم او پلار ته به هم ووايم.

ناتاشې چغې کړې:

- هو کې، زه بې له هغه نه ژوند نه شم کولای.

- ناتاشې، زما هېڅ په دې سر نه خلاصېږي، زه په دې نه پوهېږم، دا ته څه وايې؟ پلار درياد کړه، نيکولای ته به څه وايي.

ناتاشا بيا چغې کړې:

- زما هېڅ څوک په کار نه دی، ما ته له هغه پرته بل څوک ګران دي، څنګه کولای شې ته ووايې، چې هغه ښه سړی نه دی. ايا ته په دې نه پوهېږې چې هغه ما ته څنګه ګران دی؟

ناتاشې چې آواز يې رېږدېده، ډېر شوی وه او کرکه ترې ورېده، وويل:

- سونيا ووزه، نه غواړم له تا سره ناندرۍ وکړم، ووزه، د خدای لپاره ووزه، ته ګورې چې زه څنګه زورېږم؟

سونيا په سلګو او ژړا له کوټې نه ووته.

ناتاشا ميز ته کېناسته او پرته له هغه چې يوه دقيقه هم فکر وکړي، هغه ځواب يې چې سهار راهيسې يې نه شو کولای، شهزادګۍ ماريا ته وليکي، وليکه. هغې په لنډه توګه وليکل:

- ددوی تر منځ ټولې نه پوهېدنې پای ته رسېدلې، دا د هغې د خپلواکۍ او واک نه چې سردار اندرې د تګ په وخت کې دې ته ورکړی و، ګټه اخلي او دې نه هيله کوي، چې هر څه هېر کړي او دې که د هغې په وړاندې کومه تېروتنه کړې وي، دا دې وبښي. دا نه شي کولای، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې ښځه شي.

دا ټولې خبرې په هغې شيبې کې، دې ته خورا آسانه او ساده وبرېښېدې.

ټا کل شوې وه چې د جمعې په ورځ رستوفيان کلي ته ستانه شي. ګراف د چارشنبې په ورځ له يو چا سره چې د ده د مسکو د څنګ جايدادونه يې اخېستل، هلته لاړ.

د ګراف د تګ په هماغه ورځې سونيا او ناتاشا يو لويې غرمنۍ ته د کوراګيانو (اناتول او د هغه خور ايلن) کورته مېلمستيا ته بلل شوي وو. ماريا ديميتروفنا دوی هلته بدرګه کړل. په دې مېلمستيا کې ناتاشا او اناتول بيا سره وليدل او د سونيا دې ته پام شو چې ناتاشا له هغه سره څه ويل، خو هڅه يې کوله چې څوک يې وانه اوري. دواړه د غرمنۍ په ټوله موده کې له پخوانه لا احساساتي او نا آرامه برېښېدل. کله چې نجونې بېرته کورته را ستنې شوې، سونيا غوښتل له هغې سره وغږېږي، خو ناتاشا خپله لومړی د خبرو د سپينولو لپاره ناندرۍ پيل کړې. ناتاشې په ماته ژبې، په هغې ژبې چې ماشومان کله له چا نه د ستاينې هيله لري، پرې غږېږي، غږېده، هغې وويل:

- ودې ليدل، سونيا ! تا پر هغه ملنډې وهلې، ما له هغه سره په بل ډول سپينه کړه.

- نو څه، څه وشول؟ نو ، نو هغه څه وويل؟ ناتاشا زه څومره خوشاله يم چې ته له ما نه خوابده شوې نه يې. ووايه، ووايه ماته ټول رښتيا ووايه. هغه څه وويل؟

ناتاشا په حيرت کې لاړه.

- اه سونيا کاشکې تا هغه، هغه شان پېژندای، چې زه يې پېژنم ! هغه وويل... هغه له مانه وپوښتل چې له بالکونسکي سره مې اړيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه دي، خو کله چې پوه شو ، چې سردار اندرې، د اړیکو په شلولو کې ما ته واک رابښلی، خوشاله شو.

سونیا د خواشینې یو سوړ اسویلی وکړ او وې ویل:

- نو ، تا خو لا له بالکونسکي سره اړیکې نه دي شلولې.

- چا تـه معلومه ده، کېدای شي شلولي مې وي، کېدای شي لـه بالکونسکي سره هر څه پای ته رسېدلي وي، ولې زما په اړه داسې فکرونه کوئ؟

- زه هېڅ فکر نه کوم، زما په دې خبرو سر نه خلاصېږي.

- سونیا ته لږ صبر وکړه، په هر څه به پوه شې. ته که یو وار هغه ووینئ، په رښتیا به پر هر څه پوه شې. ګوره نه د هغه او نه د ما ، زموږ په اړه بد فکر مه کوه.

- زه د هېڅ چا په اړه بد فکر نه کوم، ټول راته ګران دي او پر ټولو مې زړه خوږېږي، ولې څه کولای شم؟

سونیا د ناتاشا د غږېدا په خواږه او نرم آوازو ،نه غولیده. څومره به چې د ناتاشا څېره هیلمنده او مهربانه کېده، په هماغه اندازه به د سونیا څېره لاپسې برنده او جدي کېده، هغې وویل:

- ناتاشا تا ماته وویل چې له ما سره مه غږېږه، زه نه غږېدم، اوس خو تا خپله خبرې پیل کړې. ګوره ناتاشا ! زه په هغه باور نه لرم. دا ټولې پټې خبرې د څه لپاره دي؟ دا رازونه؟

ناتاشا زه په تا ډارېږم !

- ولې ډارېږې؟

سونیا په ډاګه وویل:

- زه په دې ډارېږم چې ځان به مړ او تباه کړې.

سونیا د دې خبرې په ویلو خپله له خپلې خبرې وډاره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناتاشې پر خبرې بیا د کرکې څپې راخورې شوې.

- هو کې، ځان به تباه کړم، ځان به ژر نابوده کړم، هرڅه چې کوم په تا یې څه؟ تا پورې هېڅ اړه نه لري، که تباه کېږم، زه به تباه کېږم. پرې مې ږدئ، په کرار مې پرېږدئ، تا نه هم کرکه لرم.

سونیا له ډاره په ډک آواز غږ وکړ: ناتاشا !

- تا نه کرکه لرم، کرکه ! اورې کنه؟ کرکه، ته زما ابدي دښمنه یې !

او ناتاشا په منډه د باندې ووته. هغه نور نوله ناتاشې سره ونه غږېده او هڅه یې کوله چې په مخه ورنه شي.

ناتاشا د ګبنې په هماغه حالت، په هماغه ویرجنې له خواشینې څېرې د ګنهکارانو په څېر له یوې کوټې نه بلې او له بلې نه بلې ته سرګردانه تله راتله، یو شي به یې هسې راپورته کول او سمدلاسه به یې بېرته غورځول.

که څه هم د سونیا لپاره، دغه ټول خورا ګران تمامېدل خو بیا هم هغې خپلې خورلنډې پسې کتل او هغه یې څارله.

د ګراف د راستنېدو په درشل کې، یوه ورځ له هغه د مخه چې باید هغه راګرځېدلې وای، د سونیا پام شو چې ناتاشا ټول سهار د مېلمستون د کړکۍ خواته ناسته او څه ته سترګې په لاره ده او یوه نارینه پوځي ته چې سونیا پر هغه د اناتول ګمان وکړ، کومه اشاره وکړه. سونیا خپلې خورلنډې پسې خپله څارنه لا زیاته کړه او دې ته یې پام شو چې ناتاشا ټول وخت له سهاره تر ماښام پورې یو عجیب او ناآرامه حالت درلود ،هغې،هغو پوښتنو ته چې له دې نه کېدې، ګډوډ ځوابونه ویل، خبرې یې ناتمامې پرېښودې او په هر څه یې خندل.

ترچای نه وروسته سونیا ولیدل چې یو مینځه چې ډار پسې اخېستې وه، د ناتاشې د کوټې د دروازې شاته انتظار وه. هغې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځې ته اجازه ورکړه چې ورننوزي، خو خپله یې د دروازې شا ته غوړ ونیو او پوه شوه، چې بیا یې هغې ته لیک راوړی دی، ناڅاپه سونیا ته څرګنده شوه چې ناتاشا د مابنام لپاره کوم ګوابنمن تکل لري. هغې دروازه وروټکوله، خو ناتاشې دروازه خلاصه نه کړه.

سونیا له ځانسره فکر وکړ:

- هغه، له هغه سره تښتي ! هغه هرڅه ته تیاره ده. نن د هغې بشره په ځانګړي ډول د زړه سوي وه او د یو تکل ننبې په کې لیدل کېدې. سونیا ته ورپه یاد شول، چې هغه ورځ یې له پلار سره په خدای په امانۍ کې وژړل. هو کې هرومرو ناتاشا له هغه سره د تېښتې تکل کړی دی. هو کې دا نور ښکاره خبره ده چې هغوی تښتي، ښه اوس نو زه څه وکړم؟ پلار جان هم نه شته ! کوراګین ته لیک ولیکم، پوښتنه ترې وکړم؟ څوک به هغه دې ته اړ کړي، چې ما ته ځواب ولیکي؟ پییر ته یې ولیکم؟ سردار اندرې ویلي و چې د کومې پېښې په وخت کې له هغه مرسته وغواړم ! او یا کېدای شي په رښتیا یې له سردار بالکونسکي سره خپلې اړیکې شلولې وي. (هغې خو پرون شهزادګۍ ماریا ته لیک لېږلی دی). کاشکې، پلار جان دلته وای.

سونیا ته دا خورا ګرانه برېښېده چې په دې اړه له ماریا دیمتریوفنا سره وغږېږي، ځکه هغې په ناتاشا ډېر باور درلود.

سونیا په تیاره دهلېز کې ولاړه وه او په زړه کې یې ویل:

- اوس ددې وخت رارسېدلی، وښیم چې دا کورنۍ څومره په ما حق لري، ما ددوی ښه هېر کړي نه دي، څومره نیکولای ما ته ګران دی. آن که درې شپې هم وېده نه شم، زه به په همدې تیاره دهلیز کې ولاړه و اوسم. زه به له خپل ټول قوت نه کار واخلم او هغه به تېښتې ته پرې نه ږدم. نه، زه به اجازه ورنه کړم چې دغه کورنۍ رسوا او بدنامه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۶

اناتول په دې وروستيو وختونو کې، د دولوخوف کره استوګن شوی و. د ناتاشا د تښتولو لاره لا څو ورځې د مخه دولوخوف جوړه کړې وه او په هماغه ورځ چې سونيا د هغې د کوټې تر شا غوږ ونيو او د هغې د ساتنې تکل يې وکړ، بايد تښتول شوي وای. ناتاشا ژبه کړې وه چې د ماښام په لسو بجو، د ودانۍ د شا له خوا ور وتلې او کوراګين هغه درې آسيزه ګاډۍ کې د مسکو په شپېته ورستۍ کې پراته کامنکا نومي کلي ته تښتولې وای. په هغه کلي کې له کليسا نه يو شړل شوی خوابدی پاپ رابلل شوی و چې د هغوی نکاح وتړي، له هغه ځايه بايد د ډاګي آسونو په مرسته د وارسا واټ ته رسول شوی او بيا له هغې سيمې نه د ډاګ په ګاډيو کې په چټکۍ بهر ته تللی وای.

اناتول پاسپورت درلوده، لس زره روبله يې له خور نه اخيستي و او لس زره نور يې هم په ضمانت له دولوخوف نه پور کړي و. دوه شاهدان يو خوستيکوف چې پخوا يې د کاتب دنده لرله او اوس دولوخوف په جوارګرۍ او بل کوم اخ و ډب کې د ناندريو لپاره له ځانسره ګرځاوه او بل مکارين چې د سواره پوځ يو متقاعد افسر و. دغه افسر ښه سړی و، مګر لږ مست غوندې ښکارېده. د هغه کوراګين ډېر خوښېده. دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه په لومړۍ کوټې کې ناست او چای یې څکه.

دولوخوف چې د سفر کالي یې اغوست، موزې یې په پښو، د خپل کار په کوټه کې چې غولی او دیوالونه په پارس کې جوړو شویو قالینو، د خرس په پوستونو او ډول ډول وسلو فرش او سینګار شوي و، د هغه میز تر شا چې... څو بنډله پیسې پرې پرتې وې، ناست و. اناتول چې تنې پرانستې پوځي دریشي اغوستې وه، له هغې کوټې نه چې شاهدان یې په کې ناست وو، د ودانۍ د شا کوټې له لارې چې هلته دفرانسوي چوپړ یې له څو نورو تنو سره وروستي پنډونه تړل، د دولوخوف کوټې ته تګ راتګ کاوه. دولوخوف د پیسو بنډلونه شمېرل او لیکل یې، هغه وویل:

- ښه خوستیکوف ته باید دوه زره روبله ورکړې.

اناتول وویل: نو، ور یې کړه!

دولوخوف وویل:

- خو ماکارکا (ماکارین دوی په دې نامه یادوه) بې له هغه چې څه ته سترګه ونیسي، د تا په خاطر په اور او اوبو کې ځان اچوي. بیا یې خپلو حسابونو ته اشاره وکړه او وې ویل:

- حسابونه ټول پوره شول، ښه، څنګه منئ یې کنه؟

اناتول چې ښکاره وه، د دولوخوف خبرې نه اوري، له هغې موسکا سره چې له شونډو نه یې نه لرې کېده، پرته له هغه چې هغه ته وګوري، وویل:

- ښکاره خبره ده، چې منم یې.

دولوخوف خپل دفتر وتاړه او له ملنډو نه په ډکې موسکا یې اناتول ته وویل:

-پوهېږئ تا ته وایم، پرېږده، تر اوسه لا وخت شته، دا لېونتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر بېړده !

اناتول ځواب ورکړ:

- احمقه، دا څه وايئ، ته دا اپلتې ويل پر بېړده... که ته پوهېدای، چې... خدای خپله ښه پوهېږي، چې څه به کېږي...

دولوخوف بيا وويل:

- رښتيا درته وايم، دا لېونتوب دی چې ته يې کوې، پر بېړده ګوره ! دا ټوکې نه دي، ته له اور سره لوبې کوې.

اناتول وويل:

- بيا بيا مې لمسوې، بيا مې پاروې، ورکېږه بلا درپسې ! پوه شوې؟ ولې مې خپه کوې، رښتيا درته وايم، زه ستا ددې ټوکو د اورېدو وخت نه لرم.

دا يې وويل او له کوټې نه ووت. کله چې له کوټې نه ووت، دولوخوف هغه پسې مهربانه خو له سپکاوي ډکه خندا وکړه.

دولوخوف ورپسې ورغږ کړ:

- تا ته وايم ودرېږه، ټوکې نه کوم، رښتيا وايم، دلته راشه، دلته !

اناتول بېرته کوټې ته راستون شو، هڅه يې وکړه، آرام او هغه ته ځير او خبرو ته يې غوږ شي. هغه ته يې وکتل او له خپلې خوښې نه پرته يې هغه ته غاړه کېښوده.

- ګوره غوږ شه ! د وروستي ځل لپاره درته وايم، زه له تا سره ټوکې لرم؟ چې له تا سره ټوکې وکړم. تر اوسه مې د تا په وړاندې څه ويلي و؟ پاسپورت چا درته جوړ کړ؟ پيسې چا درکړې؟ پاپ چا درته راوبوله؟ له ما پرته بل څوک و، چې دا ټول درته وکړې؟

دا يې ورته وويل، له هغه نه يې غېږ تاو او ښکل يې کړ.

هوکې ما له تا سره مرستې کړي دي، خو رښتيا هم بايد درته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاګه کړم. دا کار چې ته کوې، دا ډېر ګوانښمن کار دی او که لږ فکر وکړې، دا لېونتوب او حماقت دی. ښه تا هغه وتښتوله او لاړې، ډېر ښه، خو خبره دلته پای ته رسېږي؟ نه، فکر کوې، چې ته به آرامه شې؟ دا به ورته سپینه شي چې تا ښځه لرله او محکمې ته به دې خبره ورسېږي.

اناتول بیا تندی تریو کړ او وې ویل:

- چې څومره اپلتې غږوئ! ما خو هر څه درته ویلي کنه؟ هغه په هماغه ځانګړي تعصب سره چې زیاتره باڅاري او بې عقله خلک یې، له خپلې بې عقلۍ نه لاس ته راغلو پایلو لپاره کاره وي، خپل سل ځله ویل شوي دلایل بیا د دولوخوف ته واورول، هغه وویل:

- ګوره بیا هم درته وایم، ما خپله پریکړه کې ده. هغه خپل ټول امکانات او لارې یادې کړې او په داسې حال کې چې خپلې ګوتې یې شمېرلې وویل:

- که دغه واده ښه دی یا بد، زه هېڅ مسوولیت نه لرم، که ښه هم شي، ما ته کوم ارزښت نه لري، په بهر کې څوک له هغه نه، نه خبرېږي، داسې نه ده؟ نوله تا نه هیله کوم، نورې خبرې بس کړه، چوپ او په کرار مې پرېږده او خبرې مه کوه.

- رښتیا درته وایم، پرېږده، دا لېونتوب پرېږده، ته ځان ته خپله زولنې اچوې.

اناتول وویل:

- څه ورکېږه، بلا درپسې!

خپلې څنې یې په دواړو منګلو کې کلکې کړې، بلې کوټې ته لاړ، خو سمدلاسه بېرته راستون شو، دولوخوف ته مخامخ نېږدې پر څوکۍ یې پلترۍ ووهلې، د هغه لاس یې راونیو، پر خپل زړه یې کېښود او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ويل:

- خدای خپله پوهېږي، چې څه خبره ده؟ ته ګوره چې څنګه وهل کوي؟ څنګه مې زړه درزېږي؟ پوهېږې څه پښې لري؟ مهربانه ملګريه ! څه غلچکونه، ښاپېرۍ ده، ښاپېرۍ، پوهېږې؟

دولوخوف چې ښکلې او سپين سترګې، سترګې يې ځلېدلې په دې هيله يې هغه ته يو ترخه موسکا ورولېږله، چې نور هم ملنډې پرې ووهي او وې ويل:

- نو که پيسې دې خلاصې شي، بيا به څه کوې؟

اناتول د زړه له کومې په راتلونکې د نه پوهېدو د تصور نه وړاندې خپله پوښتنه تکرار کړه:

- نو بيا به څه کوې؟ ښه؟ نه پوهېږم چې بيا به څه کوم... دا څه احمقانه خبرې دي. خپل ساعت ته يې وکتل او وې ويل:

- ښه نو ! نور يې وخت رارسېدلی دی.

اناتول پس خانې ته لاړ او پر خپلو چوپړانو يې غږ وکړ:

- نور هم ځنډېږو، که څنګه؟ دا څه شی لټوئ؟

دولوخوف د ميز له سره پيسې ټولې کړې، يوه سړي ته يې ددې لپاره ورغږ کړل، چې دوی ته ډوډۍ او شراب برابر کړي. خپله ووت او هغې کوټې ته لاړ چې ماکارين او خوستيکوف په کې ناست وو.

اناتول په کوټه کې پر ولاړې غځېدلې څوکۍ څنګل وهلې وه، سر يې لاس کې نيولی و او په داسې حال کې چې په خيالو کې ډوب و، موسېده، تر شونډو لاندې يې نرم نرم څه ويل.

دولوخوف له بلې کوټې ورته راغږ کړ:

- راځه کوم شي وخوره، يو جام پورته کړه.

اناتول چې هماغه شان موسېده، ځواب ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه، نه یې غواړم.
- ورشه بالاګا راغلی.

اناتول پاڅېد او خوړنتون ته ورننوت، بالاګا، د درې آسیزه ګاډیو یو پېژندل شوی ګاډیوان و، چې له شپږو کالو راهیسې یې له دولوخوف او اناتول سره اندېوالي درلوده او په خپلو درې آسیزه ګاډیو یې ددوی ډېر خدمت کړی و. کله چې د اناتول غونډ د توفیر په ښارګوټي کې و، په وار وار سره هغه، مانښامي له هغه ځایه راسپور او سپېده داغ یې مسکو ته رارسولی او سبا شپه یې بېرته هلته رسولی دی. هغه په وار وار دولوخوف د هغه له پوروړو ژغورلی و، په وار وار دغه ګاډیوان دغه دوه اندېوالان له جتانو او خپلو ملګرونجونو سره په ښار کې ګرځولي وو... د دغو دواړو نه د هر یو په ډېرو داسې پېښو او رسواییو خبر و، چې د هغه له امله کېدای شو، هغوی هر یو سایبریا ته تبعید کړای شي. هغوی به هم زیاتره وخت هغه د خپلو عیاشیو بنډارونو ته رابالله، جامونه به یې ورسره پورته کول،له جتانو سره به یې نڅاوې کولې او د هغوی په زرګونو روبلونه به دده د لارې خرڅېدل. د هغوی په چوپړ کې هغه هر کال تر شلو وارې پورې خپل ژوند له مرګ سره مخامخاوه، تر وهلو خوړلو پورې به یې د هغو ساتنه کوله، د هغو آسونو قیمت چې ده به ددغو دوو تنو په چوپړ کې له پښو اچول، تر هغو پیسو زیات و، چې دوی به د بالاګا د چوپړ په بدل کې، هغه ته ورکاوه، خو ده ته هغوی ګران وو. دهغو په ساعت کې تر ۱۷ ورستو پورې چټک تګ خوښېده. د هغه خوښېدل، چې د هغو په چوپړ کې خپلې ګاډۍ واړوي، ټکر یې کړي، له نورو ګاډیو نه مخکې شي او لکه باد هسې د مسکو کوڅې لاندې کړي. د هغه دا خوښېدل چې د باد په شان په چټکه ګاډیوانۍ کې د ده تر شا له ناستو نشه اندېوالانو نه دا خبرې واوري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نور هم چټک، نور هم چټک، دا سې چټک چې نور نو ناشوني وي. د هغه خوښېدل چې په لاره په کړاو روانو بزګرو ته متروکې وروا ره کړي او په زړه کې ووايي، دا هم د ښتینو بادارانو له خوا.

اناتول او دولوخوف ته هم بالاګاډېر ګران و. هغه په ګاډیوانۍ کې د ښې استادۍ او هم له دې کبله چې د هغه هم څه خوښېدل چې د دوی خوښېدل. بالاګا، به له نورو مسافرینو سره مخکې له مخې پیسې، هر دوه ساعته پنځه ویشت روبله ټاکل، ده خپله به د هغو ګاډیواني هم نه کوله، خپل زلمي ګاډیوانان به یې ورلېږل، خو ددولوخوف او اناتول لپاره، چې ده هغوی د خپلو اربابانو په نامه نومول، تل خپله چمتو و او هېڅکله به یې د خپل چوپړ په بدل کې پیسې هم نه غوښتې. هغه به یوازې، په څو میاشتو کې یو وار کله چې د هغو د چوپړانو له لارې خبر شو، چې بادارا ن یې پیسې لري، نو کوم سهار تر نشې وروسته به راغي، درناوی به یې وکړ، په ملا به خم شو او ویل به یې چې پیسو ته اړتیا لري. بادارانو به هم تل نازاوه. هغه ویل:

- پلارکه فیودرایوانویچه! مرسته راسره وکړئ، یو روغ آس هم راپاتې نه دی، جیب مې تش دی، هر څه چې کولای شي هغه راسره وکړئ.

اناتول او دولوخوف به چې کله پیسې لرلې، زره، دوه زره روبله به یې هغه ته ورکول. بالاګا کلیوال، د ژېړ ډوله ویښتو خاوند، سره بشره، په ځانګړي ډول ثوربه غاړه، ټيټه ونه، پیته پزه درلوده او د اته ویشتو کالو په منګ ځوان و چې ځلېدونکي وړې سترګې او وړه زنه یې لرله.

هغه نرۍ شنه چپنه چې وریښمین استر یې درلوده پر لنډ پوستین اغوستې وه.

هغه په لومړۍ کوټې کې، د ځرونـد سپیڅلي شمایل په وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېد ، پر ټټر او تندي يې د صليب کرښې وويستې، د دولو خوف پلو وړاندې ورغي او خپل کوچنی تور لاس يې هغه ته ور وړاندې کړ، تر درناوي وروستې ته يې هغه ته وويل:

- فيودرايوانوويچ !

- سترې مه شئ وروره ! راشه، دا هم هغه.

د اناتول پلو ته چې همدا اوس،د راننوتو په حال کې و، لاس وروړاندې کړ او وې ويل:

- جلالتمابه سلام !

اناتول خپل لاسونه، د هغه په اوږو ورکېښودل او وې ويل:

-زه تاته ګران يم او که نه؟ اوس د ربښتني چوپړ وخت رارسېدلی، کوم آس دې راوستی دی؟ ها !

بالاګا ځواب ورکړ:

- هماغه چې ستا استازي ياد کړي وو ، هماغه ياغي آسونه.

- نو غوږ شه بالاګا ! که ګاډی ياغي هم شي، پروا نه لري خو زه غواړم، چې درې ساعتو کې موږ ورسوئ.

بالاګا سترګې کېښکودې او وې ويل:

- که ټوټه ټوټه شي، نو څنګه به ورسېږو ؟

اناتول چې سترګې يې راوتلې وې، ناڅاپه چغه کړې:

-اوربوز به دې درمات کړم، ټوکې به نه کوې...

ګاډيوان په خندا خندا ځواب ورکړ:

- څه ټوکې ! ما تر اوسه پورې له خپل باداره څه سپمولی دی؟ تر هغه چې آسونه ژوندي وي، زغلو به.

اناتول وويل:

- چې داسې ده، کېنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولوخوف وويل:

- راځه کېنه، ښه شو.

- نه فيودرايوانوويچه، همدا سې ولاړ ښه يم.

اناتول وويل:

- راځه کېنه او جام پورته کړه.

يو لوی ګيلاس مادير (يو ډول خوراښه شراب) يې ورته واچول. د دغو شرابو په ليدو د ګاډيوان سترګې وځلېدې. هغه د نزاکت له مخې، وويل:

- نه، نه يې څکم. ولې وروسته يې په سر واړول او خپلې شونډې په هغه سره وريښمين دستمال چې له خولۍ نه يې راويستلي و، پاکې او وې ويل:

- ښه جلالتمابه! څه وخت به خوځېږو؟

اناتول، ساعت ته وکتل او وې ويل:

-هوکې! همدا اوس.

- خو بالاګا! ګوره چټک به ځې او په وخت به رسېږې، کنه؟

بالاګا وويل:

- هوکې، ګوره چې څنګه ځو، که په خير لاړ شو، ولې به په خپل وخت نه رسېږو. ګوره ستا خو يادېږي، چې توفير ته مې په اوو ساعتونو کې رسولې، يادېږي او کنه؟ اوس هم مه ډارېږه جلالتمابه!

اناتول خپلې خاطرې وريادې کړې او ماکارين ته يې چې په مينه مينه يې ده ته کتل، وخندل او وې ويل:

- پوهېږئ يو وار د حضرت مسيح په ميلاد کې له توفير نه راروان و، باور به دې رانه شي ماکار، موږ داسې چټک راتلو چې له ددوو ګاډيو له سره همداسې راوالوتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاگا دولوخوف ته وکتل او دغې کیسې ته یې دوام ورکړ:

- څه آسونه وو ! دوه ځوان آسونه مې، د خپل قهري آس تر څنګ تړلي وو ، باور به ونه کړې، فیودرایوانوویچه شپیته ورسته الوتل. د هغو مخه نیول گرانه خبره وه، ساړه وه، لاسونه مې شنډ شوي وو. ورته مې وویل، جلالتمابه ! راشه او جلو ونیسه، خپله یې د گاډۍ په وروستي سیټ کې ځان واچاوه. آسونه داسې یاغي شوي و، څه نور د متروکو وهلو ته اړتیا نه لیدل کېده، آسونه خپله الوتل. هغوی په درې ساعتو کې ورسېدل، مگر د کینې خوا آس له پښو ولوېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

اناتول له کوټې ووت او څو دقیقې وروسته پوستین په غاړه د سپین زرو ملا وستني په ملا د سمور د پوست خولۍ لکه د زلمیانو په څېر د سر په یو څنګ اېښې وه، داسې چې د هغه له ښکلي څېرې سره یې سخت اړخ لګاوه، بېرته راستون شو، هینداري ته یې وکتل او په هماغه حالت چې د هیندارې په وړاندې درېدلی و، د دولوخوف په وړاندې ودرید، او د میو جامې یې پورته کړ.

اناتول وویل:

- ښه فدیا! د خدای په امان! ستا له هر څه نه مننه، د خدای په امان! په چرت کې لاړ، بیا یې ماکارین او نورو ته مخ ورواړاوه او وې ویل:

- ښه ملګرو! زما د ځوانۍ یارانو! د خدای په امان...

که څه هم ټول له هغه سره روان وو، داسې برېښېده چې اناتول په دې توګه غواړي د خپلو اندېوالانو په وړاندې دغو خبرو ته پارونکي او لمسوونکي بڼه ورکړي. هغه چې ټېټر وړاندې ویستلی و او یوه پښه یې ښوروله، هره کلمه جلا او لوړه ویله.

هغه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټول مو جامونه پورته کړئ، بالاګا ته هم، نور ملګرو او زما د ځوانۍ همزولو انډيوالانو ، ما او تاسو ډېرې عياشۍ کړي، خوښۍ مو تېرې کړي او ژوند مو کړی دی، کنه؟ اوس نو خدای خبر دی چې بيا به مو څه وخت ديدن کېږي؟ زه بهر ته روان يم، د تېر ژوند په ياد مو ، د روغتيا په ياد مو ، هورا ! دا يې وويل او خپل جام يې وڅکه او هغه يې په ځمکه وويشت.

بالاګا ، هم خپله جام وڅکه، شونډې يې په دستمال پاکې کړې، او وې ويل:

- روغ اوسئ.

ماکارين چې سترګې يې له اوښکو ډکې وې، له اناتول نه يې غېږ تاو کړه او وې ويل:

- اخ شهزاده، چې ستا دا بېلتون څومره راته ګران او غمرلی دی.

اناتول چغه کړل:

- ځۍ چې ځو ، ځۍ چې ځو !

بالاګا ، له کوټې نه وتونکي و ، چې اناتول ورته وويل:

- نه، نه ودرېږه، دروازه پورې کړه، تر تګ نه مخکې لومړی بايد کېنو (روسان سفر ته له وتلو مخکې د وتلو په وروستې شېبه کې کېني) هوکې، دغسې ! دروازه يې وتړله او ټول کېناستل.

څو شېبې وروسته، اناتول پاڅېد او وې ويل:

-اوس نو درځئ هلکانو ! درځئ !

د اناتول جوزوف نوي چوپړ، کڅوړه او توره مې هغه ورکړل او ټول دالان ته ووتل.

دولوخوف وويل:

- پوستين دې چيری دی؟ هـای ! ايګناتکـا ! لاړ شـه ماترينـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتويوفنا ته ورشه، پوستين ترې وغواړه او راېې وړه، هغه سترګې کېښکودې او زياته يې کړه:

- ما اورېدلي دي، چې کله يوه نجلۍ تښتوي، نجلۍ زړه نازړه وي، له ډاره داسې وي لکه مړې. له کوره په هماغو کاليو کې راوزي، چې په کور کې يې اغوندي. تا به لا څه ورته ويلي نه وي، اوښکې يې را رونې وي، عذر او زارۍ وي، پلار جان او مورجانه وريادېږي. او غواړي چې بېرته کورته ستنه شي... خو ته خپل پوستين له ځان سره واخله، هغه ورواغونده، په ګاډۍ کې يې کېنوه او د خدای په امان. مينځې د ګېدړې له پوستکي جوړ ښځينه پوستين راوړ.

هغه داسې چغه وکړه چې آواز يې په کوټو کې انګازه وکړه:

- بې عقله ! ما درته وويل چې د سمور له پوستکي جوړ پوستين راوړه. تاتريشکا !د سمور د پوستکي.

يوې ښکلې، په ملا چنګې، ژېړ رنګې جتۍ، چې توري ځلېدونکې سترګې او توري شين بخونۍ ګرګوټ څڼې يې درلودې، ښکلی سور شال يې په اوږو د سمور د پوستکي پوستين په لاس کوټې ته راودانګل.

داسې برېښېده چې هغه له خپل باداره حيا کوي او د خپل پوستين د لاسه ورکولو له امله خوابدي کېږي، خو بيا يې هم وويل:

- څه پروا لرئ، دا زما پوستين واخلئ، زړه مې نه پسې خوږېږي.

دولوخوف هغې ته ځواب ورنه کړ، پوستين يې واخيست او د ماتروشکا پر اوږو يې ورواچوو او هغه يې ښه په کې تاو کړه... تول په دوو ګاډيو کې ځای پر ځای شول...

بالاګا وپوښتل:

- چمتو ياستئ؟ د ګاډۍ جلو يې تر مړوند تاو او چغه يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درځئ، او د نیکیتسکي پر واټ شېوه شول. په دې وخت کې یو ازې د بالاګا او د هغه تر څنګ په ګاډۍ کې پر صندوق د ناست ځوان چغې چې آسونه یې له باد هسې زغلول، اورېدل کېدې. د مسکو د اربات په ډګر کې د دوی ګاډۍ د یوې بلې ګاډۍ سره ولګېده او د کوم شي د ماتېدو غږ واورېدل شو او ګاډۍ لکه باد هسې د اربات په واټ کې له سترګو پناه شوه. د پادنسدواټ تر وهلو وروسته، دوی خپلې چټکتیا لږه کمه کړه، راوګرځېدل او آسونه د ستاریا کانیوشینۍ په څلورلاره کې ودرېدل.

هغه ځوان د بالاګا تر څنګ ناست و، د دې لپاره یې لاندې ودانګل چې د آسونو اوربوزونه ونیسي، خو په دې کې دولوخوف او اناتول لا د وخته پلي شوي او پر لار روان وو، کله چې د کور د دروازې خولې ته ورسېدل، دولوخوف شپلکۍ وواهه او له هغې خوا نه هم د شپلکې ځوابي غږ واورېدل شو او تر هغه وروسته یو مینځه راووته او وې ویل:

- راځئ د ننه، کنه څوک به مو ووینې.

هغې مینځې زیاته کړه:

- اوس انګړ ته راننوزئ، وبه مو وینې.

دولوخوف د دروازې مخې ته ودرېد، اناتول مینځې پسې وخوځېد او انګړ ته ننوت، د دیوال له څنګه تېر او پورته په زینو یې منډې کړې.

د ماریا دیمتریوفنا څورب، چوپړګفریل د اناتول تر مخې راپیدا شو او وې ویل:

- راځئ، مهرباني وکړئ اغلې ته!

دغه چوپړ چې په څورب ځان د اناتول مخې ته خنډ شو په غړمبهاري وویل:

- مهرباني، اغلې ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اناتول چې سا يې بنده بنده کېده، په پسهاري وپوښتل:

- کومه اغلې! ته څوک يې؟

- مهرباني وکړه، امر شوی، تاسو هغې ته بدرگه کړم.

دولوخوف چغه کړل:

-کوراگينه! خيانت شوی، غولول شوي يو، شاگرز! دولوخوف، له هغې پنجرې سره چې درېدلی و، له څوکيدار سره لاس او گريوان و، څوکيدار هڅه کوله، اناتول پسې هغه پنجره ټينګه کړي چې ترې تير شوی و. دولوخوف په خپل وروستي توان څوکيدار پورې وهه، د تښتې په حال کې يې اناتول له لاسه راونيو، هغه يې له پنجرې راوويست او دواړو د گاډۍ خواته وروځغاستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

ماریا دیمتریوفنا ولیدل، چې سونیا په دهلیز کې ژاړي، هغه یې دې ته اړ کړه چې هر څه دې ته ووايي. ناتاشا ته لیکل شوی یاددښت دماریا دیمتریوفنا په لاس ورغي او له دغه یاددښت سره یو ځای، د ناتاشې کوټې ته ورننوته.

هغې ناتاشا چې په حیرت،وچو او بې احساساه سترګو یې دې ته کتل، پورې وهله او ورته وویل:

- بې شرمې، بې حیا نجلۍ ! غرېږئ به نه، نه غواړم هېڅ شی واورم. د هغې کوټه یې قفله کړه او چوپړانو ته یې سپارښتنه وکړه چې هر هغه څوک چې نن شپه دوی کره راځي، انګړ ته رانتباسي او پرې یې نږدي چې بهر ته ووتښتي. خپل چوپړ ته یې سپارښتنه وکړه چې هر څوک راځي، دې ته دې راولي، خپله لاړه، په مېلمستون کې کېناسته او د تښتوونکو راتګ ته سترګه په لارې شوه.

کله چې ګوریل نومی چوپړ راغي او ماریا دیمتریوفنا ته یې خبر ورکړ چې تښتوونکي وتښتېدل، هغې تندی تریو او لاسونه یې تر شا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوټه کړل، تر ډېرو پورې په کوټه کرځېده راګرځېده او په دې اړه یې فکر کاوه، چې څه وکړي. د ماښام اوه بجې وې چې لاس یې په جیب کې په کلۍ ولګېدې او د ناتاشې کوټې ته ورغله. سونیا په دالان کې ناسته او ژړل یې. هغه چې ساندو پسې اخېستې وه، په زارۍ زارۍ یې وویل:

- د خدای لپاره، هیله کوم پرې مې ږده چې ورشم.

ماریا دیمتریوفنا پرته له هغې چې ځواب ورکړي، دروازه خلاصه کړه او ورننوته. د خپل قهر د آرامولو لپاره یې په زړه کې وویل:

- بې شرمه، بې حیا، بې ننګه، زما په کور کې او دا رسوایي. په پلار مې یې زړه خوږېږي. که څه هم دا به ګرانه خبره وي، خو ټولو ته سپارښتنه کوم چې په دې اړه څوک څه ونه وایي او ګراف پوه نه شي. په ټینګو ګامونو کوټې ته ورننوتله. ناتاشا پر کټ پرته وه، سر یې په منګلو کې مروړلی و او هېڅ نه ښورېده. هغه په هماغه حال پرته وه چې ماریا دیمتریوفنا هغه دلته قفل کړې او ترې وتلې وه.

ماریا دیمتریوفنا وویل:

-واه واه زیرې دې راباندې ! آفرین ! زما په کور کې خپل لوند سره وعدې کوئ ! ما به نه غولوې. دلته به دوکې او پېښې نه کوئ ! هر هغه څه چې درته وایم په ځیر به یې اورې. هغه یې له منګولو راونیوله او وې ویل:

- ګوره غوږ ونیسه، هر څه چې وایم اورې به یې. تا د یوې بې حیا او سپین سترګې نجلۍ په شان ځان رسوا او بدنامه کړ، زه پوهېږم چې له تا سره څه وکړم. خو په پلار مې دې زړه سوځي.

ناتاشا، هماغه شان چې پرته وه. هېڅ بدلون په کې رانغي، خو له هغې نه د نه اوربدونکې ژړا او ساندو غږ احساسېده. ماري دیمتریوفنا سونیا ته مخ وروااړاوه او پر کټ د ناتاشې ترڅنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناسته.

ماريا ديمتريوفنا په ځېر او ډډ غږ وويل:

- بختورو چې وتښتېد، خو زه يې پيدا کوم، ته اورې کنه، چې زه څه وايم؟

خپل ځېر او پنډ لاس يې د ناتاشا تر مخ لاندې کېښود او هغه يې خپلې خوا ته راوګرځاوه. ماريا ديمتريوفنا او سونيا د هغې د مخ په ليدو، حيرانې شوې، د هغې سترګې ځلېدونکو خو ځای پر ځای وچې ولاړې وې، شونډې سره ورغلې او چاودلې او غومبوري يې لوېدلي وو.

پـه غضب او کرکـه يـې د مـاري ديمتريوفنـا ځـان وژغـوره، خپلـه پخوانۍ بڼه يې غوره کړه او وې ويل:

- پرې مې ږدئ... څه رانه غواړئ، غواړم مړه شم.

ماريا ديمتريوفنا وويل:

- ناتاشا زه د تا خير غواړم، غواړې وېده شئ، وېده شه، همداسې وغځېږه، زه به لاس هم درنه وړم، خو خبرې مې واوره... نور زه نه وايم چې ته ګنهکاره او ملامته يې. ته خپله پوهېږئ، خو خبره پـه دې کـې ده چې سبا دې پلار راځي، هغه ته څه ووايو؟ د هغه ځان بيا لـه سلګيو نـه په ربړدېدو شو.

- ټول خبرېږي، پلار دې، ورور دې، کوژدنی دې.

ناتاشا چيغې کړې:

-نو ، هغه خبرېږئ، زه کوژدنی نه لرم، ما هغه ته ځواب ورکړ.

ماريا ديمتريوفنا دوام ورکړ:

- پـه هـر حـال هغـوی خبرېږي، تـه فکـر کـوې هغـه دا خبـره همداسـې پرېږدي؟ ګوره، هغه خو پـلار دی، زه هغـه ښـه پېژنم، هغـه بـه انـاتول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوئیل ته راوغواړي، دا به بیا ښه کار وي که څنګه؟

ناتاشا له کټه لړ راکږه غوندې شوه، له کړکۍ نه په ډک غلچک یې ماریا دیمتریوفنا ته وکتل او چغه یې کړل:

- پرې مه ږدئ ! ستاسو یې زما په ژوند څه؟ ولې؟ ولې مو زما په ژوند کې لاس وواهه؟ چا تاسو نه ددې کار غوښتنه کړې وه؟

ماریا دیمتریوفنا له قهره ډکه چغه وکړه:

- تا څه غوښتل، څه شوي وای؟ په تا چا بندیز لګولی و، که څنګه؟څوک کورته د هغه د راتګ خنډ شوي وو؟ ولې هغه غوښتل چې تا د کومې نوم ورکې جتې په شان یوسي؟ ښه دا یې وړې او تښتولې، نو ته څه فکر کوې، هغه به یې پیدا کړی نه و؟ ستا پلار، ورور او کوژدنی؟ هغه سپک، بې ننګه، پوهېږئ، پوه شوې او کنه؟

ناتاشا چې لړ راپورته غوندې شوه چغې کړل:

- هغه تر ټولو تاسو نه غوره دی، که تاسو د هغه خنډ شوي نه وای... اخ، لویه خدایه ! دا څه شي دي؟ سونیا تا ته وایم دا څه کېږي؟ ووزئ، رانه ووزئ !

هغې داسې ساندې وهلې، داسې د ناهیلۍ، د داسې خلکو په څېر یې ژړل، چې یوازې خپله د خپل کړو په پایله پوهېږي. ماریا دیمتریوفنا بیا څه ویل پیل کړل، خو ناتاشې پر هغو ورچغې کړې ! ووزئ، ووزئ، تاسو ټول له ما نه کرکه لري، او زما سپکاوي کوي او ځان یې ببرته په کټ کې وارتېږه.

ماریا دیمتریوفنا لا تر یوې مودې پورې هغې ته ددې لپاره نصیحت کاوه چې ناتاشا په دې ډاډه کړي چې دا پېښه یې له پلاره پټه کړي او هېڅوک په هېڅ شي خبر نه شي. ددې لپاره باید په خپله ناتاشا هر څه هېر کړي او هېڅ چا ته څه ونه وایي. ناتاشا، ځواب نه وایه. هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې سلګۍ نه وهلې او نه يې ژړل، خو له سره تر پښو پورې رېږدېده. ماريا ديمتريوفنا د هغې ترسر لاندې، سرو بړدي کېښود، دوه کمپلې يې پرې ورواچولې او په خپله يې يو زيتون ګل ورته راوړ، خو ناتاشې هغې ته پاملرنه ونه کړه.

ماريا په دې خيال چې هغه ويده ده، له کوټې نه د وتلو په وخت کې وويل:

- پر بړده چې ويده شي. خو ناتاشا ويده نه وه. رنګ يې الوتی او سترګې يې رډې رډې وتلې وې. هغه شپه تر سهاره وېښه پاتې شوه. له سونيا سره هم چې څو ځله يې د کټ سر ته راغله ونه غږېده.

له وعدې سره سم ،بله ورځ سهار د وخته ،ګراف ايليا اندرېوويچ چې د مسکو څنډو ته تللی و ، راستون شو. هغه خورا خوشاله و او د مسکو د څنډو جايداد ونه يې په ښه بيعه خرڅ شوي و او نور هېڅ شي په مسکو کې د هغه د پای ته کېدو او له ګرافينې سره چې په زړه کې د هغې د ليدو لېوالتيا پسې اخېستی و ، د ديدن خنډ کېدای نه شو.

ماريا ديمتريوفنا چې هغه وليد ، سمدلاسه يې ورته وويل، چې ناتاشا پرون سخته ناروغه شوې، دې ډاکتر ورته راغوښتی او نن يې روغتيا ښه ده. ناتاشا نن سهار له خپلې کوټې راونه وتله.شونډې يې وچې او چاودېدلې او سترګې يې لوېدلې وې. هغه د کړکۍ خوا ته ناسته وه او په ځير ځير يې په کوڅو کې تېرېدونکو خلکو ته کتل. کله به چې يې څوک کوټې ته رانوتل، په تلوار به يې مخ وروا ړاوه. داسې برېښېدل چې کوم خبر يا ليک ته سترګې په لاره وه.

کله چې ګراف، د هغې کوټې ته ورننوت، هغه په خورا ګبنې د هغه د نارينه ګامونو غږ ته غوږ شوه او د هغې پر څېرې بيا هماغه پخوانۍ سړه څپه او د کرکې ننبې راخورې شوې. آن د پلار په ليدو هم له ځايه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته نه شوه ! ګراف وپوښتل:

- څه درشوي دي زما ښاپېرۍ؟ ناروغه يئ؟

ناتاشا چوپه شوه، خو وروسته يې وويل:

- هو کې ناروغه يم.

ګراف په خواشينۍ د هغې د داسې مات او ژوبل شوي حالت پوښتنه وکړه او وې ويل په کوژدنۍ خو به يې څه نه وي شوي. هغې ډاډ ورکړ چې هېڅ پېښه نه ده شوې او هيله وکړه چې بې غمه وي او ناآرامه نه شي.

ماري ديمتريوفنا هم د ناتاشې د خبرو ملګرتيا وکړه او وې ويل چې له ناروغۍ پرته بل څه پېښ شوي نه دي.

ګراف ته د ناتاشې دغه ناروغۍ خورا بل ډول وبرېښېده، د لور په پرېښانۍ، د سونيا او مارينا ديمتريوفنا په خواشينو څېرو کې يې له ورايه ليدل، چې څه کومه بده پېښه پېښه شوې ده. خو د هغه لپاره ددې ګرانې لور ته د داسې يوې پېښې پېښېدل، چې د بې ننګۍ او بې شرمۍ سبب شي، آن په تصور کې هم وحشتناکه وه، هغه ته خپله خوشالي او آرامي داسې ګران وه، چې له نورو پوښتنو نه تېر شو او ځان يې خپله په دې ډاډه کړ، چې هېڅ ځانګړي څه نه دي پېښ شوي او کلي ته تګ به يوازې د خپلې لور د ناروغۍ له امله وځنډوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

پيير مسکو ته د خپلې ښځې ايلن تر راتګه وروسته، هڅه کوله چې ددې لپاره کومې خوا ته مخه کړي چې له هغې سره يې ديدن ونه شي.
مسکو ته د رستوف د کورنۍ تر راتګ نه وروسته، د هغه اغېز له املې چې ناتاشا په ده کړی و، دی يې دې ته اړ کړی و، چې د خپل تکل په لاس ته راوړلو کې تلوار وکړي. هغه د يوسف الکساندروويچ کونډې ته چې د توفير په ښار کې اوسېده، ددې لپاره ورغی چې هغې ژبه کړې وه، د خپل خدای بښلي مېړه سند ونه ده ته ورکړي.
پيير چې کله له توفير نه مسکو ته راستون شو، هغه ته يې د ماريا ديمتريوفنا هغه ليک سره ورکړ چې په هغه کې يې له ده نه هيله کړې وه چې د اندري بالکونسکي او د هغې د ناوې په هکله د يو مهم کار لپاره ددې کره ورشي. پيير هڅه کوله چې له ناتاشا سره يې هم ديدن ونه شي. هغه ته داسې برېښېده چې د ناتاشې په وړاندې د هغه احساسات تر هغه څه نه، چې يو ښځې لرونکی سړی يې د خپل ملګري د ناوې په وړاندې لري، زيات او پياوړي دي، خو د برخليک چارو هغه دواړو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ډول نه يو ډول سره مخامخول.

کله چې يې ماريا ديمتريوفنا کورته د تګ لپاره جامې اغوستې، له ځانسره يې چرت واهه او ويل يې:

دا څه پېښې شوي؟ او دا بيا ما پورې څه اړه لري؟ ژر تر ژره به سردار اندرې راغلی وای، له هغې سره به يې واده کړی وای...

د توفيرا سکايا په کوڅه کې يو آشنا غږ، غږ پسې وکړ:

- پېيره ! د بړ وخت کېږي چې راغلي يئ؟

پېير سر پورته کړ، اناتول يې وليد چې له خپل دايمي ملګري ماکارين سره په داسې يوه ګاډۍ کې چې دوو خړو آسونو کشوله، ناست وو، خورا چټک روان وو، هره خوا يې د وارو غونډه کې وارول. اناتول د پوځيانو په شان ځانښودونکی او نيغ ناست و او سر يې لږ مخې خواته خم کړی و. زنه يې لږ شانتې د پوستين په غاړه کې پټه کړې وه. څېره يې تکه سره او خوشاله وه او خپله په ښو سينګار شوې خولۍ يې داسې کږه ايښې وه چې غوړې شوي څڼې يې چې د وارو دانې پرې پرتې وې، له ورايه ښکارېدې.

پېير په هغه رخه کوله او په زړه کې يې ويل:

- رښتيا هم دا يو رښتينی هوښيار دی ! د ژوند د اوسنۍ شېبې له خوند پرته بل هېڅ نه ويني. ددې شېبې له خوند نه پرته بل خيال نه لري، نو له همدې کبله تل خوښ او خوشاله دی. چمتو يم، خپل هر څه لرم ور کړم، چې همداسې شم.

په دهليز کې چې چوپړ د پېير له اوږونه پوستين اخيستورته وې ويل چې ماريا ديمتريوفنا هيله کړې وه چې د هغې د خوب کوټې ته تاسو بدرګه کړو.

پېير همدا چې د صالون دروازه خلاصه کړه وې ليدل، چې ناتاشا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړکۍ خوا ته ناسته ده. رنګ الوتي، غومبوري يې لوېدلي او خپله په قهر ده. پيير ته يې وکتل، سترګې يې برندې کړې او په خورا غمبرلې بڼه له تالار نه ووته.

پيير چې ماريا ديمتريوفنا ته ورسېد، وې پوښتل: څه خبره ده؟

ماريا ديمتريوفنا ځواب ورکړ:

- ښه خبره ده! اته پنځوس کاله مې ژوند کړی دی، خو داسې رسوايي مې ليدلې نه وه.

وروسته له هغه چې له پييره يې قسم واخېست چې دغه اورېدل شوې خبرې به هېڅکله هېڅ چا ته نه وايي، ماريا ديمتريوفنا هغه ته وويل چې ناتاشا د موراو پلار له مشورې پرته خپل کوژدني ته ځواب ورکړي. هغې ورته وويل چې ددې ځواب علت اناتول کوراګين و. هغه کوراګين چې د پيير ښځې له ناتاشې سره د هغه پېژند ګلوي کړې وه او ناتاشا غوښتل، هغه وخت چې پلار يې نه يې، له هغه سره وتښتي او په پټه واده سره وکړي.

پيير اوږې پورته نيولي وې او د هغو خبرو له اورېدو خوله وازه پاتې وه چې ماريا ديمتريوفنا ورته کولې، هغه داسې څه اورېدل چې باور يې نه پرې راته. د هغه باور نه راته چې څنګه کېدای شو، د سردار اندرې کوژدنې، مهربانې ناتاشا رستوفې چې بې اندازې هغه ته ګرانه وه، دغه بې عقل اناتول چې واده يې هم درلود، (پيير د اناتول له پټ واده نه خبر و) تر بالکونسکي نه غوره وګڼي او داسې پرې مينه او د هغه لېواله شي او له هغه سره وتښتي؟ پيير نه په دې پوهېده او نه يې تصور کولای شو. هغه ښکلی تصور چې ده، د ناتاشې له ماشومتوبه په خپل خيال کې انځور کړی و، د هغې سپکې او سخت زړې نجلۍ له نوي تصوير سره نه جوړېده چې اوس ماريا ديمتريوفنا ورته انځور کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پییر ته خپله ښځه (ایلن) ورياده شوه. هغه په زړه کې وویل، دوی ټول له یوې ډلې نه دي ! او خيال ته ورغلل، چې یوازې دی نه دی، چې له داسې یوې ناپاکې سپکې ښځې سره یوځای کېدل یې په برخه شوي دي... هغه په دې نه پوهېده چې د ناتاشا روح له شرم نه خوځېږي او دا ددې ګناه نه وه چې د هغې بشرې آرامه کراري خپله کړې وه.

پییر د ماریا دیمتریوفنا د خبرو په اورېدو وویل:

- ولې؟ هغه څنګه کولای شي واده وکړي، هغه خو بله ښځه لري، واده نه شي کولای.

ماریا دیمتریوفنا وویل:

- سپکه، سپکه، دا دې لا بله سپکه ! دم په دم نوي ګلان راغوړېږي. عجیب ښه ځوان دی. دا سپک. دې بلې ته یې وو ایه، هغه یې لا سترګه په لاره ده. دا دوه ورځې کېږي چې لارې ته ګوري.

ماریا دیمتریوفنا چې له پییر نه د اناتول د ښځې ټول حال واورېد، په ښکنځلو ښکنځلو یې خپل زړه تش کړ او هغه ته یې وویل چې د څه لپاره یې راغوښتی و. هغې وویل چې دا ډارېده چې هر شېبه دا شونې ده چې ګراف او بالکونسکي راورسېږي او له دغې پېښې نه چې دې یې د پټولو هڅه کوله، خبر شي، هرومرو به اناتول ته بلنه ورکړي، چې په دوئیل کې یې سره سپینه کړي. نو له دې کبله یې له پییر نه وغوښتل، چې له خپل اوښي (اناتول) نه وغواړي له مسکو نه ووزي. پییر چې سردار اندري او ګراف ته د ورپېښې ګواښ په ګواښ پوه شو، ژبه یې وکړه چې د ماریا دیمتریوفنا دغه هیله تر سره کړي. ماریا دیمتریوفنا چې خپل زړه ورته تش کړ، پییر یې د هرکلو کوټې ته بدرګه کړ او ورته وې ویل:

- ګوره پام کوه چې ګراف له هېڅ څه خبر نه دی او نه یې هم داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وښيي چې له کوم څه نه خبر يې. او زه به اوس ناتاشې ته ورشم او ورته وبه وايم، چې هسې تش انتظار مه باسه، هو، که دې خوښه وي کولای شې، غرمه له مور سره پاتې شئ.

پيېر له زاړه ګراف سره وليدل،هغه خورا پريشانه او خواشينی بريښېده. هغه ورځ سهار ناتاشا هغه ته ويلي و چې له بالکونسکي سره خپل اړيکي شلولي او ځواب يې ورکړی دی.

ګراف پيېر ته وويل:

- څه بد مرغي ده، لويه بدمرغي! له دې بې موره نجونو سره په څه بدمرغۍ اخته شوي يم. پوهېږئ دلته له راتګ نه ډېر پښېمانه يم. غواړم له تا سره په سپينه وغږېږم. تا به هم اوربدلي وي؟ پرته له هغه چې له چا سره مشوره وکړئ، خپل کوژدنۍ ته يې ځواب ورکړئ، که څه هم هېڅکله زما دې واده ته خوښه نه وه، خو بيا هم سردار اندرې بد ځوان نه دی،په هر حال هغه د پلار له خوښې پرته دا کار کړی و. د پلار له خوښې پرته کار، ښه پای نه لري. ناتاشا هم بې کوژدنې نه پاتېږي. خو پر دې بولې ډېره موده تېره شوې وه. او بيا يې هم د مور او پلار له خوښې پرته دا کار کړي او هغه ته يې ځواب ورکړی دی. اوس ناروغه پرته ده او خدای خبر چې څه پرې شوي دي. ښاغليه ګرافه! حال ډېر خرابه دی. د بې موره نجلۍ ساتنه خورا ګران کار دی... پيېر ليدل چې ګراف خورا پريشانه دی. هڅه يې وکړه چې خبرې بل پلو بوزي، خو ګراف به بېرته د خپل غم کيسه راپيل کړه. سونيا په خورا خواشينۍ د هرکلو کوټې ته راننوته، او وې ويل:

- د ناتاشا ناروغي خورا کړکيچنه ده، هغه په خپلې کوټې کې ده، که ستاسو خوښه وي،هغه ستاسو د ليدو هيله لري. ماريا ديمتريوفنا له هغې سره ده، هغه هم هيله لري چې تاسې هلته ورشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګراف پيير ته وويل:

- هوکې رښتيا تاسو خو هم له بالکونسکي سره نېږدې ملګرتيا لرئ، هرومرو ناتاشا غواړي هغه ته کوم زيري ولېږي. آه خدايه، څنګه هر شي ښه و، خپلې منګلويې په خپلو سپينو څنو کې خښې کړې او له تالار ووت.

ماريا ديمتريوفنا ناتاشا په دې خبره کړې وه چې اناتول ښځه لري، خو ناتاشا په هېڅ ډول د هغې خبره نه منله او هيله يې کړې وه چې پيير دې ته رښتيا ووايي. دغه خبره پيير ته هغه وخت سونيا کړې وه چې هغه د هغې پلو وررروان و.

ناتاشا چې رنګ يې الوتی و، په خورا حيرانه او جدي بڼه د ماريا ديمتريوفنا تر څنګ ناسته وه، د هغې ځلېدونکې تيتې نيولې سترګې لا د دروازې په خوله کې په پيير ورولګېدې او په پوښتنيزه توګه يې هغه ته وکتل. هغه، نه ورته وموسېده او نه يې سر ورته وښوراوه، خو همداسې په ځير او پرله پسې يې په سترګو کې له هغه نه وپوښتل:

- ايا دی د اناتول ملګري دی، که د نورو په شان هغه ته په بده سترګه ګوري؟ خورا ښکاره ده چې خپله د پيير شته والی يې نه احساساوه.

ماريا ديمتريوفنا چې پيير ته اشاره کوله، ناتاشې ته وويل:

- هغه په هر څه پوهېږي، پرېږده چې درته ووايي، چې ما رښتيا ويلي که دروغ؟

ناتاشا لکه ويشتل شوی له ښنو پاتې ځناور، چې د ښکاريانو او تازيانو رانېږدې کېدل يې ليدل، کله يوه او کله بل ته کتل.

پيير چې پر هغې يې سخت زړه خوږېده، سترګې يې ښکته واچولې او له هغه شهادت نه چې له ده نه غوښتل شوی و له کرکې سره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل:

- نتاليا ايليچنا ددې خبرې رښتيا او نه رښتيا بايد ستا لپاره يو شان وي ځکه...

- نو دا رښتيا نه ده چې هغه ښځه لري؟

- ولې؟ رښتيا ده.

بيا يې وپوښتل: ښځه يې لرله؟ له پخوانه؟ قسم وخوره !

او پيير قسم وخوړ، چې له پخوا نه يې ښځه لرله.

ناتاشا په تلوار وپوښتل:

- هغه لا په مسکو کې دى؟

-هو کې، په مسکو کې دى. دا نيم ساعت مخکې مې وليد.

داسې بربښېده چې نور نو هغې د خبرو توان نه درلود او لاس يې په دې نښه وښوراوه چې يوازې يې پرېږدئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

پيير غرمنۍ ته پاتې نه شو او سمدلاسه له کوټې نه ووت او لاړ. هغه په دې هيله ښار ته لاړ چې کوراګين ولټوي. د هغه د پيدا کولو په خيال کې و. په همدا خيال يې ټولـه وينه په زړه کې داسې را ايشـېدله، چې اوس سا ايستل يې هم له ستونزو سره مخامخېدل. هغه يې هر ځای ولټاوه، په غونډيو کې له جټانو سره، په کومونو (په مسکو کې د ساعتېرۍ يو ځای و) کې، هېڅ ځای نه و. پيير بيا کلوب ته لاړ. په کلوب کې هر څه په خپل حال روان و. هغه مېلمانه چې د غرمنۍ لپاره راغلي وو، ډله ډله ناست او له پيير سره يې روغبړ وکړ. هغوی د ښاري ژوند په اړه غږېدل. هغه چوپړ چې ده ته يې هرکلی وو ايه، نه يوازې د هغه اندېيوالان پېژندل، بلکې د هغو له عاداتو سره هم آشنا و، ورته وويل چې ده ته په واړه خوړنتون کې ميز چمتو دی، شهزاده زاخارويچ په کتابتون کې دی او پاول تيموفيويچ لا راغلی نه دی. د پيير يوه آشنا د خبرو اترو په لړ کې له هغه نه وپوښتل چې د کوراګين له خوا د ناتاشا رستوفې د تښتېدلو په اړه چې اوس يې په ټول ښار کې آوازې خورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، څه اوربدلي او کنه؟ دا آوازې ربښتيا دي که هسې آوازې دي؟ پېير وخندل او وې ويل:

- دا هستې تشې ملنډې دي، ځکه دی همدا اوس د رستوف په کور کې و. کراره کراري وه.

هغه له ټولو نه د اناتول پوښتنه کوله، يوه وويل چې لا راغلی نه دی، بل بيا وويل چې نن به غرمنۍ ته راشي. پېير په حيرانتيا سره دغو آرامو او آسوده خيالو، خلکو ته چې د ده په ګوګل کې له تېربدونکي توفان نه خبر نه و، کتل. هغه د کلوب په ټولو صالونو کې وګرځېد، ودرېد چې ټول راټول شي، له اناتول نه پرته ټول راغلل، دی هم نور انتظار نه شو او پرته له هغه چې ډوډۍ وخوري، کورته لاړ.

اناتول چې دی يې په لټولو بوخت و، دغه ورځ غرمه د دولوخوف سره غرمنۍ کوله او دوی په دې اړه غږېدل، چې د دغې وروپېښې بدنامۍ غم څنګه وخوري. د هغه په اند ددې کار لپاره بايد هرومرو ناتاشا وګوري. ماښام هغه ددې لپاره د خور کره (د پېير ښځه ايلن) ورغي، چې په دې اړه له هغې سره وغږېږي، چې څنګه او له کومې لارې ناتاشې سره د ده کتنه وشي. کله چې د ټول ښار د بې ثمره لټولو نه وروسته پېير بېرته کورته راورسېد، د هغه يو چوپړ ده ته خبر ورکړ، چې شهزاده اناتول واسيلوويچ له ګرافينې ايلن سره د هرکلو په صالون کې ناست دي. د هرکلو په صالون کې د مېلمنو ګڼه ګوڼه وه.

پېير چې مسکو ته له راتګ نه وروسته خپله ښځه (په دې شېبه کې له بل هر چا نه زيات، هغه له خپلې ښځې ايلن نه کرکه کوله) ليدلې نه وه، بې له هغه چې له هغه سره سلام او روغبړ وکړي، صالون ته ترننوتلو وروسته يې اناتول وليد او مخامخ هغه ته ورغي.

ګرافينه ايلن د خپل مېړه خواته راغله او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- آه ! پېیره ! ته پوهېږې چې اناتول له څه ستونزو سره لاس او ګریوان دی؟

خو همدا چې د خپل مېړه بښکته سر، له قهره ډکې ځلېدونکې سترګې، د هغه ټینګ ټینګ ګامونه، او له لېونتوب نه ډکه پیاوړتیا یعنې هغه څه چې دې په هغه کې له دولو خوف سره د دوئیل په وخت کې لیدلي وو، ولیدل، ځای پر ځای ودرېده.

پېیر خپلې ښځې ته وویل:

- هر چېرې چې ته یې، هلته شر او رسوایي شته.

بیا یې اناتول ته مخ وروا ړاوه او په فرانسوي ژبه یې ورته وویل:

- اناتول، درځه درځه، زه غواړم درسره وغږېږم.

اناتول خورته وکتل، په نرمه غاړه پاڅېد او چمتو شو چې پېیر پسې وخوځېږي.

پېیر هغه له لاسه راونیو، ځانته یې راکش کړ او له صالون نه ووتل.

ایلن په ټیټ آواز وویل:

- که ځانته اجازه ورکړې چې زما په مېلمستون کې... خو پېیر پرته له هغه چې د هغې ځواب ووایي، له مېلمستون نه ووت.

اناتول، په خپله عادي بڼه، لکه د ځان ستاینکو زلمیانو په شان هغه پسې روان و، خو د هغه په څېره کې د ناآرامۍ نښې له ورایه څرګندې وې.

کله چې پېیر خپل دفتر ته ننوت، دروازه یې قفل کړه، پرته له هغه چې اناتول ته وګوري، هغه ته یې وویل:

- تاسو ګرافینې رستوفې ته وعده ورکړې چې واده ورسره وکړې؟ د هغې د تښتولو تکل مو کړی و؟

اناتول په فرانسوي ژبه (هغوی تل په فرانسوي غږېدل) وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما ګرانه ! زه ځان اړ نه ګڼم، هغو پوښتنو ته چې په داسې ترخه ژبه له مانه کېږي، ځوابونه ووایم.

د پیېر بشره چې لا د مخه رنګ ترې الوتی و، په لېوني غضب کې ډوبه شوه. هغه اناتول په خپلو شنهلو لاسونو د دریشۍ له ګریوان نه راونیو او تر هغه یې له یوې خوا نه بلې خواته خوځاوه، چې په څېره کې یې د ډار او وحشت نښې راڅرګندې شوې.

پیېر تکرار کړه:

- درته مې وویل، غواړم درسره وغږېږم...

اناتول چې د ګریوان په شلیدلې ځوړندې تڼۍ لاس واهه، وویل:

- حماقت دی، وایه څه وایې، خبره دې وکړه.

پیېر وویل:

- ته لچک او سپک انسان یې، نه پوهېږم څه شي زما مخه نیسي او ستا د سر د چېتېدو له خونده مې بې برخې کوي (هغه د میز له سره د کاغذونو درنه دوسیه راپورته او تر ګواښنه وروسته یې سمدلاسه بېرته کېښوده) هغه زیاته کړه:

- وعده مو ورکړې وه چې واده ورسره وکړې؟

- ما، ما، ما فکر نه کاوه، چې... ما هېڅکله وعده نه وه ورکړې، ځکه چې...

پیېر د هغه خبرې پرې کړې، ورو ړاندې شو او تکراره یې کړه:

- د هغې لیک تا سره شته؟ تا سره یې لیک شته؟

اناتول هغه ته وکتل، سمدلاسه یې لاس پر جیب ومانډه او یو کاغذ یې راوویست.

پیېر هغه ته ورکړ شوی لیک واخیست، میز یې لږ پورې واهه او په کټ ډوله څوکۍ کې یې ډډه ولګوله. په دې وخت کې ولیدل چې اناتول

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يوې ځانګړې خوځېدا له ډار سره پټ کړ، هغه ته يې وويل:

- زه هېڅ نه درسره کوم، ډار ېږه مه !

بيا يې په داسې يو ژبې چې ګواکې له ځانسره لوست تکراروي، وويل:

- لومړي ليکونه... دويم... تر يوې شېبې چوپتيا نه وروسته، هغه بيا دوام ورکړ. بيا پاڅېد او په ګرځېدو شو. دويم تاسو بايد له مسکو نه ووزي.

- نو زه څنګه کولې شم...

- دربېيم دا چې، پېير پرته له هغې چې د هغه خبرې واوري، دوام ورکړ: تاسو بايد هېڅکله د هغه څه په اړه چې د تاسو او ګرافينې ناتاشا تر منځ تېر شوي دي، يوه کلمه هم هېڅ چېرې او هېڅ چا ته ونه وايئ. البته زه پوهېږم، ستا د ژبې مخه نيولی نه شم، خو که لږ تر لږه که ستا په وجدان کې د رښتيا يو سپخنکي هم پيدا شي...

پېير چو په خوله، ځو ځله په کوټه کې ښکته پورته لاړ.

اناتول په تريو تندي د ميز شاته ناست او خپلې شونډې يې ژوولې.

پېير وويل:

- تاسو نه شي کولای پوه نه شئ، چې بالاخره ستاسو له خوښې پرته هم نور خلک د نيکمرغۍ او آرامۍ حق لري، تاسو نه شې کولای پوه نه شي چې په خپلې يوې شېبې خوشالۍ د نورو ټول ژوند بربادوی. تاسو خپلې عياشۍ، له داسې ښځو سره وکړئ، لکه زما د ښځې په شان ښځو سره، هغوی پوهېږي چې تاسو له هغو څه غواړئ. هغوی ستاسو د عياشي او بې لاري لپاره پوره په هماغه شان بې لارۍ اخته دي،لکه تاسو چې اخته ياست، خو يوې نجلۍ ته د واده وعده ورکول، د هغې غولول او بيا د هغې تښتول... څنګه نه پوهېږئ، چې ستاسو دغه کار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بوډا او یا یو ماشوم وهلو او زورولو ته ورته دی.

پییر چوپ شو، اناتول ته یې وکتل، اناتول ته د هغه کتلو، نور د قهر نه بلکې پوښتنیزه بڼه پیدا کړې وه.

څومره به چې د پییر قهر او خواشیني سرېده، په هماغه اندازه به د اناتول زړورتیا زیاتېدله، هغه وویل:

- پوهېږئ، په دې نه پوهېږم، نه پوهېږم او نه غواړم پوه شم.

هغه چې لاندنۍ ژامه یې رېږدېده، پرته له هغه چې پییر ته وګوري، دوام ورکړ:

- پوهېږئ ماته څه وویل، تاسو ما ته داسې خبرې، لکه سپک، لچک او دې ته ورته نورې وویل، هغه څه مو وویل چې زه د یوه درانه او مخور انسان په توګه هېڅ چا ته اجازه نه ورکوم، چې ما ته یې ووایي.

پییر په حیرت هغه ته کتل، خو دا توان یې نه درلود، چې هغه له ده نه څه غواړي.

اناتول دوام ورکړ:

- که څه هم مورږ یوازې و او ستا خبرې چا وانهورېدې، خو زه نه شم کولای...

پییر له ملنډو نه په ډکه ژبه وویل:

پوه نه شوم، تاسو له ما نه څه غواړئ؟

- که غواړئ چې زه ستاسو هیله تر سره کړم، لږ تر لږه خپلې دا خبرې بېرته واخلئ، څنګه؟

پییر وویل: خپلې خبرې، خپلې خبرې بېرته اخلم، او هیله کوم چې ما وبښئ!

پییر د هغه شلیدلې تنۍ ته وکتل او زیاته یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که سفر لپاره مو پیسې په کار وي.

اناتول وخندل.

پییر د اناتول، لـه ډار او ملنډو ګډې خندا نـه چې ده پـه وار ، هغـه خپله ښځه همدا اسې لیدلې وه ، بېرته په غضب شو او وې ویل:

- څه سپکه او بې رحمه خندا ده.

دا یې وویل او له کوټې نه ووت.

او بله ورځ اناتول د پېټرزبورګ پلو وخوځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

پیېر، ماریا دیمتریوفنا ته ورغي چې د هغې هیلې د سرته رسېدو نه یې خبره کړي، چې کوراګین باید له مسکو نه وشړل شي. ټول کور په ویره او ګبنۍ کې ځپې وهلې. ناتاشا ډېره ناروغه وه، ماریا دیمتریوفنا په پټه پیېر ته خبر ورکړ، چې کله پرون شپه ناتاشا د اناتول له ښځې خبره شوه، د هغو درملو (د موږک د وژلو دوا) په خولو چې په پټه یې پیدا کړي وو، د ځان وژنې هڅه کړې ده. هغې درمل لږ خوړلي او بیا ډاره شوې ده، سونیا یې راویښه کړې ده او ورته ویلي دي چې څه یې کړي دي، خو په هر حال اوس خورا ناتوانه ده او کلي ته د هغې د لېږلو تصور هم نه شي کېدای. نو ځکه یې یو څوک لېږلي چې د هغې مور مشره ګرافینه مسکو ته راولي. پیېر ولیدل، چې ګراف ډېر غمجن او سونیا په ژړا ژړا ژاړي، خو ناتاشا یې ونه شوه لیدلای.

پیېر هغه ورځ په کلوب کې غرمنۍ وخوړه او اورېدل یې چې هر پلو، د کوراګین له خوا د ناتاشا رستوفې د تښتولو کیسې او خبرې روانې دي. هغه په ټینګار دغه آوازې ناسمې بللې او ویل یې چې ربښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره دا ده چې اوښي يې د ناتاشا ريباري کړې ده او هغه يې نه ده ورکړې. پېير دا خپله دنده بلله چې دغه خبره پټه وساتي او د رستوف د کورنۍ پت او عزت بېرته پر ځای کړي.

هغه، په خورا تلوسې د سردار اندرې رارسېدو ته سترګې په لاره و او هره ورځ به د هغه په اړه د نويو خبرونو د لاس ته راوړلو لپاره د زاړه سردار کورته ورته.

سردار نيکولای اندرېوويچ د پېغلې بوري ين له لارې د ښار له ټولو آوازو خبرېده او هغه ليک يې چې ناتاشې په هغه کې له سردار اندرې سره د خپلو اړيکو د شلولو خبر ورکړی و، لوستی و. هغه تر ورځني ژوند خوشاله برېښېده او په بې حوصلګۍ يې د زوی د راتګ لاره څارله.

له مسکوه د اناتول د تګ نه څو ورځې وروسته، پېير د سردار اندرې له خوا يو ليک تر لاسه کړی و، په هغه ليک کې يې هغه ته د خپل راتګ خبر ورکړی و او ده نه يې هيله کړې وه، چې د ده ديدن ته ورشي.

مسکو ته په رارسېدو سره مشر سردار، د سردار اندرې مخې ته د ناتاشا هغه ليک کېښود، چې په هغه کې ناتاشا له اندرې سره د خپلو اړيکو د شلولو خبر ورکړی و. (دغه ليک پېغلې بوري ين له شهزادګۍ ماريا نه غلا کړی او مشر سردار ته يې ورکړی و) او د اناتول له خوا د ناتاشا د تښتولو کيسه يې په هر اړخيزه ډول او لا زياتې ښه ورته کړې وه. سردار اندرې ماښام رارسېدلی و او پېير بل سهار د هغه ديدن ته ورغی. هغه دا تصور لاره، چې سردار اندرې هم د ناتاشا په شان په خراب طبيعت او غمجن حالت کې ووينې. خو کله چې دی د هغه مېلمستون ته ورننوت، له دې نه يې تعجب وکړ چې د کار له دفتره يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لوړ او داسې تاند غږ چې په پترزبورګ کې د يوې دوکې د سپينېدو په اړه غږېده، وا ورېد. د ده له غږه سره د مشرسردار او د بل کوم چا غږ ورګډېده. شهزادګۍ ماريا د پېير هرکلي ته راووته. هغې يو سوړ اسويلي وويست او د سترګو په کېښکودو سره يې د هغې کوټې دروازې ته اشاره وکړه، چې سردار اندرې په کې ناست و، داسې برېښېده چې په دې ډول غواړي، له هغه سره په ورپېښ شوي غم کې ځان ورګډ کړي، خو د پېير دې ته پام شو چې د شهزادګۍ ماريا په بشره کې د دغې پېښې او د کوژدنۍ له خوا ددې ورور ته د خيانت له امله د ورور په غبرګون کې، د خوښۍ نښې ځرګندې وې، هغې وويل:

- ورور مې وويل چې ده د دغه شان يوې پېښې انتظار لاره، زه پوهېږم چې د هغه غرور ده ته اجازه نه ورکوي چې په دې هکله خپل احساسات ځرګند کړي، خو په هر حال، هغه په خورا زغم له هغه نه زيات چې ما يې هيله لرله دغه پېښه وزغمله. داسې ښکاري چې تقدير به داسې و...

پېير وويل:

- ولې، په رښتيا هر څه پای ته رسېدلی دی؟

شهزادګۍ ماريا په حيرانتيا، پېير ته وکتل، هغه آن په دې نه پوهېده چې څنګه کېدای شي داسې پوښتنې وشي. پېير د سردار اندرې د کار دفتر ته ورننوت. اندرې ډېر بدل شوی و او د هغې تاندې څېرې دا ښودله چې هغه خورا ښه شوی ده، خو يوه نوې ګونځه يې په تندي کې زياته شوې وه. ولسي جامې يې په غاړه وې او د خپل پلار او شهزاده ميشيرسکي تر مخې ولاړ و، په خورا لېوالتيا يې خبرې کولې او په تندۍ يې سر او لاس ښورول.

خبرې ټولې د سپرانسکي د ناڅاپي تبعيد او د هغه د خيانت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



آوازو په اړه وې چې نوې مسکو ته رارسېدلې وې.

سردار اندرې وویل:

- نن هغه کسان هغه غندي چې یوه میاشت پخوا یې، سره له هغه چې د هغه په موخه نه پوهېدل، هغه ته آفرین ویل. د یوه پرزیدلي غندنه او پر گنهل خورا آسانه کار دی او په آساني سره کېدای شي. ټولې تېروتنې آن د نورو پر هغه وروتپل شي. زه وایم که زموږ د اوسني ټولواک په وخت کې کوم ښه کار شوی وي، دا د هغه او یوازې د هغه له برکته و... پېیر چې رانتوت او د سردار اندرې سترگې په هغه ولگېدې، له خبرو پاتې شو. په بشره کې یې ربړد بېدا راڅرگنده او سمدلاسه په کې د خواشینۍ نښې راپیدا شوې، هغه خپله وینا په دې خبرو پای ته ورسوله:

- راتلونکې به په هغه قضاوت وکړي، دا یې وویل او مخ یې پېیر ته وروا ړاوه، هغه هماغه شان په لېوالتیا وویل:

- ښه، ته خپله څنگه یې؟ همداسې څوربېږئ او څوربېږئ!

هماغه نوي پیدا شوې گونځه یې په تندي کې لا ژوره شوه او د پېیر پوښتنې ته یې د ملنډو سره مل ځواب ورکړ:

- زه روغ یم، د پېیر په اند د هغه د ملنډو معنا دا وه چې:

-هو کې زه ښه یم، خو زما د صورت روغتیا د چا په گټه نه ده. وروسته له هغه چې یو څو خبرې یې د پولند له پولو نه د دې خوا د لارو د خورا بدې ورانۍ او خرابۍ په اړه وکړې، د پېیر د هغو آشنایانو په اړه چې په سویس کې یې لیدلي و، وغږېد او بیا د ښاغلي دوسال( د اندرې د زوی استاد ) په اړه چې د خپل ماشوم د روزو لپاره یې له بهره له ځانسره راوستي یو څه هغه ته وویل او بېرته یې له دوو بوډاگانو سره چې د سپرانسکي د خیانت په اړه غږېدل، خبرې پیل کړې. هغه په توده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه او لېوالتيا وويل:

- که په رښتيا خيانت شوی وي او له بنا پارت سره هغه پټ اړيکي لرلای، بايد په رسمي بڼه ټول پرې خبر شوي وای. زه خپله له سپرانسکي سره کومه ځانګړې مينه او لېوالتيا نه لرم او پخوا مې هم نه لرله، خو زه د عدالت مينه وال يم، پيېر په خپل ملګري کې هغه ځانګړتيا بيا موندله چې ده پخوا په هغه کې پېژانده...

کله چې شهزاده ميشيرسکي لاړ، سردار اندرې، پيېر له مړونده راونيو او هغې کوټې ته يې بدرګه کړ چې ده ته ځانګړې شوې وه. هلته يې کټ هم ورته ابښې و، هلته څو صندوقونه او بکسونه هم ابښي وو. سرونه يې پرانستي وو. سردار اندرې د يوې کڅوړې خواته ورغي، يوه بله وړه کڅوړه يې له هغې نه راوويسته، بيا يې له هغه نه يو بنډل کاغذونه راوويستل. دغه ټول کار يې په خورا چټکۍ او چوپيتيا تر سره کړ، بيا پاځېد او په يوه ټوخي يې غاړې خلاصې کړې. تندي يې تريو شو، شونډو يې سره وزبېښلې او وې ويل:

- ما به وبښئ چې ستاسو د ناآرامۍ سبب شوی يم.

پيېر پوه شو، چې سردار اندرې غواړي له ده سره د ناتاشې په اړه وغږېږي او د هغه په پراخه بشره کې د غم او خواشينۍ نښې راڅرګندې شوې. د پيېر د څېرې دغه بڼې سردار اندرې خپه کړ. په غوڅه او بې خونده لوږ غږ يې دوام ورکړ:

- ګرافينه رستوفې زما سره له واده کولو نه ډډه کړې ده، زموږ د بولې ژبه يې ماته کړې ده او اورېدلي مې دي چې ستا اوښۍ د هغې ريباري کړې او داسې څه نورې خبرې، ايا دا رښتيا دي؟

پيېر ځواب ورکړ:

- هم رښتيا دي او هم نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرداراندرې د هغه خبره پرې کړه او وې ویل:
- نو راشه دا یې لیکونه او دا هم د هغې تصویرونه. هغه یو بنډل کاغذونه له میزه راپورته او پېیر ته یې ورکړل.
- که دې له ګرافینې سره دیدن وشو، دا به ورکړې.
پېیر وویل:
-هغه سخته ناروغه ده.
سرداراندرې وویل:
- ښه تر اوسه لا دلته ده؟ او په چټکۍ یې بیا وپوښتل:
- شهزاده کوراګین څنګه؟
- کوراګین لا پخوا تللی دی، نبږدې وه چې ناتاشې مړه شي...
سردار اندرې وویل:
- له دې کبله خورا خواشینی دی چې هغه ناروغه شوې ده.
د پلار په څېر په خورا ترخې او له دښمنۍ نه په ډکې ژبې غږېده او د هغه له ملنډو ډکې موسکا ،د هغه د پلار موسکا رایادوله.
سردار اندرې وویل:
- نو په دې ډول ښاغلي کوراګین ګرافینه رستوفه د خپل ښځتوب وړ ونه ګڼله؟ دا یې وویل او څو ځله وپرنجېد.
پېیر وویل:
- هغه واده نه شو کولای، هغه ښځه لرله.
سردار اندرې یوه بې خونده خندا چې د پلار خندا یې رایادوله وکړه او وې ویل:
- کولای شو پوه شو، اوس ستا سو دا اوښې چېرې تشریف لري؟
پېیر وویل:
- پیټر ته لاړ، که څه هم پوره نه پوهېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار اندرې وویل:

- نو ښه ده، اوس پروا نه لري، زما له خوا ګرافینې رستوفې ته ووایې چې هغه آزاده وه او اوس هم آزاده ده او زه د هغې نیکمرغي غواړم.

پېیر د لیکونو یو بنډل را واخیست. سردار اندرې د هغو کسانو په شان چې نه پوهېده څه وایي، انتظار پاتې شي چې پېیر هغه ته څه ووایي، په ځیر ځیر یې هغه ته کتل.

پېیر وویل:

- ګوره، هغه په پترزبورګ کې دی، زموږ خبرې دې یاد پړي، تا ته وایم یاد پړي دې !...

سردار اندرې په چټکۍ ځواب ورکړ:

- یاد پړې مې، ډېرې ښې مې یاد پړې، ما ویل چې ګنهکاره ښځه باید وبښل شي، خو ما ونه ویل چې زه کولای شم ګنهکاره ښځه وبښم، نه، نه یې شم کولای،

پېیر وویل: دغه شان پرتله کول امکان لري؟

سردار اندرې د هغه خبره پرې کړه او په زوره یې چغه کړل:

- هوکې، بیا یې باید ریباري وکړم، د هغې په وړاندې مهربانه واوسم او دې ورته نورې خواخوږې؟ هوکې دا خورا د خیر خبره ده، خو زه نه شم کولای، ددې ښاغلي میراث خور شمه او که ته غواړې چې زما ملګری واوسې، نور هېڅکله... هېڅکله په دې اړه له ما سره مه غږېږه. ښه، د خدای په امان، زما خبرې به همداسې چې ما وویل، همداسې به یې ورسوئ.

پېیر د هغه له کوټې ووت، له هغه ځایه مشر سردار او شهزادګۍ ماریا ته ورغي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا تر هر وخته تاند او خوشاله برېښېده. شهزادګۍ ماريا داسې وه لکه د تل په شان. پيير د هغې په څېره کې له ناتاشې سره د ورور د جلاکېدو له امله يو ډول پټه خوشالي احساسوله. هغه چې کله هغوی ته کتل، ټولو د رستوف کورنۍ په خواشينۍ او سپکاوي ياد وله....

د غرمنۍ په لړ کې خبرې اترې د جګړې په اړه وې. د هغې جګړې په اړه چې رار سېدل يې نور ټولو ته څرګند شوي و. سردار اندرې پرله پسې غږېده، کله به يې پلار او کله به يې له دوسال، سويسي روزونکي سره خبرې کولې، دی له عادي حال نه تازه او لېوال برېښېده، هماغه لېوالتيا چې پيير د هغه په رواني علتونو ښه پوهېده.

-۲۲-

په دغه ماښام پيير د رستوفيانو کره راغی، چې خپله ورسپارل شوې دنده تر سره کړي. ناتاشا په بړستن کې وه، ګراف په کلوب کې و، پيير ليک سونيا ته ورکړ او خپله ماريا ديمتريوفنا ته ورغی. هغه غوښتل يې په دې پوه شي، چې سردار اندرې د دې خبرو په وړاندې څه غبرګون ښودلی دی. لس دقيقې وروسته سونيا ماريا ديمتريوفنا ته راغله او وې ويل:

- ناتاشا غواړي هرومرو له پيتر کريلويچ سره وګوري.

ماريا ديمتريوفنا وويل:

- پوه نه شوم، څه وايې، غواړې هغه خپلې کوټې ته بوزې؟ هلته ګډوډي نه ده؟

سونيا وويل:

- نه، هغې جامې واغوستې او مېلمستون ته راووته.

ماريا ديمتريوفنا يوازې اوږې پورته واچولې، مخ يې پيير ته وروااړاوه او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کله به دغه ګرافینه راشي، زه خو دغې نجلۍ ډېره په عذاب کړې یمه. ګوره پام کوه که راشې، چې ټول حال ورته ونه وایې... ډېر مې زړه ورته خوږېږي.

ناتاشا په ډنګره شوې، رنګ الوتې څېرې او تریو تندي، د پېیر له خیاله لرې، له هر ډول حیا او شرمه پرته، په مېلمستون کې ولاړه وه. کله چې پېیر راننوت، هغه یوډول ګېنګۍ واخیسته، داسې برېښېده ،هغه زړه نا زړه او په دې خیال کې وه چې د هغه پلو ورشي، که ودرېږي، چې هغه ددې خوا ته راشي.

پېیر په تلوار د هغې خوا ته ورغی. هغه فکرکاوه چې ناتاشا به د تل په شان ده ته لاس ورکړي، خو هغه چې کله ده ته رانېږدې شوه، ودرېده، په سختۍ یې سا وویستله او لاسونه یې لکه د شنډ لاسونو په شان ځړوند وو. د هغې درېدل، هغه درېدو ته ورته و، چې د سندرو ویلو لپاره به د مېلمستون په منځ کې درېده. خو اوس یې څېره چور بل ډول برېښېدله.

هغې په چټکۍ خبرې پیل کړې او وې ویل:

- پیتر کېریلیچ! سردار بالکونسکي ستاسو ملګری و، بیا یې خپله خبره راسمه کړه، هو او اوس هم ستاسو ملګری دی. (هغه داسې انګېرله چې هر څه و، هغه پخوا و او اوس هر څه بدل شوي دي). هغه، هغه وخت ماته ویلي و چې کومه ستونزه وي، له تاسو نه مرسته وغواړم...

پېیر هغې ته کتل او ژوره ژوره سا یې اېستله. تر هغې شېبې پورې هغه، ،هغه په خیال کې پړه ګڼله، خو اوس یې تر سترګو داسې د زړه سوي ورغله چې په زړه کې یې د ملامتۍ یوه ننبه هم پاتې نه شوه.

- هغه اوس دلته دی، هغه ته ووایئ چې ما وبښئ... ما وبښئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې یوه ښښنه، ما دې وبښئ. هغه ودرېده، سا ویستل یې لا زیات شول، خو ژړل یې نه.

پېیر وویل:

هوکې، زه به ورته ووایم، خو... هغه نه پوهېده چې څه ورته ووایي.

داسې بربښېده، چې هغه له هغه خیاله ډاربږي، چې د پېیر خیالوته به ورشي.

او په چټکۍ یې وویل:

- زه پوهېږم، چې هر څه پای ته رسېدلي، نه، نه دا نور هېڅ امکان نه لري، خو ما هغه عذاب زوري چې ما هغه ته رسولی دی. زما یوازینۍ هیله داده چې هغه ته ووایئ چې زما هیله ومنئ او ما د ټولو ګناهونو په خاطر وبښئ، وبښئ، وبښئ او وبښئ.

د هغې ټول ځان په رېږدېدا شو او پر څوکۍ کېناسته.

د پېیر زړه له دې نه مخکې، هېڅکله د داسې زړه خوږي احساس نه و لمسولی، هغه وویل:

- هغه ته به ووایم، هر څه به بیا ورته ووایم، خو... په یو څه غواړم پوه شم...

د ناتاشا غلچکونو، له هغه نه وپوښتل:

- په څه شي غواړې پوه شې؟

- هیله مې لرله، پوه شم، ایا... هغه... تاسو ته ګران و؟

پېیر نه پوهېده چې اناتول (خپل اوښی) په څه نامه یاد کړي. د هغه د نامه په یادېدو تک سور شو او وې وویل:

- ایا تاسو ته دغه احمق ګران و؟

ناتاشا وویل:

- هغه ته احمق مه وایئ، خو زه په هېڅ څه نه پوهېږم، نه پوهېږم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بیا په ژړا شوه.

د زړه خوږې، خواخوږې او میني احساس له پخوا لا زیات د پېیر پر زړه منګولې خښې کړې، داسې یې انګېرله چې تر عینکو لاندې یې اوښکې راشېوه شوي دي او دا هیله یې لرله، چې د چا ورته پام نه شي.

پېیر وویل:

-زما ملګرې! نور به په دې اړه خبرې نه کوم.

د هغه دغه په زړه پورې، مینه ناک غږ چې د خواخوږې نښې په کې نغښتې وې ناڅاپه د ناتاشا په غوږو کې عجیبې انګازې او پر زړه یې حیرانوونکې اغېز وکړ.

-په دې اړه به نه غږېږو ګرانې! زه به هغه ته هر څه او ټول ووایم. خو له تاسو نه هیله لرم چې ما خپل وګڼې او که زما مرستې یا مشورې ته مو اړتیا پیدا شوه او یا که مو غوښتل چې له چا سره د زړه خواله وکړې، نه یوازې اوس، بلکې هر وخت مو چې خوښه وي په ربښتیا، ما مه هېروئ.

د هغې لاس یې راونیو، هغه یې ښکل کړ او وې ویل:

-ډېر به ځان نیکمرغه وګڼم که وکولای شم چې...

پېیر ونه شو کولای، خپلې خبرې پای ته ورسوي.

ناتاشې چغې کړل:

-له ما سره داسې مه غږېږئ، زه د هغه څه سیاله نه یم، چې تاسو یې وایئ.

ناتاشا غوښتل چې له کوټې نه ووزي، خو پېیر د هغې لاس راونیو او د تګ خنډ یې شو او غوښتل یې چې څه ووایي. خو کله چې یې وویل، هغه خپله دې ته حیران او هک و پک شو چې څنګه یې هغه ویلي دي.

پېیر هغې ته وویل: بس کړې، بس کړې، ستاسو ټول ژوند تر مخې دي.

ناتاشې په ډېر شرم او خورا حیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه، زما لېاره، نه، نه زما لپاره، ژوند پای ته رسېدلی دی.
پېير د هغې خبرې تکرارې کړې:
- زما لپاره ژوند پای ته رسېدلی دی؟ که زه،زه نه وای، بلکې د نړۍ تر ټولو ښکلي، هوښيار او ښه سړی وای او خپلواک وای، زه به همدا اوس، ستا په وړاندې ګونډه شوی وای او په خپله به مې تا ته د خپلې مينې ويلې وای او د ځان لپاره به مې ستاسو ريباري کړې وای.
له ډېرې مودې نه وروسته د لومړي ځل لپاره د ناتاشې له سترګو نه د مننې او ښکې راښېوه شوې، په خواخوږۍ يې پېير ته وکتل او له کوټې نه ووته.
پېير هم د هغې پسې نژدې د هليز ته منډه کړې، هڅه يې کوله د نيکمرغۍ او خواخوږۍ هغه اوښکې او ساندې راټينګې کړي چې د هغه غاړه يې کېښکودله. خپل پوستين يې چې لستونۍ يې نه شو پيدا کولای واغوست، په ګاډۍ کې کېناست او لاړ.
ګاډيوان وپوښتل:
- اوس کومې خواته ! چېرته د تګ سپارښتنه کوئ؟
- چېرته؟ پېير له ځانه وپوښتل: چېرته کولای شو لاړ شو؟ کلوب ته يا مېلمستيا ته؟ د هغې مينې، احساس او خواخوږئ په پرتله چې ده په خپل ګوګل کې احساسوله او د هغه غلچک په پرتله چې د وروستي ځل لپاره ناتاشا د اوښکو د پردې له شا ده ته کتلي و، ټول خلک د ده تر سترګو خورا د زړه سوي او خوار ورتلل.
د لسو درجو سړو سره سره يې، د خنځير له پوسته د جوړ شوي پوستين تڼۍ يې پرانستې، خپله پراخ او په ساه ابستلو کې ډوب ټټر يې پاکې هوا ته ورډالۍ کړ او چيغه يې کړل:
- کور ته به لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا سړه او ښه رڼه وه. پر ناولو او تيارو واټونو او تيارو بامونو شين خو له ستورو ډک آسمان وزرونه خواره کړي و و. پيير يوازې دغه پاک آسمان ته په کتو کتو کې، هغه سپکاوی او ځمکنی بې ننګي نه احساسوله چې پر لوړو څوکو يې د ده روح ګرځېده. پيير چې کله د اربات ډګر ته ورسېد، له ستورو نه د ډک تياره آسمان ستره پراخه لمنه،د هغه د سترګو په وړاندې وغوړېده.

د دغه آسمان څه کم په نيمايي کې د پريچينسکايا واټ پر سر د ۱۸۱۲ کال لوی، ځلېدونکی سپين، اوږده، پورته نيولې لکۍ لرونکې ستوري چې، تر ټولو ستورونه ځمکې ته نېږدې او له هرې خوا نورو ځلېدونکو ستورو را ايسار کړی وو، ولاړ و. هماغه لکۍ لرونکی ستوری چې ويل کېدل، د بدو بلاوو او قيامت زيری يې راوړی دی، خو دغه ځلېدونکی روڼ او اوږدې لکۍ لرونکی ستوری، د پيير په زړه کې هېڅ ډول ويره نه راپاروله، بلکې برعکس په خوشالۍ او له اوښکو نه په لمدو سترګو دغه روڼ ځلېدونکی ستوری چې، په نه اندازه کېدونکې چټکۍ، په دې بې پايه فضا کې ده ته په ټاکلي بهير کې الوت، خو ناڅاپه، لکه په خاوره کې دويشتل شوي غشي په څېر د رانه آسمان په تور زړه کې،چې ځانته يې ټاکل شوي ځای غوره کړی و ،ودرېد او هلته ننوت او لکۍ يې په هماغې چټکۍ،بېرته پورته تللې او دادی د نورو ستورو په منځ کې يې د وړانګو په څېرولو پيل کړی دی. پيير ته داسې وبرېښېده چې، دغه ستوری، له هغه څه سره ښه اړخ لګوي چې، نوي ژوند ته د ده په غوړېدونکي او زړور شوي روح کې تېرېږي.

د دويم ټوک پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library